بسم اللہ الرحمن الرحیم

تنویر الجامی

شرح پشتو

ملا جامی

تالیف

مولانا حافظ شوکت علی حقانی

[illegible]

زیر اہتمام مولوی [illegible]

جدید مکتبہ رشیدیہ

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور 091 [illegible]

الصرف ام العلوم و النحوابوها

تنویر الجامی

پښتوشرح

ملاجامی

تالیف

حضرت مولانا حافظ شوکت علی حقانی
استاذ دارالعلوم حقانیه اکوره ختك

د کتاب نوم: تنویر الجامی پښتو شرح ملاجامی
تالیف: مولانا حافظ شوکت علی حقانی مدرس دارالعلوم حقانیه
ضخامت: ۴۰۸
سټینګ: بختوروشاه آفریدی
زیری نګرانی: مولانا سید محمد حقانی
طباعت اول: ۲۰۰۸، اپریل ۱۴۱۹ھ
طباعت پنځم: ۲۰۱۳،اګست،۱۴۳۴ھ

ناشر

مکتبہ رشیدیہ
جی،ٹی روڈ سردار پلازہ اکوڑہ خٹک ضلع نوشہرہ
۰۳۴۴-۹۰۸۴۲۹۳

د کتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) جلال آباد	(۴) پروان	(۷)کابل	(۱) پشاور
(۲) خوست	(۵) کندوز	(۸) قندهار	(۲) اکوړه خټك
(۳) غزنی	(۶) بغلان	(۹) لوګر	(۳) کوئټه

فهرست مضامین

عنوان ــــــــــــــــــــ صفحه

عرض مؤلف

الحمد لحضرة الجلالة والصلوة والسلام على خاتم الرسالة. وعلى آله واصحابه اجمعين الذين قاموا بنصرة الدين المتين.

الله پاک چه د چاسره دخیر اراده وکړي. نوهغه ته ددین پوهه عطاء کړي. او دین پوهه د الله پاك د مقدس کلام. قرآن پاك او د رسول الله(ص) د مبارکو احادیثو زده کول دي. پس د کلام الله او دسنة رسول الله(ص) یو الفاظ دی اوبل ئي معانی دی نو معنی او مطالب ئي مفسرین حضرات او مجتهدین جمع کوی. او دالفاظو صحیح ادائیګی او په اعراباتوني ئي پوهیدل بغیر د علم نحوی دقواعدو دزده کولو نه امکان نه لری. په دی وجه صاحب دمدینة العلوم او مفتاح السعادة لیکلی دی چه علم نحوه زده کول فرض کفایه دی. او بیناد دعلم نحوی هم، بنا په قول دابوالاسود دئلی، (چه دالوئی تابعی دی) هغه غلطی داعرابی ده چه ان الله بریئ من المشرکین ورسوله ئی په کسری دلام، سره وی. نو ابوالاسود ورته زورنه وکړه اوورته ئی وفرمائیل چه داخو کفر دی. (ځکه چه ددی مطلب دادی چه الله پاك دمشرکینو او درسول نه بری دی (العیاذبالله) نو دی د حضرت علي په خدمت کښ حاضر شۀ او عرض ئی وکۀ چه نحوت ان اضع میزاناً للعرب لیقوموا به لسانهم یعنی ما اراده کړیده چه څه یو ضابطه جوړه، کړم دپاره ددی چه دا خلق پری خپل لسان صحیح کړي. نو حضرت علي ورته وفرمائیل چه اقصد نحو. یعنی دی طرفته توجه وکړه او هم په دی وجه ئی نوم علم نحوه مشهور شۀ.

ددی ضرورت پیش نظر په هره زمانه کښ دعلم نحوی قواعد د کتابونو په شکل کښ منظر عام ته راغلی دی. چه په هغی کښ کافیه د ابن حاجب لکه دشمس روښانه ده. او دا کتاب د اختصار، جامعیة او کمال په وجه دهر ملك او دهر خطی دعلماء او طلباء د توجه مرکز دی. په دي وجه ددی کتاب په فارسئ، عربئ او نورومختلفو ژبو کښ یو شمیر شروح مؤلف شویدی. چه په هغی کښ شرح جامی ته الله پاك بي پناه قبولیت ورکړیدی. په درس نظامی کښ شامله ده او په مختلفو ملکونو کښ تری فائدي حاصلولي شي. دي کتاب ته الله پاك جذب مقناطیس عطاکړیدی. نو

جذب مقناطیس بشدت غفور   طالبان رامی کشد از دور دور

بهر حال د دوستانو، مخلصانو رفیقانو په اصرار او څۀ نۀ څۀ دخپلي جذبي په اساس په دي کتاب په پښتو ژبه کښ د څۀ لیکلو اراده م په زړه کښ ګرزیده. د ډیر تامل او سوچ نه پس م په

مبارك نوم دالله پاك شروع وكړه. دالله پاك ته داخلاص او للهيت زارى كوم. نوم ئي تنوير الجامى دي. او داستاسو په لاس كښې ئي اوله حصه ده.
ددي خبري ذكر كول هم لازمى دى چه احقر راقم الحروف په دى شرح كښې د استاد محترم مفتى جامعه حقانيه استاذ الاساتذه شيخ الحديث مولانا مفتى محمد فريد صاحب مدظله گرانقدر ملفوظات، او دغه شان داستاد محترم حضرت العلامة مولانا فضل الهى صاحب المعروب به شاه منصور باباجى مدظله قيمتى ارشادات قلم ته حواله كړيدى. او دحاشيه عبدالغفور، عصام، محرم آفندى، باسولى او ملا جامى د منهياتو، او د مختلفو حاشيونه استفاده شويده. د عبارت د پوره ترجمى خيال پكښې ساتلي شويدي. ان شاء الله د فائدى نه به خالى نه وى.

گر قبول افتد زہے عز و شرف

د مخلصينو احبابونه د اصلاح نه تمنا كيگى چه انسان كثير النسيان دي. دعوى د كمال ئي بي بنياده ده. وفوق كل ذى علم عليم.
الله پاك د دا كتاب دخپلي رضا، او دراقم الحروف او ددۀ والدينو او د همه استاذانو او د جمله مسلمانانو دپاره د سعادت د دارينو ذريعه وگرزئ. قبوليت عامه او افاديت كامله دورته نصيب كړى. وهو حسبى ونعم الوكيل و ماتوفيقى الابالله عليه توكلت واليه انيب.

طالب دعا
حافظ شوكت على حقانى
خادم العلم بالجامعة الحقانية
اكوړه خټك

د ملاجامي مختصر حالات

دده خپل نوم عبدالرحمن دي. لقب ئې عماد الدين دي. او ابوالبرکات ئې اسم کنيت دي. تخلص ئي جامي دي. دي د امام محمد په نسل کښ راغې. او آبائي وطن ئي اصفهان دي. والد محترم ئي په څۀ وجه د اصفهان نه جام ته منتقل شوي وو. جام د خراسان يو قصبه ده. ملا جامي په دي کلي (جام) کښ په ۲۳ شعبان ۸۱۷ هه کښ پيدا شوي وو. بيا هرات ته منتقل شۀ.
ملاجامي د ظاهري علومو سره سره په باطني علومو هم آراسته وو. دي چه کله د ظاهري علومو نه فارغ شۀ نو يو بزرگ ئي په خوب کښ وليدۀ هغه ورته اوويل چه (اتخذ حبيبا يهديك) يعني داسي يودوست ونيسه چه تا ته نيغه لاره وښائي. چنانچه دده نه پس ئي په خراسان کښ دخواجه عبيدالله احرار، او دشيخ سعد الدين کاشغري نه فيض حاصل کۀ. او الله پاك کاملي درجي ته ورسو.
د ملا جامي صاحب تصانيف په عربئ او فارسئ دواړو ژبو کښ موجود دی. چه تعداد ئي(۵۴) دي. ملا جامي ته الله پاك د تصوف په بنياد د حقيقي شعرو شاعرئ په ميدان کښ هم وافره حصه ورکړي وه. چنانچه (ديوان کليات جامي) ددۀ مشهور تصنيف دي. چه په قصائدو، غزلياتو او نعتونو مشتمل دي. د رسول پاك(ص) سره ئي غاية درجه عقيدت، عشق او محبت وو تردي چه يوځل ئي محض دروضه اقدس د زيارت په نيت سفر کړي وو.
شيخ الحديث مولانا محمد زکريا صاحب نورالله مرقده فرمائی. چه د فضائل درود، د رسالي د ليکلو په زمانه کښ يو شپه ماخوب وليدۀ چه ماته حکم وشۀ چه په دي رساله کښ قصيده ضرورو ليکه. د قصيدي تعين خوونه شۀ ليکن حضرت فرمائی چه ځما په خيال کښ راغله چه ددي مصداق د ملاجامي هغه مشهور نعت دي چه د يوسف زليخا (دادملاجامي تصنيف دي) په ابتداء کښ ئي ليکلي دي. حضرت شيخ صاحب فرمائی چه په ګنګوه کښ دا کتاب ما دخپل والد صاحب نوونيلي وو. او هغه وخت م د هغوی نه يو قصه هم اوريدلي وه. هغه داده. چه ملا جامي ددغي نعت دليکلو نه پس حج له تشريف يوړۀ. او اراده ئي داوه چه دروضه اقدس سره په دغه نعت وائي. دحج نه پس چه کله مديني منوري ته روان شۀ نو اميرمکه په خوب کښ نبی عليه السلام وليدۀ چه فرمائيل ئي چه ملا جامي مديني ته مه راپريده، امير مکه دي منع کۀ. ليکن دجذبي او د شوق په وجه مديني منوري ته په پټه روان شۀ. اميرمکه بيا خوب وليدۀ حضور اقدس (ص) ورته وفرمائيل چه ملاجامي را روان دي، او را پريده ئي مه. امير مکه پسي سړی وليګل. وئي نيولو او په جيل خانه کښ ئي بند کۀ. په درئم ځل بيا امير مکه حضور اقدس(ص)

په خوب کښ ولیدهٔ او ورته ئي وفرمائيل چه دي یعنی ملا جامی مجرم نه دي. خودهٔ اشعار جوړ کړیدی او دلته کښ ځما د قبر سره ئي دوئیلو اراده کړیده او که داسي وشی نو دقبرنه به د مصافحي دپاره لاس (مبارك) راوځکلي کیګی، چه په هغي کښ فتنه ده. نو امیرمکه دي دجیل نه راوځکهٔ او ډیر اعزاز او اکرام ئي ورله وکهٔ. دهغي یو څو شعرونه دادی. ترجمه ئي شیخ الحدیث په اردو کښ لیکلي ده نو د اردو ترجمي سره نقل کولي شی.

زمہجوری برآمد جان عالم ترحم یانبی اللہ ترحم

آپ کے فراق سے کائنات عالم کا ذرہ ذرہ جاں بلب باور دم توڑ رہا ہے۔ اے رسول خدا، نگاہ کرم فرمیئے اے ختم المرسلین رحم فرمایئے۔

نہ آخر رحمۃ للعالمینی زمحروماں چرا غافل نشینی

آپ یقیناً رحمۃ للعلمین ہیں ہم حرمانصیبوں اورناکامان قسمت سے آپ کیسے تغافل فرماسکتے ہیں۔

زخاک اے لالہ سیراب برخیز چونرگس خواب ازچند خواب برخیز

اے لالہ خوش رنگ اپنی شادابی و سیرابی سے عالم کو مستفید فرمایئے اور خواب نرگسیں سے بیدار ہوکر ہم محتاجان ہدایت کے قلوب کومنور فرمایئے۔

بیرون آور سراز بردیمانی کہ روئے تست صبح زندگانی

اپنے سرمبارک کو یمنی چادروں کے کفن سے باہر نکالیے کیونکہ آپ کا روئے صبح زندگانی ہے۔

توابر رحمتی آں بہ کہ گاہے کنی برمال لب خشکاں نگاہے۔

آپ ابر رحمت ہیں شایان شان گرامی ہے کہ پیاسوں اور تشنہ لبوں پر ایک نگاہ کرم بار ڈالی جائے۔

بحسن اہتمامت کارجامی طفیل دیگراں یابد تمامی

آپ کے حسن اہتمام اور سعی جمیل سے دوسرے مقبول بندگان خدا کے صدقہ میں غریب جامی کا بھی کام بن جائے گا۔

ملاجامی دیواتیا کالو په عمر کښ په ۱۸ محرم ۸۹۸ هـ کښ د جمعي په ورځ ددي فانی دنیانه رخصت شهٔ. ددوی تاریخ وفات ددي آیت داعدادونه ظاهریګی (ومن دخله کان آمنا) اوبعض شاعرانو وئیلی دی.

جامی که بود بلبل جنة بشوق رفت فی روضة مخلدة ارضها السماء
كلك قضا نوشت بد روازه بهشت تاریخه ومن دخله كان آمنا

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلوليه: هرحمد ، دهرحامدنه ، په هره زمانه دحمد کښي ، ثابت ، او مختص دی په ولی یعنې لائق اومستحق دحمد پورې ، پوهه شه چې په دې مقام کښی څلورتعمیمات دي اویوتخصیص .

تعمیم اول: هرحمد، دامعلومیږي دالف لام نه .ځکه چې الف لام په الحمد کښی استغراقی دی یاجنسی دی ، چې مرادترې کل تعریفات دي .

تعمیم ثاني: هرحامد، دامعلومیږي دلفظ د حمدنه ځکه چې حمدبه خامخاصادروي دحامدنه . نوچې حمدعام دی نو حامدبه هم عام وي .

تعمیم ثالث: په هره زمانه دحمد کښی ، دامعلومیږي دهیئة ددې جملې نه چې دا جمله اسمیه ده اوجمله اسمیه دلالت کوي په دوام اواستمرارباندې
اوتخصیص دلام دلولیه نه مستفاددې لان اللام للتخصیص .

ابحاث ثلاثه: پوهه شه چه په دې جمله کښی درې بحثونه دی . (۱) الف لام . (۲) حمد (۳) ولي

بحث الف لام: الف لام په لغة کښی مطلق کلمې د(ال) ته وايې لکه ال په الحمد کښی ،

اوپه اصطلاح کښی : کلمة تحلی بهاکلمة اخری سواءکان للتحسین اولامرآخر.

اقسام الف لام: په دوه قسمه دی . یواسمی اوبل حرفی . پس الف لام اسمی هغه دی چې داخلیږي په اسم فاعل اواسم مفعول باندې اتفاقا . یعنې په اتفاق دنحاتوسره . اوپه صفت مشبه باندې اختلافا . یعني په الف لام داخله علی الصفة (لکه الحسن) کښی اختلاف دی . دبعضوپه نزداسمی دی .ځکه چې صفة مشبه مشابه ده داسم فاعل سره په اشتقاق، قیام بالفاعل ، افرادتثنیت اوجمعیت کښی اودبعضوپه نزدحرفی دی . ځکه چې اسم فاعل دلالت کوي په حدوث . اوصفة مشبه دلالت کوي په لزوم . نوپه دواړوکښی فرق دی . نوقیاس دصفة مشبه په اسم فاعل نه دی صحیح . دې ته الف لام اسمي ځکه وايې چې ددې نه تعبیرکولی شي په الذی سره په مذکرکښی اوپه التی سره په مؤنث کښی اوالذی .التی موصولات دی اوموصولات اسماء دي .

سوال: الف لام اسمي په اسم فاعل او اسم مفعول پورې ولې خاص شو؟
جواب ځکه چې الف لام اسمي ذوشبهين دى يعنې مشابه دى د الف لام حرفى سره صورتا او د الذى التى سره معنا ځکه چې دا په معنى د الذى التى سره دى نو دا تقاضا کوى د دې چې مدخول دى يې هم ذوشبهين وي يعنې لفظا مفرد وى او معنا جمله وي. ځکه چې صله د موصول نه وي مگر جمله، او نه وو په کلام د عربو کښې يو لفظ چې لفظاً مفرد وى او معنًى جمله وي مگر اسم فاعل او اسم مفعول دا دواړه په اعتبار د لفظ سره مفرد دى ځکه چې دا مشابه دى د اسم جامد سره په عدم تغير کښې په نزد دايرا د د ضمائرو مختلفو کښې په ده باندې په شان د اسم جامد. لکه هو ضارب انت ضارب انا ضارب، په شان د هو زيد انت زيد انا زيد، نو که دا په شان د فعل وي نو اختلاف به يې ضمير سره راته. او په اعتبار د معنى سره جمله ده، ځکه چې الف لام داخله په دوى باندې موصولى دى او دا اسم فاعل او اسم مفعول په معنى د فعل ماضي يا مضارع معروف، يا مجهول سره دى. او دا ځکه چې اسم فاعل حامل د ضمير وي په شان د فعل.
الف لام حرفي: هغه دى چې داخلي کيږي په غير د اسم فاعل او اسم مفعول باندې او دا په دوه قسمه دى، يو زائد او بل غير زائد. زائد دې ته وايې چې په سقوط د هغې سره خلل نه رسي معنى اصلې د کلمې ته لکه په دې قول د شاعر کښې.

ولقد امر على اللئيم يسبنى
فمضيت ثمه وقلت لا يعنى

نو الف لام په اللئيم کښې زائد دى، ځکه چې يسبنى جمله يې صفت دى، او جمله صفت د پاره د نکرى واقع کيدى شي فقط. او که چرې يسبنى جمله حاليه شي نو بيا دا الف لام زائد نه دى. او الف لام غير زايده په خلاف د دې نه دى.
اقسام د الف لام زائد: دا په دوه قسمه دي. يو لازم. دا هغه دى چې علميت پرې احاطه کړى وي «وسياتي بيانه» او بل غير لازم چې پرې احاطه نه وي کړي او هر واحد د دې نه په دوه دوه قسمه دى، عوضى او بل غير عوضي نو دا اخلور قسمه شو. مثال د الف لام زائد لازم عوضي لکه لفظ الله دا زائد ځکه دى چې تعريف حاصل شوى دى په علميت سره، او لازم دى له وجې د احاطې د علميت نه په ده باندې. يعنې لفظ الله سره د الف لام نه علم گرزيدلى دى د پاره د الله پاک. او په کومو اجزاؤ چې علميت احاطه کړى وي نو هغه لازم گرځي د علم سره، ځکه چې په اعلامو

کښې تغیراوتبدیل نه را ځي . اوعوضي دی ځکه چې لفظ دالله په اصل کښې الاله یاالـه وو . بناپه مذهب اول باندې همزه ثانیه حذف شوه ، اوفرض کړی شو دغـه الف لام عـوض دهمزې نـه او بناپـه مـذهب ثاني همـزه حذف شوه اوپـه عـوض دهغې کښـې الف لام راوړی شونوجوړشو ترینه الله (**بسکون اللام الاول وتحرك اللام الثانی**) بیالام اول په لام ثانی کښې مـدغم شو نوالله شۀ.

اومثال دالف زائدلازمي غیرعوضي: لکه الـنجم الصعق الثریـا دازایددی دوجې دحصول دتعریف نه په علمیت سره . اولازم دی دوجې ذاحاطې دعلمیت نه پـه دوی (دا د خاص ستورو نومونه دي) اوغیرعوضي دی ځکه چې دچاپه عوض کښی نه دی راغلی

مثال دالف لام زائدغیر لازمي غیرعوضي: لکه یا الناس دی دازایددی **لحصول التعریف بحرف النداء** ، اوغیرلازمي دی دوجې دعدم احاطې دعلمیت نه ځکه چې الناس اسم جنس دی علم نه دی ، او عوضي دی ځکه چې داپه اصل کښې اناس وو ، همزه حذف شو ه ، اودهغې په عوض کښې الف لام راوړی شو نوالناس شو (**بسکون اللام وتحرك النون**) بیالام مدغم شـه پـه نون کښې دوجې د قرب مخرج نه نوالناس شه .

اومثال دزائد غیرلازمي غیرعوضي لکه

یاالغلامـــان اللـــذان فـــرا
ایاکمــــاان تکســــباشرا

دازائددی لحصول التعریف بحرف النداء غیر لازم دی لعـدم احاطـة العلمیـة بهاغیرعوضـي دی ځکه چې دادچانه عوض نه دی راغلی .

اقسـام دالـف لام غیرزائـد: داپـه څلورقسـمه دی جنسـي ، اسـتغراقي ، عهـدخارجي اوعهـدذهني ، پـس پوهـه شـه چې پـۀ دې مقام کښـې لابـدی ده دمعرفت داموروثلاثـو نـه . (۱) ضابطه دپاره ددې اقسامو (۲) تعریفات تفصیلیه (۳) دلائل دپاره دفع داغیارو.

ضابطه : نوضا بطه داده چې الف لام به خالي نه وي یابه په دې سره اشاره کولی شي ما هیت دمدخول خپل ته بې دملاحظې دافرادونه نه کلاً اونـه بعضاً اویابه سره دملاحظې دافـرادو ، نـه وي که اول وي نو دا الف لام جنسي دی اوکـه ثانی وي نویابـه سره دملاحظې دکـل افـرادو ، نـه وي یـادبعض . کـه اول وي نودا الف لام استغراقي دی اوکه ثانی وي نوبیابـه خالی نـه وي یابـه

دابعض افرادمعلوم وي په خارج کښې يانه که اول وي نوداعهد خارجی دی اوکه ثاني وي نود اعهدذهني دی.

تعريفات تفصيليه: الف لام جنسي ديته وايې چې اشاره کولی شي په دې سره ماهيت دمدخول ته بې دملاحظې دافرادونه کُلاً او نه بعضاً مثال يې لکه داقول دعربو **الرجل خيرمن المرءة** نوالف لام په کښې جنسي دی ځکه چې په دې کښې اشاره ده حقيقت درجل ته چې مذکر **من بنى آدم يتجاوزعن حدالصغرالى حدالكبر**، دی او استغرقي ځکه نه دی چې لازم به شي حکم په خيريت دټولو افرادودرجل په ټولو افرادودنساؤ اوداباطل دی ځکه چې بعض افراد د نساؤغوره دی درجالونه، لکه امهات المؤمنين رضى الله عنها شو اوعهدخارجي هم نه دی ځکه چې دامقام دمدح دجنس درجل دی نه ديوفردمعلوم په خارج کښې اوعهدذهني ځکه نه دی چې لازميږي نکارت دمبتدا چې الرجل دی اوداځکه چې الف لام عهدذهني په قوت دنکرې کښې وي.

الف لام استغراقي: ديته وايې چې په دې سره اشاره کولی شي ماهيت دمدخول خپل ته سره دملاحظې دجميعو افرادونه مثال يې **ان الانسان لفى خسر** دی نوداالف لام، استغرقي دی په قرينې داستثناء سره يعني **الاالذين الخ**، ځکه چې په دې کښې اشاره ده ما هيت دانسان ته چې حيوان ناطق دی سره دملاحظې دجميعو افرادو نه، الف لام استغرقي په معنى دکل سره وي ،جنسي نه دی .ځکه لازم به شي حکم په خسران دماهيت ،حالانکه خسران نه متصور کيږي مګرپه افرادوکښې، اوعهدخارجي هم نه دی ځکه چې لازم به شي استثناء دمتعدد د واحدنه، اوحالانکه امربالعکس دی.

الف لام عهدخارجي: ديته وايې چې په دې سره اشاره کولی شي ماهيت دمدخول دده ته سره دملاحظې ديوفردمعلومه نه په خارج کښې، په مابين دمتکلم اومخاطب کښې ،مثال يې لکه **فعصى فرعون الرسول الخ** دی، نوداالف لام عهدخارجي دی ځکه چې په دې کښې اشاره ده ماهيت درسول ته، چې **انسان بعثه الله تعالى الى الخلق لتبليغ الاحكام**. ليکن سره دملا حظې د فردمعين چې موسی دی، چې معلوم دی الله پاک اورسول پاک ﷺ ته اوجنسي ځکه نه دی چې لازم به شي عصيان دفرعو ن دماهيت نه .اوعصيان نه متصورکيږي مګر د افرادونه. اواستغرقي هم نه دی ځکه چې لازم به شي عصيان دفرعون دتمامورسولانونه حالانکه تمام رسولان نه وو موجود په زمانه دفرعون کښې اوعهدذهني هم نه دی ځکه چې عصيان دفرعون درسول متعين نه وو چې

موسی علیه السلام وو .

الف لام عهدذهني: دیته وایې چې په دې سره اشاره کولی شي ماهیت دمدخول ته سره دملاحظې دیوفردنه چې معلوم وي متکلم ته په ذهن خپل کښې ، نه مخاطب ته . لکه **اني اخاف ان یاکله الذئب الخ** . نو الف لام په الذئب کښې عهدذهني دی ځکه چې په دې کښې اشاره ده ماهیت دذئب ته چې حیوان مفترس دی سره دملاحظې دیوفردنه چې معلوم دی متکلم ته په ذهن کښې فقط اوجنسي ځکه نه دی چې لازم به شي اکل دماهیت ،حالانکه اکل نه متصورکیږي مګرد افرادو څخه، اواستغرقي هم نه دی ځکه چې لازم به شي اجتماع دشرمخانودونیاپه اکل دیوسف علیه السلام باندې اودامحاله ده . اوعهدخارجي هم نه دی ځکه چې لازم به شي حکم په اکل دمعین ذئب په خارج کښې اودامحاله ده ځکه چې الله تعالی حرام ګرزولی دی لحوم دانبیاء کرامو په هرچاباندې.

بحث دحمد : پوهه شه چې حمدمصدردفعل متعدی دی اومصدردفعل متعدی محتمل د احتمالات سته دئ . (۱) مصدرمعلوم (۲) مصدرمجهول . (۳) حاصل بالمصدرالمعلوم . (۴) حاصل بالمصدرالمجهول . (۵) مصدرمبنی للفاعل . (۶) مصدرمبنی للمفعول .(۷) قدرمشترک.

ضابطه یې داده :چې دامصدردفعل متعدی به خالي نه وي یابه لحاظ دنسبت کړی شوی وي فاعل ته بالقوة یامفعول ته بالقوة . که اول وي نومصدرمعلوم دی اوتعبیرترینه کولی شي په فارسی کښی په ستودن سره (ستائل) که ثاني وي نودامصدرمجهول دی . اوتعبیرترینه کولی شي په فارسی کښی په ستوده شدن سره (ستائلې کیدل) اویابه لحاظ دنسبت کړی شوی وي فاعل ته بالفعل یامفعول ته بالفعل .که اول وي نومصدرمبنی للفاعل دی . اوتعبیرکولی شي ددې نه په فارسی کښی په ستودن زیدکسی را (ستائل دزید چالره) اوطریقه یې داده چې په اسم فاعل پورې به یامصدری اوتاملحق کړی لکه حامدیت . اوکه ثاني وي نودامصدرمبني للمفعول دی . اوتعبیر کولی شي ددینه په فارسی کښی په ستوده شدن زیدازکسي (ستائل کیدل دزیدد چانه) اوطریقه یې داده چې په صیغه داسم مفعول پورې به یامصدری اوتاملحق کړی ،لکه محمودیت .

اوهغه هیئت چې حاصل شي پس دقیام دمعنی مصدری نه په فاعل پورې ،دیته حاصل بالمصدر معلوم وایې ، اوتعبیرکولی شي ددینه په ستائش سره . او هغه هیئت چې حاصل

شي پس دوقوع دمعنی مصدری نه په مفعول باندې ، نو دیته حاصل بالمصدر مجهول وایې . اوتعبیرترې کولی شي په ستودګی سره . اوکه په مصدر دفعل متعدی کښی لحاظ نه وی شوی فاعل اومفعول ته نه وجوداً اونه عدماً نو داقدرمشترک دی .

اوحمدپه لغة کښی : ستودن ته وایې .

اوپه اصطلاح کښی : **هُوالثناءباللسان علی الجمیل علی جهة التعظیم والتبجیل سواء کان بمقابلة النعمة اولا**. نو سخریه وغیره ترې خارج شو - ځکه چې په هغې کښی تعظیم نه وي مقصد . اوشکر ، **فعل ینبئ عن تعظیم المنعم بسبب الانعام سواء کان ذکراباللسان اواعتقاداومحبة بالجنان اوعملاًبالارکان** اوبعض وایې چې حمد امدح اخوان یعني الفاظ مترادفة دی اوبعض وایې چې په مابین ددوی کښی نسبت دعموم خصوص دی . یعنې مدح عامه ده داختیاری اوغیراختیاری نه اوحمد خاص دی په افعال اختیاریو دمحمودپورې ، پس داوئلی شي چې **مدحت اللؤلؤعلی صفائها ولایقال حمدت اللؤلؤعلی صفائها فتامل**.

بحث دولي : پوهه شه چې دولی دپاره پنځه معنې دی . قریب ،محب ، ناصر، متصرف ، حری یعنې لائق ، اومرادترینه معنی اخری ده ،(لائق) نو معنی دجملی داشوه ، چې حمد خاص دې په لائق دحمدپورې ،اوشک نیشته چې لائق دحمد الله تعالی دی .

فان قیل : چې عبدخوهم لائق دحمددې په افعال جمیلوخپلوکښی ، لکه فلان جواد ، عالم وغیره .

قلنا: مراددحمدنه جنس حمددې،اولائق دجنس حمدصرف الله پاک دی .

سوال : شارح ولې عدول وکړ په حمد کښی دمشهور نه ،چې الحمدلله دې ، غیرمشهورته چې **الحمدلولیه** دی ،یعنې اسم صفت یې ذکر کړ په ځای داسم ذات چې الله دی .

جواب اول :ځکه چې دا عنوان دحمد ، جدید دې **وکل جدید لذیذ**

جواب دوم : دامقام دبیان د صفاتو دالله تعالی دی ، . اواسم ذات دلالت نه کوي په صفت باندې صراحة بلکه اسم صفتي دلالت کوي په صفت باندې صراحة .

جواب سوم :دپاره ددې چې تنبیه قائمه شي په تعلیل باندې دپاره دحمدصراحة ، ځکه چې قاعده داده چې حکم مرتب شي په یومشتقي باندې نوعلت د دغې حکم ، مبدء الاشتقاق وي لکه **اعطیت الدراهم الی الطالب ای لاجل طلب العلم**،نو په دې مقام کښی حکم دحمد مرتب

شوی دی په مشتقی باندې چې ولی دی نو علت به یې مبدء الاشتقاق وي چې ولایت دی، نومعنی دا چې حمد ثابت دی ولې لره دوجې دولایت او ستحقاق دده حمد لره، او په قید دصراحة سره دفع شه اعتراض مقدر چې په لفظ دالله سره هم اشعار حاصلیږي په تعلیل مذکور باندې ځکه چې الله علم دی دپاره دذات واجب الوجود چې مستحق دجمیع کمالاتو دی نو په دې معنی دالله کښې لفظ دمستحق ملحوظ دی، او دا هم مشتقي دی نو دلالت په تعلیل مذکور کولی شي نو دا سوال دفع شه په دې شان سره چې بې شکه چې اشعار په تعلیل مذکوره په لفظ دالله سره هم راځي، لیکن ضمنا، ځکه چې لفظ «الله» جامد دی عندمذهب او په لفظ دولی کښې دااشعار صراحة دی کماهو الظاهر.

سوال: صفات دالله تعالی خونور هم کافی دی، نو ولیه یې ولې مختاره کړ.

جواب: دپاره درعایت دسجعې د نبیه سره.

والصلوة علی نبیه: پوهه شه چې مصنف ذکرکړ صلوة لره په دې مقام کښې، ددې پاره مختلف وجوهات دی. دپاره د عمل بالاية الكريمة. چې ان الله وملائكته يصلون الخ دی نو صلوة عام دی که باللسان وي او که یابالقلب وي او یابالکتابة ۲: دپاره دتعظیم دنبی کریم ﷺ ۳: دپاره دشکریې دنبي پاک ﷺ ۴: حدیث مبارک دی من صلی علی فی کتابه یستغفرله الملائکة مادام اسمی فی کتابه.

الصلوة علی النبی ﷺ ثابت نقلا وعقلا: یعنې صلوة علی النبی ثابت دی په دلیل نقلي اوعقلي دواړو سره هرچې دې دلیل نقلي، نو هغه داقول دالله تعالی دی چې ان الله وملائكته الخ. او دا حدیث دنبي ﷺ دی چې من لم یشکر الناس لم یشکر الله. نو دحضور پاک ﷺ په مونږه باندې بې شماره احسانات دي او دهغې شکریه په هغوئ باندې درود، وئیل دي.

او **دلیل عقلي دادی** چې دامقام مقام دتصنیف دی او مقام دتصنیف محل دخطراتو وي نو لابدی شوه په کښې دفیضان او القاء دمسائلونه، او فیضان دمسائلو الله تعالی کوي نو الله تعالی مفیض شو او شارح مستفیض، او مفیض په انتهایې درجه دتقدس کښې دی. او مستفیض په انتهایې درجه دتدنس کښې دی، نو لا بدې شوه په کښې دیو واسطې نه چې تعلق یې ددواړو سره وي او هغه نه دې مګر رسول پاک ﷺ دی چې دهغه مناسبت دالله تعالی سره هم دی په نورانیت کښې، یعنې چې هغه نور دهدایت دی، او مناسبت یې زمونږ سره هم

شته په بشریت کښې ، اوصلوة تحفه ده ددغه واسطې یعنې دحضورپاک ﷺ نوعقل هم ددې خبرې تقاضاکوي چې په هغه درودا وئیلی شي .

تحقیق لفظي اومعنوي په صلوة کښې : پوهه شه چې په صلوة کښې دوه تحقیقه دي یو تحقیق لفظي اوبل معنوي .

نو تحقیق لفظي یې دادې چې صلوة په اصل کښې صَلَوَةٌ وو بیاواو په قانون دقال بدل شۀ په الف ، نوصلوة شۀ لیکن لیکلی کیږي په الف سره دپاره د تفخیم اوداقانون په زکوة اومشکوة کښې هم دی . یاصلوة اسم دی دپاره د تصلیة مصدرنودې اسم مصدرشه ،اوفرق په مابین دمصدراو اسم مصدر کښې دادې چې مصدردلالت کوي په معنې حدثي او اشتقاق دنوروکلموترینه هم کیږي لکه ضرب . اواسم مصدردلالت کوي په معنی حدثي خو اشتقاق دنوروکلموترې نه کیږي . لکه ویل اوویح شه .

تحقیق معنوي پوهه شه چې صلوة لفظ مشترک دی اطلاق یې کیږي په معانې اربعه باندې . تفصیل یې دادی چې معنې به یې رحمت وي که نسبت یې وشي الله پاک ته .او معنې به یې دعاوي که نسبت یې وشي مؤ منینو ته .اومعنې به یې استغفاروي که نسبت یې وشي فرشتوته اومعنی به یې تسبیح و تهلیل وي که نسبت یې وشي وحوش طیوروته .خو مرادترینه هلته رحمت دی ځکه چې الف لام په الصلوة کښې عوض دی دمضاف الیه نه یعنې **صلوةالله الخ** . لیکن درحمت نه مراد افاضه د خیرکثیرده . ځکه چې رحمت وئیلی کیږي رقة القلب ته . اورقة القلب فرع دقلب ده . اوداللہ پاک دپاره قلب نیشته ، نورقة القلب به څنګه متصورشي ، نوقانون دبیضاوی دادی چې دکوموصفاتو اطلاق په الله پاک باندې په اعتباردمبادیو سره نه وي صحیح ، نودهغه اطلاق په الله پاک په اعتبا ر دغا یاتو اولوازموسره کیږي . نودرقة القلب سره لازم دی افاضة دخیرکثیر تفضل اواحسان . اودایې غایه ده نوځکه مراد درحمت نه خیرکثیرشه .

<u>علی نبیه</u> : پوهه شه چې نبي مشتق دی دنبوة نه په معنی درفعت سره نودناقص واوی دی له بابه د نصر، نونبی ته نبي ځکه وایې چې دې رفیع الشان والقدردی اویاماخوذدی دنبانه په معنی دخبرذوفائدة عظیمة سره . نودامهموز اللام دی ازباب فتح .نونبي ته نبي ځکه وایې چې دی هم مخبردا حکام شرعیه دی .

اوپه اصطلاح کښې: **هوانسان بعثه الله تعالی الی الخلق لتبلیغ الاحکام الشرعیة معه کتاب جدیدو**

شريعة متجددة امرلا

سوال: شارح ولې عدول وکه داسم ذاتي نه چې محمد ﷺ دی اسم صفتي ته چې نبي دی.

جواب: ددې دپاره مختلف وجوهات دي يو داچې داطرز جديد دی **وكل جديد لذيذ**. دوهم دپاره د تعظيم ځکه چې اسم ذاتي دلالت نه کوي په صفت باندې صراحة او اسم صفتي پرې دلالت کوي صراحة دريم دپاره داظهار په علتيت ځکه چې حکم کله وارد شي په مشتقي باندې نو علت ورله مبدء الاشتقاق وي. **لكه اعطيت الدراهم الى الطالب اى لاجل طلبه العلم**. څلورم دپاره درعايت سجع دوليه سره.

سوال: چې شارح لفظ دنبيه مختاره که په رسوله باندې حالانکه رسول خاص دی او نبي عام دی **فما النكته فيه**؟

جواب: يو دپاره درعاريت دسجعې. اوبل داچې ثابت شي صلوٰة په رسول باندې په طريقي اولى سره ځکه چې نبي عام دی درسول نه. نو چې کله يو حکم دعام دپاره ثابت شي نو دخاص دپاره به ثابتيږي په طريقي اولى سره. اومراد د نبي نه زمونږه نبي پاک ﷺ دی ځکه چې اضافت دنبي ضمير ته اضافت عهدي دی **اى نبينا**.

سوال: ضمير دنبيه به خالي نه وي يا به راجع وي حمد ته يا ولى ته هر واحد غلط دی ځکه چې بنا په اول به معنى داشي چې نبي دحمد. حالانکه نبي دالله دی نه دحمد. او بنا په ثاني به لازم شي انتشار په ضمائرو کښې، ځکه چې ضمير دوليه راجع دی حمد ته، او ضمير دنبيه راجع شه ولي ته؟

جواب: ضمير راجع دی حمد ته **اى والصلوة على نبى الحمد**. خو حمد مصدر يا په معنى دفاعل سره دی **اى الحامد**. يا په معنى دمفعول دی اى المحمود او حامد او محمود دواړه دالله تعالى ذات دی. نو معنى صحيح شوه، پوهه شه چې داجواب بنادی په صنعة الاستخدام باندې. صنعة الاستخدام دېته وايې چې يو لفظ ذکر شي ذوالمعنيين او يوه معنى اراده کړی شي په اسم ظاهر سره اوبله اراده کړی شي په ارجاع الضمير سره نو گويا دحمد دپاره دوه معنې دی يو ثنا اوبل په معنى دحامد يا محمود. نو اوله معنى ترې اراده شوه په اسم ظاهر سره. اوبله ترې اراده شوه په ارجاع الضمير سره په نبيه کښې.

پوهه شه که مراد دصلوٰة نه اظهار دشرافت او دعظمت دنبي پاک ﷺ وي نو بيا به **والصلوة الخ** جمله خبريه شي او عطف ده په **الحمد لوليه** باندې. نو دا به عطف دجملې خبريې شي په جمله خبريه

باندې
او که مراد دصلوة نه طلب دنزول درحمت شي نوبيا داجمله انشائيه ده معنًا اوخبريه ده صورةً خو الحمدلله هم جمله انشائيه ده معنی نوعطف دجملې انشائيې په جمله انشائيه باندې راشی خوفرق داچې الحمد الخ انشاء غيرطلبی ده اوو الصلوة انشاء طلبی ده .

وعلى آله واصحابه : د اعطف دی په على نبيه باندې يعني **والصلوة نازلة على آله واصحابه** پوهه شه چې آل اواصحاب واسطه ده په مابين زمونږ اودنبي پاک ﷺ کښی نو تعظيم ددوی واجب شه . اوتعظيم ددوی صلوة دې په دوی باندې دليل يې دادی چې **من لم يشكر الناس لم يشكر الله** .

تحقيق دآل: په آل کښی دوه تحقيقه دي يوتحقيق لفظي اوبل تحقيق معنوي .

تحقيق لفظي په آل کښی دوه مذهبه دي يومذهب دسيبويه اوبل دکسائی سيبوی صاحب وايې چې ال په اصل کښی اهل وو په دليل داهيل سره ، ځکه تصغيرردکوي اشياء اصل خپل ته ، بياهابدله شوه په همزه **لقرب المخرج** نواءل شه . بياهمزه په الف بدله شوه نوآل ترې جوړشه . اومذهب دکسائی دادی چې آل په اصل کښی اوَلٌ وو ځکه تصغيرېې اويلٌ دی اودې وايې چې **سمعت اعرابيا يقول آل** واويل **واهل واهيل** . بياواو په قا نون دقال په الف بدل شه نو آل شه .

الفرق بين الآل والاهل : پوهه شه چې په مابين دآل اواهل کښی فرق دی په وجوهات ثلثوو سره . يوداچې آل مستعمليږي په ذوی العقول کښی اواهل عام دی نوآل القريه نه ويل کيږي اواهل القريه ويلي شي دويم داچې آل مستمليږي په ذکورو کښی .اواهل عام دی نوال فاطمة مثلا نه شي وئيلی کيدی اواهل فاطمه وئيلي شي دريم داچې آل مستمليږي په ذوی الاشرا ف کښی اواهل عام دی نوآل حجام اوآل حائک نه شي وئيلی اواهل حجام اواهل حائک وئيلی شي او شرافت عام دی که ديني وي اوکه دنيوی نوسوال نه وارد کيږي په آل فرعون باندې .

تحقيق معنوي په آل کښی : پوهه شه چې آل په دوه قسمه دی يوآل نسبي اوبل آل حسبي آل نسبي اهل بيت درسول الله ﷺ اواولاددنبي پاک ﷺ دی بالذات مثل فاطمة يابالواسطه مثل حسن اوحسين وغيره ته اوآل حسبي **كل تقي ونقي فهو آلي** ، ته وايې .

واصحابه: په لفظ داصحاب کښی يوتحقيق لفظې دی اوبل تحقيق معنوي .

تحقیق لفظی : فیه اقوال یو دا چې اصحاب جمع د صاحب ده لکه چې اشهاد جمع د شاهد ده . یا جمع د صحب ده بسکون الحاء کاالانهار چې جمع د نهر ده . یا جمع د صحب بکسر الحاء کاالانمار چې جمع د نمر ده .

تحقیق معنوی: صحابی هغه مؤمن مکلف ته وایې چې رویت د نبي پاک ﷺ یې کړی وي حقیقتًا یا حکمًا په حالت د یقظة کښې ، او بیا وفات شوی هم په حالت د ایمان کښې وي په مؤمن مکلف سره ترې ملائک خارج شو ل چې هغوی ته صحابه نه شي وئیلی او رؤیة حقیقی واضح دی او رؤیة حکمي لکه رؤیة داعمٰي یعنې فرض که کۀ چرته اعمٰې روغ وي نو نبي پاک ﷺ به یې لیدلی وو او که چا په خوب کښې نبي پاک ﷺ ولیده نو هغه ته هم صحابي نه شي وئیلي او که یو کس مرتد شوی وي والعیاذ بالله نو هغه هم صحابې نه دی .

النسبة بین الآل والاصحاب : که آل په معنی اولې سره شي نو بیا په مابین د آل او اصحاب کښې نسبت د عموم خصوص من وجه دی او دا درې مادې غواړي یو ه ماده اجتماعي او دوه مادې افتراقي پس ماده اجتماعي لکه حضرت حسن ﷺ او حضرت حسین ﷺ چې دوی آل هم دی او اصحاب هم ماده افتراقی د جانب د اصحاب نه یعنې چې صحابې وي او آل نه وي لکه حضرت ابوبکر ﷺ حضرت عمر ﷺ شو او ماده افتراقي د جانب د ال نه یعنې چې آل وي او اصحاب نه وي لکه سیدان د دې زمانې شو . او که آل په معنی ثاني سره شي : نو بیا د آل او اصحاب په مابین کښې نسبة عموم خصوص مطلق دی او دا دوه مادې غواړي یو ه ماده اجتماعي او بله ماده افتراقي ماده اجتماعي چې آل هم وی او اصحاب هم لکه صحابه کرام شو او ماده افتراقی چې آل وي او اصحاب نه وي لکه نیکان د دې زمانې شو ،څکه دا آل دی یعنې کل تقی ونقی الخ خو اصحاب نۀ دی .

المتأدبین بأدابه : دا صفت مادحه دې د پاره د آل او اصحاب . یعنې دا سې آل او اصحاب چې ادبناک دی په مثل د جنس د آدابو د نبي پاک ﷺ سره بنا په دې باندې دفع شو دوه اعتراضونه . حاصل د اعتراض اول دا دی چې المتادبین جمع محلي باللام ده او آدابه جمع مضاف ده ضمیر ته او جمع معرف باللام او جمع مضافه مفیدوي د پاره د استغراق ، نو بیا به دې به ترجمه دا سې شي چې هر فرد ، ، د افرادو د آل او اصحابو ادبناک دی په هر ادب د آدابو د نبي پاک ﷺ سره ، ، نو لازم شه مساوات په مابین د آل او اصحاب او د نبي پاک ﷺ کښې او دا محال دی حاصل د اعتراض ثاني دا دی چې آداب جمع د ادب ده او ادب عرض دی نو مطلب دا دی چې اداب

دنبي پاک ﷺ دوی ته منتقل شوی دی حالا نکه انتقال په ا عراضو کښی محال دی نودفع داعتراض اول داسې وشوه چې مراد د استغراق نه ، استغراق عرفی دی ، یعنې اکثرآداب ، لکه وئیلي شي چې جمع الامیرالصاغة یعنې بادشاه کل زرگران جمع کړل . نومرادترې زرگران ددغه قریې دی اودفع داعتراض ثاني په دې طریقي سره وشوه چې اضافت ادب ضمیرته اضافت جنسي دی یعنې جنس آداب اوظاهره ده چې جنس آداب په آل اواصحابو کښی موجود وو .

معني د ادب : ادب په لغة کښی نگاه داشتن حد چیزی اوپه اصطلاح کښی عبارت دی دخصال حمیدونه ، پوهه شه چې په آدابه کښی اشاره ده براعة الاستهلال ته ، براعة فوقیت ته وایې ، اواستهلال اول صوت الصبی ته وایې ، یا ،ماه نودیدن وبانگ گردن یعنې اولنئ میاشت لیدل اواوازکول چې میاشت دغه ده ، اوپه اصطلاح دعلماء کښی براعة الاستهلال دی ته وایې چې په خطبوکښی داسې الفاظ ذکرشي چې مشعروی په آئنده مقصدباندې اودې ته براعة الاستهلال ځکه وایې چې کومې خطبې په داسې الفاظومشتمل وي نوهغه فائقې وي په هغه چه داسې الفاظ په کښی نه وي .

امابعدفهذه فوائدوافیه : پوهه شه چې کتاب مشتمل وي په اجزاء اربعه باندې ـ(۱) خطبه ، (۲) دیباجه (۳) مقدمه ،(۴) مقصود ، پس خطبه هغې ته وایې چې هغې کښی حمد اوصلوة مذکوروی ، اودیباجه هغه ده چې په هغې کښی مدح دکتاب اودمصنف ، اودفن اوباعث علی التصنیف وغیره وي ، اومقدمه هغه ده چې مذکوروي په هغې کښی تعریف ، موضوع ، غرض ، اومقصودهغه وي چې مذکوروي پس دمقدمې نه پس په دې مقام کښی دالحمدنه ترامابعدپورې خطبه دکتاب ده ، او دامابعدنه تراعلم پورې دیبا جه دکتاب ده ،اودواعلم نه ترالمرفوعات پورې مقدمه دکتاب ده ، اودالمرفوعات نه ترآخره پورې مقصوددی نوغرض دشارح دامابعدنه تراعلم پورې بیان دیو څوامورودې یوبیان دصفات مادحودکتاب خپل دپاره دتشویق دطلباء اوبل تعین دنوع دتصنیف ځکه چې تصنیف په درې قسمه دی ،متن ، شرح ، حاشیه ، نو شارح تعین کوي چې ځماداکتاب شرح ده ، دریم تعین دمشروح چې کافیه ده ، څلورم بیان دتسمیی دکتاب یعنې نوم یې فوائدضیائیه دی پنځم باعث علی التّضیف چې دا قول للولدالعزیزالخ دی .

قوله امابعد: هرچې دې پس دجُمَل ثلاثونه ، پوهه شه چې داب دمصنفینودادی چې دوی

دکتاب په ابتدا کښې اما بعد ذکر کوي دپاره تعلیق دمسائلو دکتاب خپل په امر یقیني پورې دپاره د تاکید ، نو معنې دعبارت مذکوره داده چې **مهما یکن شی من الاشیآء موجودا فی الخارج بعد البسملة والحمد والصلوة فهذه فوائد**، یعنې که چرې یو شئ داشیاء نه موجود وي په خارج کښې بعد دبسم الله ، حمد او صلوة نه نو ځما دا فوائد به هم موجود وي او یو شی داشیاء نه خو موجود دې مثلا چې الله تعالی دی نو دا فوائد هم موجود دی او دا بناده په دې قاعده چې تعلیق دیو شي په امر کائن پورې مفید دپاره دتاکید وي لکه یو سړي خپلې منکوحې ته اوواېي چې **انت طالق ان کانت السمآء فوقنا**، نو طلاق فی الحال واقع شو ، دوجې دتعلیق دطلاق نه په امر کائن پورې چې فوقیت دسماء دی فافهم.

پوهه شه چې بعد دظروف زمانیونه دی او ددې دپاره درې حالات دی په دوه حالتونو کښې معرب دی او په یو کښې مبني دی په ضمې سره وجه یې داده چې **بعد** لازم الاضافت دی نو مضاف الیه به یې خالی نه وي . یا به مذکور وي په کلام کښې او یا به محذوف وي که اول وي نو معرب دی علی حسب العوامل لکه **من بعد کل شی** او که ثانی وي نو یا به محذوف وي نسیًا منسیًا او یا به محذوف منوی وي که اول وي نو هم معرب دی او که ثاني وي نو بیا مبني دی په ضمې سره .

سوال : په اولنو صورتونو کښې معرب ولې دی او په اخیرې صورت کښې مبني ولې دی ، او منبي بالضم ولی دی ؟

جواب : ځکه چې په اولنو صورتونو کښې مشابه نه دی دمبني الاصل سره او په اخیرې صورت کښې مشابه دی دمبني الاصل سره چې حروف دی په احتیاج کښې ، یعنې بعد په دې حالت کښې محتاج دی مضاف الیه ته او مشابه دمبني الاصل مبني وي او مبني علی الضمه ځکه دی چې دلته محذوف دی شی قوی چې مضاف الیه دی ، او ضمه حرکت قویه دی نو دا به جبیره قویه وګرزی په مافات قویه باندې .

سوال : ،،فا ، د فهٰذه به خالی نه وي ،یا به عاطفه وي یا به تفصیله وي یا جزائیه یا تفریعیه او یا به زائده وي یا تعلیله یا تفسیریه **والکل غیر صحیح** پس عاطفه ځکه نه صحیح کیږي چې دامعطوف علیه غواړي سابقا او هغه دلته نشته تفصیله ځکه نه صحیح کیږي چې داسابقًا اجمال غواړي او دلته اجمال نیشته . . او جزائیه ځکه غلطه ده چې دا تقاضا کوي دفعل شرط سابقًا او هغه نشته .اوزائده هم غلطه ده ځکه دامخل بالفصاحة ده ، او تعلیلیه هم نه

صحیح کیږي ځکه چې یامدخول دفاتعلیلیه علت وي دپاره دماقبل لکه **ابشرفقداتاك الغوث** (خوشحاله شه مددراورسیده) نواتیان دغوث (مدد) علت دی دپاره دماقبل چې ابشردی اویاماقبل دفا علت وي دپاره دمابعد .لکه اکل فشبع نواکل علت ظاهری دی دپاره دشبع . اوپه دې مقام کښې نه مابعد علت دی اونه ماقبل دفا . اوفاتفسیریه هم نه صحیح کیږي ځکه چې داتقاضادمفسرکوي سابقًاوهغه نیشته ههنا .

جواب : فاپه دې مقام کښې جزائیه ده .اوفعل شرط مقدردی . پس تقدیردعبارت داسې دی چې **مهمايكن شي من الاشياء الخ** ، نویکن فعل شرط دی ، مقدردی ، اومقدرکالملفوظ وي ،نوځکه فاجزائیه صحیح ده ،. اویافازائده مخل با الفصاحة وي چې مفیددفائدی نه وي اودلته مفیددفائدې ده او هغه داچې بعد ظروف زمانیولازم الاضافت نه دی که شارح فا ، نه وي روارې نومتوهم به توهم کوو چې بعدبه مابعد ، یعنې هذه ته مضاف وي اوامرلیس کذالک دی ، نوځکه شارح فا . ذکر کړه په مابین دبعداوهذه کښې دپاره ددفع ددې وهم ، نوفازائدځکه صحیح ده .

فهذه : هرچې دی پس داموروثلثونه پس داماحضرپه ذهن دمصنف کښې په حضوراجمالي سره چې کالمحسوس دی ، فوائددې پوهه شه چې هذه اسم اشاره ده اوتقاضاکوي دمشارالیه ، نوپه مشارالیه کې یې احتمالات سبعه دی درې احادی دی درې ثنایي اویوثلاثي.

پس اُحادي دادي الفاظ فقط، معانی فقط، نقوش فقط، فرق په مابین دالفاظو اونقوشو کښې دادی چې مکان دنقوشواوراق دی اومکانَ دالفاظوهم فَمْ دی.

ثنایي دادی الفاظ مع المعانی الفاظ مع النقوش معانی مع النقوش ثلاثی احتمال دادی چې الفاظ معانی اونقوش درې واړه اراده کړيشي لیکن په دې کښې ځلورهغه احتماله ساقط دی په کوموکښې چې نقوش راغلی دی ، ځکه چې نقوش مقصودبالتدوین نه دی ، نوپاتې شودرې احتماله **الفاظ فقط معانی فقط الفاظ مع المعانی** نومشارالیه دهذه یاالفاظ دی یامعاني یادواړه ،

پوهه شه چې مونږپه ترجمه کښې دوه قیده لګولی دی یوحضوراجمالی اوبل کالمحسوس نو غرض دقیداول نه دفع دسوال ده هغه دادی چې مشارالیه دهذه هرکله چې الفاظ معانې یا دواړه شو ، نومطابقت رانه غې په مابین داشاری اومشارالیه کښې فی الافرادوالجمعیة ځکه

چې هذه اسم اشاره دمفردده ، اومشارالیه چې الفاظ وغیره دی متعدد شه . نو جواب وشه په دې قول سره چې موجودوي په ذهن دمصنف کښې په حضوراجمالي سره ، حاصل دادی چې دلته تعبیر کړی شوی دی دامورمتعددونه په اجمال سره ، اوچې کله دامورمتعددونه تعبیر وکړی شي په اجمال سره نو هغه امرواحداومفردګرځي ځکه چې اجمال عبارت دی دلحاظ دامور متعددونه په لحاظ واحده سره ، نومطابقت راغی په مابین داشارې اومشارالیه کښې ، او غرض دقیدثاني نه اشاره ده علاقې دمجازته اوبل غرض په کښې دفع دا عتراض مقدرده ، چې په هذه سره خو اشاره کیږي محسوس بالبصرته . اوماحضرپه ذهن دمصنف کښې محسوس نه دی .

نومونږجواب وکه چې کاالمحسوس دی ، .یعنې ماحضرپه ذهن دمصنف کښې اګرکه عین محسوس نه دی لیکن کاالمحسوس ګرزیدلی دی دوجې دکمال حضورنومحسوس عام دی که حقیقةً وي اوکه مجازاً .

فوائدوافیه : فوائد جمع دفائدة ده په لغة کښې ثابت ته وایې، اومعنی اصطلاحي یې **اعطاء العلم اوالمال الی الغیراوالاخذمنه** ،، وافیه ، په معنی د تمام سره دی ، اوپه دې کښې احتمالین دي یادا متعدي دی نومعنې یې داده چې دافوائدمتمم دی دمسائلودکافیۍ اویالازمي دی یعنې فیکون المعنی انهاتامة بنفسها .

بحل مشکلات الکافیه : داصفت دی دپاره د ، فوائدوافیه ،، یعنې داسې فوائدچې تیارکړی شوی دی دپاره دوضا حت دمشتبهومضامینودکافیۍ یاباپه معنی دفی سره د ه ، نو تقدیربه داشی چې **فی حل مشکلات الکافیه** ، **حل بکسرالحاء** مقابل دحرمت دی اوبفتح **الحاء ابطال الهیئة الترکیبیة - مثل قطع الکتاب اوالجدار**، خومراد ترینه ههناو ضا حت دی ، مشکلات جمع دمشکل ده مشتبه ته وایې .

سوال : هرکله چې مشکل په معنې دمشتبه سره شه اومشتبه هغه ته وایې چې یشبه الحق ،ولیس بحق ، نو د دینه معلومه شوه چې په کافیه کښې چې کوم مسائل دی هغه مشابه دی د حق سره خوحق نه دی ، **والامرلیس کذالك** .

جواب : مسائل دکافې خوحق دی ، لیکن خفی دی اوحق خفی په منزله دباطل وي لکه څنګه چې ذهن انتقال نه کوي حق خفې ته دوجې دخفاء نه ،نو اطلاق دمشتبه پرې صحیح شه .

سوال کافیه صفت دپاره دکتاب دی ، ځکه چې دانوم دی د کتاب دابن حاجب اوکتاب مذکردی اوکافیه مؤ نث ده ، نومطابقت رانه غی په مابین دموصوف اوصفت کښې **جواب** تا دپاره د تانیث نه د ه په کافیه کښې، بلکه دپاره دمبالغې ده . یادپاره دنقل ده دوصفیت نه اسمیت ته ، یعنې کافیه په اصل کښې کاف وو ، په معنې دکفایت کننده سره ،نوداصیغه د صفت ده ، بیادمعنی وصفي نه نقل شوه معنی اسمي ته ، اوعلم وګرزیده دپاره دکتاب دابن حاجب ، نوتاپرې زیاته شوه دپاره دنقل دوصفیت نه اسمیت ته دپاره دفرق په مابین دوصف اواسم کښې ، اوتاپې ځکه غوره کړه دپاره دفرق اګرچې نورحروف هم ډیردی ، ځکه لکه څنګه چې مؤنث فرع دمذکرده اوفرق یې په تاسره دی نودغه شان دلته هم اسمیت فرعه ده دصفیت نودپاره دفرق تاغوره کړی شوه یاجواب دادی چې تادپاره دتانیث ده نوکافیه صفت دپاره درسالې مقدری دی نوتقدیربه داشي چې **بحل مشکلات الرسالة الکافیة فحصلت المطابقة** .

للعلامة المشتهرفی المشارق والمغارب : ترجمه یې داده چې په حال دکون دکافې کښې چې دپاره دعلامه ده داسې علامه چې مشهوردی په ټولو اوطانو کښې .

پوهه شه چې علامه په لغة کښې **کثیرالعلم** ته وایې. اوپه اصطلاح کښې عالم المنقول والمعقول ته وایې ،تا، په علامة کښې دپاره دمبالغې ده.

سوال : نوبیا اطلاق دعلامة دی په بارې تعالی وشي. حالانکه دااطلاق نه دی صحیح ،بلکه په الله پاک اطلاق دعلام کیږي بدون التاء .

جواب : داځکه نه دی صحیح ،چې ،تا، اګرچې دپاره مبالغې ده لیکن شبه په کښې ،تانیث ده ،اوتانیث نقصان دی ، اوباری تعالی منزه دی دنقصان نه نودشبهې دنقصان نه هم منزه دی (المشتهر) پو هه شه چې داماخوذدی داشتهارنه باب افتعال دی ، اودی کله متعدي وي اوکه لازمي ، نوکه متعدي شي نوالمشتهرصیغه داسم فاعل ، اوداسم مفعول دواړوکیدی شي ، اوکه لازمې شي نوبیابه صیغه داسم فاعل وي .

سوال : مشتهریې ذکرکه ،اومشهوریې ذکرنه که ولې؟

جواب : دپاره دمطابقت دلفظ دعلامه سره چې هغه صیغه دمبالغې ده نومشتهریې هم دپاره دمبالغې ذکرکه **لان کثرة المبانی تدل علی کثرة المعانی وهی المبالغة ای الزیادة** ، یعنې ډیرمشهور(**فی المشارق الخ**) مرادپه مشارق سره نصف وجه الارض ده . . اوپه مغارب سره هم نصف وجه الارض ده . نوداکنایه ده ،دجمیع وجه الارض نه نو په دې سره دفع شه سوال چې ددینه معلومه

شوه چې مصنف مشهوردی په مشارقو اومغاربوکښې فقط نه په وسط کښې ، وجه ددفع داده چې مشارق اومغارب کنایه ده دجمیع وجه الارض نه ځکه چې ځوک مشهوروي په بعید کښې نوپه قریب کښې مشهوروي په طریقې اولی سره .

سوال : مشرق اومغرب په قرآن کښې ذکرشویدی په صیغې دمفردسره لکه **رب المشرق والمغرب** ، اودغه شان په صیغې دتثنیې سره هم مذکوردی **رب المشرقین ورب المغربین**. اوپه صیغې دجمعې سره هم ذکردی ذکردی **رب المشارق والمغارب** . نوڅه دی تطبیق په مابین ددې کښې .

جواب : تطبیق یې دادی چې کله دا الفاظ په جمع سره ذکرشي نومرادترینه مشرق اومغرب دهرې ورځې وي اوچې کله په صیغې دتثنیې سره ذکر شي .نومرادترینه مشرق اومغرب دصیف اوشتاء دی ځکه چې په صیف (ګرمی) کښې نمردیوځای نه طلوع کوي . اوپه یوځای غروب کوي اوپه شتاء (ژمی) کښې دبل ځائی نه طلوع کوي او په بل ځائې غروب کوي ، اوچې کله په لفظ دمفردسره ذکرشي نومرادترینه دغه یومشرق اویومغرب دی چې کوم معروف دی .

الشیخ ابن الحاجب : هغه علامه مشهورتر، شیخ ابن حاجب دی .

تشریح : الشیخ ، په رفع سره خبردمبتدامحذوفې دی ای **هوالشیخ** .

دشیخ معانی لغوی درې دی (۱) ضعیف (۲) ماهر، (۳) خواجه ، **والمرادههناالمعنیان الاخیران اوپه اصطلاح کښې** : **من جاوزستین سنةً**.

سوال : بیاخواطلاق دشیخ په ابن حاجب صحیح نه دی ، ځکه چې مشهوره داده ، چې دې ددولسوکالوپه عمرکښې شهیدکړی شوی وو .

جواب : مراددشیخ نه معنی لغوی ده ، یعنې سیداوخواجه ، یاداچې دغه مشهوره خبره غلطه ده ، اوصحیح داده چې دی داوه شپیته کالوپه عمرکښې وفات شوی وو ، اوکه صحیح شی داخبره نو اطلاق دشیخ کله په صغیرالسن باندې هم کیږي دوجې دعظمت نه ،اسم محضه یې عثمان ، اولقب یې جمال الدین دی ، ابن حاجب یې کنیه ده ، اوکنیه یې ورله راوړه ځکه چې دې مشهوردی په کنیې سره .

تغمده الله بغفرانه : ترجمه پټ دی کړی ګناهونه دده الله تعالی ، په مغفرت خپل سره .

تشریح: پوهه شه چې د تغمددوه معنې دی ، یوه مطلق ستر. اوبله ستردذنوب او (ه) ضمیر

راجع دی مصنف ته اوباسببیه ده .
سوال : دتغمد ، دواړه معنی په دې مقام کښې نه صحیح کیږي . ځکه که مراداوله معنی یعنې مطلق سترشي ، نویابه ضمیردتغمده لره مضاف مقدروي چې ذنوب دی یانه ، که وي نوتقدیربه داسې شي چې تغمدذنوبه یاتغمدذنوبه الله نوداغلط دی ځکه چې په تقدیردمضاف سره مراددی جملې ستردذنوب شه اوروستوغفران هم ستردذنوب ته وئیلي شي ،اوباسببیه ده نولازم شه سببیت دشي دپاره دنفس خپل ،اوکه مضاف محذوف نه وي نوبیادوه نقصانه لازمیږي یوداچې لازمیږي غفران دمغفور، یعنې دهغه چاچې ګناهونه یې نیشته نوداباطله ده ځکه چې مغفورته دغفران ضرورت نه وي اوبل داچې لازمیږي غفران دذات حالانکه غفران دذنوب ، کیږي نه دذات ، اوکه مرادمعنی ثاني شي یعنې سترالذنوب ، نوبیالازمیږي سببیت دشي دپاره دنفس خپل ، ځکه چې غفران هم سترالذنوب ته وایې .
جواب : (۱) مرادزمونږ معنی اوله ده ، اومضاف محذوف دی ای **تغمدالله ذنوبه**، اوکه ته وایې چه سببیت دشي دپاره نفس خپل لازمیږي نوددې دپاره درې توجیهات دی (۱) دغفران نه مرادمطلق ستردذنوبو، نه دی ،بلکه مرادترینه غفران لائقه دی دشان دالله تعالی سره . او غه دادی چې یوبنده ، عمل صالح اختیارکړی وي اوسیئات یې هم وي ، خوالله تعالی یې سیئات په حسناتوسره بدل کړي ، اوحسنات یې اضعافامضاعفة وګرځوی.
(۲) مرادد غفران نه مغفرت په محض فضل دالله تعالی سره دی ، اوهغه دادی چې یوبنده عمل صالح ونه کړي خوالله تعالی یې په خپل محض فضل اورحم سره بخنه وکړي ،. نوتغمدذنوب عام دی ، اوغفران په معنی دغفران لائقة یاپه محض فضل دالله سره ،خاص دی نوسببیت دخاص راغی دپاره دعام نه دپاره دنفس خپل .
(۳) یادا چې لفظ دغفران کښې تجریدشوی دی دمعنې دذنوب نه ، اوتجریدعبارت دی دانسلاخ دلفظ دبعض معنی نه اواستعمال دی په بعض آخرکښې نومعنی دغفران مطلق سترشه ، نوداعام شه اوتغمدذنوبه خاص دی نوسببیت دعام دپاره دخاص راغی .
یاوایم چې مضاف نه دی مقدر، اوکه ته وایې چې بیاخولازم شه غفران اوستردذات ،.نوځه وایم چې یاپه معنی دلام ، اجلیه سره ده ای لغفرانه ،نومعنې داده چې پټ دکړي الله تعالی ابن حاجب لره دوجی دمغفرت خپل نه ، اودا معنی موافقه ده . دمضمون دحدیث مبارک سره ، چې په ورځ د قیامت به الله پاک یوګناهګاربنده راوغواړي . اوپرده به پرې واچوي ، اوخپل ګناهونه به وریادکړي او هغه به اقراروکړي تردې چې هلاکت خپل به یقیني وګڼړي بیابه ورته

الله تعالی او وایې چې سَتَرتُکَ فِی الاخرةِ کمَاسَترتُکَ فِی الدنیا ، نو دحدیث نه مراد ستردذات دبنده دی په اخرت کښې .

جواب : (۲) داصل اعتراض نه) دادی چې مراد ،دتغمدنه سترالذنوب دی ، او سبّبیت دشي دنفس خپل دپاره نه لازمیږي بناپه هغه توجیهات ثلثوچې مخکښې ذکرشو .

وَاَسْکَنَهٗ بُحْبُوحَةَ جِنَانِه : ترجمه یې داده چې سکونت دورکړي الله پاک ده ته په وسط دجنت کښې او په خیاردجنتو نوکښې .

تشریح: **هذادعاءلَهٗ.** اوَاَسْکَنَ صیغة دباب افعال ده ماخوذده دسکون نه ضدالحرکت ، یادسکنی نه ، **والمرادههناهوالثاني بحبوحة بضم الباءقال الشارح فی المنهیة وهی من کل شی وسطه وخیاره،اوجِنان بکسرالجیم جمع دجنت ده اوبفتح الجیم قلب ته وایي والمرادهوالاول** .

لطیفه: په کوم لفظ کښې چې ماده دجیم او نون راغلی وي نو په هغې کښې معنی داستتار(پټ والی) پرته وي لکه جن ، پیریان داهم پټ دي ، مجنون ،عقل یې مستوروي ، جنین ، ماشوم دمورپه ګیډه کښې ، اوجنت هم مستوردی فی الحال .

نظمتهافی سلك التقریروسمط التحریر: ترجمه ، ماپئیلی دی دغه فوائدپه مزی دتقریر ، او تار دتحریرکښې .

تحقیق الالفاظ : نظمت مشتق دی دنظم نه ، اونظم په لغة کښې جمع اللؤلؤفی السلک ته وایې اوپه اصطلاح کښې **تألیف الکلمات مُترتّبة المعانیٔ متناسقة الدلالات علی مایقتضیه الطبع**) اوسلک هغه مزی ته وایې چې تیارکړی شوی وي دپاره دملغلرو خوملغلری کې لاپیئلي شوي نه وي ، تقریر، په لغة کښې ثبوت الشئ ته وایې اوپه اصطلاح کښې اظهاردمافی الضمیرته وایې **یامَایتصوّرفی القلب وُیظهربالّلسان** ، سمط هغه مزی ته وایې چې ملغلرې په کښې بالفعل بنړلی شوی وي اوتحریر **هوالکتابة بالقلم** .

تشریح: پو هه شه چې اضافت دسلک تقریرته اضافت دمشبه به دی مشبه ته معنی **نظمتهافی التقریرکالسلك**، بیاکاف حذف شه اومشبه به (سلک) مقدم شه په مشبه باندې او دغه شان اضافت د سمط ،تحریرته هم اضافت دمشبه به دی مشبه ته ، **فاالتقدیرنظمتهافی**

التحریر کالسمط بیا کاف حذف شه او مشبه به سمط مقدم شه په مضاف او دی ته تشبیه بلیغه وایي دلالت کوي په کمال دمشبه باندې.

سوال: څه نکته ده دپاره ددې چې شارح په جانب دتقریر کښې سلک، او په جانب دتحریر کښې سمط ذکر که؟

جواب: سمط چونکه اشرف دی دسلک نه، او شرافت دالفاظ، معانیو اونقوشو ټولو دپاره ثابت دی، نو دالفاظو شرافت اونفاست معلوم شه دنظمتهانه اودمعانیو معلوم شه دذکر دفوائد وافیه نه، اودنقوشو شرافت معلوم نه وو سابقانو دده په جانب کښې یې سمط ذکر که دپاره ددې چې دلالت وکړې په نفاست دنقوشو هم، پوهه شه چې فی سلک التقریر ظرف دی. اودغه شان سمط التحریر هم په حکم دعطف یعني دفی ماتحت دی نو دی هم ظرف دی او ظرف په دوه قسمه دی، یو مستقر او بل لغوه، نو په دې کښې احتمالین دی. پس که مراد دنظم نه معنی لغوی شي نو بیا دا ظرف لغوه دی متعلق دی په نظمتها پورې، اوکه مرادترې معنی اصطلاحي شي نو بیا دا ظرف مستقر دی او متعلق دی په مقدر پورې. **فالتقدیر نظامها منخرطة فی سلك التقریر وسمط التحریر** یعني ما پئیلی دی دغه فوائد په داسې حال کښې چې بنړلی شوی دی په سلک دتقریر او سمط دتحریر کښې.

للولد العزیز ضیاء الدین یوسف: یعني دپاره دولد عزیز چې ضیاء الدین یوسف دی.

تشریح الالفاظ: عزیز، استعمالیږي په معنی دغالب او ګرامي او ارجمند او مراد، معنی ثاني ده ضیاء الدین لقب دی، نو حمل دضیاء په ولد یا مبالغةً دی لکه زید عادل یا ضیاء مصدر مبنی للفاعل دی ای، مضئٌ یعني روخانه کوونکې ددین، پوهه شه چې اضافت دضیاء الدین ته په دوه قسمه دی، یو اضافت الی المحل، لکه ضیاء البیت، او بل اضافت الی المنشاء لکه ضیاء الشمس خو مراد اول قسم دی، یوسف، اسم محضه ده دولد، په حرکاتو ثلثو دسین سره غیرمنصرف دی پس که بفتح السین شي. نو یو پکښې علمیت دی او بل وزن فعل. اوکه په کسری یا ضمې دسین سره شي، نو بیا غیرمنصرف دی دوجې دعلمیت اودعجمې نه.

حَفِظَهُ اللهُ سُبحانه عَنْ موجبَات التلهُّفِ والتاسُّفِ: حفاظت دوکړي الله تعالی دده داسبابو دغم اودافسوس نه.

تشریح: داجمله دعائیه ده دپاره دولدعزیز. فعلیه ده صورتاً او انشائیه ده معنًا او فعل ماضي یې مختاره کړه دپاره دتفاؤل یعنې ګویالکه چې دعاقبوله شوه پوهه شه چې په تلهف اوتاسف کښې دوه قوله دي یو داچې دالفظین مترادفین دي په معنی دحزن او ایراددالفاظ متراد فه په خطبو کښې جائزبلکه مستحسن دی دوئم قول دادی چې تلهف وئیلي کیږي **الحزن الحاصل لفوات المحبوب والتأسف هوالحزن الحاصل لوجودالشئ المکروه**. تلهف هغه حزن ته وایې چې حاصل شي په سبب داتیان دیوفعل، چې ترک دهغې لازمې وي اوتاسف هغه حزن ته وایې چې حاصل شي په سبب دترک دیو فعل چې اتیان په هغې لازمي وي.

وَسَمَّيْتُهَا بِالْفَوَائِدِ الضِّيَائِيَّةِ لِاَنَّهُ هٰذَا الْجَمْعِ وَالتَّالِيفِ كَالْعِلَّةِ الْغَائِيَّةِ:

ترجمه: اومامسمی کړیدی دغه فوائدپه فوائدضیائیه سره ځکه چې دی، ددې جمع اوتالیف دپاره په شان دعلة غایې دی پوهه شه چې دافوائدضیائیه یې منسوب کړی دی ضیاء الدین ته.

سوال: ضیاءالدین مرکب اضافي دی، پس هرکله چې نسبت دیوشي کیږي مرکب اضافي ته نوجزء اخیرته به یې کولی شي لکه زبیری په ابن الزبیرکښې اوکراعی په ابن کراع کښې نوشارح نسبت جزء اول ته ولې وکه.

جواب: اعتبارپه نسبت کښې نسبت کول دي جزء مقصودته، نومقصودپه دې کښې جزء اول دی (ضیاء) یعنې رڼرادین اوداځکه چې وګرځي فوائدده، ضیاء ددین اوپه ابن الزبیروغیره کښې مقصودجزء ثانی دی دپاره ددې چې مرتبه دمنسوب (هرڅوک چې وي) بلنده شي په نسبت دده سره مضاف الیه ته چې حضرت زبیر ﷺ دی **لان الزبیرکان رجلاً دفیع الدرجة والقدر**.

لانه هٰذا الجمع والتالیف الخ: داعلت دی دپاره دانتساب دفوائدو، ضیاء الدین ته یعنې دی دپاره دجمع اوتالیف ددی فوائدو، په شان دعلة غایئ دی پس په مابین دده اودفوائدو کښې علاقه دعلت اودمعلول ده، نو ګویا، لکه چې دې سبب دپاره دوجوددفوائد ودی.

سوال: **کالعلة الغائیة**. یعنې په کاف تشبیه سره یې ولې اوویل؟

جواب: ځکه چې دې عین غایې نه دی. ځکه چې عین علة غایې هغې ته وایې چې باعث وي په وجوددفعل مقدم وي په تصورکښې، اومتاخروي په وجو دکښې، لکه جلوس علی

السریرچې باعث دی په جوړولودسریر. اومقدم دی په تصورکښی اومتاخردی په وجو دکښی نوضیاء الدین دغه شان نه دی ځکه چې دې مقدم دی په تصورکښی په دې فوائدو ، اومقدم دی په وجودکښی هم ، لکه چې ظاهر ه ده . پس علة غایې په حقیقت کښی د ی په خپله نه دی بلکه تعلیم دده، دی ، په دې فوائدوسره نو دې په شان دعلة غایې وګرزیده نه عین علة غایې

نفعه الله تعالی بها سائر المبتدئین من اصحاب التحصیل ترجمه یې داده چې نفع دو رسی الله تعالی په دې فوائدو سره ټولو مبتدیانو اصحاب التحصیل ته په دې عبارت کښی اشاره ده دیته چې ټول مبتدیان طالب علمان په شان دعلة غایې دی ددې فوائدو دپاره

سوال سائرپه معنی د جمیع دی نوپه دې کښی خو ولد هم داخل دی نوذکرددہ مستقلالغوه دی ؟

جواب : دا خو یاتعمیم بعدالتخصیص دی دپاره دشمول الحکم .اویاسائرپه معنې دباقې سره دی «یعنې باقي مبتدیان» ځکه چې دې ماخوذدی دسورنه اوسورپه اصل کښی با قیمانده خوراک اوڅښاک ته وایې خوبیا مستعملیږي په هرباقې څیزکښی نوبناپه دې ولدداخل نه شه په مبتدیانو کښی نوذکریې مستقلالغوه نه شه .

وما توفیقی الا بالله وهوحسبی نعم الوکیل اونه دی داتو فیق دفوائدو ،مالره مګر دالله پاک دطرف نه ،ځکه چې هغه ځمادپاره کافی دی او بهترین کارسازدی .

تشریح : تو فیق مصدردباب تفعیل دی . په لغة کښی دست دادن کسې رادرکارې **وفی الاصطلاح جعل الاسباب موافقة نحو المطلوب الخیر**، اوضدیې خذلان دی یعنې ترک النصرة) والباء **فی قوله بالله بمعنی من ای من الله** ځکه مصدرچې کله مضاف شي فاعل ته ،. نوذکرکیږي بعد دهغې نه کلمه د**من لکه نصر من الله وفتح قریب. فافهم**

غرض دشارح ددې عبارت نه د فع دتوهم دعجب اوتکبر ده یعنې شارح په مختلفو مواضعو کښی نسبت وکه نفس خپل ته ،چې نظمتها اوسمیتها دی نومتوهم شه ددې نه غروراو تکبر نودفع یې .که بقوله **وما توفیقی الخ** .

قوله وهوحسبی الخ : سوال ونعم الوکیل به خالی نه وي یابه عطف وي په حسبی باندې فقط اویاپه ..هوحسبی ،، یعنې په ټوله جمله باندې . بناپه اول لازمیږي عطف دجملې په

مفرد باندې چې حسبي دی اوبناپه ثاني لازمیږي خُلُو دفعل مدح چې (نعم) دی د مخصوص بالمدح نه . یعني چې کله نعم الوکیل عطف شي په راس د جملي د هوالخ نو د هود لاندې به درج نشي . بلکه دا به مستقله جمله شي او بله داچې لازم به وي عطف دانشاء په اخبارباندې ځکه چې نعم الوکیل جمله انشائیه ده او هوحسبي جمله خبرئیه ده؟

جواب اول : داعطف دی په حسبي باندې نو درج شه لاندې د هو نه فالتقدیرهو نعم الوکیل . فحصل المخصوص چې هو دی اوعطف په مفرد ځکه نه لازمیږي چې حسبي (مصدر) په معنی د یحسبي سره دی پس داهم جمله شوه که څوک اووایې چې بیاخولازم شه عطف دانشاء په اخبارچې یحسبني دی نوجواب دادی چې په دې تقدیرنعم الوکیل په تاویل دمقول سره دی ای **مقول في حقه نعم الوکیل** نو داهم جمله خبریه ده

جواب دوم . داعطف دی په هو حسبي باندې . اومخصوص بالمدح مقدردی په قرینې د عطف سره ، فالتقدیرای هونعم الوکیل . یانعم الوکیل هو نو . هو ، مخصوص . بالمدح دی

اعلم ان الشیخ رحمه الله الخ: پوهه شه چې کله داعلم ذکرکیږي دپاره دفوائدو کثیرو . چې بعض دهغې نه دادی .

((۱)) کله غرض د شارح دذکرداعلم نه تمهیدوي (۲) کله توضیح بالتعریف وي (۳) کله تنظیراوتمثیل وي (۴) کله تحقیق لغوي وي په بیان داعراب اوبناسره (۵) کله تحقیق صرفي وي په بیا ن دصیغوسره (۶) کله تدقیق وي - یعني اثبات الدلیل بالدلیل (۷) کله اعتراض وي په متن (۸) کله دفع دا عتراض وي دمتن نه (۹) کله تکمیل دمقام وي.

نوپوهه شه چې غرض دشارح داعلم نه په دې مقام کښې تمهید دی متن آتی ته ، او دفع داعتراض مقدرده . . حاصل داعتراض دادی چې مصنف رحمه الله رساله خپله چې کافیه ده مصدره نه کړه په حمد سره پس دبسم الله نه نوبناپه دې لازم شه مخالفت دکتب دسلفوصالحینو نه ،اومخالفت چې ورشي په کلام دعمده کښې نولابدی وي دپاره د هغې دنکتې نه . **فماالنکتةفیه؟**

فاجاب الشارح بقوله اعلم الخ .خلاصه دجواب یې داده چې مصنف تصدیرد کتاب ونه که په حمدسره .هضماللنفسه . .یعني دوجې دشکستګی (عاجزی) دنفس خپل نه که څوک اووایې چې داسول ځکه نه دی وارد چې کیدی شي چې مصنف کتاب مصدرکړی وي کتاب خپل په حمدباللسان سره جواب یې دادی چې مراد وسائل مخالفت فی الجزئیة دی . یعني

حمد يې جزولی ونه ګرزوه دکتاب خپل نه په ذکرکولو سره

سوال حمد عبادت دی اوترک دعبادت خوعاجزی اوانکساری نه ده.

جواب بحث زمونږ په جزئيت دحمد کښې دی دکتاب نه اوجزنيت عبادت نه دی بلکه عبادت يې قراءت دی (باسولی) مراددشيخ نه ابن حاجب دی رساله په لغة کښې اسم مصدردی په معنی دارسال سره اوارسال په معنی دمرسل سره دی ليږلی شوی ته وايي اوپه اصطلاح کښې ماصغرحجمه وکبرعلمه . اومناسبت په مابين دمعنی لغوی اواصطلاحی کښې دادی چې کافيه راليږي شوی ده دجانب دمصنف نه طالبانوته

قوله هذه غرض دشارح ددې نه اشاره ده دفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې مصنف رحمه الله خورساله خپله مصدره کړی ده په حمد سره چې شافيه ده خلاصه ددفع يې داده چې مراددرسالې نه کافيه ده اودې ته اشاره وکړه شارح **بقوله هذه بأن جعله جزءمنها**: دابيا ن دلم يُصَدَّردی اودفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې کيدی شي چې مصنف رحمه الله حمد ادا کړی وي په لسان سره څکه چې ظنوا المؤمنين خيراً نودعوی دلم يصدرصحيح نه شوه حاصل دجواب يې دادی چې حمد يې جزء دکتاب نه دی ګرزولی . يعنې ذکرکړی يې نه ده

هضماًلنفسه دا مفعول له ده نوځکه منصوب دی اودليل دی دعدم التصديردپاره پوهه شه چې هضم په ضادسره غله درمعده شکستن او هصم په صادسره مطلق شکستن (ماتيدل) **وهذا هوالمرادههنا**.

بتخييل ان كتابه هذامن حيث انه كتابه ليس ككتب السلف : ترجمه يې داده چې په خيال دسا معينو کښې دی خبرې اچولوله . ياپه خيال دنفس خپل کښې اچولودی خبرې لره . چې داکتاب دده چې دی ددې حيثيته چې داتصنيف دده دی نه دی په شان دکتابونو دسلفو صالحينو .

دتخييل معنی اوفرق پوهه شه چې دتخييل دوه معنې دي (۱) دسامعينوپه خيال کښې اچول چې داکتاب دده په شان دکتبودسلفونه دی که وی نومصدرکړی به يې ووپه حمدسره (۲) په خپل خيال کښې راوستل ددې خبرې چې څماداکتاب په شان دکتبودسلفو نه دی . تردې چې مصدريې کړم په حمدسره په معنی اوله کښې هضمامفعول له دقبيلې دضربته

تادیبانه دی «یعنې فعل دضرب شوی دی مخکښې . دپاره دحصول دادب » نوعدم تصدیر دپاره دحصول ددغه خیال دسا معینو او په معنی ثاني کښې د قبیلې د **قعدت عن الحرب جبنأ** نه دی «یعنې جبن باعث دی په قعود عن الحرب ، اومقدم دی په قعود باندې » نو دغه شان ،خیال مذکور دمصنف باعث دی په عدم تصدیر ، اومقدم هم دی په عدم تصدیر بالحمد

من حيث انه كتابه: دادفع داعتراض ده ، حاصل یې دادی چې کتاب دمصنف رحمه الله خو په شان دکتب دسلفو دی ځکه چې داهم مشتمل دی په قواعدو دنحوی ،حاصل دجواب یې دادی چې دده دکتاب دوه حیثیته دی یوداچې داکتاب ددې حیثیته چې مشتمل دی په مسائلو دنحوی دوئم داچې داکتاب په دې حیثیت چې ځما کتاب دی نوپه دې حیثیت دی نه دی په شان دکتبو دسلفو ځکه چې ځه په شان دسلفونه یم اوځماشان اوحیثیت دسلفونه ډیرکوزدی نومراد حیثیت ثانی دی.

اقسام دحیث : پوهه شه چې حیث په درې قسمه دی ، یوحیث اطلاقی ، اوداهغه دی چې مابعد دحیث عین ماقبل دحیث وي اومفادده قصرالنظروي په ذات دمحیث پورې لکه انسان من حیث الانسان دوئم حیث تقیدی دی او داهغه دی چې مابعد دحیث قیدوی دپاره دماقبل اودی متمم دعلت قابلې وي یعنې ماقبل دحیث به قابل دحکم هله ګرځي چې مابعد دحیث موجودشي پس که چرې داقیدذاتي وي نودیته حیث تقیدې معنوی وایې لکه الحیوان من حیث الناطق انسان نوحیوان به قابل دحکم دانسانیت هله ګرځي چې ناطق راشي نوناطق قید دې دپاره دماقبل اوذاتې دی اوکه عرضی وي نودیته حیث تقیدی عنوانی وایې لکه الحیوان من حیث الضاحک انسان ، درئم حیث تعلیلی ، اودادیته وایې چې مابعد دحیث علت وي دپاره ماقبل ، اودی متمم دعلت فاعلی وي یعنې حق سبحانه ، فیضان دمحمول دهغه وخت پورې نه کوي دکومې پورې چې علت نه وي موجودشوی لکه **العالم حادث من حيث التغير**، پس تغیر علت دی دپاره دحدوث دعالم ، .فافهم.

حتى يصدر به على سننها : سنن په فتحتینوسره طریقي ته وایې .اوحتی دپاره دغایې دی ، نو داغایه ده دپاره دمنفی چې مدخول دلیس دی په عبارت سابقه کښې ، ای لیس ککتب السلف نو مطلب داچې کتاب دده نه دی په شان دکتبو دسلفو . حتی چې مصدریې کړی په حمد سره په طریقه دسلفو.

ولا یلزم من ذالك عدم الابتداء به مطلقا: اونه لازمیږي ددې عدم تصدیر دحمد نه په طریقه دجزئیت سره ، عدم ابتداء بالحمد مطلقا ، یعنې نه باللسان ، نه بالجنان اونه بالارکان دا دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې اګرچې داکتاب په شان دکتبو دسلفونه دی لیکن بیاهم پکاروه چې داکتاب یې مصدر کړی وي په حمد سره دپاره ددې چې مخالفت نه وی راغلی دحدیث مشهورنه چې **کل امر ذی بال لم یبدء فیه بحمد الله فهو اقطع اوکما قال علیه الصلوة والسلام.**

فاجاب الشارح بقوله ولا یلزم الخ حاصل یې دادی چې دحدیث نه مطلق ابتداء بالحمد معلومیږي اوابتدا بالحمد خلورقسمه ده . یو باللسان . دویم بالارکان دریم بالجنان خلورم بالکتابة اومصنف ترک دیو خاص قسم کړی دی چې بالکتابت دی او انتفاء دخاص مستلزم نه ده انتفاء دعام لره لکه چې ا نتفاء دانسان مستلزمه نه ده انتفاء دحیوان لره . ځکه چې جائزه ده چې انسان نه وي اوحیوان وي لکه حمار ، پس کیدی شي چې حمدیې باللسان یابالجنان یابالارکان اداکړی وي بناء په ظنوا المؤمنین خیرامالم یرشره

سوال : **ابتداء** مذکوره په حدیث دتسمیې کښې هم عامه ده که باللسان وي او که بالجنان وي اوکه بالارکان وي نوبیاهغه یې ولې جزء دکتاب وګرزوله .

جواب : جزئیت دبسم الله ثابت دی په بل حدیث سره چې هغه دادی **الامن کتب منکم کتابا فلیکتب فی اوله بسم الله الرحمن الرحیم اوکما قال ﷺ حتی یکون بترکه اقطع** . تردې چې شي کتاب دده په ترک دحمد سره مقطوع الخیر والبرکة .

لجواز اتیانه بالحمد من غیران یجعله جزاء من کتابه : ځکه چې ممکنه ده چې اتیان کړی وي مصنف رحمه الله په حمد ، بغیرددې نه چې ګرزولی یې وي جزء دکتاب نه (یعنې باللسان بالارکان یابالجنان یې اداکړی وي) پوهه شه چې په دې مقام کښې هم حتی غایه دپاره دمنفی ده نه دپاره دنفي اوجواب خارجي داعتراض سابق نه دادی چې نه منوچې مصنف رحمه الله نه ده مصدره کړی رساله خپله په حمد سره ، بلکه مصدره کړی یې ده . ځکه چې حمد وئیلي کیږي اظهار دصفات کمالیو دالله تعالی ته ، اوداحاصل شوی دی په ضمن دتسمیې کښې ، ځکه چې په تسمیه کښې لفظ درحمن اورحیم ذکردی . اوداصفات کمالیه دی نو حمد جزء دکتاب نه هم وګرزیده ځکه چې تسمیه جزء دکتاب ده .

ویدء بتعریف الکلمة والکلام: اوشروع وکړه مصنف په تعریف دکلمي اوکلام کښې ،

اودغه شان په تقسیم ددوی کښې ، غرض دشارح ددې عبارت نه تمهید دی متن آتی ته اوبیان دحسن ترتیب دی اودفع داعتراض مقدره . حاصل یې دادی چې مقصود په دې کتاب کښې بحث دی دمقاصدو ثلاثونه . چې مرفوعات . منصوبات اومجرورات دی نو اشتغال دمصنف په تعریف اوتقسیم دکلمې اوکلام کښې اشتغال دی په مالایعنې کښې . **وهذاليس بصحيح**.

فاجاب بقوله وبدء الخ حاصل دجواب یې دادی چې تعریف اوتقسیم دکلمې اودکلام موقوف علیه دی دپاره دمقاصدو ثلاثو . اوموقوف علیه دمقصود هم مقصودوي **فلايلزم المحظور**.

سوال : شارح خو صرف تعریف ذکرکړی دی اوتاسوتقسیم هم ذکرکړ فماالباعث علیه ؟

جواب . لکه څنګه چې مصنف رحمه الله تعریف دکلمې اوکلام ذکر کړی دی نودغه شان یې تقسیم دهرواحدهم کړی دی ، نوچې هرکله شارح فقط تعریف ذکرکه اوتقسیمهما یې ونه ویل نومونږتقسیم هم اراده کړ په طریقه دعطف تلقین سره .

عطف تلقین . عطف تلقین دیته وایې چې په یوکلام کښې حذف دمعطوف شوی وي سره دعاطف نه **وههناكذالك** چې وتقسیمهمادی وجه تسمیه یې داده چې تلقین وایې تعلیم ته نودیته تلقین څکه وایې چې ګویامخاطب متکلم ته داخبره ښائی چې دا (یعنې معطوف) هم ورسره وئیل پکاردی .

سوال معلومه شوه چې معطوف مقدردی په کلام کښې . نوداقول دشارح **لانه يبحث الخ** نه صحیح کیږي .دلیل دپاره دمجموعې دمعطوف علیه (مذکور) اومعطوف (مقدر) کماهوالظاهر، څکه چې داپه ظاهره دلیل دتعریف دپاره دی .

جواب : دلیل مذکوردمعطوف علیه اومعطوف دواړودپاره دی ، څکه چې تقسیم متمم دتعریف وي اوداځکه چې تعریف تصویردشي دی .من حیث المفهوم اوتقسیم تصویرشی دی **من حيث الانطباق على الافرادفيشتركان فى التصور** نو دلیل مذکوریعنې **لانه يبحث الخ** ددواړدپاره کافي دی

لانه يبحث فى هذاالكتاب عن احوالهما : څکه چې بحث کیږي په دې کتاب کښې داحوالودکلمې اودکلام نه . دااقامت ددلیل دی دپاره داثبات ددې دعوی چې وبدء الخ دی

سوال : دادعوی دشارح غلطه ده څکه چې ابتدادکتاب خوپه بسم الله سره شوی دی بلکه په ،،با،، سره شوی ده ..نه په کلمې اوکلام سره . ؟

جواب مراددابتداء عرفي یااضافي ده . اوابتداء په تسمیې اوباسره حقیقي ده . فلایرد پس ددې نه پوهه شه چې احوال دکلمې اوکلام هغه څیزونه دي چې عارضیږي کلمې اوکلام ته بالذات یابالو اسطه . لکه عاملیت چې عارض دی کلمې ته برابره خبره ده چې ضمن داسم کښې وي یافعل اوحرف کښې . اولکه اعراب اوبناء چې عارضیږي کلمې ته په واسطې داقسامو دکلمې سره چې اسم وغیره دی اودیته عوارض ذاتیه وایې **والتفصیل فی کتب المنطق**.

موضوع دعلم النحو : پوهه شه چې په احوالهماکښې اشاره ده موضوع دعلم نحوی ته چې کلمه اوکلام دي ځکه چې موضوع وئیلي کیږي هغه شي ته چې په کوم فن کښې دهغه شي دعوارض ذاتیه نه بحث کیږي هغسې دعوارض ذاتیه دکلمې اوکلام نه بحث کیږي کماعرفت آنفانوموضوع یې هم دغه ده بلاریب .

سوال : داخولازم شه تعدد د موضوع اوتعددموضوع مستلزم دی تعدددعلومولره ،حالانکه علم نحوه علم واحد دی ؟

جواب : تعددموضوع مستلزم وي تعدددعلومولره بې شکه خوهغه وخت چې حیثیت یې واحد ،نه وي اوحیثت دکلمې اودکلام واحددی چې کون دهرواحددی لفظ موضوع للمعنی ،یعنې هرواحد دکلمې اوکلام نه لفظ موضوع للمعنی دی پس ګویالکه چې موضوع دعلم نحوی لفظ موضوع دی اوداواحده دی اونظیرددی اصول فقه ده مثلاچې موضوع یې ادله اربعه دی ، لیکن په جهة واحده سره چې هغه **کون کل واحدمنهادلیلاشرعیاً**.

فمتی لم یعرفاکیف یبحث عن احوالهما : پس هرکله چې ونه پیژندی شي ، یاتعریف ونه کړی شي دکلمې اودکلام نوڅنګه به بحث وکړی شي ددوی نه (استفهام انکاری دی یعنې نه شي کیدی .

سوال : لم یعرفا به یاماخوذوي دمعرفت یعنې دمجردو . نه (ای **لم یعرفا**) اویابه ماخوذوي د تعریف (یعنې دمزیدونه) **ای لم یعرفا**) هراحدغیرصحیح دی که اول شي نودلیل مثبت دمدعې نه دی ځکه چې ددلیل نه نفس معرفت ثابت دی (ځکه چې تاارداکړي دی معرفت دلم یعرفانه) اومدعي تعریف دی یعنې وبدء) بتعریف الخ ، اوکه ثاني شي نوتطبیق دمدعي اودلیل خوراغی لیکن تلازم نیشته دشرط اودجزاء په مابین کښې شرط متی لم یعرفادی اوجزاء کیف یبحث دی ، اوتلازم ځکه نیشته چې بغیردتعریف کولودکلمې اوکلام نه هم بحث داحوالوددوی

نه ممکن دی په دې شان سره چې معرفت يې په وجه ، اجمالي سره وشي ، يعنې معرفت دی يې وشي په عنوان د ، کلمې او کلام ،، سره مثلا

جواب لم يعرفا ماخوذدی دتعريف نه ، يعنې من المزيد . او تلازم هم شته ځکه چې مراددبحث نه بحث على وجه البصيرة دی اودا موقوف دی په تعريف اصطلاحی دکلمې اوکلام باندې نه په وجه اجمالي اودا هم صحيح ده چې ماخوذ شي دمعرفه نه . اودليل هم مثبت دمدعي دی ځکه چې مراددتعريف نه (چې مدعي ده) مطلق تعريف دی . يعنې تعريف اصطلاحی وي يا په وجه اجمالی سره اويا په بله طريقي سره ، اوپه دليل کښې هم نفس معرفت مراددی .

وقدم الكلمة على الكلام: اومقدمه يې کړه کلمه په کلام **لكون افرادها اجزء من افراده** دوچې دکون دافرادو دکلمې نه جزء دافرادو دکلام نه مفهومها جزء من مفهومه . اودوچې دکون دمفهوم اجمالي دکلمې نه جزء ، دمفهوم تفصيلي دکلام نه . غرض دشارح ددې عبارت نه ، تمهيد دې متن اتی ته ،اوبيان دحسن ترتيب دی چې تقديم دکلمې دی په کلام . اودفع داعتراض مقدرده .حاصل يې دادی چې کلام اشرف دی په نسبت سره کلمې ته . ددوه وجونه يوداچې فوزبنادی په کلام باندې نه په کلمه لکه لااله الاالله محمدرسول الله نوفوزبنادی په ايمان اوايمان وئيلي کيږي تصديق ته ، او تصديق متعلق کيږي په کلام پورې نه په کلمې پورې .اوبله داچې مقصددوضعې دالفاظونه افاده اواستفاده ده . اودانه حاصليږي مګرپه کلام سره کماهو الظاهر.پس لازمه شوه ترجيح دمرجوح .

حاصل دجواب : يې دادی چې افراددکلمې جزء دی دافرادو دکلام نه .لکه اسم چې فرددکلمې دی ، جزء دې دجملې اسميې ، اودغه شان فعل جزء دی دجملې فعلی او حرف جزء دی دجملې انشايې نه ، اومفهوم اجمالي دکلمې جزء دی دمفهوم تفصيلي ،دکلام نه اوجزء مقدم وي په کل باندې طبعانومقدم يې که وضعااوذکرادپاره ددې چې مطابقت راشي دذکردطبع سره ، **وهذاهوالمرجح فلايلزم ترجيح المرجوح** .

سوال : مفهوم دکلمې جزء دمفهوم دکلام نه نه دی ، ځکه چې مفهوم دکلمې لفظ وضع لمعنې مفرد ، دی اومفهوم دکلام **ماتضمن كلمتين بالاسناد** دی .

جواب : مراددمفهوم دکلمې نه مفهوم اجمالي دی چې نفس ،، کلمة ، ده اومراددمفهوم دکلام نه مفهوم تفصيلي دی چې **ما تضمن كلمتين الخ** دی **وهذاما اشرنااليه فى الترجمة**) اوبلاريب ، کلمه ، يعنې مفهوم اجمالي) جزء دی دتعريف تفصيلي دکلام نه .ځکه چې ماخوذ په تعريف

دکلام کښې لفظ د ، کلمتین ،دی په تثنیې سره ، اوکله ، مفرده ، جزءده د ،کلمتین ، ،نه بناپه دې قانون چې تثنیه په حکم دواحدمکررکښې وي ،لکه رجلان . په حکم درجل ورجل کښې دی ، نوکلمتین هم په حکم دکلمة وکلمة کښې دی

تقدم طبعي تقدم طبعي دیته وایې چې متقدم محتاج الیه دمتاخروی اوعلة تام ورله نه وي او علة تام دیته وایې چې وجودیې مستلزم وي وجود د معلول لره اوعدم یې مستلزم عدم دمعلول لره . مثال دتقدم طبعي لکه تقدم دواحدشه په اثنین باندې . ځکه چې واحد محتاج الیه داثنین دی خو علة تام داثنین نه دی ځکه چې وجودد واحدمستلزم نه دی وجودداثنین لره ځکه چې ظاهره ده چې اثنین بغیردواحدنه شی راتلی اوواحدبه وي اواثنین به نه وي . نودغه شان کلمه هم محتاج الیه ده دپاره دکلام ځکه چې کلام بغیردکلمې نه نه شي راتلی لیکن کلمه ورله علة تام نه دی ځکه چې ډیرکرته کلمه موجوده وي خوکلام نه وي.

سوال : ضمیردافراد ها اومفهومهابه خالی نه وي یابه راجع وي لفظ دکلمې ته ،یامفهوم دکلمې ته ،هر واحدغلط دی ،ځکه که راجع شي لفظ دکلمې ته نومطابقت خو به راشي په مابین دراجع اومرجع کښې چې کلمه ده ، لیکن اضافت دافراد و کلمې ته غیرصحیح دی . ځکه چې افراددمفهوم دپاره وي نه دپاره دلفظ ،اوکه راجع شي مفهوم دکلمې ته نومعنی به داشي ، چې دوجې دافرادود مفهوم دکلمې نه ، نوبیااضافت دافرادو مفهوم دکلمې ته صحیح دی لیکن مطابقت نه راځي په مابین دراجع اومرجع کښې . ځکه چې ضمیرمؤنث دی اومرجع مذکردی چې مفهوم دی اودغه شان اضافت دمفهوم (په مفهومها کښې) هم نه صحیح کیږي مفهوم دکلمې ته ، ځکه چې لازمیږي مفهوم دپاره دمفهوم اومفهوم دلفظ دپاره وي نه دپاره دمفهوم.

جواب : ضمیردافرادهارا جع دی کلمې ته په ا عتباردمفهوم سره (نومعنی به داشي چې دوجې دکون دافرادو دکلمې نه په ا عتباردمفهوم سره) اوضمیردمفهومهاراجع دی لفظ دکلمې ته (نومعنی به داشي چې دوجې دکون دمفهوم دکلمې نه (اوداکارپه طریقې دصنعة الاستخدا سره دی . ځکه چې دکلمې دپاره دوه اعتباره دی ،یولفظ اوبل مفهوم ، بس اضافت دافرادو کلمې ته په اعتباردمفهوم سره دی اواضافت دمفهوم کلمې ته په اعتباردکلمې سره دی نوافراددپاره دمفهوم دکلمې شو اومفهوم دپاره دلفظ دکلمې شو ، فافهم

فقال الکلمة :یعنې هرکله چې مصنف رحمه الله کلمه مقدمه کړه په کلام باندې نواویې وی

چې الکمة . **قیل هی والکلام مشتقان من الکلم**: وئیلی شوی دی چې کلمه او کلام مشتق دی د کلم نه .غرض د شارح تحقیق صرفی او نحوی دی . نو پوهه شه چې په دې مقام کښی دوه بحثونه دي (۱) اشتقاق او عدم اشتقاق د کلمې او د کلام (۲) جنسیت او جمعیت د کلمې

بحث اول اشتقاق او عدم اشتقاق په دې کښی دوه مذهبه دي . یو د جمهورو چې د معلومیږي ضمنا . او بل د بعضُ او دا مذکور دی صراحة مذهب د جمهورو دادی چې او کلمه او کلام اسمین بر اسه مادی . یعنې جامد دی ځکه چې دارومدار د اشتقاق په تکلفات بعیدو دی او مذهب د بعض دادی چې کلمه او کلام مشتق دی کلم نه (په سکون د لام) سره.

سوال شارح تعبیر وکه د کلمې نه په ضمیر سره . او تعبیر یې وکه د کلام نه په اسم ظاهر سره **فما النکتة فیه** ؟

جواب کلمه مذکور ده سابقا صریحا او قانون دادی چې یو شی ذکر شي صراحة سابقا نو بیا ذکر کولی شي په ارجاع د ضمیر سره . نو ځکه یې کلمې ته ضمیر راجع که او کلام چونکه نه وو ذکر شوی صراحة په عبارت سابقه کښی ،نو د ارجاع الضمیر څه وجه نه وه نو ځکه یې ذکر که صراحة **بِتَسْکِیْنِ اللاَمِ وَهُوَ الْجَرْحُ** په سکون د لام سره او دا جرح ته وایې .په دې کښی اشاره ده دفع د وهم او وهم بنادی په دې چې کلم کیني بکسر اللام دی نو خلاصه د وهم داده چې اشتقاق د کلمې او کلام د کَلِم نه غیر صحیح دی . ځکه چې په مابین د مشتق او مشتق منه کښی مغائرت وي او دلته مغائرت نیشته . بلکه دواړه شی واحد دی ځکه چې تا د کلمة لره اعتبار نیشته نو لازم شه اشتقاق د شي دنفس خپل نه وذالک باطل حاصل د جواب یې دادی چې مغائرت شته .ځکه چې کلم (مشتق منه) په سکون د لام سره دی او مشتق یعنې کلم په کسرې د لام سره ده ، **فیصح الاشتقاق.**

اشتقاق : په لغة کښی وئیلی کیږي پاره کردن . ته وفی **الاصطلاح اَنْ تَجِدَ بَیْنَ اللفظَیْنِ تناسبًا فِیْ اِحْدیٰ الْمَدلُولاَتِ الثلٰثَةِ وَاِشْتَراکًا فِیْ جَمِیْعِ الْحُرُوْفِ الْاَصْلِیَّةِ مُرَتبًا نحو ضرب من الضرب او غَیْرَ مُرَتَّبٍ نحو جبذ من الجذب، او اشتراکا فی اکثر الحروف الْاَصْلِیَّةِ مَعَ التَقَارُبِ فِی الْمَخْرَجِ نحو نَعَقَ مِنَ النَہْقِ**)
کذا فی الغفور و المعنی و اضح

لِتَاثِیْرِ مَعَانِیْہِمَا فِی النُفُوْسِ کَالْجَرْحِ : دوجې د تاثیر د معانی د کلمې او د کلام نه په نفوسو (قلوبو) کښی ، په شان د جرح په مجرح کښی .

غرض د شارح ددې عبارت نه دفع د اعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې اشتقاق د کلمې او د کلام . د کلم نه نه دی صحیح ځکه چې په مابین د مشتق او مشتق منه کښی مناسبت وي لفظا او معنا او دلته اګر که مناسبت لفظی خو شته چې کاف لام میم دی په دواړو کښی لیکن مناسبت معنوی نشته ځکه چې معنی د کلمې لفظ وضع الخ ده او معنی د کلام ماتضمن کلمتین الخ ده او معنی د کَلم جَرح ده فاجاب الشارح بقوله لتاثیر الخ .خلاصه دجواب داده چې مناسبت په مابین د مشتق او مشتق منه کښی عام دی که په معنې مطابقی کښی وي یا تضمنی او یا التزامی کښی او دلته اګر چې مطابقت معنینو اولینو کښی نشته خو په معنی التزامي کښی شته چې هغه تاثیردی . یعنې تاثیر لازم دی د معنې د کلمې او کلام سره ، یعنې لکه څنګه چې کلم (جَرح) اثر کوي په مجروح کښی نو دغه شان کلمه او کلام تاثیر کوي په نفوس کښی **وهذا القدر کاف** .

وَقَدْ عبر بَعْضُ الشعَرَاءِ عَنْ بَعضِ تَأثِيْرَاتِهِمَا بِالْجَرْحِ : او په تحقیق سره بعض شاعرانو تعبیر کړی دی د بعض تاثیراتو د کلمې او د کلام نه په عین جَرحِ سره غرض د شارح بیان د علاقې معتبری دی په مابین د مشتق او مشتق منه کښی . حیث قال

جراحات السنان لهاالتیام
ولایلتام ماجرح اللسان

پر هر د نیزی خه دی چې به جوړشي په مرهم
پرهر د ژبې بد دی چې وي عمر سره سم

جراحت نیزه به گردد به دارو
ولی جرحے زبان رانیست دارو

بیان د علاقې معتبرې دادی چې شاعر په ماجرح اللسان کښی نسبت د جرحِ کړی دی لسان ته . او لسان خو ظاهره ده چې صالح د جَرحِ او زخم نه دی ،نو معلومه شوه چې مراد ترینه ماجری علی اللسان دی من الشتم والسب . او ماجری علی اللسان خو نه دی مګر کلمه او کلام دی ، او سره ددې ورته شاعر نسبت د جرحې کړی دی نو معلوم شه ددینه مناسبت په مابین د مشتق او مشتق منه کښی

خو دا مذهب ضعیف دی په یو څو وجوهاتو سره . دوجې د ارتکاب د تکلفاتو بعیدو نه په دې

کښی ، په دې وجه شارح داپه قیل سره مصدرکړی دی.
وجه اول داده چې مناسبت په مابین دمشتق اومشتق منه کښی په معنی التزامی کښی راغلی دی . اومعنې التزامې معنی خفی ده . وجه ثانی داده چې نه منم داخبره مفیددپاره دفائدی وې نه کلمه نومناسبت په مابین دکلام اوکَلم کښی راغی فقط وجه ثالثه داده چې که ومنم چې کلمه اوکلام دواړه تاثیرکوې لیکن دانه منم چې هر کلام اوهره کلمه تاثیرکوې بلکه کلمه اوکلام سیئه تاثیرکوې فقط ،نه حسنه ،نودامناسبت په اعتباردبعض افرادوسره شه . اودا کافی نه دی.
وجه رابعه داده چې که داهم ومنم چې هره کلمه اوهرکلام تاثیرکوې لیکن بیاپه تاثیرکښی فرق دی. ځکه چې کلمه اوکلام تاثیردآلَمْ (درد) نه کوې اوکلم (جَرْحَ) تاثیردآلم کوې ،فلامناسبة بینهماوجه خامسه داده چې که چرې مراددتاثیردکلمې اودکلام نه ، تاثیرمقرون بالالم وې ، نودامناسبت خفی غیرمتبادرالی الذهن دی ، **وکلُّ شيءٍلَمْ یَکن مُتَبَادراًالی الذهن لَمْ یَکُنْ مُعْتَبراً**) نوپه دې وجه مذهب دبعض ضعیف دی (**وَالْکَلِمِ بِکَسْرِالَّلامِ جِنْسٌ** : اوکلم په کسری دلام سره جنس دی.
بحث دوم په جنسیت اوجمعیت دکلم کښی : پوهه شه چې په الکلمة کښی درې اجزاء دي الف لام ، کلم اوتاځوکلم معروض دی اوالف لام اوتاورته عارض دی اومرتبه دمعروض مقدمه ده په عارض باندې ، نوځکه شارح اول تفصیل دکلم کوې اوبیادالف لام اوتاتعین کوي . نوپه کلم بدون التاء کښی دوه مذهبه دي یو دجمهوروا وبل دصاحب اللباب اوصاحب الصحاح ، نوشارح اول مذهب دجمهوروذکرکړی دی ،. په دې قول سره (**وَالْکَلِمِ بِکَسْرِالَّلامِ**) بکسراللام یې ځکه اوویل چې ځوک تو هم دسکون دلام ؤنه کړی (والافسد المقصد) **جِنْسٌ لَاجَمْعٌ** ، جنس دی اوجمع نه ده ، یعنې جمهوروایې چې کلم . بغیردتانه جنس دی اوسره دتانه فردالجنس دی ، یعنې مفرددی معنې یوه کلمه .
پوهه شه چې جنس په اصطلاح دنحاتوکښی وئیلې شي هغه ماهیت ته چې معری وي دوحدت اودکثرت نه اواطلاق یې په قلیل اوکثیردواړوکیږي .
سوال . ذکردلَاجَمْعٌ بعددجنس نه لغوه دی ځکه چې هرکله (کلم) جنس شه نومعلومه شوه چې جمع نه ده؟
جواب : ذکردلاجمع پس دجنس نه تصریح ده په ردعلی البعض یاتصریح ده **بماعُلِمَ ضِمْناً**)

یعني نفی د جمعیت د جنس نه معلومه شوی ده خوضمناً نو په لاَجَمْعَ سره پرې تصریح وشوه

كَتَمْرٍوَتَمْرَةٍ سوال تمرخو مشبَه به ده دپاره دکلم خوتمرة به خالي نه وي یابه مشبه به دپاره دکلم وي او یادبل شي هرواحد غلط دی دکلم دپاره مشبه به ځکه نه جوړیږي چې کلم جنس دی اوتمرة فردالجنس دی ، او فرددجنس مشبه به دپاره دجنس نه شي کیدی او که دغیردپاره مشبه به وي نوفعلیك البیان .

جواب : تمرة مشبه به دپاره دمقدرد ه چې کلمة ده نوتقدیربه داسې شی ،**والكَلِم بِكَسْرِ اللاَمِ وَالْكَلِمَةُ كَتَمْرٍوَتَمْرَةٍ** نوتمرجنس دی اوتمرة مفرددی .

دلائـل دجمهـورو : دجمهورودپاره ، دجنسیت دکلم څلوردلائل دی یوشارح ذکرکړی دی اودرې خارجي دی .،شارح دلیل خپل بیان کړی دی بقوله

بدلیل قوله تعالی **اَلَيْهِ يَصْعَدُالْكَلِمُ الطَيِّبُ** ، طریقه داستدلال یې داده چې الطیب صفت دالکلِم دی . نوکه داجمع وي نوصفت به یې طیبات وي ، یاطیبة په تاویل دجماعت سره اوداځکه چې مطابقت په مابین دصفت اوموصوف کښې ضروری وي .

دوئم دلیل یې دادی چې کلم جمع نه ده ځکه چه جمع په دوه قسمه ده یوجمع قلة اوبله جمع کثرة نودا جمع قلة خونه ده ځکه چې اوزان دهغې محصوردی چې څلوردي افعل افعال فعلة ،افعلة اودوه جمع سالمې چې خالي وي دالف لام نه اوکَلِمٌ په دوی کښې نیشته وهذا ظاهر، اوجمع کثرة هم نه ده ځکه چې جمع کثرة نه مصغرکیږي بلفظه ، بلکه ردکولی شي په تصغیرکښې مفردخپل ته دپاره ددې چې اجتماع دفرعینورانه شي چې یوه جمعیت چې دافرع د افراد ده اوبل تصغیرچې دافرع د مکبرده ، حالانکه تصغیریې کلیم یعنې بلفظه راځي.

ذرئم دلیل یې دادی چې کلم واقع کیږي تمیزدعدداوسط لکه وئیلې کیږي قرات اَحَدعشرکلماً نوکه داجمع وی نوتمیزدعدداوسط به نه واقع کیده ځکه چې تمیزدعدداوسط مفرد منصوب وي .

څلورم دلیل یې دادی چې راجع کیږي ده ته ضمیردمفردپه استعمال دعربوکښې . نه دجمع نومعلومه شوه چې کلم جمع نه ده بلکه جنس دی

سوال : دلائل مذکوره مثبت دمدعي نه دی ځکه چې مدعي دجمهوروجنسیت دکلم دی . اوپه دې دلائلوسره ثابت شه ابطال دجمعیت خودابطال دجمعیت نه جنسیت نه معلومیږي . ځکه

چې کیدی شي چې کلم جمع نه وي بلکه مفرد یاتثنیه دی وي یا اسم جمع وي

جواب اختلاف دجمهورو اوبعض منحصر دی په جمعیت او جنسیت دکلم کښی . اوهیڅ قول نه دی کړی په افراد ، تثنیت او اسم جمع کیدلو دکلم نو لامحاله چې جمعیت یې باطل شه نو جنسیت یې ثابت شه.

جمع ، او اسم جمع جمع دیته وایې چې دلالت کوي په افرادو متعددو باندې او مفرد من لفظه ورله وي لکه مسلمون . او اسم جمع دیته وایې چې دلالت کوي په تعدد . لیکن مفرد من لفظه نه لري لکه قوم او رهط وغیره

وَقِيْلَ جَمْعٌ حِيْثُ لَايَقَعُ اِلَّا عَلَى الثَّلٰثِ فَصَاعِداً او .ونیلی شوی دي چې کلم جمع ده (حیث تعلیلیه دی) یعنې په دې وجه چې اطلاق دکلم نه کیږي مګر په دریو باندې او یا زیات د دریو نه پوهه شه چې فصاعدا منصوب دی بنابر حالیت ای یزید العدد علی ثلاثة حال کونه فصاعداً دا مذهب دبعض ، دی چې صاحب اللباب او صحاح دی او په قیل سره اشاره ده ضعف ددې ته ، وسنُبینه.

دلائل دجمعیة دکلم ددې دپاره درې دلائل دي دلیل اول مذکور دی په شرح کښی بقوله **حَيْثُ لَايَقَعُ الخ** خلاصه یې داده چې کلم جمع ځکه ده چې ددې اطلاق کیږي په ثلاثه او ما فوق دثلاثه په استعمال کښی یعنې هرکله چې کلم ذکر شي نو مراد دهغې نه ثلاثه یا زیات د دریو نه وي او داعلامه دجمعیت ده ځکه که چرې داجنس وي، نو اطلاق به یې په قلیل او کثیر تولو باندې کیده.

دوئم دلیل یې دادی : چې تمیز دعدد اوسط کلمة بالتاء واقع کیږي ای قرءت احدی عشر کلمةً نو کلمة بالتاء مفرد دی او بدون التاء جمع ده .

درئم دلیل یې دادی . تصغیر دکلم کُلَمیة راځي نو معلومه شوه چې دا جمع ده ځکه چې جمع په وخت دتصغیر کښی ردکولی شي مفرد خپل ته ، .یعنې مفرد یې کلمة دی او دا جمع ده.

وَالْکَلِمُ الطَّيِّبُ مؤول بِبَعْضِ الْكَلِمِ: پوهه شه چې ددې عبارت نه دشارح دوه غرضونه دی یو دفع داعتراض مقدر ده چې وارددې په مذهب دبعض .باندې حاصل یې دادی چې هرکله کلم جمع شوه نو واقع کیدل دطیب ، صفت دپاره دکلم غیر صحیح شو .ځکه چې دموصوف او دصفت په مابین کښی مطابقت ضروری وي . فی الافراد والجمعیت . خلاصه دجواب یې

داده چې الکلم الطیب مؤول دی په تاویل دبعض الکلم سره . اوبعض هم مفرددی نو الکلم ځکه مفرد ذکرشوی دی اووجه دتاویل داده چې بعض مقدردی په ایت کښې مستنبط دی دفحوی دکلام نه ځکه پورته کیدونکې محل داجابت ته جمیع کلمې نه دی بلکه بعض کلمې دی چې کلمات حسنه دی .

بل غرض دعبارت مذکوره نه تردیددی دجانب دلباب اوصحاح نه په دلیل جمهورو په دې شان سره چې کلم جنس نه دی بلکه جمع ده ، اوتوصیف یې الطیب (مفرد) سره په تاویل دبعض سره شویدی ،ځکه چې صاعد محل قبولیت ته بعض کلمې دي چې کلمه دتوحیدده .

وجه دضعف دمذهب دبعض مذهب دبعض ، ضعیف دی په دې وجه شارح په صیغې دقیل سره ذکرکړیدی .وجوهات دضعف یې جوابونه هم دی دلائل د بعض نه پس جواب یې ددلیل اول نه دادی . چې دکلم اطلاق په ثلاثة اومافوق دثلاثه باندې کیږي . خوداپه اعتباردا ستعمال سره . اواستعمال عارضي دی اوپه اعتبارداصل وضع سره یې اطلاق په قلیل اوکثیرتولوباندې کیږي اواعتباراصل وضع لره دی جواب ددوئم اودرئم دلیل نه دادی چې تمیزدعدداوسط کلمة ، اوتصغیریې کلیمة راتلل تحکم دی یعنې دعوی بلادلیله ده اودامثالونه یې مصنوعی دی نه مسموعي . او اثبات دقواعدو کیږي په مسموعاتونه په مصنوعاتو اودتاویل فی الایة نه جواب دادی چې تاویل خلاف الاصل دی اوعدم تاویل اصل دی اوحمل کول دعبارت په اصل اولی دی دخلاف الاصل نه .

وَاللَّامُ فِيْهَا لِلْجِنْسِ وَالتَّاءُ لِلْوَحْدَةِ : اوالف لام په الکلمة کښې جنسی دی اوتا دپاره دوحدت ده . پوهه شه چې په دې عبارت کښې دشارح دوه غرضه دي .یوتعین د . الف . لام . اودتا . د الکلمة دی ، خوتحقیق دالف لام یې مقدم که ځکه چې دامکتوب دی په اول دکلمې کښې اوتاپه اخر کښې ده.

اوبل غرض یې دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې الف لام دالکلمة به خالي نه وي یابه اسمي وي اویاحرفي ،اویوهم نه شي کیدی . اسمی خوځکه نه شي کیدی چې کلم نه اسم فاعل دی اونه اسم مفعول ، او الف لام اسمي دا خلیږي په اسم فاعل اومفعول باندې کماعرفت فیماسبق اوحرفی هم نه شي کیدی ، ځکه چې داپه دوه قسمه دی یوزائد اوبل غیرزائد ، پس زائدنه شي کیدی ځکه چې لازمیږي نکارت د مبتدا اوداخلاف اصل دی . ځکه چې اصل په مبتدا کښې تعریف دی .

اوغیرزائدهم نه شي کیدی ،ځکه چې داپه څلورقسمه دی جنسي ،استغراقي عهدخارجي او

عهدذهني . والکل باطل .جنسي ځکه باطل دی چې په دې سره اشاره کیږي ما هیت من حیث هی نه او تا دپاره دوحدت ده او جنسیت اووحدت متنافیان دی او استغراقی هم نه شي کیدی ځکه چې دامستلزم دی کثرة لره ځکه چې په دې سره اشاره کیږي افرادوته اوتادپاره وحدت ده اودکثرت اودوحدت په مابین کښې هم منافات دی . اوعهدخارجي هم نه شي کیدی . ځکه چې دامعهودفی الخارج غواړي . اودلته داسې څه شی نیشته چې په دې سره اشاره وشي هغه ته اوعهدذهني ځکه باطل دی چې لازمیږي نکارت دمبتدا ځکه چې دوجې دعدم معهودیت فی الخارج نه داپه قوة دتنکیرکښې وي

ددې نه شارح دوه جوابونه کړي دي . یو په دې قول سره . وَاللّامُ الخ . اوبل ویمکن الخ سره حاصل دجواب اول د ادی چې الف لام په الکلمة کښې جنسي دی اوتادپاره دوحدت ده هر کله چې په دې شق داسوال واردووچې جنس اووحدت متنا فیان دی . نوشارح اُوویل.

وَلَامُنَافَاةَ بَيْنَهُمَا اومنافات نیشته په مابین ددی دواړو کښې .

لِاتِّصَافِ الْجِنْسِ بِالْوَحْدَةِ وَالْوَاحِدِ بِالْجِنْسِيَةِ : دابې دلیل دعدم منافات دی ، یعنې دوجې د اتصاف دجنس نه په وحدة سره اودواحدپه جنسیت سره مطلب دادی چې وحدت په څلورقسمه دی.

۱. وحدت جنسي لکه حیوان .۲. وحدت نوعي لکه انسان .۳. اووحدت صنفی لکه رومي.

۴. وحدت فردی لکه زید. نومنافات په مابین دوحدت فردی اوجنسیت کښې دی نه په نورو وحداتو کښې . اودلته کښې وحدت فردی نه دی مرادبلکه باقې وحدات مراددی.

سوال : دماسبق نه خودا معلومه شوی ده چې کلمه سره دتانه فردالجنس دی یعنې تادپاره دوحدت فردی ده اودلته تاسواوویل چې وحدت فردی نه دی مراد نوداخومنافات لازم شه دماسبق سره ؟

جواب مرادوحدت فردې ووخو چې هرکله کلمه منقوله شوه دمعنی لغوی نه ، چې مَایُتَکَلَّم به دی معنی اصطلا حې ته چې لفظ و ضع الخ دی نووحدت فردی هم نقل شه وحدت جنسي ته او خارجې جواب داهم ممکن دی چې تادپاره دوحدت نه ده بلکه دپاره دتانیث ده یاتادپاره دوحدت مع التانیث ده خوپه دې کښې تجرید شوی دی دوحدت نه نوصرف تا نیث ملحوظ دی ههنا . فلامنافات ، **يُقَالُ هٰذَا الْجِنْسُ وَاحِدٌ وَذَالِكَ الْوَاحِدُ جِنْسٌ** دا اثبات

داتصاف مذکوردی په محاوره عربیه سره

سوال: دامحاوره صحیح نه ده ځکه چې اتصاف دیته وایې چې یوبه موصوف وي اوبل به یې صفت وي اوپه دې محاوره کښې هذا الجنس مبتدا ده اوواحدیې خبردی او دغه شان ذالک الواحدمبتدا ده اوجنس یې خبردی.

جواب مراددااتصاف نه تصادق دی. یعنې جنسیت اووحدت په یوبل باندې صادقیږي اوداخبره په مبتدا او خبرکښې هم متحققه ده فلااشکال

وَيُمْكِنُ حَمْلُهَا عَلَى الْعَهْدِ الْخَارِجِي بِإِرَادَةِ الْكَلِمَةِ الْمَذْكُورَةِ عَلَى الْسُنَةِ النُحَاةِ : اوممکن دی حمل کول ددې الف لام ، په عهدخارجي باندې په ارادی دهغه کلمې ، چې جارې ده په السنوُ د نحاةُ باندې. داجواب ثاني دی داعتراض سابقه نه ، اوبیان داحتمال آخردی په الف لام کښی ، یعنې الف لام په الکلمة کښی عهدخارجي دی.

سوال : الف لام عهدخارجي معهودفی الخارج غواړي ،نومعهودفی الخارج ههناڅه شی دی ؟

جواب : معهودفی الخارج هغه کلمه ده چې جاری ده په السنودنحاة باندې.

سوال : شرط په عهدخارجي کښی دادی چې معهودبه مذکوروي سابقاًاوکلمه جاریه په السنودنحاة خومذکوره نه ده په ماسبق کښی ؟

جواب : ذکرمعهودخارجي سابقاشرط نه دی بلکه معلومیت یې شرط دی ، اوداشرط موجوددی ځکه چې معلومه اومعرّفه کلمه دلته کښی کلمه نحویه ده ، چې مبحوث عنهاده په علم نحوه کښی ، اوداهغه کلمه ده چې جارې ده په السنود نحاة باندې ، پس معنی د ، الکلمة الخ داشوه ، چې هغه کلمه چې مصطلحه دنحاة ده اومبحوث عنهافی العلم النحو ،ده لفظ وضع الخ.

سوال : قرینه په دې باندې څه ده ؟

جواب : قرینه پرې داده چې عالم نحوی دی ، اومتعلم هم نحوی دی .اوداکتاب دعلم نحوی دی . نوخامخابه مراددکلمې نه کلمه نحوی وي.

سوال : بناپه تقدیردالف لام عهدخارجي لازم شه تعریف دپاره دفردحالا نکه تعریف دپاره دماهیت کیږي نه للفرداونه بالفرد .وسیأتی هذاعنقریب انشاءالله تعالی

جواب : داتعریف دپاره د ماهیت دی هغه ماهیت چې په ضمن دفردکښی دی.

سوال : څه وجه ده چې شارح داجواب مصدرکه په یمکن سره ، چې مشعردی په ضعف باندې.

جواب دوجې دشکستکی دنفس نه ،ځکه چې دا توجیه دشارح دطرفه ده.

مسئله د تعریف للفرد او بالفرد پوهه شه چې فردنه معرف (بالفتح) واقع کیدی شي اونه معرف (بالکسر) واقع کیدی شي . هم دا مطلب دی ددې خبرې چې تعریف نه للفرد کیدی شي اونه بالفرد وجه یې داده چې که تعریف بالفرد وشي یعنې که فرد معرِف (بالکسر) واقع شي نو تعریف جامع نه ګرځي افرادولره مثلاتعریف دکلمې وکړي شي په اسم سره . یعنې څوک اووایې چې ماالکلمة . اوته اوو ایې په جواب کښې . کَلِمَۃٌ نو ددینه فعل اوحرف دواړه خارج شو . حالانکه داهم دکلمې اقسام دی اودغه شان تعریف للفردهم نه شي کیدی . یعنې فردمعرف (بالفتح) هم نه شي واقع کیدی ځکه که شي نوتعریف به مانع ونه ګرځي ددخول دغیرنه ، مثلاڅوک وایې چې مَاالاِسْمُ اوته په جواب کښې اووایې چې کلمة . نو په دې کښې فعل اوحرف هم داخل شوځکه چې دا هم کلمې دی فتفکر.

قوله لَفْظٌ هرکله چې شارح فارغ شه دتحقیق دمحدود اودمعرف نه نوشروع یې وکړه په تشریح دحد اومعرف کښې فقال **اَللَّفْظُ فِي اللُّغَةِ اَلرَّمْيُ** . نوغرض دشارح په دې مقام کښې یو تشریح لغوی دلفظ ده ، اوبل تشریح اصطلاحي ده په اعتبار دنقل د لفظ سره دمعنی لغوی نه معنی اصطلاحي ته بالوجهین وسیاتی

نو پوهه شه چې لفظ په لغة کښې په دریو معنو سره مستعمل دی .

۱ مطلق رمی یعنې که دفم نه وي اوکه دغیرفم نه . ۲ . رمی من الفم ، ۳ . تکلم . اومراددلته کښې معنی اوله ده ، یعنې مطلق رمي نه ثانی اونه ثالث .

سوال : تولې معنې ولې نه دي مراد؟

جواب : ځکه چې لازمیږي په دې تقدیرعموم دمشترک که چرې لفظ مشترک شي په مابین ددې معانیو ثلاثو کښې ، اویالا زمیږي جمع بین الحقیقة والمجازکه چرې یوه معنی یې حقیقت شي اونورې مجاز . اودادو اړه صحیح نه دی نو ځکه معنی اوله اراده کړی شوه (**هٰهُنَا يُقَالُ اَكَلْتُ التَّمْرَةَ وَلَفَظْتُ النَّوَاةَ** . دااثبات دمعنی مرادې لغوی دی په محاوره عربیه سره .یعنې مراد ههنا مطلق رمی ځکه ده چې عرب وایې په خپلوخبرواتروکښې چې کهجوره مِ وخوړه اوهډوکی مِ وغورزو.ای رَمَيْتُهَا داتفسیردلفظتُ النَواة دی . اوغرض په دې کښې دفع داعتراض مقدرده چې دلیل مثبت دمدعي دپاره نه دی ځکه چې مدعي مطلق رمي ده اود، دلیل نه رمي من الفم معلومیږي په قرینې داکلت سره خلاصه دجواب یې داده چې مرادمطلق

رمي ده او دا کلت نه رمي من الفم نه معلومیږي ځکه چې عادت د عرب و داوو په وخت د خوراک د کهجورو کښې به یې هډو کی لره که په لاس یا په خلي سره او هغه به یې وغورزو. او بیا به یې وخوړله (او عادت زمونږ په خلاف دد ې نه دی کما لا یخفی علی الآکل نو زمونږ د عرف مطابق د امثال درمي من الفم دی که چرې مونږ یې اوو ایو) **ثُمَّ نُقِلَ الخ** د شارح په دې مقام کښې دوه غرضونه دي. یو بیان د معنې اصطلاحی دلفظ دی او ذکر کولو د نقل کښې اشاره ده دی خبرې ته چې معنې اصطلاحی منقوله ده د معنی لغوی نه په دوه طریقو سره. **یو نَقَل بِالذات** او بل بالواسطة.

اوبل غرض یې دفع د اعتراض مقدر ده. حاصل یې دا دی چې الکلمةُ مبتدا ده او لفظ یې خبر دې

او خبر محمول وي په مبتدا باندې او دلته کښې حمل نه دی صحیح. ځکه چې الكلمةُ ذات دی او لفظ مصدر دی. وصف دی نو لازمیږي حمل د صرف وصف په ذات باندې وذا باطل.

فأجاب بقوله ثم نقل الخ حاصل د جواب یې دا دی چې سوال به هله وارد وي که چرې معنې لغوی دلفظ مراده وي خو مراد معنی اصطلاحی ده ای **مَا يُتَلَفَّظُ الخ** او دا د قبیلې د مشتقاتو نه ده او مشتقی ذات مع الوصف وي. نو حمل صحیح شه.

سوال: حمل د وصف په ذات ولې نه دی صحیح؟

جواب ځکه چې دا مستلزم دی اجتماع د نقیضینو لره. وجه دا ده چې صادق په ذات باندې (لَاوَصْفٌ) دی نو که چې وصفٌ پرې هم صادق شي نو لازمه به شي اجتماع د وصف او دلا وصف په یو لفظ کښې او دا اجتماع د نقیضینو ده **فِي عُرْفِ النُّحَاةِ** دا تعین د ناقل دی یعنې ناقِل یې نحاة دی یعنې دا منقول د عرف خاص دی.

د منقول اقسام پوهه شه چې منقول په اعتبار د ناقل سره په درې قسمه دی پس ناقل که چرې اهل شرع وه. نو دیته منقول شرعي وایې لکه صلوة چې دا منقول دی د دعا نه ارکان مخصوصو ته په او قات مخصوصو کښې. او که ناقل عرف عام وي نو دیته منقول د عرف عام وایې لکه دَابة چې منقول ده د **کُلُّ مَا يَدُبُّ عَلَى الْأَرْضِ** نه **ذات قَوَائِمِ الْأَرْبَع** ته. او که ناقل عرف خاص وي نو دیته منقول د عرف خاص وایې. لکه مثلا لفظ چې منقول دی د رمې نه ما یتلفظ به الانسان نه

پوهه شه چې نقل د لفظ د معنی اصطلا حی ته په دوه طریقو سره دی یو بالذات یعنې ابتدائی

اوبل بالواسطه اوثانو ی . نو د اقول د شارح چې ابتداء دی اشاره ده قسم اول ته چې نقل بالذات او ابتدائی دی یعنې لفظ منقول شه د معنې لغوی نه چې رمې ده معنی اصطلاحې ته چې مایتلفظ الخ دی ، مخکښې د گرزولو د لفظ نه په معنی د ملفوظ سره **اَوْبَعْدَ جَعْلِهٖ بِمَعْنَی الْمَلْفُوْظِ** دانقل ثانوی اوبالواسطه دی یعنې اول دلفظ نه تاویل وشه په ملفوظ سره او مصدر کله په معنی د مفعول سره راځي ، پس دهغې نه نقل شو **اِلٰی مَایَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانُ** ، ، ته دامتعلق دی په ابتداء او بَعدَ جعله د دواړو پورې **کَالْخَلْقِ بِمَعْنَی الْمَخْلُوْقِ** دانظیر دی د پاره د مصدر بمعنی المفعول . لکه خلق (مصدر) چې په معنی د مفعول سره دی نو دغه شان لفظ هم په معنی د ملفوظ سره دی.

سوال څه فرق دی په مابین د نقلینو کښې او څه مناسبت دی په مابین د منقول عنه او منقول الیه کښې ؟

جواب : که دا نقل . ابتدائی شي نو دانقل دی د سبب نه مسبب ته ځکه چې معنې لغوی دلفظ یعنې رمې سبب دی د پاره د معنی اصطلاحي یعنې مایتلفظ الخ نو علاقه په کښې سببیت او مسببیت دی نو دا تسمیه د مسبب شوه په اسم د سبب سره (یعنې مسبب چې مایتلفظ الخ دی ته نوم د سبب یعنې دلفظ کیخودلی شه) او که نقل ثانوی یعنې بالواسطه شي یعنې اول په معنې د ملفوظ سره شي او بیانقل شي مایتلفظ ته نو بیا دانقل دی د خاص نه عام ته نو علاقه په کښې د عموم خصوص ده ځکه چې مطلق ملفوظ عام دی او ملفوظ دانسان (چې معنی اصطلا حی ده) خاص دی نو دا په دې وخت کښې تسمیه د خاص ده په اسم ،د عام سره . بعض خلقو نقل ابتدایې ته ترجیح ورکړې ده د پاره د اجتناب د تعدد د نقل نه چې یو نقل دی ملفوظ ته او بل دهغې نه مایتلفظ الخ ته) او دا مستلزم دی ثقل لره او بعض ترجیح ورکړې ده نقل ثانوی ته د پاره د حصول د قرب د علاقې ځکه چې په مابین د عام او د خاص کښې قرب د علاقې دی او دا ځکه چې عام صادقیږي په خاص باندې لکه وئیلې شي چې الانسان حیوان او حمل د سبب په مسبب نه کیږي نو نه وئیلې کیږي چې **اَلصَّلٰوۃُ وَقْتٌ فَافْهَمْ**.

سوال : تعریف اصطلاحي دلفظ باطل دی ځکه چې دې مستلزم دی دور لره . والدور باطل او مستلزم د باطل هم باطل وي وجه یې داده چې معرفت د معرف (بالفتح) موقوف وي په معرفت د جمعیو اجزاء د تعریف باندې او بعض د اجزاء د تعریف نه یتلفظ دی نو لفظ موقوف شه په یتلفظ باندې او یتلفظ موقوف یې په لفظ . . ځکه چې یتلفظ مزید دی او مزید موقوف

وي په مجردو باندې نوبناپه دی لفظ موقوف شه په لفظ باندې وهل هذا الا دور
جواب مراد دلفظ نه په جانب دمعرف کښې لفظ اصطلاحې دی او په جانب دتعریف کښې لفظ لغوی دی یعنې لفظ اصطلاحې مایتلفظ الخ ته وایې نودورلازم نه شه ځکه چې جهتین غیرشو، یعنې موقوف لفظ اصطلاحی دی اوموقوف علیه لفظ لغوی دی،
سوال: (منشاء ددی سوال داده چې ګنې باپه بِه کښې دپاره داستعانت ده) نوحاصل یې دادی چې ګنی لفظ هغه شی ته وایې چې په استعانت دهغې سره تلفظ کیږي نوبناپه دې تعریف دلفظ صادق شه په لسان دانسان باندې ځکه چې په استعانت دلسان سره تلفظ کیږي نوتعریف مانع نه شه داخل شه په کښې لسان دانسان نولسان ته دی لفظ اووئیلی شي حالانکه امرلیس کذالک دی.
جواب: بادبِه دپاره داستعانت نه ده بلکه دپاره دتعدیت ده فالمعنی مایتلفظه الانسان یعنې لفظ دیته وایې چې انسان یې تلفظ کوي دانه چې انسان پرې تلفظ کوي نولسان لفظ نه شه ځکه چې لسان ملفوظ نه دی بلکه آله دتلفظ ده **وهذا لیس بمراد حقیقةً اوحکماً الخ** غرض دشارح ددې عبارت نه تعمیمات ثلثه دی په معنی اصطلا حی دلفظ کښې دپاره ددفع داعتراضاتو پس تعمیم اول دادی چې لفظ عام دی که حقیقی وي اوکه حکمې وي.
سوال: باعث په دې تعمیم څه دی.؟
جواب: کون دلفظ دی جنس په تعریف دکلمې کښې او شان دجنس عموم دی اوغرض په دې تعمیم کښې دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې تعریف دلفظ په مایتلفظ سره جامع نه شه افرادو خپلولره خارج شه ترې منوی یعنې ضمیرمستترځکه چې دالفظ دی اوتعریف پرې صادق نه دی ځکه چې تلفظ پرې نه کیږي پس بناپه دې دی دتعریف دکلمې نه ووت، ځکه چې لفظ نه شه **فأجاب الشارح بقوله حقیقة اوحکماً** یعنې لفظ عام دی که حقیقة وي اوکه حکما. او ضمیر مستتر اګر چې لفظ حقیقة نه دی لیکن لفظ حکمې دی **وسیأتی هذا انشاءالله**.
سوال: حقیقتا اوحکماولې منصوب دی؟
جواب ددی دنصب دپاره متعددی طریقې دی یوداچې دامنصوب دی بنابرتمیزتقدیربه یې داسې شی. **من حیث الحقیقة والحکم** یادامنصوب دی بنابرخبریت دکان محذوفه **فالتقدیر حقیقتاً کان اوحکماً** یامنصوب دی بنابرمفعول مطلق دپاره دیتلفظ
سوال حقیقتاً اوحکماً دیتلفظ دپاره مفعول مطلق نه شي کیدی ځکه چې مفعول مطلق هغې

نه وايي چې فعل مذكورمشتمل وي په هغې باندې دقبيلې د اشتمال دكل نه په جزباندې اويتلفظ په تلفظ مشتمل دى نه په حقيقة اوحكم

جواب دامفعول مطلق دى دپاره د تلفظ په اعتبارد موصوف مقدرسره اى تلفظا حقيقيا اوتلفظا حكميا، **مُهْمَلاً كَانَ أَوْمَوْضُوعًا** داتعميم ثانى دى په لفظ كښى ،اودفع دسوال مقدره چې ذكردوضع پس دلفظ نه مستدرك دى . ځكه چې متبادردلفظ نه لفظ موضوع دى . اوداځكه چې عرب په محاوراتو خپلو كښى استعمال دلفظ موضوع كوي نه دمهمل ،نو ذكردلفظ مستغنى وګرزيده دوضع نه.

فاجاب بقوله مهملاً الخ خلاصه يې داده چې لفظ عام دى مهمل اوموضوع دواړوته شامل دى اومرادزمونږ لفظ موضوع دى نه مهمل ځكه چې كلمه لفظ موضوع ته وئيلې شي .نومصنف وضع ذكركړه دپاره داخراج مهمل اولفظ عام ځكه دى چې داجنس دى په تعريف كښى اوجنس عام وي شامل وي خپل اوپردې دواړوته .

سوال : موضوع اشرف دى بالنسبة **اِلَى الْمُهْمَلِ لِدَلَالَتِهٖ عَلَى الْمَعْنَى**. نوپكارده چې موضوع يې مقدم كړې وي په مهمل باندې . **مع انه لم يفعل هكذا** .

جواب : صحيح ده . ليكن مهمل اصل دى دموضوع نه . ځكه چې مهمل محتاج نه دى وضع ته اوموضوع محتاج دى وضع ته . اوعدم احتياج اصل دى نوتقديم شايد چې ددې وجې نه وي خودانكات بعدالوقوع دى . يعنې چې كوم ځايې كښى موضوع مقدم وي نوهغه به دشرافت دوجې نه وي اوچې كوم ځاى كښى مهمل مقدم وي نوهغه به داصالت دوجې نه وي فافهم .

مُفْرَدًا كَانَ أَوْمُرَكَّبًا : داتعميم ثالث دى په لفظ كښى . اودفع داعتراض مقدره چې ذكرمفردپه تعريف دكلمې كښى لغوه دى .ځكه چې دى ذكرشوى دى دپاره داخراج دمركباتو دكلمې نه حالانكه مركبات په لفظ سره خارج شوى دى .ځكه چې متبادردلفظ نه لفظ مفرددى .خلاصه دجواب يې داده چې لفظ عام دى دوجې دجنسيت نه ، كه مفردوى اوكه مركب ،نودى شامل دى مركباتولره اواخراج دمركباتوضرورى دى دكلمې نه نو ذكردمفردضرورى وو ، . **فلايلزم الاستدراك** .

پوهه شه چې هركله شارح په لفظ كښى تعميمات ثلثه وكړل .نوپس دهغې نه يې شروع يې وكړه په تفسيردتعميم اول كښى چې لفظ حقيقي اوحكمي دى .ځكه چې په دې كښى خفاء وه په خلاف دنوروتعميماتو نه .ځكه چې هغه واضح وو محتاج نه ووتشريح ته فقال **وَاللَّفْظُ الْحَقِيْقِي**

كَزَيدٍوَضَرَبَ نوشارح دلفظ حقيقي اوحكمي توضيح بالمثال كړيده اوتعريف يې نه دی ذكركړی

لفظ حقيقي اوحكمي نوپوهه شه چې لفظ موضوع به خالي نه وي يابه دمقولې دحرف اوصوت نه وي يانه كه اول وي نو دا لفظ حقيقي دی .اوكه ثاني وي نوديته لفظ حكمي وايې مقوله په معنې دمحمول سره دی . اوصوت اعم دی دحرف نه

پس لفظ حقيقي ديته وايې چې دجزئياتو اودافردو دحرف اوصوت نه وي يعنې دصوت اود حرف صدق پرې كيږي (مطلب داچې ملفوظ به وي په حرف اوصوت سره (محرم) اولفظ حكمي ديته وايې چې په هغه باندې صدق دصوت اوحرف نه كيږي يعنې ملفوظ به نه وي دلفظ حقيقي مثال لكه زيد اوضرب دی . ،ځكه چې دامقولې دصوت اودحرف نه دی .

سوال : شارح په مثال دلفظ حقيقي كښې يواسم ذكركه چې زيد دی اوبل فعل چې ضرب دی اوحرف يې ذكرنه كه . . حالانكه حرف هم لفظ حقيقي دی .

جواب : (۱) كاف دكزيد اوواوعاطفه حرفين دی ،نوشايد چې شارح په دې اكتفاء كړی وي .

جواب : (۲) مقصد دشارح بيان دجميعواقسامودكلمې نه دی حتی چې لازم شي په ده باندې ذكر دمثال دحرف هم . بلكه مقصدتوضيح بالمثال ده اودا حاصل شه په اسم اوفعل سره **وَالْحُكْمِي كَالْمَنْوِيِّ فِي زَيْدٌ ضَرَبَ وَاضْرِبْ** اولفظ حكمي لكه منوی دی (يعنې ضميرمستتر) په ضرب او ،اضرب كښې .

سوال : د ،لفظ حكمي يوفرد دی فقط چې منوی يعنې ضميرمستتردی اوكاف تشبيهی په كالمنوی كښې ، مشعردی په تعددباندې ؟

جواب : داكاف تشبيهی نه دی بلكه كاف استقصايې دی اودا ديته وايې چې مدخول يې فردواحدوی .يا كاف تمثيلي دی اوتعدددضميرمستترپه اعتباردافرادوخپلوسره دی يعنې دضميرمستترافرادكثيردی ، چې غائب دی اومتكلم دی اومخاطب دی.

سوال : شارح دضرب سره اسم ظاهرذكركه چې زيد دی اوداضرب سره يې ذكرنه كه داولې ؟

جواب : ځكه چې په ضرب كښې ضمير مستتردی نوداتقاضاكوي دمرجع سابقا ، اوپه اضرب كښې ضميرمستترنيشته نوځكه .

إِذْ لَيْسَ مِنْ مَقُوْلَةِ الْحَرْفِ وَالصَّوْتِ أَصْلاً: ځكه چې نه دی دامنوی (ضميرمستتر) د افرادو د حرف اوصوت نه بالكل ، پوهه شه چې اصلامنصوب دی بنابرظرفيت ای في وقت من

الاوقات زده کړه داخبره چې عبارت مذکوره دلیل دی دپاره دمدعې مقدری ، چې مرکبه ده دجزئینونه یو جزء سلبی دی اوبل ایجابی جزء سلبی دادی چې منوی لفظ حقیقی نه دی اوجزء ایجابی دادی چې منوی لفظ حکمي دی ، نوداعبارت چې اذلیس الخ دی دلیل دی دپاره دجزء سلبی ، یعنې منوی لفظ حقیقي نه دی دادعوی ده ، **اذلیس من مقولة الحرف والصوت** خلاصه یې داده چې ، ،**اِنَ اللفظَ الحَقِیقِي لاَبدَلَهُ مِنْ اَنْ یَکُوْنَ مِنْ مِقُوْلَةِ الحَرْفِ وَالصَّوْتِ وَالمَنوِی لَیْسَ مَقُوْلَـةِ الحَرفِ والصَّوْتِ فَلاَیَکُوْنُ لَفْظًاحَقِیْقًا**. یعنې په منوی باندې نه صادقیږي حرف اوصوت یعنې نه ورله حرف شته اونه صوت ، نوځکه دی لفظ حقیقی نه شه .ځکه که لفظ حقیقي وی نولامحاله به حرف اوصوت وو . اوداعبارت دشارح چې وَآجرواعلیه الخ دی ، . دلیل دجزء ایجابی ددعوی دی وسیاتی .

وَلَمْ یُوضَعْ لَهُ لَفْظٌ: اونه دی وضع شوی دپاره دمنوی څه لفظ .

الفرق بین المنوی والمعنی : سوال چې هرکله منوی دقبیلي دحرف اوصوت نه نه شه نوپکار دی چې معنی ورته اوئیلی شي ځکه چې معنی هم دمقولې دحرف اوصوت نه نه وي .
جواب معنی اګرکه دمقولی دحرف اوصوت نه نه وي بلکه حاصل وي په عقل کښې لیکن په خارج کښې ورله لفظ موضوعه موجودوی اودمنوی دپاره په خارج کښې لفظ نه دی وضع شوی نو ځکه ورته معنې نه شي وئیلی ، پس فرق په مابین دمعنی اومنوی کښې داشه چې معنی هغې ته وایې چې لفظ ورله وضع شوی وي اودپاره دمنوی هیڅ لفظ نشته .

وَاِنَّمَا عَبَّرُوْاعَنْهُ بِاِسْتِعَارَةِ لَفْظِ الْمنفَصِلِ لَهُ مِنْ نحوهُوَوانت : ترجمه یې داده ، اوالبته تعبیر کړی دی نحاة دمنوی نه په استعاری دلفظ (دضمیر)منفصل سره ، دپاره دمتصل (چې منوی دی) دهو او انت وغیره ،یعنې تعبیرتړې کیږي په هووغیره سره دانه چې ګنې هغه ضمیر مستتر هو وغیره دی .

پوهه شه چې غرض دشارح ددې عبارت نه دفع دسوال مقدرده حاصل یې دادی چې ته وایې چې منوی دپاره لفظ نیشته اوحال دادی چې هواوانت وغیره یې الفاظ دی .
خلاصه دجواب یې داده چې هواوانت وغیره الفاظ ، موضوع دپاره دمنوی اومستترنه دی بلکه داتعبیرات دی په طوراستعاری سره نه په طورپه دوضع سره لکه څنګه چې منطقیانو مستعار کړی دی دپاره درابطې په مابین دارکانودقضیې کښې **کَانَ اوهووَاَجرَوْاعلیهِ اَحْکَامَ اللفظِ** اوجاری کړی دی نحاة په منوی باندې احکام دلفظ چې حالیت ،مسند الیه ، فاعلیت وغیره دی دادلیل دی

داثبات دجزء ایجابی هغه داچې . منوی لفظ حکمې دی ګویالکه چې داجواب دسوال مقدرنه وي حاصل داچې دماسبق نه معلومه شوه چې منوی لفظ حقیقي نه دی اومعنی هم نه ده . نوده ته لفظ حکمي ولې وایې

فاجاب الشارح بقوله واجرواالخ . حاصل یې دادی چې نحاة جاری کوي په ده باندې احکام دلفظ حقیقي چې کون دده دی مسند الیه مبدل منه ، ذوالحال اومؤکد . یعنې منوی (ضمیرمستتر) مبدل منه ، مسند الیه اوفاعل وغیره واقع کیږي اوقانون دادی چې هرهغه شی چې جارې کیږي په هغه باندې احکام دغیرنوهغه په حکم دهغه غیرکښی وي **فَكَانَ لَفْظًا حُكْمًا لَا حَقِيْقَةً** . داتفریع ده په دلیلینومذکورینوپه طریقي دلف نشرغیرمرتب سره

لف . نشراوددې اقسام :پوهه شه چې لف وئیلي شي نغښتلوته اومرادترینه اجمال دی،او نشر وئیلی کیږي خورولوته اومرادترې تفصیل دی اودا په دوه قسمه دی . یومرتب اوبل غیرمرتب .

پس لف نشرمرتب دیته وایې: چې په اجمال کښی کوم شی مقدم وي نوهغه په تفصیل کښی هم مقدم کړی شي . اوکوم چې ثانیامذکوروي نوهغه ثانیاذکرکړی شی وهکذا .

اولف نشرغیر مرتب دیته وایې: چې کوم شی په اجمال کښی مقدم وي نوهغه په تفصیل کښی مؤخرکړی شي .وهکذا لکه په دې مقام کښی دا قول دشارح چې ، فکان لفظا حکما ، ،دی تفریع ده په جزء ثانی ددلیل باندې اوداقول دشارح چې **واجرواالخ** دی تفریع ده په جزء اول ددلیل باندې ،نودا غیرمرتب شه ، اودیته لف نشرمشوش هم وایې .

سوال : شارح اتیان په لف نشرمرتب ولی ونه که په دې شان سره چې **الاحقیقه** ، یې مقدم کړی وی او **فکان لفظاحکما** یې مؤخرکړی وي ؟

جواب : ددې دپاره درې وجې دی ، یوه داچې ، لفظاحکما . وجودی دی او ،لاحقیقه ، عدمې دی او .وجودی اشرف وي دعدمې نه، نودوجې دشرافت نه یې حکمامقدم که په لاحقیقة باندې

دوئمه وجه داده : چې لفظ حکمې مقصوددی په دې مقام کښی اومقصودمقدم کول پکاروي

دریم وجه داده چې په دې کښی قرب دبعضو نتیجې دی دلیل ته فافهم

وَالْمَحْذُوفُ لَفْظٌ حَقِيقَةً لانَّهُ قَدْ يَتَلَفَّظُ بِهِ الانسانُ فِي بَعْضِ الْأَحْيَانِ اومحذوف لفظ حقيقي دی ځکه چې په د ه باندې کله کله انسان تلفظ کوي په بعض اوقاتو کښې

ددې عبارت نه شارح درې غرضونه دی . یودفع داعتراض مقدراوبل بیان دمسئلې اختلافی اوبل رد په مصنف رحمه الله باندې. حاصل دسوال دادی چې محذوف په حذف وجوبی سره هم پکار ده چې لفظ حکمې شي ، ځکه چې په ده هم تلفظ ممتنع دی په کلام عربې کښې لکه څنګه چې په منوی تلفظ نه شي کیدی اوحالانکه چې محذوف په حذف وجوبې سره لفظ حقیقي دی خلاصه دجواب یې داده چې محذوف لفظ حقیقي دی ځکه چې په ده باندې کله کله تلفظ کیږي ،په وخت داظهار دمحذوف کښې اوپه وخت دتعلیم اوتعلم کښې اوپه منوی تلفظ اصلانه شي کیدی.

الاختلاف بين المنوي والمحذوف : اومسئله اختلافی داده چې په محذوف کښې دوه مذهبه دی یو دمصنف اوبل دنورونحاتو ابن حاجب وایې چې منوی اومحذوف شي واحد دی **حيث قال في الايضاح (شرح المفصل) المنوي من قبيل المحذوف يعني لافرق بينهما** ،اومذهب دنورودادی چې په مابین ددې دواړوکښې فرق دی په دې شان سره چې په منوی باندې بالکل تلفظ نه شی کیدی اوپه محذوف باندې کله کله تلفظ کیږي ، اومذهب راجح په نزددشارح مذهب دنورورنحاة وونوشارح اشاره وکړه ترجیح دهغې ته اوردیې وکه په مصنف باندې په دې قول سره چې محذوف لفظ حقیقي دی . ځکه چې کله کله پرې تلفظ کیږي . غاية مافي الباب ، مراددتلفظ نه عام دی چې في جميع الاحيان وي اوکه في بعض الاحيان وي.

سوال : داجواب په هغه ځای کښې چلیږي چې په کوم ځای کښې حذف ، جوازی وي .نه په حذف وجوبی کښې ځکه چې تلفظ په حذف وجوبی کښې بالکل متصورنه دی ؟

جواب : محذوف په حذف وجوبی سره ، ملفوظ دی په تقدیر. اوفرض د وجود ددغه محذوف یعنې کله چې یې وجودفرض کړی شي نو تلفظ به پرې وشي

سوال : بناپه دې دمنوی وجود دی. هم فرض کړی شي اوپه تقدیردجود پرې تلفظ وکړی شي اولفظ حقیقي دِ وګرځي.

جواب : وجودفرضي دمنوی نه شي کیدی ځکه چې دهغه دپاره لفظ موضوع نیشته نوپه کوم شي سره به دهغه نه تعبیروکړی شي په خارج کښې پوهه شه چې فرض په دوه قسمه دی

یو فرض ممتنع په ترکیب اضافي سره ، نو داممکن دی ،اوبل فرض ممتنع په ترکیب توصیفی سره اوداممتنع دی ، نو محذوف دقبیلې دقسم اول نه دی ، اومنوی دقبیلې دقسم ثانی نه دی ۔

سوال: مفاددلفظ ،،قد ،اود ،فی بعض الاحیان ، واحد دی نواحدهمامستدرک وگرزیدهٔ ۔

جواب قددپاره دتقلیل دمفعول دی یادپاره دتقلیل دفاعل بناپه اول به معنی داشی چې یتلفظ الانسان ببعض الملفوظ ۔ اوبناپه ثانی به معنی داشی چې یتلفظ به بعض الانسان اوفی بعض الاحیان دپاره دتقلیل داو قاتو دی فلااستدراک **وکلمات الله تعالی داخلة فیه** پوهه شه چې په دې عبارت کښی اشاره ده هغه سوال اوجواب ته چې سید السند په حواشي رضی کښی ذکرکړی دی چې ۔ تعریف دکلمې په ذکرکولو، لفظ ، سره جامع نه شه افرادوخپلولره خارج شوترینه **کلمات الله تعالی** ځکه چې داکلمات دی خو الفاظ نه دی ۔

په منشاء ددی اعتراض کښی احتمالین دی ۔ یاداچې لفظ خاص دی په هغه شی پورې چې خارجیږي دفم نه ، اوظاهره ده چې فم دالله پاک نیشته پس لفظ الله وئیل صحیح نه دی اوکلام الله وئیل صحیح دی اویاپې منشاء ذکر د انسان دی په تعریف دلفظ کښی ، خلاصه دجواب داده چې کلمات الله داخل دی په لفظ حقیقي کښی ،ځکه چې انسان پرې تلفظ کوي حقیقةً اگرچې په بعض احیانو کښی وي نوکلمات الله تعالی ، اگرچې ملفوظ دالله پاک نه دی ځکه چې دالله پاک دپاره فم نیشته خوملفوظ دانسان دی په حین دقراءة کښی ،نو تعریف دکلمې پرې صادق دی ۔

پوهه شه چې دااعتراض اصلاواردنه دی په هغه کلماتوکوم چې مونږته منزل دی ځکه چې داملفوظ دی انسان دی کماهوالظاهر ، نوسوال درحقیقت په هغه کلماتوواردددی چې کوم خاص دی په ذات دواجب تعالی شانه پورې چې هغې ته کلام نفسي وایې ، نویوکلام لفظي دی ، اوداهغه دی چې کوم مُنَـــزَل دی الَینَااومکتوب دی په مصاحفو کښی محفوظ دی په قلوبو زمونږ کښی مقرؤدی په السنه زمونږاومسموع دی په غوږونو اوبل کلام نفسي دی ۔ داقائم دی په ذات الهی پورې اومنزل الینا نه دی لیس له صوت ولاحرف ولاترکیب ولاترتیب **ولاکلمات ولاالفاظ غیرمخلوق قائم بذاته تعالی فلایکون داخلافی اللفظ لان اللفظ مخلوق** (محرم) نوداملفوظ دانسان نه دی ، نودتعریف دکلمې نه خارج شه جواب دادی چې کلام نفسی لفظ حکمی کښی داخل دی ځکه چې کلام لفظی دال دی په کلام نفسی اوکلام نفسی مدلول دی ۔ اوتلفظ په دال بعینه تلفظ وي په مدلول باندې حکمًانوبناپه دی کلام نفسی هم لفظ شه

خوحکمًا **وَعَلٰی هٰذاالقِیَاسِ کَلِمَاتُ الملائِکَةِوَالجِنِ**

پوهـه شـه چې القیاس مجروردی صفت دی دپاره د هذا . فالتقدیرای علی قیاس کلمات الله تعالی (کلمات الملا ئکة الخ) یعنې کلمات دفرشتو اودجناتو قیاس دی په کلمات الله تعالی باندې نوپه تعریف دکلمې کښې داخل دی ځکه چې داهم ملفوظ دانسان دی **فی بعض الاحیان** اوداځکه چې ملائکې اوجنات مخلوق دی نوکلمات ددوی هم ذات اصوات او حروف دی په شان دانسان پس دا داخل دی په لفظ کښی په شان دالفاظو دانسان ، کلمات الملائکة لکه داشعر.

ان فی الجنـــــة نهـــــرامن لـــــبن

لعلـــــی وحســـــین وحســـــن

اوکلمات الجن لکه داقول دهغه چې جنی چې کریکه یې وخکلی وه په حرب بن امیه باندې چې د هغې دوجې نه هغه مړ شو.

قـــبر حـــرب بمکـــان قفـــر

ولـــیس قـــرب قبرحـــرب قـــبرٌ

قبردحرب په یووران کنډرکښی دی اود هغه دقبرسره نزدی دچاقبرنیشته .

وَالدوالُ الْاَربَعُ وهی الْخُطوطُ وَالعَقودُوالنَصُبُ وَالْاَشَارَاتُ غَیْردَاخِلَةٍفِیْهِ فَلاَحَاجَةَ اِلٰی قَیدٍیُخْرِجُهَا. والدوال،الخ مبتداده او غیرداخلة فیه یې خبردی .

تشریح الالفاظ : خطوط جمع دخط ده **وهوموضوعٌ لِلنُقوشِ التی فِی الاوراق** . یعنې خطوط هغه نقوش دی چې په اوراق کښی وي عقود جمع دعقد ده اوعقدپه اصل کښی غوټه کولوته وایې او اطلاق یې دګوتو په بندونو کیږي اومرادترینه په دې مقام کښی هغه شمیره ده چې دګوتو په بندونو باندې یې خلق کوي اودیته عقدالانامل وایې نصب جمع دنصیبه ده په وزن دفعیلة لکه صحف چې جمع دصحیفة ده **وهی مانُصِبَ لِتَعیِنِ مَسَافَةٍاَوْتَعیِنِ طَرِیْقٍ** داهغه نښې وي چې خلقوبه ودرولی په لاروکښی دپاره دمعلومولودلارې اودمنزل ددې نظیرپه دې زمانه کښی هغه نښې دمیلونو ، اوتختی چې په سړ کونولګیدلی وي .

اشارات جمع داشارې ده **اِمَّابالعین اوبِالید** دپاره دخبرداری وغیره ، نودا څلوروارہ څیزونه

دخپلو مقاصدو دپاره وضع شوېدي
غرض دشارح دعبارت مذکوره نه رد، دي په شارح هندي اورضي دواړوباندې

صورت دمناظرې دشارح رضي اوشارح هندي، او تريددشارح ملاجامي په دواړو

تفصيل يې دادي چې شارح رضي په مصنف باندې اعتراض وکه چې په تعريف دکلمې کښې لابدې وه ديوقيدنه دپاره داخراج ددوال اربعو، ځکه چې په دوی تعريف دکلمې ظاهراً صادق دي ځکه چې دوئ هم وضع دي دپاره معانيو،(مقاصدو) خپلو. حالانکه کلمات دي نو نه ذکرکول دقيدمُخرِجَه، قصوردي په تعريف دکلمې کښې واللازم عليه الاجتناب عنه نو شارح هندي جواب وکه دجانب دمصنف نه چې دوال اربعه خارج شول په قيدد،لفظ، سره ځکه چې دوال اربعه الفاظ نه دي نوبل قيدمُخرِجَه ته حاجت نه وو. بياشارح رضي گوياشارح هندې ته اووي چې جواب دي صحيح نه دي، ځکه لفظ په تعريف دکلمې کښې جنس دي اومناسب دجنس سره عموم اوشمول وي نه اخراج،نواخراج ددوالوپه لفظ سره صحيح نه دي نوشارح هندي اووي چې،،لفظ، جنس دي او،وضع فصل دي اوددې په مابين کښې عموم خصوص من وجه دي اودادرې مادې غواړي يو ه ماده اجتماعي لکه لفظ دزيدشه چې لفظ هم دي اووضع هم دي اوماده افترقي دجانب دوضع نه يعنې چې لفظ وي خووضع نه وي لکه ديزشه اوماده افتراقي دجانب دوضع نه، يعنې چې وضع وي خولفظ نه وي لکه دوال اربعه شو چې وضع په کښې شته خوالفاظ نه دي اوهرکله چې په مابين دجنس اودفصل کښې نسبت دعموم خصوص من وجه دي نوهريوددې نه جنس اوفصل واقع کيدی شي دپاره دبل نولفظ جنس دي شامل دي موضوعاتواومهملاتوټولوته او وَضَعَ فصل دي خارج شوپه دې سره مهملات، اووضع هم جنس دي شامل دي الفاظواوغيرالفاظوټولوته اولفظ ورله فصل دي خارج شو په دې غيرالفاظ چې دوال اربعه دي نوځکه قيداخرته ضرورت پاتې نه شه.

شارح ملاجامي په دواړوباندې ردوکه په عبارت مذکورسره چې دوال اربعه دسره داخل نه دي په تعريف دکلمې کښې، ځکه چې داملفوظ دانسان نه دي نوپه لفظ کښې داخل نه شو.نوپه کلمه کښې هم داخل نه شو، پس حاجت نيشته قيدمخرجه ته ځکه چې اخراج تقاضاکوي ددخول سابقاً ولادخول ههناکماعرفت،نوردپه شارح رضي ځکه راغي چې ده طلب دقيدمخرجه کړی دی. حالانکه اخراج دشی فرع ددخول دهغه شي ده اودخول شته نه دوالولره په کلمه کښې.نواخراج يې نه دي مگراخراج دمخرج وهذا محال اوردپه شارح هندي ځکه راغي چې ده تسليم دسوال کړی دی نوځکه يې جواب ورکړی دی حالانکه سوال اصلانه دي

واردوانما قال لفظ ولم یقل لفظة لانه لم یقصد الوحدة: ترجمه يې داده چې مصنف لفظ (بدون التاء) اووې اولفظة (بالتاء) يې اونه وې ځکه چې ده نه دی قصد کړی وحدت دلفظ لره په کلمه کښې دابيان داسرارودمتن دی اودفع داعتراض مقدر ده حاصل يې دادی چې کافیه فرع دمفصل ده ، اوصاحب المفصل په تعریف دکلمې کښې لفظة بالتاء راوړی دی حیث **قال هی اللفظة الدالة علی المعنی بالوضع** اوابن حاجب لفظ بغیردتا ذکرکړی دی نومخالفت راغی دفرعی داصل نه خلاصه دجواب يې داده چې دامخالفت دیونکتي وجې نه دی هغه داچې مفصل په کلمه کښې وحدت دلفظ اراده کړی نودهغه په نزدکلمه هغه لفظ ته وايې چې واحدوی اودلالت کوي په معنی واحده باندې نوتادوحدت يې ځکه راوړه اوابن حاجب وحدت دلفظ په کلمې کښې نه ده قصدکړی تردې که لفظ متعدد وی خو چې معنې يې واحده وي نوهم کلمه ده په نزدده نوثمره داختلاف ظاهرېږي په عبد الله کښې په حین دعلمیت کښې ، چې دادصاحب المفصل په نزدکلمه نه ده بلکه مرکب دی ځکه چې لفظ يې واحدنه دی اودابن حاجب په نزدکلمه ده ځکه چې معنی يې مفرده ده اګرچې لفظونه يې دوه دی .

سوال: نه منم داخبره چې مصنف وحدت نه دی قصدکړی **لان التاء فی الکلمة تدل علی الوحدة** لکه چې شارح مخکښې وئیلی دي چې **والتاء للوحدة**؟

جواب. مراددوحدت نه وحدت فی الاصل دی نه فی الحال ځکه چې بیابې منافات راځي دالف لام جنسي سره .

سوال: نه منم داخبره چې وحدت فی الحال نه دی مراد . ځکه چې شارح وئیلی دی په ماسبق کښې **ولامنافاة بینهما** نوداعبارت مشعردی په دې چې مراد وحدت فی الحال دی ؟

جواب دغه جواب په طریقې دتنزل سره وو اواصل جواب منعی دی چې تاپاره دوحدت نه ده بلکه دپاره دتانیث ده اوکه وحدت مع التانیث شي نوبیاپه کښې تجرید شوی دی دوحدت نه کماعرفت سابقا **والمطابقة غیرلازمة لعدم الاشتقاق** : داجواب دی دسوال مقدرنه حاصل يې دادی چې مصنف رحمه الله اګرچې وحدت دلفظ نه دی قصد کړی لیکن بیا هم . **لفظة بالتاء** وئیل پکاروو ځکه چې الکلمة مبتداده اولفظ يې خبردې اوپه مابین دمبتدااوخبرکښې مطابقت لازمې وي په تذکیراوتانیث کښې .خلاصه دجواب يې داده چې مطابقت مذکوره نه دی لازم ، دوجې دعدم اشتقاق دخبرنه چې لفظ دی یعنې خبرمشتقی نه دی. اواعتباراصل لره دی نونه واردیګي سوال په دې چې لفظ خوپه معنی دملفوظ سره اراده شوی اوملفوظ مشتقې دی

قاعده دمطابقت ، دمبتدااوخبر پوهه شه چې مطابقت په مابین دمبتدا او خبرکښې مشروط دی په شروط ستّوسره

۱۔ خبرمشتقي وي که نه وي نو مطابقت نه دی لازم لکه الکلمة لفظ نوخبردلته مشتقې نه دی بلکه مصدردی

۲۔ خبر به حامل د ضمير د مبتدا وی يعنې په خبرکښې به ضميروي چې راجع به وي مبتداته . که داسې نه وي نوبيا هم مطابقت نه دی لازم لکه **وَزينبُ ومَاۤهَ وجُورٌمُنْتِنعٌ ممتنعٌ** خبردی اوضميريې راجع مبتداته نه دی بلکه راجع دی صَرْفُ ته

۳۔ مبتدااوخبربه اسمين ظاهرين وي که نه وي نوهم مطابقت نه دی لازم لکه وهی اسم وفعل وحرف ـ ځکه چې مبتدايعنې هی اسم ظاهرنه دی

۴ - خبربه اسم تفصيل مستعمل په مِنْ سره نه وي که وي نومطابقت نه دی لازم لکه الصلوة خيرمن النوم ـنوخيرُاسم تفضيل مستعمل دی په مَنْ سره نو مطابقت نه دی لازم

۵ - خبربه صفت خاص دمؤنث نه وي که وی نوبيامطابقت نه دی لازم لکه المرءة حائض پس حائض صفت خاص دمؤنث دی نومطابقت نه دی لازم يعنې تانيث دخبرته ضرورت نيشته ـ

۶۔ چې خبربه په داسې وزن نه وي چې په هغې کښې مذکراومؤنث مساوی وي لکه فعيل بمعنی مفعول ـکه داسې وي نوبيامطابقت نه دی لازم لکه المرءة جريح ای مجروح په دې کښې مذکراومؤنث برابردی نوتانيث ته يې ځکه ضرورت نيشته اودغه شان فعول بمعنی الفاعل ـځکه چې په دې کښې هم مذکراومؤنث مساوی وي نو خبربه دغه شان هم نه وي که وي نوبياهم مطابقت نه ،دی لازم ـلکه المرءة صبورای صابر **مَعَ كَوْنِ اللَّفْظِ اَخْصَرَ** دا جواب دی دسوال مقدرنه ، هغه داچې مطابقت اگر چې لازم نه دی ههنادوجې دعدم اشتقاق دخبرنه ليکن امرِ مستحسن خودی **فَلِمَ ترکَ المصنف هذاالامر المستحسن فاجاب بقوله مع کون الخ** ،خلاصه يې داده چې لفظ کښې اختصاردی دلفظة نه ځکه چې که لفظة بالتاء وايې نوبيا ـ وضعت اومفردة هم بالتاء وئيل لازمې دی نويوخوبه طول لازم شي حالانکه دارومداردمتونوپه اختصاروي ، اوبل په مفرد کښې به احتمالا ت ثلاثه داعراب مفقودشی ځکه چې په دې صورت کښې به دې صفت دلفظ وي فقط ، حالانکه مراد درې واړه احتمالات دی کماسياتی ـ

بحث الوضع. قوله وُضِعَ ـ داصيغه دفعل ماضي مجهول ده ضميرمستتريې نائب فاعل دی ، اوداجمله په محل درفع کښې صفت دی دپاره دلفظ په لغة کښې نهادن ته وايې ـ

وفي الاصطلاح ما بَيَّنَهُ الشارح بقوله اَلْوَضْعُ تَخْصِيْصُ شَيْءٍ بِشَيْءٍ بِحَيْثُ مَتَى اُطْلِقَ اَوْاُحِسَ الشى الْاَوَّلُ فُهِمَ مِنْهُ الشَّيُ الثَّانِي: يعنې وضعَ خاص كيدل ديو شي دى په بل شي پورې په دې شان سره چې كله ذكرشي اول او واوريدى شي يامحسوس شي شى اول نوفهم شى ترې شى ثانى داتعريف چې په صادق شي نوهغې ته موضوع وايې اوچې په چاصادق نه شي نو هغه مهمل دى اوشى اول ته دال وايې اوشى ثانى ته مدلول

سوال: شارح معنى لغوى دوضعى ته ولې تعرض ونه كه؟

جواب ځكه چې معنى لغوى په علوموكښى مقصود نه وي

سوال: نوبيامعنى لغوى دلفظ يې ولې هغه ځاى ذكركړه ؟

جواب: دوجې ديونكتې نه چې هغه نقل دلفظ وودمعنې لغوى نه معنى اصطلاحى ته په نقلينوسره خلاصه داچې كوم ځاى كښى ضرورت دمعنى لغوى وي نوذكركيږي به والإفلا.

سوال: شارح مُوضِح دمتن دى اوپه متن كښى وضع په صيغې دفعل ماضي مجهول سره ذكردى ، نوشارح تشريح دمصدرولى وكړه چې وضعه ده؟

جواب: داتشريح بناده په يوقاعده باندې هغه ،داچې وضاحت اوخفاء دمشتقاتو مبنى وي په وضاحت اوخفاء دمباديو اومصادروباندې اوداځكه چې جزء اصلي دفعل حدث (مصدر) دى .نوكله چې دده وضاحت وشي نومشتقى به هم واضح شي .

سوال: په فعل كښى يو جزء نسبت دى اوبل جزء په كښى زمانه هم دد نود هغې وضاحت يې ولې ونه كه؟ .

جواب: دنسبت وضاحت په وضاحت دطرفينوسره كيږي .اودزمانې وضاحت ته حاجت نيشته .ځكه چې كوم فعل واقع شي په تعريفاتوكښى نومراددهغې نه خاص زمانه نه وي ځكه چې تعريف مقيدنه وي په احدالازمنه الثلثة پورې

دتعريف اصطلاحي دوضعې تشريح: پوهه شه چې تخصيص وئيلي شي **مايوجدفيه ولا يوجدفي غيرة** ته . نو دا تعريف مشتمل دى په جزئينو باندې يوجزء ايجابى ، چې مايوجد فيه دى اوبل جزء سلبى چې لايوجدفى غيره دى.

سوال: دشى اول نه به يامرادلفظ ، اودثانې نه معنى وي اويابالعكس .كه اول وي نومعنى دوضعې به داشې چې **تخصيص لفظٍ بِالمعنى** .يعنې وضع ديته وايې ، چې لفظ به داسې خاص وي په معنې پورې چې په دې معنې كښى به مو جوديږي اوپه بله معنى كښى به نه موجوديږي

نوبنا په دې دتعریف دوضعې نه الفاظ مشترکه خارج شو . ځکه چې لفظ مشترک په خپله هره معنې کښې موجودېږي لکه دقُرء نه هرواحد دحیض اوطهراراده کول صحیح دی .لکه احناف حیض اراده کوي اوشوافع طهر اوکه ثانی مرادوی .نومطلب به داشي چې وضع دیته وایې چې خاص کیدل دمعنی دی په لفظ پورې په دې شان سره چې دامعنی په دغه لفظ کښې موجودیګې اوپه بل لفظ کښې به نه موجودېږي نوبناپه دې الفاظ مترادفه دتعریف دوضعې نه خارج شو .لکه قعوداوجلوس . ځکه چې معنی دکینا ستلوپه قعوداوجلوس دواړوکښې موجوده ده نونتیجه دا . چې الفاظ مشترکه اوالفاظ مترادفه دالفاظ موضوعه نه شي بلکه مهملات دوګرځي.

جواب: مراددشی اول نه لفظ دی اودثاني به معنې اویابالعکس . اوسوال نه دی وارد. ځکه چې په معنې دتخصیص کښې تجرید شوی دی دجزء سلبی نه پس بناپه تقدیراول ګویاچې معنې دوضع داسې ده چې لفظ به په دې معنې کښې موجودېږي برابره خبره ده چې په بله معنی کښې موجودوي یانه ، اوبناپه تقدیرثاني به یې معنې داسې شی چې وَضَع دیته وایې چې معنې په دې لفظ کښې موجودېږي برابره خبره چې دامعنې په بل لفظ کښې موجوده وي اوکه نه

سوال هرکله چې مراددااوو . نوپکارده چې شارح داسې وئلي وي چې الوضع .تخصیص اللفظ بالمعنی یابالعکس ؟

جواب شارح داسې ونه وی دپاره دتنبیه په دې خبره چې وضع لکه څنګه چې په الفاظ کښې راځي نودغه شان په غیرالفاظ کښې هم راتلې شي لکه دوال اربعه نوتعریف یې په دې نهج سره وکه چې دوال ته هم شامل شي قبل التجرید اوبعدالتجرید به شامل شي الفاظ مشترکه اوالفاظ مترادفوته

سوال: تعریف دوضع صادق نه دی په ضربَ مثلاً چې مخاطب یې واوری خو هغه یې په معنې باندې عالم نه وي ، فهم دمعنې به ترې څنګه وشي یاپرې مخاطب عالم وي خود، اوریدوسره مخاطب فوت شي یامجنون شي یانشه شي

جواب: فهم دمعنی مشروط دی په علم دمخاطب باندې او په عدم دموانعو. خوپه دې شروطو شارح تصریح ونه کړه دوجې دظهورنه نو په صورت اول کښی علم المخاطب مفقوددی اوپه ثانې کښې موانع موجوددی نوځکه فهم دثانې ونه شه **فلاضَرَرَفیه**.

سوال:زیدمثلاً ذکرشي خو څوک یې وانه وری نوهم ترې فهم دمعنې ونه شه نوپکار ده

چې موضوع دنه شي ؟

جواب: په تعريف دوَضْعِ کښې قيد د وسُمِعَ مقدر دی .يعنې **أُطْلِقَ وسمع فهم منه الشئ الثاني**.

سوال: که شارح اکتفاء کړی وي په اُحس باندې فقط او اطلق يې نه وی ذکرې نو هم به کافي وو ځکه چې احساس شامل دی سمع ته كماهوا الظاهر او سمع شامل ده اطلاق او ذکرته ځکه چې سماعت بغير د ذکرنه کيدی نه شي نو دواړه لفظونه يې ولې ذکر کړل ؟

جواب دواړه يې ذکر کړل دپاره دتنبيه او تصريح په تقسيم دوضعې باندې چې وضع په دوه قسمه ده يو وضع دالفاظ او بل وضع دغير الفاظ لکه دوال اربعه او نقاره دسلطا ن ځکه داغير لفظ دی او دلالت کوي په رکوب دسلطان باندې . (ددی نظير سائرن دی په دی زمانه کښې چې دوزير يا گورنر وغيره په موټر کښې لگيدلی وی) هم په دی وجه يې کلمه د او تنويعی ذکر کړی ده په تعريف کښې نو په متی اطلق کښې اشاره ده وضع دالفاظ ته او الفاظ ته او په احس کښې اشاره ده وضعی دغير الفاظ ته .

سوال: کلمه دمتی راځي دپاره دعموم داوقات . او دامفيد دی دپاره د کليت ، نو مطلب به داشي چې هرکله هم ، اطلاق دشی اول وشی نوفهم دثانی به تری کيږي نو داتعريف اطلاق ثاني او ثالث ته نه دی شامل ، ځکه چې په دی تقدير فهم دمعنی نه شی کيدی ځکه چې لازميږي تحصيل دحاصل ؟

جواب : په تعريف کښې يو قيد مقدر دی ، **فالتقدير فهم منه الثاني إن لم يفهم أولا**. يادا چې مراد دفهم نه التفات دی ، نو تحصيل دحاصل نه لازميږي .

سوال: بناپه دې لازميږي التفات دملتفت . او داتکرار دی . تحصيل دحاصل دی.

جواب : تکرار دفهم تحصيل دحاصل دی او تکرار دالتفات مفيد دی ځکه چې التفات عبارت دی دظاهرُ النَظرنه .نوتکرار دظاهر النظر مفيد گرځي دپاره ددِقَةُ النَظر .او فهم عبارت دی ددِقَةُ النَظرنه نو فهم ثانی تحصيل دحاصل دی.

اقسام الوضع: پوهه شه چې وضع لفظی په دری قسمه ده ، يو وضع جنسي ده لکه حيوان چې وضع دی دپاره جسم نامی حساس متحرک بالارادة.

دوئم وضع نوعی ده لکه انسان چې وضع دی دپاره حيوان ناطق .

دريم وضع شخصی ده لکه زيد چې وضع دی دپاره دحيوان ناطق مع هذا التشخص ياوضع شوی دی دپاره دشخص معين .

قِيلَ يَخْرُجُ عَنْهُ وَضعُ الْحَرفِ غرض دشارح په دی مقام کښې بحث دوضع دحرف دی خو په ضمن دسوال اوجواب کښې .او دا طريقه یې اختیاره کړه ددی دپاره چې دابحث امکن فی الذهن وګرځي ، نوشارح اول سوال ذکرکوي په قیل الخ سره اوبیاتری دوه جوابونه کوي ، نووایې چې **قیل یخرج عنه وضع الحرف حَيْثُ لَا يُفْهَمُ مِنْهُ مَعْنَاهُ مَتَى أُطْلِقَ** وئیلی شوي دي په اعتراض کښې چې خارجیږي دتعریف د وضع نه وضع الحرف ځکه چې نه فهمیږي دحرف نه معنې کله چې ذکرشي **بَلْ إِذَا أُطْلِقَ مَعَهُ ضَمُّ ضَمِيمَةٍ** بلکه معنی ترې هله فهمیږي چې ورسره ضم دضمیمې وشي ، یعنې په وخت دانضمام دکلمې اخری کښې .

خلاصه دادہ چې تعریف دوضع جامع لافراده نه شه ، خارج شه تری حرف .

ضمیمه څه شی دی؟ : پوهه شه چې ضمیمه به یا اسم وي لکه رجل .نوتنوین حرف دی اوضمیمه یې اسم دی چې رجل دی .یا به فعل وي لکه قدضرب ،نوقد حرف دی اوضمیمه یې ضرب دی ، وهکذا سوف یضرب وغیره . یابه عامل مع المعمول وي لکه **سرت من البصرة الخ** نومن حرف دی اوضمیمه یې عامل مع المعمول دی یعنې سرت . یابه جمله اسمیه وي لکه په حروف مشبه بالفعل کښې مثلاان زیداقائم ان حرف دی اوضمیمه یې جمله اسمیه ده . یابه جملتین وي. لکه په حروف شرطیه کښې .لکه ان ضربت زیدافاضربک . ان شرطیه حرف دی اوضمیمه یې جملتین دی ، یعنې شرط اوجزاء .

آمدم برسرِ مطلب ددی سوال نه شارح دوه جوابونه ذکرکړی دی ، یوپه أُجیب سره اوبل ولایبعد سره ، نووایې **وَأُجِيبَ بِأَنَّ الخ** داجواب اول دی دسوال مذکورنه اوپه مجیب کښې یې اختلاف دی څوک وایې چې سید السند دی ، اوڅوک وایې چې شارح هندی دی .اوداجواب شارح مصدرکه په صیغې دضعف ، ځکه چې داضعیف دی اووجه دضعف به یې عن قریب راشی **بِأَنَّ الْمُرَادَ مَتَى أُطْلِقَ إِطْلَاقًا صَحِيحًا** جواب شوی دی چې مراد دمتی اطلق نه اطلاق صحیح دی یعنې ذکر دمطلق اومرادترینه مقید دی مجازاً او اطلاق صحیح دیته وایې چې یوشی دلالت وکړي په مطلوب ،بغیردامرِآخرنه **وَإِطْلَاقُ الْحَرْفِ بِلَا ضَمِّ ضَمِيمَةٍ غَيْرُ صَحِيحٍ** .او اطلاق د حرف بغیردضم د ضمیمې نه اطلاق صحیح نه دی .نوکه دتعریف دوضع نه خارج شي نوڅه حرج نیشته **وَلَا يَبْعُدُ** داجواب دی دجانب دشارح نه ، اویَبْعُدُ ضمی دعین سره

مضارع ده د باب کرم نه (ای بَعُد) شارح د اصیغه مستعمله ده هضما لنفسه .

ان یُقَالَ المُرَادُ بِاطلاقِ الألفاظِ اَن یَسْتَعْمِلَهَا اهلُ اللِسَانِ فِی مُحَاوَرَاتِهِمْ وَبَیَانِ مَقَاصِدِهِمْ: او بعیده نه ده چې او نیلی شي چې مراد د اطلاق د الفاظو نه استعمال د اهل لسان یعنې د عربو دی الفاظو له . په خپلو محاوراتو او اظهار د مقاصدو کښی . او اهل لسان حرف نه استعمالوی بغیر د ضم دضمیمې نه . نو تعریف په حرف صادق شه او کوم حرف چې بغیر د ضم دضمیمې نه وي که هغه خارج شي نو حرج نشته قوله **فَلَا حَاجَةَ اِلَی اعْتِبَارِ قَیدٍ زائدٍ** غرض د شارح د دی عبارت نه اشاره ده رد ته په جواب سابقه او دا هغه وجه ضعف ده کما وعدنا، حاصل یې دادی چې جواب د دغی مجیب ضعیف دی ځکه چې په دی کښی .اعتبار د قید زائد دی چې هغه د اقول دی چې .صحیحا . او کله چې کلام بغیر د تقید نه صحیح کیږي نو حاجت قید زائد ته نیشته

سوال په کلام د شارح کښی هم اعتبار د قید زائد دی چې هغه اراده د استعمال د عربو ده . د اطلاق نه کمامر؟

جواب اراده د استعمال د اطلاق نه بیان د معنی مرادی دی د متی اطلق نه . او بیان د شي قید د هغه شي نه وي . د اتوجیه د مجیب د طرفنه هم ممکنه ده چې اراده د اطلاق صحیح بیان د معنی مرادی د اطلاق دی لیکن د دی نه جواب دادی چې اراده د استعمل د اطلاق نه ظاهره متبادره ده . او اراده د . صحیح متبادر نه دی په دی وجه د ابیان نه شي کیدی .

فائده سوال لکه څنګه چې په وَضْعُ الحَرف وارددی نو دغه شان په فعل بدون ذکر الفاعل ، فعل متعدی بدون ذکر المفعول او موصول بدون ذکر الصله . اسم اشاره بدون المشار الیه او ضمیر بدون ذکر المرجع هم وارددی ځکه چې د دوی نه هم معنی نه فهم کیږي بغیر د ذکر د کلمې دیګر نه چې فاعل مفعول وغیره دی او د دی نه جواب هم هغه دی چې ذکر شه یعنې اطلاق صحیح او اطلاق صحیح د فعل ، مع الفاعل او د فعل متعدي مع المفعول وغیره وي فافهم .

اَلْمَعْنَی مَا یُقْصَدُ بِشَیءٍ غرض د شارح د دی ځای نه ترولما کان المعنی پورې تشریح د معنی ده لغةً او اصطلاحاً .نو د اقول چې ، مایقصد بشیء ..دی معنی اصطلاحي ده . او فهو اما مفعل الخ تشریح لغوی ده .

سوال معنی لغوی خو مقصود نه وي په علومو کښی نو ولی یې ذکر کړه؟

جواب د معنی لغوی د ذکر کولو باعث موجود وو چې هغه بیان د نقلینو دی د معنی لغوی نه

اصطلاحي ته او په دی کښی اختلاف دی بعض وایې چې معنی لغوي نقل شوی ده معنی اصطلاحي ته چې مایقصد بشیء دی بالذات او بعض وایې چې دا نقل بالواسطه دی یعنې اول معنی وګرزولی شه په معنی دمفعول سره او بیا دهغې نه نقل شه معنی اصطلاحې ، یعنې مایقصد الخ ته

سوال نو بیا پکار داوه چې معنی لغوي یې مقدم کړی وی په معنی اصطلاحي باندې حالانکه شارح معنی اصطلا حي مقدم کړیده ؟

جواب : داځکه چې په معنی لغوي کښی طول دی او معنی اصطلاحي مختصره ده . او مختصر اقل وي او اقل اسهل وي او اسهل مقدم وي په اصعب باندې .نو ځکه یې مقدمه کړه فقال المعنی مایقصد بشیء معنی هغه شی دی چې مقصود وي په یو شي سره.

سوال تعریف دکلمې په ذکر کولو دقید دمعنې سره جامع نه شه افرادو خپلو له خارج شوترې اسم . فعل او حرف ځکه چې اسم کلمه ده خو وضع دپاره دمعنې نه ده بلکه وضع دپاره دنورو الفاظو ده چې زید عمرو بکر و غیره دي . اودغه شان فعل هم کلمه خو ده لیکن وضع دپاره دمعنې نه ده بلکه وضع ده دپاره دنورو الفاظو ده چې ضرب نصر وغیره دي اودغه شان حرف هم کلمه ده خو وضع دپاره دمعنې نه ده ، بلکه دپاره دمن او الی وغیره ده اودا الفاظ دي نه معنی ؟

جواب : معنی وئلی کیږي **مایُقْصَدبشيء** ته ،او لفظ ما په دې تعریف کښی عام دی په معنی دشی ء سره دی ، یعنې معنی هغه شی دی چې مقصود وي په یو شی عام دی که لفظ وي او که معنی وي . نو مطلب دا نه دی چې ګنې معنی هغې ته وایې چې معلوم شي دلفظ نه ،بنا په دې زید عمرو بکر چې معلوم شي د اسم نه نو دی ته هم معنې وئیلی کیږي .وقس علی هذا ضرب ومن والی وغیره .

په قصد کښی دوه تعمیمه : تعمیم اول دادی چې قصد عام دی که صریحي وي او که ضمني وي او که التزامي ، که صریحي وي نو دا معنې مطابقی ده . او که ضمني وي نو دا معنی تضمني ده ، او که التزامي وي نو دا معنی التزامي ده نو تعریف دمعنې دريواړو ته شامل دی او تعیم ثاني دادی چې قصد عام دی که وضعي وي او که عقلي وي . که وضعي وي نو دا مدلول وضعي دی په دلالت وضعي کښی لکه دلالت دزید په حیوان ناطق مع هذا التشخص او که طبعي وي نو دا مدلول طبعي دی په دلالت طبعي کښی ، لکه دلالت داح اح شه په وجع الصدر او که عقلي وي نو دا مدلول عقلي دی په دلالت عقلي کښی لکه دلالت ددیز چې مسموع من وراء الجدار ،وی په

وجود دلافظ باندې
نو خلاصه دا شوه چې تعریف دمعنی ، معنی مطابقی ، تضمني ، التزامي او معنی وضعي طبعي او عقلي ټولو ته شامل دی **فَهُوَ اِمَّا مَفْعَلٌ اسم مکانٍ هذا شروع فی المعنی اللغوی للمعنی** ، نو فاء فصیحیه ده ، واقع ده په جواب د شرط مقدر کښې **فالتقدیر اذا عرفت المعنی الاصطلاحی للمعنی فهو ای فی اللغة اما الخ** ، پس په معنی لغوي دمعنی کښې احتمالات ثلثه دي .
۱ - ظرف مکان - ۲ - مصدر میمي - ۳ - اسم مفعول ، وبینها الشارح بقوله **فهو اما مفعل اسم مکان** ، او غرض د شارح ددې نه دفع د سوال مقدر ده حاصل یې دادی چې معنی به خالي نه وي یا به صیغه د ظرف مکان وي یا مصدر میمي یا اسم مفعول هر یو نه دی صحیح ، ځکه که صیغه د ظرف مکان شي ، نو معنې به یې شي موضع القصد نو ددی نه دا معلومیږي چې معنی موضع القصد دی حالا نکه موضع القصد معنی نه ده بلکه لفظ دی او که مصدرِ میمي شي نو معنی د کلمې به داشي چې کلمه یو لفظ دی چې وضع شوی دی دپاره د نفسِ قصد حالا نکه کلمه نفس قصد نه دی بلکه مقصود د متکلم ده او که صیغه د اسم مفعول شي نو معنی خو صحیح ده لیکن صیغه ورسره موافقه نه ده ځکه چې صیغه د اسم مفعول د ثلاثي ، مجرد نه په وزن د مفعول راځي لکه مضروب او معنې په دې وزن نه دی ، **فأجاب الشارح بقوله فهو اما الخ** خلاصه د جواب یې داده چې درې واړه احتمالات صحیح دی . پس فهو اما مفعل الخ احتمال اول دی ، هر کله چې وز ن د مفعل مشترک وو په مابین د ظرف مکان او زمان دواړو کښې نو شارح تعین وکه په دی قول سره اسم مکان ، چې معنی ، صیغه د ظرف مکان ده د باب د عَنَی یَعنِی نه ، او دا ناقص یایي دی ، په شان د رمي یرمي مرمي .
بِمَعْنَى الْمَقْصَد . یعنې په معنی د مقصد سره **أَوْ مَصْدَر مِیْمِي** دا احتمال ثاني دی یعنې معنی صیغه د مصدر میمي ده مصدرِ میمي هغې ته وایي چې دلالت کوي په حدث او په اول کښې یې میم راغلی وي . **بِمَعْنَى الْمَفْعُوْلِ** دا دفع د هغه سوال سابقه ده خلاصه داده چې دلته اسم ظرف او مصدر میمي په معنې د مفعول سره دی ، یعنې مقصود او ځکه چې هر کله اسم ظرف او مصدر په خپله معنی اصلي کښې متعذر شي نو هغه په معنی د مفعول سره وي مجازاً او نظیر د اسم ظرف بمعنی مفعول د اقول د عربو دی چې **هَذَا مَشْرَبٌ عَذْبٌ** ای مشروبٌ عذبٌ (خوږې اوبه) ومَرکَبٌ فَارِهٌ ای مرکوب فَارِهٌ (تیزه سورلی) ، او نظیر د مصدر بمعنی المفعول لکه

هَذَا ضَرْبُ الامیر ای مضروبُ الامیرِ . او مناسبت په مابین د ظرف او اسم مفعول کښې فُضْلَوِيَتْ دی یعنې هروا حد ظرف او اسم مفعول نه په کلام کښې فضله وي . او مناسبت په مابین د مصدر او اسم مفعول کښې کلیت او جزئیت دی یعنې مصدر جزء دی او اسم مفعول ذات مع الوصف دی . او وصف جزء دی د ذات مع الوصف نه .

اَوْ مُخَفَّفُ مَعْنَی دا بیان د احتمال ثالث دی په معنی کښې ، یعنې معنی مخفف دی د مَعْنِی نه ، او دا اسم مفعول دی په شان د مرمي نو دا په اصل کښې مَعنوی وو : واو بدل شه په یا باندې . او یا په یا کښې مدغمه شوه بیا ضمه د ماقبل په کسری بدله شوه نو مَعنی تری جوړ شه . پس د هغې نه یوه یا حذف شوه ، او کسره بدله شوه په فتحه باندې خلاف القیاس ، او دا خلاف القیاس ځکه دی چې نظیریې نیشته په کلام عربي کښې نو مَعْنَیٌ تری جوړ شه پس د هغې نه یا بدله شوه په الف دوجې د تحرک او د انفتاح د ماقبل نه نو اجتماع د سا کنینو راغله په مابین د الف او تنوین کښې ، نو الف حذف شه دوجی د التقاء د سا کنیونه نو معنًی تری جوړ شه .

وَلِمَا کَانَ الْمَعْنَی مَاخُوْذًا فِی التَّعْرِیْفِ دا اشاره ده اعتراض ته او فذکر المعنی الخ یې جواب دی ،حاصل د اعتراض دا دی چې ذکر د معنی پس د وضع نه لغوه دی ، ځکه چې معنی ماخوذه ده په تعریف د وضع کښې ، او دا ځکه چې مراد د شي ثاني نه په تعریف د وضع کښې معنی ده کما بُیِّن . . **فاجاب الشارح بقوله فَذِکْرُ الْمَعْنَی بَعْدَهٗ مَبْنِی عَلَی تَجْرِیْدِهٖ عَنْهُ** . پس ذکر د معنی پس د وضعِ نه بنا دی په تجرید د وضع د معنی نه .

تجرید څه ته وایې؟ : پوهه شه چې تجرید عبارت دی د انسلاخ د لفظ د بعض معنی نه او استعمال د لفظ دی په بعض معنی کښې ،نو په وضع کښې تجرید دا دی چې معنی یې فقط تخصیص شی . دوئم جواب دا دی چې ذکر د معنی پس د وضع نه تصریح بما علم ضمناده ، یعنې لفظ د معنی په تعریف د کلمې کښې قید دی . او اصل په قیود اتو کښې تصریح وي ، نو ځکه یې ذکر کړه

فَخَرَجَ بِهِ الْمُهْمَلَاتُ ،په هر تعریف کښې لابدی وي د جنس او د فصل نه ،**لیکون جامعا لافراده مانعا عن دخول الغیر** پس لفظ په تعریف د کلمې کښې جنس دی شامل دی موضوع او مهمل ، مفرد او مرکب ټولو ته ، نو وضع فصل اول دی خارج شو په ده .سره مهملات ،او مراد د مهمل نه مسمی او ماصَدَقَ عَلَیْهِ د مهمل دی لکه ،دیز ، نه لفظ د مهمل ځکه چې لفظ د مهمل مهمل نه

دی بلکه موضوع دی دپاره دمعنی . یعني المهمل مالامعنی لهٔ دامعنی موضوعَ لهٔ دمهمل ده

وَالاَلْفَاظُ الدَالَةُ بِالطَّبعِ اِذْلَمْ یَتَعَلقُ بِهَا وضعٌ وتَخصِیصٌ اَصلاً داعطف دی په المهملات باندې یعني خارج شو په قید دوضع سره هغه الفاظ چې دلالت کوي په معنی باندې په دلالت طبعی سره .لکه اُح اُح چې دلالت کوي په وجع الصدر اودغه شان هغه الفاظ چې دلالت کوي په معنی باندې په دلالت عقلی سره لکه دیز چی مسموع من وراء الجدار وی او دلالت کوی په وجود دلافظ باندی

اِذْلَمْ یَتَعَلَّقَ بِهَا وَضَعَ وتخصیص اصلاً . دادلیل دی دپاره داخراج ددی الفاظو یعني .نه ده متعلق په دی پورې وضع اوتخصیص بالکل . نو خلاصه داشوه چې اح اح الفاظ دی خوکلمه نه ده . دغه شان دیزلفظ دی خوکلمه نه ده

اقسام الدلالة:پوهه شه چې دلالت اولاًپه دوه قسمه دی (۱) دلالت لفظي . (۲) دلالت غیرلفظي .وجه یې داده چې دال به خالي نه وي یابه لفظ وي اویابه غیرلفظ .که اول وونو دادلالت لفظ دی .اوکه ثاني وي نودادلالت غیرلفظي دی . بیاهرواحد ددینه په درې درې قسمه دی .وضعي ، طبعي ، اوعقلي وجه یې داده چې دادلالت به خالي نه وي یا به په وضع دواضع سره وي نودیته دلالت وضغي وایې. نوداپه دوه قسمه شه یودلالت وضعي لفظي .اوبل دلالت وضعي غیرلفظي . پس زیدمثال دی ددلالت لفظي وضعي . اودوال اربعه مثال ددلالت غیرلفظي وضعي دی . یابه دادلالت باحداث طبیعة .وی (ددلالت طبعي تفصیلي معنی چې مشتمله ده په مثال باندې هم داده) پیداکول دطبیعتِ انسانی دی دال لره چې اُح اُح دی په وخت دعروض دمدلول کښی چې وجع الصدرده ذی طبع وَتَه چې انسان دی .نودلالت طبعي هم په دوه قسمه شه یو لفظي اوبل غیرلفظي پس اح اح مثال ددلالت طبعي لفظي دی ، اودلالت دسرعة دحرکت دعرق نابضه ضاربه په حمی باندې دلالت طبعي غیرلفظي دی .اویابه دادلالت په یوعلاقي ذاتي سره وي ، علاقه ذاتی عبارت دی ددینه چې احدهمامدلول وي دپاره داخر، یادواړه معلولین وي دپاره دعلت ثالث .نوداهم په دوه قسمه دی یوعقلي لفظي اوبل عقلي غیرلفظي ، پس مثال ددلالت لفظي عقلي لکه دیزچې مسموع ، من وراء الجداروي په وجوددلافظ باندې اوعلاقه ذاتي په کښی داده چې دادلالت داثردی په مؤثرباندې .اومثال ددلالت عقلي غیرلفظي لکه دلالت دنارشه په وجود ددخان ، اوعلاقه ذاتي په کښی داده چې دادلالت دمؤثردی په وجودداثر اوقیددمسموع من وراءالجدارپه

ځکه ولګو وچې کـه چرې لافظ تاته مخامخ ولاړوي اوته يې ويني نو داعلم بالمشاهده دی اوعلم استدلالی نه دی

سوال: څه نکته ده په ذکرکولو دتخصیص کښې پس دوضع ده نه په دی قول کښې، اذلم يتعلق بهاوضع وتخصیص

جواب: په دی کښې تنبیه ده په دی خبره چې په الفاظ داله بالطبع وغیره کښې نه وضع تجریدی شته چې تخصیص دی اونه غیرتجرید دی چې وضع ده

سوال: شارح چې فائده دقید دوَضع بیانوله نوپکارده چې په ذیل دوُضعِ کښې يې بیان کړی وي .نوپه ذیل دمعنی کښې يې ولې بیان کړه؟

جواب: مرادپه وضع سره په دې مقام کښې وضع تجریدی ده ، يعنې هغه چې تجرید په کښې شوی وي ، اوتجرید په کښې هله وشه چې قید دمعنی ذکرشه نوځکه يې پس دمعنی نه ذکرکړه ، اولمعنی ، فصل ثانی دی په دی سره احترازراغی دحروف هجاء نه اګرچې په دې کښې وضع شته خووضع دپاره دمعنی نه دی لکه شارح وايې

وبَقِيَتْ حُرُوفُ الهَجَاءِ الْمَوْضُوْعَةِ لِغَرَضِ التَّرْكِيْبِ لَا بِإِزَاءِ الْمَعْنى (هَجَاء په فتحې دهااوجیم سره اوازَاء په کسری دهمزی سره مصدردباب مفاعلې دی ای وازی یوازی موازاةً (برابروالی) داپه اصل کښې وزاء وو، واومکسوربدل شه په همزی په شان دوِشَاح نو، ازاءً تری جوړشه) ترجمه يې داده چې، باقي پاتې دی په قید دوضع کښې حروف هَجَاء هغه . چې وضع دی دپاره دغرضِ ترکیب ، نه دپاره دمعنی .

بیان حرف الهَجاء والمعاني والمبانی: پوهه شه چې حروف هجاء هغې ته وايې چې عدا وشمیردهغې کیږي په اسامیويعنې نومونوخپلوسره لکه الف باء تاء وغیره . اوکله چې داجزء دکلمې وګرزی نوبیاورته حروف مباني وايې ،ځکه چې بنادکلمې ددی نه کیږي لکه زیداوچې کله دلالت وکړي په معنی نودیته حروف معاني وايې لکه في دپاره دظریفت ده وغیره **وَخَرَجَتْ بِقَوْلِهِ لِمَعْنَى**. اوخارج شو حروف هجاء په قید دلمعنی سره .

اِذْوَضْعُهَا لِغَرَضِ التَّرْكِيبِ لَا بِإِزَاءِ الْمَعْنى داپې دلیل دی، وايې ،ځکه چې وضع ددی حروفو دپاره دغرض ترکیبی ده نه دپاره دمعنی .

سوال: هرکله چې حروف هَجَاء وضع شو دپاره دغرض ترکیبی . نو داپې معنی وګرزیده

نو حروف هجاء ګویا وضع شو د پاره د معنی **فکیف تخرج بقوله لِمعنًی**

جواب : غرض ترکیبی د حروف هَجاء معنی نه شي کیدی . ځکه چې معنی هغې ته وایې چې یفهم من اللفظ .او غرض ترکیبي د حروف هجاء نه نه فهم کیږي مثلا ، الف لام میم حروف هجاء دی او ترکیب تری نه نه فهم کیږي کما هو الظاهر ،او بله دا چې غرض ترکیبي معنی د حروف هجاء نه شي کیدی که شي نوؤ به ګرځي ټول حروف هَجاء الفاظ مترادفه ،ځکه چې د ټولو معنی به واحده شي ،او حال دا دی چې په دی چا قول نه دی کړی **فَـإِنْ قُلْتَ قَدْ وُضِعَ بعضُ الأَلْفَاظِ بِإِزَاءِ بَعْضٍ اخرَ فَكَيْفَ يَصدِقُ عَلَيْهِ أَنَّهُ وُضِعَ لِمَعْنًى .**

غرض د شارح په دی عبارت کښی اعتراض کول دي په عدم جامعیت د کلمې د پاره د افرادو خپلو مورد ، د دی اعتراض قید د لمعنی دی ، او دا اعتراض بنا دی په یوه مقدمه باندې هغه دا چې متوهم دا توهم کوي چې معنی مقابل د لفظ دی ،او په لفظ ګنی اطلاق د معنی نه کیږي ،خلاصه د دی اعتراض داده چې تعریف د کلمې جامع نه شو افرادو خپلو له خارج شو ترینه بعضي هغه الفاظ چې وضع شوی دی د پاره د نورو الفاظو نه د پاره د معانیو . لکه اسم د پاره د زید عمرو بکر ، او فعل د پاره د ضرب ،نصر، او حرف د پاره من و ،الی وغیره . لکه شارح وایې چې په تحقیق سره وضع شوی دی بعض الفاظ د پاره د بعض ،نورو ،نو څنګه به صادق شي په دی الفاظو ،چې دا کلمې دی او وضع شوی دی د پاره د معنی (کیف د پاره د استفهام انکاری دی ، یعنې نه صادق کیږي .

قُلْنَا الْمَعْنٰى مَا يَتَعَلَّقُ بِهِ الْقَصْدُ وَهُوَ أَعَمُّ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ لَفْظًا أَوْ غَيْرَهٗ : دا جواب دی د اعتراض مذکور نه ، یعنې مونږ وایو په جواب کښی چې معنی هغه شی دی چې متعلق کیږي په هغې پورې قصد ، او دا عام دی د دی نه چې لفظ وي او که غیر لفظ ،خلاصه دا شوه چې لفظ ما په تعریف د معنی کښی عبارت دی د شي نه ، او شی ، عام دی ،نو معنی ،یعنې مقابل د لفظ ، او لفظ دواړو ته شامل دی.

سوال : دا اعتراض شارح ذکر که حالانکه په تعریف مذکور د معنی کښی سابقا دا خبره معلومه شویده ، چې لفظ ما په یقصد بشیء کښی په معنی د شی سره وو او شامل وو لفظ او معنی دواړو ته ، نو دا اعتراض یې ولې ذکر که ؟

جواب : شارح اغماض کړی دی د عموم د کلمي د ما نه یعنې شارح چشم پوشي کړې ده .

سوال : وجه د اغماض څه ده جواب ، کثرة استعمال د معنی په مقابله د لفظ کښی نو مصروفه

یې کړه کلمه د ماماسوا د لفظ ته.

سوال: شارح مخکښې د معنی تفسیر وکه په ،مایقصد بشيء سره ،او د لته یې تفسیر وکه ، په ، مایتعلق به القصد ، سره ، نو وجه د دې اختلاف څه ده؟

جواب: تنبیه ده په ترادف د تفسیرینو **فان قلت قد وضع** الخ دا اعتراض ثاني دی په تعریف د کلمې باندې ،نو محل د اعتراض تعریف د کلمې دی او منشاء د اعتراض لفظ مفرد دی ، په تعریف د کلمې ،کښې نو شارح وایې ، چې **قد وضع بعض الکلمات المفردة بإزاء الألفاظ المرکبة** په تحقیق سره وضع شوی دی بعض کلمات مفرده د پاره د الفاظ مرکبو. **کلفظة الجملة والخبر**. لکه لفظ د جملې او د خبر ،**فکیف یکون موضوعا لمفرد**. پس څنګه به شي دا بعضې کلمات مفرده موضوع د پاره د مفرد ،حاصل د اعتراض دا دی چې دا خو صحیح شوه ،چې د معنی اطلاق په لفظ هم کیږي ،لکه د مخکښې جواب نه معلومه شوه . لیکن بیا هم تعریف د کلمې جامع نه دی افرادو خپلو له ، خارج شوترې هغه کلمات چې وضع شوی دی د پاره د الفاظ مرکبو ،لکه جمله او خبر شو چې دا وضع دی د پاره د زید قائم او قام زید وغیره ، یا قضیه او قیاس شو ، او زید قائم وغیره خو مرکبات دی نو څنګه به صادق شي په لفظ د جملې او د خبر ، دا خبره چې دا وضع دی د پاره د معنی مفردی نو جمله او خبر او قضیه او قیاس دی خو کلمات ،او تعریف د کلمې پرې صادق نه شه ،نو تعریف د کلمې جامع نه شه .

قلنا دا جواب دی د اعتراض مذکور نه .

هذه الألفاظ وإن کانت بالقیاس إلی معانیها مرکبة. دا الفاظ یعنې زید قائم ، قام زید وغیره ، چې موضوع لهٗ د جملې او خبر دی اګرچې په نسبت سره معانیو خپلو ته ـ چې معنی د زید ، حیوان ناطق مع هذا التشخص ده او معنی د قائم ، ذات من له القیام ده) مرکب دی ځکه چې جزء د لفظ یې دلالت کوي په جزء د معنی باندې یعنې زید دلالت کوي په حیوان ناطق مع هذا لتشخص او قائم دلالت کوي په ذات من له القیام . **لکنها بالقیاس إلی ألفاظها الموضوعة بإزائها مفردة**. لیکن دا الفاظ یعنې زید قائم وغیره په نسبة سره هغه الفاظُ ته چې هغه وَضعَ دی د پاره د دی زید قائم او قام زید وغیره یعنې جمله او خبر ، مفرد دی .
خلاصه دا چې د زید قائم دوه حیثیته دي ، یو په دی حیثیت چې نسبت یې خپلو معنو ته وشي ، چې حیوان ناطق الخ دی نو په دې حیثیت سره دا مرکب دی . ځکه چې جزء د لفظ یې دلالت

کوي په جزء دمعنی باندې . اوبل په دې حیثیت چې نسبت یې وشي جملې اوخبرته .نوبیامفرددی ځکه چې جزء دلفظ دجملې چې مثلاجیم دی . دلالت نه کوي په زید .میم دلالت نه کوي په قائم نوپه دې حیثیت صحیح ده دا خبره چې جمله کلمه ده اووضَع ده دپاره دمعنی مفردی چې زید قائم وغیره دی

سوال دااعتراض بې محله دی محل ددی اعتراض خولفظ دمفرددی نو پکار داده چې شارح دااعتراض دمفرد نه پس ذکرکړی وي .

جواب منشاء ددی اعتراض جواب داعتراض اول دی . نوورسره یې متصل ذکرکه .یایې وجه داده چې شارح یومشترک جواب ذکرکړی دی ددې دواړونه بقوله وقد اجیب عن الاشکالین الخ . نوځکه یې دامقدم که دمحل خپل نه لکه څنګه چې شارح مخکښې وئیلي ووچې ، هی والکلام مشتقان من الکلم .نوظاهره ده چې داخوبحث دکلمې دی ، لیکن هرکله چې کلام ورسره په مسئله داشتقاق کښی شریک وونودخپل محل نه یې مقدم که .

وَقَدْ اُجِيْبَ الخ داجواب دی داشکالینومذکورینو نه . داجواب منعی دی . (اوددې جواب نه به مخکښې هغه دواړه سواله ملحوظ کړی . حاصل یې دادی چې په دې مقام داعتراضینوکښی داسې یولفظ نیشته چې وضع وي دپاره دلفظ مفردلکه په اعتراض اول کښی اونه دپاره دلفظ مرکب لکه په اعتراض ثاني کښی .بلکه دغه الفاظ اوکلمات وَضَعَ دی دپاره دمفهوم کلي .اودغه نورالفاظ مفرده یامرکبه افراداوجزئیات دي ددغه مفهوم کلي نودلته وضع دالفاظ ، دپاره دالفاظ مفرده یامرکبه . اصلانه ده راغلی ، **حتی یردالاشکالان** ،نواسم وضع دی دپاره دمفهوم کلي چې مادل علی معنی فی نفسه الخ دی اوزید ، عمروبکروغیره یې جزئیات دي ، اوفعل وضع دی دپاره **دمادل علی معنی فی نفسه مقترن** الخ ،اوضرب ونصریې جزئیات دي ، اوحرف وَضَعَ دی دپاره **دمالاتدل الخ**. اومن اوالی یې جزئیات دي دغه شان جمله اوخبروضَعَ دی دپاره دمفهوم کلی چې یحتمل الصدق والکذب دی ، اوزید قائم وغیره یې جزئیات دي او کلام وَضَعَ دی دپاره دمفهوم کلی چې الکلام ماتضمن کلمتین بالاسناداوزیدقائم وغیره یې جزئیات دی فافهم ، **هذاحاصل ماذکره الشارح بقوله وَقَدْ اُجِيْبَ عَنِ الْاِشْكَالَيْنِ بِاَنَّهُ لَيْسَ هٰهُنَا لَفْظٌ وُضِعَ بِاِزَاءِ لَفْظٍ الخ مُفْرَدًا كَانَ اَوْمُرَكَّبًا .**

ترجمه په تحقیق سره جواب کړی شوی دی ددواړو اشکالینونه په دی شان سره چې په دې مقام دنقض دتعریف دکلمې کښې داسې لفظ نیشته چې وضع شوی وي دپاره دلفظ اخرکه مفردوي ، لکه په اول اعتراض کښې ، اوکه مرکب وي (لکه په اعتراض ثاني کښې **بَلْ بِإِزَاءِ مَفْهُوْمٍ كُلِّيٍّ اَفْرَادُهُ الْفَاظٌ** بلکه وضع دی دپاره دمفهوم کلي . چې افرادیې دغه الفاظ (مفرده یامرکبه) دی **كَلَفْظَةِ الْاِسْمِ وَالْفِعْلِ وَالْحَرْفِ وَالْجُمْلَةِ وَغَيْرِهَا** لکه لفظ دقضیې اوکلام وغیره

تنبیه پوهه شه چې داجواب منعی دی اومخکښې جوابونه تسلیمی وو

سوال طریقه داده چې جواب منعی مقدم کولی شي په جواب تسلیمی باندې ، اوداځکه چې تسلیم اقراردی اومنع انکاردی . نوداقرارنه پس انکارمناسب نه دی ځکه چې **المرء يؤخذ باقراره** ؟

جواب جواب منعی که چرې حق وي نوتاخیردهغې جائزدی ځکه چې که په دې صورت کښې منعی اول ذکرشي بیاتسلیمی نو لازم به شی عدول دحق نه وهوباطل **وَلَا يَخْفٰى عَلَيْكَ اَنَّ الْحُكْمَ مَنْقُوْضٌ بِاَمْثَالِ الضَّمَائِرِ الرَّاجِعَةِ اِلَى اَلْفَاظٍ مَخْصُوْصَةٍ مُفْرَدَةٍ اَوْ مُرَكَّبَةٍ**

ترجمه غرض دشارح اعتراض کول دي په دغه جواب مشترک باندې ، اوهم دغه وجه ده چې مصنف داجواب مشترک مصدرکړی دی په صیغې دضعف . خلاصه دنقض داده چې جواب مذکوریعنې (چې الفاظ وضع دی دپاره دمفهوم کلی) منقوض دی په ضمائرواوپه اسماء اشارا تووغیره ځکه چې ضمائرمثلاهم کلمې دی اووضع دپاره دمفهوم کلی نه دی . بلکه دپاره دلفظ دی . لکه مثلاچې کله اووئیلی شي چې زیداوبیااووئیلی شي چې فهومفردنوهوضمیرراجع دی لفظ دزیدته ،ځکه -چې په زیدحکم وشه ، یاچې کله اُووئیلی شي چې زیدقائم اوبیااُوئیلی شي چې فهومرکب نومراد دضمیرنه لفظ دزیدقائم دی یامثلااُوئیلی شي چې هذامفرد . اوپه هذاسره اشاره وشي زیدته یااُوئیلی شي چې هذا مرکبُ اواشاره وشي زیدقائم ته . نو مرادپه اشاره سره لفظ دزیداوزیدقائم دی ځکه چې په دې ټولوصورتونوکښې حکم په افراداوترکیب سره وشه اوافراداوترکیب دصفاتودالفاظونه دی . نومعلومه شوه چې دلته مفهوم کلي نیشته . بلکه وضع دپاره دالفاظ شویده .

ترجمه دعبارت داده **ولايخفى عليك** اوخفی دنه وي په تاباندې **ان هذاالحكم منقوض**

بامثال الضمائر الراجعة الی الفاظ مخصوصة مفردة اومرکبة چې داحکم منقوض دی په امثال دضمائروچې راجع دی الفاظ مخصوصه ته مفردوي اوکه مرکب . اومراددامثال دضمائرونه اسماء اشارات اوموصولات وغیره دي **فَاِنَّ الْوَضْعَ فِیْهَا وَاِنْ کَانَ عَامًّا.** ځکه چې وضع په دی کښی اګرکه عامه ده **لٰکِنَّ الْمَوْضُوْعَ لَهٗ خَاصٌّ** . لیکن موضوع له خاص دی یعنې ضمائر او اسماء اشارات وغیره وضع شوی دی پاره دجزئیاتو په واسطی دمفهوم کلي سره مثلاهوبه راجع کولی شي هرمفردمذکرته چې **تَقَدَّمَ ذِکْرُهٗ** وي اوهغه زیدعمروغیره دی ،نوګویاچې هووضع شوی دی دپاره دزید عمروخوپه واسطې ددغه مفهوم کلي سره اودغه شان په هذاسره به اشاره هرمفردمذکراومحسوس بالبصرته کیږي چې زیددی مثلانوګویاچې هذاوضع شوی دی دپاره دزیدعمرو وغیره خوپه واسطې دمفهوم کلي سره نووضع یې عامه ده اوموضوع له یې خاص دی **فَلَیْسَ هُنَاكَ مفهوم کلی هوالموضوع لَهٗ فِی الْحَقِیْقَةِ** . پس نیشته په دغه ځای کښی مفهوم کلی چې هغه موضوع له وي په حقیقت کښی .

سوال : جواب مذکورمنعی تحقیقي وو نوځنګه پرې ، نقض وارد شه.

جواب : جواب منعی بنادی په مذهب دمتقدمینو باندې اودانقض بنادی په مذهب دمتاخرینو.

په وضع دضمائرواواسماء اشاراتوکښی اختلاف پوهه شه چې په ضمائرو اوامثال دضمائرو کښی دوه مذهبه دي ، یومذهب دمتقدمینواوبل مذهب دمتاخرینو ،مذهب دمتقدمینو دادی چې ضمائراوامثال ددوی وضع دی دپاره دمفهوم کلي لیکن په شرط داستعمال سره په جزئیاتوکښی پس مذهب دمتقدمینومشتمل دی په جزئینوباندې یوجزء داچې ضمائروغیره وضع دی دپاره د مفهوم کلي اوبل جزءیې شرط دا ستعمال دی په جزئیاتوکښی نو دلیل دجزء اول دادی چې موضوع لهٗ هغه شی وي چې منضبط اومنحصروي اومنضبط اومنحصرمفهوم کلي وي او جزئیات غیرمحصور یعنې بې شماره وي اودلیل دجزء ثاني دادی چې مقصود مفهوم کلي نه دی بلکه مقصود جزئیات دی ، ځکه چې حکم نه جاري کیږي مګرپه جزئیاتوباندې بله داچې مفهوم کلي نه موجودیږي مګرپه ضمن دجزئیاتو کښی نوځکه ورله استعمال فی الجزئیات شرط کړی شه اومذهب دمتاخرینودادی چې

ضمائر و غیره وضع دی دپاره د جزئیاتو لیکن په واسطې د مفهوم کلي سره پس قول د متاخرینو هم مشتمل دی په جزئینو باندې جزء اول داقول دی چې داوضع دی دپاره د جزئیاتو، او جزء ثاني یې داقول دی په واسطې دمفهوم کلي سره دلیل دجزء اول دادی چې موضوع لهٔ هغه شی وي چې مقصود وي او مقصود جزئیات دي او دلیل دجزء ثاني دادی چې جزئیات معدود او محصور نه دی یعنې شمیرل یې مشکل دی نو واسطه ورله مفهوم کلي مقرر کړی شو.

سوال: اَولی مذهب دچا دی جواب دمتاخرینو او دمتقدمینو مذهب ضعیف دی ځکه چې ددوی په مذهب کښې استعمال دمعنی مجازی دی سره دترک دمعنی حقیقي نه دائما پس هر کله چې مذهب دمتاخرینو را جح شه نو جواب مشترک ضعیف شه نو دا اشکالینو مذکورینو نه هغه جوابونه کافي دی کوم چې مخکښې ذکر شوی دی فتذکر.

نقض په دوه قسمه دی: یو نقض اجمالي او بل نقض تفصیلي نقض اجمالي دیته وایې، چې او ئیلی شي خصم ته چې دلیل ستا بِجَمِیۡعِ مُقَدِّمَاتِهٖ جاری دی په موضع فلان کښې لیکن مدعا ترینه

متخلفه ده نو معلومه شه چې دلیل دی مفید دپاره داثبات دمدعي نه دی او نقض تفصیلي رد کول په مقدمه معینه دخصم باندې یعنې په صغری کبری او ملازمه وغیره.

قال المصنف مُفۡرَدُ وقال الشارح وَهُوَاِمَّا مَجۡرُوۡرٌ الخ غرض دشارح ددی نه تحقیق نحوی د، مفرد، دی په بیان دا عراباتو ثلثو سره او بیان دوجې داعرباتو، او په هر احتمال کښې څه قیل وقال هم شته پوهه شه چې ضمیر دهو راجع دی مفرد ته نو په دې باندې سوال واردیږي چې دا هو ضمیر به خالي نه وي یا به را جع وي مفرد بالجر ته، نو په دې کښې دوه نقصانه کیږي یو دا چې بنا په دې اما مجرور لغوه دی او بل دا چې په مابعد کښې دا وئیل چې (موفوع) محال دی ځکه چې لفظ دمفرد مجرور شه نو په دې حالت کښې یې مرفوع کیدل محال دی او د غه شان احتمال دنصب په کښې هم صحیح نه شه او که ضمیر د هو، مفردٌ بالرفع ته را جع شي نو روستو، و اما مرفوع وئیل لغوه دی او اما مجرور وئیل محال دی، په آن واحد کښې او احتمال دنصب به هم خطا شي او دغه شان که ضمیر مفردً بالنصب ته را جع شي نو نَصۡبُهٗ به لغوه شي او رفع او جر په کښې محال شي په آن واحد کښې جواب ددینه دادی چې، ضمیر دهو راجع دی مفرد ته لیکن په اعتبار دمکتوب غیر مقرؤ سره یعنې تلفظ پرې فی الحال نه کوو نو معنی دا شوه چې دا مکتوب غیر مقرؤ به یا مجرور وی عَلَی اَنَّهٗ صِفَةٌ لِمَعۡنًی. دا یې وجه دجر ده یعنې دا صفت دی دپاره دمعنی او معنی

خو مجروردی په لام جاره سره، نو مفردهم مجرورشه ځکه چې اعراب دصفت اوموصوف واحدوي

سوال دا احتمال شارح ولې مقدم که سره ددې چې احتمال درفع اودنصب راجح دی، ځکه چې په دې تقدیرمفردصفت ګرزی دپاره دلفظ اوافراد اوترکیب په واقعه کښې صفات دپاره دلفظ دی اولاً وبالذات اودپاره دمعنی دی ثانیاوبالعرض نوپکاروه چې دااحتمال یې مؤخرکړی وای

جواب: دااحتمال دجر راجح دی ځکه چې په دې کښې مفردصفت دپاره دقریب ګرځي چې معنی دی، اوقرب دا سبابودترجیح نه دی نوځکه شارح دا احتمال مقدم که **وَمَعْنَاهُ** ځ دابیان دمعنی مفردی دی **مَالَايَدُلّ جَزْءُلَفْظِهِعَلَى جُزْبِهِ** لفظ ماعبارت دی دمعنی نه. نو معنی مفرده هغه معنی ته وایې چې جزء دلفظ ددې معنی دلالت نه کوي په جزء دمعنی باندې ددې یوځوصورتونه دي چې په بیان دلفظ مفردکښې به راشي ان شاء الله تعالی **وَفِيْهِ اَنَّهُ يَوهِمَ اَنَّ اللَفْظَ الخ** غرض دشارح په دې عبارت کښې بیان داعتراض اوجواب دی په ګرزولودمفرد صفت دپاره دمعنی اودااعتراض بنادی په یوقاعده مشهوره باندې هغه داده چې کله نسبت وکړی شي دفعل شبه فعل یوداسې شي ته چې هغه مقیدوي په یو قیدباندې نودغه قیدبه ثابت وي دغه شی ته مخکښې ددغه فعل شبه فعل نه، لکه ضربت زیداقائما، نونسبت وقوعي دضرب شوی زیدته، اوزیدمقیددی په قیددقیام سره ځکه چې قائما، حال دی دزیدنه نومعلومه شوه ددې نه داچه قیام زیدته مخکښې دضرب نه ثابت دی نو اوس داعتراض خلاصه داده.

چې نسبت دوضع شویدی لفظ ته یعني لفظ موضوع دی للمعنی اومعنی مقیده شوه په قیددمفرد، نومعلومه شوه داچې افرادبه ثابت وي لفظ موضوع ته قبل الوضع حالانکه وضع مقدمه ده په افراداوترکیب باندې، ځکه چې افراداوترکیب بنادی په دلالت (ځکه چې که جزء دلفظ دلالت کوو په جزء دمعنی نومرکب دی اوکه نه یې کوو نومفرددی) اودلالت بنادی په وَضع ځکه چې لفظ دلالت په معنی هله کوی چې وضع وی دپاره د معنی نو وضع مقدمه شوه په دلالت اودلالت مقدم شه دافراداوترکیب نه نووَضع مقدمه شوه دافراداوترکیب نه ترجمه دعبارت داده اوپه دې جعل دمفردکښې صفت دپاره معنی داخبره ده چې سامع په وهم کښې غورزوي داچې بې شکه لفظ موضوع دی دپاره دمعنی هسې معنی چې موصوفه وي په

افراداوترکیب باندې پخوا دوضع نه حالانکه خبره داسې نه ده **فَاِنَّ اِتِّصَافَ الْمَعْنٰی بِالْاِفْرَادِ وَالتَّرْکِیْبِ اِنَّمَا هُوَبَعْدَ وَالْوَضْعَ** ځکه چې موصوف کیدل دمعنی په افراداوترکیب باندې بعدالوضع وي **فَیَنْبَغِیْ اَنْ یَرْتَکِبَ فِیْهِ تَجَوُّزٌ** دااشاره ده جواب ته ددغې اعتراض نه ،حاصل یې دادی چې توصیف دمعنی په مفردباندې ، په اعتباردمایول الیه سره دی اودیته مجازمشارفه وایې یعنې افراد عارضیده معنی ته په مستقبل کښې نومصنف ورته فی الحال نسبة وکه باعتبارالاوّل نووایې چې پس لازم ده چې ارتکاب وشي په دې کښې دمجاز« مشارفه » **کَمَا یُرْتَکَبُ فِیْ مِثْلِ مَنْ قَتَلَ قَتِیْلاً فَلَهٗ سَلَبُهٗ** دانظیردی دپاره دمجازمشارفه ، نووایې چې لکه څنګه چې ارتکاب کیږي دمجازمشارفه په مثل ددې قول دنبی ﷺ کښې په غزوه بدرکښې دپاره دتحریض دمؤمنینو ،چې چا قتل که مقتول نودهغه سامان دده دی ،نومقتول قتل کول خوتحصیل دحاصل دی خوپه کافراطلاق دمقتول شوی دی په اعتباردمایؤل الیه سره .،اوداځکه چې کفارقریب وو ،**الی الموت لان الصحابة کانواغالبین یومئذٍ والکفارمغلوبون والصفوف قائمة** ، یالکه په دې قول دالله پاک کښې ، **اِنِّیْ اَرٰىنِیْ اَعْصِرُ خَمْراً** ، نوظاهره ده چې خمرخونه نه جوړیږي نومراددخمرنه عنب دی خواطلاق پرې دخمرشوی دی په اعتباردمایؤل الیه سره یعنې درنګ ساعت له به ترې خمرجوړیږي .

سوال : داخولازم شو اخذدمجازپه تعریف کښې اوداشنیع دی ځکه چې تعریف کیږي دپاره دوضاحت اومجازخفي وي نواخذدده مُخل للفهم دی .

جواب : مجازپه دوه قسمه دی یوهغه چې قرینه یې ظاهره نه وي بلکه خفي وي نو اخذ دده مُخل دی بل هغه چې قرینه یې ظاهره وي نواخذدده مخل نه دی پس مجازمشارفه دقبیلي دقسم ثاني نه دی ځکه چې داظاهره ده چې افراد اوترکیب په الفاظ اومعانوکښې بعد دوضع نه وي خوثبوت یې لفظ ته مخکښې دوضع نه ، په اعتباردمایؤل الیه سره دی .

سوال : هرکله چې دااعتراض بناوپه قاعده مشهوره نووروديې یقني دی نوتعبیرترې کول په یُوْهَمُ سره صحیح نه دی .

جواب : جواب ددې اعتراض نه ظاهروو ځکه چې داجواب بنادې په مجازمشافه باندې اودا هم واقع دی په کلام فصیح کښې (یعنې قران وحدیث) نواعتراض مذکورضعیف و ګرزیده ، نوځکه یې ترینه تعبیرپه یوهم سره وکه **اَوْمَرْفُوْعٌ** داعطف دی په اومجرورباندې اوبیان

د احتمال ثاني دی په مفرد کښې . **عَلٰى اَنَّهٗ صِفَةٌ لِّلَفْظِ** دا يې وجه درفعې ده يعنې بنا په دې چې دا صفت دی دپاره دلفظ او مطابقت په مابين دصفت او موصوف کښې لازم دی .

سوال په دې وجه درفعې دمفرد کښې احتمال اخر هم موجود دی چې خبريت دی دپاره دمتبدا مقدرې اى هو مفردٌ نو شارح دی ته ولې التفات ونه که

جواب ځکه چې دا احتمال مستلزم دی حذف لره په تعريف کښې او دا غير صحيح دی ځکه چې تعريف کيږي دپاره دوضاحت او حذف مَخل دی وضاحت لره .

وَمَعْنَاهُ حِيْنَئِذٍ مَالَا يَدُلُّ جُزْءُهٗ عَلٰى جُزْءِ مَعْنَاهُ دا بيان دمعنې دلفظ مفرد دی کلمه دما عبارت دی دلفظ نه . فالمعنى چې لفظ مفرد هغه لفظ دی چې دلالت نه کوي جزء ده په جزء دمعنى باندې .

صورتونه دمفرد پوهه شه چې دمفرد دپاره څلور صورتونه دي .

(۱) دا چې لفظ لره يې جزء نه وي او معنى لره يې هم جزء نه وي نو ځکه يې جزء دلفظ دلالت نه کوي په جزء دمعنى باندې لکه همزه استفهام .

(۲) لفظ لره يې جزء وي چو معنى لره يې جزنه وي لکه لفظ دالله شه چې لفظ لره جزء شته خو معنى يې بسيطه ده ذهنًا وخارجا .

(۳) لفظ لره يې جزء وي او معنې لره يې هم جزء وي خوجزء دلفظ يې دلالت نه کوي په جزء دمعنى باندې لکه زيد چې لفظ لره يې اجزاء شته چې زاء يادال دی او معنى لره يې هم جزء شته ،چې حيوان ناطق مع هذا التشخص دی ليکن زادلالت په حيوان نه کوي او يادلالت په ناطق نه کوي ،. اودال دلالت په تشخص نه کوي .

(۴) لفظ لره جزء وي او معنى لره هم جزء وي او جزء دلفظ دلالت کوي په جزء دمعنى باندې ليکن دا معنى مقصود نه وي لکه عبد الله په حالت دعلميت کښې لفظ لره يې اجزاء شته چې عبد او الله دی ، او معنى لره يې هم اجزاء شته (يعنې بنده دالله) او جزء دلفظ يې دلالت کوي په جزء دمعنى هم ، ليکن دغه معنى مقصوده نه ده په حالت دعلميت کښې .

او دلفظ مرکب دپاره يو صورت دی فقط هغه دا چې لفظ لره هم جزء وي او معنى لره هم جزء وي او جزء دلفظ دلالت کوي په جزء دمعنى مقصوده باندې . لکه زيد قائم فافهم .

سوال : اصل په صفاتو کښې دا ده چې قريب به وي موصوف ته ، او قريب مفرد ته لمعنى دی نو پکار ده چې دا صفت شي دپاره دمعنى فقط نه دپاره دلفظ

جواب لکه څنګه چې په جانب دمعنی کښې اصل موجود دی نودغه شان په جانب دکون د مفردکښې صفت دپاره دلفظ . هم اصل موجوددی هغه داچې افراداوترکیب دصفاتودالفاظونه دی اولاوبالذات اودصفاتودمعنی نه دی ثانیااوبالعرض نوصفتیت دمفرددپاره دلفظ هم صحیح دی .

سوال بناپه دی لازمیږي فصل په مابین دموصوف اوصفت کښې په اجنبي سره چې وَضعَ لمعنًی دی

جواب دافصل په اجنبي سره نه دی بلکه په متعلقاتودموصوف سره دی ځکه چې وضع صفت اول دپاره دلفظ دی ،اولمعنی متعلق دی په وضع پورې **وَلَابُدَّحِيْنَئِذٍالخ** غرض دشارح اعتراض دی په مصف باندې . حاصل يې دادی چې هرکله مفردصفت شو دپاره دلفظ ،نودلفظ دپاره دوه صفته شو .اول وُضِعَ اوثاني مفرد .نوڅه وجه ده چې مصنف صفت اول په عنوان دجملې فعليې ماضوېې سره ذکرکه اوثاني يې په عنوان دمفردسره ذکرکه .

نوشارح وايې چې **ولابدحِمِنْ بَيَانِ نُكْتَةٍ** اولابدی ده په وخت دجعل دمفردکښې صفت دپاره دلفظ ، دبيان دنکتی نه **فِي اِيْرَادِاَحَدَالْوَصْفَيْنِ جُمْلَةًفِعْلِيَّةًوالاخرِمفردًا** ، په راوړلوديوصفت کښې جمله فعليه اوبل ، مفرديعنې غيرجمله **وَكَانَ النُكْتَةَالخ** دااشاره ده جواب ته ، حاصل يې دادی چې دا کارمصنف ديونکتی ماتحت کړی دی اوهغه نکته ،تنبيه قائمول دي په دی خبره چې وضع دلفظ مقدمه ده په افراددلفظ اوداتنبيه نه حاصليده مګرپه دې صفت اول يعنې وضع په شکل دجملې فعليې ماضوېې سره ذکرکړی ځکه چې فعل ماضي دلالت کوي په تقدم دزمانې باندې نوؤضع دلالت وکه په تقدم دوضع اومقصدحاصل شه **وَكَانَ النُكْتَةَفِيْهِ** په کانَ کښې اشاره ده دی خبرې ته چې ددې اعتراض نه نورجوابونه هم شته چې مذکوردی په مطولاتوکښې ،نوسوال دی څوک نه کوي چې کان خورا ځی دپاره دشک اوحال دادی چې داجواب جزمي اويقني دی نووايې چې نکته په دې کښې **اَلتَّنْبِيْهُ عَلٰى تَقَدمِ الْوَضْعِ عَلَى الإفْرَادِ.** تقدم دوضع دلفظ دی په **اِفراددلفظ حَيْثُ اَتٰى بِصِيْغَةِ الْمَاضِي** په دې مصنف اتيان وکه په صيغه دماضي (په صفت اول کښې) په خلاف دافرادنه

سوال : فعل ماضي خودلالت کوي په تقدم زماني باندې .اوحال دادی چې زمانه دوضع

دالفاظ اوزمانه دافرااوترکیب واحده ده یعنې کله چې یولفظ موضوع ګرځي نویابه مفردوی اویامرکب

جواب مرادتقدم دوضع نه په افرادوترکیب باندې تقدم ذاتي دی نه زماني.

سوال : چې هرکله مرادتقدم ذاتي وو نوماضي به پرې څنګه دلالت وکړي ځکه چې ماضي خوفقط دلالت کوي په تقدم زماني باندې ،نوداتنبیه غلطه شوه .

جواب : دلالت دماضي په تقدم ذاتي په طورداستعاری سره دی یعنې مجازا داځکه چې هرکله داسې یولفظ نه ووچې دلالت وکړي په تقدم ذاتي نوموږ په استعاری سره لفظ دماضي واغسته دپاره ددې چې دلالت وکړي په تقدم ذاتي نودفعل ماضي نه تقدم زماني خومرادنه دی دوجې دظهوردفسادنه ،نوتقدم ذاتي ترې مرادشو مجازا . پوهه شه چې تقدم ذاتي دیته وایي چې متقدم محتاج الیه وي دپاره دمتاخر اوعلت تام ورلره هم وي لکه تقدم دحرکت دید شه په حرکت دمفتاح باندې پس حرکت دید محتاج الیه دی دپاره دحرکت دمفتاح اوعلت تام ورلره هم دی ، یعنې حرکت دمفتاح وجودا او عدماموقوف دی په حرکت دیدباندې.

وَأَمَّا نَصْبُهُ، دابیان داحتمال ثالث دی په لفظ دمفرد کښې چې نصب دی **وَإِنْ لَمْ يُسَاعِدْهُ رَسْمُ الْخَطِّ** اګرکه موافق نه دی ددې سره رسم الخط .

سوال : دااحتمال دنصب یې ولې مغائرکه دااحتمالینواولینونه په دې شان سره چې هلته یې امامجروراوموفوع وئیلی وو اودلته یې وامانصبه اووی اومنصوب یې اونه وی .

جواب : حال دنصب دمفردمغائردی دحال دجراودرفع نه ځکه چې دحالت دنصب سره یې رسم الخط موافق نه دی ،نواسلوب اوطریقه یې هم مغائره کړه دپاره دتنبیه په دې مخالفت .

سوال : رسم الخط یې ولې موافق نه دی جواب.ځکه چې په ا خرکښې یې الف نه دی لیکلی .

قاعده د، رسم الخط : پوهه شه چې قاعده درسم الخط دنصب داده چې هرمفردمنصرف چې خالي وي دالف لام، تا ، یانسبتي، اضافت اوالف مقصوره نه نو په اخردده ، کښې به په حالت نصبی کښی الف لیکلی شي ،والافلا .

سوال : په اخردمفرد کښې په حالت دنصب کښې الف ولې ونه لیکلی شه ، حتی چې رسم الخط یې موافق شوی وی دحالت نصبی سره .

جواب اول . الف په هغه وخت کښی لیکلی شي په آخرکښی چې کله یې نصب یقیني وي

اومتعین وي اودلته نصب دمفرد احتمالي دی يعنې يواحتمال په کښې دنصب دی.
بس دویم جواب دادی چې که الف يې په اخيرکښې ليکلی وي نواحتمالين اولين به بيخي زائله شوي وو نو الف يې ترک که دپاره ددې چې هراحتمال اراده کول ممکن شي. **فَعَلٰى اَنَّهُ حَالٌ مِنْ الْمُسْتَكِنِ فِى وُضِعَ** دابيان دوجې دنصب دی يعنې نصب دمفردبنابرحاليت دی اوپه ذوالحال کښې يې دوه احتماله دي يودا چې حال شي دضميردوُضِعَ نه اوبل داچې حال شي دلمعنى نه. پس بناپه دې چې حال شي ضميروضع نه چې هغه راجع دی لفظ ته ، فالمعنى حال كون اللفظ مفراد. سوال: حاليت دمفرددضميردوضع نه نه دی صحيح ، ځکه چې حال يادفاعل نه وا قع کيږي يادمفعول نه اوضميردوضع نائب فاعل دی نه فاعل اونه مفعول ،جواب: نائب فاعل ، فاعل حکمي دی عندالجمهور ،اوفاعل ، حقيقي دی عندصاحب المفصل ،اوحال تر ې واقع کيدل صحيح دي ، اومراد دفاعل نه عام دی په تعريف دحال کښې که فاعل حقيقي وي اوکه او حکمي.

اَوْمِنَ الْمَعْنٰى. دابيان داحتمال ثاني دی په ذوالحال کښې ، يعنې ياحال دی دمعنى نه **فَاِنَّهُ مَفْعُولٌ بِهٖ بِوَاسِطَةِ اللَّامِ**.غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراضاتوثلثوده حاصل دا عتراض اول دادی چې ګرځول دمفردحال دلمعنى نه غيرصحيح دي ځکه چې حال يادفاعل نه وي اويادمفعول نه،اومعنى نه فاعل دی اونه مفعول ، بلکه مجروردجاردی اوحاصل داعتراض ثاني دادی چې ګرځول دمفردحال دلمعنى ،نه په دې وجه هم نه صحيح کيږي ، چې شرط دادی چې عامل دحال اوذوالحال به واحدوی ،اودلته کښې داشرط مفقوددی ځکه چې عامل دحال ، فعل يعنې وُضِعَ دی اوعامل دذوالحال لام جاره دی ،اواعتراض ثالث دادی چې قاعده داده چې عامل دذوالحال به يافعل وي اوياشبه فعل ،اودلته کښې يې عامل لام جاره دی فاجاب بقوله فانه الخ حاصل دجواب يې دادی چې لمعنى مفعول به ده دپاره د**وُضِعَ** په واسطې دلام سره ځکه چې قانون د ادی چې جارمجرورمفعول به غيرصريحي وي ،لکه شارح په بحث دمفعول فيه کښې ذکرکړيدی چې **واماالمجرور بهافهومفعول به بواسطة حرف الجر**، نومعلومه شوه چې عامل دلمعنى هم وُضِعَ دی نواول دواړه اعتراضونه دفع شو،ځکه چې لمعنى مفعول به شوه نوحاليت تر ې صحيح شه اوعامل دحال اودذوالحال هم واحدوګرزيده چې وُضِعَ دی اواعتراض ثالث هم دفع شه ځکه چې معلومه شوه چې عامل دحال فعل يعنې وُضِعَ دی اولام واسطه ده .

سوال: هرکله چې لمعنی مفعول به شوه دپاره دوضع او حال دادی چې وضع فعل متعدي بنفسه دی نو تعدیت یې په لام جاره سره صحیح نه شه

جواب تعدیت یې بناپه دې په یو قاعده باندې هغه داده چې هرکله یو فعل متعدي وي مفعول واحد ته او دغه مفعول نائب فاعل وګرځي نو دغه فعل به لازمي ګرځي نو لامحاله به متعدي کیږي په حرف جرسره نو وضع متعدي بنفسه دی مفعول ته چې ضمیر مستکن دی اوګرزیدلی دی هغه نائب فاعل نو اوس لازمي وګرزیده نو چې متعدي کیږي مفعول ثاني ته چې معنی دی نو متعدي کیږي به په لام جاره سره بناپه دغه قانون.

سوال: قاعده داده چې هرکله ذوالحال نکره وي نو تقدیم دحال په ذوالحال باندې واجب وي، لکه جاء نی راکبًارجل نو پکاره ده چې مفرداً مقدم شوی وی په لمعنی باندې له وجې دنکارت دمعنی (ذوالحال) نه.

جواب: دا قاعده په هغه ځای کښې جاری کیږي چې ذوالحال مجرورپه حرف جریا اضافت سره نه وي. اودلته لمعنی مجرورپه حرف جرسره دی وجه یې داده چې تقدیم دمجرورپه جارنه دی صحیح، نو تقدیم دمعمول دمجرورپه جارپه طریقې اولی سره نه دی صحیح او تقدیم دمجرورپه جارځکه نه دی صحیح چې حروف جاره ضعیف العمل دی، نو په متاخرکښې عمل کولی شي خو په متقدم کښې نه شي کولی، **وَوَجْهُ صِحَّتِهِ الخ** غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې ګرځول دمفرد حال دضمیردوُضِعَ نه نه دی صحیح. ځکه چې شرط په حال کښې دادی چې زمانه دحال اودعامل دذوالحال به واحده وي، اودلته دا شرط مفقوددی، ځکه چې عامل دذوالحال یعنې وضع مقدمه ده په افراداوترکیب باندې کمامر، فاجاب بقوله ووجه صحته الخ حاصل یې دادی چې تقدم دوضع په افراد اوترکیب باندې ذاتي دی اوتقدم ذاتي مستلزم دی معیت زماني لره نو بناپه دې وضع اګرچې مقدمه ده په افرادباندې په اعتبارد ذات سره **لکنهٔ مقَارِنٌ لَهُ بحسب الز ا مانِ**، ځکه چې وضع علت دی دپاره افراداو دترکیب او زمانه دعلت اومعلول واحده وي لکه څنګه چې زمانه دحرکت دید اودحرکت دمفتاح واحد ه ده نو شارح وایې چې وجه دصحت دحالیت دمفرد داده چې **أَنَّ الْوَضعَ وَإِنْ كَانَ مُقَد ا مَا عَلَى الإِفْرَادِ بِحَسبِ الذات**.

بې شکه، وضع اګرچې مقدمه ده دافرادنه بالذات **لَكِنَّهُ مُقَارِنٌ له بحسب الزمان** لیکن مقارنه ده دافرادسره په زمانه کښې. **وَهٰذَا القَدْرُ كَافٍ لِصِحَّةِ الْحَالِيَةِ** او دا اندازه دمقارنت یعنې مقارنت

زماني كافي دى دپاره دصحت دحاليت .

اقسام التقدم پوهه شه چې تقدم په پنځه قسمه دى . ۱ . تقدم ذاتي . داد يته وايې چې متقدم محتاج اليه دمتاخروي اوعلت تام ورله هم وي . لكه تقدم دحركت ديد په حركت دمفتاح باندې اوديته تقدم بالعليت هم وايې (۲) تقدم بالطبع اوداديته وايې چې متقدم محتاج اليه دمتاخروي خوعلت تام ورلره نه وي لكه تقدم دواحد په اثنين باندې (۳) تقدم بالشرف ، اودا ديته وايې چې متقدم موصوف وي په داسې كمالاتو چې متاخرنه وي موصوف په هغې باندې ،لكه تقدم دابوبكرصديق ﷺ شوه په مونږه باندى . . (۴) تقدم بالرتبه داديته وايې چې متقدم قريب وي په نسبت سره مبدء معيني ته ،دمتاخرن.لكه تقدم دامام شه په صف باندې په نسبت سره محراب ته . ،(۵) تقدم بالزمان ،اوداهغه دى چې زمانه دمتقدم مخكښې وي دمتاخرنه ،لكه تقدم دابوجهل شه مثلااودا په دوه قسمه دى يوهغه دى چې مجتمع فى الوجودوي دمتاخرسره ، لكه اب اوابن پس ظاهره ده چې زمانه داب مقدمه دى په ابن باندې اودواړه په يوه زمانه كښې جمع كيدى هم شي اوبل هغه چې مجتمع فى الوجودنه وي لكه تقدم ديوم السبت شه په يوم الاحدباندې فافهم داپنځه قسمه مشهوردى . .اوشپږم قسم په نزد دمحققينوتقدم بالماهيت دى ، اوداديته وايې چې متقدم په اعتباردسنخ الذات سره مقدم وي لكه تقدم دحيوان شه په ناطق باندې په اعتباردنفس ذات سره ، يالكه تقدم دهرعام شه په خاص باندې . كذافى الامورالعامة

وَقَيْدُ الْاِفْرَادِ لِاِخْرَاجِ الْمُرَكَّبَاتِ مُطلقًا سَوَاءٌ كَانَتْ كَلَامِيَةً اَوْغَيْرَكَلَامِيَةٍ . پوهه شه چې مفردفصل آخردى په تعريف دكلمې كښې نوغرض دشارح ددې عبارت نه بيان دفائدى دقيددمفرددى اوبل غرض يې تمهيددى ردته په دوه كسانو ، چې يوابن حاجب دى اوبل صاحب المفصل نوردپه ابن حاجب په دې قول سره دى **ولايخفى على الفطن الخ** اوپه صاحب المفصل باندې بقوله وماااورده الخ .

سوال : اخراج دمركباتوپه قيددمفردسره تحصيل دحاصل دى ځكه چې مركبات خارج شويدى په قيددوضع سره اودا ځكه چې وضع په مركباتوكښې نشته بلكه په اجزاء دمركباتوكښې ده چې مفردات دى نوكله چې مصنف وضع ذكركړه نومركبات ترې خارج شو ،ددينه دوه جوابونه دي .

جواب اول : په مركباتوكښې هم وضع شه اگرچې بالذات نه ده بلكه په اعتباراجزاء سره ده نوگويامركبات هم موضوع دى نوقيددوضع مخرج نه شه دپاره دمركباتونواخراج يې په

مفرد سره صحیح شو

دوئم جواب : چې په مرکباتو کښې اګرچې وضع شخصي نیشته لیکن وضع نوعي په کښې شته ، وضع نوعي دیته وايي چې الفاظ کثیره وضع شي دپاره معنی واحدی په واسطې د مفهوم کلي سره ،مثلامفهوم کلي دادی چې هرهغه لفظ چې مرکب وي دمبتدا او خبرنه نودابه وضع وي دپاره دهغه خبرچې مقابل دانشاء دی یعنې کلام ،نومعلومه شوه چې په مرکباتو کښې هم وضع شته ،نو شارح وايي چې قید دافراد دپاره داخراج دمرکباتو دی ، برابره خبره ده چې مرکبات کلامي وي اوکه غیرکلامي مرکب کلامي مرکب تام ته وايي ،اوغیرکلامي مرکب ناقص ته وايي **فَيَخْرُجُ بِهِ عَنْ حَدِّ الكلمة مِثْلُ الرَّجُلِ وَقَائِمَةٌ وبَصْرِيٌّ وأَمْثَالُهَا**.

فاتفریعیه ده .نو داتفریع ده په فائدی دقید دمفردباندې ، یعنې پس خارج شو دتعریف دکلمي نه په قید دمفرد سره مثل دالرجل اوقائمة اوبصری اوامثال دقائمة ، **مِمَّا يَدُلُّ جُزْءُ اللَّفْظِ على جزء الْمَعْنَى** یعنې هغه الفاظ چې جزء دلفظ یې دلالت کوي په جزء دمعنی ، پس الرجل په نزددمصنف باندې مرکب دی ځکه چې جزء دلفظ یې دلالت کوي په جزء دمعنی باندې ، یعنې الف لام دلالت کوي په تعریف اورجل دلالت کوي په خپله معنی ، چې مذکّر **من بنی آدم يتجاوزعن حَدِّ الصغر إِلَى حَدِّ الكِبَرِ** اودغه شان قائمة دلالت کوي په ذات من له القیام ، اوتاپه تانیث دذات ،اوبصره دلالت کوي په بلد .اویادلالت کوي په نسبت **لَكِنَّهُ الخ** دادفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې هرکله الرجل اوقائمه وغیره مرکبات دي عند المصنف نوبیامعرب په اعراب واحد سره ولې دی .

فأجاب بقوله .وَلَكِنَّهُ يَعَدُ لِشِدَّةِ الإِمْتِزَاجِ لَفْظَةً وَاحِدَةً وَأُعْرِبَ بِإِعْرَابٍ وَاحِدٍ لیکن شمیرلی شي داالفاظ لفظ واحد دوچې دشدة اتصال نه اومعرب کړی شو په اعراب واحد سره داقول دشارح چې وامثالهادی مرفوع دی اوعطف دی په قائمة باندې سوال پکارداوه چې شارح اتیان کړی وی په ضمیردتثنیې باندې اُووئیلی یې وی چې وامثالهماځکه چې مذکورپه ماسبق کښې شیئین دی ، . یوقائمه اوبل بصری .جواب ،شارح اکتفاء وکړه په ضمیردواحدمؤنث چې را جع دی قائمه ته ځکه چې قائمة اوبصری دواړه متحدفی الحکم دی .

سوال : ذکردوامثالهامستدرک دی ځکه چې شارح یوځل مثال ذکرکه په ماسبق کښې نوامثالهاته څه ضرورت وو .

جواب وامثالها مستدرک نه دی ځکه چې دمثل الرجل او دامثالهامفاد جدا جدا دی هغه داچې په مثل کښې اشاره ده عموم دمدخول خپل ته چې الرجل دی لکه الفرس الحمار وغیره اوپه امثالهاکښې اشاره ده عموم دباقي مرکباتوته لکه زید قائم اوعمروذاهب وغیره وبقی مثل عبدالله علما اوباقي پاتې شه مثل دعبدالله داخل په تعریف دکلمې کښې اومراددمثل دعبدالله نه هرمرکب اضافي دی په حالت دعلمیت کښې .مع انه معرب باعرابین سره ددې چې دامعرب دی په اعرابینو سره

سوال : هرکله چې عبدالله کلمه شوه عندالمصنف نومعرب په اعرابینوسره ولې ده حالانکه تعدددعراب دلالت کوي په ترکیب .

جواب : کون دده معرب په اعرابینوسره بنادی په یوقاعده چې عبدالغفورذکرکړی ده هغه داده ،چې عبدالله علم منقول دی دمعنی اصلي خپلې نه، او معتبرپه اعلام منقوله کښې وضعه سابقه وي ، یعنې وضع ترکیبي اوپه وضع سابقه کښې داکلمتین دي اومعرب دی په اعرابینوسره . ، نوبعدالنقل هم پاتې شه په اعرابینولیکون اشعاراوتنبیهاعلی النقل دویم جواب دادی چې عبدالله معرب دی په اعراب واحدسره ، چې اعراب دجزء اول دی ، .اوهرچې اعراب دجزء ثاني نوهغه حکایی دی چې جر دی ځکه چې دامضاف الیه دی اومجروردی په خوادعلمیت نه ،نو بعدالعلمیت هم مجرورپریخودی شه **وَلَايَخْفَى الـخ** غرض دشارح ددې عبارت نه رددی په ابن حاجب اوصاحب المفصل باندې ردپه مصنف دادی چې په عبارت دمنصف کښې خلل دی په دوه وجهوسره ،یوداچې په تعریف دکلمې کښې دخول دهغه شي راغی چې لائق الخروج دی ، . یعنې عبدالله په حالت دعلمیت کښې اودالائق دخروج ځکه دی چې معرب دی په اعرابینوسره ، اوبل خلل دادی چې دتعریف دکلمې نه خروج دهغه شي راغی چې لائق الدخول دی په کلمه کښې چې الرجل اوبصری دی اوداځکه لائق ددخول دی چې دامعرب دی په اعراب واحده سره ،اواعراب واحد دلالت کوي په وحدت دکلمې باندې .نوشارح وایي .**ولايَخْفَى عَلَى الفَطِنِ العَارِفِ بِالْغَرَضِ مِنْ عِلْمِ النَّحْو** . اوخفی نه ده په هغه چاچې ذکی دی اوپوهه دی په غرض دعلم نحوی **اَنَّهُ لَوْكَانَ الامرُ بِالعَكسِ لَكَانَ اَنْسَبَ**.دا خبره چې که چرې امربالعکس وي نودابه زیاته مناسبه وه. عکس داچې عبدالله خارج وی دتعریف دکلمې نه او الرجل قائمة وغیره داخل وي.

سوال : غرض دعلم نحوی څه دی ؟

جواب غرض دعلم نحوی بحث دی داحوالو دلفظ نه نو ښا په دې عبدالله په حالت دعلمیت کښې مرکب دی من حیث اللفظ اومعرب دی په اعرابینو .نو مناسب دی اخراج دده دکلمې نه اوالرجل اوقائمة وغیره مفرددی من حیث اللفظ اومعرب نه دی په اعرابینو سره ،نو مناسب دی دخول ددوی په کلمه کښې

اختلاف په مثل دعبدالله اوالرجل کښې خلاصه داده چې په مثل دعبدالله اوالرجل وغیره کښې دمصنف اوشارح ملاجامي اختلاف دی .دمصنف په نزدعبدالله داخل دې په کلمه کښې اوالرجل قائمة وغیره خارج دی په کلمه کښې والتفصیل ماذکرنا ،جواب دجانب دمصنف نه شارح ملاجامي ته دادی چې غرض دعلم نحوی یواځې بحث دلفظ نه نه دی بلکه نحاة بحث کوي دلفظ نه سره دلحاظ دمعنی نه اوقرینه یې داده چې که چرې غرض دنحاة بحث دلفظ نه وي فقط بدون رعایة المعنی نو بیابه دوی دمهملاتو نه هم بحث کوو ځکه چې مهملات هم الفاظ دی لیکن نحاة بحث دمهملاتو نه نه کوي نومعلومه شوه چې رعایت دمعنی هم معتبردی .نو معنی دعبدالله علمامفرده ده نو ځکه په کلمه کښې داخل پاتې شه . اومعنی دالرجل قائمة وغیره مرکبه ده . نوځکه دکلمې نه خارج شو . نوراجح مذهب دمصنف دی . **وَمَاأَوْرَدَهُ صَاحِبُ الْمُفَصَّلِ** پوهه شه چې دلته یوغرض دصاحب المفصل دی اوبل غرض دشارح دی دنقل دقول دصاحب المفصل نه ،غرض دصاحب المفصل تعریف دی دپاره دکلمې په داسې نهج سره چې مثل دعبدالله علماًاو الرجل قائمة وغیره تول یې دکلمې نه خارج کړیدی کماسیاتي ، اوا غراض دشارح ،دنقل دقول د صاحب المفصل نه دوه دي ، یورددې په مصنف باندې چې په تعریف دکلمې کښې یې مخالفت کړی دی دصاحب المفصل نه حالانکه هغه یې اصل دی اومخالفت یې په دې طریقې سره کړدی دی چې صاحب المفصل په تعریف دکلمې کښې اللفظةُ ذکرکړیدی سره دالف لام اوتانه .اومصنف لفظ بغیردتا او الف لام نه راوړی دی .اوبل غرض یې رددی په صاحب المفصل باندې په دې شان سره چې په تعریف دصاحب المفصل کښې خلل من وجه واحددی .. هغه داچې خروج دهغه شي راغی چې لائق الدخول دی یعنې الرجل اوقائمة وغیره په ذکرکولو دقید دمفرد سره په تعریف دکلمې کښې حالانکه ددې خارجول مناسب وو نوشارح وایي وماأورده صاحب المفصل فی تعریف الکلمة اوهغه چې راوړی دی صاحب المفصل په تعریف دکلمې کښې **حَيْثُ قَالَ هِيَ اللَّفْظَةُ الدَّالَّةُ عَلَى** معنی مفرد **بِالْوَضْعِ** په دې شان سره چې وئیلی یې دي په وضعي سره . بالوضع متعلق

دی په الدلالة پوري **فَمِثْل عبدالله عَلَمًا خَرَجَ عَنْهُ** پس مثل دعبدالله په حالت دعلمیت کښې خارج شه دتعریف دکلمې نه **فَاِنَّهُ لَايُقَالُ لَهُ لَفْظَةٌ وَّاحِدَةٌ.** ځکه چې نه وئیلې کیږي عبدالله ته لفظ واحد بلکه دالفظین دی اومعتبرپه نزدده په تعریف دکلمې کښې وحدت دلفظ دی ځکه چې تادپاره دوحدت ده **کمامرو یَبْقٰی مِثْلُ الرَّجُلِ وَقَائِمَةٌ وَبَصْرِیٌّ مِمَّا یُعَدُّ لِشِدَّةِ الْاِمْتِزَاجِ لَفْظَةً وَّاحِدَةً دَاخِلًا فِیْهِ**

اوداالفاظ مذکوره باقې پاتې دی په تعریف دکلمې کښې تاهنوز، **فَاَخْرَجَهُ بِقَیْدِ الْاِفْرَادِ.** پس خارج یې کړل په قید دمفرد سره . **وَلَوْلَمْ یُخْرِجْهُ بِتَرْکِهٖ لَکَانَ اَنْسَبَ لِمَا عَرَفْتَ** داتصریح ده بالرد یعنې که نه یې وې خارج کړی په ترک دقید دسره ، (یعنې قید دمفرد یې نه وی ذکرکړی) نودابه زیاته مناسبه وه په هغه وجه چې تا وپیژنده .چې هغه غرض دعلم النحو دی .اوجواب ددې ردنه هم هغه دی چې مخکښې ذکرشه چې نحاة دلفظ نه بحث کوي سره درعایت دمعنی نه اومخالفت دابن حاجب دمفصل نه هم دیو نکتې دوجې نه دی .هغه داچې ابن حاجب وحدت دکلمې نه دی قصد کړی په تعریف دکلمې کښې ، اوصاحب المفصل قصد کړی دی **کمامروَاَعْلَمْ اَنَّ الْوَضْعَ یَسْتَلْزِمُ الخ.** غرض دشارح ددې عبارت نه ترمتن آتی پورې جواب دی دسوالینو ،او اصلاح دعبارت دکافې اودمفصل ده ، یوسوال دادی چې کافیه فرع دمفصل ده اومذکورپه مفصل کښې دلالت دی په تعریف دکلمې کښې کمامرانفا. اوپه کافیه کښې دلالت نه دی ذکرکړی ، .نوبناپه دې لازم شه مخالفت دفرع داصل نه . وهذا غیرصحیح .سوال ثاني دادی چې دلالت په تعریف دکلمې کښې معتبردی یانه ، که معتبروي نولازمیږي په عبارت دکافیې کښې قصور ،دوجې دعدم ذکردامرضروری نه . اوکه نه وی معتبرنولازمیږي په عبارت مفصل کښې لغویت اواستدراک ، خلاصه دجواب داده چې دلالت معتبردی په تعریف دکلمې کښې نوعبارت دمفصل خوصحیح شو اوقصورپه عبارت دمصنف کښې هم نشته ځکه چې وضع مستلزم ده دلالت لره نوذکرته یې حاجت پاتې نه شو نوشارح وایې چې پوهه شه چې وضع مستلزمه ده دلالت لره .**لِاَنَّ الدَّلَالَةَ کَوْنُ الشَّیِٔ بِحَیْثُ یُفْهَمُ مِنْهُ الشَّیُٔ الثَّانِیْ** دادلیل دی دپاره داستلزام دوضع دلالت لره ،ځکه چې دلالت کیدل دیوشي دی په داسې شان سره چې فهم کیږي ترینه شي اخر، **فَمَتٰی تَحَقَّقَ الوضع** پس هرکله چې وضع متحققه شوه په تعریف دکلمې کښې نومتحقق شه دلالت هم حاصل دادی چې وضع کل دی اودلالت جزء دی ځکه چې وضع

مشتمله ده په جزئینو . یو تخصیص شي بشی . بل بحیث متی اطلق او احس الخ دی نو دا جزء ثاني معنی د دلالت ده پس هر کله چې دلالت جزء د وضع شه ، او کل مستلزم وي جزء لره نو ځکه وضع د مستلزم شوه دلالت لره **فَبَعْدَ ذِكْرِ الْوَضْعِ لَا حَاجَةَ إِلَى ذِكْرِ الدَّلَالَةِ كَمَا وَقَعَ فِي هٰذَا الْكِتَابِ،** فا تفریعیه ده یعنې پس د ذکر د وضع نه حاجت نشته ذکر د دلالت ته لکه چې دا په دې کتاب (کافیه) کښې واقع دی نو عبارت د کافیې هم صحیح شه **لٰكِنَّ الدَّلَالَةَ الخ.** دا دفع د اعتراض مقدر ده چې وارد دې په مفصل باندې حاصل یې دادی . چې لکه څنګه چې وضع مستلزمه ده دلالت لره نو دلالت به هم مستلز م وي وضع لره ، نو ذکر د وضع پس د ذکر د دلالت نه لغوه شه په عبارت مفصل کښې خلاصه د جواب یې داده چې دلالت مستلز م نه دی وضع لره یعنې د وضع او د دلالت په مابین کښې نسبة د مساوات نیشته بلکه وضع خاصه ده ، او دلالت عام دی ځکه چې دلالت عقلي او طبعي هم کیدی شي ، او عام مستلز م نه وي خاص لره لکه چې حیوان مستلزم نه دی انسان لره د وجې د وجود د حیوان نه په ضمن د حمار کښې مثلا ، نو د دلالت نه پس وضع ذکر کول صحیح شو. **لِإِمْكَانِ أَنْ تَكُوْنَ بِالْعَقْلِ كَدَلَالَةِ لَفْظِ دَيْزِ الْمَسْمُوْعِ مِنْ وَّرَاءِ الْجِدَارِ عَلَى وُجُوْدِ اللَّافِظِ** ځکه چې ممکنه ده چې دلالت دی عقلي وي لکه دلالت د دیز چې مسموع من وراء الجدار وی په وجود د لافظ باندې **وَأَنْ تَكُوْنَ بِالطَّبْعِ كَدَلَالَةِ أُحْ أُحْ عَلَى وَجْعِ الصَّدْرِ:** او ممکنه ده چې وي دلالت په اعتبار د طبیعت سره لکه دلالت د اح اح شو په وجع الصدر باندې **فَبَعْدَ ذِكْرِ الدَّلَالَةِ لَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِ الْوَضْعِ كَمَا فِي الْمُفَصَّلِ.** پس بعد د ذکر کولو دلالت نه لابدی شوه د ذکر د وضع نه لکه په مفصل کښې حیث قال اللفظة الدالة بالوضع نو عبارت د مفصل هم صحیح شه .

هر کله چې فارغ شه مصنف د تعریف د کلمې نه نو شروع یې وکړه په تقسیم د کلمې کښې ، **فقال وَهِيَ وقال الشارح أَيِ الْكَلِمَةُ** ..غرض د شارح د دې نه تعین د مرجع د ضمیر د هي دی او بل غرض ، دفع د اعتراض مقدر ده ، حاصل یې دادی چې ضمیر د هی به خالي نه وي یا به راجع وي لفظ د کلمې ته او یا مفهوم د کلمې ته ، چې لفظ وضع الخ دی . و کلاهما باطل ، ځکه چې که راجع وی لفظ د کلمې ته نو اګرچې مطابقت شته په مابین د راجع او مرجع کښې فی التانیث . لیکن تقسیم نه صحیح کیږي . د دوه وجهونه یو خو دا چې تقسیم د مفهوم کیږي نه د لفظ . او بله دا چې لازمیږي تقسیم د شي الی نفسه او الی غیره ته ،ځکه چې الکلمة پخپله هم اسم دی علامه د اسمیت یې الف لام دی ،نو بنا په دې تقسیم د کلمې اسم ته الی نفسه دی او فعل او حرف ته الی

غیره ته دی . وهذا باطل .اوکه راجع وي مفهوم دکلمې ته نوبیا تقسیم خوصحیح دی لیکن بیا مطابقت نه راځي په مابین دراجع اومرجع کښي ځکه چې مرجع مذکردی چې مفهوم دی اوضمیرمونث دی .فاجاب الشارح بقوله ای الکلمة . یعني ضمیرراجع دی لفظ دکلمې ته خوپه اعتباردمفهوم سره .نومعنی داچې کلمة په اعتباردمفهوم سره په درې قسمه ده نومطابقت هم راغی اوتقسیم هم صحیح شه . اوتقسیم الی نفسه اوالی غیره ته هم لازم نه ځکه چې داتقسیم په اعتباردمفهوم دکلمې سره ده چې لفظ وضع لمعنی الخ دی اودامفهوم درې واړواقسامو دکلمې ته شامل دی أی مُنْقَسِمَةٌ پوهه شه چې غرض دشارح ددې نه تفسیردمعنی کنا یې لازمې دی اوداخبردمتبدا یعني دپاره دهی نه دی ، مطلب دادی چې هرکله چې ضمیردهی راجع شه کلمې ته په اعتباردمفهوم سره نولازم ددې سره انقسام دکلمې دی اقسام ثلثوته .نو مراد انقسام دکلمې دی په طوردکنایې سره ، کنایه عبارت دی انتقال دملزوم نه لازم ته یا دلازم نه ملزوم ته ، .نودلته انتقال دملزوم نه ا چې کلمه ده باعتبارالمفهوم) لازم ته راغلی دی چې ا نقسام دکلمې دی اقسام ثلثوته . اودا طریقه یې ا ختیاره کړه ځکه چې الکنایة ابلغ من التصریح ، اوداځکه چې په کنایه کښي دعوی سره ددلیل نه وي . لکه ته دیوسړي دسخاوت دعوی وکړی اووایې چې فلان کثیرالرمادی نوددلیل دسخاوت په دې کښي ضمني دی ځکه چې کثرت درماددلالت کوي په کثرت دطبخ . اوکثرت دطبخ دلالت کوي په کثرت دضیوفو اوکثرت دضیوفودلالت کوي په سخاوت . هرکله چې خبره داسې شوه نوردراغی په هغه شارحینوچې وایې چې مُنْقَسِمَةٌ خبرمحذوفه دې دپاره دمبتداچې هی دی ، تفصیل یې دادی چې بعض شارحین وایې چې هې مبتداده اوخبریې محذوف دی چې مُنْقَسِمَةٌ دی ، ځکه چې که خبریې محذوف نه شي بلکه خبریې اسم وفعل وحرف وګرزی ، نولازم به شی حمل دخاص په عام باندې چې ضمیردهې دی ځکه چې دې راجع دې کلمې ته او کلمه عامه ده . اوحمل دخاص په عام باطل دی ، ځکه چې لازم به شي حضردعام په خاص کښي ،ځکه چې قاعده داده چې متبدا منحصره وي په خبرکښي . او انحصاردعام په خاص کښي باطل دی، ځکه چې قاعده داده چې مبتدا منحصره وي په خبرکښي . اوانحصاردعام په خاص کښي باطل دی لکه که ته اووایې مثلاچې الکلمة اسم . نوکلمه منحصره شوه په اسم کښي اوداغلطه ده ځکه چې کلمه څنګه چې اسم دی نودغه شان فعل اوحرف هم کلمې دی ،نوځکه دابعض شارحین وایې چې خبریې اسم الخ نه دی بلکه خبریې مقدردی چې منقسمة دی . لیکن جواب یې دادی چې خبریې دامذکوردی یعنې اسم الخ اوحمل دخاص په عام

باندې هم نه راځي . ځکه چې دلته عطف مقدم دی په ربط

عطف او ربط عطف دیته وایي چې حکم په مجموعه باندې وشي . لکه کلمه اسم ، فعل او حرف دی . ربط دیته وایي چې په هرواحدواحد حکم وکړی شي لکه کلمه اسم دی فعل دی او حرف دی . پس هرکله چې عطف مقدم شه په حکم اوربط باندې نوحمل دمجموعې داسم فعل اوحرف راغی په هې باندې .نو محظورلازم نه شو

سوال : هرکله چې امورمتعدده خبرواقع شي دپاره دیو شي نوپکارده چې معرب شي په اعراب واحدباندې چې رفع ده بناپه دې چې مقتضي داعراب یوډی چې خبریت دی اوسره ددې چې دلته اعراب جارې شوی په ټولوامورو .

جواب : داهم بنادی په یوقاعده باندې ، هغه داده چې هرکله هروا حدامورمتعددونه قابل اوصالح دپاره داعراب وي نواعراب به په ټولوجارې کولی شي دپاره ددې چې لازم نه شي ترجیح بلامرجح . إِلَى هَذِهِ الْأَقْسَامِ الثَّلَاثَةِ: پوهه شه چې تقسیم په دوه قسمه دی یو تقسیم دکلي دی جزئیاتوته کتقسیم الحیوان الی الانسان والفرس اوبل تقسیم دکل دی اجزاءته لکه تقسیم دسکنجبین ماء خل اوعسل ته یالکه تقسیم دچایي ماء لبن اوشکر ته ،نو غرض د شارح په عبارت مذکوره کښې اشاره ده تعین دنوعي دتقسیم ته چې داتقسیم دکلي دی جزئیاتو ته ځکه چې اطلاق دقسم نه کیږي مګرپه جزیې .

فرق په مابین د،کلي جزیې او کل جزء کښې: کلي هغه ماهیت دی چې مشترک وي په مابین دجزئیا توکښې ،اومحمولیږي په هرواحداوهم په مجموعې لکه حیوان چې محمولیږي په هرواحددانسان فرس وغیره اوپه مجموعې هم لکه مثلا الانسان والفرس والبقرحیوان اوکل هغه ماهیت دی چې مشترک وي په مابین دمجموعې داجزاء کښې او حمل یې کیدی شي په مجموعې داجزاء ، نه په هرواحدواحدد جزئیاتو، لکه سکنجبین چې حمل یې په مجموعه داجزاء ، خپلو کیږي **فیقال الماء والخل والعسل سکنجبین** اوپه هرواحدواحدیې حمل نه کیږي **فلایقال الماء سکنجبین وهکذا،لفسادالمعنی.**

دتقسیم لغوی اواصطلاحې معنی : تقسیم په لغة کښې احداث الکثرة فی الواحدته وایې **اوپه اصطلاح کښې** : ضم دقیودا تومختلفودی امرواحدته په دې شان سره چې حاصل شي د هر قیدنه قسم علیحده . لکه کلمې ته قیددمقترن ضم کړی شه نوحاصل شه ترینه فعل اوچې غیر مقترن ورته ضم شه نوحاصل شه ترې اسم هکذا . نودغه امرواحدته مقسم وایې

اوهرجزيي حاصل ته يې قسم وايي . اوهرقسم ته په نسبت سره بل قسم ته قسيم يعنې مقابل وايي **وَمُنْحَصِرَةٌفِيْهَا** يو غرض دشارح بيان دحاصل المعنى دى اودريم غرض يې تعين ددعوى دى دپاره ددليـل چـې لانهـاالخ دى ،دريم غـرض تعيـن دمتعلـق دى دپـاره دجـارمجرورچې لانهادى اوڅلورم غرض دفع دسوال مقدرده حاصل يې دادى چې لانهابه خالي نه وي يابه دليل وي دپاره دتقسيم دكلمې اويادپاره انحصاردكلمې په اقسام ثلثوكښى ،هرواحدغلط دى اول خوڅكه چې تقسيم عبارت دى دضم القيودنه اوداتصوردى ځكه چې مفرددى اومفردتصوروي ،**فلاحاجة له الى الدليل** ځكه چې دليل دپاره دتصديق وي اودوئم احتمال ځكه صحيح نه دى چې دعوى دحصر، مذكوره نه ده په عبارت كښى فكيف اتى بدليله ، خلاصه دجواب داده چې لانهادليل دى دپاره دحصراودعوى دحصراګرچې مذكوره صراحة نه ده .. خومذكوده ضمنًا يعنې مستنبط ده دكلام دمصنف نه .

سوال : وجه داستنباط يې څه ده ، جواب ،وجه داستنباط ددعوى دحصر داده چې دامقام دتقسيم دى نوغالب پكښى حصردكلمې دى په اقساموثلاثوكښى ځكه چې مصنف اقسام دري ذكركړل اوبيايې سكوت اختياركه ، نومعلومه شوه چې دكلمې هم دغه دري اقسام دي ،ځكه كه نوروى نوذكركړي به يې وو **لانَهَااِىْ الْكَلِمَةُ**. داتعين دمرجع دى **لَمَاكَانَتْ مَوضُوْعَةً** غرض دشارح تكميل دمقام دى بدفع الاعتراضين حاصل داعتراض اول دادى چې **مشهوره** داده په مابين دعلماء كښى چې حصردكلمې په اقساموثلثوكښى عقلي دى حالانكه دعبارت دمصنف نه معلوميږي چې داحصراستقرايي دى ځكه چې عقل مجوزدقسم اخردى ،اوهغه داچې كلمه دې وي اونه دې دلالت بنفسهاكوي اونه بغيرها . نوداڅلوراحوالوشوپه كلمه كښى په دې طريقي سره چې كلمه به يادلالت بنفسهاكوي نودابه يااسم وي يافعل . يادلالت بغيرهانوداحرف دى اويابه نه دلالت لابنفسهاكوي اونه بغيرها . نودادى څلورم قسم شي ، اوحاصل داعتراض ثاني دادى چې دليل مطابق نه دى مدعي سره ،ځكه چې په دليل كښى دلالت ذكردى اوپه مدعي كښى دلالت نه دى ذكرشوى **فاجاب الشارح بقوله لماكانت موضوعة لمعنى** يعنې هركله چې كلمه وضعه ده دپاره دمعنى **وَالْوَضْعُ يَسْتَلْزِمُ الدَّلَالَةَ**. اووضع مستلزمه ده دپاره ددلالت نوكلمه مستلزمه شوه دپاره ددلالت .اودلالت دكلمې نه وي مګرپه **معنې** باندې نودا معنې به يابنفسهاوى اويابغيرهاكه بنفسهاوي نواسم يافعل دى . كه بغيرهاوي نوحرف دى ولارابع ،نوحصرعقلي دى ، پس اول سوال دفع شه .اودغه شان په كلمه كښى چې

کله دلالت معتبرشو نو دلیل هم مطابق شه دمدعي سره نو سوال ثاني هم دفع شه ، فهی دادفع دسوال ده چې لماکانت موضوعة شرط دی او داقول چې **اما ان تدل** یې جزاء ده **والجزاء لایکون الاجملة** او ان تدل په تاویل دمصدر سره مفرد دی فکیف تصح جزائیته . **فاجاب الشارح بقوله فهی** یعنې اما ان تدل خبر دمبتدا مقدری دی ، فتقدیره ای فهی اما ان تدل الخ . نو جزاء جمله شوه **إِمَّا مِنْ صِفَتِهَا** . غرض دشارح اصلاح دمتن ده په دفع داعتراض سره حاصل یې دادی چې ان تدل علی معنی خبر دی دپاره دان اوضمیر دهایې اسم دئې چې را جع دی کلمې ته نو داخبر به محمول وي وجوبا په اسم دان یعنې ها باندې ،اوداحمل نه دی صحیح ځکه چې ان تدل په تاویل دمصدر سره صرف وصف دی اوهاضمیر ذات دی نو لازمیږي حمل دصرف وصف په ذات باندې وهذا باطل ،**فاجاب الشارح بقوله من صفتها** حاصل یې دادی چې ان تدل خبرنه دی دپاره دان بلکه داپه تاویل دمصدر سره مبتداده اوخبریې مقدر دی چې من صفتهادی بیا مبتدا موخره سره دخبر مقدم نه مجموعه خبر دې دپاره دان نو حمل د ، صفة .. راغی په ان تدل باندې نو حمل دوصف په وصف راغی او دا صحیح دی **کَائِنٍ فِی نَفْسِهَا** یو غرض دشارح دتقدیر دکائن نه تعین دظرف دی چې دا ظرف مستقر دی متعلق دی په مقدر پوری .او بل غرض یې اشاره ده رد ته په شارح رضی باندې چې هغه وایې چې داظرف لغوه دی اومتعلق دی په ان تدل پورې ،دلیل درضی دادی چې ظرف لغوه اصل دی دظرف مستقرنه .ځکه چې ظرف مستقر محتاجه وي متعلق ته ،اوظرف لغوه نه وي محتاج ، اوعدم احتیاج اصل دی په نسبت سره احتیاج ته ، وجه دتردید په شارح رضی داده چې تعلق دفی نفسها په ان تدل مذکور پورې صحیح نه دی . ځکه چې په صله ددلالت کښې فی نه راځي بلکه با یا علی ، راځي .نوکه چرې دامتعلق وي په ان تدل پورې نو مصنف به علی معنی بنفسها یا علی فی نفسها وئیلی وي ، نو شارح رضی وایې په جواب کښې چې فی په معنی دبا سره ده **ای ان تدل علی معنی بنفسها** جواب یې دادی چې یو حرف په معنی دبل حرف سره ګرځول مجاز دی اوارتکاب دمجاز په تعریفاتو کښې ممنوع دی .

سوال : تقدیر خو هم خلاف الاصل دی نو شارح تقدیر دمتعلق ولې غوره که ؟

جواب متعلق چې کله دافعال عامو نه وي نو تقدیر د هغه شائع او کثیر دی .

پس ددې نه پوهه شه چې شارح کائن بالجر مقدر کړی دی .نو په دې کښې اشاره ده رد ته په شارح هندي باندې ، چې هغه کائناً مقدر کړی دی ای کائناً الخ ، وجه در دیې دا ده چې کائناً منصوب شي بنا برحالیت نو دی به حال وي دمعنی نه او حال قید وي دپاره دعامل دذوالحال

چې ان تدل دی او اصل په تعریفاتو کښی اطلاق او عموم وي نه تقید .
سوال : کائنٍ په تقدیر د جر باندې صفة دی د پاره د معنًی او صفت هم قید وي نو دا هم منافي دی دتعریف سره .
جواب : صفت قید وي خود پاره د موصوف نه د پاره د عامل ،او حال قید وي د پاره د عامل دذوالحال ،نوبنا په دې به دلالت ـ چې عامل دی) مقید شي په قید دفی نفسها حالانکه دلالت په کلمه کښی غیرمقید دی په فی نفسها ځکه چې کله کله فی غیرها هم وی **اَیْ فِیْ نَفْسِ الْکَلِمَةِ**:
غرض د شارح تعین د مرجع دی او دفع د سوال ده چې اصل په ضمیرکښی ارجاع ده قریب ته او قریب معنی ده نو ګنې ضمیر به معنی ته راجع وي ،فالتقدیر علی معنی فی نفس معنی نو لازم شه ظرفیت دشي د پاره د نفس خپل وهذا باطل ،او بل د راجع او مرجع په مابین کښی مطابقت هم نیشته فی التذکیر والتانیث ، فاجاب ، الشارح بقوله فی نفس الکلمة ، یعنې ضمیر کلمې ته راجع دی ، فلایلزم المحظوران **وَالْمُرَادُ بِکَوْنِ الْمَعْنَی الخ**. غرض د شارح اصلاح د متن ده په دفع داعتراض مقدر سره ، حاصل یې دادی چې کلمه د فی وضع ده د پاره د ظرفیت ،نو مدخول به یې ظرف وي د پاره د ماقبل ، او ظرفیت د کلمې صحیح نه دی ځکه چې ظرف یا زمان وي او یا مکان ، او کلمه نه زمان دی نه مکان ، فاجاب الشارح بقوله .. **وَالْمُرَادُ بِکَوْنِ الْمَعْنَی فِی نَفْسِهَا اَنْ تَدُلَّ عَلَیْهِ بِنَفْسِهَا**،او مراد په کیدلو د ، ،معنی فی نفسها ،دادی چې دلالت وکړي دغه کلمه په معنې باندې بنفسها یعنې ،**مِنْ غَیْرِ حَاجَةٍ اِلَی انْضِمَامِ کَلِمَةٍ اُخْرٰی** بغیر د حاجة نه انضمام د کلمې اخری ته **لِاِسْتِقْلَالِهِ بِالْمَفْهُوْمِیَّةِ** له وجې د استقلال د دې معنی نه په معلومیت کښی د دغه لفظ نه خلاصه دجواب داده فی په معنی د باسره دی نو ظرفیت د کلمې رانه غی .
سوال : فی په معنی د باسره ګرزول مخالف دی د قول ستاسو نه چې ذکرشه آنفا چې دا ارتکاب د مجاز دی په تعریفاتو کښی وهذا لایجوز .
جواب : ارتکاب د مجاز په تعریفاتو کښی جائزنه دی خو هله چې حقیقت متعذر نه وي او کله چې حقیقت متعذر وي نو دوجې د ضرورت نه مجاز فی التعریف صحیح دی نو هلته حقیقت معتذر نه وو ځکه چې دا ممکنه وه چې فی نفسها ظرف مستقر شي او متعلق شي په کائن مقدر پورې ، او دلته حقیقت متعذر دی چې ظرفیت د کلمې دی نو دوجه د حاجت نه فی په معنی د باسره وګرزولی شوه او دد دې سوال نه بل جواب هم کیدی شي هغه دا چې منم دا خبره چې لازمیږي ظرفیت د کلمې د پاره د معنًی ، خو دا ظرف تشبیهی دی نه حقیقي ، یعنې لکه څنګه

چې ظرف مشتمل وي په مظروف او محتاجه نه وي په استقرار د مظروف کښې شي اخرته همدغه شان کلمه اسمي او فعلي مشتمله وي په معنی خپله باندې او محتاجه نه وي په دلالت کښې په دغه معنی باندې انضمام د کلمې اخرى ته **مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ إِلَى انْضِمَامِ كَلِمَةٍ أُخْرَى إِلَيْهَا** .
بغیر د حاجت د انضمام د کلمې اخرى نه دى کلمې ته لاستقلاله بالمفهومية دوجې د استقلال ددې معنی نه په معلوميدلو کښې د دغه کلمې نه **أَوْمِنْ صِفَتِهَا أَنْ لَا تَدُلَّ عَلَى مَعْنًى فِي نَفْسِهَا بَلْ عَلَى مَعْنًى يَحْتَاجُ فِي الخ،**
غرض د شارح د تقدير من صفتهانه اشاره ده دیته چې اولاتدل عطف دى په ان تدل باندې ،نو په دې کښې عمل دى په قاعده مشهوره دعطف .
قاعده دعطف : قاعده داده چې کوم عبارت په جانب د معطوف علیه کښې مذکوروى صراحة نو هغه به په جانب د معطوف کښې مقدروي .
سوال : په عبارت سابقه کښې ان تدل قضيه موجبه ده نو تقدير د من صفتهاته ضرورت وو، چې حمل د صرف وصف په ذات لازم نه شي ، او په دې مقام کښې تقدير مذکورته ضرورت نشته ځکه چې ان لاتدل قضيه سالبه ده نو حمل نه را ځي ، ځکه چې په سالبه کښې عدم حمل وي .
جواب : ازدیاد د صفتها د پاره د مجرد موافقت دى د ماسبق سره نه د پاره د صحة الحمل ، پس شارح وایي چې یا به د صفت د کلمې نه داخبره وي چې دلالت به نه کوي په معنې فى نفسها باندې بلکه دلالت به کوي په معنى باندې چې محتاجه وي په دلالت کښې په دغه معنى باندې انضمام د کلمې اخرى ته دى ، کلمې ته ، دوجې د عدم استقلال بالمعلومية ، نه ،
اَلْقِسْمُ الثَّانِي د شارح د اَلقسم نه دوه غرضونه دى يو تقدير د موصوف ځکه چې الثانى صفت دى او هر موصوف تقاضا د موصوف کوي او بل غرض يې دفع د سوال مقدر ده حاصل يې دادى چې ظاهره ده چې الثانى به صفت وي د پاره د الكلمة ځکه چې الكلمة مقسم دى ، نو پکار داوه چې شارح الثانية ويلي واى د پاره د حصول د مطابقت په مابين د صفت او موصوف کښې فى التذكير والتانيث خلاصه جواب يې داده چې الثانى صفت د پاره د کلمې نه دى بلکه د اصفت دى د پاره د اسم ،نو مطابقت يې ظاهر دى .
سوال : قرينه يې څه ده ؟
جواب : بيان د اقسامو يعني دابيان د اقسامو دى نو ځکه الثاني صفت د قسم دى . **وَهُوَ مَا لَا يَدُلُّ الخ**، داتعين د ماهو المراد دى د دې قول د شارح چې أولاً دى ، او بل دفع د اعتراض مقدره

حاصل يې دادی چې حکم کول په الثاني باندې په الحرف سره غلط دی. ځکه چې الثاني اسم دی په وجه ددخول دالف لام په ده باندې. **فاجاب الشارح بقوله، هُوَمَالَایَدُلُّ عَلٰی مَعْنًی فِی نَفْسِهَا** يعنې ثاني هغه احتمال دی چې لالت نه کوي (کلمه) په معنی فی نفسها **اَلْحَرْفُ** نودا حرف دی خلاصه يې داده چې مراد لفظ دالثانی نه دی بلکه معنی دالثانی مراده ده چې احتمال ثاني دی **کَمِنْ وَاِلٰی** لکه کلمه دمن اوالی شوه **فَاِنَّهُمَا یَحْتَاجَانِ فِی الدَّلَالَةِ عَلٰی مَعْنَیَیْهِمَا اَعْنِی الْاِبْتِدَاءِ وَالْاِنْتِهَاءَ اِلٰی کَلِمَةٍ اُخری کَالْبَصْرَةِ وَالْکُوفَةِ**. داتطبيق دمثال دی مع الممثل. اودليل دی دپاره دمدعي مقدری ،مدعي داده چې **من والی حرفان فانهما الخ** يعنې دادواړه محتاجه دی په دلالت کښی په معنوخپلو چې ابتداء اوانتهاء ده بلې کلمې ته چې بصره اوکوفه دی ،داصغری ده اوکبری يې مقدره ده ، ای وکل ماهذاشانه . فهوحرف ، نونتيجه داشوه چې من والی حرف ، پوهه شه چې مراددابتداء اوانتهاء نه ابتداء جزيې اوانتهاء جزيې ده. نه کلی ځکه چې ابتداء اوانتهاء کلې معنی اسمي ده اودال په دې باندې لفظ دابتداء اوانتهاء دی اوهرچې ده ابتداء اوانتهاء جزيې نوهغه معنی حرفی ده اودال په هغې باندې کلمه دمن والی ده په انضمام دکلمې اخری سره چې کوفه اوبصره دی مثلا ،**فی قولك سرت من البصرة الی الکوفة** په دې مقام کښی معنی د من ابتداء جزيې ده اودالی معنی انتهاء جزيې ده اوپه دې باندې من اوالی دلالت نه کوي مګرپه انضمام دکلمې اخری سره چې بصره اوکوفه ده ابتداکلې اِبتداءً مّاته وايې ، يعنې يوا بتداء دابتداء اتونه يعنې دهر ځای نه چې وي اوابتداء جزيې خاصې ابتداء ته وايې لکه داکوړي نه مثلا ،، انتهاء کلی اِنتهاءً مّاته وايې ، يعنې يو انتهاء دانتهاء اتونه ، په هرځای چې وي اوانتهاء جزيې انتهاء خاصې ته وايې لکه په نوښارباندې مثلا **وَاِنَّمَا سُمِّیَ هٰذَا الْقِسْمُ حَرْفًا.**

غرض دشارح ددې نه بيان دوجې تسميې دحرف اصطلاحی دی په حرف سره نووايې چې مسمی کړی شو داقسم په حرف سره **لان الحرف اللغة الطرف** ځکه چې حرف په لغت کښی طرف ته وايې لکه عرب وايې جلست حرف الوادی ، **ای طرف الوادی وَهُوَفِی طَرَفٍ** دابيان دمناسبت دی په مابين دمعنی لغوی اواصطلاحی کښی ، يعنې حرف اصطلاحي ته هم حرف په دې وجه وايې چې دی هم په طرف کښی وی . **اَیْ جَانِبٍ مَقَابِلٍ لِلْاُسْمِ وَالْفِعْلِ.**

دادفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې شارح وايې چې حرف په طرف کښی واقع

کیږي ،اوطرف خو یا اول وي یا آخر، نو دا خبره یې منقوضه ده په زید فی الدار باندې ،ځکه چې فی حرف دی او په وسط کښې واقع دی ، خلاصه د جواب یې داده چې مراد د طرف نه اول یا اخر نه دی بلکه مراد تر ینه جانب مقابل د اسم او د فعل دی . **حَيْثُ يَقَعَانِ عُمْدَةً فِي الْكَلَامِ** په دې شان سره چې واقع کیږي اسم او فعل عمده په کلام کښې ، یعنې فاعل مبتدا او خبر، **وَهُوَلَا يَقَعُ عُمْدَةً فِيْهِ** او حرف نه واقع کیږي عمده په کلام کښې ،غرض د شارح د دې عبارت نه دفع د اعتراض مقدره چې تا وویل چې حرف جانب مقابل د اسم او فعل دی حالانکه اسم او فعل مستقل دی او حرف غیر مستقل دي نو غیر مستقل به څنګه مقابل د مستقل وګرزی ،خلاصه د دفع یې داده چې مراد د جانب مقابل نه دادی چې اسم او فعل عمده فی الکلام واقع کیږي نه حرف ،**لا کما زعمت**، **كَمَا سَتَعْرِفُ** په ولایتاتی ذالك کښې .

سوال :بیا خو د اسم او فعل ته هم حرف اوئیلی شي ، ځکه چې دا هم په طرف مقابل د حرف کښې دی.

جواب : په وجه تسمیه کښې جامعیت شرط نه دی .

وَالْقِسْمِ الْأَوَّلُ، غرض د شارح د القسم نه تقدیر د موصوف دی ، **وهكذا دفع السوال الذی مر ذكره**، **وَهُوَمَا يَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِي نَفْسِهَا** .د اتعین د ماهو المراد دی د الاول نه او دفع د اعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې مراد د الاول نه ګنې لفظ د الاول وي نو لفظ د الاول خو مقترن نه دی په زماني پورې ، ځکه چې دا اسم دی په قرینې د الف لام سره ، او اسم مقترن نه وی په زماني پورې ،نو آینده عبارت چې اما ان یقترن ، دی غلط وګرزیده ،فاجاب الشارح بقوله وهوما الخ چې مراد ، لفظ د الاول نه دی بلکه مدلول د الاول دی چې هغه معنی مستقله ده او اقتران د دې په زماني پورې کیدی شي ، **إِمَّا مِنْ صِفَتِهَا أَنْ يَقْتَرِنَ**. غرض د شارح د تقدیر د من صفتها نه اصلاح د متن ده وقد مر تفصیله فلا نعیده **ذٰلِكَ الْمَعْنٰى** غرض د شارح د دې عبارت نه تعین د مرجع د ضمیر د یقترن دی او بل دفع د اعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې ضمیر د یقترن به خالي نه وي یا به راجع وي معنی ته یا لفظ د الاول ته ، وکلاهما باطل ، ځکه که معنی ته راجع شي نو د وه نقصانه لازمیږي ، یو اضمار قبل الذکر ،لعدم ذکر المعنی سابقا قریبًا ،او بل دا ، چې لازمیږي خلوه د جملې د عائد نه هغه جمله چې واقع شوی ده خبر د پاره د مبتدا ، چې هغه جمله دیقترن الخ ده او مبتدا یې الاول دی او که ضمیر راجع شي لفظ د الاول ته نو لازمیږي فساد د معنی ، ځکه چې اقتران باحد الازمنة صفت د معنی دی نه د لفظ فاجاب الشارح بقوله

وذالك المعنى الخ ،يعني ضمير د يقترن راجع دی معنی ته او اضمار قبل الذکر نه لازميږي ځکه چې معنی اګر چې مذکور قريباً ده ليکن مذکوره ده بعيداً . **فلايلزم الاضمار قبل الذكر** او خلوه دجملې دعائد نه هم را نه غله ،ځکه ضميرچې کله راجع شه معنی ته ، او دا معنی مدلول عليه ده دلفظ دالاول ، نو ارجاع دضمير ،مدلول ته بعينه ارجاع ده دال ته ، نو ضمير ګوياچې الاول يعني مبتدا ته راجع شو .

سوال : هر کله چې ضمير راجع وو معنی ته نو زيادت دذالک ، اسم اشارې ته څه ضرورت وو .

جواب : ځکه چې اشاره اوقع فی الذهن وي **لان الاشارة كوضع اليد على الشي** .

سوال : شارح اشاره دبعيدولې مختاره کړه جواب ،ځکه چې مذکورسابقاًمعنيين دی ، يو معنی مستقله يعنې معنی اسمي اوفعلي .اوبله معنی غيرمستقله يعنې حرفي ،اومراد ځمونږ په دې مقام کښې معنی مستقله ده اوهغه بعيده ده نوځکه يې اشاره دبعيدې ذکرکړه ، **ليتعين المراد بنفسها** .

سوال : چې مراد په معنی سره به خالي نه وي ، يابه ترې مراد معنی مطابقي وي ياتضمني ، که معنی مطابقې وي نو معنی مطابقې دفعل مقترن نه ده په زمانه پورې ،اومستقله هم نه ده ، نوبناپه دې توصيف دمعنی مطابقې په وصف دبنفسها يعنې داستقلال اووصف داقتران دواړوه سره صحيح نه دی . اومعنی مطابقې دفعل مستقله ځکه نه ده چې معنی مطابقي دفعل مرکبه ده داجزاء ثلثونه چې حدث ، نسبت الی فاعل مَا اوزمانه ده ،نوحدث اوزمانه خو مستقله ده ليکن نسبت غيرمستقل دی ،اومرکب دمستقل اوغيرمستقل نه غير مسقتل وي . ځکه چې نتيجه تابع داخس ارزل وي نوتوصيف يې په استقلال سره صحيح نه شه اودغه شان يوجزء داجزاء دمعنی دفعل نه زمانه هم ده نوکه معنی مطابقي دفعل مقترنه شي په زمانه پورې نولازم به شي اقتران دزمانې پورې وهذا باطل نوتوصيف يې په يقترن سره هم صحيح نه شه ، اوکه معنی تضمني اخلي نويابه حدث مرادوي يازمانه اويانسبت ، نونسبت اراده کول غلط دي ځکه چې نسبت غيرمستقل دی نودی ته مستقل وئيل غلط دي ، اوزمانه اراده کول هم غلط دي ځکه چې لازميږي اقتران دزمانې پورې ،اوکه حدث اراده کوی نولازميږي ترجيح بلامرجح .

خلاصه دجواب يې داده چې مراد دمعنی نه ،معنی تضمني ده چې حدث دی . نو معنی حدثې مستقله ده اومقترنه هم ده په احد الازمنه پورې ،نودواړه حکمونه يې صحيح شو ، اوترجيح

بلامرجح نه لازمیږي ځکه چې مرجح موجود دی چې هغه تعذر د معنیینُ اخرینو دی یعني دزماني او دنسبت **فِي الْفَهْمِ** دا دفع داعتراض مقدره حاصل یې دا دی چې تعریف دفعل مانع نه شه دد خول دغیرنه داخل شو په کښی مصادر لکه ضرب شه مثلا ،ځکه چې معنی دضرب مثلاًنه موجود یږي مګرپه زمانه کښی ،فاجاب الشارح بقوله فی الفهم یعنې مراددا اقتران نه اقتران فی الفهم دی ،او اقتران دمصادروپه زماني پورې په اعتبار دتحقق او وجود سره دی ، نو بې شکه چې مصادر موجوږي په زمانه کښی لیکن دفهم دمعنی دمصدرسره فهم دزمانې نه کیږي **عَنْهَا** دا دفع داعتراض مقدره چې په تعریف کښی داخل شه اسم فاعل لکه زید ضارب امس یاغدا ځکه چې ضارب امس هم په زمانه دلالت کوي په دې شان سره چې زمانه ترې فهم کیږي خلاصه دجواب یې داده چې مراددا اقتران نه اقتران من اللفظ الدال دی لامن لفظ اخر، او دلته فهم زمانې دلفظ دیګرنه راغلی دی چې امس ، غداً وغیره دی **فلايرداَعْنى الْمَاضِي وَالْحَالَ وَالْاِسْتِقْبَالَ**.

غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدره ، حاصل یې دا دی چې تعریف دفعل مانع نه شه دد خول دغیرنه داخل شه په کښی صبوح ، غبوق ،ځکه چې صبوح ویلې کیږي شراب څکلوته په وخت دصبا کښی ،اوغبوق ،وئیلې کیږي شراب څکلوته په وخت دمابښام کښی ، نو دا هم مقترن شوه په زمانې پورې حالانکه داافعال نه دی ، خلاصه دجواب یې داده چې مراددا زمنونه ماضي ، حال او استقبال دی نه مطلق زمانه ، او صبوح غبوق په مطلق وخت دسحراو مابښام دلالت کوي په هره زمانه کښی چې وي . **اَیْ حِيْنَ يُفْهَمُ ذَالِكَ الْمَعْنى**.

غرض دشارح ددې نه دفع داعتراضینوده ،حاصل داعتراض اول دا دی چې ددې نه دامعلومه شوه چې فعل دیته وایې چې ذهن به یې ادراک کوي سره دزمانې نه یعن ذهن به ادراک دد واړو کوي په آن واحد کښی **والامرليس كذالك** ځکه چې ذهن بسیط دی توجه نه شي کولی شیئینو ته په آن واحد کښی **فاجاب الشارح بقوله اَیْ حِيْنَ يُفْهَمُ ذَالِكَ الْمَعْنى عَنْهَا يُفْهَمُ اِحْدَ الازمنةِ الثَّلٰثَةِ اَيضًا مَقَارِنًا لَهُ**.یعنې چې کله فهم کولی شي د غه معنی (قصدا) نوفهم کولی شي یوزمانه طبعًاچې مقارنه وي ددغې معنی سره ، خلاصه دا شوه چې ادراک دمعنی قصدا دی او ادراک دزمانې طبعا دی **فلايتوجه الذهن الى الشيئين فى آن واحد**.

اوحاصل داعتراض ثاني دا دی چې ظاهرداده چې با په باحد الازمنة کښی سببیه ده

نو معنی به دا شي چې فعل دیته وایې چې مقترن وي په یوبل شي پورې په سبب داز منو ثلثو سره حالانکه دامعنی غلطه ده ځکه چې اقتران دفعل په نفس ازمنو پورې معتبردی نه په بل شي پورې خلاصه ددفع یې داده چې باسببیه نه ده بلکې دپاره دمصاحبت ده اودامعنی دحین یفهم نه معلومه شوه یعنې کله چې معنی فهمیږي نوورسره به زمانه هم فهمیږي فافهم **اَوْمِنْ صِفَتِهَا** او یابه دصفت دکلمې نه داخبره وي چې **اَنْ لَایَقْتَرِنَ ذَالِكَ الْمَعْنٰى فِي الْفَهْمِ عَنْهَا** چې نه به وي دغه معنی مقترنه په فهم کښې ددغه کلمې نه په یو دازمنو ثلثو پورې **وقد مر تحقیق هذا تَشْرِیْح لَفظ الاسم مع اختلاف المذاهب فیه: قَالَ الشَّارِح العلام الِاسْمُ وَهُوَمَاخُوْذٌمِنَ السِّمو.**

پوهه شه چې ددې عبارت نه مقصد بیان دامورثلثودی . یوتشریح لفظې صرفي دوهم تشریح معنوي لغوي دریم وجه تسمیه داسم نوپوهه شه چې په اسم کښې دوه مذهبه دي اوپه هرمذهب کښې دغه دری امور هم مراد دي نو یو مذهب دبصریانودی اوبل دکوفیانو پس مذهب دبصریانو یې ذکرکړی دی اول په دې قول سره **وهوماخوذمن السمو** چې لفظ داسم ماخوذدی دسِمو په وزن دقِنوُ یعنې واوی دی نو واوحذف شه په شان دیداودم دوجې دثقل دحرکاتو اعرابیونه په ده باندې اوسکون دمیم نقل شه سین ته دپاره ددې چې اعراب جاری کړی شي په میم باندې بیاهمزه وصل په ابتداکښې زیاته کړی شوه چې ابتدابالساکن رانه شي نو اِسْم ترې نه جوړ شي .

وَهُوَالْعِلو دابیان دامرثاني دی یعنې تشریح معنوی ده یعنې سِمُو ئیلي کیږي علواوبلندی ته **لِاِسْتِعْلَائِهٖ عَلٰى اَخَوَیْهِ** دابیان دامرثالث دی یعنې وجه تسمیه داسم اصطلاحی په اسم سره یعنې اسم ته اسم وایې دوجې داستعلاء دده نه په خپلو اخوینو چې فعل اوحرف دی **حَیْثُ یَتَرکب مِنْهُ وحده الکلام دُوْنَ اَخَوَیْهِ** دا صورت داستعلاء داسم دی په اخوینو باندې یعنې د استعلاء نه استعلاء حسی نه ده مراد لکه دسقف بلکې مراد استعلاء معنوی ده هغه داچې مرکب کیږي دنوعي داسِم نه وحده کلام بغیردفعل اوحرف نه په دې شان سره چې یو اسم به مسند الیه شي اوبل به مسند شي لکه زید قائم اودفعل اوحرف نه وحده کلام نه جوړیږي اونوع داسم موځکه اووی چې دیو اسم نه فقط کلام نه جوړیږي وهو الظاهر او مذهب دکوفیانو یې ذکرکړی دی **بقوله وَقِیْلَ مِنَ الْوَسمِ** دابیان دامراول دی (بناپه دې مذهب) یعنې تشریح لفظې نودوی وایې

چې اسم ماخوذدی دوِسم نه مثال واوی دی په دې طريقې سره چې واومکسوربدل شو په همزې باندې نواسم ترې جوړشو **وَهُوَالْعَلاَمَةُ** دا امرثاني دی يعنې تشريح معنوي لغوي **لِاَنَّهُ عَلاَمَةٌ عَلٰى مُسَمَّاهُ** دا امر ثالث دی يعنې وجه تسميه يعنې اسم اصطلاحي ته اسم ځکه وايې چې داهم علامه وي په خپله مسمی باندې.

مذهب راجح په اسم کښې:پوهه شه چې راجح مذهب په اسم کښې دبصريانودی په دې وجه شارح هغه مقدم کړی دی اومذهب دکوفيانو يې په صيغې دضعف يعنې قيل سره ذکرکړی دی وجه د ضعف يې داده چې بياخوپکاردی چې فعل اوحرف ته هم اسم ويلی شي ځکه چې داهم علامې دي په خپلو مسمياتو ليکن جواب ددې نه دادی چې جامعيت مانعيت په وجه تسميه کښې شرط نه دی.

وجه دترجيح:دمذهب دبصريانودترجيح وجه تصغيراوجمع مکسره داسم ده يعنې اسم په اصل کښې سمودی په دليل دتصغيرسره چې سُمَيّ دی داپه اصل کښې سُمَيْوٌ وو واو په يابدل شه اويا په ياکښې مدغمه شوه ،نوسُمَيّ ترې جوړشه اوجمع مکسره يې اسماء راځي داپه اصل کښې اَسْمَاءٌ وو واو په طرف کښې واقع شه پس دالف زائد نه نوپه همزه بدل شه نواسماء ترې جوړشه پس که چرې اسم په اصل کښې وِسْم وي نوتصغيربه يې وُسَيْم راته اوجمع به يې اوسام راتله وقال الشاعر وَالمذهبُ المقدمُ الجَلي ودَليلهُ الاسَماءُ والسمَي.

وَالْقِسْمِ الْاَوَّلُ وقدمر تفصليه وَهُوَمَايَدَلُّ عَلٰى مَعْنًى اَلْفِعْلُ داتعين ماهوالمراد دی اودفع دسوال ده چې «الاول» ته فعل ويل خطادي ځکه چې الاول اسم دی دوجې وجوددعلامې داسم نه په ده کښې چې الف لام دی خلاصه ددفع يې داده چې مرادلفظ دالاول نه دی بلکې مدلول يې مراددی **سُمِّيَ بِهِ لِتَضَمُّنِهِ الفِعْلَ اللغويَّ وَهُوالْمَصْدَرُ** دابيان دوجې تسميې دفعل اصطلاحي دی په فعل سره نووايې چې مسمی کړی شه داقسم دکلمې په فعل اصطلاحي سره دوجې دتضمن ددې قسم دکلمې نه فعل لغوی لره چې هغه مصدردی خلاصه داده چې فعل اصطلاحي متضمن دی فعل لغوی لره چې حدث دی اوفعل په حقيقت کښې هم دی حدث نوداتسميه دمتضمِن «بالکسر»شوه په اسم د متضمن «بالفتح» سره يعنې متضمِن ته نوم متضمن کيخودی شه يافعل اصطلاحي مرکب دی اوحدث «فعل لغوی» يې جزء دی نوداتسميه دمرکب شوه په اسم دجزء سره يعنې مرکب ته نوم دجزء کيخودی شه يافعل اصطلاحي دال دی اومعنی حدثي يې مدلول دی نوداتسميه ددال ده په اسم دمدلول سره يعنې دال ته نوم

دمدلول کیخو دی شه **وَقَدْ عُلِمَ بِذَالِكَ**.
پوهه شه چې په دې واو کښې احتمالات ثلثه دي يو دا چې عاطفه شي و او عاطفه معطوف او معطوف علیه غواړي نو معطوف علیه به مقدروي **فالتقدیر هکذا انحصرت الکلمة فی الاقسام الثلاثة وقد علم بذالك الخ** دوهم دا چې واو حالیه شي نو واو حالیه تقاضا کوي د ذوالحال اودعامل د ذوالحال نو دا دواړه مقدر دی چې مستفاد دی د دلیل د حصرنه.
فالتقدیر افاد وجه الحصر انحصار الکلمة فی الاقسام الثلاثة وقد علم الخ نو وجه الحصر ذوالحال دی او افاد عامل د ذوالحال دی دریم احتمال دا دی چې واو استینافیه شي، نو دا جمله مستانفه ده واقع ده په جواب د سوال د سائل کښې چې ناشي دی د کلام سابق نه **کان سائلا یقول هل علم بوجه الحصر حد کل واحد منها فاجاب المصنف بقوله وقد علم الخ ای بِوَجْهِ حَصْرَ الْكَلِمَةِ الخ.**
غرض د شارح د دې عبارت نه تعین د مشار الیه دی د ذالک. چې وجه د حصر ده او تعین د مشا الیه ځکه کوي چې په ماسبق کښې امور ثلثه بیان شویدی، یو تعریف د کلمې دوهم تقسیم د کلمې اودریم وجه د حصر نو ظاهر ده چې حد د کل واحد په تعریف او تقسیم سره نه دی معلوم شوی بلکې په وجه د حصر سره معلوم شوی دی **فعین الشارح المشار الیه لئلا یذهب ذهن السامع الی الامرین الاولین.**
سوال: هر کله چې اشاره وجې د حصر ته وشوه نو وجه د حصر خو ذکر شوه صراحة نو مناسبه داوه چې مصنف ورته ضمیر راجع کړی وی، ځکه چې قانون دا دی چې کله ذکر کړی شي یو شی اولاً صراحة نو ثانیا ذکر کولی شي په ارجاع الضمیر سره.
جواب: ذکر د اشاری په موضع د ضمیر کښې د پاره د زیادت تحقیق او تقرر دی **لان الاشارة کوضع الید علی الشی.**
سوال: اشاره د بعید ولې مختاره شوه، حالانکه وجه د حصر خو قریبه ده؟
جواب: په دې کښې اشاره ده اوچتوالی د مرتبې اودرجې د وجې د حصر ته چې دا وجه د حصر دومره او چتې مرتبې واله ده چې حد او تعریف د هر واحد ترینه معلوم شه، خلاصه دا چې بعد په دوه قسمه دی یو بُعدِ مکاني او بل رتبی نو ذالک اشاره د بعید په طور د استعاری سره مستعمل شوی ده د پاره د بعد رتبي یعني وجه د حصر لوړې رتبې واله ده اولویه مرتبه هم بعیده ده د هر چا د حصول نه. **اَیْ مِنْ تِلْكَ الْاَقْسَامِ** دا تعین د مرجع دی د ضمیر د منها **وَذَالِكَ لِاَنَّهُ قَدْ عُلِمَ بِهٖ.**

غرض د شارح د دې نه اثبات د مذکور فی المتن دی چې حدود د اقسام ثلثو د کلمې دی ،او بیان د مابه الاشتراک او مابه الامتیاز دی په مابین د اقسام ثلثو کښې ۔ نو وایې چې دا خبره ثابته ده ځکه چې په تحقیق سره معلومه شوه په دې سره **اَیْ بِوَجْهِ الْحَصْرِ** یعنې په وجې د حصر سره ، پوهه شه چې شارح اول به اووی او بیایې تفسیر وکه په بوجه الحصر سره د پاره د تنبیه په دې خبره چې اولی په دې مقام کښې راوړل د ضمیر وو لیکن مصنف اشاره ذکر کړه د پاره د زیادت تمکن او تقرر **اَنَّ الْحَرْفَ کَلِمَةٌ لَاتَدُلُّ عَلٰی مَعْنًی فِیْ نَفْسِهَا** معلومه شوه ، چې حرف یو کلمه ده چې دلالت نه کوي په معنی باندې پخپله **بَلْ تَحْتَاجُ اِلَی انْضِمَامِ کَلِمَةٍ اُخْرٰی،** بلکې محتاجه وي په دلالت کښې په معنی خپله انضمام د بلې کلمې ته **وَالْفِعْلُ کَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰی مَعْنًی فِیْ نَفْسِهَا** او فعل یوه کلمه ده چې دلالت کوي په معنی خپله باندې پخپله په داسې حال کښې چې مقترن به وي په یو د از منو ثلثو پورې **وَالْاِسْمُ کَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰی مَعْنًی فِیْ نَفْسِهَا غَیْرَ مُقْتَرِنٍ بِاَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ** او اسم یوه کلمه ده چې دلالت کوي په معنی خپله باندې پخپله او مقترن به نه وي په یو د از منو ثلثو پورې ،تر دې ځایه پورې حد د هر واحد ذکر شه ،پس د دې نه شارح د مابه الاشتراک یعنې جنس ،او مابه الامتیاز یعنې د فصل بیان کوی **فیقول فَالْکَلِمَةُ مُشْتَرَکَةٌ بَیْنَ الْاَقْسَامِ الثَّلَاثَةِ.** فا تفصیلیه ده نو وایې چې پس کلمه مشرکه ده په ما بین د اقسام ثلثو کښې **وکل ما هذا شانه فهو جنس وَالْحَرْفُ مُمْتَازٌ عَنْ اَخَوَیْهِ لِعَدَمِ الْاِسْتِقْلَالِ فِی الدَّلَالَةِ،**

او حرف ممتاز دی د اسم او فعل نه په عدم استقلال سره په دلالت علی المعنی کښې **وَالْفِعْلُ مُمْتَازٌ عَنِ الْحَرْفِ بِالْاِسْتِقْلَالِ** او فعل ممتاز دی د حرف نه په سبب د استقلال سره ،**وَعَنِ الْاِسْمِ بِالْاِقْتِرَانِ او فعل،** ممتاز دی د اسم نه په سبب د اقتران سره **وَالْاِسْمُ ممتاز عَنِ الْحَرْفِ بِالْاِسْتِقْلَالِ وَعَنِ الْفِعْلِ بِعَدَمِ الْاِقْتِرَانِ.** او اسم ممتاز دی د حرف نه په اعتبار د استقلال سره او د فعل نه په اعتبار د عدم اقتران بالزمان سره **فَعَلِمَ بِکُلٍّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا دا تفریع** ده په ماسبق باندې ، یعنې پس معلوم شه د پاره د هر واحد د اقسامو ثلثو داسې تعریف چې جامع لافراده او مانع دی د دخول الغیر نه **وَلَیْسَ الْمُرَادُ بِالْحَدِّ** دا دفع د اعتراض مقدر ده حاصل یې دا دی چې اطلاق د حد په تعریفا تو د اقسام ثلثو صحیح نه دی ځکه چې حد ویلې کیږي هغې تعریف ته چې مشتمل وي په ذاتیاتو او مذکور په دلیل د حصر کښې خصوصا په تعریف د حرف او اسم کښې عدم دلالت

،اوعدم اقتران دی اودا امورعدمیه دی اوامورعدمیه خپله وجودنه لري نودبل دپاره به ذاتیات څنګه وګرځي بله داچې اطلاق دحدپه دې مفهوماتوباندې صحیح ځکه نه دی چې حد .دی ته وایې چې مشتمل وي په جنس اوفصل و اودامفهومات مشتمل نه دی په جنس اوپه فصل ځکه چې جنس اوفصل امورحقیقه دی اودامفهومات اموراعتباریه دی یعنې حاصل دی په اعتباردا اصطلاح دنحویانوسره.

فاجاب الشارح بقوله وَلَيْسَ الْمُرَادُ بِالْحَدِّ هٰهُنَا الْجَامِعُ الْمَانِعُ یعنې نه دی مراد په حدسره په دې مقام کښې مګرتعریف جامعه مانعه اوشک نشته په دې کښې چې تعریف دهرتقسیم جامع مانع دی نواطلاق دحدپرې صحیح شه ، خلاصه دجواب داده چې سوال به هله واردوی که چرې مراددحدنه حدمنطقي وي یعنې ما اشتمل علی الذاتیات لیکن مراددحدنه حدنحوی دی چې تعریف جامعه مانعه دی **وَلِلّٰهِ دَرُّ المصنف** غرض دشارح مدح دمصنف ده په اختیارولودې ترتیب سره وسیاتې اوبل غرض یې دفع دسوال مقدرده حاصل یې دادی چې هرکله تعریف داقسام ثلثوددلیل دحصرنه معلوم شه نوحاجت نه وو تعریف داسم وغیره ته په مابعدکښې **بقوله الاسم مادل الخ فلیس هذا الااستدراك**

فاجاب الشارح بقوله. ولله درّ المصنف حَيْثُ أَشَارَ إِلَى حُدُوْدِهَا فِي ضِمْنِ دَلِيلِ الْحَصْرِ ډیرخیردوی دجانب دالله نه دپاره دمصنف په دې وجه چې اشاره یې وکړه تعریفاتوددې اقساموته په ضمن ددلیل دحصرکښې ،**ثُمَّ نَبَّهَ عَلَيْهَا بِقَوْلِهِ وَقَدْ عُلِمَ بِذٰلِكَ** اوبیایې تنبیه قائمه کړه په دغې تعریفاتوپه وقدعلم الخ سره **ثُمَّ صَرَّحَ بِهَا فِيْهَا بَعْدُ** اوبیایې پرې تصریح وکړه په مابعد کښې ، خلاصه داشوه چې استدراک نشته بلکې دمصنف داترتیب قابل دمدحې دی چې مشتمل دی اول په اشاره ، بیابه تنبیه اوبیاپه تصریح ، چابه وی چې څه باعث دی په دې ترتیب.

فاجاب الشارح بقوله. بِنَاءً عَلَى تَفَاوُتِ مَرَاتِبِ الطَّائِعِ یعنې داترتیب بناء دی په رعایت دتفاوت دمراتبوداذهانو چې درې دی ذکی متوسط اوغبی نواشاره په وجه الحصرکښې دپاره دذکی ده وتنبیه په وقدعلم سره دپاره دمتوسط ده اوتصریح په مابعدکښې دپاره درعایت دغبی.

پس ددې نه پوهه شه چې درپه لغت کښې پیوته وایې خومراد ترې خیرکثیردی من قبیل ذکرالسبب وارادة المسبب اودا ځکه چې معاش اومالداری دعربوپه خواپه لبن سره وه دچاچې به څاروی زیات وو اولبن به یې ترې زیات حاصلول نوهغه به دولتمند حسابیده ،اودابه

خلقو خیر کثیر ګڼړه .

سوال : نسبت د دريې الله تعالى ته ولې كړيدى ؟

جواب : دپاره داظهار دعظمت بنا په عادت دعربو ، چې دوى دامر عظيم نسبت الله پاک ته كوي او دا ترتيب دعظمت خاوند ځكه دى چې په دې كښې مصنف رعايت دتمامو طلباء كړى دي .

هركله چې فارغ شه مصنف دبيان احد الجزئين دموضوع دعلم النحوى نه چې كلمه وه نو شروع يې وكړه په بيان دجزء ثاني كښې چې كلام دى **فقال اَلْكَلَامُ**.

سوال : اصل په جملو كښې ارتباط دى اوارتباط حاصليږي په حرف عطف سره فلم ترک المصنف حرف العطف **ولم يقل والكلام**؟

جواب : كه حرف عطف يې ذكر كړى وي نو توهم به شوى وو ددې چې ګنى كلام تابع دى دكلمې ځكه چې معطوف تابع دمعطوف عليه وي ،مع ان الامر ليس كذالک ، ځكه چې كلام پخپله يو امر مستقل دى .**فِي اللُّغَةِ مَا يُتَكَلَّمُ بِهِ قَلِيْلًا كَانَ اَوْكَثِيْرًا** غرض دشارح بيان دمعنى لغوى دكلام دى چې كلام وئيلي كيږي هغه شي ته چې تكلم پرې كيدى شي برابره خبره ده چې داتكلم قليل وي لكه زيد ،. ياكثير وي لكه زيد قائم .

سوال : معنى لغوى په علومو كښې مقصود نه وي نو ولې يې ذكر كړه؟

جواب : ذكردمعنى لغوى بنابرضرورت دى ،چې هغه فرق دى په مابين دكلام لغوى او اصطلاحي كښې .

فرق دكلام لغوي اواصطلاحي .پوهه شه چې فرق په مابين دكلام لغوى او اصطلاحي كښې په دوويو وجهو سره دى ، يو داچې كلام لغوي صادقيږي په مهمل باندې ځكه چې په مهمل هم تكلم كيدى شي ، لكه جسق ، په خلاف دكلام اصطلاحي نه ځكه چې كلام اصطلاحي مركب دى دكلمتينو نه او دكلمې اطلاق په مهمل نه كيږي ،دوئم داچې دكلام لغوي اطلاق كيږي په هغه چې مشتمل په نسبت نه وي اصلا لكه زيد وحده ، په خلاف دكلام اصطلاحي نه دريم دكلام لغوي اطلاق په مركب ناقص باندې كيدى شي په خلاف دكلام اصطلاحي نه چې دده اطلاق په مركب تام باندې كيږي ،فقط چې مشتمل وي اسنادباندې **لَفْظٌ تَضَمَّنَ** غرض دشارح تعين دماهو المراددى دلفظ مانه چې مااسميه ده ،. حرفيه نه ده اوموصوفه ده موصوله نه ده ،قرينه پرې داده چې تعبيريې ترې په نكرې سره كړى دى ، يعني لفظ ،اوداتحقيق په ضمن دسوال اوجواب كښې دى ،نوسوال دادى چې لفظ مابه خالي نه وي

یابه حرفي وي اويااسمي ،ليکن حرفي نه ده صحيح ځکه چې ماحرفي يازايد ه وي يامصدريه يانافيه ، نوزائده نه ده صحيح ځکه چې زيادت مخل للوضاحت دی اوتعريف کيږي دپاره دوضاحت اونافيه هم نه ده صحيح ځکه چې لازميږي کذب اوداځکه چې معنی به اشي چې کلام متضمن نه دی کلمتينولره اومصدريه هم نه ده صحيح ځکه چې ماصدريه مدخول په تاويل دمصدرسره گرځوي نولازم به شي حمل دصرف وصف په ذات باندې چې الکلام دی ، وهذا باطل ،اوماأسميه هم نه ده صحيح ځکه چې مااسميه ياموصوله وي اوياموصوفه نو موصوله ځکه نه ده صحيح ، چې ماموصوله معرفه ده اومــاتضمن الخ خبردی دپاره دالکلام ،اواصل په خبرکښې يې تنکيردی اوموصوفه هم نه ده صحيح ،ځکه چې ماصوفه په معنی دشي سره وي نوتعريف دکلام به صادق شي په فم باندې ځکه چې فم هم يوشی دی چې متضمن دی کلمتينولره ، حالانکه فم کلام نه دی اوهم دغه شان تعريف دکلام به صادق شي په هغه قرطاس ياجدار، چې پرې زيدقائم ليکلی شوی وي ځکه چې هغه هم متضمن کلمتينولره وي ،نوتعريف دکلام مانع نه شه ددخول دغيرنه ،پوهه شه چې زيدقائم چې مکتوب وي په قرطاس ياجداراگرچې نقوش دی ليکن دال دی په الفاظ نوسوال پرې وارددې، خلاصه دجواب يې داده چې مااسميه ده حرفيه نه ده اوموصوفه ده ،موصوله نه ده اوماصوفه په معنی دشي سره ده خومرادترينه لفظ دی من قبيل ذکرالعام وارداة الخاص ،نوتعريف دکلام په فم اوقرطاس اوجدارصادق نه شه ځکه چې داالفاظ نه دی ،اوقرينه په دې چې دشی نه لفظ مراددی داده چې کلام قسم دلفظ دی اومقسم مرعي وي په اقسامو خپلوکښې اوموصوله هم کيدی شي ليکن خلاف اولی ده ځکه چې لازميږي په دې تقدير تعريف دخبرحالانکه اصل په خبرکښې تنکيردی ، پوهه شه چې شارح تضمن دوباره ذکرکه په شرح کښې دپاره دتنبيه په دې چې تقديم دصفت په موصوف باندې ممنوع دی ، يعنې هرکله چې لفظ موصوف اوتضمن يې صفت وواوصفت مؤخروي نوځکه يې معادکه **حَقِيقَةً أَوْحُكْمًا** غرض دشارح تعميم دی په تعريف دکلام کښې اودفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې تعريف دکلام جامع نه شه افرادوخپلولره خارج شه ترې زيدقائم ابو ه ځکه چې داکلام دی اومرکب دکلمتينونه نه دی بلکې دکلماتوثلثونه دی خلاصه دجواب داده چې کلمتين عام دی که حقيقي وي اوکه حکمي پوهه شه کلمه حقيقي ديته وايې چې صورة هم مفردوي اومعنی هم اوکلمه حکمي ديته وايې چې صورة خومرکب وي ليکن تعبيرترې کولې شي په مفردسره ،نوقائم ابوه په ظاهره خومرکب دی ليکن مؤول دی په تاويل دقائم الاب سره **وسيأتي هذافي**

الشرح.

اي يَكُونُ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا فِي ضِمْنِهِ دادفع داعتراض مقدرده ،حاصل يې دادی چې ظاهرداده چې دكلمتينو نه مرادبه مجموعه دكلمتينووي .اوكلام هم مجموعه دكلمتينوده ، نولازم شه تضمن دشي دپاره دنفس خپل **وهذاباطل فاجاب الشارح بقوله اي يكون كل واحدمنهما في ضمنه** يعنې وي به هرواحد واحد دكلمتينونه په ضمن دمجموعې دكلام كښې خلاصه ددفع يې داده چې مرادمجموعه دكلمتينونه ده بلكې هرواحدواحدترې مراده ده .

قاعده دتثنيي . اودابناده په يوقاعده چې ذكركړې ده هغې لره مولاناعبدالغفور، چې هره تثنيه مختصردمتعاطفينونه وي يعنې تثنيه په حكم دواحدمكرركښې وي لكه رجلان په حكم درجل ورجل كښې دی نوبناپه دې كلمتين هم په حكم دكلمة وكلمة كښې شه ، يعنې هرواحدواحد **فَالْمُتَضَمِّنُ اسم فاعل هُوَالْمَجْمُوعُ** پس متضمن په صغيې داسم فاعل سره مجموعه دكلمتنوده **وَالْمُتَضَمَّنَ اسم مفعول كل واحدة من كلمتين** اومتضمن په صيغې داسم مفعول سره هرواحددكلمتينودی **فَلَايَلْزَمُ اتِّحَادُهُمَا** دا تصريح ده په جواب باندې ،پس نه لازميږي اتحاد دمتضمن اومتضمن ،نوتضمن دشي دنفس خپل لپاره لازم نه شو .

پوهه شه چې شارح ددې عبارت په ضمن كښې اسم فاعل اواسم مفعول اووی دپاره دتعين ددې صيغوځكه چې متضمِن (بكسرالميم) اودمتضمَن (بفتح الميم) په مابين كښې تجنيس خطي دی ، نو پته يې نه لګي چې داكومه صيغه ده اي **تَضَمُّنًا حَاصِلًا بِالْاَسْنَادِ** غرض دشارح ددې نه تروالاسنادپورې بيان څلور اموردی يوبيان داعراب محلي دجارمجروريعنې دبالاسناد ، دوئم تعين دمتعلق دجارمجروريعنې بالاسنادمتعلق دی په حاصلاً پورې درئم اشاره ده ديته چې باسببيه ده څلورم اشاره ده ديته چې الف لام په الاسنادكښې عوض دی دمضاف اليه نه **اي اِسْنَادُ اَحِدَى الْكَلِمَتَيْنِ الخ** پس پوهه شه چې بالاسنادواقع دی په محل دنصب كښې بنابر مفعول مطلق دپاره دتضمن ،نوپه دې سوال وارديده چې بالاسناددتضمن دپاره دمفعول مطلق ګرزول صحيح نه دی ځكه چې مفعول مطلق هغې ته وايې چې فعل مذكورمشتمل وي په هغه باندې دقبيلې داشتمال دكل نه په جزء باندې اوتضمن مشتمل دی په تضمن باندې نه په بالاسناد **فاجاب الشارح بقوله تضمنًا حاصلاً** يعنې دامفعول مطلق دی په

اعتبار دموصوف مقدرسره چې تضمنادی ،بياموصوف حذف شه او صفت يعنې بالاسناد دهغه په ځاى قائم مقام شه خلاصه داشوه چې كلام په اصطلاح دنحاتو كښې هغه لفظ دی چې متضمن وي كلمتينولره په سبب د اسناد ديوې كلمې بلې كلمې ته

سوال : بالاسناد په تضمن مذكورپورې ولې نه شي متعلق كيدی حتى كه تقديردمتعلق ته حاجت درپيش شه ؟

جواب : په بالاسناد كښې باراغی ده دتضمن په صله كښې بانه راځي بلكې صله يې لام يا الى راځي

وَالْإِسْنَادُنِسْبَةُاِحْدَى الْكَلِمَتَيْنِ حَقِيْقَةًاَوْحُكْمًااِلَى الْأُخْرى داتشريح دبعض اجزاء دتعريف دكلام ده چې اسناد ،دی ځكه چې په دې كښې خفاء وه اونوراجزاء يې واضح ووفلاحاجة الى تشريحها نووايې چې اسنادعبارت دی نسبت ديوی كلمې نه ،برابره خبره ده چې حقيقة وي اوكه حكما ، بلې كلمې ته ،په دې شان سره چې ورسوی مخاطب ته فائده تامه ،پس په كوموكلمتينوكښې چې دارقم اسنادراغلی وي نوهغې ته كلام وايې.

سوال اضافت دنسبه كلمتينو ته نه دی صحيح ځكه چې نسبة په عرف ددوئ كښې عبارت دی دثبوت نه يادانتفاء نه اودادواړه صفتونه دمدلول دی اوكلمه لفظ دی نواضافت يې كلمې ته خطاء دی ددې نه دوه جوابونه دي ،اول جواب دادی چې نسبة په معنى لغوی سره دی يعنې ضم اى ضم ، احدى الكمتين الخ اوظاهره د ه چې ضم راځي په كلمتينوكښې نواضافت يې صحيح شه دوئم جواب دادی چې كه نسبة په معنى عرفي سره شي نوبياعبارت په حذف دمضاف سره دی اى نسبة مدلول احدى الكلمتين ،نونسبة هم امرمعنوي دی اومدلول هم.

سوال : ذكردحقيقتًااوحكماالغوه اومستدرک دی ځكه چې دا ذكرشوی دی سابقاپه تعريف دكلام كښې ؟

جواب : ذكرددوئ په ماسبق كښې مفاددتعميم فى تعريف الكلام دی ، اودلته يې ذكركول مفاد ،دتعميم فى الاسناددی ، <u>فائدةتامة</u> په دې سوال واردیږي چې تعريف د اسناد دجامع لافراده نه دی خارج شه ترې ، هغه زيدقائم چې متكلم يې اووايې خومخاطب يې وانه وری ، جواب يې دادی چې مراددفائدی تامې نه امكان دفائدی تامې دی ،مطلب داچې **مِنْ اَنْ يُفِيْدَالْمُخَاطِبِ**.

فائده تامه څه ته وايي : ددې دوه تعريفونه دي ،يوداچې صحيح وي سكوت دمتكلم په هغې

باندې په دې شان سره چې عقلاء ورته نسبت دخطانه کوي او بل داچې ،فائده تامه دیته وایي چې محتاجه نه وي غیرته په شان داحتیاج ،جزئیغو یعني مسند او مسند الیه ته ،پس ددې نه پوهه شه چې په هرتعریف کښې لابدی وي دجنس اوفصل نه دپاره دجامعیت اومانعیت ،نوشارح په دې مقام کښې بیان دجنس اوفصل کوي ، نو وایي **فقوله مَا يَتَنَاوَلُ الْمُهْمَلَاتِ وَالْمُفْرَدَاتِ وَالْمُرَكَّبَاتِ الْكَلَامِيَّةِ وَالْغَيْرَالْكَلَامِيَّةِ** یعني لفظ ماجنس دی شامل دی مهملاتو مفرداتو اومرکبات کلامیه (تامه) اوغیرکلامیه) (ناقصه) ټولو لره.

وَبِقَيْدِ تَضَمُّنِ كَلِمَتَيْنِ دافصل اول دی او په قیدد تضمن کلمتین سره خارج شو مهملات ،ځکه چې مهملات کلمات نه دی اوداځکه چې ماخوذ په تعریف دکلمې کښې وضعه ده اوپه مهملاتو کښې وضعه نشته اومفردات هم خارج شو ځکه چې داکلمتین نه دي.

وَبِقَيْدِ الْإِسْنَادِ خَرَجَتِ الْمُرَكَّبَاتُ الْغَيْرُ الْكَلَامِيَّةِ : دافصل ثاني دی اوپه قیدداسناد سره خارج شومرکبات غیرکلامي یعني مرکبات ناقصه چې مفید دفائدی تامي نه وي **مثل غُلَامُ زَيْدٍ** مراددینه مرکب اضافي دی **وَرَجُلٌ فَاضِلٌ** مراد ددینه مرکب توصیفي دی دا ځکه خارج شو چې په دوئ کښې اسنادنیشته **وَبَقِيَتِ الْمُرَكَّبَاتُ الْكَلَامِيَّةُ سَوَاءٌ كَانَتْ خَبَرِيَّةً مِثْلَ ضَرَبَ زَيْدٌ وَضَرَبَتْ هِنْدٌ وَزَيْدٌ قَائِمٌ** اوباقي پاتې شو په تعریف دکلام کښې مرکبات کلامي برابره خبره ده چې جمله خبریه وي اوبیاجمله خبریه ، که جمله فعلیه وي لکه ضرب زید اوضربت هند ، اوکه جمله اسمیه وي لکه زید قائم **أَوْ جُمْلَةً إِنْشَائِيَّةً مِثْلَ اِضْرِبْ وَلَا تَضْرِبْ** یاجمله انشائیه وي لکه اضرب اولاتضرب **فَإِنْ كُلَّ وَاحِدٍ** داد دفع داعتراض مقدرده چې اضرب اولاتضرب خو کلمه واحده ده نوځنګه به په دې اطلاق دکلام صحیح شي.

فأجاب الشارح بقوله فإن كل واحد منهما تضمن كلمتين بېشکه چې هرواحد د اضرب اولا تضرب نه متضمن دی کلمتینو لره نو اطلاق دکلام پرې صحیح دی **إِحْدَيْهُمَا مَلْفُوظَةٌ وَالْأُخْرَى مَنْوِيَّةٌ** یوه کلمه ملفوظ ده چې اضرب اولاتضرب دی اوبله کلمه منوی ده چې ضمیرمستتر دی یعني انت ،اومنوی کلمه حکمیه ده اوکلمتین عام دی که حقیقة وي اوکه حکما کما مر **وَبَيْنَهُمَا إِسْنَادٌ** دادفع داعتراضینو ده حاصل داول دادی چې بیاخو دغلام زید اورجل عالم هم کلام شي ځکه چې داهم متضمن دی کلمتینو لره.

فاجاب الشارح بقوله المذكور چې په مابين داضرب اولا تضرب كښې داسې اسناددی چې مفيد دی مخاطب لره دفائدې تامې اوپه غلام زيد اورجل عالم كښې داسې اسنادنشته اوحاصل دثاني دادی چې په لاتضرب كښې منوی ته ضرورت نشته ځكه چې دابغيردمنوی نه هم متضمن دی كلمتينولره چې لادی اوبل تضرب دی خلاصه دجواب يې دادی چې كلام ديته وايې چې متضمن وي داسې كلمتينولره چې په مابين دهغوی كښې اسنادوي اودلااودتضرب په مابين كښې اسنادنشته ځكه چې لاحرف دی مسند مسند اليه نه شي واقع كيدی .

وَحَيْثُ كَانَتِ الْكَلِمَتَانِ اَعم مِنْ اَنْ تَكُوْنَا كلمتَين حَقِيْقَةً اوحكمًا دَخَلَ فِى التَعْرِيْفِ مِثْل زَيْدٌ اَبُوْهُ قَائم الخ يوغرض دشارح ددې عبارت بيان دفائدی دتعميم دی په كلمتينو كښې حقيقة اوحكماته ، اوبل غرض يې دفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې تعريف دكلام جامع نه دی افرادوخپلولره ځكه چې خارج شوترې زيداو بوه قائم اوقام ابوه وغيره ځكه چې دا مركب دكلماتواربعونه دی **فاجاب الشارح بقوله المذكورحيث تعليليه** دی ، معنی دعبارت داده اوپه دې وجه چه كلمتان عام شوپه دې شان سره چې كه حقيقي وي اوكه حكمي ،نوداخل شوپه تعريف دكلام كښې مثل دزيدابوه قائم ،اوزيدقام ابوه اوزيدقائم ابوه ، پوهه شه چې مراد ،دامثالوددې تركيبونونه هغه كلام دی چې خبريې جمله اسميه وي ياجمله فعليه ياشبه جمله **فَانَ الْاَخْبَارَفِيْهَامَعَ اَنَهَا مركبات لَكِنَهَا فِى حَكمِ الْمفرَدِ اَعنِى قَائم الاب** داتصريح ده په جواب يعنې دامثالو نه داخل شو (په تعريف دكلام كښې) ځكه چې اخبارپه دې كښې اګرچې مركبات دي ليكن داپه حكم دكلمې مفردی كښې دی يعنې مؤول دی په تاويل دقائم الاب سره **وقدمرتعريف الكلمة الحكمية** .

سوال : تاويل په ،قائم الاب سره هم نه دی صحيح ځكه چې داخوهم كلمتين دي غاية مافى الباب دغه مثالونه مركب شودكلمات ثلثونه ، نه دكلمتينونه حالانكه كلام ديته وايې چې مركب وي دكلمتينونه .

جواب : مقصودپه دې مثالونوكښې مضاف يعنې قائم دی نه مضاف اليه چې اب دی او دا ځكه چې په مركب اضافي كښې مقصودمضاف وي اومضاف اليه قيدخارجې وي من قبيل دخول التقيدوخروج القيداوقائم مفرددی فانحل الاشكال نوګوياچې كلام مركب دی دكلمتينونه .

سوال : اشكال بياهم باقې دی ځكه چې قائم خوهم مركب دی دكلمتينونه ، چې يوقائم دی

اوبل ضمیرمستترپه ده کښې .نوبیادرې کلمې شوې ؟

جواب : قائم په دې مقام کښې اسم فاعل نه دې بلکې مصدردې په وزن د فاعل . لکه قمت قائما . وهذا شائع لکه کاذب کذافی علم الصیغه پس . بناپه دې تقدیرقائم مفردوګرزیده ، ځکه چې ضمیرمستترپه کښې نیشته . **وَخَلَ فِيْهِ اَيْضًا مِثْلُ جَسْقٍ مُهْمَلٌ وَدَيْزٌ مَقْلُوبُ زَيْدٍ مَعَ اَنَّ الْمُسْنَدَ اِلَيْهِ فِيْهِمَا مُهْمَلٌ لَيْسَ بِكَلِمَةٍ** داسوال دې په تعریف دکلام باندې په دې شان سره چې تعریف کلام منقوض شه په جسق مهمل اودیزمقلوب زیدباندې ځکه چې دیته کلام ویلې شي حالانکه مسند الیه په دې کښې چې جسق اودیزدې مهمل دې کلمه نه ده نوتعریف دکلام پرې صادق نه شه چې ماتضمن کلمتین دې نووایې چې داخل شه په تعریف دکلام کښې مثل دجسق مهمل اودیزمقلوب زید ، سره ددې چې مسند الیه په کښې لفظ مهمل دې کلمه نه ده .

فَاِنَّهُ فِيْ حُكْمِ هٰذَا اللَّفْظِ داجواب دې نووایې چې داځکه چې داپه حکم د هذا اللفظ کښې دې نومطلب داچې جسق اودیزاګر چې کلمه حقیقي نه ده لیکن کلمه حکمي ده ځکه چې داپه حکم دهذا اللفظ کښې دې نومطلب دجسق مهمل دادې چې هَذَااللَّفظُ مهمل ،اوددیزمقلوب زیدمطلب دادې چې هذا للفظ مقلوب زيدٍ .

سوال : هرکله چې دامؤول شوپه هذااللفظ سره نودامثالونه خو بیامرکب شود کلماتو ثلثونه ،اوپه تعریف دکلام کښې کلمتین راغلی دې نوتعریف دکلام پرې صادق نه شو ؟

جواب : مقصودپه هذااللفظ کښې هذادې یعنې اسم اشاره نه اللفظ اولفظ یې مشارالیه دې دپاره دتعین اورفع دابهام اوداځکه چې اشارات مبهم دې نومشارالیه صرف درفع دابهام دپاره ذکرکیږي نومراداومقصودفقط هذا دې .

سوال : هرکله چې جسق اودیزمهملات وونوپکارده چې دخول دتنوین دې پرې ممنوع شي ځکه چې تنوین خاصه داسم ده اواسم کلمه موضوعه ده ځکه چې اسم قسم دکلمې دی او ماخوذپه تعریف دکلمې کښې قیددوضعي دی .

جواب : هرکله چې جسق اودیزپه حکم دکلمې کښې شو نواجراء داحکامود کلمې پرې وشوه چې هغه ادخال دتنوین اواجراء داعرب ده یاجواب دادې چې تنوین خاصه اضافي داسم ده یعنې بالنسبة الی الفعل والحرف مطلب داچې تنوین په فعل اوحرف نه داخلیږي اونور په هرڅه داخلیدې شي اګرچې مهمل وي .پوهه شه چې داصل اعتراض نه بعض شارحینو داجواب هم کړیدی چې ذکر دکلمتین په تعریف دکلام کښې تصریح ده په عدداقل باندې یعنې کلام

دیته وایې چې کم ازکم دوه کلمو لره به متضمن وي او زیات چې هر څومره وي

بیان داختلاف په متعلقات دکلام کښې او محاکمه قال الشارح اعلم ان کلام المصنف

ظاهرالخ په دې عبارت کښې مقصد بیان دحال دمتعلقات دکلام دی په بیان داختلاف سره په مابین دمصنف او صاحب المفصل کښې پوهه شه چې متعلقات دکلام عبارت دی دحال ذوالحال وغیره نه چې په کلام کښې راغلي وي نومذهب دمصنف دادی چې متعلقات دکلام داخل دی په کلام کښې او مذهب دصاحب المفصل دادی چې خارج دی دکلام نه لکه شارح وایې چې پوهه شه.

اَن کَلاَمَ المصنف ظاهرفی اَن نحوضربتُ زیدًا قائمًا بمجموعِهِ کَلاَمٌ چې کلام دمصنف ظاهر دی په دې کښې چې ضربت زید اقائمامجموعه کلام دی نو ضربت مسند مسند الیه دی او زیدا قائماحال ذوالحال دی او دامجموعه کلام دی عند المصنف .

سوال : وجه دظهوریې څه ده ؟

جواب عدم ذکردفقط او دادوات دحصرپه تعریف دکلام کښې مصنف په تعریف دکلام کښې نه فقط ذکرکړی دی چې الکلام ماتضمن کلمتین فقط او نه یې ادوات دحصرراوړی چې الکلام هوالمرکب الخ نو هو ضمیرفصل دی او مفید دی دپاره دحصردمبتداپه خبرکښې کمابین فی المعانی **بخلاَفِ کَلاَمِ المُفَصلِ** په خلاف دکلام دصاحب المفصل نه **حَیْثُ قَالَ الکلامُ هُوَالمرکبُ مَنْ کَلِمتَینِ اسندَتْ احدیهُمَااِلَی الْأُخری** په دې شان سره چې هغه ویلی دي چې کلام فقط هغه دی چې مرکب وي ددوو کلمو نه داسې کلمې چې اسناد شوی وي دیوې بلې ته.

فَانَّهُ صَرِیْحٌ فِی اَن الْکَلاَمَ هُوَضَرَبتُ ځکه چې داصریح دی په دې کښې چې کلام فقط ضربت دی

وَالْمُتَعلِقَاتُ خَارِجَةٌ عَنْهُ او متعلقات دکلام چې زید اقائمادی خارج دی دکلام نه .

سوال : وجه دصراحت یې څه ده ؟

جواب : وجه دصراحت یې دا ده چې دهٔ ضمیرفصل راوړی دی او ضمیرفصل دادواتو دحصرنه دی کمابین یا وجه دصراحت تعریف دمبتدادی په لام سره **اذقد تقررفی موضعه ان المبتداالمعرف**

بِاللام یکون منحصرا فی الخیر ثمره دا ختلاف ظاهره ده په مثال مذکور کښې په زید اقائما کښې.

سوال: بنا په تقریر مذکور مخالفت لازم شو دفرعی (کافي) د اصل نه چې **مفصل** دی او مخالفت دفرعی د اصل نه ښه نه دی؟

جواب: محاکمه په دواړو کښې ممکنه ده په دې شان سره چې اجزاء د کلام په دوه **قسمه** دي یو اجزاء اصلي او بل مطلق اجزاء پس اجزاء اصلي مسند او مسند الیه دی او صاحب مفصل رعایت د دې کړی دی نو ځکه یې په تعریف د کلام کښې کلمه د حصر روا کړې ده او کلام په نزد دهغه ضربت دی فقط او مصنف رعایت د مطلق اجزاء کړی دی که اصلي وي او که فضله وي نو ځکه یې کلمه د حصر نه ده راوړې او کلام په نزد د ده مجموعه د ضربت زید اقائما ده خلاصه داده چې د امخالفت خو یا په حقیقت کښې مخالفت نه دی ځکه چې یو د بل د مراد نه انکار نه کوي یعنې مصنف هم دا مني چې اجزاء اصلیه فقط دوه دي او صاحب المفصل هم مني چې مطلق اجزاء ډیر دي او یا دا مخالفت بنا دی په یو نکته چې ذکر شوه.

نسبت په مابین دکلام او جملي کښې مع الاختلاف: قَالَ الشَّارِحُ ثُمَّ اِعْلَمْ اَنَّ صَاحِبَ الْمُفَصَّلِ وَصَاحِبَ اللُّبَابِ الخ. غرض د شارح د دې عبارت نه تر، وفی بعض الحواشی پورې بیان د نسبت دی په مابین د کلام او جملي کښې د پاره د دفع د اعتراض د مصنف نه حاصل یې دا دی چې جمله هم لفظ مشهور دی په اصطلاح د نحاة کښې په شان د کلام لکه ویلی کیږي چې جمله اسمیه او فعلیه او انشائیه وغیره نو مصنف لکه څنګه چې تعریف د کلام ذکر کړ نو پکار ده چې تعریف د جملي یې هم ذکر کړی وی د پاره د توضیح **فلم لم یذکره** خلاصه د جواب یې داده چې کلام او جمله الفاظ مترادفه متساویه دي نو تعریف د کلام مستغني و ګرزیده د تعریف د جملي نه تفصیل یې دا دی چې په کلام او جمله کښې دوه مذهبونه دي یو د صاحب اللباب او بل د صاحب التسهیل پس د صاحب المفصل او صاحب اللباب په نزد کلام او جمله الفاظ مترادفه دي معنی یې واحده ده یعنې په مابین د دوئ کښې مساوات دي او د صاحب التسهیل په نزد کلام خاص دي د جملي نه یعنې په مابین د دواړو کښې عموم خصوص دی او مصنف مائله دی ترادف د کلام او جملي ته لکه شارح وایې چې پوهه شه چې صاحب المفصل او صاحب اللباب ذهاب کړیدی ترادف د کلام او جملي ته ځکه چې صاحب المفصل تعریف د کلام داسې کړی دی چې **الکلام هو المرکب مِنْ کلمتین اسندت احدهما الی الاخری ویسمی جملة ایضا** او صاحب اللباب ویلي دي ثم انه قد یجئ بهما التالیف اِمَّا علی وجهِ الاِسنادِ وهو ترکیبُ الکلمتین اَوْ لِمَا یَجْرِ مجراهَا بِحیثُ یُفِیدُ السامعَ

وَيُسمى كلاماً وجملة وَكلامُ المصنفِ ايضًا ينظرُ اِلَى ذالِكَ او کلام د مصنف هم نظر کوی ترادف ته فَاَنَّهُ قَد اكْتَفى فِى تَعْرِيْفِ الْكَلَامِ بِذِكْرِ الْاِسنَادِ مُطلقًا دا يې وجه د نظر ده او دليل دی لقوله وكلام المصنف الخ يعنې دا ځکه چې مصنف اکتفاء کړی ده په تعريف د کلام کښی په اسناد باندې الخ. يعنې چې دغه اسناد مقصود لذاته وي او که لغيره وَلَمْ يُقيده بِكَونِهِ مَقْصُودًا لِذَاتِهِ او نه يې دی مقيد کړی دا اسناد په قيد د مقصود لذاته سره.

اسناد مقصوده لذاته ولغيره : پوهه شه چې اسناد په دوه قسمه دي يو مقصود لذاته او بل مقصود لغيره وجه د ضبط يې دا ده چې دا اسناد به خالي نه وي يا به وسيله او موقوف عليه وي د پاره د اسناد آخر او يا نه که وي نو دا مقصود لغيره دی او که نه وي نو دا مقصود لذاته دی يا دا چې دا اسناد به خالي نه وي يا به په وسط کښی د کلام کښی وي او يا په طرف د کلام کښی که په وسط کښی وي نو دا اسناد مقصود لذاته دی او که په طرف کښی وي نو دا مقصو لغيره دی مثال د دواړو دا قول ستا دی چې زيد ابوه قائم نو اسناد قائم ابوه ته لغيره دی مثال د دواړو دا قول ستا دی چې زيد ابوه قائم نو اسناد قائم ابوه ته لغيره دی ځکه چې دا وسيله ده د پاره د بل اسناد چې هغه اسناد د مجموعي د قائم الاب دی زيد ته او بل دا چې دا په طرف کښی دی او اسناد د مجموعي د قائم الاب زيد ته مقصود لذاته دی او دا ظاهره ده.

نو هر کله چې اسناد مطلق دی نو تعريف د کلام مجموعي د زيد ابوه قائم ته هم شامل دی او فقط ابوه قائم ته چې دا جمله خبر واقع شويدی هم شامل شو.

وَمَنْ جَعَلَهُ اَخَصَّ مِنَ الجملةِ او چا چې کرزولی دی کلام لره اخص د جملې نه (دا صاحب التسهيل دی) قَيَدَهُ بِهِ نو مقيد کړی يې دی دا اسناد په مقصود لذاته سره په دې شان سره چې ويلي يې دي چې الكلام ما تضمن من الْكَلِمِ اسنادًا مفيدًا مقصودًا لذاته نو په نزد دده کلام هغه دی چې مشتمل وي په اسناد مقصود لذاته او جمله عامه ده چې اسناد په کښی مقصود لذاته وي او که لغيره.

فَيَصْدِقُ الْجُمْلَةُ عَلَى الْجُمَلِ الْخَبَرِيَّةِ الْوَاقِعَةِ اَخْبَارًا اَوْ اوصافًا ، پس دغه وخت صادقيږي جمله په هغه جملو چې واقع وي اخبار يا احوال يا اوصاف لکه ابوه قائم وغيره چې اسناد يې لِغيرِهِ دی بِخَلَافِ الْكَلَامِ يعنې کلام په دغه جملونه دی صادق ځکه چې په کلام کښی اسناد مقصود لذاته وي او په دغه جملو کښی اسناد د مقصود لِغيرِهِ دی وَفِى بَعْضِ الْحَوَاشِى. مراد ترې شرح هندی ده پوهه شه چې د مصنف د مذهب په باره کښی شارحين مختلف شويدي نو خيال د شارح هندی دا دی

چې دمصنف په کلام اخص دی دجملې نه کصاحب التسهيل اودشارح ملاجامي خيال دمصنف په باره کښی مخکښی بيان شه نووايې چې أَنَّ الْمُرَادَ بِالْاِسْنَادِ هُوَ الْاِسْنَادُ الْمَقْصُودُ لِذَاتِهِ چې مراد داسنادنه په تعريف دکلام کښی اسناد مقصود لذاته دی اوداځکه چې اسناد مطلق دی اوشي چې ذکرشي مطلق نوصرف يې فرد کامل ته کيږي اوفرد کامل مقصود لذاته دی وَحِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ الْكَلَامُ عِنْدَ الْمُصَنِّفِ ايضًا اَخَصَّ مِنَ الْجُمْلَةِ، په دغه وخت کښی کلام دمصنف په نزدهم اخص دی دجملي نه نواصل اعتراض په مصنف بياوارد شه فتذکرخوجواب شارح هندي ته دادی چې دغه قاعده په هغه وخت کښی ده چې جاری شي په اعيانو اوذواتو کښی لکه رقبه شوه اوقاعده جاريه په اعراضو کښی داده چې المطلق يجری علی اطلاقه ،نواسناد دقبيلي داعراضونه دی نوپه دې وجه داعام دی که مقصود لذاته وي اوکه لغيره وي .

هرکله چې فارغ شه مصنف دتعريف دکلام نه نوشروع يې وکړه په تقسيم دکلام کښی قسمينوته ، فقال وَلَا يَتَأَتّٰى پوهه شه چې کلام ته جمله هم وايې نوجمله په دوقسمه ده يو جمله اسميه اوبله جمله فعليه اي لَا يَحْصُلُ ذٰلِكَ چې غرض دلايحصل نه دفع داعتراض مقدره حاصل يې دادی چې نسبت دلايتاتی کلام ته نه دی صحيح ، ځکه چې لايتاتی ماخوذدی داتيان نه اوداتيان نسبت کيږي ذوی الروح ته او کلام ذی روح نه دی شارح جواب وکه چې ذکردلايتاتی دی اومرادترينه لايحصل دی اوحصول مختص نه دی په ذوی الروح پورې .

تنبيه : دبعض شارحين داخبره صحيح نه معلوميږي ځکه چې نسبت داتيان غيرذوی روح ته ، په قران پاک کښی هم شويدی لکه **هل اتی علی الانسان حين من الدهر** نوپه دې کښی اتيان منسوب دی حين ته اوحين ذی روح نه دی نوصحيح خبره داده چې لايحصل تفسيردغيرمشهوردی په مشهورسره . أَيِ الْكَلَامُ داتعين دمشاراليه دی پوهه شه چې مذکورپه ماسبق کښی امورثلثه دی يواسناددوهم تضمن دريم کلام اوهريوصالح ددې چې اشاره ورته وشي نوشارح تعين وکه په الکلام سره ، چې مشاراليه کلام دی .

سوال : اسناداوتضمن ته ولې اشاره صحيح نه ده ؟

جواب : ددې پاره درې وجوهات دي .

(۱) اشاره کولی شي مقصود ته اومقصودبالبيان په دې مقام کښی کلام دی **کماهوالظاهر**

(۲) ذالک اشاره دبعید ده او بعید په دغه امورثلثو کښې کلام دی.
(۳) دامقام مقام دتقسیم دی اوتقسیم دمعرف کولی شي او معرف نه دی مګرکلام.
سوال: کلام مذکوردی سابقًاصریحًااوقانون دادی چې کله یو شی ذکرشي اولاً صراحةنو ثانیاً ذکرکولی شي په ارجاع الضمیرسره نوپکارده چې مصنف اکتفاء کړی وي په ضمیردولایتاتی باندې؟
جواب: اصل په ضمائرکښې ارجاع ده قریب ته اوقریب په دې مقام کښې اسناداوتضمن دی نوکه په ضمیرې اکتفاء یې کړی وي نوراجع به وواسنادیاتضمن ته حالانکه دامقصودبالتقسیم نه دی نوځکه یې اشاره راوړه **اِلَّافِي ضِمْنِ اِسْمَيْنِ**.
غرض دشارح دتقدیردضمن نه اشاره ده د فع داعتراض مقدرته. حاصل یې دادی چې فی را خي دپاره دظرفیت دمابعد دپاره دماقبل نوماقبل کلام دی اومابعد اسمین دی او اسمین نه دی مګرعین کلام نولازم شه ظرفیت دشي دپاره دنفس خپل اودابا طل دی ځکه چې د ظرف اود مظروف په مابین کښې مغائرت وي خلاصه دجواب یې داده چې دکلام دوه صورتونه دي، یودا چې دواړه جزئه یې اسمین وي اوبل داچې یو جزء یې فعل وي اوبل اسم نودلته مراددمدخول دفی نه صورت اولی دی اوداخاص دی کلام عام دی نوظرفیت دخاص دپاره عام راغلی دی **وهذاشائع فالمعنی أن الکلامَ باعتبارِطِبْيْعَتِهٖ ومفهُومِهٖ لَايُوجَدُ اِلَّافِي ضِمْنِ اِسْمَيْنِ الخ**.
سوال: صورت داسمینویې ولې مقدم که، په صورت داسم اوفعل؟
جواب: ځکه چې په دې کښې دواړه جزء مستحق دتقدیم دی اوپه صورت داسم و فعل کښې صرف یوجزء مستحق دتقدیم دی چې اسم دی **أَحَدُهُمَامسنَدٌوالاخرُمُسنَدٌاِليه** یعنې داسې اسمین چې مشتمل وي په اسنادباندې غرض ددې نه دفع داعتراض مقدرده چې غلام زیدخوهم اسمین دی ،اوبیاهم دی ته کلام نه شي ویلی.
خلاصه دجواب یې داده چې مرادداسې اسمین دی چې مشتمل وي په اسناداوغلام زید دغه شان نه دی.

فلایقال له کلام اوقرینه په دې داده چې دا تقسیم دکلام دی اوماخوذ په تعریف دکلام کښې اسناد دی نومعلومه شوه چې مطلق اسمین نه دی مراد، بلکې مسند الیه مراددی.

أَوْفِي ضِمْنِ اِسْمٍ مسنَدٍاليه وفعلٍ مسنَدٍ، فائده دزیادت دضمن ذکر شوه آنفا اوتقید داسم په مسند الیه سره احترازدی دضربک نه ځکه چې بیشکه ضربک مرکب دی داسم اوفعل نه

لیکن داکلام نه دی ځکه چې اسم مذکورپه دې کښې چې ضمیردی مسند الیه نه دی بلکې مفعول به ده **وَفِی بَعْضِ النسَخِ اَوفِی فِعْلٍ وَاِسْمٍ** په دې کښې اشاره ده تعدد دنسخو د کافیې ته .یوه مشهوره ده اوبله غیر مشهوره ،پس مشهوره نسخه هغه ده چې شارح ملاجامي مختاره کړې یعنې تقدیم داسم په فعل کماذکر وجه یې داده چې اسم اصل دی فاستحق التقدیراو غیرمشهوره نسخه هغه ده چې په هغې کښې فعل مقدم دی په اسم.

وذکرہ الشارح بقوله وفی بعض الخ او ددې وجه داده چې تقدیم دفعل دپاره دموافقت دی دواقعې سره دی مطلب داچې په دې صورة کښې اشاره ده جملې فعلیې ته اوپه جمله فعلیه کښې فعل مقدم وي په واقعه کښې نو په ذکرکښې یې هم مقدم که **فَاِنَّ التَّرْکِیْبَ الثَّنَائِی الْعَقلی الخ** .

غرض دشارح ددې عبارت نه بیان دوجهې دحصردکلام اوجملې دی په قسمینو کښې ، چې یوه جمله اسمیه ده اوبله جمله فعلیه او بل غرض یې دفع دسوال ده حاصل یې دادی چې څه وجه ده چې مصنف په تقسیم دکلام کښې ادوات دحصر ذکر کړیدی چې لااوالادی اوپه تقسیم دکلمې کښې یې نه دی ذکرکړې خلاصه دجواب یې داده چې حصردکلام په قسمینو کښې استقرایې دی او حصراستقرایې دیته وایې چې عقل مجوز د قسم اخر وي اوکلام نه حاصلیده مګرددغه دوه قسمینونه مطلب داچې کلام جوړکیږي دکلمتینونه اواقسام د کلمې درې دي نواحتمالات عقلیه په کښې شپږدي درې دجنس واحدنه یعنې متوافق دي اودرې دجنسینونه دی یعنې متخالف وسیاتي اوکلام نه متحقق کیده مګر په دوواحتمالو کښې نوپه دې وجه مصنف ادوات دحصرذکرکړه چې باقي احتمالات اربعه ساقط شي او حصردکلمې خوپه اقسامو ثلثو کښې عقلي دی واونه وو احتمال دیګرنو ادواتو دحصرته حاجت نه وو شارح وایې چې ترکیب ثنایي عقلي په مابین داقسام ثلثو کښې **یَرْتَقِی اِلَی سِتَّةِ اَقْسَامٍ** پورته کیږي شپږاقسامو ته **ثَلٰثَةٌ مِنْهَا مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ** درې دهغې نه دجنس واحدنه دی یعنې متوافقین چې هغه اسم اسم فعل فعل حرف حرف دی **وَثَلٰثَةٌ مِنْهَا مِنْ جِنْسَیْنِ** اودرې دهغې دجنسینو مخالفینونه دی یعنې متخالفین دي چې هغه اسم فعل اسم حرف اوفعل حرف دی **وَمِنَ الْبَیِّنِ اَنَّ الْکَلَامَ الخ** دابرهان تفصیلي دی دپاره دحصردکلام په قسمینو کښې په طریقي دقیاس اقترانی شکل اول سره .

پس پوهه شه چې داقول دشارح **ومن البین ان الکلام لایَحْصِلُ بِدُوْنِ الْاِسْنَادِ** صغری ده اوداقول

وَالْإِسْنَادُ لَابُدَّ لَهُ مِنْ مُسْنَدٍ وَمُسْنَدٍ اِلَيْهِ کبری ده حد اوسط په دې کښې لفظ داسناد دی نو پس د حذف د حد اوسط نه نتیجه دا شوه **فَالْكَلَامُ لَابُدَّ لَهُ مِنْ مُسْنَدٍ وَمُسْنَدٍ اِلَيْهِ** دلیل د صغری دادی چې ماخوذ په تعریف د کلام کښې اسناد دې او دلیل د کبری دادی چې اسناد نسبت دی او نسبت لره لابدی وي د طرفینو نه چې مسند او مسند الیه دی تر دې ځایه پورې دا قیاس اول وو پس د دینه نتیجه د قیاس اول صغری کړه ای **الکلام لابد له من مسند ومسند الیه** او کبری دا قول د شارح دی **وَهُمَا اي الْمسند والمسندُ اِليه لَايَتَحَقَّقَانِ اِلَّا فِي اِسْمَيْنِ اَوْ فِي اِسْمٍ وَفِعْلٍ**.

پس د حذف د حد اوسط نه چې (مسند ومسند الیه) دی. به یې نتیجه داشی چې **فالکلام لایتحقق الا فی اسمین او اسم وفعل** صغری د قیاس ثاني واضحه ده او د کبری دلیل دادی چې اسم مسند او مسند الیه دواړه واقع کیدی شي او فعل مسند فقط.

وَاَمَّا الْاَقْسَامُ الْاَرْبَعَةُ غرض د شارح د دینه ابطال د اقساموا اربعو باقیو دی، یعنې هرچې اقسام اربعه دی یعنې دوه د متوافقینو نه دی یعنې فعل فعل او حرف حرف او دوه متخالفین دی یعنې اسم وحرف او فعل وحرف نو د دې نه کلام نه متحقق کیږي (وجه یې داده چې **فَفِي الْحَرْفِ وَالْحَرْفِ كِلَاهُمَا مَفْقُوْدَانِ** پس په احتمال د حرف وحرف کښې مسند او مسند الیه دواړه مفقود دی **وَفِي الْفِعْلِ وَالْفِعْلِ وَفِي الْفِعْلِ وَالْحَرْفِ اَلْمُسْنَدُ اِلَيْهِ مَفْقُوْدٌ** او په احتمال د فعل و فعل او فعل وحرف کښې مسند الیه مفقود دی ځکه چې فعل فقط مسند واقع کیدی شي او حرف هیڅ هم نه واقع کیږي **وَفِي الْاِسْمِ وَالْحَرْفِ اَحَدُهُمَا مَفْقُوْدٌ**. او په احتمال د اسم او حرف کښې یو د مسند او مسند الیه نه مفقود دی **فَاِنَّ الْاِسْمَ اِنْ كَانَ مُسْنَدًا فَالْمسندُ اِلَيْهِ مَفْقُوْدٌ** ځکه چې که چرې اسم مسند شي نو مسند الیه نشته **وَاِنْ كَانَ مُسْنَدًا اِلَيْهِ فَالْمُسْنَدُ مفقودٌ** او اسم که چرې مسند الیه شي نو بیا مسند نشته.

سوال: هر کله چې مسند نه وي نو مسند الیه به څنګه موجود شي او چې مسند الیه نه وي نو مسند به څنګه راشي، ځکه چې دا خو دواړه په موجودید و کښې په یو بل بنا دی.

جواب: مراد، د کون الاسم مسندا بدون المسند الیه نه .صلاحیت د اسم دی د پاره د مسند، او دغه شان مراد د کون الاسم مسند الیه بدون المسند نه صلاحیت د اسم دی د پاره د مسند الیه او ظاهره ده چې اسم صلاحیت د هر واحد د مسند او مسند الیه لري بغیر د بل نه **وَنَحْوُ يَا زَيْدُ بِتَقْدِيْرِ**

اَدْعُوْالخ غرض د شارح ددې نه دفع د اعتراض مقدره حاصل یې دادی چې حصر د کلام په قسمینو کښې منقوض دی په مثل دیازید ،ځکه چې دا کلام دی او مرکب دی د حرف او اسم نه نو یا کلام په درې قسمه شه **فاجاب الشارح بقوله ومثل یازید** مراد د مثل د یازید نه هر مرکب ندایې دی په تقدیر د ادعو زیداً اسره دی یعنې حرف ندا قائم مقام د ادعو مقدر دی **فَلَمْ يَكُنْ مِنْ تَرْكِيْبِ الْحَرْفِ وَالْاِسْمِ** دا تصریح ده په جواب باندې ،مطلب دا چې دا ترکیب د حرف او اسم نه نه دی جوړ **بَلْ مِنْ تَرْكِيْبِ الْفِعْلِ وَالْاِسْمِ**

بلکې د قبیلې د ترکیب د فعل او د اسم نه دی یعنې دا په قسم ثاني کښې داخل دی .چا به وهم کوو چې مراد به د اسم نه زیداً وي حالانکه دا خو مفعول به ده نه مسند دی او نه مسند الیه فقال الشارح **الذی هوالمنوی فی اَدْعُوْوَهُوَاَنَا** چه هغه اسم ضمیر مستتر دی په ادعو کښې چې انا او هم دا مسند الیه دی پس په حقیقت کښې اسناد دادعو او ضمیر مستتر په مابین کښې دی .

سوال : اقامت دیازید په مقام دادعوزیدا نه دی صحیح ، ځکه چې یازید جمله انشائیه ده او ادعوزیدا جمله خبریه ده .

جواب : ادعو اول نقل کړی شه د اخبار نه انشاء ته لکه چې بعت او اشتریت د اخبار نه انشاء ته نقل کړی شوی دی او بیا یازید ددې په ځای قائم مقام شو .

سوال یا حرف دی او غیر مستقل دی او ادعو فعل دی مستقل دی نو غیر مستقل به څنکه قائم شي په ځای د مستقل ؟

جواب : دا قیام سماعي دی نو قیاس او عقل لره په دې کښې مداخلت نشته .

هر کله چې فارغ شه مصنف د تعریف د کلمې او د کلام او د تقسیم د دواړو ،او د دلیل د حصر نه نو شروع یې وکړه په تفصیل د اقسامو ثلثو کښې **فقَالَ اَلاَسِمُ مَادَلَّ وَقَالَ الشَّارِحُ اَیْ کَلِمَةٌ دَلَّتْ.**

غرض د شارح تعین د ماهو المراد دې د ما نه په ضمن د سوال او جواب کښې حاصل یې دادی چې لفظ ما به خالي نه وي یا به حرفي وي او یا اسمي او دواړه غلط دي ،حرفي ځکه نه شي کیدی چې ماحرفي یا زائده وي یا مصدریه یا نافیه . زائده نه شي کیدی ځکه چې دا مخل للفهم ده او مصدریه ځکه شي نه کیدی چې دا مدخول خپل په تاویل د مصدر سره ګرزوی او مصدر صرف وصف وي نو لازم به شي حمل د صرف وصف په ذات باندې چې الاسم دی و هذا باطل او ما نافیه هم صحیح نه ده دوجې د فساد د معنی نه او ما اسمیه هم نه صحیح کیږي

ځکه چې ما اسمیه په دوه قسمه ده یو موصوله او بل موصوفه موصوله نه ده صحیح چې موصوله معرفه وي نوبیا ضمیر فصل را وړل پکار وو او موصوفه هم نه شي کیدی ځکه چې ماموصوفه به یا په معنی دشی سره وي او یا به په معنی د اسم سره وي ،که په معنی دشي سره شی نو تعریف د اسم به مانع نه شي د دخول دغیرنه دوال اربعه به په کښې داخل شي چې منقوش وي په هغې باندې زید قائم ځکه چې دا هم شی دی حالانکه اسم نه دی . او که په معنی د اسم سره شي نو لازم به شي اخذ د محدود په حد کښې ،وهذا دور و الدور باطل خلاصه د جواب یې داده چې ما اسمیه ده او موصوفه ده په معنی دشی سره ده . خو مراد دشی نه کلمه مقسم دی او مقسم په تعریف د اقسامو کښې جنس وي او مرعی وي . پوهه شه چې شارح د دلّ نه تعبیر وکه په دلت (مؤنث) سره د پاره د مطابقت دصفت د موصوف سره چې کلمه ده او د اصیغه یې معاده کړه پس د کلمة نه د پاره د دې چې تقدیم دصفت په موصوف رانه شي اوتذکیر د صیغې د دل په متن کښې په اعتبار د لفظ ما سره دی ځکه چې لفظ ما مذکر دی او د دې وجه داده چې ماذوالاعتبارین دی .

یو اعتبار د لفظ او بل اعتبار د معنی مرادی نو په اعتبار د لفظ سره مذکر دی او په اعتبار د معنی مرادی سره مؤنث ده ځکه چې معنی مراده یې کلمة ده **ههنا كَائِنٍ** غرض د شارح د دې نه تنبیه ده په دې خبره چې فی نفسه ظرف مستقر دی متعلق دی په کائن مقدر پورې (یعنې د اتعین د نوعی د ظرف دی او په دې کښې اشاره ده رد ته په شارح رضی باندې ځکه چې هغه وایې چې فی نفسه ظرف لغوه دی متعلق دی په دل مذکور پورې وجه یې داده چې ظرف لغوه اصل دی ځکه چې دی محتاجه نه دی تقدیر د متعلق ته او عدم احتیاج اصل دی نو شارح پرې رد وکه په دې قول سره چې کائن . وجه د رد یې داده چې که چرې فی نفسه متعلق شي په دل پورې نو په صله د ، دل کښې به فی واقع شي حالانکه صله د دل با یا علی راځي ،او که فی په معنی د با سره ګرزوی نو لازمیږي ارتکاب د مجاز په تعریف کښې ، وهذا مخل للفهم ځکه چې په مجاز کښې خفاء وي او تعریف د پاره د وضاحت کولی شي ،او هر کله چې شارح کائن بالجر مقدر که نو په دې کښې رد راغی په شارح هندی باندې ځکه چې د هغه په نزد کائنًا منصوب دی بنا بر حالیت و مر تفصیل هذا فلا نعیده ثانیا **اَیْ فِیْ نَفْسِ مَادَلَّ یَعْنِی الْکَلِمَةَ** دا تعین د مرجع د ضمیر د فی نفسه دی او دفع د اعتراض مقدر ده.

حاصل یې دادی چې په ضمیر د فی نفسه کښې دری احتماله دي یا به راجع وي کلمة ته یا معنی ته او یا اسم ته والکل باطل ، ځکه که کلمې ته راجع وي نو دوه نقصانه لازمیږي یو دا چې

مطابقت نه راځي په مابین د راجع او مرجع کښې **فی التذکیر والتأنیث** او بل دا چې مخالفت لازمیږي د مفصل نه ځکه چې صاحب مفصل ضمیر راجع کړی دی معنی ته او که معنی ته راجع وي نو لازمیږي مخالفت د تفصیل دا جمال نه ځکه چې په اجمال یعنې دلیل د حصر کښې ضمیر راجع وو کلمې ته او اسم ته یې راجع کول هم نه دي صحیح ځکه چې لازمیږي اخذ د محدود په حد کښې او مخالفت د صاحب المفصل نه هم راځي

خلاصه د جواب یې دادی چې ضمیر راجع دی مادل یعنې کلمې ته او س دا خبره چې مطابقت نیشته په مابین د راجع او مرجع کښې نو شارح وایې چې **وَتَذْکِیْرُ الضَّمِیْرِ بِاِعْتِبَارِ لَفْظِ الْمَوْصُوْلِ** یعنې تذکیر د ضمیر په اعتبار د لفظ موصول سره دی چې لفظ مادی او هغه مذکر دی.

سوال په کلام د شارح کښې تناقض دی ځکه چې د عبارت سابقه نه دا معلومه شوه چې ماموصوفه ده کما مر او شارح دلته تصریح وکړه چې ماموصوله ده **وماهذا الا تناقض وتدافع**.

جواب: مراد. د موصول نه موصول لغوی دی یعنې وصل کرده شده او موصول اصطلاحي نه دی مراد چې **مَالَایَتِمُّ جزءً اِلَّا بِصِلَةٍ** او په ماموصوفه باندې اطلاق د موصول لغوی صحیح دی ځکه چې ماموصوفه هم متصله وي د صفت خپل سره **فلایلزم التناقض قَالَ الْمُصَنِّفُ فِی الْاِیْضَاحِ شَرْحِ الْمُفَصَّلِ** پوهه شه چې په دې مقام کښې د دې ځای نه تر انتهې کلامه پورې درې اغراض دي. یو غرض د صاحب المفصل دی د عبارت د مفصل نه او دوهم غرض د مصنف ابن حاجب دی د عبارت د ایضاح شرح د مفصل نه او دریم غرض د شارح ملاجامي دی د نقل د قول د مصنف نه پس غرض د صاحب المفصل په مفصل کښې تعریف د اسم دی په **مادل علی معنی فی نفسه** سره او اغراض د مصنف په ایضاح کښې څلور دي یو تعین د مرجع د ضمیر د فی نفسه دی دوهم اصلاح د عبارت د مفصل ده په دفع د اعتراضاتو سره دریم غرض توضیح بالتنظیر ده **بقوله کقولك الدار الخ** څلورم غرض یې اصلاح د تعریف د حرف ده **بقوله ولذالك قیل الخ** په دفع د اعتراض سره او اغراض د شارح هم هغه دي چې کوم د مصنف دی او علاوه د هغې نه بل غرض یې توطیه او تمهید دي بحث د حاصل محصول ته او بل غرض یې تشریح د کَیْنُوْنَةٌ د معنی ده فی نفس معنی، لکه څنګه چې یې تشریح د کَیْنُوْنَةٌ د معنی فی نفس الکلمة کړې وه چې مراد ترینه استقلال بالمفهومیة دی.

پس د دې نه پوهه شه چې **قَالَ الْمُصَنِّفُ فِی الْاِیْضَاحِ الْمُفَصَّلِ** دا عبارت د شارح ملاجامي دی او

مادل علی معنی فی نفسه عبارت دمفصل دی او غرض ددینه تعریف داسم دی او دا قول **الضمیر فی اویرجع الی معنًی** ترا انتهي پورې عبارت دا یضاح دی نو په دې کښې غرض اول حاصل شه (یعنې تعین دمرجع) او مراد دضمیرنه ضمیر بارزد فی نفسه دی نه دمادل ضمیر مستتر ، ځکه چې هغه کلمې ته راجع دی . یو حال یې دا شه چې ضمیر دفی نفسه راجع دی معنی ته **قوله ای مَادَلَّ عَلٰی مَعْنًی بِاعْتِبَارِهٖ فِی نَفْسِهٖ** دا غرض ثاني دی یعنې اصلاح دعبارت په دفع داعتراضینو چې وارددی په ارجاع دضمیر دفی نفسه معنی ته حاصل داعتراض اول دادی چې هرکله ضمیر دفی نفسه راجع شو معنی ته نو تعریف د اسم به داسې شي چې اسم یوه کلمه ده چې دلالت کوي په معنی باندې داسې معنی چې کائنه ده په نفس دمعنی کښې . نو لازم شه ظرفیت دشي دپاره دنفس خپل ،اوحاصل داعتراض ثاني دادی چې مدخول دفی ظرف وي دپاره دنفس خپل ،اوحاصل داعتراض ثاني دادی چې مدخول دفی ظرف وي دپاره دماقبل اوظرفیت دمعنی نه صحیح کیږي ځکه چې ظرف خو یازمان وي او یامکان او معنی نه زمان اونه مکان ده ، **فاجاب المصنف بقوله ای مادل الخ** خلاصه یې داده چې کلمه دفی دپاره دظرفیت حقیقي نه ده بلکې په معنی د اعتبار سره ده نو ظرفیت دشي دپاره دنفس خپل لازم نه شه او داسوال هم واردنه شه چې معنی نه زمان ده او نه مکان ، بناپه دې به تعریف د اسم داشي چې اسم یو کلمه ده چې دلالت کوي په معنی چې معتبر فی ذاته ده ، لاتبعا الغیره یعنې اعتبار مصدر دی په معنی دمعتبر سره دی **وَبِالنَّظَرِ اِلَیْهِ فِی نَفْسِهٖ** دا تعین دمعنی مرادی دی داعتبار نه ځکه چې اعتبار په اصطلاح کښې په دوه معنو سره مستعمالیږي یو په معنی درعایت دحال دشي سره ، او بل په معنی دتامل سره نو مصنف اشاره وکړه چې داعتبار نه مراد تامل او فکر دی نه رعایت دحال دشي . او دغه شان دنظر نه هم مراد فکر دی ، **لَابِاعْتِبَارِ اَمْرٍ خَارِجٍ عَنْهُ** دا تفسیر دفی نفسه دی یعنې دفی نفسه معنی دا چې دلالت به کوي په اعتبار دذات سره نه په اعتبار دامر خارج سره ددغه معنی نه او امر خارج عبارت دی دضم دضمیمی نه یعنې دمتعلق نه او شک نیشته په دې کښې چې اسم دلالت کوي په معنې باندې نو په اعتبار دذات سره یې کوي نه په اعتبار دضم دضمیمی سره **کقولک الدار فی نفسها حکمها کذا** دا غرض ثالث دی یعنې توضیح بالتنظیر او دفع داستعباد ده یعنې کله دفی په معنی داعتبار سره کرزول مستبعد عن العقل دی نو ایاددې دپاره څه نظیر په کلام دعربو کښې شته **فقال الشارح کقولک**

الدار الخ

خلاصه يې داده چې داخبره بعيده عن العقل نه ده ځکه چې ددې دپاره نظير دامحاوره عربيه ده چې ذکرشوه .اودا په هغه وخت کښې ويلې شي چې کله يوانسان خپل کورخرڅوي اوقيمت يې لګوي نوو ايې چې **الدارفي نفسهاحکمهاکذا** يعنې داکورپه اعتبارد ذات سره **أَىْ لَابِاعْتِبَارِأَمْرٍخَارِجٍ عَنْهَا** نه په اعتبارد امرخارج سره چې ګڼې په فلانۍ محله کښې دى ياجمات اومدرسې ته قريب دى قيمت يې دومره روپۍ دي نودلته کلمه دفى په معنى داعتبارسره ده **وَلِذَالِكَ قِيْلَ اَلْحَرْفُ مَادَلَّ عَلَى مَعْنًى فِي غَيْرِهٖ** داغرض رابع دى يعنې اصلاح دتعريف دحرف په دفع داعتراض وارده سره . حاصل يې دادى چې قوم دنحويانوتعريف دحرف داسې کړيدى چې **الحرف مادل على معنى في غيره** نومطلب داچې حرف هغه کلمه ده چې دلالت کوي په داسې معنى چې موجوده وي په غيرکښې نوداتعريف صحيح نه دى ځکه چې ددې نه دامعلوميږي چې حرف خپله معنى نه لري بلکې دغيرپه معنى دلالت کوي حالانکه حرف لفظ موضوع دى دپاره دمعنى خپلې بله داچې هرکله په خپله معنى دلالت نه کوي نودغيرپه معنى څنګه دلالت وکړي .

خلاصه دجواب يې داده چې کلمه دفى په معنى داعتبارسره ده نومعنى دحرف داشوه چې حرف داسې کلمه ده چې دلالت کوي په معنى خپله . په اعتباردغيرسره يعنې په اعتباردمتعلق سره چې ضم دکلمې اخرى دى نه په اعتباردذات خپل سره **أَىْ حَاصِلٍ فِي غَيْرِهٖ** په دې کښې اشاره ده ديته چې فى غيره متعلق دى په حاصل مقدرپورې يعنې داظرف مستقردى **أَىْ بِاعْتِبَارِمُتَعَلِّقِهٖ** په دې کښې اشاره ده دوه خبروته يوه ديته چې داتفسيردفى غيره دى .يعنې فى په معنى داعتباردغيرسره دى بل داچې دغيرنه مرادمتعلق دى ،اوديته ضم دضميمى هم وايې **لَابِاعْتِبَارِهٖ فِي نَفْسِهٖ** يعنې نه په اعتباردنفس خپل سره بلکې دلالت کوي په اعتباردغيرچې هغه ضم دضميمى دى .انتهي کلامه .

التعريرالمقبول فى بيان الحاصل والمحصول.قال الشارح وَمَحْصُوْلُهٗ

پوهه شه په دې واوکښې دوه احتماله دي يوداچې واوعاطفه دى نوداعطف دى په قال المصنف باندې اى قال المصنف فى الايضاح ومحصوله ياواواستفتاحيه دى واواستفتاحيه ديته وايې چې په ابتداد کلام کښې راشي اودهيڅ څيزسره يې تعلق نه وي اومحصول مصدردى په شان دمکذوب ماخوذدى دحصل نه په معنى دحاصل سره اوفرق په مابين

دحاصل اومحصول کښی دادی چې محصول هغه مضمون ته وایې چې حصول یې په مشقت سره راغلی وي او حاصل هغې ته وایې چې حصول یې بلامشقته وي

پس ددینه پوهه شه چې غرض دشارح دمحصول نه تفصیل دهغه کلام مجمل دمصنف ذی چې واقع دی په ایضاح کښی یعنې په کلام دمصنف کښی بیان ددوو معنودی یوه معنی فی نفسه چې دامعنی مستقله ده اوبله معنی فی غیره ده چې دامعنی غیرمستقله ده نوهرکله چې دابیان مجمل وونوشارح یې ومحصوله سره تفصیل وکه اوبل غرض دشارح دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې تشبیه دمعنی اسمي ددارسره غلطه ده ځکه چې په معنی اسمي کښی قیدذفی نفسه راغلی دی اوپه مقابله دفی نفسه کښی په تعریف دحرف کښی فی غیره راځي اوپه جانب دمشبه به کښی الدارفی نفسهادی خوپه محاوراتوکښی په مقابله دده کښی الدارفی غیرهانه را ځي بلکې بلکې الدارلافی نفسهاحکمهاکذاراځي نوددې ، جواب شارح په ومحصوله کښی ذکرکه خلاصه یې داده چې داتشبیه دمعنی اسمي دالدارسره په جمیعو اموروکښی نه ده بلکې په بعض اموروکښی ده اوهغه داچې لکه څنګه په معنی اسمي کښی اعتباردغیرنشته نودغه شان په دارکښی هم اعتباردغیرنشته ،اوداتشبیه شارح بیان کړیده په دې قول سره چې كَمَاأَنَّ فِي الْخَارِجِ الخ اودریم غرض دشارح تشبیه دمعقول ده دمحسوس سره دپاره دتوضیح دمعقول ،معقول په دې مقام کښی معنی اسمي اوفعلي ،اومعنی حرفي ده ،اومحسوس جواهراو عرض دی نومشبه په حقیقت کښی دوه څیزونه دی یومعنی اسمي وفعلي اوبل معنی حرفي اومشبه به هم دوه څیزونه دي یوجرهراوبل عرض ،نوشارح وایې وَمُحَصُّولُهُ مَاذَكَرَهُ بَعْضُ الْمُحَقِّقِيْنَ اوحاصل دکلام دمصنف چې ذکرکړیدی هغې لره بعض محقیقنوچې سیدالسنددی په حاشیه دمطول کښی (محرم) حَيْثُ قَالَ كَمَا په دې شان سره چې وئیلي دي دغه فاضل كَمَاأَنَّ فِي الْخَارِجِ مَوْجُوْدًاقَائِمًابِذَاتِهِ وَمَوْجُوداًقَائِمًابِغَيْرِهِ کاف تشبیهې دی ان فی الخارج الخ بیان دمشبَه به دی اوداتشبیه دمعقول ده دمحسوس سره .

موجودپه دوه قسمه دي : تفصیل یې دادی چې موجودپه دوه قسمه دی یوموجودخارجې اوبل موجودذهنې وجه یې داده چې داموجودبه خالي نه وي یابه محسوس اومشاهدوي یانه که وي نوداموجودخارجي دی اوکه نه وي نوداموجودذهني دی ،بیاهرواحدپه دوه قسمه دی یوقائم بذاته اوبل قائم بغیره پس داځلورقسمه شو .

(۱) موجودخارجي قائم بذاته (۲) موجودخارجي قائم بغیره (۳) موجودذهني قائم بذاته (۴)

موجود ذهني قائم بغیره

پس موجود خارجي قائم بذاته عبارت دی دهغه شي نه چې محتاجه نه وي په **حصول فی المکان** کښې شي اخرته اودیته جرهر وایې لکه جسم جدار وغیره اوموجود خارجي قائم بغیره عبارت دی ددینه چې محتاج وي په حصول کښې شي اخرته اودیته عرض وایې لکه الوان اوموجود ذهني قائم بذاته دیته وایې چې دی مدرک وي قصدا لکه معنی اسمي او موجود ذهني قائم بغیره دیته وایې چې دی مدرک ، تبعاوي .لکه معنی حرفی ، پس معنی اسمي اوفعلي په شان دجوهریعنې موجود خارجي قائم بذاته ده .اومعنی حرفي مشابه ده دموجود خارجي قائم بغیره یعنې عرض سره نوشارح وایې **کمـاان فـی الخـارج موجودا قائمـا بذاتـه وموجودا قائمـا بغیره** دابیان دمشبه به دی ،یعنې لکه څنګه چې په خارج کښې یوموجود قائم بذاته دی لکه جوهر اوبل موجود قائم بغیره دی لکه عرض .اومعنی دقیام بالذات داده چې قیام یې بالغیر اوبالتبع نه وي یعنې تابع دغیرنه وي اومعنی دقیام بالغیر داده چې وجود ده تابع دغیروي نوقائم بذاته یعنې جوهرمشبه به ده دپاره دمعنی اسمي اوفعلي اوقائم بالغیر یعنې عرض مشبه به ده دپاره دمعنی حرفي ،اوتشبیه په دې کښې ده چې لکه څنګه جوهر محتاجه نه وي په حصول فی المکان کښې غیرته نودغه شان معنی اسمي اوفعلي هم په فهم کښې محتاج نه وي غیرته یعنې انضمام دبلې کلمې ته .اودغه شان لکه څنګه چې عرض په حصول فی المکان کښې محتاجه وي ،غیرته نودغه شان معنی حرفي هم په فهم کښې محتاجه وي غیرته چې انضمام دکلمې اخری دی **کـذالـک فـی الـذهـن معقـول** دا عبارت ترفالابتدا پورې بیان دمشبه دی یعنې دمعنی اسمي فعلي او حرفي .

سوال : کذالک مستدرک دی ځکه چې مقصود ددینه تشبیه ده اودامقصد حاصل شویدی په کاف سره ؟

جواب :کذالک تاکید دی دپاره دکاف تشبیه اوفائده په دې کښې جبیره دهغه نقصان ده چې حاصل شویدی دتقدیم دمشبه به نه په مشبه باندې په دې مقام کښې ،مطلب دادی چې اصل تقدیم دمشبه دی په مشبه بِه باندې . لکه زید کالاسد اودلته شارح مشبه بِه مقدمه کړیدی په مشبه باندې .نوکذالک یې دتاکید دپاره راوړه دپارې ددې چې څوک توهم ددې ونه کړي چې ګنی دلته هم مشبه مقدمه ده نوشارح وایې چې هم دغه شان په ذهن کښې هم یومعقول دی **هُوَمُدْرَکٌ قَصْداً** چې معلوم دی **قصداً مَلْحُوْظًافِی ذَاتِہٖ** دادقصداً تعین دمعنی مرادی دی ،یعنې

قصدا په معنی دمقصوداً سره دی اومقصود په دوه قسمه دی یوهغه چې مقصود لنفسه وي لکه صلوة مثلا اوبل هغه چې مقصود لغیره وي لکه وضو للصلوة نوکوم یومراد دې ؟

نوشارح اووئیل **ملحوظاً** یعنې مراد ترې دلته مقصود لذاته دی اوبل غرض دفع د اعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې داقول دشارح هومدرک قصدا معنی اسمي اوفعلي ده نولکه ځنګه چې معنی اسمي اوفعلي مدرک قصدا ده نومعنی حرفي هم مدرک قصدا ده .اوداځکه چې معنی حرفي هم مدرک ده یعنې ادراک یې کیږي کماهو الظاهر اوادراک فعل اختیاری دی اوهرفعل اختیاری مسبوق بالقصد والاراده وي یعنې دهرفعل اختیاری اول اراده کیږي بیاهغه فعل کولی شي ، نوبناپه دې معنی حرفي هم مدرک قصداً شوه نو خلاصه داشوه چې مقابله مذکوره دمعنی اسمي .فعلي اوحرفي په مابین کښې غلطه ده خلاصه دجواب یې داده چې مراد . دقصد انه ملحوظ فی ذاته دی اومعنی حرفي اګرچې مدرک قصدا ده لیکن ملحوظ فی ذاته نه ده بلکې ملحوظ تبعایعنې اله ده دپاره دمعرفت دحال الغیر **فحصل الفرق وسیأتی یَصْلَحَ اَنْ یُحْکَمَ عَلَیْهِ وَبِهِ** دابیان د حکم دمعنی اسمي اومعنی فعلي دی **هذا تفریع علی قوله وملحوظاً فی ذاته** او مقصد په دې کښې بیان دحکم دمعنی اسمي فعلي دی یعنې دغه معنی چې په ذهن کښې ده اوملحوظ فی ذاته ده صالح ده دپاره ددې چې محکوم علیه اوبه واقع شي

سوال : داحکم مذکوردپاره دمعنی اسمي خوصحیح دی ځکه چې معنی اسمي محکوم علیه اومحکوم به دواړه واقع کیدی شي لیکن دا حکم دمعنی فعلي دپاره نه دی صحیح ځکه چې معنی فعلي محکوم به خوواقع کیدی شي لیکن محکوم علیه نه شي واقع کیدی ددې نه مختلف جوابونه شویدی یوداچې واوپه معنی داوسره دی اوداما نعة الخلوه ده مطلب داچې معنی اسمي فعلي به نه خالي کیږي دمحکوم علیه اودمحکوم بِهِ دواقع کیدلونه اوهره مانعة الخلوه جائزة الجمع وي یعنې جمع کیدل یې جائزوي نوپه معنی اسمې کښې دواړه جمع شویدی اومعنی فعلي فقط محکوم بِهِ واقع کیدی شي دوهم جواب دادی چې معنی فعلي په اعتبار دذات سره صالح اوقابل دپاره دمحکوم علیه دواقع کیدلوده ، لیکن په استعمال دعربو کښې محکوم علیه نه واقع کیږي دپاره ددې چې لازم نه شي خلاف دوضعي نه دریم جواب دادی چې فعل که په معنی حدثی سره واغستې شي یعنې تجرید یې وکړی شي دنسبت اوزمانې نه نوبیامحکوم علیه واقع کیدی شي ځکه چې معنی حدثی مستقله ده نوبناپه دې حکم مذکور علی الاطلاق فعل ته هم شامل دی **فافهم وَمَعْقُولٌ هُوَمَدْرَكٌ تَبْعًا** دابیان دمعنی

حرفي دی او عطف دی په معقول ، اول ، باندې

پس تقدیر د عبارت دا شه **كذالك في الذهن معقول الخ** یعني هم دغه شان په ذهن کښې یو بل معقول هم دی چې معلوم دی تبعا نو دا معقول ، معنی حرفي ، مشابه ده د عرض سره په دې خبره کښې چې عرض هم تابع د غیر وي . او معنی حرفي هم لکه څنګه چې معقول اول یعنې معنی اسمي وفعلي ، مشابه ده د جوهر سره په دې خبره کښې چې لکه څنګه جوهر تابع د غیرنه وي نو دغه شان معنی اسمي او فعلي هم تابع د غیرنه وي **وآلـة لملاحظـة غـيره** دا عبارت تفسير او وضاحت د تبعادی او مقصد په دې کښې تعین د معنی مرادی دی د تبعانه چې اله وي د پاره د معرفت د حال الغیر ، او بل غرض ترې دفع د اعتراض مقدره ده حاصل یې دا دی چې د اقول د شارح چې هو مدرک تبعادی تعریف د معنی حرفي دی ،نو سوال دا دی چې دا تعریف مانع نه دی دد خول د غیرنه داخل شو په کښې اسماء لازمة الاضافة یعنی هغه اسماء چې انفکاک یې د اضافت نه ممتنع وي ، لکه فوق او تحت مثلا څکه چې دا الفاظ بغیر د مضاف الیه نه نه مستعمليږي په کلام عربي کښې نو مضاف الیه به یې مذکوری وي او که مذکورنه وي نو لا محاله به مقدر وي **لكه فوق السطح تحت الشجرة وغيره** .

خلاصه دا چې تعریف د معنی حرفي صادق دی په اسماء لازمة الاضافة باندې څکه چې معرفت د اسماء لازمة الاضافة هم تابع د غیر دی چې مضاف الیه دی او دغه شان تعریف د حرف صادق دی په موصولاتو باندې ، څکه چې معرفت د موصولا تو هم تابع د غیر دی چې صله ده ،او حالانکه دا اسماء دي حروف نه دی **فاجاب الشارح بقوله المذكور**.

حاصل د جواب یې دا دی چې مراد په تبعًا سره دا دی چې دا به آله وي د پاره د معرفت د حال **الغير ولا يكون مقصود الذاته** نو دا تعریف صادق نه دی په اسماء لازمة الاضافة او موصولاتو څکه چې اسماء لازمة الاضافة او موصولات اله د پاره د ملاحظی د غیرنه ده چې مضاف الیه او صله ده .نو معانی دد دې مفهومات مستقله دی البته ذکر د مضاف الیه مخصوص یا د صلي مخصوصي د پاره د غرض د وضعي ددوئ دی او غرض د شی د شی نه خارج وي و سیاتی **هذا في قوله وبما سبق من التحقيق ظهر بعد أسْطُر**

سوال : په عبارتینو د شارح کښې تناقض دی څکه چې مدرک تبعانه معلومیږي چې معنی حرفي به موقوف وي په غیر باندې چې متعلق دی او دا څکه چې تابع د شي موقوف وي په شي باندې او د آلة لملاحظة غيره نه دا معلومیږي چې معنی حرفي به ذریعه وي یعنې موقوف علیه

به و ي دپاره دحال دغیرچې متعلق دی نو دیوقول نه معلوم شه موقوفیت دحرف اودبل نه معلوم شه کون دده موقوف علیه **وماهذاالاتناقض** ؟

جواب : په کلام دشارح کښې موقوفیت دحرف په غیر په اعتباردذات سره دی ،یعنې ذات دمعنی حرفي موقوف دی په غیرچې متعلق دی اوکون دده موقوف علیه نودا په اعتباردمعرفت دحال الغیرسره دی ،اودغیرنه مرادمتعلق دحرف دی چې بصره اوکوفه دی مثلااوحال دبصری کون ددې دی مبتدا بِه ،اوحال دکوفې کون ددې دی منتهې الیه او معرفت دحالاتوددوی موقوف دی په معنی حرفي باندې نوحاصل داشه چې حرف موقوف دی په غیرنودا په اعتباردذات سره دی اوچې موقوف علیه دی دپاره دغیرنودا په اعتبار دمعرفت دحال دغیرسره دی نوجهتین غیرشونوتناقض نشته **فَلَايَصْلَحُ لِشَيْءٍ مِنْهُمَا** دابیان دحکم دی دپاره دمعنی حرفي ، یعنې پس دامعنی حرفي قابل نه ده دپاره د هیڅ څیزدمحکوم علیه اومحکوم بِه ځکه چې دارومداردمحکوم علیه اومحکوم بِه په استقلال دی اومعنی حرفي غیر مستقله ده ځکه چې دا اله اونسبت دی اونسبت غیرمستقل دی نو په دې وجه معنی حرفي محکوم علیه اومحکوم بِه نه شي واقع کیدی .

فَالْإِبْتِدَاءُمَثَلًاالخ پوهه شه چې تردې ځایه پورې شارح بیان دمعنی اسمي ، فعلي اوحرفي ، اوداحکامودهغې وکه په وجهې کلي سره اوددې ځای نه تروالحاصل پورې بیان دمعنی اسمي ، فعلي اوحرفي دی په وجهې جزیې سره یعنې په ضمن دمثال کښې دپاره دتو ضیح ،تووایې چې فالابتداء ای معنی الابتداء مثلاً پوهه شه مثلاً منصوب دی بنابرمفعول مطلق دپاره دفعل **مقدرای مثلتُ مثلا**اوذکردمثلا دپاره دد فع دتوهم دتخصیص دی دمعنی اسمي او حرفي په لفظ دابتداپورې ځکه چې دامعنی لکه څنګه په لفظ دابتداء کیدی شي نودغه شان دلفظ دانتهاء هم کیدی شي پس ذکردابتدابطورتمثیل دی **اِذَالَاحَظَهُ الْعَقْلُ قَصْدًااَوبِالذَّاتِ** په هغه وخت کښې چې ملاحظه وکړي عقل ددې معنی دابتداقصدا او بالذات په دې شان سره چې عقل توجه وکړي معنی دابتداته فی نفسه ،قصدا منصوب دی بنابرحالیت ای حال کونه مقصودلغیره نه وي ذکردبالذات پس دقصدانه عطف تفسیرې دی د پاره دقصدا اوپه دې کښې اشاره ده دیته چې مراد مقصودنه مقصودبالذات دی نه مقصود **بالغیرکَانَ مَعْنًى مُسْتَقِلًا بِالْمَفْهُومِيَّةِ** داجزاء ده دپاره داذالاحظه العقل ،مطلب داچې په کوم وخت کښې عقل لحاظ دمعنی دابتداقصداوبالذات وکړي نوکیږي معنی دابتداء معنی مستقله بالمفهومیة په سبب

دفهم سره دلفظ نه **مَلْحُوظًا فِي ذَاتِهٖ** دا تفسیر دی دپاره ددې قول چې مستقلا بالمفهومية مطلب داچې لحاظ یې کړی شوی دی په اعتبار د ذات سره یعنې من غیر حاجة الی انضمام کلمة اخری **وَلَزِمَهُ تَعَقُّلُ مُتَعَلِّقِهٖ اِجْمَالًا أَوْ تَبَعًا** غرض د شارح په دې عبارت سره د فع داعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې اطلاق داستقلال بالمفهومية په معنی دابتداء باندې صحیح نه دی ځکه چې تصور د متعلق چې مامنه الابتدا، یعنی مبدا، لازم دی دابتداء مطلق سره ځکه چې ابتداء خامخا مبدا غواړي نو معنی دابتدا بنا شوه په متعلق باندې نو څنګه به معنی دابتداء مستقله و کرزی خلاصه دجواب یې داده چې به شکه لازم دی دمعنی دابتداء سره تصور د متعلق اجمالي چې هغه ابتداء دشی ما یعنې دیو شي نه او لزوم د تصور متعلق اجمالي مضر نه دی استقلال لره ځکه چې دا یوور سره هسې هم لازم دی خود بخود ذهن ته را ځي .ذکر کولو ته یې حاجت نیشته ددې مثال داسې دی لکه رؤية دائینی کله چې مقصد په کښی خپل شکل کتل وي نو کتل دائینی ورسره لازم دی خود بخود دا کتل حاصلیږي نو دغه شان متعلق اجمالي هم لازم دی دمعنی دابتدا سره **وهذا لا یضرنا**.

متعلق اجمالي او تفصیلي: پوهه شه چې متعلق په اصطلاح د نحاتو کښی عبارت دی دموقوف علیه نه او متعلق اجمالي دیته وایي چې لحاظ دامور متعدد و کړی شي په لحاظ وحدانی سره مثال یې لکه فعل ما او مکان ما یعنې یو فعل دافعالو یا یو مکان دامکنو نه . نو په دې کښی جمیع افعال او مکانات ملحوظ دی او متعلق تفصیلی خاص متعلق اجمالي لازم دی دابتداء سره خودانه ،چې لفظ دابتداء محتاجه دی ذکر ددغه متعلق اجمالي ته بلکې هغه ورسره لازم دی بغیر د ذکر نه هم فهم کیږي لکه زوجیت چې داربعه سره لازم دی ،نو زوجیت داربعه نه فهم کیږي بغیر د ذکر کولو د زوجیت نه کما هو الظاهر نو تصور د متعلق اجمالي مضر نه دی استقلال لره.

لانه غیر ملتفت لعدم الاحتیاج الی ذکره مِنْ غَیْرِ حَاجَةٍ اِلَی ذِکْرِهٖ ځکه چې هغه متعلق اجمالي چې تصور دابتداء بغیر د هغې نه نشي کیدی لازم دی دلفظ دابتداء سره نو ذکر کولو ته یې حاجت نیشته **وَهُوَ بِهٰذَا الْاِعْتِبَارِ مَدْلُوْلُ لَفْظِ الْاِبْتِدَاءِ فَقَط** او دا معنی دابتداء په دې اعتبار سره چې ملحوظ قصداده ،مدلول دلفظ دابتداده یعنې نه ده مدلول دلفظ دمن پوهه شه چې فاد فقط فصحیحه ده او دا دیته وایي چې واقع وي په جواب د شرط مقدر کښی او قط اسم فعل دی په معنی د انته سره .نو معنی داشوه **اذا عرفت ان هذا معنی لفظ الابتداء فانته**

عَنْ اَنْ تَجْعَلَهُ مَعْنَى لَفْظٍ مِنْ ځکه چې معنی د من غیرمستقله د ه او هغه معنی دلفظ الابتداء نه شي کیدی **فَلَاحَاجَةَ فِي الدَّلَالَةِ عَلَيْهِ اِلَى ضَمِّ كَلِمَةٍ اُخْرٰى اِلَيْهِ.**

پس هر کله چې معنی دابتدا په دې اعتبار سره مدلول دلفظ دابتدا ده پس نیشته حاجت لفظ دابتدا ته یا متکلم ته په دلالت دلفظ دابتدا کښې په دغه معنی باندې انضمام د کلمې اخرى ده ته ،یعنې لفظ دابتدا ته ، **لِتَدُلَّ اَ عَلٰى مُتَعَلِّقِهِ** دا غایه د منفی ده یعنې حاجت نشته انضمام د کلمې اخرى ده ته د پاره د دې چې دلالت وکړي په متعلق اجمالي دلفظ الابتدا باندې **وَهٰذَا هُوَ الْمُرَادُ الخ** غرض د شارح د دې عبارت نه اصلاح د عبارت د قوم ده په دفع د اعتراضینو سره پس قوم د نحویانو په تعریف د اسم او فعل کښې وئیلي دي چې **ان للاسم والفعل معنى كائنا في نفس الكلمة الدالة عليه** نو په دې اعتراض وارد شه چې فی ظرفیه ده نو لازم شه ظرفیت د کلمې د پاره د معنی او دا نه دی صحیح ځکه چې ظرف یا زمان وي او یا مکان ، او کلمه یو هم نه دی اودوئم اعتراض دا وارد شه چې د عبارت د قوم نه خو دا معلومه شوه چې په اسم او فعل کښې معنی مدلول د کلمې وي او دا معلومه شوه د دې ټکی نه چې **اَلدَّالَّهُ عَلَيْهِ** نو بنا په دې دا تعریف د اسم او فعل په حرف هم صادق شه ځکه چې معنی د حرف هم مدلول د کلمې وي ،نو تعریف د اسم ، او فعل مانع نه شه د دخول د غیرنه .

فاجاب الشارح بقوله وهذا الخ یعنې کون د معنی چې ملحوظ به وي بالذات ،او مقصود به وي بالذات ،هم دا معنی مراده ده په دې قول سره چې **اَنَّ لِلْاِسْمِ وَالْفِعْلِ مَعْنًى كَائِنًا فِي نَفْسِ الْكَلِمَةِ الدَّالَّةِ عَلَيْهِ**

چې د پاره د اسم او فعل داسې معنی ده چې کائنه ده په نفس کلمه کښې هسې کنه چې دلالت کونکی ده په دغه معنی حاصل د جواب یې دا دی چې مراد د قوم د فی نفس الکلمة نه دا دی چې معنی د اسم او د فعل به مستقله بالمفهومیت وي او ملحوظ به وي بالذات محتاجه به نه وي غیر ته او مراد دا نه دی چې ګني کلمه به خامخا ظرف زمان یا مکان وي د پاره د معنی ،البته فی ظرفیه یې ذکر کړیده د پاره د مشابهت د کلمې د ظرف سره یعنې لکه څنګه چې په انتقال د ظرف سره انتقال د مظروف راځي نو دغه شان په انتقال د کلمې د اسم او د فعل سره ذهن د سامع ته انتقال د هغه معنی هم راځي ذهن د سامع ته ، چې کومه معنی په کلمې د اسم او فعل کښې پرته ده او مستقله ده احتیاج یې بلې کلمې ته نیشته ،نو اول سوال وارد نه شه ، او هم دغه شان

مراددانه دی چې ګنی دامعنی داسم اوفعل مدلول دکلمې ده بلکې مراددادی چې معنی داسم اوفعل مستقل بالفهم ده ملحوظ بالذات ده ، نوتعریف داسم اوفعل په حرف هم صادق نه شه ځکه چې معنی دحرف مستقل بالفهم نه ده ، بلکې محتاجه ده غیرته نودوئم سوال هم دفع شه **وَاِذَالَاحَظَهُ الْعَقْلُ مِنْ حَيْثُ هُوَحَالَةٌ بَيْنَ السَّيْرِوَالْبَصْرَةِمَثَلاً** دابیان دمعنی حرفي دی په وجې جزیې سره یعنې په ضمن دمثال کښې پس دبیان دمعنی حرفي نه په وجې کلي سره نوشارح وایې چې په کوم وخت کښې ملاحظه وکړي عقل ددغې معنی دابتدا په دې حیثیت چې دامعنې دابتداحالت دی په مابین دسیراوبصری کښې **مثلاًوَجَعَلَهُ اٰلَةً لِتَعَرُّفِ حَالِهِمَا** داعطف دی په اذالاحظه باندې معنی داچې وګرزئ عقل دی معنی دابتدالره اله اوذریعه دپاره دمعلومولو دسیراودبصری **كَانَ مَعْنًى غَيْرَمُسْتَقِلٍّ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ** داجزاء ده داذالاحظه یعنې وي به دامعنی غیرمستقله بالمفهومیة ، یعنې بغیردانضمام دکلمې اخری نه به نه فهمیږي ، پس دامعنی حرفي نه محکوم علیه واقع کیدی شي اونه محکوم به .

معنی دحالت :پوهه شه چې دحالت معنی شارحینوکړیده چې حالت وئیلی کیږي هغه صفة ته چې قائم وي په طرفینو پورې ،لیکن دامعنی په دې مقام کښې مناسبه نه ده ځکه چې معنی دابتداقائمه نه ده په سیراوبصری پورې نوصحیح معنی هغه ده چې استادصاحب فرمایله ، مراد خمونږ داستاذ محترم شاه منصورباباجي مدظله استاذصاحب دی چې حالت عبارت دی دنسبت رابطی نه په مابین دسیراودبصري کښې چې موجب دپاره **دانکشاف داَحَدِهِمَا** دی په نسبت سره اخرته ،لکه سرت من البصرة الی الکوفة ،نودسیراوبصري په مابین کښې مخکښې دذکرکولو دلفظ من نه هیڅ ربط نه وواوحال دسیراودبصری معلوم نه وو ، نوهرکله چې لفظ دمن ذکرکړی شه او اوئیلی شو چې سرت من البصرة الی الکوفة نومعنی دمن چې ابتداء جزیې ده یعنې دیوخاص ځای نه سفرشروع کول ، نسبت رابطي دی په مابین دسیراوبصری کښې ،. ددواړو په مابین کښې ربط هم پیداشه اوداذریعه وګرزیده دپاره دمعرفت دحال ددواړو .

معنی دحال : پوهه شه چې حال په معنی دمحمول سره دی اومراددینه هغه مشتقی دی چې ماخوذ وي دلفظ دابتدانه اومحمول وي په سیر اوبصری باندې مثلا نوابتداچونکه دسیرشوي ده نومناسب مشتقی ددې سره **مُبتدابِه** ده نواوبه وئیلی شي چې **اَلسَّيرمُبْتَدَابِهٖ** اوابتدا دسیر دبصري نه شویده نومناسب مشتقي دبصری سره **مُبْتَدَاٌمِنْهُ** نومعنی دمن ذریعه

وګرزیده دپاره دمعرفت داحوالو دسیراوبصری

سوال په عبارت دشارح کښی تعارض دی ځکه چې ددې قول دشارح نه چې **فالابتدامثلااذا لاحظه العقل قصداالخ** نه معلومه شوه چې معنی دابتدا مستقله ده او د **واذالاحظه العقل من حیث هوحالت بین السیرالخ** نه معلومه شوه چې غیرمستقله ده ځکه چې ضمیردلاحظه ابتداته راجع دی ،نولازم شه کون دشي واحدهم مستقل اوهم غیرمستقل **وهذاتعارض** ؟

جواب : په لفظ دابتداکښی جهتین دی ځکه چې دده دوه معنی دي یوه معنی کلي یعنې ا غازکردن دهر شي چې وي اودهرځای نه چې وي اوبله معنی جزیې یعنې دخاص فعل او دخاص مکان نه شروع کول ،نوابتدامستقله ده په اعتبارد معنی کلي سره ، اوغیرمستقله ده په اعتبارد معنی جزیې سره نومعنی کلي اراده کړی شوه په ارجاع دضمیردلاحظه اول سره ابتداءته اومعنی جزیې اراده کړي شوه په ارجعادضمیرداذالاحظه ثاني سره **وسیأتی هذاان شاءالله** اودی ته صنعة الاستخدام وایې ،نوتعارض دفع شه په طریقي دصنعة الاستخدام سره **فافهم وَلَايُمْكِنُ اَنْ يُتَعَقَّلَ اِلَّابِذِكْرِمُتَعَلِّقِهٖ بِخُصُوْصِهٖ** اوممکن نه ده چې سامع تصوروکړي ددغې معنی حرفي مګرپه ذکردمتعلق خاص سره چې هغه سیراوبصره دی په مثال مذکورکښی اوداظاهره ده ځکه چه ا و س د ا خبره ذ کر شو ه چې معنی حر فی نسبة رابطی دی اوتصوردنسبة رابطي بغیرد ذکرصریحي ،خصوصي دطرفینونه ممکن نه دی ، پوهه شه چې متعلق خصوصي په دې مثال کښی سیراوبصره دی اواحوال ددې کون دسیردې مبتدابه اوکون دبصری دی مبتدا **مِنْهُ وَلَااَنْ يُدُلَّ عَلَيْهِ اِلَّابِضَمِّ كَلِمَةٍ اُخرى** **یدل** صیغة دمجهول ده اوعطف ده په ان یتعقل باندې **فالتقدیرولایمکن ان یدل علیه الخ** معنی یې داده چې ممکن نه ده چې معنی حرفي مدلول وګرزی دحرف مګرپه ضم دکلمې اخری سره هسي کلمه **دَالَّةٍعَلٰى تَعَلُّقِهٖ** چې دلالت کونکی ده په متعلق خاص باندې ،پوهه شه چې ذکردمتعلق خاص په معنی حرفي کښی داسې دی لکه ذکرد مرجع په ضمیردغائب کښی اوذکرد مشارالیه دپاره داسم اشارې ،اوذکردصلې دپاره دموصول وغیره **فافهم وسیأتی** .

وَالْحَاصِلُ اَنَّ لَفْظَ الْاِبْتِدَاءِمَوْضُوْعٌ لِمَعْنًى كُلِّيٍّ پوهه شه چې تردې ځایه پورې قول دبعض محققینوو اودوالحاصل نه تراذاعرفت پورې عبارت دشارح دی نوغرض دشارح ددې نه توضیح دلفظ دابتداءده چې واقع ده په کلام دبعض محققینو کښی اوبل غرض یې اشاره ده

فرق ته په مابین دمعنی اسمي فعلي اوحرفي کښې اوبل غرض يې اشاره ده فرق ته په طريقي منطقي سره ځکه چې مذکورپه عبارت سابقه کښې اصطلاحات منطقيه دي اوبل غرض يې دفع داعتراض ده ، حاصل يې دادی چې دعبارت دبعض محققينونه چې **فالابتداءمثلاالخ** دی . دامعلومه شوه چې په مابين دمعنی اسمي فعلي اوحرفي کښې اتحادذاتي اوتغائراعتباری دی په دې شان سره چې ذات دمعنی اسمي فعلي اوحرفي واحددی چې معنی دابتداده خو په اعتباراول يعنې **اذالاحظه العقل قصداوبالذات** سره معنی اسمي فعلي ده اوپه اعتبارثاني يعنې **اذالاحظه العقل من حيث هوحالة بين السيروالبصرة** حرف دی حالانکه خبره داسې نه د ه بلکې په مابين دمعنی اسمي فعلي او حرفي کښې تغائرذاتي دی ، حاصل دجواب يې دادی چې اعتراض به هله واردوي چې که چرې ضميردلاحظه (ثاني) راجع وي هغه معنی دابتداته کوم ته چې ضميردلاحظه اول راجع شويدی خوداسې نه ده ځکه چې ضميردلاحظه ثاني راجع دی ابتداء جزئی ته اوضميردلاحظه اول راجع دی ابتداء کلي ته په طريقي دصنعة الاستخدام سره .
صنعة الاستخدام ديته وايې چې يولفظ ذکرشي ذوالمعنيين ،نويوه معنی اراده کړی شي په اسم ظاهرسره اوبله اراده کړی شي په اسم ضميرسره يايوه معنی اراده کړی شي په يو ضمير سره اوبله اراده کړی شي په بل ضمير سره نودلته هم دابتداء دپاره دوه معنی دي يوابتداکلي چې دامعنی اسمي فعلي ده اوبله ابتداء جزيې چې دامعنی حرفي ده نومعنی اوله اراده کړی شوه په يوضميرسره په لا حظه (اول) کښې اومعنی حرفي اراده کړی شوه په ارجا ع دضميراذالاحظه ثاني سره ،پس هرکله چې ضميرداذالاحظه اول راجع شه ابتداء کلي ته ،اوضميردلا حظه ثاني راجع شه ابتداجزيې ته نوثابت شه تغائرذاتي په مابين دمعنی اسمي ، فعلي اوحرفي کښې فافهم.

نوشارح وايې چې حاصل دقول دبعض محققينودادی چې لفظ دابتداء **مَوْضُوعٌ لِمَعْنى كُلى** وضع دی دپاره دمعنی کلي ، ديته ابتداء مطلق اوابتداء عامه هم وئيلي شي ،**وَلَفْظَةٍ مِنْ موضوعةٌ لِكُلِّ واحِدٍمِنْ جُزئيَاتِهِ الْمَخْصُوصَةِ الْمُتَعْلَقَةِ** اولفظ دمن موضوع دی دپاره دهرواحد دجزئياتو مخصوصو متصورو ددغې معنی کلي اوديته ابتداءات خاصه هم وئيلي شي ، لکه ابتدادکوفي نه داکوړی اودمردان نه وغيره پس دغه ابتداء کلي ابتداء مطلقه اوابتداء عامه معنی اسمي ده اومدلول دلفظ دابتداء ده او ابتداءات جزئيه خاصه معنی حرفي ده اوپه دې باندې دلالت کوي لفظ دمن .

پوهه شه چې په دې ځای کښې دوه نسخې دي يو (المتعلقة) او بله (اَلْمُتَعَقِّلَة) خو صحيح نسخه المتعقلة ده په معنى المتصورة سره قرينه پرې دا اينده عبارت د شارح دى چې **بل تلك الجزئيات لاتتعقل الابذكر الغرمن حَيْثُ اَنَّهَا حَالَاتٌ لِمُتَعَلِّقَاتِهَا** په دې حيثيت چې دغه جزئيات (ابتداء ات خاصه) حالات دى دپاره دمتعلقاتو ددې جزئياتو حالات جمع دحالة ده او مراد ترې نسبت رابطي دى په مابين دشيئنو کښې چې موجب وي دپاره دانکشاف په نسبت سره بل ته **وهذا اقدمر منا فتذكروآلاتٌ لِتَعَرُّفِ اَحْوَالِهَا** داعطف دى په حالات باندې نو معنى داشوه چې ددې حيثيته چې دغه جزئيات مخصوصه مدلول د معنى حرفي دى واسطې او ذريعې دي دپاره د معرفت داحوالو ددې متعلقاتو متعلقات سير او بصره وغيره دى او احوال کون د سير دى مبتدا به او کون د بصرى دى مبتدا منه **وَذَالِكَ الْمَعْنَى الْكُلِّي يُمْكِنُ اَنْ يُتَعَقَّلَ قَصْداً** دا بيان دى د معنى کلي او داحکامو ددې معنى کلي نو وايې چې دغه معنى کلي (دابتداء) ممکنه ده چې تصور يې وکړى شي، قصدا او بالذات، **وَيُلَاحَظُ فِي حَدِّ ذَاتِهِ** او ممکنه ده چې لحاظ يې وکړى شي په اعتبار د ذات سره **فَيَسْتَقِلُّ بِالْمَفْهُوْمِيَةِ** پس په دغه وخت کښې به دغه معنى کلي مستقل بالمفهومية وګرزي يعنې فهميږي به دلفظ دابتداء نه بغير د انضمام د کلمې اخرى نه **وَيَصْلَحُ اَنْ يَكُوْنَ مَحْكُوْمًا عَلَيْهِ وَبِهِ** دا بيان د بعض احکامو ددې معنى کلي دى يعنې صلاحيت لري دغه معنى کلي ددې چې محکوم عليه او محکوم به واقع شي، ځکه چې دارومدار د محکوم عليه او محکوم به په استقلال بالمفهومية دى **وَاَمَّا تِلْكَ الْجُزْئِيَاتُ** دا بيان د معنى حرفي او دا حکامو دهغې دى نو وايې چې دغه جزئيات مخصوصه چې دهر واحد دهغې دپاره لفظ دمن وضع دى **فَلَا تَسْتَقِلُّ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ** پس دا نه دى مستقل په معلوميدو کښې دلفظ دمن نه ځکه چې دا معنى مستقله نه ده پس هرکله چې معنى حرفي مستقل بالمفهومية نه شوه نو لامحاله به دا معنى محتاجه وي ضم د کلمې اخرى يعنې متعلق ته دپاره دفهم **وَلَا تَصْلَحُ اَنْ تَكُوْنَ مَحْكُوْمًا عَلَيْهَا وَبِهَا** دا بيان د بعضې احکامو د معنى جزيې حرفي دى مطلب دا چې دغه جزئيات چې مدلول دلفظ دمن دى صالح او قابل نه دى دپاره ددې چې محکوم عليه او محکوم به واقع شي **اِذْلَابُدَّ فِي كُلٍّ مِنْهُمَا اَنْ يَكُوْنَ مَلْحُوْظًا قَصْداً** دا دليل د حکم مذکور دى يعنې دا محکوم عليه او به ځکه نه واقع کيږي چې لابدى ده دهر واحد د محکوم عليه او محکوم

به دپاره ددې خبرې نه چې وي به ملحوظ او مقصود بالذات و معنی الحرف لایکون ملحوظ قصداً نو ددې وجې نه معنی حرفي صلا حیت دمحکوم علیه او محکوم به نه لري.

لیُمْکِنَ اَنْ یُعْتَبَرَالنِّسبةُ بَیْنَهٗ وَبَیْنَ غَیْرِهٖ دا علة دی دپاره ددې قول **اذلابدفی کل الخ** او هغه علة وو دپاره **دولا تصلح الخ** او دیته تدقیق وایې حاصل یې دادی چې دهر واحد دمحکوم علیه او محکوم به دپاره داخبره ضروری ده چې ملحوظ به وي قصداً دپاره ددې چې معتبر کړی شي نسبت په مابین دهر وا حد دمحکوم علیه او به او دغیرده کښې مطلب دادی چې دنسبت دپاره ضروری ده چې وی دپه مابین دمحکوم علیه او محکوم به کښې نولابدی شوه ددې نه چې هر واحد دملحوظ بالذات وي ددې دپاره چې نسبت معتبر کړی شي په مابین ددوئ کښې نسبة نه شه معتبرنو ځکه محکوم علیه او محکوم به نه شي واقع کیدی **بَلْ تِلْكَ الْجُزْئِیَاتُ** بلکې دغه جزئیات مخصوصه چې معنی دلفظ دمن ده **لاتَتَعَقَّلُ** نه متصور کیږي **اِلَّابِذِکْرِ مُتَعَلِّقَاتِهَا** مګر په ذکر دمتعلقا تو مخصوصو سره چې ابتدادبصري نه یادا کوړی نه وغیره **لِتَکُوْنَ الاتٍ لِمُلَاحَظَةِ اَحْوَالِهَا** دپاره ددې چې شي دغه جزئیات مخصوصه وسائط او روابط دپاره دملاحظې داحوالو ددغې متعلقاتو، (چې کون دسیر دی متبداء بهٖ او دکون دبصری دی مثلامبتداء منه **وَهٰذَا** او کون ددې جزئیاتو مخصوصو په دې شان سره چې متعقل او متصور نه ګرزی مګر په ذکر دمتعلقاتو سره **هُوَالْمُرَادُ بِقَوْلِهِمْ** هم دامراد دې په دې قول د نحاتو سره **اَنَّ الْحَرْفَ کَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰی مَعْنًی فِیْ غَیْرِهَا**، چې یقینا حرف داسې کلمه ده چې دلالت کوي په معنی، داسې معنی چې کائنه به وي په غیر ددې کلمې کښې، نو مراد دفی غیرها نه متعلقات دی نو معنی دحرف داشوه چې معنی ددې به فهم ته راځي په ذکر دمتعلقاتو سره چې سیرا او بصره دی مثلاً او دامعنی نه ده چې ګنی معنی خود حرف ده او حاصله ده په غیر کښې.

خلاصه دکلام: خلاصه دکلام داشوه چې معنی فی نفسه چې دامعنی دا سم او دفعل ده) هغه ده چې معتبره ده لذاته لالغیره، او معنی فی غیره (چې دامعنی دحرف ده) هغه ده چې معتبره ده لاجل غیره او آله او ذریعه وي دپاره دمعرفت دغیر **فافهم**.

وَاِذَا عَرَفْتَ هٰذَا الخ غرض دشارح ددې عبارت نه تروبماسبق پورې تشریح دکینونة دمعنی فی نفسه ده او دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې مصنف ابن حاجب په ایضاح کښې

ضمیردفی نفسه راجع کړی دی معنی ته کمامراوشارح دغه ضمیرراجع کړی دی کلمې ته کمامرً هذاایضا .نودانه دی مګر مخالفت دشارح دماتن نه اودامخالفت په قوة دخطاء کښی دی حاصل دجواب دادی چې مخالفت دشارح دمصنف نه نه دی راغلی ځکه چې مآل ددواړوواحددی یعنې ضمیردفی نفسه که معنی ته راجع شي کمافعله المصنف فی الایضاح نوهم ترې مراددستقلال بالمفهومیة دی اوکه کلمې ته راجع شي کمافعله الشارح نوهم ترې مراداستقلال بالمفهومیة دی پس هرکله چې یې مآل واحد شه نومخالفت را نه رغی ، نوشارح وایې چې هرکله تااو پیژنده دا خبره عَلِمْتَ اَنَّ الْمُرَادَبِکَیْنُوْنَةِالمعنی فِی نِفْسِهٖ. نوتاته معلومه شوه داخبره چې مرادپه کینوته دمعنی سره په نفس دمعنی کښی (داپه هغه تقدیرچې ضمیردفی نفسه معنی ته راجع شي) اِسْتَقْلاَلَهٗ بِالْمَفْهُوْمِیَةِ استقلال ددې معنی دی په معلومیدلو کښی دلفظ نه وَبِکَیْنُوْنَةِالْمَعْنٰی فِی نَفْسِ الْکَلِمَةِ اومرادپه کون دمعنی سره په نفس دکلمې کښی (داپه هغه تقدیرچې ضمیرراجع شي کلمي ته دَلاَلَتُهَاعَلَیْهِ مِنْ غَیْرِحَاجَةٍ اِلٰی ضَمِّ کَلِمَةٍ اُخْرٰی اِلَیْهَا (مراد) دلالت دکلمې دی په دغه معنی باندې بغیرد حاجت نه انضمام دکلمې اخری ته اوداکلمه محتاج ولي نه ده لاَسْتِقْلاَلِهٖ بِالْمَفْهُوْمِیَةِ دوجې داستقلال ددغه معنی نه په معلومیدوکښی ددغه لفظ نه فَمَرْجِعُ کَیْنُوْنَةِ الْمَعْنٰی فِی نِفْسِهٖ ای فی نفس معنی وَمَرْجِعُ کَیْنُوْنَةِ الْمَعْنٰی فِی نَفْسِ الْکَلِمَةِ الدَّالَّةِ عَلَیْهِ داپه هغه تقدیرچې ضمیرراجع شي کلمې ته اِلٰی اَمْرٍوَاحِدٍ دا تفریع ده په ماسبق باندې نو مرجع ددواړوواحده ده وَهُوَاسْتِقْلاَلَهٗ بِالْمَفْهُوْمِیَةِ هغه امرواحداستقلال دمعنی دی بالمفهومیة فلامخالفةفی الحقیقة.

خلاصله دکلام اوترجیح دماهوالراجح: خلاصه داده چې په کافیه کښی په ضمیردفی نفسه کښی احتمالین دی یوداچې راجع شي کلمې ته بل داچې راجع شي معنی ته لیکن اول احتمال راجح دی ځکه چې په دې کښی تفصیل مطابق دی داجمال یعنې ددلیل دحصرسره ،. ځکه چې هلته هم ضمیرکلمې ته راجح وو نوځکه شارح دااحتمال غوره که اوپه مفصل کښی په ضمیردفی نفسه کښی فقط یواحتمال وو چې هغه ارجاع وه معنی ته ځکه چې هلته مخکښی دلیل دحصرنه دی مذکورنوځکه مصنف ضمیرمعنی ته راجع کړیدی جزمًافَفِی هٰذَاالْکِتَابِ الضَّمِیْرُالْمَجْرُوْرُالخ دا تفریع ده په دې قول باندې چې مآلهُمَاواحد ، اومراددکتاب نه کافیه ده

او غرض په دې کښې دفع د هغه تفاوت ده چې راغلی دی په مابین د شرح جامي او د متن یعنې کافيې کښې په دې شان سره چې هر کله مآل د دواړو واحد وو نو څه وجه ده چې شارح ضمیر دفی نفسه کلمې ته راجع که او مصنف په ایضاح کښې معنی ته راجع کړې دی . نو شارح وایې چې پس په دې کتاب د کافیې کښې ضمیر مجرور هغه چې په نفسه کښې دی **یَحْتَمِلُ اَنْ یَرْجِعَ اِلَی مَاالْمَوْصُوْلَةِ الَّتِیْ هِیَ عِبَارَةٌ عَنِ الْکَلِمَةِ** احتمال لري چې راجع شي هغه ما موصوله ته چې عبارت ده د کلمې نه ، مراد د موصول نه موصول لغوی دی **کَمَا مَرَّ وَهٰذَا هُوَ الظَّاهِرُ** دا احتمال ظاهر دی **لِیَکُوْنَ عَلٰی طِبْقِ مَا سَبَقَ فِیْ وَجْهِ الْحَصْرِ** دا ایې دلیل د ظهور دی **مِنْ کَیْنُوْنَةِ الْمَعْنٰی فِیْ نَفْسِ الْکَلِمَةِ** دا بیان د ماسبق دی یعنې چې هغه کون د معنی دی په نفس د کلمې کښې یعنې ضمیر په دلیل د حصر کښې راجع وو کلمې ته **وَیَحْتَمِلُ اَنْ یَرْجِعَ اِلَی الْمَعْنٰی** او دا احتمال هم لري چې ضمیر دفی نفسه راجع شي معنی ته دوجې د قرب نه **وَلِذَا ذَکَّرَ الضَّمِیْرَ تَنْبِیْهًا عَلٰی صِحَّةِ اِرَادَةِ کِلَا الْمَعْنَیَیْنِ** دا اثر مرتبه دی په د ې احتمال ثاني باندې یعنې په دې وجه مصنف ضمیر دفی نفسه په کافیه کښې مذکر راوړیدی د پاره د تنبیه په صحة د دواړو احتمالینو مذکورینو **وَلٰکِنْ عِبَارَةُ الْمُفَصَّلِ ظَاهِرَةٌ فِی الْمَعْنَی الْاَخِیْرِ** دا استدراك دی یعنې دفع د توهم ناشیه د کلام سابقه نه هغه دا دی چې هر کله په ضمیر دفی نفسه کښې احتمالین وو نو مصنف په ایضا ح کښې ولې جزم کړیدی په ارجاع الضمیر معنی ته فدفعه الشارح بقوله ولکن الخ یعنې عبارت د مفصل ظاهر وو په احتمال اخیر کښې **وَهُوَ اِرْجَاعُ الضَّمِیْرِ اِلَی الْمَعْنٰی** دوجې د قرب نه اویل **لِعَدَمِ مَسْبُوْقِیَّتِهَا** دا ایې وجه د ظهور ده یعنې دوجې د عدم مسبوقیت د عبارت د مفصل نه **بِمَا یَدُلُّ عَلٰی اَعْتِبَارِ کَیْنُوْنَةِ الْمَعْنٰی الْکَلِمَةِ** په هغه وجهی د حصر چې دِلالت کوي په اعتبار د کون د معنی فی نفس الکلمة مطلب دا دی چې په عبارت د مفصل کښې د تعریف د اسم نه مخکښې دلیل د حصر نه دی ذکر شوی چې د هغې د مطابقت د پاره دلته هم ضمیر ،کلمې ته راجع شي **وَلِهٰذَا جَزَمَ الْمُصَنِّفُ رحمه الله هُنَاكَ بِرُجُوْعِهٖ اِلَی الْمَعْنٰی** دا نتیجه د کلام ده نو په دې وجه جزم وکه مصنف په ایضاح کښې په ارجاع د ضمیر دفی نفسه ،معنی ته . نه کلمې ته **وَبِمَا سَبَقَ مِنَ التَّحْقِیْقِ ظَهَرَ** پوهه شه چې د دې ځای نه ترولما کان الفعل دالا الخ پورې شارح بیان د فائدې د تحقیق دفی نفسه او فی غیره کوي او د دې په ضمن کښې مقصد دفع د هغه

اعتراض مقدرده چې وارددی په تعریف د اسم باندې جمعًا او په تعریف د حرف باندې منعًا یعنې تعریف د اسم جامع نه شه افرادو خپلولره خارج شوترې اسماء لازمة الاضافة لکه ذو فوق تحت وغیره اوداځکه چې دااسماء نه مستعملیږي په کلام عربي کښې بغیر د مضاف الیه معیّن نه بلکه ویل کیږي **ذومالٍ تحت الشجرة فوق الارض** مثلا نوګویاچې دااسماء محتاجه شوه متعلق خاص ته چې مضاف الیه معین دی نوتعریف د حرف په دې اسماء صادق شه نودا د اسم دتعریف نه خارج شواوپه حرف کښې داخل شوحاصل دجواب یې دادی چې مضاف الیه مخصوص په وضع ددې اسماء کښې نه دی داخل بلکې ذکرد مضاف الیه معین غرض دوضعي ددوئ دی اوغرض دشي دشي نه خارج وي خلاصه داچې اسماء لازمة الاضافة په اعتبار داصل وضعي سره محتاجه نه دی مضاف الیه مخصوص ته ،نوتعریف دحرف پرې صادق نه شه نوشارح وایي چې په هغه تحقیق سره چې مخکښې بیان شه ظاهره شوه چې داخبره چې **اَنَّهُ لَا يَخْتَلُّ حَدُّ الْاِسْمِ جَمْعًا وَلَاحَدُّ الْحَرْفِ منعًا بِالْاَسْمَاءِ اللَّازِمَةِ الْاِضَافَةِ مِثْلَ ذووفوقُ وتحتُ وقدامُ وَخَلْفُ اِلٰى غَيْرِ ذَالِكَ** بی شکه نه نقصاني کیږي تعریف د اسم جمعًا یعنې جامعیت دتعریف د اسم ته نقصان نه رسی ، اونه تعریف دحرف منعًا یعنې مانعیت دتعریف دحرف ته نقصان نه رسی ، په اسماء لازمة الاضافة سره ،اسماء لازمة الاضافة . هغې ته وایې چې بغیر د مضاف الیه معین نه استعمالیږي په کلام عربي کښې برابره خبره چې مضاف الیه یې مذکور وی اوکه محذوف لکه **ذومالٍ تحت الشجرة فوق السطح قدام زیدٍ** خلفه وغیره **لِاَنَّ مَعَانِيَهَا مَفْهُوْمَاتٌ كُلِّيَةٌ مُسْتَقِلَةٌ بِالْمَفْهُوْمِيَةِ مَلْحُوْظَةٌ فِي حَدِّ ذَاتِهَا** دادلیل دلایختل دی په طریقي دقیاس اقتراني شکل اول سره یعنې تعریف.د اسم اوحرف ځکه نه منقوض کیږي چې معانی ددې اسماء لازمة الاضافة مفهومات کلیه دی اومستقل بالمفهومیة دی په اعتبار داصل وضع سره اوملحوظ دی په اعتبار دذات سره بغیر داحتیاج نه امرآخرته ، داصغری شوه و اوکبری مقدره ده یعنې **و کل ماهذاشانه فهواسم** نونتیجه داشوه چې اسماء لازمۀ الاضافة اسماء دی کبری واضحه ده اودصغری وضاحت دادی چې معنی دذوصاحب ده وضعًا اودامعنی دلفظ دذونه معلومیږي بغیر داحتیاج نه کلمې اخری ته اود غه شان فوق چې معنی یې علو ده مستقله بالمفهومیة ده و اوتحت چې ضد دعلو دی مستقل بالمفهومیة دی **وهکذاقدام اوخلف فافهم**.

لِزِمَ تَعَقُلُ مُتَعلقَاتِهَا اِجْمَالًا وَتَبْعًا مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ اِلَى ذِكْرِهَا پوهه شه چې دابیان دمنشاء داعتراض دمعترض دی یعنې لازم دی دااسماء لازمة الاضافة سره تصور دمتعلقاتو اجمالاً اوتبعًا اومتعلق

اجمالي يې (شی) دی او دا ددې اسماء سره داسې لازم دی لکه څنګه چې زوجيت داربعه سره لازم دی پس بنا په دې معنی د ذوصاحب شي ده او معنی د فوق فوق شي ده وغيره او دا معنی ددې اسماء نه فهميږي بغير د حاجت نه ذکر د متعلقاتو اجماليو ته او دانه ده مګر معنی اسمي پس سوال وارد شه چې هرکله معانی د اسماء لازمة الاضافة مفهومات مستقله شونو پکار ده چې دا اسماء په کلام د عربو کښې بغير د مضاف اليه مخصوص نه مستعمليدی حالانکه دا بغير د مضاف اليه مخصوص نه نه استعماليږي بلکې وئيلي کيږي **ذومـالٍ فـوق الارض وغيره** نو معلومه شوه چې دا مفهومات مستقله نه دی.

فاجاب الشارح بِقَوْلِهَا لَكِن لَمَّا جَرَتِ الْعَادَةُ بِاسْتِعْمَالِهَا فِي مَفْهُومَاتِهَا مُضَافَةً إِلَى مُتَعلقاتٍ مَخْصُوصَةٍ يعنې دا خودی مفهومات مستقله ليکن هرکله چې جارې وو عادت د عربو په استعمال ددې اسماء لازمة الاضافة سره په مفهوماتو مستقلو خپلو کښې مضاف متعلقات مخصوصو ته لکه ذومالٍ وغيره **لِأَنَّهَا الْغَرَضُ مِنْ وَضْعِهَا** ځکه چې دا اضافت متعلقات مخصوصو ته غرض دوضعي دی ددوی **لـزم ذكرهـا** دا اجزاء ده دلمّا، نو لازم شه ذکر د متعلقات مخصوصو **لفهم هذه الخصوصيات** دپاره دفهم ددغې خصوصياتو **لالاجل فهم اصل المعنی** نه دپاره دفهم د اصل معنی موضوع له مطلب دادی چې سامع ته معنی اصلي وضعي د ذو مثلا معلومه وه چې صاحب شي، ته وايې خوشی چونکه عام وو پته يې نه لګيده چې مال دی کتاب دی داردی وغيره يعنې خصوصيات ترې مخفی وونو ددې تعين دپاره ورسره مضاف اليه مخصوص ذکر کيږي نه دپاره د اصل معنی **فهي دالة على معانيها معتبرة في حد أنفسها لا في غيرها** دا تفريع ده په ماسبق پس دا اسماء لازمة الاضافة دلالت کونکي دی په خپلو معانيو اصليو په دې حال کښې چې دغه معاني معتبرې دی بذات خودنه په اعتبار دغير (متعلق) سره **فهي داخلة في حد الاسم لا في حد الحرف** پس نتيجه دا شوه چې اسماء لازمة الاضافة داخل دی په تعريف د اسم کښې نه په تعريف د حرف کښې پس تعريف د اسم جامع وګرزيده . او تعريف د حرف مانع وګرزيده **وهوالمرام في هذا المقام**

ولما كان الفعل دالا على معنى في نفسه باعتبار معناه التضمني پوهه شه چې د شارح ددې عبارت نه يو څو اغراض دی . يو دا چې دا تمهيد دی متن آتی ته او بل تعين د معنی مرادی دی د معنی نه چې مذکورده په تعريف د اسم کښې او دا تعين حاصليږي په ضمن د سوال او جواب

کښی . نو سوال دادی چې معنی ، چې مذکوره ده په تعریف د اسم کښی به خالي نه وي یا به تري مراد معنی مطابقی وي یا تضمنی او یا التزامي و الکل باطل تفصیل یې دادی چې که چری مراد معنی مطابقې وي نو تعریف د اسم به داشي چې اسم هغه کلمه ده چې دلالت کوي په معنی مطابقي مستقله باندې نو بناپه دې د تعریف د اسم نه فعل خارجیږي په قید فی نفسه سره ځکه چې مراد د فی نفسه نه استقلال دی او فعل په اعتبار د معنی مطابقی سره غیر مستقل دی کما مر نو نقصان په دې شق کښی دادی چې قید د غیر مقترن لغوه شه . ځکه چې مقصد دی قید اخراج د فعل دی او فعل خارج شویدی په قید د فی نفسه سره ، نو لازم شه اخراج د مخرج وهذا محال او که مراد معنی تضمنی وي نو معنی به داشي چې اسم یو کلمه ده چې دلالت کوي په معنی تضمنی مستقله باندې ،نو بناپه دې به تعریف د اسم جامع لافراده نه شي خارج به شي تري اسماء بسیطه ،یعنې هغه اسماء چې معاني د هغې بسیطي وي جزء نه لري لکه مصادر یعنی ضَرْب نصر وغیره او داځکه خارجیږي چې د دې اسماء د پاره معنی تضمني نیشته ،ځکه چې معنی تضمني ،دلالت د لفظ دی په جزء د معنی موضوع لَهُ باندې او جزء د دې معانو شته نه ، او که مراد معنی التزامي وي نو دا هم نه ده صحیح ځکه چې په معنی التزامي کښی خفاء وي او تعریف د پاره د وضاحت کیږي په دې وجه اخذ د معنی التزامي په تعریفاتو کښی ممنوع دی خلاصه د جواب یې داده چې مراد معنی مطابقي او تضمني ده **علی سبیل البدلیت** مطلب دا چې په دواړو معنو کښی چې کومه معنی صحیح المراد وي نو هغه به اراده کولی شي ،نو معنی دا چې اسم یوه کلمه ده چې دلالت کوي په معنی تضمني مستقله باندې . نو په دې سره اګرچې حرف خارج شه د تعریف د اسم نه لیکن فعل نه دی خارج ځکه چې معنی تضمني د فعل یعنې حدث هم مستقله ده نو د فعل د اخراج د پاره یې قید د غیر مقترن ولګوو ،نو اخراج د مخرج لازم نه شه او په دې شق باندې سوال واردوو په اسماء بسیطو باندې ،نو د هغې د ادخال د پاره به د معنی نه معنی مطابقي اراده کړو او داسې به اووایو چې اسم یو کلمه ده چې دلالت کوي په معنی مطابقي مستقله باندې نو اسماء بسیطه یعنې مصادر په تعریف د اسم کښی داخل پاتې شو ځکه چې د مصادرو اګرچې معنی تضمني نیشته لیکن معنی مطابقي مستقله یې شته .

ترجمه د عبارت داده چې هر کله چې فعل دلالت کونکی وو په معنی فی نفسه په اعتبار د معنی تضمني سره أَعْنِي الْحَدَثَ چې هغه حدث دی دا دفع د وهم ده چې معنی تضمني دلالت د لفظ دی

په جزء دمعنی .او اجزاء دفعل دري دی .حدث نسبت زمانه .نو چابه وهم کو چې مرادبه نسبت يازمانه وي . نوبناپه دې فعل په اعتبار دمعنی تضمني سره هم مستقل نه دی ځکه چې نسبت غيرمستقل دی نو قيد دغيرمقترن بيا لغوه اوبی فائدی شه . اوزمانه اګرچې مستقله ده ليکن داهسې هم مقترنه نه ده په زمانه پورې ځکه چې لازميږي اقتران دزماني په زماني پورې نو بياذکردغيرمقترن بی ضرورته وګرزيده **فاجاب الشارح بقوله أَعْنِي الْحَدَثَ** نو وايې چې ځما مراد دمعنی تضمني نه حدث دی نسبت اوزمانه نه ده مراداوحدث مستقل دی نوذکر دغيرمقترن دپاره د اخراج دفعل ضروری شه **فلااستدراك وَكَانَ ذَالِكَ الْمَعْنَى مُقْتَرِنًامَعَ أَحَدِ الْأَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ فِي الْفَهْمِ عَنْ لَفْظِ الْفِعْلِ** اودغه معنی تضمني دفعل چې حدث دی مقترن وه په يو د ازمنو ثلاثو پورې په فهم ددغې معنی کښی دلفظ دفعل نه پس هرکله چې په استقلال کښی . فعل داسم سره شريک وو اوخارجول يې ضروری وو نو **أَخْرَجَهُ بِقَوْلِهِ غَيْرُ مُقْتَرِنٍ بِأَحَدِ الْأَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ** نو خارج که مصنف فعل لره په دې قول سره چې غيرمقترن الخ دی (پس قيدمذکوربی فائدی ونه ګرزيده **اى غَيْرُ مُقْتَرِنٍ مَعَ أَحَدِ الْأَزْمِنَةِ الخ** په دې کښی اشاره ده دی ته چې باء سببيه نه ده .بلکې دپاره دمصاحبت اومعيت ده لکه **اشتريت الفرس بسرجها الى مع سرجه فَهُوَ صِفَةٌ بَعْدَ صِفَةٍ لِلْمَعْنَى**.

غرض دشارح ددې نه اشاره ده اعراب دلفظ دغيراووجهې داعراب ته پس غيرمجروردی اووجه يې داده چې دی صفت ثاني دی دپاره دمعنی اوهغه مجرورونودی هم مجرورشه اوصفت اولی يې فی نفسه دی **فَبِالصِّفَةِ الْأُوْلَى خَرَجَ الْحَرْفُ عَنْ حَدِّ الْإِسْمِ وَبِالثَّانِيَةِ الْفِعْلِ** دابيان دفائدی دفصولو مخرجودی . په هرتعريف کښی لابدی وي دجنس اوفصل نه ، پس جنس په تعريف داسم کښی کلمه ده اوفی نفسه فصل اول دی اوغيرمقترن يې فصل ثاني . دی پس په صفت (فصل) اول سره خارج شه حرف دتعريف داسم نه اوپه صفت ثاني سره خارج شه فعل **وَالْمُرَادُ بِعَدَمِ الْإِقْتِرَانِ الخ**

غرض دشارح دی عبارت نه يوخوتعين دماهوالمراد دی دعدم اقتران بالزمان نه چې داعدم اقتران يحسب الوضع دی نه بحسب الاستعمال اوبل غرض يې دفع دا عتراض مقدرده پوهه شه چې دااعتراض مشتمل دی په شقينوباندې اوموردې قيد دغيرمقترن دی ، شق اول دادی چې تعريف داسم جامع نه شه افرادوخپلولره خارج شوترې اسماء افعال . اوداځکه چې

ماخوذ په تعریف داسم کښې عدم اقتران بالزمان دی او اسماء افعال مقترن دی په زماني پورې لکه رُوَيۡدَاوهیهات َ مثلا ، پس روید َمقترن دي په زمانې استقبالي پورې په معنی دامْهَلْ سره . او هَیهات َ مقترن دی په زماني ماضي پوزې په معنی د بَعُدَسره او شق ثاني دادی چې تعریف داسم مانع نه دی د دخول دغیرنه داخل شو په کښې افعال منسلخه عن الزمان لکه عسی کاد ، نعم او بئس وغیره نو دامقترن نه دی په زماني پورې ، پس تعریف داسم پرې صادق شه ، حالا نکه داافعال دی حاصل دجواب يې دادی چې مراددعدم اقتران نه عدم اقتران بالزمان دی په ا عتبار دوضع اولی یعنې اصل وضعي سره نه په اعتبار داستعمال سره ، او اسماء افعال په اعتبار داصل وضع سره مقترن نه دی په زماني پورې .نو په تعریف کښې داخل پاتې شو او افعال منسلخه په اعتبار داصل وضعي سره مقترن دی په زماني پورې او انسلاخ يې دزماني نه په استعمال کښې راغلی دی ،نو دااسم نه خارج شول نو شارح وايي چې مراد په عدم اقتران سره أَنۡ يَكُوۡنَ بِحَسَبِ الۡوَضۡعِ الۡاَوَّلِ دادی چې وی به په اعتبار دوضعي اولی سره ملا عبدالغفور وايي چې مراد دوضع اولی نه وضع غیرمسبوقه ده یعنې چې مخکښې ترې وضع نه وي برابره خبره ده چې روستوترې بله وضع وي او که نه غرض دعبدالغفور په دې کښې دفع داعتراض مقدر ده حاصل يې دادی چې لفظ داول دلالت کوي په تعدددوضعي ، ځکه چې اول راځي په مقابله دثاني کښې ، نودې نه لازمه شوه چې په هراسم کښې به کم ازکم دوه دوه وضعي وي ،او په وضع اوله کښې به مقترن نه وي په زماني پورې حالانکه خبره هرګز داسې نه ده ځکه چې ته نه ګورې چې زیدعمرشجرحجروغیره اسماء دی او مشتمل نه دی په دووضعو .خلاصه دجواب داده چې مراد داول نه دغه نه دی چې کوم معترض اراده کړی دی ، بلکې مراد ترې وضعه غیرمسبوقه ده یعنې چې مخکښې ترې وضعه نه وي ، او که روستوترې وي او که نه ، نو په زیدعمروغیره کښې وضعه غیرمسبوقه ده ، په دې معنی چې مخکښې ترې هم وضعه نیشته اوروستوهم او په اسماء افعالو غیره کښې هم وضع غیرمسبوقه ده ، په دې معنی چې مخکښې ترې وضعه نیشته ، فقط اګرچې روستوترې شته فافهم

فَدَخَلَ فِيۡهِ اَسۡمَاءُ الۡاَفۡعَالِ داجواب دی دشق اول نه ، پس داخل شو په تعریف داسم کښې اسماء افعال لِاَنَّ جَمِيۡعَهَا اِمَّا مَنۡقُوۡلَةٌ عَنِ الۡمَصَادِرِ الۡاَصۡلِيَّةِ دادلیل دی دخول داسماء افعالو په تعریف داسم کښې خلاصه يې داده چې اسماء افعال په اصل کښې مصادردی یا اصوات دی

يـ ظروف او جار مجرو او يو هم ددې اشياء نه مقترن نه دی په زماني پورې . نو ثابته شوه چې اسماء افعال په اعتبار د اصل سره مقترن نه دی په زماني پورې .نو شارح وايي چې بعض اسماء افعال منقول دی د مصادر اصليو نه **سواء كَانَ النَّقْلُ فِيْهَا صَرِيْحًا نحو رُوَيْدَ** برابره خبره ده چې نقل په دې کښې صريحې وي . نقل صريحي .ديته وايي چې دا اسم فعل پس د نقل نه هم په معنی مصدری کښې مستعمل وي لکه څنګه چې مخکښې د نقل نه مصدر وي .لکه رُوَيْدَ اسم فعل دی منقول دی د مصدر نه چې رويد ادی او نقل يې صريحي دی **فَاِنَّهُ قَدْ يُسْتَعْمَلُ مَصْدَراً ايضاً** څکه چې دې کله کله مصدر هم مستعمليږی بعد النقل لکه امهلهم رويدا **اَوْ غَيْرَ صَرِيْحٍ** يا د انقل غيرصريحې وي

نقل غيرصريحي ديته وايي چې دا اسم فعل په طور د مصدر اصلا نه وي مستعمل **نحو هَيْهَاتَ فَاِنَّهُ لَمْ يُسْتَعْمَلْ مَصْدَراً لكه هَيْهَاتَ** او نقل ددې غيرصريح دی څکه چې هيهات بطور مصدر اصلا نه دی مستعمل **اِلاَّ اَنَّهُ عَلَى وَزْنِ قَوْقَاةَ مَصْدَرِ قَوْقَى** مګر هيهات په وزن د قوقاة دی او قوقاة مصدر د قوقي دی پس هيهات اګرچې په خپله منقول د مصدر نه دی ليکن مشابه دی دهغه اسم سره په وزن کی چی منقول دی د مصدر نه يعني قوقاة .نو په دې بنا هيهات هم منقول وګنړلی شه قوقاة د چرګی هغه آوازدی چې په وخت اګئ اچولو کښی يې اوباسي **اَوْ عَنِ الْمَصَادِرِ الَّتِي كَانَتْ فِي الْاَصْلِ اَصْوَاتًا** يا دا اسماء افعال منقول دی دهغه مصادرو نه چې په اصل کښې اصوات دی لکه صَهْ چې دی په اصل کښی د اسماء الاصوات د قبيلې نه دی . يعنې صوت بلا معنی دی . بيانقل شه معنی مصدری ته چې سکُوت دی .او بيانقل شه اسم فعل ته په معنی د اُسكُتْ سره **اَوْعَنِ الظُّرُوفِ** يا به يې نقل راغلی وي د معنی د ظرف نه **اَوْعَنِ الْجَارِ وَالْمجرُورِ** يا به يې نقل راغلی وي د معنی د جار مجرور نه **نحو اَمَامَكَ زيداً** پس اَمَامَ اسم فعل دی . په اصل کښی ظرف دی .نو دا اسم فعل منقول دی د معنی د ظرف نه معنی د فعل ته چې قَدمِ يا تَقَدَّم دی **وَعَلَيْكَ زيداً** عليک اسم فعل دی او منقول دی د جار مجرور نه اسم فعل ته هغه الزم دی د په کسری د همزی سره **فَلَيْسَ لِشَيءٍ مِنْهَا الدلالَةُ عَلَى اَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثلاثَةِ بِحَسَبِ الْوَضْعِ الْاَوَّلِ** دا تصريح ده په جواب باندې . پس نيشته د دغې اسماء افعالو د پاره دلالت په يو د ازمنو ثلاثو په اعتبار د وضعي اولی سره **وَخَرَجَ عَنْهُ الْاَفْعَالُ الْمُنْسَلَخَةُ عَنِ الزَّمَانِ**

نحوعسٰی وکَادَ داجواب دشق ثاني داعتراض نه دی . يعنې خارج شودتعریف داسم نه افعال منسخله عن الزمان لکه عسی اوکاد . **لِاِقْتِرَانِ مَعَانِیْهَابِهٖ بِحَسْبِ اَصْلِ الْوَضْعِ** دايې دليل داخراج دی . يعنې دوجې داقتران دمعانيو دافعال منسخله نه په زماني پورې په اعتبار داصل وضع سره . اودليل په دې . تسميه ددې ده په افعال منسخله عن الزمان باندې . ځکه چې انسلاخ **عن الزمان تقاضاداقتران بالزمان کوی اولاً**.

سوال جميعهااسم د انّ دی .اومنقوله يې خبردی .اوپه مابين ددواړوکښې مطابقت نيشته في التذکيروالتانيث .ځکه چې جميع مذکردی اومنقولة مزنث دی

جواب جميع هم مونث دی ځکه چې مضاف دی ضميردمونث ته .اوقانون دادی چې مضاف دمضاف اليه نه يوولس امورکسب کوي يو په هغوی کښې ثانيث دی .نومطابقت راغی

سوال په عبارت دشارح کښې تعارض دی .ځکه چې شارح اول . اووی چې جميع اسماء افعال منقول دی دمصادرواصليونه اوبيايې اووی چې اوعن **المصادرالتی کانت الخ** . اوداعطف دی په اما منقوله باندې . نودجميعهادلاندی درج دی نومعنی ددې داشوه چې .ان **جميعهااما منقولة عن المصادرالاصلية وان جميعهامنقولة عن المصادرالتی کانت في الاصل اصواتاالخ** نوجميع اسماء افعال به څنګه دهريونه منقول شي .

جواب : داعبارت بنادی په يوقاعده داصول باندې چې کله جمع .مقابل شي دجمعې سره نوهغه مفيدوي دپاره دتقسيم الاحادعلی الاحاداوبله قاعده داده چې جمع په حرف الجمع سره داسې ده لکه جمع په لفظ الجمع سره نواوپه معنی دواوالجمع سره دی نوجميع مقابل دی دمجموعي دمصادراصليه سره اودهغه مصادروسره چې په اصل کښې اصوات وغيره دی . نودامفيددپاره ددې شه چې بعض اسماء افعال منقول دی .دمصادراصليونه اوبعضی منقول دی داصواتووغيره نه . اوددې مثال لکه **فاغسلواوجوهکم اَوْرَكِبُوْادَوَابَّهُمْ** و **لَبِسُواثِيَابَهُم** يعنې هرسړی خپلې سوری ته وخته .اوهرسړی خپلې جامې واغوستې **وَخَرَجَ عَنْهُ الْمُضَارِعُ اَیْضًا** داهم دفع داعتراض مقدرده . مورددااعتراض لفظ دا حدپه احدالازمنة کښې . حاصل يې دادی چې تعريف داسم مانع نه شه ددخول دغيرنه داخله شوه پکښې مضارع ځکه چې داهم مقترن نه ده په احدالازمنة پورې .بلکې مقترنه ده په زمانينوپورې چې حال اواستقبال دی خلاصه دجواب يې داده چې مراددادی چې اسم به مقترن نه وي په احدالازمنة پورې

خو احد عام دی که مستقلا وي او که ضمنا ،نو بنا په دې فعل مضارع اسم ځکه نه شه چې داهم (په دې تقدیر چې مشترکه ده په مابین دحال او استقبال کښې) مقترنه ده په زمانه واحده پورې په ضمن دزمانینو کښې ، ځکه چې واحد مندرج وي په اثنین کښې ، **فَإِنَّهُ عَلَى تَقْدِيرِ اِشْتِرَاكِهِ بَيْنَ الْحَالِ وَالْاِسْتِقْبَالِ** په دې عبارت کښې اشاره ده اختنلاف ته په فعل مضارع کې.

مذاهب په مضارع کښې : پوهه شه چې فعل مضارع کښې درې مذاهب دي اول مذهب دادی چې مضارع حقیقت ده په حال کښې او مجازده په استقبال کښې دلیل یې دادی چې زمانه حالي موجوده ده حقیقة او زمانه استقبالي لانه ده موجوده نو دلالت دفعل مضارع په زمانه حالي حقیقة دی اوپه زمانه استقبالي په اعتبار مایؤل الیه سره دی اودا نه دی مگر مجاز.

دوئم مذهب دادی چې فعل مضارع حقیقت ده په استقبال کښې او مجازده په حال کښې دلیل یې دادی چې دمضارع مقابل ماضي ده او مقابل دشي په نهایت بعد کښې وي ،اوماضي نه انتهایې بعیده زمانه استقبالی ده نو ځکه زمانه استقبالي معنی حقیقي دفعل مضارع ده.

درئم مذهب دادی چې فعل مضارع مشترک لفظي دی په مابین دحال او استقبال کښې ، یعنې دواړه معنی یې حقیقي دی ځکه چې لفظ مشترک په هره معنی کښې حقیقت وي ،دلیل یې دادی چې استعمال دفعل مضارع په دواړو کښې علی السویه دی ،نو که په یو کښې حقیقت شي اوپه بل کښې مجاز نو لازم به شي ترجیح بلامرجح (پوهه شه چې اعتراض مذکوروارديګی په مذهب ثالث باندې نه په اول اوثاني ځکه چې په دغه تقدیر مضارع مقترنه ده په احد الازمنة پورې یعنې په هغه زماني پورې چې کومه یې معنی حقیقي ده ، اوپه بله کښې یې استعمال مجازې دی ،نو بنا په دې مذهب اول اوثاني محتاجه نه دی جواب ته ، بلکې مذهب ثالث محتا جه دی جواب ته نو ځکه شارح اووی چې فانه علی تقدیر الخ پس بې شکه فعل مضارع په تقدیر داشتراک ، په مابین د حال او استقبال کښې **يَدُلُّ عَلَى زَمَانَيْنِ مُعَيَّنَيْنِ مِنَ الْاَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ** دلالت کوي په دوو معینو زمانو دریو زمانونه ، (چې حال او استقبال دی **فَيَدُلُّ عَلَى وَاحِدٍ مُعَيَّنٍ ايضاً في ضمنهما** پس دا دلالت کوی په زمانه معیّنه باندی په ضمن د دواړو کی. **اذلايقدح في الدلالة على احد مُعَيَّنٍ اَلدَّلَالَةُ عَلَى مَا سِوَاهُ** دا یې علة دی یعنې داځکه چې نقصان نه اچوي په دلالت دیو لفظ کښې په واحد معین دلالت په ماسوا ددغه واحد معین لکه قرء شوه چې مشترک دی په مابین دحیض او طهر کښې ، نو دلالت دقرء په

حیض باندې مانع نه دی ددلالت نه په طهرباندې ،بلکې په هریو دلالت کولی شي ،چابه وهم کوو چې کنی دلالت او ارداه په شي واحدوی ،نولکه څنګه چې دلالت دلفظ مشترک په معنی واحده باندې مانع نه دی دپاره دلالت په بله معنی ،نودغه شان به اراده دمعنی واحدې هم مانعه نه وي دارادی دبلې معنی نه په دغه وخت کښې ، حالانکه اراده دمعنیینو په آن واحد کښې ناممکنه ده ،

فاجاب الشارح بقوله نعم يقدح في ارادة المعين ارادة ماسواه منم داخبره چې اراده دمعنی واحدی معینې مانعه ده دپاره دارادی دبلې معنی ، پس اراده دمعنی حالي مثلامانعه ده دارادی دمعنی استقبالی نه په زمانه واحده کښې ځکه چې اراده صفت دذهن دی اوذهن په ا ن واحدکښې توجه نه شي کولی امورکثیره ته وأين الدلالة من الارادة یعنې څومره بعید دی دلالت دارادی نه ، په دې کښې اشاره ده بیان دفرق ته په مابین دلالت اوارادی کښې ،یعنې دواړه شي واحدنه دی بل بينهما بُعدوفرق .

الفرق بین الدلالة والارادة : پوهه شه چې دلالت فهم دمعنی دی دلفظ نه برابره خبره ده چې دا معنی مراده اومقصوده وي اوکه نه لکه یوحنفي عالم فهم دطهرکوي دقرء نه سره ددې چې مرادیې نه وي ، اواراده عبارت دی دکون دمعنی نه مراداومقصود ،خلاصه داشوه چې لفظ مشترک بې شکه دلالت په تمامومعنوباندې کولی شي په یووخت کښې لیکن اراده به ترې دیوې معنی کولی شي په یووخت کښې اودا ځکه چې دلالت صفت دلفظ دی ،اولفظ واحدبیک وقت دلالت په معانیوکثیروکولی شي ،اواراده صفت دذهن دی ، اوذهن بسیط دی توجه نه شي کولی په ان واحد کښې امورکثیرو ته . .

ولما فرغ عن بيان حد الاسم اراد ان يذكر بعض خواصه ليفيد زيادة معرفة به مقصد په دې عبات کښې یوتذکیردماسبق دی والیه اشاربقوله ولما فرغ عن حد الاسم ،بل تمهید دې ماآتیه ته ، والیه اشاربقوله اراد ان یذکرالخ یعنې ما آتیه ذکردبعض خواصوداسم دی اوبل دفع داعتراضینوده والیه اشاربقوله لیفید الخ حاصل یې دادی چې مقاصدپه علم نحوکښې درې دي ،مرفوعات منصوبات مجرورات پکارده چې مصنف شروع کړی وی په بیان ددغه مقاصدوکښې پس دتعریف نه ،نوشروع په بیان دخواص کښې اشتغال دی په لا یعنی کښې اوبل داچې ده کله خواص ذکرکول نوپکارداده چې دتعریف نه پس یې تقسیم داسم کړی وی کماهودابه و نوذکردخواص یې داده چې اشتغال په خواص کښې لایعنی نه دی بلکې ذکرددې

دپاره دزیادة دمعرفة داسم دی واداخبره هم مقصودی دداوداهم معلومه شوه چې خواص تتمه دتعریف ده اجنبي نه دی نوفاصله په اجنبي هم رانه غله شارح زیادة معرفت اووی ځکه چې نفس معرفت په تعریف سره حاصلیږي اوزیادة معرفت په خواصو سره اوداځکه چې دهر شي دپاره دوه وجوده وي یوو جودذهني چې دا حاصلیږي په تعریف سره اوبل وجودخارجي اوددې معرفت کیږي په خواصو اوعلاماتو سره **قَالَ وَمِنْ خَوَاصِهِ**

پوهه شه چې په دې عبارت کښې دوه ترکیبه دی . یوداچې من خواصه خبرمقدم دی .اودخول اللام یې مبتدامؤخره ده . اوخبریې مقدم کړی دی دوجهې داهتمام الشان دخواصو داسم نه . ځکه چې بحث ددې اشیاءنه په اعتباردخواصیت سره دی نه په اعتباردذات سره دوئم داچې من خواصه مبتداده بناپه دې چې مِنْ اسمیه دی په معنی دبعض سره (یعنې تبعیضیه دی) اوقرینه پرې دخول دده دی په صیغه دجمعې، اودخول اللام یې خبردی .

خواص لفظي اومعنوي پس ددینه پوهه شه چې خواص داسم په دوه قسمه دی یولفظي اودادرې دي لام جر تنوین اوبل معنوي ،اودادوه دی اسناداواضافت ، علامات لفظي یې مقدم کړه ، ځکه چې دااظهردی دمعنوي نه ،اوپه علامات لفظیوکښې لام مقدم که . په جراوتنوین ځکه چې لام په اول کښې وي وهما فی الاخر اوجریې مقدم که په تنوین ځکه چې جرپه وجوداوتلفظ کښې مقدم دی په نون دتنوین باندې ،لکه بزید (بِ زَیْ دِنْ) اوپه علامات معنوي کښې یې اسنادمقدم که ځکه چې په ده داورمداردکلام دی **مُنَبِّهاً الخ** غرض دشارح ددې نه بیان داسرارودمتن دی ،اودفع داعتراض مقدرده .حاصل یې دادی چې مصنف پنځه خواص ذکرکړیدی ،اوداجمع قلة ده نواطلاق دصیغې دخواص پرې صحیح نه دی .ځکه چې خواص وزن دجمع الکثرة دی اوجمع الکثرة دیته وایې چې اطلاق یې په مافوق دعشره باندې کیږي .**فاجاب الشارح بِقَوْلِهِ مُنَبِّهاً بِصِيغَةِ جَمْعِ الْكَثْرَةِ عَلَى كَثْرَتِهَا** یعنې مصنف ومن خواصه اووی په داسې حال کښې چې تنبیه قائمونکی دی په صیغې دجمع الکثرة سره په کثرة نفس الامری دخواص داسم یعنې په نفس الامرکښې خواص داسم کثیردی تردی چې ثلاثین ته رسیدلی دی کماقاله عبدالغفوراودلته ترې مصنف بعض ذکرکړیدی ،**وَبِمِنَ التَّبْعِيضِيَّةِ عَلَى أَنَّ مَا ذَكَرَهُ بَعْضُ مِنْهَا** اوتنبیه قائمونکی دی په مِنْ تبعیضي سره په دې چې کوم یې دلته ذکرکړی دی هغه بعضې دي . نوتناقض هم رانه غی ځکه چې جهتین غیرشو

سوال هرکله چې خواص داسم کثیروونوڅه وجه ده چې داپنځه یې ترې خاص کړل ددې نه

علاوه نوريې ولې ذکر نه کړل

جواب داېې خاص کړل ځکه چې دا خواص مشهوردی او معظم او مکبردی . اوداځکه چې هرواحد ددینه شامل دی خواص کثیروته پس لام تعریف شامل دی جمیعو معارفوته . اوجر شامل دی تماموحروف جاره ته اوتنوین شامل دی تمامو انواعو خپلو ته .او اضافت په دوه قسمه دی یو لفظي اوبل معنوي .اوبیامعنوي په درې قسمه دی .اضافت لامی . منی . فیه اودغه شان دهر واحد خپل فوائد دی .اوداټول خاص دي په اسم پورې .نواضافت هم شامل دی تمامواقساموخپلوته .اودغه شان کون داسم مسند الیه هم شامل دی خواصوکثیروته . ځکه چې اسم کله مسند الیه واقع شي نودې صلاحیت دډیرو څیزونولری .مثلامبتدا . ذوالحال . موصوف . فاعل . نائب فاعل وغیره **وَهِيَ جَمْعُ خَاصَةٍ** غرض دشارح تشریح لفظي اومعنوي ده دخواص . پوهه شه چې خواص جمع ده اوپه هره جمع کښې دوه قسمه ابهام وي یو ابهام لفظي . اوبل معنوي .پس ابهام لفظي زائله کیږي په تعین دمفرد سره . اوابهام معنوي زائله کیږي په تعریف سره نو وایې چې جمع خاصة .یعنې داصیغه دمؤنث اسم فاعل ده .نوپه دې سره زائله شه ابهام لفظي .اوابهام معنوي یې زائله که په دې قول سره . **وَخَاصَةُ الشَّيْءِ مَا يُخْتَصُّ بِهِ وَلَا يُوجَدُ فِي غَيْرِهِ** یعنې خاصه دشي هغه ده چې مختص وي په دغه شي پورې .اونه موجودیږي په غیرکښې .پوهه شه چې داتعریف دخاصې نحوی دی اوخاصه منطقیې هغه کلي ته وایې چې خارج وي دحقیقت دافرادونه اومختص وي په افرادودحقیقت واحده پورې .لکه ضاحك کاتب

سوال :ذکردلایوجدفیه لغوه اومستدرک دی .ځکه چې دامعلوم شوی دی دمایختص نه ځکه چې یوشی خاص وي په یوشي پورې نوپه بل کښې نه شي موجویدی .

جواب : دتعریف دخاصي دوه جزء دي . یوایجابي یعنې مایوجدفیه اوبل سلبي یعنې لایوجدفی غیره نوداجزء سلبي اګرچې معلوم دی خوضمناًنوشارح پرې تصریح وکړه اوتصریح بماعلم ضمناًمستدرک نه وي .یادابنادی په تجرید او تجرید عبارت دی دانسلاخ دلفظ دبعضي معنی نه اوابقاء په بعضي معنی کښې نود (یَخْتَصُّ) تجرید شوی دی دجزء سلبي نه نوذکر د لایوجد مستدرک نه شه

وَهِيَ إِمَّا شَامِلَةٌ لِجَمِيعِ أَفْرَادِ مَا هِيَ خَاصَةٌ لَهُ كَالْكَاتِبِ بِالْقُوَّةِ لِلْإِنْسَانِ داتقسیم دخاصي دی قسمینوته، سره د توضیح بالامثله نه پوهه شه چې دا تقسیم د خاصې دی په اعتبار د جزء

ایجابي سره یعنې خاصه په دوه قسمه ده یو شامله او بله غیر شامله وجه یې داده چې دا خاصه به خالي نه وي یا به موجوده وي په تمامو افرادو خپلوکي یا نه اول ته اخاصه شامله وایي اوثاني ته غیر شامله وایي کاتب بالقوة مثال دخاصې شاملې دی یعنې صلاحیت دکتابت هرانسان ته شامل دی او کاتب بالفعل مثال دی دپاره دخاصې غیر شاملې یعنې کتابت فی الحال بعض افرادو دانسان ته شامل دی **فَمِنْ خَوَاصِ الْأَسْمِ** فادپاره دمجرد تعقیب ده اوغرض په دې کښې بیان دمرجع دضمیر دمن خواصه دی **دُخُوْلُ الْأَمِ** یعنې بعض دخواص معظمو داسم نه دخول دلام دی پوهه شه چې په دې مقام کښې دوه اعتراضه واردیږي یو داچې ومن خواصه خبر مقدم دی اودخول یې مبتداده اودخول وصف دی نو په دې تقدیر لازم شه حمل دذات په وصف یالازمیږي حمل دوصف په ذات باندې په هغه تقدیر چې وِمنْ خواصه مبتداشي اودخول یې خبرشي وهذا محال دوهم اعتراض دادی چې متبادره دعبارت دمصنف نه داده چې خاصه داسم دخول دی نه لام ځکه چې دخول اللام مرکب اضافي دی اومقصود په مرکب اضافي کښې مضاف وي اومضاف الیه خارج وي حالانکه خاصه داسم لام دی نه دخول ،جواب ترې دادی چې عبارت دمصنف محمول دی په قلب باندې **یعنی من خواصه اللام باعتبار الدخول اَیْ لَاْمُ التَّعرِیْفِ** په دې کښې اشاره ده چې الف لام په اَلـلَّاْمُ کښې عوض دی دمضاف الیه نه یا عهدخارجي دی.

اوغرض په دې کښې دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې نه منم داخبره چې لام خاصه داسم ده ځکه چې لام لکه څنګه په اسم کښې موجودیږي نودغه شان په فعل کښې هم موجودیږي لکه لام تاکید په **إِنَّ زَیْدًا لَیَقُوْمُ** کښې اولام امر لکه **لِیَضْرِبْ** خلاصه ددفع یې داده چې مراددلام نه لام تعریف دی نه لام امراولام تاکید وغیره **وَلَوْقَالَ الخ** داعبارت اعتراض دی په مصنف باندې اولکنه ترینه جواب دی نوشارح وایې چې **وَلَوْقَالَ حَرْفُ التَّعْرِیْفِ** که چرې مصنف حرف التعریف وئیلی وي په ځای دلام **التعریف لَکَانَ شَامِلًا لِلْمِیْمِ فِی قَوْلِهِ عَلَیْهِ السَّلَامِ** نوشامل به وومیم (تعریفي) ته په مثل ددې قول دنبي ﷺ کښې **لَیْسَ مِنَ امْبِرِ امْصِیَامُ فِی امْسَفَرِ** یعنې روژه په سفرکښې نیکي نه ده) نومیم په دې کښې حرف التعریف دی داخل دی په اسم اولفظ دمتن یعنې اللام ورته شامل نه دی نو که مصنف حرف التعریف وَیلی وي نو دیته به هم شامل وونو قصور فی المتن لازم شه **لٰکِنَّهٗ لَمْ یَتَعَرَّضْ لَهٗ لِعَدَمِ شُهْرَتِهٖ** داجواب دی داعتراض مذکور نه

يعني پكار خو داسې وه ليكن مصنف تعرض ونه كه ميم تعريفي ته دوجې دعدم شهرت دميم نه دپاره دتعريف اوجواب خارجي ددې نه دادی چې ميم حرف تعريف نه دی مستقلاً بلكې دابدل دی دلام تعريف نه ياداچې ميم تعريفي خاص دی په بعض لغاتو پورې چې هغه لغة حِمْيَری دی ځكه چې لام دهغوی په لسان ثقيل دی اوذكردلام په متن كښې بنادی په عامولغاتو باندې اواستعمال دميم په قول دنبي ﷺ كښې بنادی په مطابقت دسوال دسائل سره ، ځكه سائل حِمْيَری وو ، لكه چادنبي ﷺ نه تپوس وكه چې اَمِنْ اَمْبِرِّ اَمْصِيَامُ فِي اَمْسَفَرِ يعنې څوځيزونه دي په څوكښې دي دڅونه دی اوپه څو دی (نونبي پاک ﷺ په جواب كښې وفرمائيل اِثْنَيْنِ مِنْ اِثْنَيْنِ عَلَى اِثْنَيْنِ (دوه دي يعنې فرض واجب په دووكښې دی يعنې په ورځ اوشپه كښې ،ددوودطرف نه دی يعنې دالله اورسول دطرف نه ، په دوودی يعنې په انس اوجن .

بيان الاختلاف في اداة التعريف وترجيح ماهوالراجح: پوهه شه چې په اداة التعريف كښې درې مذاهب دي يو دسيبويه اوبل دخليل اوبل دمبرد پس سيبويه وايې چې اداة دتعريف فقط لام دی دليل يې دادی چې تعريف مقابل د تنكيردی اواداة التنكيرحرف واحد دی چې تنوين دی لكه صه ای اسكت سكوتاً مأنواداة التعريف هم حرف واحد دی ،چې لام دی .

سوال : همزه خوهم حرف واحد دی نودادی اداة التعريف وګرځي ؟

جواب : داهمزه وصليه ده اوساقطيږي په درج دكلام كښې نوداعلامه دتعريف نه شي كيدی ځكه چې العلامة لاتحذف ولاتغيرولا تبدل.

سوال :بيازياتوالی دهمزی ته حاجت څه وو ؟

جواب: لام چونكه ساكن دی اوابتدابالساكن ثقيله ده نوځكه همزه زياده كړی شوه .

درئم مذهب دخليل دی .دې وايې چې حرف التعريف مجموعه دال ده دليل يې دادی چې اداة التعريف قياس دی په اداة الاستفهام باندې ځكه چې استفهام دطلب دتعريف دپاره دی اوالف لام دتعين دتعريف دپاره دی اوداستفهام دپاره هل راځي نومناسب دهل سره ال دی .

درئم مذهب دمبرددې دې وايې چې اداة التعريف همزه مفتوحه ده ده تعريف قياس كړيدی په استفهام باندې خوپه همزه استفهامي باندې ،نودتعريف دپاره هم يوحرف شه چې همزه ده .

سوال : هركله چې حرف التعريف دده په نزدهمزه شوه نولام ولې زيات كړی شه ؟

جواب : دپاره دفرق په مابين دهمزی استفهامي اوهمزې تعريفي كښې ،پس كه دهمزی نه پس لام وي نوهغه به همزه تعريفي وي اوكه نه وي نوهغه به همزه استفهامي وي .

سوال عکس ولې ونه کړی شه جواب دهمزې استفهامي نه پس لام ځکه زیات نه کړی شه چې وخت د استفهام وخت د سرعت وي

جواب د استفهام ته او مناسب د سرعت سره اختصار دی او اختصار په ترک د لام کښې دی چا به سوال کوو چې هر کله مذاهب په اداة التعریف کښې ثلاثه دی نو څه وجه ده چې مصنف دخول اللام اُووی او الف لام یا همزه فقط یې ونه وی نو شارح جواب وکه په دې قول سره **وَفِي اخْتِيَارِهِ اللاَّمَ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ الْمُخْتَارَ عِنْدَهُ مَا ذَهَبَ إِلَيْهِ سِيبَوَيْهِ** یعنې ده مذهب د سیبویه غوره کړی نو ځکه نو وایې چې په اختیار ولو د مصنف کښې لام لره فقط اشاره ده دیته چې غوره دده په نزد هغه دی چې ذهاب کړی دی هغې ته سیبویه **مِنْ أَنَّ أَدَاةَ التَّعْرِيفِ هِيَ اللاَّمُ وَحْدَهَا** چې اداة د تعریف فقط لام دی

زِيْدَتْ عَلَيْهِ هَمْزَةُ الْوَصْلِ زیاته کړی شوه په ده باندې همزه وصلیه **لِتَعَذُّرِ الْاِبْتِدَاءِ بِالسَّاكِنِ** د وجې د تعذر د ابتدا بالساکن نه .سوال همزه وصلی خو مسکوره وي نو د اولې مفتوحه ده جواب د پاره د تخفیف د وجې د کثرة استعمال نه. **وَأَمَّا الْخَلِيْلُ فَقَدْ ذَهَبَ إِلَى أَنَّهَا أَلْ كَهَلْ** او هر چې خلیل دی نو ده ذهاب کړیدی دیته چې ادة التعریف (مجموعه د) ال ده په شان د هل **وَالْمُبَرِّدُ إِلَى أَنَّهَا الْهَمْزَةُ الْمَفْتُوحَةُ وَحْدَهَا** او مبرد ذهاب کړیدی دیته چې اداة التعریف همزه مفتوحه ده فقط **زِيْدَتِ اللاَّمُ عَلَيْهَا** زیات کړی شه لام په دې باندې **لِلْفَرْقِ بَيْنَهَا وَبَيْنَ هَمْزَةِ الْاِسْتِفْهَامِ** د پاره د فرق په مابین د همزې تعریفي او همزی استفهامي کښې

پس د دینه پوهه شه چې مذهب د سیبویه ځکه غوره دی چې په ده هغه اعتراضات نه واردیږي چې کوم په نورو واردیږي ،نو په مذهب د خلیل او مبرد دا اعتراض واردیږي چې که چرې همزه هم اداة د تعریف وی نو په درج د کلام کښې به نه ساقطیده ځکه چې والعلامة لاتحذف اگر چې د دینه جواب ممکن دی هغه دا چې حذف د همزې په دې مقام کښې سره د نیابت نه دی ، یعنې نائب او قائم مقام یې موجود دی چې لام دی ،نو گویا چې لام مذکر د همزې دی ، لیکن بیا هم دا مذهبونه مورد د اعتراضاتو وو نو ځکه مصنف غوره نه کړل **وَإِنَّمَا اخْتُصَّ دُخُوْلُ حَرْفِ التَّعْرِيْفِ بِالْاِسْمِ** مقصد د دې عبارت نه بیان د دلیل د اختصاص د حرف التعریف دی په اسم پورې نو شارح وایې چې خبره داده بلکه نه ده چې خاص شه دخول د حرف التعریف په اسم پورې **لِأَنَّهُ لِتَعْيِيْنِ مَعْنًى مُسْتَقِلٍّ بِالْمَفْهُوْمِيَّةِ يَدُلُّ عَلَيْهِ اللَّفْظُ مُطَابَقَةً** وانما اختص دعوی وه ،

او دا يې دليل دی ، نو وايي چې دا ځکه چې لام التعريف وضع شويدی دپاره دتعين دمعنی مستقلی بالمفهوميت دا سې معنی مستقله چې دلالت کوي په هغې باندې فقط په دلالت مطابقي سره ،يعني لام وضع شويدی دپاره دتعين دمعنی مستقلي مطابقي . **وَالْحَرْفُ لَايَدُلُّ عَلَى الْمَعْنَى الْمُسْتَقِلِّ** او حرف دلالت نه کوي په معنی مستقله باندې بالکل **وَالْفِعْلُ يَدُلُّ عَلَيْهِ تَضَمُّنًا لَامُطَابَقَةً** او فعل دلالت کوي په معنی مستقله تضمني چې حدث دی . نه په معنی مطابقي .ځکه چې معنی مطابقي دفعل غيرمستقله ده کما مر . چا به وي چې هر کله خاصه په دوه قسمه شوه او دا دکومې قبيلې نه ده . **فاجاب الشارح بقوله، وَهَذِهِ الْخَاصَّةُ لَيْسَتْ شَامِلَةً لِجَمِيْعِ أَفْرَادِ الاسمِ**،يعني دا خاصه غيرشامله ده **فَإِنَّ حرفَ التعريفِ لايدخلُ عَلَى الضمائرِ واسماءِ الاشارةِ وغيرِهَا كالموْصُولاتِ** دا يې دليل دی .بيان ته يې حاجت نيشته واضح دی . که څوک اُووايي چې په دې اشياء حرف التعريف ولی نه داخليږي .نو جواب يې دادی چې ځکه چې حرف التعريف راځي .دپاره دتعريف .او دا اسماء په خپله معرفې دی نو لازم به شي تعريف المعرف **وهذا تحصيل الحاصل وهو لايمكن**.

سوال : حرف الندا خو هم حرف تعريف دی حالانکه هغه داخليږي په ضمائر منفصله او اشاراتو موصولاتو وغيره ؟

جواب ممنوع دخول دحرف التعريف دی په دې اشياء خو په حيثيت دتعريف .او دخول دحرف النداء په حيثيت دتعريف نه وي بلکې بحثيتة النداء وی **وَكَذَالِكَ سَائِرُ الْخَوَاصِ الْخَمسِ المذكورةِ هٰهُنَا** غرض دشارح تکميل دمقام دی په تعين دنوعي دباقي خواصو سره چې هغه هم خاصي غيرشاملي دی

سوال : **لانسلم هذا** ځکه چې اسناد هم خاصه داسم ده او شامله ده؟

جواب :اسناد هم خاصه غيرشامله ده ولې ته نه گورې چې په اسماء افعال کښی اسناد نه دی موجود **وَمِنْهَا دُخُولُ الْجَرِ** بعضي دخواص معظمو داسم نه جر دی غرض دشارح دتقدير د منها او دخول نه عمل دی په قاعده مشهوره باندې چې کوم عبارت په جانب دمعطوف عليه کښی مصرا ح وي نو هغه په جانب دمعطوف کښی مقد ر روي او بل په دې کښی اشاره ده تعين دمعطوف عليه ته يعني الجر معطوف دی په مدخول الدخول باندې چې اللام دی نه په دخول .

تحقيق په لفظ دو الجر او اعراب دده کښی پوهه شه چې والجر کښی دوه احتمال دی .

احتمال اول دادی چې دی اسم جامد دی دوئم دا چې مصدر دی . پس که چرې اول وي نو بيا

مراد په والجر سره هغه حرف یا حرکت دی چې دلالت کوي په کون دشي باندې مضاف الیه نو په دې صورت کښې به دی عطف وي په اللاّم دوجې دمناسبت نه هغه داچې دالجر او اللام دواړه اسماء جامده دی نو بنا په دې تقدیر په والجرّ کښې په اعتبار د اعراب سره دوه احتماله دي ، یو داچې دی عطف شي په لفظ داللام نو مجرور به وي . ځکه چې لفظ داللام مجرور دی ،بنابر اضافت ،بل داچې عطف شي په محل داللاّم نو بیا به والجر مرفوع وي ځکه چې اللاّم مرفوع دی محلاً ځکه چې دی فاعل دی دپاره ددخول بنا په دې چې اضافت ددخول ﴿مصدر﴾ اللام ته ،اضافت دی فاعل ته او داځکه چې دخول مصدر لازمې دی فاعل غواړي فقط

احتمال ثاني : اوکه چرې والجر مصدر شي نو بیا به مبني للمفعول وي ای کون الاسم مجروراً نو بنا په دې به والجر عطف وي په دخول ﴿مضاف﴾ دوجهې دي مناسبت نه ځکه چې دخول او جر دواړه مصادر دی نو په دې صورت کښې په والجر مرفوع وي ځکه چې دی عطف دی په دخول او په هغه کښې رفعه متعینه ده نو په ده کښې هم رفعه متعینه شوه **وَاِنَّمَا اخْتُصَّ دُخُولُ الْجرِبِالاِسْمِ** غرض په دې کښې بیان داختصاص دجر دی په اسم پورې ، پس داعبارت مشتمل دی په دعوه او دلیل نو انما ،ترلانه الخ پورې دعوی ده او دلیل یې داقول دی **لاَنَّـهُ اَثرحرفِ الجرِفي المَجْرورِبِهِ لفظًا** ﴿دادلیل په طرز دقیاس اقترانی سره دی﴾ نو وایې چې جر اثر د حرف جر دی په هغه اسم کښې چې مجرور وی په حرف جر سره ﴿داصغری ده او کبری یې راروانه ده **فَانتظِروَفي المَجْرورِبِهِ تَقْديراًبِو** هـــ شه چې لفظاً او تقدیراً منصوب دی بنابر حالیت ،اوذوالحال یې حرف الجر دی یعنې په حال دکون د حرف جر کښې چې لفظي وي لکه بِزَیْدٍ تقدیری وي لکه په اضافت معنوي کښې مثلا غلام زید ای غلام لزید **وَدخولُ حَرفِ الجَرلفظًااوتقديرايُختَصُ بالاسمِ** داکبری ده او حرف الجر حد اوسط دی ،پس دحذف دحداوسط نه به نتیجه داشي **،فالجريختص بالاسم** . اوبل داچې که چرې جر مختص نه شي په اسم پورې نو مخالفت به راشي داثر دمؤثر اکتسابی نه چې حرف جر دی.

سوال : مخالفت داثر خود مؤثر نه راغلی دی لکه شمس او قمر چې مؤثران دضوئ دی ،نو مؤثران موجود دی په اسمان کښې او اثر یې په زمکه کښې دی نو مخالفت راغی ؟

جواب : مؤثر په دوه قسمه دی یو مؤثر طبعي دی داهغه دی چې اثر دده ، دوجې طبیعت او دذات

نه وي (بظاهر) يعنې دغيرنه نه وي .اوبل مؤثر اکتسابی .داهغه دی چې اثرددہ دوجې د غيرنه وي . لکه عوامل دنحوی .ظاهره ده چې اثر ددوی دوجی دغيريعنې دمتکلم نه دی، پس مؤثر طبعي اقوی دی نو مخالفت دهغه نه داثرخپل راتلی شي (لکه شمس وقمر) په خلاف دمؤثر اکتسابی نه نو مخالفت داثرددہ .نه ممنوع دی فقط وهذا هو المرد ههنا، **لأنّـهُ مَوضـوعٌ لإفضَاءِ مَعْنَى الْفَعْلِ إلَى الأسمِ**.دادلیل دکبری دی اوصغری واضحه ده .نو وايې چې داځکه چې حرف جروضعه شويدی دپاره درسولو دمعنی دفعل . اسم ته .لکه مررت بزيد نومعنی دمرور حرف باء اسم يعنې زيد ته ورسوله **فَيَنْبَغِي يَدَخلَ الاسَم لِيُفْضِي مَعْنَى الفِعلِ اليهِ** پس واجبه ده چې حرف جرداخل شي په اسم باندې دپاره ددې چې ورسوي معنی دفعل اسم ته اودليل په دې خبره چې حروف جاره موضوع دی دپاره دافضاء دمعنی فعل اسم ته .تعريف دحروف جاره دی لکه صاحب دهدايه النحوی وايې **حروف الجرِوُضِعَتْ لافِضَـاءِ** ، معنی الفعل اوشبهه الی **مَـايَلِيهِ** .

وامـا الاضـافـةُ اللفظِيةُ غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې دليل مطابق نه دی دمدعي سره .ځکه چې مدعي عامه ده يعنې مطلق جرکه اثردحرف جروی اوکه دمضاف ، خاص دی په اسم پورې اودليل خاص دی ځکه چې ددليل نه داثابته شوه چې هغه جرخاص دی په اسم پورې چې کوم اثردحرف جردی فقط ، بناپه دې ددی نه خارج شه هغه جرچې کوم په اضافت لفظي کښې وي (لکه ضارب زيد) ځکه چې په اضافت لفظي کښې حرف جرنيشته په نزددجمهورو .نه لفظا اونه تقديرا ، حالانکه جراضافت لفظي هم خاص دی په اسم پورې حاصل دجواب يې دادی چې دليل مثبت دپاره ذمدعي دی ځکه چې اضافت لفظي فرغ داضافت معنوي ده ، اوجراضافت معنوي خوخاص وو په اسم پورې نو داضافت لفظي جربه هم خاص وي په اسم پورې دپاره ددې چې مخالفت رانه شي دفرع داصل نه .نوشارح وايې **وَامـا الاضـافةُ اللفظيةُ فهى فرع للمعنَويهِ** .

اوهرچې دی اضافت لفظي نودافرع داضافت معنوي ده **فيَنْبَغِي اَنّ لايُخَـالِفَ الاصـلَ** پس واجبه ده چې دی مخالف نه شي داصل نه **بِاَنّ يُختَص بَمـا يُخَـالِفُ مَـا يَختَصُ بـه الاصـلُ اَعنـى الفعـلَ** پوهه شه چې دابيان دمخالفت دفرعی دی داصل نه ، اوددی دپاره دوه صورتونه دي يوصورت په دې عبارت کښې ذکرشه ، تشريح يې داده چې ضميرديختص راجع

دی فرع ته اولفظ ماپه بماکښی عبارت دی د فعل نه لکه شارح یې بیان کړی دی په اعني الفعل سره اوپه .مایختص کښی ماعبارت دی د اسم نه نو د مخالفت د دې صورت مطلب داشه چې لازمه ده چې فرع دی مخالفه نه وي د اصل نه په دې شان سره چې مختص شي فرع یعنې اضافت لفظي په هغه شي ، یعنې فعل ، پورې چې مخالف دی د هغه شي نه چې مختص دی په هغې پورې اصل یعنې اضافت معنوي .چې هغه شی اسم دی

مزید وضاحت د دې دادی چې داخو ثابته شوه چې اضافت معنوي خاص دی په اسم پورې اوداهم معلومه شوه چې اضافت لفظي فرع د اضافت معنوي د ه نو اوس دمخالفت د اضافت لفظي دپاره د اضافت معنوي نه دوه صورتونه دي یو داچې اضافت لفظي خاص شي په فعل پورې . حالانکه اضافت معنوي خاص وو په اسم پورې د اصورت ذکر شه ، او د رئم داچې اضافت لفظي عام شي اسم او فعل دواړو ته شامل شي حالانکه اصل یعنې اضافت معنوي خاص دی په اسم پورې فقط **أَوْيَزِيْدُعَلَيهِ** دا عطف دی په بان یختص او صورت ثاني دی دمخالفت دفرعی د اصل نه . یعنې چې یازیاته شي فرعه د اصل نه **بِأَنْ يَعُمَّ الاسمَ والفعلَ بِأَيِّهِما** ده یعنې په دې شان سره چې فرعه یعنې اضافت لفظي شامل شي اسم او فعل دواړو ته . نو داهم نه شي کیدی نو ثابته شوه چې اضافت لفظي هم خاص شه په اسم پورې.

ومنهادخولُ التنوينِ غرض د تقدیر دمنهادخول نه اشاره ده عمل ته په قاعده مشهوره دعطف او تعین دمعطوف علیه ته چې التنوین عطف دی په مدخول الدخول باندې چې اللام دی نه په دخول

ترجمه دعبارت داده چې بعضي دخواص معظمونه تنوین دی سره داقسامو خپلونه مګر تنوین ترنُم چې دی خاص نه دی په اسم پورې بلکې په فعل او حرف کښی هم موجودیږي اورابه شي په اخر دکتاب کښی تعریف دتنوین او بیان داقسامو دده په داسې طریقي سره چې ظاهربه شي په هغې کښی وجه داختصاص دماسوادتنوین ترنم نه په اسم پورې اودغه شان ظاهره به شي وجه دعدم اختصاص دتنوین ترنم په اسم پورې لیکن بنابرضرورت دلته هم بیانیږي

مَعْنَى التنوينِ لغةً واصطلاحًا پوهه شه چې تنوین مصدر د باب تفعیل دی په لغة کښی نون دادن ته ویلي شي یعنې یو کلمې ته نون ورکول یا جعل الشیٔ ذانون اوپه اصطلاح کښی نون **ساكنة تتبعُ حركةَ آخرِ الكلمةِ لالِتأكيدِ الفِعْلِ** داهغه نون ساکن دی چې تابع وي د حرکت د اخر د کلمې او د تاکید د فعل دپاره نه وي پس که چرې د تاکید دپاره وی نو هغه نون تاکید خفیفه دی لکه

اضربن

اقسام التنوین تنوین پنځه قسمه دی تمکن تنکیر عوض مقابله ترنم لکه راغلی دی په دې قول د شاعر کښی

شعر

تنوین پنج قسم شد ای پسر من بیگر

اول تمکن است وعوض ثالثش تنکیر

دیگر مقابله وترنم برادرم

این پنج یاد کن که شدی شاه بی نظیر

تفصیل هذه الاقسام مع وجوه الاختصاص تمکن وایې مضبوطولو ته اوتنوین تمکن دیته وایې چې دلالت کوي په امکنیت اومضبوطوالی داسم په اصل خپل کښی چې انصراف دی . په دې وجه تنوین تمکن په غیرمنصرف ممنوع دی وجه داختصاص دتنوین تمکن په اسم پورې داده چې تمکن علامه دانصراف ده اومنصرف اسم وي فقط نه فعل اوحرف

تنکیر داهغه تنوین دی چې فارق دی په مابین دمعرفی اونکری کښی . پس دې دلالت کوي په دې چې مدخول یې نکره ده لکه صهٍ ای اسکت سکوتامافی وقتٍ مااوهرچې دی صه بغیرد تنوین نه نودامعرفه ده ای اسکت السکوت الان اودا تنوین خاص په اسم پورې ځکه دی چې تعریف اوتنکیرپه اسم کښی راځي فقط . فعل اوحرف معرفه اونکره نه شي کیدی .

عوض : دا هغه تنوین دی چې محلق شوی وي په اسم پورې په عوض دمضاف الیه کښی .لکه یومئذٍ چې په اصل کښی یومَ **اِذْکَانَ کَذَاوو،نواذمضاف دی کَان کذاته** مضاف الیه حذف شه دپاره دتخفیف اودهغې په عوض کښی تنوین په اذجاری کړی شه اوتنوین خاص دی په اسم پورې ځکه دی چې مضاف الیه اسم واقع کیږي فقط نه فعل اوحرف .کمامرّ

مقابله تنوین مقابله هغه دی چې په مقابله دنون دجمع مذکری سالمې کښی راغلی وي لکه مسلماتٍ نوالف دمسلمات الف دجمع دی لکه ځنګه چې واوعلامه دجمع مذکری ده . نونه وو په دې کښی داسې حرف چې مقابله وکړي دنون دجمعې مذکری .نوتنوین یې په مقابله کښی راوړلی شه اوداتنوین خاص په اسم پورې ځکه دی چې تثنیت اوجمعیت بالذات په اسم کښی

راځي او په فعل او حرف نه وي مګر بالتبع .

ترنم دیته وایي چې ملحق کیږي په اخر دابیاتو او مصاریعو پورې دپاره دتحسین داواز او د امتداد د صوتاو داتنوین خاص نه دی په اسم پورې بلکې په فعل او حرف کښې هم راتلی شي لکه داقول دشاعر .

اَقِلِّی اللومَ عَاذِلُ وَالْعِتَابَنْ وَقُوْلِی اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ

نو اَلْعِتَابَنْ اسم دی په قرینې دالف لام او اصابن فعل ماضي ده ای اساب یصیب اصابةً او ددواړو په اخر کښې تنوین ترنم راغلی دی او مثال دحرف لکه داشعر دهدایه النحوی دی .

اَفِدَ التَرَحُّلُ غیرَانَّ رِکَابَنَا لَمَّاتَزُلْ بِرِحَالِنَا وَکَانَ قَدِنْ

پس قد حرف دی او په اخر کښې تنوین ترنم راغلی دی فافهم

ومِنْهَا الْاِسْنَادُ اِلَیْهِ مقصد دتقدیر دمنها نه عمل دی په قاعده دی په قاعده مشهوره باندې کما مرا و دیته اشاره ده چې الاسناد عطف دی په دخول ،نو دمن خواصه دلاندې درج شه یعنې بعض دخواص معظمو مکبرو د اسم نه اسناد الیه دی **هو بالرفع عطف عَلَی الدُّخُولِ لَاعَلَی مدخُولِهِ**.

غرض دشارح ددې نه بیان داعراب دالاسناد او دوجی داعراب دی نو وایې چې اسناد مرفوع دی وجه یې داده چې معطوف دی په دخول او بل غرض په کښې دفع داعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې ظاهره دطرز سابق نه داده چې الاسناد الَیهِ عطف دی په مدخول الدخول باندې چې اللام دی په شان دجر او تنوین نو تقدیر به داشي چې ومنها دخولُ الاسناد او دا صحیح نه ده ځکه چې دخول عبارت دی دذکر دشي نه په اول کښې یالحوق نه په اخر کښې او دادواړه معنې په اسناد کښې نه شي متصور کیدی ځکه چې اسناد نسبت دی په وسط کښې وي ،خلاصه دجواب داده چې الاسناد عطف دی په دخول نه په مدخول د دخول باندې **لان الْمُتَبَادِرَمِن الدخولِ** دادلیل دی دعطف کذا یې ، ځکه چې متبادر د دخول نه الذکر فی الاول ذکر دی په اول دکلمې کښې لکه حرف **التعریف اوِاللحُوْقِ بِالاخرِ**.

یالحوق دی په اخر دکلمې پورې لکه جر او تنوین **وکِلَاهُمَا منتفیَانِ فِی الاسنَادِ** او دادواړه منتفی دي په اسناد کښې **وکَذَفِی الاضَافَةِ** او داخبره په اضافت کښې هم ده پوهه شه چې شارح داعبارت مقدم که دمحل خپل نه چې ومنها الاضافة دی دپاره داختصار یعنې داسناد او داضافت حکم په باب دعطف کښې یوشان دی او داځکه چې هر واحد دواړو نه عامل معنوي مقتضي للاعراب دی او **دخول فی الاول اولحوق فی الاخر احکام** دلفظ دی ،نو په دې وجه ددواړه منتفی دي په دواړو کښې

وَالمُرَادُ بِهِ كونُ الشيِ مسنداً اليه غرض د شارح د دې عبارت نه دفع د اعتراض مقدرده پوهه شه چې د اعتراض بنا دی په یو قاعده د علم معاني باندې ، هغه داده چې فائدة الخبر به غیر وي دفائدة المبتدا نه .یعنې خبر به مفید وي دپاره د هغه شي چې مبتدا د هغې دپاره مفیده نه وي .او منشاء د اعتراض داده چې ضمیر د الیه راجع دی اسم ته . نو تقدیر به دا شي **ومن خواص الاسم الاسناد الی الاسم** نو اسناد غرض دی قائم دی په اسم پورې پس هغه اسناد چې قائم دی په اسم پورې احتمال نه لري چې په بل شي کښی موجود شي نو بیا حکم لګول په ده باندې په خواصیت دده سره دپاره د اسم لغوه شوځکه چې فائده دخبر او د مبتدا یو شوه خلاصه د جواب داده چې ضمیر د الیه راجع دی اسم ته لیکن مراد د اسم نه شی دی ، نو معنی دا شوه چې **اَلاِسنَادُ الی الشی یعنی کون الشئ مسندا الیه** خاصه د اسم ده **نو کون الشئ مسنداً الیه معنی د الاسناد الیه** شوه او خاصیت معنی د و من خواصه شوه. نو مفاد د دواړو غیر غیر شه) پوهه شه چې د اجواب هم بنا دی په یو قاعده باندې .هغه داده چې کله د یو شي دپاره اعتبارات مختلفه وي نو حکم په دغه شي په بعض اعتباراتو سره لغوه وي خو په بعض نورو اعتباراتو سره مفید وي لکه انسان شه مثلا نو دده دپاره مختلف اعتبارات دی یو اعتبار د حیوانیت دی او بل د جسمیت نو په اعتبار د حیوانیت سره په ده د حیوان حکم کول لغوه دی .او په اعتبار د جسمیت سره پرې حکم د حیوان کول صحیح دی نو دغه شان د اسم دپاره هم مختلف حیثیتونه دی یو **من حیث اَنهُ مسند الیه** نو په دې حیثیت سره پرې حکم د مسند الیه کول لغوه دی نو په دې صورت کښی کون الاسم مسند الیه وئیل غلط دی او بل **من حیث انه شی** ،نو په دې اعتبار پرې حکم کول په مسند الیه سره مفید دی یعنې **کون الشئ مسند الیه من خواص الاسم** کیدل د یو شي مسند الیه خاصه د اسم ده فافهم. **وانما اختصّ هٰذَا المَعْنَی بِالاسمِ** د اثبات د متن دی په دلیل سره ،نو وایې چې خبره داده چې خاصه شوه دا معنی یعنې اسناد الیه ، په اسم پورې **لان الفِعْلَ قد وُضِعَ لِاَن یکون ابداً مسنداً فقط** ځکه چې فعل یقینا وضع شوی دی دپاره د دې چې وي دی فعل همیشه دپاره مسند فقط **فلو جُعِلَ مسنداً الیه یلزمُ خِلافُ وَضعِه** پس که وګرزولی شي فعل مسند الیه نو لازم به شي خلاف د وضعي د فعل نه نو د دې معنی دپاره پاتې نه شه مګر اسم.

سوال : نه منم دا خبره چې فعل وضع شوی دی دپاره د دې چې مسند به وي بلکې دی وضع دی دپاره د دې چې دلالت به کوي په معنی مستقله او مقترن به وي په یو زماني پورې ؟

جواب : لام په دې قول کښې چې **لان یکون الخ** دی صله دوضعي نه ده بلکې دپاره دغرض دی او په عبارت کښې تقدیر دی **فحاصل المعنی ان الفعل وضع لمعناه والغرض من وضعه ان یکون مسنداً ابدا**

سوال : هرکله چې لام دغرض دپاره شه اوکون دفعل مسند معنی موضوع له دفعل نه شوه نوکه چرته فعل مسند واقع نه شي بلکې مسند الیه واقع شي نوخلاف دوضعي نه نه لازمیږي ځکه چې داخوئی معنی موضوع له نه شوه نوترتب دجزا چې یلزم الخ دی صحیح نه شو؟

جواب : په جزا یعنې **یلزمُ خِلافُ وَضْعِهِ** کښې مضاف مقدر دی **فاالتقدیر،فلوجعل مسندالیه یلزمُ خلافُ غَرضِ وَضْعِهِ** نو معنی صحیح شوه .

وَمِنْهَا الاضافَةُ غرض دمنها ذکرشوی دی **سابقاًفتذکرای کون الشيءِ مُضافاً** غرض دشارح ددینه تعین دماهو المراددې داضافت نه ځکه چې داضافت اطلاق په دریو څیزونو باندې کیږي یو مضاف بل مضاف الیه اوبل نسبت بینهما ،لهذا تعین دماهو المرادلازمي دی اوبل غرض ددینه دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې اضافت به خالي نه وي یابه تریې مراد مضاف وي یامضاف الیه یانسبت اضافي والکل باطل مضاف ځکه نه شي اراده کیدی چې کون دشي مضاف خاصه داسم نه ده بلکې فعل هم مضاف واقع کیدی شي ،لکه مررت بزید ، فعل مضاف دی زیدته په واسطې دحرف جرسره اومضاف الیه اراده کول هم صحیح نه دي ځکه مضاف الیه واقع کیدل هم خاصه داسم نه ده بلکې فعل هم مضاف الیه واقع کیدی شي لکه په دې قول دالله پاک کښې **یوم ینفع الصادقین** یوم مضاف دی اوینفع (فعل) یې مضاف الیه دی اونسبت اضافي هم نه شي اراده کیدی ځکه چې نسبت صفت دمرکب دی اواسم مفردوي ددې دپاره شارح دوه توجیه کړي دی اوله توجیه یې داده چې مراد ، داضافت نه مضاف دی **بِتَقدِیرِحرفِ الجَرلابِذکرِه لفظاًخوبه** تقدیر دحرف جرسره نه په ذکر دحرف جر لفظي سره ، نو مررت بزید خارج شه ، ځکه مررت بیشکه مضاف دی خو حرف جرپه کښې لفظي دی **ووجه اِختِصاصِهَابِالإسمِ الخ** دادلیل داختصاص دی داضافت دی په اسم پورې نوشارح وایې چې وجه دا ختصاص داضافت په اسم پورې **واختِصاصُ لوازِمِهامِنَ التَعرِیفِ وَالتخصِیصَ وَالتَخفِیفِ** من بیانیه دی دابیان دی دلوازمو داضافت ،یعنې داامورخاص دی په اسم پورې تعریف خوظاهردی اوتخصیص په معنی دتقلیل دشرکاء سره دی ،اودا په فعل کښې نه موجودیږي ځکه چې دفعل نه مرادصیغه وي فقط

فلایقبل التخصیص او دغه شان مراد د تحفیف نه تخفیف دی په حذف د تنوین او قائم مقام د تنوین سره چې نون تثنیه او نون جمع ده ،او دا په فعل او حرف کښې نه دی موجود او نون په مثل دیضربان او یضربون کښې قائم مقام د تنوین نه دی بلکې د اعوض د هغه حرکت رفعي دی چې کوم په مفرد کښې وي ، کماقال میر سید شریف یادا چې تثنیت او جمعیت په فعل کښې بالذات نه دی بلکې په واسطی د فاعل سره وي فافهم او اختصاص د لوازمو په یو شي پورې مستلزم دی د پاره د اختصاص د ملزوم په هغه شي پورې **والالازم به شي** تحقیق ملزوم بغیر د لازم نه وهذا محال **وانما فسرنا الاضافة بکون الشی مضافا** غرض د شارح د دې عبارت نه بیان د باعث دی په تفسیر د اضافت په کون الشیء مضافا الخ سره ، نو وایې چې مونږ تفسیر د اضافت وکړ په کون الشیء الخ سره د ادعوی شوه **لان الفعل او الجملة قد یقع مضافا** الیه دا یې دلیل دی یعنې دا ځکه چې فعل او جمله کله کله مضاف الیه واقع کیږي ،لکه په دې قول د الله پاک کښې **یوم ینفع الصادقین صدقهم** نو یوم مضاف دی او ینفع فعل مضارع **علی قول** یا تول جمله **علی قول** اخر یې مضاف الیه دی ،نو د دینه سوال پیدا شه ، چې مضاف الیه واقع کیدل خاصه د اسم نه ده نو هر کله چې شارح دا تفسیر وکه نو معلومه شوه چې مراد د اضافت نه مضاف دی فلا یرد .

فائده :پوهه شه چې په کلمه د او کښې اشاره ده اختلاف د قولینو ته نو مصنف ذهاب کړی دی اول ته او بعض ذهاب کړیدی ثاني ته لیکن شارح په کلمې د او سره دواړه ذکر کړل **لأنْ یسبق الذهنُ اِلَی کِل مذهب ممکن وقد یقال هٰذا بتاویل المَصْدَرِ** دا توجیه ثاني ده په اضافت کښې ، یعنې مراد د اضافت نه مضاف او مضاف الیه دواړه دی په طریقې د عموم مجاز سره نو مطلب دا چې مضاف الیه هم خاصه د اسم ده او هر چې دی **یوم ینفع الصادقین** نو دا په تاویل د مصدر سره دی **ای نفع الصادقین** خلاصه دا چې مضاف الیه واقع کیدل هم خاصه د اسم د ه خو اسم عام دی که صریحې وي او که تاویلي .

سوال : ینفع په څه وجه په تاویل د مصدر سره وګرزیده ؟

جواب : د دې د پاره درې توجیهات دي ،اوله توجیه داده چې ظروف مضافه جملی ته په حقیقت کښې مضاف وي مضمون د جملې ته او مضمون د جملې دیته وایې چې مصدر د جزء مشتق مضاف کړی شي بل جزء ته لکه زید قام نو مضمون د دې قیام زید دی ، نو مضمون **دینفع الصادقین** نفع الصادقین دی او نفع مصدر دی نو ځکه یې اُووی چې ینفع مؤول دی په

مصدر سره
دوهمه توجیه داده چې ینفع فعل دی اومرکب دی دزماني. نسبت اوحدث نه نوپه دې کښې تجرید وکړی شه دزماني اونسبت نه نوپاتې شه حدث اوحدث معنی مصدری ده
دریمه توجیه داده چې دلته کښې اَن مصدریه مقدردی اواَن مصدریه مدخول په تاویل دمصدرسره گرزوي اوتقدیر داَن کله کله کولی شي دوجې دضرورت نه په ماسوا دمواضعو مشهورو دتقدیر دان کښې لکه.

تَسمعُ بِالمعیدی خَیرمِن اَنْ تَراهُ سَتَعْرِفُ قَدَرهٗ اِن فَتح فَاهُ

نو تسمع بالمعیدی مبتداده په تاویل دمصدر سره بناپه ان مقدره اوخیریې خبردی **فـالاضـافةُ بتقدیرِ الحرفِ مُطلقاً فـاء** تفریعیه ده اودا تفریع ده په توجیه ثاني باندې نوو ایې چې پس اضافت مطلقاً یعنې برابره خبره ده که مراد داضافت نه مضاف شي یامضاف اومضاف الیه دواړه **یُختص بالاسمِ خاص** دی په اسم پورې **ومر تفصیله معر قیل وقـال وانما قیدناه بقولهِ بتقدیرِ حرفِ الجر** دابیان دفائدی دتقید دمضاف دی په تقدیر دحرف سره **وقد ذکرناه فتذکر.**

معرب اومبنی: هرکله چې فارغ شه مصنف دتعریف داسم اودخواص داسم نه نوشروع یې وکړه په تقسیم داسم کښې معرب اومبنی ته **فقـال وهُووقـال الشـارح ای الاسمُ قِسْمـانِ** پوهه شه چې غرض دمصنف تقسیم داسم دی په اعتبار داعراب اوبناسره دوه قسمونو ته اوغرض دشارح د الاسم نه تعین دمرجع دی اودفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې اصل په ضمائروکښې ارجاع ده قریب ته اوقریب دیته اضافت دی نوضمیر دهو به راجع وي اضافت ته نودوه نقصانه لازم شویوخو دراجع مرجع په مابین کښې مطابقت نیشته، بل داخلاف مقصوددی ځکه چې مقصد دلته تقسیم دی اوتقسیم کیږي په معرف کښې اواضافت خومعرف نه دی، خلاصه دجواب یې داده چې ضمیراسم ته راجع دی نه اضافت ته، په قرینې دتقسیم سره یعنې تقسیم کیږي په معرف کښې اومعرف نه دی مگراسم **قِسمـانِ** داحاصل المعنی اودفع داعتراض مقدرده حاصل یې داد ی چې هوضمیرمبتداده اومعرفه یې خبردی اوخبرواجب الحمل وي په مبتدا باندې نولازم شه حمل دخاص چې معرف دی په عام چې هودی، خلاصه دجواب یې داده چې خبرمحذوف دی چې قسمان دی اوبل په دې کښې اشاره ده تعین دنوعي دتقسیم ته یعنې داتقسیم دکلي دی جزئیاتو ته ځکه چې دقسم اطلاق په جزیې باندې کیږي **لِانهُ لایخلو**
غرض دشارح دلیل دحصردی دپاره دانحصار داسم په معرب اومبني کښې، خلاصه یې داده

چې اسم بـه خالي نه وي يابه مرکب وي سره دغيرنه يانه . که نه وي نودامبني دی لکه زيدعمرو اونور اسماء معدوده اوکه مرکب وي نويابه سره دتحقق دعامل نه وي، يانه ،که نه وي نوداهم مبني دی لکه غلامُ زيد(بسکون الميم) اوکه سره دتحقق دعامل نه وي نويابه مشابه وي دمبني اصل سره يانه که مشابه وي دمبني اصل سره نوداهم مبني دی ، لکه جاء نی هؤلاء ، که نه وي نودامعرب دی لکه جائني زيدوغيره نوشارح وايي **لانه لايخلواماان يكون مركباًمع غيره اَوْلاَ** دا اسم به خالي نه وي يابه مرکب وي سره دغيرنه يانه **والاول اماان يشبه مبنى الاصل اَوْلاَ** اول به خالي نه وي يابه مشابه وي دمبني اصل سره يانه **وهذا.** اودا **اعنى المركبَ الذى لَمْ يُشبِه مبنىَ الاصلِ هوالمعربُ** يعنې هغه مرکب چې مشابه نه وي دمبني الاصل سره نودامعرب دی **وَمَاعَداه** اوماسوادادينه **اعنى غيرَالمركبِ والمركبَ الذى يَشبه مبنىَ الاصلِ مَبنى** يعنې هغه چې مرکب اصلانه وي يامرکب وي خومشابه وي دمبني الاصل سره نودامبني دی .

هرکله چې مصنف فارغ شه داجمال نه نوشروع يې وکړه په تفصيل کښی **فقال فالمعربُ الخ** يعنې معرب هغه اسم دی چې مرکب وي سره دغيرنه په دې شان سره چې متحقق وي ورسره عامل اومشابه نه وي دمبني الاصل سره **الذى هوقسم من الأسم** په الذی کښی اشاره ده ديته چې الف لام په المعرب کښی عهدی دی اومعهودفی الخارج اسم دی اوبل غرض په کښی دفع داعتراض مقدرده چې تعريف دمعرب جامع نه شه افرادوخپلولره خارجه شوه ترې فعل مضارع حالانکه معرف يعنې مطلق معرب مضارع ته هم شامل دی اوداځکه خارجه شوه چې المرکب په تعريف دمعرب کښی صفت داسم دی ،نوتعريف صحيح نه شه .

خلاصه دجواب داده چې سوال به هله واردوی که چرې مراددمعرف نه مطلق معرب وي ،خوداسې نه ده بلکې مرادهغه معرب دی چې قسم داسم وي نوکه مضارع خارجه شي **فلاحرج المركب اى الاسم** داتقدير دموصوف دی ځکه چې المرکب صفت دی اوهرصفت تقاضادموصوف کوي **الّذى ركب مع غيره**، په دې کښی اشاره ده عمل ته په قاعده مشهوره ،هغه داچې الف لام داخله په اسم فاعل اواسم مفعول موصولي وي په معنی دالذی سره په مذکرکښی اوالتی سره په مؤنث کښی اومدخول يې صله وي نوکه مدخول يې اسم فاعل وي نوتعبيربه ترې کولی شي په فعل معلوم سره اوکه اسم مفعول وي نوتعبيربه ترې کولی شي په

فعل مجهول سره ، غرض دشارح د مع غیره نه دفع داعتراض ده اوتعین دما هو المراددی دمرکب نه حاصل یې دادی چې تعریف دمعرب په المرکب سره تعریف بالمبائن دی ځکه چې معرب قسم د اسم دی او اسم قسم دکلمې دی او ماخوذ په تعریف دکلمې کښې قید دافراددی اوپه افرا دا ومرکب کښې منافات دی خلاصه دجواب یې داده چې مرکب په دوه قسمه دی یو مرکب لغوي یعني مضموم مع الغیر اوبل مرکب اصطلاحي یعني مایدل جزء لفظه علی جزء معناه نو مرادتري دلته مرکب لغوي دی او دا منافی نه دی دمفرد سره بلکې منافي دمفرد سره مرکب اصطلاحي دی **وهولیس بمراد**.

سوال: معلومه شوه چې مرکب مشترک بین المعنیین دی او استعمال دلفظ مشترک په تعریفا توکښې مُخل للفهم دی اوبله داچې معنی لغوی متبادره نه ده ذهن ته **لان المتکلم یتکلم باصطلاحه**

جواب: داهله چې قرینه نه وي اودلته قرینه موجوده ده په ارادې دمعنی لغوي هغه لزوم دتبائن دی په وخت دارادی دمعنی اصطلاحي کښې **تَرکِیباً یَتَحَقَّقُ مَعَهُ عَامِلُه** غرض دشارح تنبیه ده په دې چې مراد دمرکب نه هغه مرکب مع الغیردی چې خپل عامل ورسره متحق شي **سواء کان العامل لفظیاً اومعنویاً** او مطلق مرکب مع الغیر نه دی مراد ،نو سوال وارد نه شه په غلام زید چې دی مرکب مع الغیردی اوبیا هم معرب نه دی عند المصنف **فیدخل فِیهِ زَیدٌ قَائِم** فاتفریعیه ده اوضمیر دفیه را جع دی قید دمرکب ته نه معرب ته نو داتفریع ده ترکیبا الخ نو زید قائم مبتدا اوخبر دی متحقق دی ددوی سره عامل معنوي چې ابتداده اودغه شان هؤلاء هم داخل شه په معرب کښې فی الحال په قید دمرکب سره اګرچې روستو به خارجیږي په خلاف دهغه نه چې مرکب اصلانه وي نه دغیرسره. اونه عامل سره اودا به څه وي نو شارح وایي **مِنَ الاسمَاءِ المعدُودَةِ** اسماء معدوده په اصطلاح دنحاتو کښې هغه دی چې مرکب نه وي دعامل سره نه لفظا اونه تقدیرا نحو الف باتا زید عمرو بکر ،نو دادتعریف د معرب نه خارج شو **وَبِخِلَافِ مَاهُومرکب معَ غیرِهِ لِکن لاترکیباً یتحقق مَعَهُ عَامِلُهُ**. اوپه خلاف دهغه اسماء نه چې مرکب وي دغیرسره لیکن داسې ترکیب نه وي چې متحقق وي ورسره عامل لکه غلام بسکون المیم په غلام زید کښې چې مرکب دغیرسره خو دی چې زید دی لیکن عامل ورسره نه دی متحقق بلکې دی خپله عامل دی دپاره دمضاف الیه ،نو په دې ترکیب کښې مضاف مبني بالسکون

دی او مضاف الیه معرب دی **فَاِنَّ جَمِیْعَ ذالِكَ مِن قَبِیلِ الْمَبنِیاتِ عندَالمصنف** په دې کښې اشاره ده اختلاف ته په مابین د مصنف او زمخشري کښې **وسیاتی انشاءالله** **اَلَّذِی لَمْ یُشْبِه اَی لَمْ یُنَاسِبُ** غرض د شارح ددې تفسیرنه تعین دمعنی مرادی دمشابهت دی اودفع داعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې مشابهت منفیه په تعریف دمعرب کښې به خالي نه وي یابه ترې مراد مشابهت حقیقي وي یامجازي مشابهت حقیقي ویلی کیږي **اشتراك الشیئین فی الوصف** ته لکه مشابهت دزید د اسد سره په وصف دشجاعت کښې او مشابهت په معنی مجازي سره مناسبت ته وایي **وکلاهما باطل** نو که اول مرادوي نوتعریف دمعرب به داشي چې داهغه مرکب دی چې مشابه نه وي دمبني الاصل سره نوبناپه دې تعریف دمعرب مانع نه شه ددخول دغیرنه داخل شه په کښې این استفهامي په این زید کښې ځکه چې این مرکب دی مع الغیراومشابه هم نه دی دمبني الاصل سره ځکه چې مشابهت (حقیقي) **اشتراك الشیئین فی الوصف** والکیفیة ته وایي او هغه دلته نشته حالانکه اَیْنَ مبني دی اوکه مرادمعنی ثاني یعنې مناسبت وي نوخالي به نه وي یابه ترې مطلق مناسبت وي اویامناسبت خاصه وکلاهماباطل مطلق مناسبت نفس تعلق ته وایي چې بیابه هراسم معرب مبني وګرځي ځکه چې مطلق مناسبت نفس تعلق ته وایي ، اونفس تعلق دهرمعرب دمبني اصل سره ثابت دی مثلاتول دکلمې اقسام دی اومناسبت خاصه اراده کول هم صحیح نه دی ځکه چې مناسبت خاصه مجهول دی نولازمیږي تعریف بالمجهول خلاصه دجواب داده چې مراددمشابهت نه مشابهت مجازی دی په معنی دمناسبت خاصه سره من قبیل ذکرالخاص وارادة العام نومعنی داچې معرب هغه دی چې مناسب نه وي دمبني الاصل سره اودامناسبت مجهول نه دی بلکې معلومیږي دتعریف دمبني نه په طریقي دمقابلي سره ،یعنې مصنف په تعریف دمبني کښې چې کوم مناسبت معتبرکړی دی اثباتاً نوهم هغه مناسبت مراددی په تعریف دمعرب کښې نفیالکه شارح په بحث دمبنیاتو کښې وایې ، ,, **والمراد بالمشابهة المنفیة فی المعرب هو هذه المناسبة** او دامناسبت مجهول نه دی بلکې دې لره بیان کړی دی صاحب المفصل لکه شارح په بحث دمبنیاتو کښې وایې **ولقد فصل صاحب المفصل هذه المناسبة الخ فطالعه ان شئت** نو تعریف بالمجهول لازم نه شو.

سوال : دمشابهت اومناسبت په مابین کښې کومه علاقه ده ؟

جواب : عموم خصوص ،یعنې مناسبت عام دی اومشابهت خاص دی.

دمناسبت اقسام پوهه شه چې مناسبت په خلور قسمه دي
(۱) مشابهت (۲) مجانست (۳) مماثلت (۴) مشاکلت تفصیل یې دادی چې مشابهت عبارت دی داشتراک دشیئینونه په وصف مشهوره کښې چې لازم وي دا حد هماسره لکه رجل شجاع او اسد مجانست عبارت دی داشتراک دشیئینونه په جنس کښې لکه انسان او بقرچې شریک دی په حیوان کښې مماثلت عبارت دی داشتراک دشیئینونه په نوع کښې لکه اشتراک دزید او عمرو شه په نوع کښې چې انسان دی او مشاکلت عبارت دی داشتراک دشیئینونه په شکل اوصورت کښې لکه مشارکت دصورت منقوشه دفرس علی الجدارشه دشکل مخصوص دفرس سره **مُنَاسَبَةٌ مُؤَثِّرَةٌ فِي مَنْعِ الاِعْرَابِ** دادفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې تعریف دمعرب جامع نه شه افرادوخپلولره خارج شه ترې غیرمنصرف چې دی هم مناسب دی دمبني الاصل سره چې فعل ماضي ده په وجود دفرعیتینو کښې (چې هغه په فعل ماضي کښې اشتقاق اونسبت دی اوپه غیرمنصرف کښې دوه سببه دي) خلاصه دجواب یې داده چې مراددمناسبت نه هغه مناسبت دی چې مؤثروي په منع داعراب کښې اومناسبت دغیرمنصرف دماضي سره مؤثرنه دی دوجې دوجود دمعارض نه چې هغه مناسبت دی دمضارع سره یعنې غیرمنصرف که مناسبت دی دماضي سره نودغه شان مناسب دفعل مضارع سره هم دی اومناسبت یې دمضارع سره نه واجبوي بناء لره ځکه چې مضارع معرب ده **المبنی الذی هُوالاَصْلُ فِي البناء**
غرض دشارح ددې تفسیرنه تعین دماهو المراددی دمبني الاصل نه، ځکه چې دمبني الاصل دپاره معانی ثلثه دی یوداچې مبني فی الاصل یعنې مبني وي په اصل کښې، اودویم داچې مبنی اَصْلُهُ یعنې چې اصل یې مبني وي دریمه هغه چې شارح ذکرکړیده بقوله الذی هوالاصل فی البناء یعنې مبني هغه دی چې اصل وي په بناکښې اوبل غرض په دې کښې دفع داعتراض مقدرده .حاصل یې دادی چې ظاهره داده چې مراددمبني الاصل نه دادی چې اصل یې مبني وي نوبناپه دې پکارده چې مضارع دی هم مبني الاصل شي ځکه چې اصل ددې چې ماضي ده هم مبني ده **والامرلیس کذالك**.
خلاصه دجواب یې داده چې مراددمبني الاصل نه دادی چې اصل وي په بناکښې، یعنې بنایې اصلي، وضعي وي دوجې دمشابهت نه نه وي اومضارع مبني نه ده بلکې معرب ده دوجې د مشابهت نه دا اسم فاعل سره **فَالاِضَافَةُ بَيَانِيَّةٌ** دا تعین دنوعي داضافت دی، یعنې اضافت

دمبني اصل ته اضافت لفظي نه دی بلکې معنوي دی اګرچې مضاف یعنې مبني صیغه دصفت ده خو مضاف نه ده معمول خپل ته .په شان دمُضَارِعُ مِصرٍ اوپه اضافت معنوي کښې بیا اضافت بیانی دی چې په دې کښې دمضاف اومضاف الیه په مابین کښې عموم خصوص من وجه وي دادرې مادې غواړي .یو ماده اجتماعي اودوه افتراقي نو ماده اجتماعي داچې مبني هم وي او اصل هم لکه ماضي امرحاضراوجمله حروف چې دامبني هم دی او اصل یعنې اصل هم دی او ماده افتراقي دجانب دمبني نه مضمرات وغیره دی چې دامبني دی خو اصل یعنې مبني اصل نه دی .اوماده افتراقي دجانب داصل نه لکه اسماء معربه شوچې دابی شکه اصل دی ځکه چې اسماء اصل وي خو مبني نه دی فافهم .**وَهُوَالمَاضِي وَالأمرُبِغَيرِاللاَّم الخ** دابیان دمصداق دمبني الاصل دی اودا امورمبني اصل ځکه دی چې په دوی کښې معانی مقتضیه داعراب نشته چې فاعلیت مفعولیت او اضافت دی بل په دې کښې اشاره ده ردته په صاحب المفصل ځکه چې ده جمله هم په مبني الاصل کښې شمارکړیده وجه دردیې داده چې معرب اومبني صفات دمفرددی ،اوجمله نه ده مګرمرکب پوهه شه چې په تعریف کښې لابدی وی د جنس اوفصل نه. نوالاسم (چې معهود د الف لام دی په المرکب) کښې جنس دی اوالمرکب فصل اول دی .اوفصل ثاني لم یُشبِه دی .

نوشارح وایې **وبهذاالقید خرج مثل هؤلاء الخ لکونه مشابها لمبنی الاصل** دایې دلیل داخراج دی اګرچې هؤلاء مرکب مع العامل دی ، خومشابه دی دمبني الاصل سره چې جمله حروف دی په احتیاج کښې اعلم ان صاحب الکشاف الخ .

مسئله اختلافي په مابین دصاحب کشاف اودابن حاجب کښې :پوهه شه چې داعلم نه تر وانماعدل پورې غرض دشارح تکمیل دمقام دی په بیان دمسئلې اختلافي سره په مابین دصاحب کشاف جارالله زمخشری اودمصنف کښې سره دبیان منشاء الخلاف اومحل الاختلاف نه.

محل الاختلاف: محل داختلاف اسماء معدوده غیرمرکبه مع العوامل دي چې خالي وي دمشابهت دمبني الاصل نه .

صورة الاختلاف :په اسمامعدوده کښې اختلاف په دې شان سره دی چې اسماء معدودة مرکب اصطلاحي دی اوکه نه نوعلامه زمحشري اوامام جرجاني وایې چې اسماء معدوده غیرمرکبه مع العوامل معرب دی اصطلاحاً مذهب دمصنف ابن حاجب دادی چې اسماء

معدوده مبني دی قبل الترکب.

منشاء الخلاف . وجه داختلاف داده چې علامه زمخشري نفس صلاحیت داستحقاق داعراب دپاره کافي وایي نوظاهره ده چې اسماء معدوده لکه زیدعمرو وغیره صالح اوقابل داعراب دی پس دترکیب نه ، لکه جاء نی زیدنوهرکله چې داصالح داعراب وبعدالترکیب مع العامل نوعلامه ورته قبل الترکیب هم معرب وایي اومصنف دصلاحیت داعراب سره استحقاق داعراب بالفعل هم معتبرکړی دی اواستحقاق داعراب بالفعل عبارت دی داستجماع دجمیعو اسبابو داعراب نه.

اسباب داعراب درې دي:

(۱) ترکیب (۲) تحقق دعامل (۳) عدم مشابهت دمبني الاصل سره ،نوپه اسماء معدودوکښې قبل الترکیب اګر چې عدم مشابهت موجود دی لیکن ترکیب اوتحقیق دعامل په کښې نیشته ،نوپه دې وجه دامبني بالسکون شو.

تنبیه : پوهه شه چې داا ختلاف په معرب لغوی کښې نه دی بلکې په معرب اصطلا حي کښې دی مطلب داچې اسماء معدوده معرب لغةً دی عندالکل ،البته معرب اصطلاحي دی اوکه نه ،نو په دې کښې اختلاف دی چې ذکرشه ،اوبل غرض دشارح داعلم نه دفع داعتراض مقدرده ، چې کافیه ماخوذده دمفصل نه اوعلامه زمخشري په مفصل کښې په تعریف دمعرب کښې قید دمرکب نه دی ذکرکړی ،اوابن حاجب ذکرکړیدی نولازم شه مخالفت دفرع .داصل نه ،خلاصه دجواب داده چې دعلامه په نزدصلاحیت داعراب کافي دی دپاره دتحقق دمعرب ،نوترکیب ته حاجت نه وونوځکه یې ذکرنه که اوابن حاجب دصلاحیت سره ترکیب مع العامل هم معتبرکړیدی نو ځکه یې قید دمرکب ذکرکه ،نودامخالفت دیونکتې دوجهې نه دی ،**فلاحرج وَلَيۡسَ النِّزَاعُ الخ** دابیان دصورة دنزاع دی ، یعنې دانزاع په معرب لغوی کښې نه ده بلکې په معرب اصطلاحي کښې ده حاصل یې دادی چې په اسماء معدوده باندې اطلاق دمعرب لغوی اتفاقي دی ځکه چې معرب لغوی صیغه داسم مفعول ده په معنی داعراب داده شده سره ،یعنې اعراب ورکړی شوی اواعراب اسماء معدوده ته ورکولی شي بعدالترکیب ،اوبعدالترکیب اسماء معدوده معرب دی اتفاقابلکې دانزاع په معرب اصطلا حي کښې ده ،نوپه نزد دعلامه زمخشري دا اسماء معدوده قبل الترکیب معرب اصطلاحي دی اوپه نزد دمصنف ورته معرب اصطلاحاً نه شي ویلی.

نو شارح وایي **وَلَيْسَ النزاع فِي المعربِ الذي هو اسمُ مفعولٍ مِنْ قَولِكَ أَعْرَبْتُ** او نه ده دا نزاع په مابین د مصنف او علامه زمخشري کښی په اطلاق د معرب لغوی کښی په اسماء معدوده ، هغه معرب چې صیغه د اسم مفعول ده ددې قول ستانه چې اعربت **ای اعربتُ الكلمة إذا أَجْرَيْتَ الاعرابَ عليها**

یعنې اعربت وئیلې کیږي په هغه وخت کښی چې ته اعراب جاری کړی په کلمه باندې **فـأن ذالك** دا دلیل دلیس النزاع دی پس بی شکه دا معرب لغوی **لا يحصل الا بأجراء الاعراب على اخر الكلمة** نه حاصلیږي مګر په اجراء د اعراب په اخر د کلمې **بعد التركيب** وهذا معرب بالاتفاق ، بل فی المعرب اصطلاحًا بلکې نزاع په معرب اصطلاحي کښی ده **فـأعتبر العلامة مُجرد الصلاحيةِ لاستحقاقِ الاعراب بعد التركيب** په دې عبارت کښی بیان د منشاء د اختلاف دی او دفع د اعتراض د مخافت د مصنف ده د علامه زمخشري نه وقدمر تفصیله ، نو وایي چې پس معتبر کړی دی علامه په کون د کلمې کښی معرب اصطلاحي مجرد صلاحیت لره د پاره د استحقاق د اعراب پس د ترکیب نه **وهو الظاهر من كلامِ الامامِ عبد القاهر** او دا مجرد صلاحیت ظاهر دی د کلام د امام عبد القاهر جرجاني نه هم یعنې د علامه او د امام مذهب واحد دی **وَاعتبرُ المصنف مع الصلاحِيتِ حصول الاستحقاقِ بالفعل** او معتبر کړی دی مصنف په کون د کلمې کښی معرب اصطلاحاً د صلاحیت د استحقاق الاعراب سره سره حصول د استحقاق بالفعل یعنې فی الحال او استحقاق عبارت دی د استجماع د جمیعو اسبابو د اعراب نه چې درې دي یعنې ترکیب تحقق د عامل او عدم مشابهت **ولهذا** او دوجهې د اعتبار د مصنف نه استحقاق د اعراب بالفعل لره **أخذ التركيب في تعريفه** راوړی دی مصنف ترکیب لره په تعریف د معرب کښی او داده هغه نکته د مخالفت د کافیي د مفصل نه **واما وجودُ الاعراب بالفعل** غرض د شارح په دې عبارت کښی بیان د یو مسئلې اتفاقي دی یوه مسئله په ولیس النزاع کښی ذکر شوه نو وایي او هرچې وجود د اعراب بالفعل دی **فِي كون الاسم معرباً** په کون د اسم کښی معرب اصطلاحي **فلم يَعْتَبِرْهُ احد** پس نه دی معتبر کړی دی وجود د اعراب بالفعل لره هیڅ مطلب دا دی چې په معرب اصطلاحي لکه زید په جاء ني زید کښی وجود د اعراب نه دی ضروري بلکې

بغیر داعراب نه په وقف سره هم زید وئیل جائز دی **ولذالك** داتاتید د مذکور دی په محاوره عربي سره .معنی یې داده چې په دې وجه ، چې وجود داعراب په معرب اصطلاحي کښې ضروری نه دی.

یقال لَمْ تُعرِبِ الْكَلِمَةُ وَهِي مُعْرَبَة یعنې یوبنده بغیر داعراب نه. جاء زیدا ووائی نو هغه ته ویل کیګی چې په کلمه د زید دی ولی اعراب جاری نه که حالانکه داکلمه معرب ده نو ګوره چې زید باندې اطلاق د معرب اصطلاحي وشه ،سره ددې چې اعراب پرې بالفعل نه دی جاری شوی.

دمعرب دوه تعریفونه پوهه شه چې دمعرب دپاره دوه تعریفه دي یو مشهور عند الجمهور اوبل تعریف دمصنف پس د جمهورو په نزد تعریف دادی چې **ان المعرب ما اختلف آخره باختلاف العوامل** او تعریف د معرب عند المصنف هغه دی چې مخکښې بیانه شه یعنې **فالمعرب المركب الذي لم يشبه الخ** او تعریف مشهور د جمهورو یې حکم ګرزولی دې دپاره دمعرب کماسیاتي ،والیه اشار الشارح بقوله **وانما عَدَلَ المصنف عما هو المشهور** مقصد په دې عبارت کښې دفع د اعتراض مقدرده اووجه د ترجیح د تعریف د مصنف ده په تعریف مشهور باندې ،حاصل د اعتراض دادی چې مصنف عدول ولې وکه د تعریف مشهور عند الجمهور نه تعریف **مِنْ عِنْدِ نَفْسِهِ** ته حالانکه عدول مذکور ګویا مخالفت د اجماع نه دی او دا خطا دی.

فاجاب الشارح بقوله وانما الخ او خبره داده چې عدول وکه مصنف دهغه تعریف نه چې مشهور دی **عند الجمهور من اَنْ المعرب ما اختلف الخ** دا بیان د ما هو المشهور دی **لإن الغرض من تَدْوِيْن الخ** دا دلیل د عدول دی خلاصه د جواب داده چې مصنف عدول د تعریف مشهور نه ځکه وکه چې په تعریف د جمهورو کښې لازمیږي تقدم د شي په نفس خپل او دیته دور وایې او دور باطل دی او په تعریف د مصنف کښې دا نقصان نه لازمیږي **وهذا يقتضي بسطاً** نو پوهه شه چې د اجواب بنا دی په یوه مقدمه باندې .هغه داده چې غرض د جمع کولو د مسائلو او قواعدو د علم النحوی دادی چې په دې سره وپیژني احوال د اخر کلمې هغه ځوک چې چا د لغت عربي تلاش پخپله نه وي کړی او نه یې احکام اومسائل د لغة عربي پخپله اوریدلی وي د عربو نه مثلا د زید د اخر په جائني زید کښې چاته درک نه لګیده ، نو دده داخر حالت به په قاعدی د نحوي سره معلومو په طریقي د قیاس اقترانی سره په انضمام دصغری سهلة الحصول سره قاعدې کلیی ته نو مثلا قاعده کلیه ده کل فاعل مرفوع نو قیاس

به ددې نه په طريقې سره جوړ کړو چې يو جزيې به دجزئياتو دموضوع دقاعدې کليې به راواغستې شي .اوموضوع به وګرزولې شي اووصف عنوانې ددې موضوع به ورله محمول وګرزولې شي نودیته صغری سهلة الحصول وايې .نومثلا يو جزيې دجزئياتو دموضوع يعنې کل فاعل ، نه زيددی په جاء ني زيد کښې نو اوبه وئيلې شي چې زيد فاعل داصغری سهلة الحصول ده اوقاعده کليه يعنې کل فاعلٍ مرفوع به ورله کبری شي . نوقياس به داشي چې زيد فاعل وکل فاعل مرفوع نوپس دحذف دحداوسط نه به نتجيه داشي چې فزيدٌ مرفوع .نودزيد داخرحالت معلوم شه چې رفع ده پس ددينه پوهه شه معرفت دجزيې دجزئياتو د قاعدی کليې به څنګه کيږي نودابه کيږي په واسطې دتعريف دموضوع د قاعدې کليې سره لکه مثلاموضوع دکل فاعلٍ مرفوع ، فاعل دی .نونحاةُ تعريف دفاعل کړی دی چې الفاعل مااسنداليه الفعل اوشبهه الخ نواوس داتعريف چې په چاصادق وي نوهغه ته فاعل وئيلې شي لکه زيد په جاء ني زيد کښې نوداسې به اُووئيلې شي چې زيدفی جاء ني زيد فاعل لانه مااسنداليه الفعل الخ نوخلاصه دکلام داشوه چې مقصود دتعريف دفاعل نه مثلا اثبات دحکم دفاعل دی جزئياتو دفاعل ته په واسطې دتعريف دفاعل سره نوبعبارةٍ اخری داسې به اُووئيلې شي چې زيدمرفوع مدعي لانه فاعل ای ممااسنداليه الفعل (صغری)، وکل فاعل ای ممااسنداليه الفعل (کبری) فزيدمرفوع نتيجه .

امدمربرسرمطلب : هرکله چې مونږ فارغ شودمقدمي نه نووايوچې مقصددتعريف دمعرب نه هم اثبات دحکم دمعرب دی دپاره دجزئياتو دمعرب په طريقې دصغری سهلة الحصول سره ،اوحکم دمعرب دادی چې يختلف اخره باختلاف العوامل فکل معربٍ يختلف اخره الخ داقاعده کليه ده،اوجزيې دجزئياتو دکل دمعرب به ورله محمول شي نودابه صغری سهلة الحصول شي ای زيدمعرب ،اوقاعده کليه به ورله کبری شي ای کل معربٍ يختلف اخره باختلاف العوامل نونتيجه به داشي چې زيدممايختلف اخرالخ ، نواوس دزيد معرفت به کيږي په واسطې دتعريف دمعرب سره نوکه چری تعريف دمعرب مااختلف اخره الخ شي کماقال الجمهورنوپه قياس کښې به مونږ په ځاي د معرب. .تعريف دمعرب وضعه کړو او اوبه وايوچې زيدمعرب ای ممايختلف اخره باختلاف العوامل (صغری) ، وکل معرب ای ممايختلف اخره باختلاف العوامل فهوممايختلف اخره باختلاف العوامل (کبری)، نوحداوسط په دې کښې تعريف دمعرب دی يعنې مااختلف اخره

،نو پس دحذف دحد واسط نه به نتیجه داشي چې **فزید مما یختلف اخره باختلاف العوامل** او دا نتیجه عین صغری ده ، او صغری مقدمه وي په نتیجه نو لازم شه تقدم د شي په نفس خپل ،دا په تقدیر د تعریف دجمهورو ، او بنا په تعریف دمصنف دا نقصان نه لازمیږي ،ځکه چې مونږ په ځای دمعرب تعریف دمعرب وضعه کړو او وایو چې **زید معرب ای المرکب الذی لم یشبه الخ**(صغری) **وکل معرب ای المرکب الذای الخ،مما یختلف اخره باختلاف العوامل** (کبری) ، پس دحذف دحد واسط نه به نتیجه داشي چې **زید مما یختلف اخره الخ** او صغری یې المرکب الخ ده نو صغری عین نتیجه نه ده و نو تقدم دشي په نفس خپل لازم نه شه ،نو په دې وجه تعریف دمصنف غوره اوراجح شه نو دا قول دشارح چې لان الغرض دی په دې کښی اشاره ده دغې مقدمې ته نو وایې چې غرض دجمع کولو دمسائلو دعلم نحوی داد ی **اَنَّ یعرفَ اَحوالَ اَواخرِ الکلمة فی التركیب** چې وپیژنی په دې علم نحوی سره احوال داخر دکلمې **مَنْ لَم یَتَتَبَّعْ لغة العرب ولَم یعرفْ احکامها بالسماع مَنْ** فاعل دی دپاره دیعرف ،یعنې وپیژنې دغه احوال هغه څوک چې نه یې تتبع او تلاش کړی وي دلغة عربي او نه یې احکام دلغة عربي معلوم کړی وي په سماع سره دعربو نه **فَانّ العارفَ الخ** دا دلیل ددې خبرې دی چې دامعرفت یې ولې منسوب که من لم یتتبع ته نو وایې **فَانّ العارف باحكامها كذالك مَستغنٍ عن النحو فیما لافائدة له معتدا بها فی معرفةِ اصطلاحاتهم** هغه بنده چې پوهه دی په احکامو دلغة عربي په تتبع او سماع سره ، دهغه مستغني دی دعلم نحوی نه په هغه امورو کښی چې په هغې کښی ده ته مُعتدبه فائده نیشته په معرفت داصطلاحاتو دنحویانو کښی یعنې په معرفت داصطلاحاتو دنحاة کښی ده ته فائده اصلیه نشته ځکه چې فائده اصلیه ده ته په تتبع او سماع سره معلومه شویده .

فالمقصود الخ دا تفریع ده په ماسبق او اشاره ده دیته چې نقصان په نفس تعریف دجمهورو کښی نشته بلکې نقصان په مقصود من التعریف کښی دی نو وایې چې **فالمقصودَ من معرفةِ المعرب مثلاً** پس مقصود دمعرفت دمعرب نه **مثلاأن یعرفَ انه مما یختلف اخرُه فی کلامهم** ضمیر دیعرف راجع دی **مَنْ لَمْ یَتتبع** ته یعنې چې وپیژني دغه **من لم یتتبع** چې بیشکه دامعرب چې دی، دادهغه قبیلي نه دی چې مختلف کیږي اخیر دهغه په کلام دعربو کښی **لِيَجْعَل اَخرَهُ مختلفاً** اللام

للغاية يعني دپاره ددې چې وګرزئ دی ،اخیر دمعرب لره مختلف **فيطابق كلامهم الفاء للنتيجة** پس مطابقت به وکړی دکلام دعربو سره و **فمعرفته متقدمة على معرفة أنه مما يختلف اخره** پس هر کله چې مقصد دتعريف دمعرب نه معرفت دحکم دمعرب دی نوظا هره ده چې معرفت دمعرب خومقدم وي په معرفت دحکم دمعرب باندې . يعني په معرفت دانه ممايختلف الخ **فلو كانت معرفته المتقدمة حاصلة بمعرفة هذا الاختلاف** پس که چرې معرفت متقدمه دمعرب حاصل شي په معرفت ددې اختلاف سره **وتعريفه به** او که تعریف دمعرب حاصل شي په دې اختلاف مذکور **وجب أن يُعَرَّف أوّلاً** نو واجبه به شي داچې تعريف وکړی شي دمعرب اول په بانه ، ممايختلف اخره ، . يعني په دې تعريف سره **ليُعرف أنه مما يختلف آخره** يعني دپاره ددې چې داحکم مذکوريې وپيژندی شي کمافعله **الجمهور فيلزم تقدم الشي على نفسه** نولازم به شي تقدم دشي په نفس خپل وهذا فاسد اودا فساد لازميږي په تعريف دجمهور و كنبي **ينبغي ان يُعرف أولا لغير ماعرفه به الجمهور** په دې کنبې اشاره ده ترجيح دمذهب دمصنف ته او ينبغي په مى ديجب سره دی پس هرکله چې په تعريف مذکور کنبې دانقصان لازميده نوواجبه شوه چې اول دتعريف دمعرب وکړی شي په غير دهغه تعريف چې جمهور وپرې کړی دی **ويُجعل ماعرفوه به من جملة احكامه** او واجبه شوه چې وګرزولی شي تعريف دجمهورو داحکامو دمعرب نه **كمافعله المصنف** لکه چې داکار مصنف کړی دی ، اوداځکه واجبه ده چې په دې تعريف کنبې فسادنه لازميږي فافهم .

هرکله چې فارغ شه مصنف رحمه الله دتعريف دمعرب نه نوشروع يې وکړه په حکم دمعرب کنبې **فقال وحكمه وقال الشارح اى من جملة احكام المعرب** غرض دشارح ددې عبارت نه تعين دمرجع دی ،اودفع داعتراض مقدرده ،حاصل يې دادی چې حکم دمعرب يعني **يختلف اخره** منقوض دی په هغه اسماء معدوده چې مرکب شي دعامل سره ابتداءً لکه جائني زيد ،نوزيد معرب دی اوحکم مذکورپرې مرتب نه دی ځکه چې دلته اختلاف داعراب ندی راغلی اونه اختلاف دعامل راغلی دی بلکې داحدوث داعراب دی ،خلاصه دجواب داده چې په عبارت کنبې مِن تبعيضه مقدردی يعنې دمعرب احکام کثيردی نودا مذکوريعنې اختلاف الاعراب بعض دهغې احکامونه دی اوحدوث الاعراب حکم آخردی ، نواضافت دحکم ضمير دمعرب ته اضافت استغراقي نه دی بلکې جنسي دی پوهه شه چې هر کله من تبعيضه

په صيغه د جمع داخليږي نوځکه شارح د حکم نه تعبير په صيغې د جمع سره وکه او په المعرب کښې اشاره ده تعين د مرجع ته وَآثَارِهٖ د اعطف تفسيردی د پاره د احکام المعرب . اوغرض په دې کښې تعين د ماهوالمراد دی د حکم نه . او داځکه چې د حکم د پاره معانيْ کثيره دي کله په معنی د اثرمرتبه سره وي کله په معنی د خطاب الله تعالى **المتعلق بأفعال المكلفين** او کله په معنی د نسبةُ احدى الكلمتين الى الاخرى سره وي او يولفظ چې محتمل د معاني کثيره وي نو تعيين د ماهوالمرادلازم وي فعينه الشارح بقوله واثاره يعني حکم په معنی د اثرسره دی .

اَلْمُتَرَبَّةعليه

غرض د شارح د دې نه دفع د اعتراض ده حاصل يې دادی چې هرکله حکم په معنی د اثرسره شه نو اضافت يې ضميرد معرب ته صحيح نه شه ځکه چې د دې معنی داشوه چې اثرد معرب حالانکه اثرد معرب نه وي بلکې د مؤثريعني د عامل وي خلاصه د جواب يې داده چې اضافت دحکم بمعنی اثر) معرب ته د ادني مناسبت دوجې نه دی يعني په دې وجه چې دا اثرمرتب دی په معرب باندې اومعرب يې محل دی **مِنْ حَيْثُ هُوَمُعْرَبٌ** غرض د شارح د دې عبارت نه دفع د اعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې داحکم منقوض دی په زيد په جاء ني زيد کښې ،ځکه چې زيدمعرب دی اوحکم يې اختلاف الاخرنه دی بلکې رفع ده بنابرفاعليت ، خلاصه د جواب يې داده چې په دې حکم کښې حيث مقدردی يعني اختلاف الاخرحکم د معرب دی خوپه دې حيثيت چې دې معرب وي لامن حيث اَنَهُ فاعل ومفعول وغيره ځکه چې په دې حيثيت يادی مرفوع وي فقط يامنصوب وغيره وي ، اى الحرفُ الذى . الخ غرض د شارح تقديرد موصوف دی ځکه چې اخرصفت دی تقاضا د موصوف کوي اوبل غرض يې دفع د اعتراض مقدرده چې داحکم د معرب منقوض دی په نون تثنيه اونون جمع لکه رجلان اومسلمو ن مثلاً ځکه چې آخرد دې نون دی اودانه مختلف کيږي په اختلاف د عوامل سره کماهوالظاهرخلاصه د جواب يې دادی چې مراد خمونږه حرف آخرد معرب دی اوحرف آخرد تثنيې الف اود جمع واودی اوداېدليږي اوهرچې نون دی نودا مستقله کلمه ده ذاتاً.

غرض د شارح تعميم دا ختلاف دی يعني اختلاف داخرد معرب عام دی که ذاتي وي اوکه صفتي وي .اوبل غرض يې دفع د اعتراض ده حاصل يې دادی چې حکم د معرب منقوض دی په جاءني زيْدٌرايت زيداًمررت بزيدٍ ځکه چې حرف آخردال دی اودی په تمامواحوالو کښې يوشان دی نه دې مختلف شوی فاجاب الشارح بقوله ذاتاًيعني اختلاف عام دی که ذاتي وي

او که صفتي .ذاتي په هغه ځای کښې چې اعراب د معرب بالحروف وي او اختلاف صفتي په هغه ځای کښې چې اعراب بالحركة وي . نو اختلاف د زيد صفتي دی **بِأَنْ يَتبَدَّلَ حرفٌ بحرفٍ آخرَ**

دا بيان د اختلاف ذاتي دی یعنې په دې شان سره چې بدل شي يو حرف په بل حرف **حقيقةً اوحكماً اذاكان اعرابه بالحرف** دا تعميم دی په اختلاف ذاتي کښې او دفع د اعتراض مقدرده ،حاصل يې دادی چې دا حکم منقوض دی په رايت مسلمين او مررت مسلمين باندې ځکه چې د دې اعراب بالحرف دی او تبدل د حرف په کښې نه دی راغلی **فاجاب الشارح بقوله حقيقة الخ** يعنې اختلاف ذاتي عام دی که حقيقة وي لکه جاءنی ابوک رايت اباک مررت بابيک او که حکما وي لکه رايت مسلمين مررت مسلمين پوهه شه چې اختلاف حقيقي دی ته وايي چې هر حالت يې د بل نه مخالف وي او اختلاف حکمي دیته وايي چې يو حالت يې د بل په شان وي **اوصفةً بِأَنْ يتَبدلَ صفةٌ بصفَةٍ أُخرىٰ** دا بيان د اختلاف صفتي دی **حقيقةً اوحكماً** غرض د شارح د دې تعميم نه دفع د اعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې دا حکم منقوض دی په رايت احمد مررت باحمد باندې ځکه چې اعراب د دې بالحركة دی او حرکت يې مختلف نه دی .خلاصه د جواب يې داده چې اختلاف صفتي هم عام دی که حقيقة وي لکه جاءنی زيد الخ او که حکما وي لکه رايت احمد الخ.

سوال : اطلاق د صفت په حرکت صحيح نه دی ځکه چې صفة قائم وي په موصوف پورې او حرکة قائم نه وي په حرف پورې بلکې قائم وي په هغه چاپورې چې په چاپورې حرف قائم وي او حرف قائم وي په متکلم پورې؟

جواب : مراد د صفة حقيقي نه دی بلکې مراد ترې تابع فی التلفظ دی او ظاهره ده چې تلفظ د حرکة تابع دی د تلفظ د حرف. نو په دې اعتبار سره اطلاق د صفة په حرکت باندې صحيح دی،

بإختلاف العوامل اي بسبب اختلاف العوامل په دې کښې اشاره ده تعين د باته چې با سببيه ده او زائده وغيره نه ده پوهه شه چې عامل سبب دی د اختلاف د اخر د معرب خو دا سبب بعيده دی .ځکه چې سبب قريبه اعراب دی وسياتي **الداخلةِ عليه** دا سې عوامل چې داخل وي په معرب باندې .غرض د شارح د دې عبارت نه دفع د اعتراض مقدر ده حاصل يې دادی چې اختلاف په سبب د عوامل سره خو په اخر د مبنيات کښې هم موجود يګی لکه من استفهامي . په جواب

دهغه چاکښي چې تپوس وکړی چې اَجَاءَ زیدٌ ،نومُجیب په جواب کښي اووایې چې مَنْ زیدپه ضمي دنون دمن سره دوجې داِتباع دضمي دزيدنه یاتپوس وکړي چې اَرایت زیداً اومجیب اووايې چې مَنَ زیداً په فتحې دنون سره وجې داتباع دفتحي ددال دزيدنه ،یاسائل تپوس وکړی چې اَمررتُ بزید اومُجیب اووايې چې مَنِ زيد په کسری دنون سره دوجې داتباع ددال دزيد په وجه دی فافهم **فی العمل** داجارمجرورمتعلق دی په اختلاف پورې اوددې قیدفائده به شارح عنقریب بیانه کړی **بأن یعمل بعض منها خلاف مَایَعمل البعض الاخر** بابیانیه ده دابیان داختلاف فی العمل دی ، یعنې په دې شان سره چې عمل وکړي بعض ددغې عواملونه خلاف دهغه عمل نه چې کړی وي هغې لره بعضُ نوروو **وانماخصصُنَا اختلافهاالخ** دابیان دفائدی دتقيدخیل دی اختلاف لره په فی العمل اودفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې حکم مذکورمنقوض دی په **ان زیداًمضروب وانی ضربت زیداًوانی ضارب زیداًځکه** چې عوامل په دې کښي مختلف دي په اعتباردحرفیت ، فعلیت اواسمیت سره اوسره ددې اخردزیدنه دی مختلف شوی ، خلاصه دجواب یې دادی چې مراد داختلاف دعواملونه اختلاف فی العمل دی نه اختلاف دذات دعواملو ،نووایې چې خبره داده چې مونږه خاص کړ اختلاف دعواملو **بکَوْنِهِ فِی العمل** په کون ددې اختلاف سره په عمل کښي **لِئَلاًّ ینتقض بمثل قولنااِنَّ زیداًمضروب الخ** دپاره ددې چې منقوض نه شي داحکم په مثل ددې قول څمونږ چې ان زید امضروب الخ **فان العامل فی زیداًفی هذه الصورة مختلف الخ** ځکه چې عامل په زیداً کښي په دې صورتونوکښي مختلف دی په اسمیت فعلیت اوحرفیت کښي ،سره ددې چې اخردمعرب یې نه دی مختلف شوی په اختلاف دعوامل سره ،پوهه شه چې شارح لف نشرغیرمرتب اختیارکړیدی دپاره دتقدیم داشرف چې اسمیت دی ، خوکه په مثال کښي یې هم دارعایت کړی وي نوډیره ظاهره به وه **لفظاًاوتقدیراًوقال الشارح نصب علی التمیز** غرض دشارح تحقیق نحوي دی په تعین دوجې دنصب دلفظاً اوتقدیراً سره نوددې دپاره یې دوه وجې ذکرکړی دي یوداچې منصوب دی بنابرتمیزدیختلف اخرنه **ای یختلف لفظُ اخرِہٖ** غرض دشارح ددی عبارت نه دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې لفظاً اوتقدیرمنصوب شوبنابرتمیزدجملي نه چې یختلف اخر ہ دی اوتمیزدجملي نه په حقیقت کښي تمیزوي دنسبت دجملي نه نو داتمیز دنسبت الی الفا عل نه دی که دنسبت الی المفعول نه (تمیزدنسبت الی الفاعل نه فاعل وي اودنسبت الی المفعول نه مفعول وي)

فاجاب الشارح بقوله ای یختلف لفظ آخره ،خلاصه دجواب داده چې داتميزدی دنسبت الی الفاعل نه اوتميزدنسبت الی الفاعل نه فاعل وي ، نوتقديردعبارت داشه چې **يختلف لفظ آخره الموجود بالفعل اوتقديرهٗ ای يختلف آخره بحسب التقدير** يعني مختلف کيږي به اخرپه اعتبار دتقديرسره که چری په اخرکښې يې اعراب لفظی نه شي راتلی **اوعلی المصدرية** داوجه ثاني دنصب ده ، يعني دامنصوب دی بنا برمفعول مطلق ای **يختلف اختلاف لفظ** غرض دشارح دفع داعتراض مقدرده چې لفظا اوتقديرا مفعول مطلق نه شي کيدی دپاره ديختلف ځکه چې مفعول مطلق ديته وايې چې فعل مذکورمشتمل وي په ده باندې دقبيلي داشتمال دکل نه په جزباندې اوظاهره ده چې يختلف په لفظ اوتقديرنه دی مشتمل بلکې په اختلاف مشتمل دی خلاصه دجواب يې داده چې دامفعول مطلق دی په اعتباردمضاف مقدرسره ای اختلاف لفظ بيامضاف حذف شه اومضاف اليه دهغې په ځای قائم مقام شه ،اومنصوب وګرزولی شه ، بنابرمفعول مطلق ، ځکه چې قائم مقام دشي په حکم دهغه شي کښې وي ، **وَالاختلاف لفظاً الخ** ، داتوضيح دمتن ده په مثالونو سره دپاره داختلاف لفظي اوتقديري ،نووايې چې اختلاف لفظي لکه په دې قول ستاکښې **جاءنی زيد رأيت زيداً مررت بزيدٍ اوتقديراً** اواختلاف تقديری لکه په دې قول ستاکښې **جاءنی فتی رايت فتی ومررت بفتیً فان اصلهٗ فتی** داتطبيق دمثال دی مع الممثل ، يعني اعراب دفتیً تقديری دی ځکه چې داپه اصل کښې **فَتَیٌ** وو ، په حالت رفعي کښې **وفَتَياً** په حالت نصبي کښې **وَفَتَیٍ** په حالت جری کښې ، **انقلبتِ الياءُ الفًا** ، ياپه الف بدله شوه ځکه چې متحرکه وه اوماقبل ترينه مفتوح وو ،بياالف حذف شه دوجې اجتماع دساکنينونه په مابين دالف اوتنوين کښې ، پس اعراب يې تقديری وګرزيده ، .پوهه شه چې اعراب تقديري کله په تقديردحرف اواعراب دواړوسره وي فقط لکه فتیً (منکر) الف اواعراب دواړه مقدردی ، اوکله په تقديرداعراب سره وي ،فقط ،لکه اَلفتی معرف باللام . چې دلته حرف اخيريعني الف خوملحوظ دی ليکن اعراب يې تقديری دی ،**وَالاختلافُ اللفظي وَالتقديری اعم من ان يکون حقيقة الخ.**

سوال : داتعميم خوشارح مخکښې بيان کړيدی ،نوبيايې ذکرکول استدراک دی ؟

جواب : ذکرددې تعميم سابقاً دپاره ددفع داعتراض مقدروو ، اودلته يې بياذکرکول تصريح ده په اعتراض باندې ، نوداتصريح بماعلم ضمناده ، فلااستدراک .،نوشارح وايې چې

اختلاف لفظي اوتقديري عام دی که حقيقي وي اوکه حکمي .لکه چې مونږه ورته اشاره کړيده ،دپاره ددې چې منقوض نه شي حکم دمعرب په مثل ددې قول ځمونږچې رايت احمدً اومررت باحمدَ دی اوپه دې قول ځمونږچې رايت مسلمين ومررت بمسلمين **مثنىً اومجموعاً** په حال کون دمسلمين کښې چې داصيغه دتثني ده يادجمع على سبيل البدليت داتعميم دی په صورت اوشکل دمسلمين کښې د پاره ددفع دتوهم دتخصيص په تثنيه ياجمع پورې پس بې شکه مختلف شويدی عوامل په دې مذکورو مثالونوکښې او اختلاف نشته په اخرداحمد کښې حقيقةً بلکې اختلاف په کښې حکمادی ځکه چې فتحه په اخرداحمد کښې پس دعامل ناصب نه علامه دنصب ده اوپس دعامل جاره نه علامه دجرده . اضافت دعلامې نصب ته اضافت بياني دی يعنې داعلامه بعينه نصب دی چې دال ده په مفعوليت په احمدباندې .اودغه شان حال په تثنيه اوجمع کښې دی **فَأٰخرالمعرَب الخ** داتفريع ده په ماسبق . يعنې پس اخردمعرب په دې صورتونوکښې مختلف شويدې په سبب داختلاف دعواملوسره خوحکماً نه حقيقة .

سوال عوامل جمع ده اواقل افراددجمع درې دي .اوپه دې مثالونوکښې صرف دوه عامله راغلي دي ؟

جواب :دجمع نه مرادجمع لغوي ده يعنې مافوق الواحدنوداتثني ته هم شامله ده سوال دااطلاق په جمع قلة کښې کيږي نه په جمع کثرة کښې او عوامل جمع کثرة ده جواب دلته جمع کثرة استعمال شويده په موضع دجمع قلة کښې مجازاً .

فان قلت الخ پوهه شه چې محل ددې اعتراض حکم دمعرب دی .اومنشايې داده چې سائل دافهم کړيدی چې ګنې حکم مذکوردمعرب دخواص شاملو دمعرب نه دی حالانکه داحکم هغه اسماء معدوده ته نه دی شامل چې مرکب وي دعامل سره ابتداءً نوواېي چې که چرې ته اوواېې په اعتراض کښې **لايتحقق الاختلاف لافي أخرالمعرب ولافي العوامل** چې نه متحقق کيږي اختلاف نه په اخردمعرب کښې اونه په عوامل کښې **إذاركب بعض الاسماء المعدودة الغيرالمشابهة لمبني الاصل مع عامله** په هغه وخت کښې چې مرکب شي بعض هغه اسماء معدوده چې مشابه نه وي د مبني الاصل سره ، اومرکب شي ، دعامل خپل سره **ابتداءً** يعنې په اول الامر کښې يعنې چې مخکښې ددې نه پرې تلفظ نه وی شوی **اذلايترتب عليه اختلاف الاعراب** دادليل دی دپاره دلايتحقق الخ .يعنې دی نه اختلاف الاعراب نه شي ويلی **بل هناك**

حدوثُ الاعرابِ بدخول العامل دا تکمیل دا عتراض دی . یعني دغلته حدوث داعراب دی اختلاف الاعراب نه دی **قلت هذا حکمٌ اخرمن من احکام المعرب** وائم په جواب کښې چې دا یعني حدوث الاعراب بل حکم دی داحکام دمعرب نه .او ختلاف بل حکم دی **فلولم یدخل احد الحکمین فی الاخرلافساد فیه الخ** پس که چرې یو حکم په بل کښې داخل نه شي نو هیڅ فساد اونقصان نشته ځکه چې دمعرب دپاره ډیر احکام داسې دی چې دلته نه دی ذکرشوی **فلیکن هذا الحکم ایضامن القبیل الخ.**

پس بنائیرې چې داحکم (حدوث الاعراب) دهم ددې قبیلې نه وي غایة مافی الباب چې داحکم یعني اختلاف الاعراب نه دی دخواص شامله دمعرب نه نولازم نه ده چې دا حکم دی په هرمعرب کښې موجود شي.

هرکله چې فارغ شه مصنف دتعریف دمعرب اودحکم دده . نه نوشروع یې وکړه په تعریف داعراب کښې فقال **اَلإعرابُ** سوال اعراب اثردعامل دی اوعامل یې مؤثردی ،اومؤثرمقدم وي ،نوپکارده چې تعریف دعامل یې مقدم کړی وی نو اعراب یې ولې مقدم که ، جواب اعراب ماخوذ دی په تعریف دعامل کښې ، ځکه چې عامل ،مابه یتقوم المعنی المقتضي للاعراب ته وایې نومعرفت دعامل موقوف شه په معرفت داعراب ،ځکه چې دا جزء دتعریف دی نوځکه یې اعراب مقدم کۀ په عامل.

وجه دترتیب : پوهه شه چې مصنف معرب مقدم که په اعراب اوعامل ،ددوه وجهونه یوداچې مقصدبیان دحال دمعرباتو دی اوبل داچې اعراب صفت دمعرب دی اوصفت روستووي اوموصوف مقدم وي اواعراب یې مقدم که په عامل هم ددوه وجهونه یوداچې اعراب سبب قریب دا ختلاف د معرب دی اوعامل سبب بعید دی یاداچې معرفت دعامل بنادی په معرفت داعراب کماذکر **ای حَرکَةٌ اَوْحَرْفٌ** غرض دشارح ددې عبارت نه تعین دماهو المراددی دمانه چې ماموصوفه ده اودفع داعتراض مقدرده چې کلمه دمابه خالي نه وي یابه موصوله وي په معنی دالاعراب یابه موصوفه وي په معنی دشي سره که اول وي نولازمیږي اخذ دمحدود په حدکښې .اوکه ثاني وي نوتعریف داعراب به مانع نه شي داخل به شي په کښې عامل اومعنی مقتضي للاعراب . ځکه چې داهم اشیاء دی اوآخر د معرب پرې مختلف کیږي فاجاب الشارح بقوله حرکة اوحرف یعني ماموصوفه ده په معنی دشئ سره لیکن مراد دشئ نه حرکة اوحرف دی

شهرة استعمال داعراب دی په حرکة اوحرف کېنی.

سوال: ماالقرینة علیه؟

جواب: قرینه په دې چې مراددشئ نه حرکت اوحرف دی شهرة استعمال داعراب دی په حرکة اوحرف کېنی تعریف داعراب مانع نه شه ددخول دغیرنه داخل شه په کېنی حرف جارځکه چې داهم حرف دی اواخردمعرب پرې مختلف کیږي ددینه دوه جوابونه دي اول جواب دادی چې مراددحرف اعرابی نه مطلق حرف نه دی حتی که حرف جارته شامل شي بلکې مراد ترې حرف علة دی چې ساکن وي یعنې واو، الف یادوئم جواب دادی چې چې مراددحرف نه، حروفِ مباني دی نه حروف معاني اوحرف جاردحروف معانیونه دی **اي آخرالمعرب** داتعین دمرجع دی **من حيث هومعرب وسيأتي فائدة هذاالقيد فانتظر ذاتًا اوصفةً** دا منصوب دی بنابرتمیزدنسبت نه په یختلف آخره کېنی ای **یختلف آخرالمعرب من حیث الذات** په اعراب بالحرف کېنی، اومن حیث الصفة په اعراب بالحرکة کېنی.

اعراب ذاتي اوصفتي. کلمه داوپه مابین دحرکت اوحرف کېنی دپاره دتنویع ده نه دپاره دتشکیک، نومعلومه شوه چې اعراب په دوه قسمه دی یواعراب بالحرکة چې دیته اعراب صفتي وایي اوبل اعراب بالحرف چې دیته اعراب ذاتي وایي **ای بتلكَ الحركةِ اَوالحرفِ** غرض دشارح تعین دمرجع دی اود فع داعتراض ده چې ضمیرراجع دی حرکت اوحرف ته نومطابقت رانه غی په مابین دراجع اومرجع کېنی فی الافرادوالتثنیة، خلاصه دجواب یې داده چې ضمیرراجع دی دواړوته په تاویل دکلمې داوسره یعنې اوراخي دپاره داحدالامرین **سوال**: بیاهم دراجع اومرجع په مابین کېنی مطابقت نشته ځکه چې ضمیرمذکردی اومرجع یې مؤنث دی چې حرکة دی.

جواب: ضمیرپه اصل کېنی راجع دی لفظ دماته اولفظ مامذکردی، البته شارح ترې تعبیربالمعنی سره کړیدی چې حرکة اوحرف دی پس ددینه پوهه شه چې په لفظ ماکېنی دوه احتماله دي یوداچې په معنی دحرف اوحرکت سره ده اوبل داچې په معنی دشئ سره ده،

فاشارالشارح الی الاول بقوله وَحِینَ یرادُ بماالموصولةِ الحرکةُ اوالحرفُ غرض دشارح ددې عبارت نه بیان دمحسناتو اواسرارو د متن دی، اوبیان دباعث دی دپاره دارادی دحرکة اوحرف دلفظ مانه، اودفع دهغه سوال ده چې کوم ذکرشه، انفاً، نووایې چې هرکله اراده کړی شي دماموصوله نه حرکت اوحرف **من قبیل ذکرالعامواردة الخاص.. لایَردُالعاملُ والمعنی**

المقتضي نونه واردیږي اعتراض په عامل او معنی مقتضي للاعراب باندې.
سوال: دماسبق نه دامعلومه شوه چې ماموصوفه ده، اوشارح پرې دلته اطلاق دموصوله وکه نوتعارض لازم شه؟
جواب: په لفظ ماکښې احتمالین دي موصوفه هم کیدی شي. اوموصوله هم، نواحتمال اول یې بیان که سابقاً او احتمال ثاني ته یې دلته اشاره وکړه نوتعبیرپه الحرکة اوالحرف (معرف باللام) سره بنادی په احتمال ثاني دوهم جواب دادی چې مراددموصول نه موصول لغوي دی یعنې وصل کرده شده اوددې اطلاق په ماموصوفه هم کیدی شي فلاتناقض **ولَوْأُبْقِيَتْ عَلَىٰ عُمُومِهَا** داتوجیه ثاني ده په لفظ ماکښې نووایې چې که چرې باقې پریخودی شي کلمه دماپه عموم خپل، یعنې مراددمانه شئ شی حتی چې عامل اومقتضي ته هم شامل شي نوبیاهم حرج نشته ځکه چې **خَرَجَا بِالسَّببيةِ المفهومةِ من قولِهِ بِهِ** خارجیږي عامل او معنی مقتضي دتعریف داعراب نه په هغه سببیت سره چې معلوم دی ددې قول دمصنف نه چې به دی **فَإنّ المتبادرَمِن السببِ هوالسببُ القريبُ** دادلیل دخرجادی یعنې ځکه چې باسببیه ده، اومتبادرد سبب نه سبب قریب دی، یعنې اعراب سبب قریبه داختلاف دمعرب دی، **والعاملُ والمعنَى المقتضي من الاسبابِ البعيدةِ** او عامل اومعنی مقتضي اسباب بعیده دي.
سبب قریب اواسباب بعیده: پوهه شه چې اعراب سبب قریب داختلاف دی ځکه چې داسبب بلاواسطه دی اوعامل سبب بعید دی په درې واسطوسره یواسناددی دوئم معنی مقتضي ده یعنې دعامل په وجه معنی مقتضي پیداشي په معرب کښې، درئمه واسطه اعراب دی اومعنی مقتضي سبب بعید دی په یوی واسطې سره چې اعراب دی **وبِقَيْدِالحيثيةِ الخ**، غرض دشارح بیان دفائدی دتقیدمتن دی په حیثیة سره نووایې چې معرب یې مقید که په من حیث انه معرب سره دپاره ددی چې خارج شي دتعریف داعراب نه حرکت دمثل دغلامي ،اومراددمثل دغلامي نه هغه اسم دی چې غیرجمع مذکرسالم وي اومضاف وي یاءمتکلم ته لکه غلامي ،کِتَابِيْ وغیره ،نوحرکت ددې اعرابې نه دی نواعتراض وارد شه چې داخراج دحرکة دغلامي دپاره قید دحیثیة ته حاجت نه وو ځکه چې حرکة دغلامي خارج شویدی ،په لفظ دمعرب ځکه چې غلامي خارج شویدی په لفظ دمعرب ځکه چې غلامي مبني دی نوشارح جواب وکړ **بقولهِ لانهُ معربٌ على اِختيارِ المصنف** یعنې مثل دغلامي معرب دی په

اختیار د مصنف کښی
اختلاف په مثل دغلامي کښی پوهه شه چې په مثل دغلامي کښی دوه مذهبه دي .بعض وايي چې دامبني دی .دلیل يې دادی چې په مابین دمضاف اومضاف الیه کښی شدة اتصال وي . نو دوجې دشدة اتصال نه میم دغلامي مثلاً واقع شه په وسط کښی اوپه وسط کښی اعراب ناممکن دی .نوپه دې وجه دی مبني شه اومذهب دمصنف دادی چې غلامي معرب دی .ځکه چې مضاف دی او اضافت خاصه معظمه دمعرب ده .نوبناپه مذهب دبعض ددې اخراج ته حاجت نشته لیکن دمصنف په اختیار ددې خارجول پکار وونوځکه شارح معرب مقید که په قید دحیثیت سره لکه چې وايي لکن اختلاف هذه الحركة على آخر المعرب ليس من حيث انه معرب لیکن اختلاف ددې حرکة په اخر دمعرب یعنې غلامي وغیره کښی په دې حیثیت نه دی چې دامعرب دی بل من حيث انه ماقبل ياء المتكلم بلکې دا حرکت دکسری په آخر دغلامي کښی په دې حیثیت دی چې ماقبل یاء المتکلم دی اودا ځکه چې داکسره ددخول دعامل نه قبل هم موجوده وه نومعلومه شوه چې دادعامل په وجه نه ده .
تحویلات ثلثه په مثل دغلامي کښی: پوهه شه چې په دې کښی درې تحویله دی په دې طریقي سره چې غلام قبل الاضافة الى المتكلم مبنى على السكون دی كما هو حكم سائر الاسماء المعدودة اوبیاهرکله چې اضافت یې وشۀ یاء متکلم ته نوتحویل یې وشه دبناعلی السکون نه بنا علی الکسری ته للمناسبة نوجوړشۀ ترې غلامي بیاهرکله چې په دې عامل داخل شۀ یعنې جاء نې غلامي نوبل تحویل یې وشۀ دبناء علی الکسری نه اعراب تقدیری ته . نوبناپه تحویل اول یې حاجت نیشته اخراج ته په قید دحیثیت سره ځکه چې مبني دی نواحتیاج الی الحیثیة بناء دی په تحویل ثاني وبهذا القدر تم حد الاعراب غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدرده اورددی په شارح هندي اوبیا ن دحال دمتن آتی یعنې لیدل الخ دی ، چې داظرف لغوه دی متعلق دی په اختلف مذکورپورې اومقصدپه کښی بیان دفائدی دوضعي داعراب دی،
تفصیل یې دادی چې اعتراض واردیږي په مصنف چې داقول ستاچې **ليدل على المعاني الخ** دی به خالي نه وي یابه داخل وي په تعریف داعراب کښی اومتعلق به وي په اختلف پورې یابه خارج وي دتعریف نه که داخل وي په تعریف کښی نوخامخابه دی یوقیددوي دقیودداتودتعریف نه اواصل په قیودداتوکښی احترازوي دغیرنه دپاره دجامعیت مانعیت اوجامعیت مانعیت تمام شوی دی بغیرددې نه اوکه خارج وي دتعریف نه نوذکرکول یې

بیالغوه اوبی فائدی وګرزیدل نوددې اعتراض نه شارح هندی جواب کړیدی چې لیدل
دتعریف نه خارج دی اوظرف مستقردی متعلق دی په مقدرپورې چې وُضع الاعراب دی
اومقصدپه دې عبارت کښی بیان دفائدی دوضع داعراب دی دده دجواب منشأ عبارت
دمصنف دی په امالی کافیه کښی چې ده هلته ددې متعلق وئیلي دی چې لیس هذا ای لیدل
علی المعانی ، من تمام الحدنو شارح هندي فهم کړه داخبره چې دادتعریف داعراب نه خارج دی
. لیکن هرکله چې داجواب دشارح ملاجامي خوښ نه وو نودخپل طرفنه یې جواب وکړ
اوردیې وکړ په شارح هندي بقوله وبهذ القدرالخ خلاصه دجواب یې داده چې لیدل الخ په
تعریف داعراب کښی داخل دی اومتعلق دی په ا ختلف مذکورپورې . اودانه ده لازمه چې
دادقید احترازي وي ځکه چې قیودات ماخوذه په تعریفاتو کښی څلورقسمه دي .
۱ دپاره دجامعیت ۲ دپاره دمانعیت لکه فصل ۳ دپاره دو ضاحت لکه قیودات اتفاقیه ۴
دپاره دفائدی اخری لکه داقول دمصنف چې لیدل الخ دی نوپه دې کښی احترازی دوئم قسم
وي فقط اولیدل دقبیلي دقسم رابع نه دی .نوشارح وایي چې **وَبِهٰذَا القدرقدتم حدالاعراب**
جمعًاومنعًا اوپه دومره مقدارتمام شه تعریف داعراب جمعاو منعًا **لکن المصنف أرادان ینبه**
عَلٰی فائدة اختلاف وضع الاعراب لیکن مصنف اراده وکړه دخبرداری په فائدی داختلاف
دوضع داعراب : **فضم الیه** پس منضم که مصنف دغه مقدارته **قوله لیدل علی المعانی**
المعتورة داقول خپل چې لیدل الخ دی **فکانهُ أرادهٰذاالمعنٰی** داتعین دماهو المراددې دعبارت
دمصنف نه په امالي دکافیه کښی اووجه د خطایې دشارح هندی ده نو وایې چې کیدی شي
چې مصنف اراده کړی وي دی معنی لره یعنې انه تم حدالاعراب جمعًاومنعًا بدون قوله لیدل الخ
حیث قال په دې شان سره چې وئیلي یې دي **لَیْسَ هٰذامِنْ تمام الحد** چې نه دی
دامقدارد تمام دحدنه **لاانّهُ ای لایُریدُانه خارج الحد** اومراد دمصنف دانه دی چې دا (لیدل الخ)
خارج دی دحدنه **وَاللامَ** دامنصوب دی بنابرعطف په ضمیر دانهٔ **ای لایریدان اللام فی**
لیدل متعلق بامرخارج عن الحد اودامرادنه دی چې لام په لیدل کښی متعلق دی په
امرخارج (مقدر) پورې دحدنه مطلب داچې مراددمصنف دانه دئ چې کنی لیدل خارج دی
دتعریف داعراب نه بلکې مرادیې دادی چې جامع مانع تعریف د. اعراب په دغه هومره اندازه
پوره شهٔ ، اولیدل] دفائدی اخری دپاره ذکرکړی شهٔ **یعنی وَضْعَ الاعرابُ** مرادپه دغه متعلق

مقدرسره وضع الاعراب دی ، پوهه شه چې په دې کښې دوه احتماله دی یادامرکب اضافي دی یعنې **وضعُ الاعراب** یاجمله فعلیه ده په دې شان سره چې وُضِعَ فعل ماضي مجهول ده ،او الا عرابُ یې نائب فاعل دی **المفهوم من فحوی الکلام** هغه وضع الاعراب چې معلوم دی دفحوی دکلام نه **فانهُ بعید عن الفهم غایةَ البعد** ځکه متعلق مقدا ریعنې وضع الاعراب بعیددی دفهم نه په نهایت بعد سره اوداابعید غایة البعد ځکه دی چې په دې کښې دوه بُعدَه دی ،یوبُعدخودادی چې مراددشارح هندی بعیددی دفهم نه . ،ځکه چې فهم ته ظاهراً داراځي چې لیدل داخل دی په تعریف کښې اوبل بُعد دادی چې ظاهره متبادره الی الفهم داده چې لیدل متعلق دی په اختلف مذکورپورې نوپه هغه وضع الاعراب پورې متعلق کول بعیدعن الفهم دی ، چې کوم ملحوظ فی التعریف نه دی **فاللامُ فیهِ متعلق بقولهِ اختلَفَ** دا تفریع ده په دې قول چې لانه الخ دی.

پس لام په لیدل کښې متعلق دی په اختلف پورې نوتقدیردعبارت داشئ . یعنې **اختلفَ اخره لیدل الاختلاف اوما بهِ الاختلافُ** غرض دشارح تعین دمرجع اوبیان دوجهینودی په تعین دمرجع کښې ،اوبل اشاره ده اختلاف ته په اعراب کښې ، بعض وایې چې اعراب عبارت دی نفس اختلاف نه ،ځکه چې اعراب ضددبنادی اوبناء عبارت دی دعدم اختلاف نه ، نواعراب عبارت شئ دااختلاف نه اوبعض وایې چې اختلاف عبارت دی **دمَابِهِ الاختلاف** نه چې حرکت اوحرف دی ځکه چې اعراب علامه ده په معانی مقتضیه للاعراب چې فاعلیت ، مفعولیت اواضافت دی اواصل په علامه کښې داده چې دابه موجودمحقق وي اوموجود محقق نه دی مگرمَابهِ الاختلاف چې حرکت اوحرف دی نوشارح اشاره وکړه چې ارجاع دضمیر هر واحدته صحیح ده اگرچې مختاره په نزدده توجیه ثاني ده خونفس اختلاف یې مقدم کړیدی ځکه چې نفس اختلاف جزدی دمَابهِ الاختلاف نه ځکه چې دمَابِهِ الاختلاف درې اجزاء دي (**مَا، بهِ، الاختلاف**) اوجزمقدم وي په کل باندې **یعنی الفاعلیةَ والمفعولیةَ والاضافةَ** دا تعین دماهوالمراددی دمعاني نه ، معانی جمع دمعنی ده اومعنی عبارت دی دماقام بشی نه نوفاعلیت یومعنی ده چې قائمه دی په زیدپورې په جائنی زید کښې اومفعولیت یومعنی ده چې قائمه ده په زیداً پورې اواضافت یومعنی ده چې قائمه ده په زیدپورې په غلام زید کښې ،اوداتفسیردمعاني را جع دی ځکه چې داموافق دی ددې قول دمصنف سره په مابعد کښې

چې **فَالرفعُ عَلَمُ الفَاعِلِيَةِ الخ المُعتَورَةِ علی صیغۃِ اسمِ الفاعِل**
غرض د شارح تحقیق صرفی، او تشریح لفظي د معتورة ده چې د اصیغه د اسم فاعل ده او دا ځکه چې د صیغې د اسم فاعل او د اسم مفعول په مابین کښې تجنیس خطي دی پوهه شه چې په دې صیغه کښې اختلاف دی په مابین د شارح ملاجامي او شارح هندي کښې ،نو په نزد د شارح هندي دا صیغه د اسم مفعول ده ځکه چې اعتوار متعدی بِنَفسه دی په معنی د اخذ، سره دی، او اخذ متعدي دی نو تعدیت یې په علی سره په دې قول د مصنف کښې چې علیه دی نه دی صحیح بله دا چې علی صله د اخذنه واقع کیږي بلکې صله یې باء او لام واقع کیګی (یقال اخذبه اوله نو شارح هندی وایې چې دا صله د علی په هله صحیح کیږي چې معتورة صیغه د اسم مفعول شي هندی وایې چې داصله د علی به هله صحیح کیږي چې معتورة چې ضمیر مستتر دی نائب فاعل وګرزی د پاره د معتورة ،او قانون دا دی چې مفعول د متعدي الی المفعول الواحد کله نائب فاعل شي نو هغه متعدي لازمي ګرځي ،نو بنا په دې معتورة لازمي وګرزیده ، نو خامخا به یې تعدیت مفعول ثاني ته کولی شي په واسطې د صلې سره او شارح هندې وایې چې تعدیت یې په علی سره هم صحیح شئ ، ځکه چې داصیغه د اسم مفعول شوه او په مفهوم د اسم مفعول کښې معنی د وقوع معتبره وي او په صله د وقوع کښې علی راتلی شي لکه وئیلی کیږي چې وقع علیه ، او شارح ملاجامي په دې تصریح وکړه چې داصیغه د اسم فاعل ده او رد په شارح هندې هم راغی ، او تعدیت یې په علی سره بنادی په تضمین باندې و سیاتي انشاء الله **ای علی المعرب** دا تعین د مرجع دی **متعلق بمعتورة** دا تعین د نوعی د ظرف دی ، یعنې جار مجرور (علیه) ظرف لغوه دی متعلق دی په معتورة مذکور پورې **علی تضمین مثل معنی الورود والاستیلاء** دا توجیه ده د پاره د تعدیت د معتورة په علی سره یعنې بیشکه چې په صله د اعتوار کښې علی نه شي راتلی لیکن دا متضمن دی معنی د ورود او استیلاء لره او د ورود او استیلاء په صله کښې علی راځي لکه وئیلی کیږي **وَرَدَعَلَیهِ او اسْتَوَیٰ علیه** ځکه چې دا دواړه لازمي دی نو تعدیت یې په علی سره صحیح دی.

معنی د تضمین: تضمین په لغة کښې یوشی چاته په ترخ کښې ورکول ، او په اصطلاح کښې دیته وایې چې ذکر شي فعل شبه فعل او اراده کړی شي د هغې نه معنی د فعل، شبه فعل آخر په قرینې د ذکر د متعلقاتو سره په مابعد کښې په دې شان چې وګرزولی شي اول یعنې متضمن (بالکسر) مقید او ثاني یعنې متضمن (بالفتح) قید په اغلب کښې نو په دې مقام کښې ذکر

شويدی . معتورةً يعني شبه فعل نو ديته متضمن وايي .اومراد ترينه معنی دواردةً دی . اوديته متضمن وايي او قرينه پرې ذکر دعلی دی ،پس تقدير دعبارت به داشي چې **ليدل على المعاني المعتورةِ واردةً عليه** معنی يې داده چې دپاره ددې چې دلالت کوي اعراب (يعني اختلاف ياما به الاختلاف) په معانی معتوره په داسې حال کښې چې واردیږي په معرب باندې ديوبل نه بعد **يقال اعتوروا الشئ وتعاوروه اذا تداولوه**

یو غرض دشارح بيان داصل معنی داعتوار دی په محاوره عربي سره اوبل غرض يې بيان دوجې دتعدد داعراب دی .اوبل غرض يې بيان داختلاف داعراب دی .نو وايي چې وئيلی کيږي چې اعتوروالخ .او معنی يې داده چې تداولوه او معنی دتداولوه شارح بيان کړيده په دې قول سره **اي اخذه جماعة واحدة بعد واحدة على سبيل المناوبة والبدلية** يعني دا محاوره وئيلی کيږي په هغه وخت کښې چې دخلقو يو جماعت يو شی حاصل کړی په طريقې دمناوبة اوبدلية سره نه په طريقی داجتماع سره حاصل داچې اعتوار وئيلی کيږي تداول ته .اوتداول وئيلی کيږي پرله پسې يو شی حاصلول نه په يو ځای **فاذا تداولت المعاني المقتضية لاعراب المعرب** دا غرض ثاني دی پس هرکله چې را ځي دغه معاني مقتضي داعراب دمعرب **متعاقبة متناوبة** په داسې حال کښې چې په يو بل پسې ،پرله پسې دی **غير مجتمعة** چې يو ځای نه وی **لتضادها** داعلت دغير مجتمعة دی يعني په يو ځای نه راځي دوجې دتضاد ددغه معانيو نه په خپل مينځ کښې **فينبغي اي يجب** پس واجبه ده **ان يكون علاماتها ايضا كذالك** چې وی دعلامات ددغه معانيو (چې اعراب دی) هم دغه شان په يو بل پسې ، نه په يو ځای يعني لکه څنګه چې دغه معانې چې فاعليت مفعوليت اوضافت دی نه جمع کيږي په اسم معرب کښې بلکې يکې بعد ديګری راځي نو واجبه ده چې علامات ددې معانيو چې رفع . نصب اوجر دی ، دهم دغه شان وي **فوقع بسببها** دا غرض ثالث دی . پس واقع شو په سبب ددې علاماتو سره **اختلاف في آخر المعرب** اختلاف په اخر دمعرب کښې **فوضع أصل الاعراب للدلالة على تلك المعاني** دا تفريع ده په ماسبق په وضع کښې دوه احتماله دی يو داچې دا صيغه دماضي مجهول ده بل داچې مصدر دی پوهه شه چې داعراب دپاره دوه وضعې دي . يووضعه دنفس الاعراب ده دپاره ددلالت په نفس دغه معانيو ثلثو .اودويمه وضعه داعراب ده په دی شان سره چې مختلف کيږي پرې اخر دمعرب دوجې داختلاف ددغه معانيونه

وهذا هو المراد

محل داعراب : قال الشارح وانما جعل الاعراب غرض دشارح ددې نه بیان دوجې داختصاص داعراب دی په اخرپورې . اودفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې په اسم معرب کښې درې محله دي اول وسط اخرنوپکارده چې اعراب په اول کښې راتلی ددوه وجونه .يوداچې اول مقدم دی په وسط او اخراوتقديم سبب دترجيح دی دوئمه داچې اعراب چونکه علامه ده په معنی مقتضي للاعراب نوپکارده چې دلالت وکړي داول وهلت نه په معنی مقتضي باندې .اوکه په اول کښی نه وي نوپکارده چې په محل ثاني کښی راغلی وي ، ځکه چې داوسط دی .اوخير الاموراوسطها ، خلاصه داچې داعراب دپاره متعين کول ترجيح ، دمرجوح ده .

فأجاب الشارح وبقوله وانما جعل الاعراب في اخراسم المعرب خبره داده بلـه نه ده چې وګرزولی شئ اعراب په اخرداسم معرب کښی ، داشوه دعوی لان نفس الاسم يدل على المسمى دايې دليل دی، يعني ځکه چې نفس اسم دلالت کوي په نفس مسمی داسم والاعراب على صفته او اعراب دلالت کوي په صفت ددغه مسمی چې فاعليت مفعوليت .اضافت دی ولاشك ان الصفة متاخرة عن الموصوف او شک نشته په دې کښی چې صفت متاخروی دموصوف نه فالانسب ان يكون الدال عليها ايضا متاخرا عن الدال عليه دانتيجه دکلام ده .پس زياته مناسبه داده چې وي ددال على الصفة ،چې اعراب دی متاخرددال على الموصوف نه فالحاصل انه لايلزم ترجيح المرجوح.

سوال : دا ضابطه ستاسو منقوضه شوه په تثنيه اوجمع لکه مسلمان . مسلمون .ځکه چې اعراب ددې چې الف . واودی . په اخيرکښی نه دی . بلکې په وسط کښی دی

جواب : نون دتثني اودجمع بدل دی دتنوين دمفردنه نولکه څنګه چې تنوين کلمه مستقله ده دغه شان نون تثنيه اونون جمع هم ،نواعراب دتثني اوجمع په اخيرکښی واقع شئ .

وجه تسميه داعراب : وهوماخوذ الخ غرض دشارح ددينه يوبيان دمعنی لغوی داعراب دی په محاوراتو عربيو سره ،اوبل بيان دمناسبت دی په مابين دمعنی لغوي او اصطلاحي کښی ، اودرئم غرض وجه تسميه ده .. نوپوهه شه چې شارح داعراب دپاره دوه معنې بيان کړيدی .يوه معنی يې ايضاح ده اوبله اِزَالَةُ الفَسَاد. كماقال وهوماخوذ من اَعْرَبَهُ اذا اَوْضَحَهُ دامعنی اوله ده .يعنې اعراب اصطلاحي ماخوذدی دمصدر د اَعْرَبَهُ نه اَعْرَبَهُ محاوره عربيه ده داوبلی کيږي په

هغه وخت کښی چې کلمه دیوشي وضاحت وشي اولفظ مصدرځکه مقدر کړی شئ چې أَعْرَبَ فعل دی او اصل په اشتقاق کښی مصدر دی **کماهوالمذاهب المختاراعنی مذهب البصرین.** او اعرابِ ماخوذه اِعراب اصطلاحي دی ،او اعراب **مَاخُوْذُمِنْهُ اِعْرابِ** لغوی دی .فلایلزم اشتقاق الشئ عن نفسه **فَانَّ الاعرابَ**.داوجه تسمیه اوبیان دمناسبت بین المعنیین دی .نو وایي چې بی شکه اعراب .**یُوضِحُ المعانی المقتضیة** یعني اعراب اصطلاحي ته اعراب ځکه چې وایې چې دی واضح کوي معاني مقتضیه لره **اومن عَرِبَتْ معدتُهٗ اذافسدت** دامعنی ثاني ده یعني اعراب یاماخوذی ددې محاوری نه چې **عَرِبَتْ معدتـه** داپه هغه وخت کښی ویلی کیږي چې کله دیؤبنده معده خرابه شي **علی اَن یکونَ الهمزةُ لِلسلب** دادفع دسوال ده چې هرکله چې خبره داشوه نوبیاپه دې خومعنی داعراب افسادوګرزیده اودامعنی غلطه ده خلاصه ددفع ده چې په تقدیردمعنی ثاني همزه داِعراب (یعني باب افعال) دپاره دسلب ماخذ ده یعني خاصیت یې په دې وخت کښی سلب ماخذدی) اوماخذ د افساد فساددې پس معنی یې ازالة الفسادشوه سمی به **لانه یزیلُ فسادَالتبائن بعضِ المعانی ببعضٍ** دایې وجه تسمیه اوبیان دمناسبت دی یعني مسمی کړی شئ اعراب اصطلا حي په اعراب سره ځکه چې اعراب اصطلاحي زائله کوي فساد دالتباس دبعض معنو ، دبعض سره ظاهره ده چې په وخت دعدم داعراب کښی لازمیږي التباس دفاعلیت ،مفعولیت اواضافت ، او د اعراب دوجی نه داالتباس زائله کیږي حاصل دکلام داشئ چې اعراب اصطلاحي سبب دی .

دپاره دایضاح اوازالة الفساد ،نوداتسمیه دسبب شوه په اسم دمسبب سره .

هرکله چې فارغ شه مصنف د تعریف داعراب نه نوشروع یې وکړه په تقسیم داعراب کښی ، فقال . **وانواعُهُ ای انواعُ اعرابِ الاسمِ** غرض دشارح تعین دمرجع دی اودفع داعتراض مقدرده ، حاصل یې دادی چې حصردانواعوداعراب په ثلثه کښی باطل دی دوجې دوجوددقسم رابع نه چې هغه جزم دی خلاصه ددفع یې داده چې ضمیردانواعه راجع دی اعراب داسم ته ، اوداثلثه دی اوهر چې دی جزم نوداعراب دفعل دی **ثلثة** دادفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې انواعه مبتداده اورفع یې خبردی نولازم شئ حمل دخاص په عام باندې **وهذالایجوز**.خلاصه دجواب داده چې دلته عطف مقدم دی په ربط باندې په حکم ،نو خبرمجموعه درفع نصب اوجرده.

سوال هر کله چې مجموعه خبرشئ نو پکار ده چې په دې باندې یو اعراب جاری شي هر کله چې مقتضي داعراب واحد دی چې خبرئیت دی.

جواب: صحیح ده لیکن هر کله چې صلاحیت داعراب موجود وو په هر واحد ددې الفاظو کښې ،نو په ټولو باندې اعراب جاری کړی شئ دپاره ددې چې ترجیح بلا مرجح لازمه نه شي.

سوال: مصنف چې دی ته انواع اوو ی نو القاب یې ورته ولې اونه وی ،لکه په مبني کښې چې وئیلی دي **وَاَلقابُه**.

جواب: رفع نصب او جر دلالت کوي په انواعو چې فاعلیت مفعولیت ، .اضافت دی ،نو هر کله چې مدلولات یې انواع وو نو کوم الفاظ چې په دې دلالت کوي هغه ته یې .هم انواع اُوئیل په خلاف دضمی ، فتحي ، کسری نه یعنې حرکات بنائیه نه چې هغه دلالت کوي په امر واحد چې بناده نو ځکه یې ورته القاب اوئیل .او انواع یې ورته اونه وی رَفْعٌ وَنصب وجر وجه دحصریې په ثلاثو کښې داده چې دااعراب به خالي نه وي یا به دلالت کوي په عمده باندې یا په فضله .که اول وي نو رفع ده . او که ثاني وي نو بیا به خالي نه وي یا به دلالت کوي په فضله بالذات ، یا په بالواسطه که اول وي نو نصب دی او که ثاني وي نو جر دی.

سوال: اعرابات په ثلاثه کښې ولې منحصر شو ؟

جواب: ځکه چې اعراب وضعه دی دپاره ددلالت په معانیو او هغه درې دي نو اعرابات ځکه درې شو **وهذهِ الاسماءُ الثلاثـة** غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراضینو ده ، یو اعتراض دادی چې په عبارت دمصنف کښې قصور دی ځکه چې اعراب په دوه قسمه دی یو بالحرکت او بل بالحرف ، .نو پکار ده چې مصنف درفع نصب جر سره بالواو و الالف والیاء هم وئیلی وي اعتراض ثاني دادی چې مصنف درفعی نصب جر په ځای ضمه فتحه او کسره ولې ونه وی.

فاجاب الشارح بقوله وهذه الاسماء الثلاثة مختصةٌ بالحركات والحروفِ چې دااسماء ثلاثه رفع نصب جر، مختص دی په حرکاتو او حروفو دواړو پورې ،نو داالفاظ شامل حروف ته هم دی **فلاقصور في المتن** او ددوئم سوال دفع داده چې ضمه فتحه کسره مشترک دی په مابین دحرکات ا عرابیه او حرکات بنائیه کښې او کلام ځمونږ په اعراب کښې دی **ولا تطلقُ على الحركاتِ البنائيةِ اصلا** او اطلاق یې په حرکات بنائیه بالکل نه کیږي نه غالبا او نه قلیلاً **بخلاف الضمةِ والفتحةِ والكسرةِ فانها مستعملة في الحركاتِ البنائيةِ غالباً** په خلاف دضمه فتحه او کسرة مع التاء، نه ځکه چې

دامستعملیږي په حرکات بنائیه کښی غالبا او په حرکات اعرابیه کښی قلیلاً

نسبت په مابین درفع، نصب، جراوضم، فتح، کسر کښی

پوهه شه چي په زیر، زبر، پیش باندې اطلاق ددریو اسماء کیږي

۱ رفع نصب جر ۲ ضم فتح کسربدون التاء ۳ ضمة فتحه کسرة مع التاء نو په مابین ددوی کښی د نسبت تفصیل دا دی چي درفع نصب جر اوضم فتح کسر په مابین کښی تبائن دی ځکه چي اول مختص دی په حرکات اعرابیه پوري اوثاني ، مختص دی په حرکات بنائیه پورې ،یعنې په هغه حرکاتو پوري چي کوم په اسم مبني کښی راځي لکه هؤلاء اودرفع نصب جراوضمه فتحه کسرة یعنې مع التاء په مابین کښی نسبت دعموم خصوص من وجه دی اودادری مادې غواړي ماده اجتماعي حرکات داخرد اسماء معربه دی دیته رفع نصب جراوضمه فتحه کسره دواړه وایې اوماده افتراقي دجانب درفع نصب جرنه حروف اعرابیه دی ،.یعنې واوالف یا . لکه په اسماء سته کښی مثلاً دیته رفع نصب جروئیلی شي خوضمه فتحه کسره ورته نه شي وئیلی .اوماده افتراقي دجانب دحرکات بنائیه نه حرکات داخرد اسماء مبنیه شولکه هؤلاء دیته ضمة فتحه کسرة وئیلی شي خورفع نصب جرورته نه شي ویلی کیدی .

هرکله چي فارغ شه مصنف دبیان دانواعودا عراب داسم نه نوشروع یې وکړه په تفصیل ددغې انواعو کښی فقال <u>فَالرَّفعُ حرکةٌاوحرفًا</u> غرض دشارح ددې عبارت نه تعمیم دی په رفع کښی اودفع دوهم ده چي مرادبه درفع نه حرکت وي ځکه چي حرکت اصل دی په اعراب کښی نوشارح دفع وکړه چي رفع عامه ده که حرکت وي اوکه حرف <u>علمُ الفاعلیةِای علامةُ الخ</u> داتعین دمعنی مرادی دی دعلم نه ، ځکه چي دعلم درې معنی دی

۱ جبل ۲ په معنی داسم سره لکه زید ۲ علامه نوشارح تعین وکه چي مرادترې علامة ده .

<u>کون الشیءفاعلاً</u> په دې کښی اشاره ده د‌ې‌ته چي یاتامصدری دی اویامصدری دیته وایې چي گرزوي خپل مُلحَق بِه خبردپاره دکون مقدرسره داسم مقدرنه

یاپه درې قسمه ده پوهه شه چي یاپه درې قسمه ده

۱ مصدری اوددې تعریف : گرښهٔ ۲ یادپاره دمبالغي لکه حری اودامفیددپاره دزیادت وي په مُلحَق بِه خپل کښی ۳ یاء نسبتی اودادیته وایې چي گرزوی مُلحَقُ به خپل منسوب الیه دپاره دموصوف محذوف لکه پاکستانی . یعنې رجل منسوب الی الپاکستان

سوال : بنادمتونو په ایجازاو اختصاروی نوپکارده چې مصنف وئیلی وي چې فالرفع علم الفاعل بغیردیااوتانه.

جواب : که چرې علم الفاعل یې ویلی وي نو ظاهره متبادره دفاعل نه ذات دفاعل وو نوچابه توهم کوو چې رفع به علامه دذات دفاعل وي لکه ذات دزید په جاځي زید کښې اوعلامه خودشي نه نه منفک کیږي حالانکه چې دزیدنه رفع منفک شوی ده په رایت زیداً کښې .نویا ، .یې پورې ملحق کړه دپاره دتنبیه په دې خبره چې دارفع علامه د وصف دفاعل ده نه دذات دفاعل **حقیقةً اوحکماً** غرض ددې نه تعمیم دی په فاعل کښې اودفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې نه منم داخبره چې رفع علامه دفاعل ده ځکه چې رفع لکه څنګه چې په فاعل کښې راځي نودغه شان په مبتدا خبر کښې هم راځي خلاصه دجواب داده چې فاعل عام دی که حقیقة وي وهو الظاهراوکه حکمًا وي او فاعل حکمي هغه شي ته وایې چې په حکم دفاعل کښې وي **فی کونهِ عمدةً من کلِ وجهٍ** یعنې لکه څنګه چې فاعل حقیقي عمده وي نودغه شان هغه شی هم عمده وي لکه مبتداا وخبروغیره یافاعل حکمي دیته وایې چې په هغه کښې خصلت دفاعل حقیقي موجودوي او خصلتونه دفاعل دوه دي ، یوکا نهٔ مسنداً الیه .اوبل کون دده دی جزء ثاني دجملې نوپه مبتدا کښې خصلت اول موجوددی چې مسندالیه دی ،اوپه خبر کښې خصلت ثاني **مفعولاً حقیقةً اوحکماً** وقدمرغرضه اومفعول حقیقي واضح دی اومفعول حکمي هغه دی چې په حکم دمفعول کښې وي فی کَونهِ فضلةً ای علامة کونِ الشئ مضافاً الیه دا تعین دماهوالمراددی داضافت نه ،ځکه چې داضافت اطلاق په درې څیزونوباندې کیږي .

۱ معنی مصدری یعنې نسبت بین المضافت والمضاف الیه ۲ مضاف ۳مضاف الیه نوشارح تعین وکه چې مرادمضاف الیه دی که څوک تپوس وکړي چې ماالقرینه علیه ،نو جواب یې دادی چې دلته کښې مصنف بیان دعلامې کوي او اضافت مقابل دفاعلیت اومفعولیت دی اومقابل دشي دهغه شی سره نه جمع کیږي نوکه مرادمضاف شي نوتقابل به صحیح نه شي ځکه چې مضاف جمع کیږي نوکه مرادمضاف شي نوتقابل به صحیح نه شي ځکه چې مضاف جمع کیږي دفاعل سره لکه جاء غلام زیدٍ اودمفعول سره لکه رایت غلامَ زیدٍ **واذاکانتِ الاضافةُ** غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدرده چې اصل په اخواتوکښې مناسبت دی نوپکارده چې مصنف په الاضافة کښې هم یامصدریه ذکرکړی وي او اضافیةً یې

ویلی وي په شان د فاعلیت او مفعولیت.

فأجاب الشارح بقوله واذا کانت الاضافة بنفسها مصدراً او هرکله چې اضافت په خپله مصدر وو **لم تحتج الی الحاق الیاء المصدریة الیها** نو حاجت پیش نه شه الحاق د یامصدریه اضافة ته کمافی الفاعلیة ولمفعولیة ، لکه څنګه چې حاجت درپیش وو الحاق دیاته په فاعلیت او مفعولیت پورې ځکه چې هغه مصارد بنفسهانه دی او هرکله چې اضافت پخپله مصدر و **لم تحتج الی الحاق الیاء المصدریّة الیها** نو حاجت پیښ نه شه الحاق د یامصدریه اضافت ته **کمافی الفاعلیة والمفعولیة** لکه څنګه چې حاجت پیش وو الحاق دیاء ته په فاعلیت او مفعولیت کښې ځکه چې هغه مصادر بنفسهادی و **انما اختُص الرفعُ** داتوضیح دمتن ده په ذکر ددلائل د اختصاص سره نو وایې چې **وانما اختص الرفع بالفاعل** اوخبره داده چې مختص شوه رفع په فاعل پورې **والنصبُ بالمفعول** او مختص شه نصب په مفعول پورې **والجرُ بالمضاف الیه** او مختص شه جر په مضاف الیه پورې **لان الرفع ثقیل ای علی اللسان والفاعل قلیل** او فاعلً قلیل دی **لانه واحد** دا یې دلیل دقلت دی یعنې فاعل قلیل دی ځکه چې نوعه یې یوه ده اګرچې افرادیې کثیر دی **فاُعطِی الثقیلُ القلیلَ** پس ورکړی شهٔ ثقیل قلیل ته ځکه چې قلیل تحمل دثقیل کولی شي.

سوال: فاعل به خالي نه وي یابه ترې مرادفاعل حقیقي وي یاعام دحقیقي او حکمي نه ، که مرادفاعل حقیقي وي نوبیادعوی دا **وانما اختص الخ** غلطه ده ځکه چې رفع په مبتدا اوخبرهم راځي ، اوکه مرادعام وي نوبیاداقول دشارح غلط دی چې والفاعل قلیل ځکه چې فاعل حکمي قلیل نه دی بلکې کثیردی ځکه فاعل حمکي ملحقات دفاعل دی او داکثیردی.

جواب: مرادفاعل حقیقي دی نوداقول صحیح شه چې الفاعل قلیل لانه واحد البته اختصاص د رفعي په فاعل حقیقي پورې په نسبت سره مفعول او مضاف الیه ته دی نه په نسبت سره ملحقاتو د فاعل ته مطلب داچې رفع په مفعول او مضاف الیه نه راځي فقط او په فاعل او ملحقاتو دفاعل راتلی شي.

سوال: مضاف الیه خوهم قلیل دی نوپکارده چې ده ته هم رفع ورکړی شي ؟

جواب: فاعل قلیل دی اوقوی هم دی نو ځکه ضمه ده ته ورکړی شوه چې داحرکة قوي دی ، **والنصبَ خفیف** او نصب خفیف دی امفاعیل کثیردی ځکه چې داپنځه دي **فاُعطِی الخفیفُ الکثیرَ**

پس ورکړی شئ حفیف کثیر ته ځکه چې کثرة تقاضاء تخفیف کوي **ولما لم یبق للمضاف الیه علامة غیر الجر جُعِلَ علامةً** له او هر کله چې پاتې نه شو ه دپاره دمضاف الیه علامه بغیر د جر نه نو دا علامه دمضاف الیه وګرزولی شوه هر کله چې مصنف فارغ شه دبیان دانوعو داعراب نه نوشروع یې وکړه په تعریف د عامل کښی فقال العامل پوهه شه چې عامل په لغة کښی مطلق مؤثر ته وایې او په اصطلا ح کښی په دوه قسمه دی یو مطلق عامل او بل عامل داسم مطلق عامل ویلی کیږي **مایوجب کون آخر کلمة علی وجه مخصوص من الاعراب** و البناء یعنې ګرزولی اخر د کلمې لره په وجه مخصوصې سره داعراب او دبنانه او عامل داسم **مابه یتقوم المعنی المقتضی للاعراب** یعنې دمعاني مقتضیه للا عراب نه پس ددې نه پوهه شه چې مراد دعامل نه عامل اصلي دی یعنې هغه عامل چې دهغې دپاره تاثیروي په معنی کښی نوبادبحسبک زید ترې خارجه شوه ځکه چې دازئده ده **لفظیاً کان اومعنویاً** داتعمیم دی په عامل کښی اود فع دوهم ده چابه وهم کولو چې مرادبه عامل نه عامل لفظي وي فقط دوجې داصالت نه ـ نوبیا به تعریف دعامل معنوي معلوم نه شي نوشارح دفع وکړه په دې شان سره چې مراد دعامل نه عام دی که لفظي وي او که معنوي .

سوال: قرینه په دې باندې څه ده؟

جواب :قرینه په دې داقاعده داصول فقهې ده المطلق یجری علی اطلاقه ای بعمومه .

سوال : به جار مجرور متعلق دی په یتقوم پورې نو څه وجه ده چې مصنف جار مجرور متقدم که په متعلق باندې ؟

جواب ضمیر مجرور راجع دی عامل ته نو دقرب دمرجع دپاره یې جار مجرور مقدم که .

سوال بیا پکار ده چې په تعریف داعراب کښی یې هم مقدم کړی وی؟

جواب النکتة للفار لا للقار فافهم **ای یحصل** غرض دشارح دفع داعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې نسبت دیتقوم عامل ته غلط دی ځکه چې یتقوم مشتق دی دقیام نه او قیام عبارت دی داستواء او دانه را څې مګر په ذوی الروح کښی او عامل ذی روح نه دی .فاجاب الشارح بقوله یحصل یعنې قیام په معنی دحصول سره دی من قبیل ذکر الملزوم و ارادة اللازم ځکه چې حصول لازم دی دقیام سره **ای معنی من المعانی المعتورة علی المعرب المقتضیة للاعراب** شارح تفسیر په نکری سره وکه دپاره دتنبیه په دې خبره چې الف لام په المعنی کښی عهد ذهني

دی او دا په قوة دنکری کښې وي او بل غرض په کښې دفع د اعتراض مقدر ده ، حاصل یې دا دی چې تعریف د عامل مانع نه شه د دخول دغیرنه داخل شو په کښې حروف مضارعت ځکه چه په حروف مضارعت سره هم حاصلیګی مشابهت دفعل مضارع داسم فاعل سره او مشابهت داسم فاعل سره هم یو داسې معنی ده چې ددې په وجه مضارع مقتضي داعراب ګرزی **کمابین فی موضعه** فاجاب الشارح بقوله معنًى دمعانیو ثلثو نه چې فاعلیة مفعولیة او اضافة دی او په حروف مضارعت سره دا معنی نه حاصلیږي فلا یرد پوهه شه چې المعتورة صفت اول دی دپاره دمعانی او المقتضیة یې صفت ثاني دی **ففي جاءزید الخ** داتوصیح دمتن ده په ضمن دمثالونو کښې **اذبه حصل الخ** دایې دلیل دی یعني په سبب دده سره حاصله شوه معنی دفاعلیت په زید کښې دوجې د استدعاء دفعل نه فاعل لره **اذبه حصل معنی المفعولیة فی زید** ځکه چې په سبب دده سره حاصله شوه معنی د مفعولیت په زید کښې دوجې د استدعاء دفعل متعدي نه مفعول لره پوهه شه چې باعامل دی خو په لفظ دزید کښې فقط نه په محل دزید کښې بلکې عامل په محل دزید کښې فعل دی ځکه چې زید په حقیقت کښې مفعول به ده دپاره دمررت خو په واسطې دحرف جر سره نوبنا په دې زید مجرور دی لفظا او منصوب دی محلاً .

هرکله چې مصنف فارغ شه داعراب دانواعو داعراب نه نو شروع یې وکړه په بیان دمواضعو او اقسامو داعراب کښې .

اقسام الاعراب: پوهه شه چې اعراب په دوه قسمه دی یو لفظي او بل تقدیری بیا اعراب لفظي په دوه قسمه دی یو اعراب بالحرکة او بل اعراب بالحرف بیا هر واحد په دوه دوه قسمه دی یو حقیقي او بل حکمي اعراب حقیقي دیته وایې چې په هر حالت کښې مستقل اعراب وي او حکمي دیته وایې چې یو حالت یې دبل حالت تابع وي نو ګویا چې اعراب لفظي په څلور قسمه شه .

(۱) اعراب لفظي بالحرکة حقیقي (۲) اعراب لفظي بالحرکة حکمي (۳) اعراب لفظي بالحرف حقیقي (۴) اعراب لفظي بالحرف حکمي مصنف اول بیان دمواضعو داعراب لفظي بالحرکة حقیقي کړیدی او بیا دحکمي او پس دهغې نه یې مواضع داعراب بالحرف حقیقي بیان کړیدی او بیا دحکمي او پس دهغې نه یې مواضع داعراب تقدیری بیان کړیدی پس ددینه پوهه شه چې فا جزا شه ده دپاره دشرط مقدر ای **اذا عرفت الاعراب وانواعه فاعلم اقسامه ومواضعه فالمفردُ المنصرفُ** پس داتفصیل ددغه مراضعو دی او فالمفرد مبتدا ده او بالضمة رفعا الخ یې خبر دی

مطلب يې دا شه چې دمفرد منصرف او دجمعې مکسرى اعراب لفظي بالحركة حقيقي دى **وقال الشارح الاسمُ المفردُ** ، فغرضه تقدير الموصوف .ځکه چې مفرد صفت دى او هرصفة تقاضاد موصوف کوي **الذي لم يكن مثنى ولامجموعاً** غرض دشارح ددې عبارت نه عمل دى په قاعده مشهوره باندې چې هغه الف لام چې داخل وي په اسم فاعل يااسم مفعول باندې نو هغه موصولى وي په معنى دالذى سره په مذكر کښې اودالتى سره په مؤنث کښې اوداسم فاعل نه به تعبير کولى شي په فعل معروف سره اوداسم مفعول نه په فعل مجهول سره اوبل غرض يې تعين دماهو المراد دى دمفرد نه ځکه چې په مفرد کښې احتمالات ډيردى كله مفرد په مقابله دمركب کښې راځي كمافى تعريف الكلمة او كله په مقابله دجملې کښې راځي كمافى بحث التميز اوكله په مقابله دمضاف اوشبه مضاف کښې راځي كمافى بحث المنادى اوكله په مقابله دتثنيى اوجمعې کښې راځي لکه په دې مقام کښې نوشارح تعين وکړ چې دلته مراد اخرى قسم دى يعنې هغه مفرد چې نه مثنى وي اونه جمع

سوال :ما القرينة عليه ؟

جواب :قرينه په دې ذكر دمثنى اوجمع دى په مابعد کښې په طريقې دمقابلې سره بناپه دې قانون داصول فقهي چې كله عام واقع شي په مقابله دخاص کښې ،نومراد په عام سره ماسوا دخاص وي فافهم

سوال :دالمفرد دالف لام نه شارح تعبيرپه الذى سره وکړ اومفرد ، صيغه داسم مفعول ده نوپكارده چې ددې نه يې تعبير كړى وي په فعل مجهول سره يعنې أُفرديايُفردُ سره ، نوولى يې تعبيرپه لم يكن مثنى الخ سره وکړ ؟

جواب :دپاره دقصرمسافت ،يعنې كه چرى شارح أُفرديايُفرد وئيلى وي نوچا به تپوس كوو چې افرادواقع كيږي په مقابله داشياء متعدده کښې **فماهوالمرادمنه ههنا**؟ نوشارح به جواب ته محتاجه وو په دې قول سره چې **الذى لم يكن مثنى ولامجموعاً** نو لازم شوى به ووطول مسافت **سوال** : په الذى لم يكن سره احترازراغى وى داسماء سته نه ،ځکه چې اسماء سته اگرچې مفرددى خو معرب په دى اعراب سره نه دى، نوپكارده چې شارح داسې وئيلى وي چې **الذى لم يكن مثنى ولامجموعاولااسماءًستةً** ؟

جواب : اسماء سته اگر چې لفظاً مفرددى ليكن داخل دى په تثنيه کښې حكماځكه چې

دا اسماء مشعر دي په تعدد باندې په شان دتثني وسیاتی بیانه نو بل قید ته حاجت پاتې نه شه **ولاغیرمنصوف** په دې کښې اشاره ده دیته چې منصرف قید احترازی دی **کزید ورجل** دا مثالونه دی دپاره مفرد منصرف **وکذاالجمع المکسرالمنصرفُ** په تقدیر دکذا کښې اشاره ده دیته چې عطف دجمع مکسری په مفرد منصرف عطف دمشبه دی په مشبه به باندې **الـذی لـم یکـن الـخ** داتفسیر دی دجمع مکسری او غرض دشارح په دې کښې دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې مکسر ماخوذدی دکسر نه او کسر ویلی شي نقصان ته نو تعریف دجمع مکسری شامل نه شه هغه جمعي ته چې حاصله وي په زیادت دحروفو سره لکه رجال.

فاجاب الشارح بقوله الذی لم یکن بناء الواحدفیه سالمًا یعني مراد دجمع مکسری نه جمع مکسره اصطلا حي ده نه لغوي ،برابره خبره ده چې په زیادت دحروفو سره وي اوکه په نقصان دحروفو سره.

سوال : توصیف دجمع په مکسر، سره صحیح نه دی ځکه چې کسر قائم وي په مفرد پورې نه په جمع پورې ؟

جواب :دا صفت بحال متعلقه دی پوهه شه چې یوصفت بحاله دی او دادیته وایې چې معنی صفتي موجوده وي په ذات دموصوف کښې لکه **جاءنی رجل عالم** او بل صفت بحال متعلقه دی ،دادیته وایې چې معنی صفتي موجوده وي په متعلق دموصوف کښې لکه **جاءنی رجل حسن غلامه** نو حسن په ظاهره صفت درجل دی خو په حقیقت کښې صفت دپاره دمتعلق درجل دی چې غلام دی نو په مانحن فیه کښې مکسر په ظاهره صفت دجمع دی خو په حقیقت کښې صفت دمتعلق دجمع دی چې مفرد دی **ولم یکنَ غیرَمنصرفٍ** په دې کښې اشاره ده دیته چې منصرف قید احترازی دی کرجالٍ. دامثال دی دجمع مکسری په زیادت دحرف سره **اوطلبةٍ** مثال دجمع مکسری دی په نقصان دحرف سره ،اوتا په کښې دپاره دمبالغې ده لکه نصرة.

سوال : بنادمتونو په ایجازاواختصاروي نو پکارده چې مصنف وئیلی وی چې **فالمفرد والجمع المکسرالمنصرفان** ؟

جواب : بیابه فصل راغلی وو په مابین دصفت یعنې المنصرفان او احد الموصوفین کښې چې المفرد دی په اجنبی سره چې الجمع المکسر دی وذالایجوز

فالاعرابُ: غرض دشارح ددینه بیان ددلیل داختصاص ددې قسم اعراب دی په مفرد منصرف او جمع مکسر ه منصرفه پورې حاصل یې دادی چې هرواحد دمفرد منصرف او جمعې مکسرې

منصرفې اصل دی په اعتبار دوجهنیو سره ،هرچې دی مفرد منصرف نو یو خو دا چې مفرد اصل وي د تثني او د جمعي نه او بل دا چې منصرف دی او منصرف اصل دی د غیر منصرف نه او هر چې ده جمع مکسره منصرفه نو یو خو دا چې جمع مکسره مشابه ده د مفرد سره په مغائرت د صیغو کښې یعني لکه څنکه چې صیغې د مفرد دیو بل نه مغائرې وي نو د غه شان صیغې د جمعي مکسرې هم دیو بل نه مغائرې وي نو دا هم اصل شوه او بله دا چې منصرفه ده نو جمع مکسره اصل ده د مکسرې غیر منصرفې نه نو هر کله چې دا دواړه اصل وومن وجهین ،نو دې ته اعراب هم هغه ورکړی شئ چې اصل دی من وجهین للمناسبة. پوهه شه چې د اسم ددې قسمینو اصالت ته شارح تعرض نه کړی دوجهې د ظهورنه او اصالت د اعراب کذایې یې بیان کړیدی **بقوله فالاعراب في هذين القسمين الخ** یعنې اعراب ددې قسمینو د اسم بنادی په اصل باندې دوجهینو نه **احدُهما ان الاصل في الاعراب ان يكون بالحركة** او اعراب په دې دواړو کښې هم بالحرکه دی.

سوال: اعراب بالحرکة ولې اصل دی ؟

جواب: ددې دپاره وجوهات ثلثه دی ،یو دا چې حرکت خفیف دی دو ئم دا چې حرکة دضمې جزدی د واو او حرکة دفتحې جزد الف دی او حرکة دکسرې جز دیاء دی او جزء اصل وي په نسبت سره کُل ته دریمه وجه داده چې اصل په علامه کښې داده چې خارجه وي دشي نه او عارضه وي شي ته او داسې قسم اعراب حرکات دی ځکه چې حروف داخل وي په کلمه کښې ظاهراً **وثانيهما** دا دوئمه وجه دا صالت ده چې **انه اذا كان الخ** یعنې چې هر کله چې یې اعراب بالحرکة وګرزیده نو اصل داده چې وي دی دا اعراب په حرکاتو ثلثو سره او اعراب په دې دواړو کښې په حرکاتو ثلثو سره دی په احوالو ثلثو کښې **فالاعرابُ فيهما** په دې کښې اشاره ده دیته چې بالضمة جار مجرور ظرف مستقر دی متعلق دی په مقدر پورې چې فالاعراب دی.

سوال: متعلق د ظرف مستقر فعل وي عندالبصرین او اسم وي عندالکوفیین نو پکار ده چې شارح یا فعل مقدر کړی وی یا اسم نو مصدر یې ولې مقدر که؟

جواب: شارح مصدر مقدر که چې الاعراب دی دپاره ددې چې عمل په هر مذهب باندې ممکن شي په دې شان سره چې دالا عراب ﴿ مصدر﴾ نه به یا فعل مشتق کړی شي عملاً علی مذهب البصریین نو به ویلی شي چې **يعرب ان بالضمة الخ** یا ترې اسم مشتق شي عمدً **في مذهب الكوفيين** نو وبه ویلی شي چې **معربان بالضمة الخ**.

سوال: نو بیا به یې رفعاً نصباً جراً ویلی وو فقط

جـواب: بیا به پته نه لګیده چې اعراب دمفرد منصرف او جمع مکسری بالحرکة دی که بالحرف ځکه چې درفع نصب جر اطلاق په حرکاتو اوحر وفو دواړو کیږي ای حالة الرفع غرض دشارح بیان دوجې د نصب درفعًانصبًاجراً دی اودفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې نصبًاوغیره به خالي نه وي یابه منصوب وي بنابرظرفیت یابنابرمصدریت یا بنابر حالیت ځکه چې بل احتمال دنصب غیرظاهردی والکل باطل ،ظرفیت ځکه نه دی صحیح چې ظرف یازمان وي یامکان او رفعًانه زمان دی نه مکان اومصدریت یې هم نه دی صحیح ځکه چې مصدریعني مفعول مطلق هغې ته وایې چې فعل مذکورمشتمل وي په ده باندې دقبیلي داشتمال دکل نه په جزباندې اویعربان په رفع نصب جرنه دی مشتمل ،اوحالیت یې هم نه صحیح کیږي ځکه چې حال محمول وي په ذوالحال اوذوالحال دلته مفرد منصرف اوجمع مکسره ده نو داوئیل صحیح نه دی چې المفرد المنصرف رفع ونصب وجر وهکذا الجمع المکسر خلاصه دجواب یې داده چې دنصب درفعًا نصباوغیره دپاره درې واړه توجیهات صحیح دي اوشارح ذکرکړیدی نویوه توجیه داده چې دامنصوب دی بنابرظرفیت په اعتبارد مضاف مقدرسره ای حالة الرفع نوحالة عبارت دي دزماني نه فحذف المضاف واقیم المضاف الیه مقامه اوجری اعربه علیه اعني النصب فصار رفعًا ونصباً الخ والیه اشار الشارح بقوله فنصبُ قوله رفعًا الخ او داتفریع ده په ماسبق باندې ویحتمل النصبَ علی الحالیة داتوجیه ثاني ده دپاره دنصب نو وایې چې احتمال لري دنصب بنابرحالیت خو په دې تقدیربه رفعانصبا جرا یعنې دامصادر دمبني للمفعول وي دپاره ددې چې حمل صحیح شي نوتقدیربه داسې شي چې یعربان یامعربان حال کونهمامرفوعین ومنصوبین ومجرورین تدبر اوالمصدریة داتوجیه ثالثه د ه دپاره دنصب یعنې رفع نصب جر احتمال لري دنصب بنابرمفعول مطلق دپاره دیعربان په ا عتبارد مضاف محذوفه سره تقدیردعبارت به داشي چې یعربان بالضمة اعراب رفع والفتحة اعراب نصب والکسرة اعراب جرِ بیامضاف حذف شۀ اومضاف الیه دهغې په ځای قائم مقام شۀ .

سوال: څه وجه ده چې داتوجیهین یې په صیغې دیحتمل سره ذکرکړه حالانکه داصیغه مشعره ده په ضعف باندې ؟

جواب: چې په نصب علی الحالیة کښې حاجت دی تاویل ته یعنې مصدر (رفع وغیره) مؤول دی په تاویل دمفعول سره اودغه شان په نصب علی المصدریة کښې احتیاج دی تقدیر د

مضاف ته او داتکلف دی نو ځکه ترې شارح تعبیرپه صیغې دضعف سره کړیدی.

سوال په اوله توجیه کښې خوهم احتیاج وو تقدیر دمضاف ته؟

جواب تقدیر دمضاف دظروفونه شائع اوکثیردی نو ځکه یې هغه احتمال په صیغې دجزم سره ذکر کړ فالقسمُ الاولُ مثل جاءنی رجل الخ داتوضیح دمتن ده بالامثله وهو واضح جمعُ المؤنثِ السالمُ پوهه شه چې دجمع مؤنث سالمې اعراب بالحرکات حکمي دی یعنې حالت نصبي یې تابع دجری دی خلاصه دکلام داده چې اعراب لفظي بالحرکة حکمي په دوو مواضعو کښې راځي یو جمع مؤنث سالم دوئم غیر منصرف.

سوال غیرمنصرف یې ولې مقدم نه کړ په جمع مؤنث سالم حالانکه دی مفرددې او مفرداصل دی؟

جواب جمع مؤنث سالم د فالمفردالمنصرف دجزء اول یعنې مفرد مقابله ده اوغیرمنصرف یې دجزء ثاني مقابل دی، نوبنابرین تقابل یې جمع مؤنث مقدم کړه په غیرمنصرف.

یاداچې جمع مؤنث سالم دقسم ثاني یعنې جمع المکسرالمنصرف دجزاول یعنې جمع سره مناسبه ده په جمعیت کښې نوځکه یې مقدمه کړه، پوهه شه چې شارح وئیلی دی په حاشیه کښې چې السالم.

سوال: پکاره ده چې السالم یې صفت ګرځولی وي دپاره دالمؤنث ځکه چې سالم اومکسرپه حقیقت کښې صفات دمفرددی؟

جواب: صحیح ده خو داتوصیف بنادی په ماهو المشهور عندالقوم ځکه چې مشهور عندالقوم تقسیم دجمع دی مکسری اوسالمې ته اوتوصیف دجمع دی په مکسراوسالم سره.

سوال دموصوف اوصفت په مابین کښې مطابقت نیشته فی التعریف ځکه چې صفت بذات خودمُعرف باللام دی نودا په تعریف کښې زیات دی او تعریف دموصوف یعنې دجمعې مکتسب دی دمعرف باللام نه بنابراضافت، اومرتبه دتعریف مکتسب من المضاف الیه ادون ده دمرتبې دذوالّلام نه؟

جواب: داتوصیف بنادی په مذهب دجمهورو اوددوی په نزدمضاف الی ذی اللام اوذواللام په یوه درجه کښې دی البته دمبردپه نزد درجه دمضاف الی ذی اللام انقصه ده دذواللام نه و

هومایکون بالالف والتاء

غرض دشارح تعین دماهو المراددی اودفع داعتراض مقدرده، حاصل یې دادی چې جمع

مؤنث به خالي نه وي يابه ترې جمع مؤنث حقيقي مرادوي اودادیته وايې چې مفرديې مؤنث وي لکه مسلمات اويابه جمع مؤنث مجازې مرادوي اودادیته وايې چې مفرديې مذكروي لکه مرفوعات وغيره اويابه دواړه مرادوي ،که اول مرادوي نوداحکم به مثل دمسلمات ته خوشامل شي ليکن مرفوعات وغيره به ترې خارج شي اوکه مرادثاني وي نوداعراب به مرفوعات وغيره ته شامل شي خومسلمات به ترې خارج شي اوکه مراددواړه وي نولازم به شي **جمع بين الحقيقة والمجازوهذالايجوزفأجاب الشارح بقوله وهومايكون بالالف والتاء** اوداجمع مؤنث هغه ده چې حاصله وي په الحاق دالف اوتاسره ،برابره خبره ده چې مفرديې مؤنث وي اوکه مذکريعنې مراددواړه دي په طريقي دعموم مجازسره ،اوعموم مجاز ديته وايې چې اراده کړی شي معنى عامه چې شامله وي معنى حقيقى اومجازى دواړوته يعنې دامعنى حقيقي اومجازى ورله فردين وي

سوال: داضابطه دمنقوضه ده په عرفات ځکه چې دانه جمع حقيقي ده اونه مجازي اوبياهم معرب ده په اعراب دجمع مؤنث.

جواب: جمع مؤنث سالم عامه ده که جمع فى الحال وي اوکه په اصل کښى عرفات اګرچې جمع فى الحال نه ده ليکن جمع ده په اصل کښى دعرفة ثم صارعلماللجبل الذى هوموضع وقوف الحاج **واحترزبه عن المكسر** دابيان دفائدى دقيد دالسالم دى **فانه قدعلم** ځکه چې داخبره معلومه شويده چې دهغې اعراب بالحركات الثلث دى **بالضمة رفعاً والكسرة نصباً وجراً** غرض دشارح داضافي دقيد درفعانصباجرانه دفع داعتراض ده دمصنف نه چې دعبارت مصنف نه دامعلومه شوه چې جمع مؤنث سالمه به په ضمي سره اوکسرى سره وي په آن واحد کښى **وماهذاالااجتماع النقيضين.**

خلاصه دجواب يې داده چې ضمه به يې په حالت رفعي کښى وي اوپه کسرى سره به وي په حالت نصبي اوجرى کښى فلاتعارض **فان النصب فيه تابع للجر** دادليل دى دپاره ددې چې دجمع مؤنث سالمي حالت نصبي اوجرى به په کسرى سره ولې وي نو وايې چې بيشکه چې نصب ددې تابع دجردى **اجراءًللفرع على وتيرة الاصل** دپاره داجراد فرعي په طريقه داصل چې هغه جمع مذكرسالمه ده ځکه چې نصب دهغې تابع دجردى کماسيجې **مثل جاءتني مسلمات الخ** داتوضيح بالمثال ده.

سوال: بناپه دې تقدیرهم مخالفت دفرعي داصل نه راغلی دی ځکه چې اصل یعنې جمع مذکرسالمه معرب بالحروف ده اوفرعه یعنې جمع مؤنث سالمه معرب بالحرکات ده اواعراب بالحرکة اصل دی نولازم شه زیادة دفرعي داصل نه ؟

جواب: اصل په جمع کښې اعراب بالحروف دی بناپه دې چې جمع فشرعه ده اواعراب بالحروف هم فرعه ده نوفرعه فرعي ته ورکول اصل دی نوپه دې اعتباراعراب بالحرکة په جمع کښې خلاف الاصل دی فلامزیة **غیرُالمنصرف** دامبتداده او **بالضمة الخ** یې خبردی دغیرمنصرف اعراب هم بالحرکة حکمي دی حالت جري یې تابع دنصبي دی **لِمَاسنذکُرُه** یعنې فی بحث غیر المنصرف **نحوجآئنی احمدُ الخ** داتوضیح بالمثال ده .

سوال: په غیرمنصرف باندې خوکسره اوتنوین راتلی شي دوجې د ضرورت شعرې یاتناسب نه نوحالت جري یې تابع دنصبي ولې وګرزیده؟

جواب: اعراب کذایې دغیرمنصرف په هغه وخت کښې دی چې اذا خُلیَ عن العوارض وَمَتْرُوکًا علی طَبْعِه ،یعنې چې خالي وي دعوارضونه اوپریخو دلی شي په طبع خپله اوکه عوارض موجودوي لکه ضرورت شعری یاتناسب نوبیاپرې کسره اوتنوین راتلی شي کماسیاتي

هرکله چې فارغ شه مصنف دمواضعو داعراب بالحرکة نه نوشروع یې وکړه په مواضعو دا عراب بالحرف کښې **فقال واخوك وابوك الخ** بفتح الکاف وکسرها ،پوهه شه چې اعراب بالحرف هم په دوه قسمه دی یو حقیقي اوبل حکمي نوموضع داعراب حقیقي اسماء ستة مکبره دی ،اوموضوع داعراب حکمي مثنی اوجمع ده نواسماء ستة یې په دې وجه مقدم کړل چې اعراب یې حقیقي دی یعنې یوحالت یې دبل حالت تابع نه دی اخوک الخ مبتداده اوبالواووالالف الخ یې په اعتباردمتعلق سره خبردی **وحَمُوكِ بکسرالکاف** داتشریح لفظي ده یعنې حموک په کسری دکاف سره دی نوسوال ورادشه چې اصل په اخوات کښې مناسبت وي نولکه څنګه چې مصنف نسبت داخ اب ضمیر د مذکر ته کړی دی نوپکارداوه چې دحم نسبت یې هم ضمیردمذکرته کړې وي ،

نوشارح جواب وکړ په دی قول سره **لان الحمَ قریب المرءة من جانب زوجها فلایضاف** یعنې داځکه چې حم وئیلی کیږي قریب دمنکوحي ته د خاوند دغاړي ،یعنې لیور نودې خاص دی

په مرء پورې نوپس اضافت يې نه شي کيدی مګر مؤنث ته **وهنوك** . بفتح الکاف وکسرها **والهن الشيء المستنکر** دا توضيح دمشکلو الفاظو ده نوو ايې چې هن ويلی کيږي شي منکرته **الذي يُسْتَهجَنُ ذِکرُهٗ** دا صفة کاشفه دی دمستنکر .يعنې هغه شی چې قبيح ګڼړلی شي ذکر دهغه **کالعورة الغليظة الـخ** دايې مثالونه دي لکه عورة غليظه اوصفات ذميمه . لکه فلان قصير او طويل او کبير الراس او افعال قبيحه لکه فلان سارق اوزان وغيره **وهذه الاسماء الاربعة منقوصاتٌ واويةٌ** دا تحقيق صرفي دی ددې اسماء اربعه او دیته اشاره ده چې ټول اسماء سته په يو طرزنه دی .بلکې بعض يو شان دی او بعض بل شان نوو ايې چې دا اسماء اربعة ناقص واوی دی په اصل کښې اخوا ابو ، حمو ، اوهنو وو واو متحرک ماقبل مفتوح وو نو واو بدل شو په الف بيا الف حذف شو دوجې دالتقاء دساکنينونه په مابين دالف اوتنوين کښې **وفوكَ** بفتح الکاف وکسرها **وهو اجوف واوي** دا تحقيق صرفی دی دفوک يعنې دا اجوف واوی دی **لامُه هاءٌ** لام کلمه يې هاده **اذ اَصْلُه فَوْهٌ** دايې دليل دی يعنې دا په اصل کښې فوهٌ وو بفتح الفاء وسکون الواو په دليل دافواه جمعې اوفُوَيْهٌ تصغيرسره بيا ها حذف شوه .خلاف قياس نوپاتې شو فو پس ددينه واو په ميم بدل شو فصارفم .

سوال واو په ميم ولی بدل شه؟

جواب : دپاره دمحافظت دواوځکه چې که چرې واو بدل نه شي نوپه قانون دقال به په الف بدليږي ،او بيا به حذف کيږي دوجې دالتقاء دسا کنينونه نو لازم به شي ابقاء دکلمې په حرف واحد باندې چې کاف دی فقط وذالايجوز.

سوال : هر کله چې بدلول دواو ضروري وو نو خاص په ميم ولی بدل شه؟

جواب : دوجې دمناسبت دواونه دميم سره په دې کښې چې دواړه شفوي دی.

پس ددينه پوهه شه چې دا ابدل (دفم) په هغه وخت کښې دی چې مفرد وي يامضاف وي ياء متکلم ته .اوچې کله يې اضافت وشي غيرياء متکلم ته نوبيا به واو معاد کيږي دوجې دزوال دعلت دابدال نه .**يقال فوك اوافواه وغيره وذومالٍ وهو مقرونٌ بالواوين** دا تحقيق صرفي دی نوو ايې چې دالفيف مقرون دی په واوينوسره **اذ اصله ذَوَوٌ** دايې دليل دی يعنې دا په اصل کښې ذَوَوٌ وو بيا دو اوثاني ضمه نقل شوه ماقبل ته او واو اوتنوين دواړه حذف شوه دپاره دتخفيف اوذال ته

ضمه ورکړی شوه دوجې داتباع دواونه فصارذُوْ **وانما اُضِیْفَ ذوالی الاسم الظاهر دون الکافِ** دادفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې اصل په اخواتوکښې مناسبت دی نوپکارده چې مصنف دذواضافت هم ضمیردمخاطب ته کړی وي په شان دابوک اخوک وغیره خلاصه دجواب یې داده چې اضافت دذوضمیرته خلاف دی دوضعې دذونه ځکه چې ذووضعه شویدی دپاره دتوصیف دیوشي په اسم جنس سره لکه جاءنی رجل ذومال اواسم جنس نه وي مګراسم ظاهروي والیه اشاربقوله **لانه لایضاف الاالی الاسماءالاجناس فاعرابُ هذه الاسماءالستةِ** غرض دشارح په فالاعراب کښې اشاره ده تعین دمتعلق دبالواوالخ ته اومصدریې مقدرکه دپاره ددې چې عمل ممکن شي په مذهب دبصریانواوکوفیانودواړوپس په مذهب دبصریانوبه تقدیرداشي چې **تعرب هذه الاسماءالستة بالواوالخ** اوپه مذهب دکوفیانوبه تقدیرداشي چې **معربة هذه الاسماء بالواوالخ** اوغرض دشارح دتقدیردهذه الاسماء الستة دفع داعتراضینو ده اعتراض اول دادی چې اخوک الخ متبداده اوبالواو الخ یې خبردی نوحکم په اخوک الخ کول په بالواو سره لغوه دی ځکه چې اخوک هسې هم مشتمل دی په واوسره اودااعتراض بنادی په دې قاعده چې فائدة الخبربه غیروي دفائدة المبتدانه اودغه شان حکم کول په اخوک الخ باندې په بالالف والیاء سره محال دی، ځکه چې اخوک مشتمل دی په واو نوځنګه به معرب شي په الف اویاسره.

درئم اعتراض دادی چې حکم کول په اخوک الخ په مضافةً الی غیریاء المتکلم سره لغوه دی ځکه چې داهسې هم مضاف دی غیریاء متکلم ته **فاجاب الشارح بقوله هذه الاسماءالستة** خلاصه یې دادی چې مرادمطلق اسماء سته دی نه دا مخصوص مذکورفی المتن چې مشتمل دی په واو او اضافت الی غیریاء المتکلم نولغویت اواستحاله نه لازمیږي **بالواورفعاً والالف نصباً والیاء جراً.**

غرض دشارح دتقدیردرفعاً نصبااوجرانه دفع دتعارض ده د عبارت دمصنف نه وهذا ظاهر وقد مر مثل هذا امر اراً فتذکر.

شرائط اربعة دپاره داعراب داسماء سته: پوهه شه چې اعراب کذایې داسماء سته مشروط دی په شروطو اربعوسره اول داچې مکبره به وي دوهم داچې موحده به وي دریم داچې مضاف به وي اوڅلورم داچې مضاف به وي الی غیریاء المتکلم ته نوشارح وایې چې

لکن **لامطلقاً الخ** نو دا اشاره ده شرط اول ته یعني اعراب مذکوره داسماء ستـه مطلقاً دی **بل حال کونها مکبرة اذ مصغراتها الخ** ځکه چې هغه اسماء چې دهغې مصغرات راتلی شي نو مصغرات یې معرب دی په حرکاتو سره لکه جاءنی اخیک الخ **وموحدةً** دا شرط ثاني دی مطلب دا چې دا اسماء به هله معرب په اعراب مذکور سره وي چې واحد وي **اذالمثنی والمجموع منها معرب باعراب التثنیة والجمع** یعني هغه اسماء ستة چې دهغې تثنیه او جمع راتلی شي نو تثنیه او جمع به یې معرب وي په اعراب دتثنیې او جمعې سره کما سیاتی چې هرکله ده مصغراتها او دغه شان دمثنی او مجموع معنی مونږه دغه شان بیان کړه نو اوس سوال ، نه واردیږي چې ذُوْهم داسماء ستـه نه دی حالانکه دی نه مصغیر کیږي او نه یې تثنیه او جمع راځي او یادامطلب دی چې داحکم په اعتبار داعم واغلب سره دی **فافهم وانما لم یصرح الخ** داعذر دی من جانب المصنف او دفع داعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې هر کله چې دا دوه قیده معتبرو نو مصنف پرې ولې تصریح ونه وکړه **فاجاب بقوله وانما لم یصرح بهذا القیدین** چې مصنف تصریح ونه کړه په دې قیدینو دوجې داکتفاء نه په مثالونو مطلب دادی چې اخوک ابوک وغیره مکبرهم دی موحد هم دی نو ناظرترې فهم ددې دواړو شرطونو کولی شي **مضافةً** دا شرط ثالث دی دپاره داعراب کذایې داسماء ستـه.

تحقیق لطیف: پوهه شه چې په عبارت دکافیې کښې قید دمضاف مقدم دی په بالواو الخ باندې او شارح مؤ خر کړی دی نو شارح تغیرو که په عبارت دکافیې کښې نو ددې څه وجه ده نو وجه دتغیرې داده چې شارح ملاجامي مازج دی او مازج دیته وایې چې خلط کړی عبارت دغیر د کلام خپل سره او وګنړی هغه کلام خپل او شارح مازج ځکه دی چې په بعضو دنسخو دشرح جامي کښې ؤمضافة په واو عاطفه سره راغلی ده نو مضاف یې عطف کړی په موحدة و مکبرة باندې او موحدة او مکبرة خو کلام دشارح دی نو کلام دمصنف چې مضافة دی یې خلط کړ دکلام خپل سره او معتبرېې که هغه لره کلام خپل پس هرکله چې شارح مازج وګرزیده نو دمازج دپاره تغیر جائزوي دوجې دنکتې نه نو ځکه شارح تغیرو که.

نکات دتغیردعبارت دکافیې سوال ماالنکتة فی هذا التغیر جواب ددې دپاره څلورنکتې دي

اَلنکتـةُ الاولـی: اوله نکته داده چې مضافة حال دی دضمیر مستتر نه په طرف یعني

بالواو کښې او داحالیت بنادی په دې قانون چې کله متعلق د ظرف مقدر او محذوف وي نو فاعل دهغې نه منتقل شي او مستترو ګرزی په ظرف کښې او ظرف عامل معنوي دی نو ظرف به لا محاله عامل وي په حال یعنې مضافة کښې نو که مضافة معدم شي په ظرف نو لازم به شي تقدیم دحال په عامل معنوي **وهذا لایجوز کما قال المصنف فی بحث الحال ولایتقدم الحال علی العامل المعنوي** ځکه چې عامل معنوي ضعیف دی سوال: په کافیه کښې مضاف ولې مقدم کړی دی آیا دا نقصان هلته نه لازمیږي جواب تقدیم دحال په عامل معنوي ناجائزدی عند المصنف هم خو بخلاف الظرف یعنې که چرې عامل ظرف وو نو تقدیم دحال پرې جائزدی دوجې دتوسع نه په ظروفو کښې.

النكتة الثانية: دوئمه نکته داده چې مقصود په دې مقام کښې بیان داعراب او دمواضعو داعراب دی نه بیان دشرائطونو بالواو اعراب داسماء سته دی او مضافة وغیره یې شراط دی نو بالواو الخ ،یې دمقصودیت دوجې نه مقدم کړ په مضافة باندې.

النكتـة الثالثـة: درئمه نکته داده چې شارح تغیر کړی دی په متن د کافیې کښې دپاره دموافقت داسلوب سابقه ،اسلوب په سابقه مواضعو کښې اتصال دخبر دی دمتبدا سره نو دلته هم بالواو الخ مقدم کړ په مضاف باندې دپاره داتصال دخبر دمبتدا سره چې اخوک الخ دی.

النكتة الربعة: څلورمه وجه داد ه چې مضافة یې مؤخر کړ دپاره ددې چې تمام شرائط ددې اسماء جاری شي په وتیره واحده باندې یعنې مؤ حدة مکبرة هم مؤخر وو دبالواو نه نو مضافة یې هم مؤخر که ددوی نه دموافقت دپاره **لانها اذا كانت** دابیان دفائدې د قید دمضافة دی یعنې داخبره ځکه داسې ده چې که چرې دا مکبره او موحده وي لیکن مضاف نه وي بالکل **ای لاالی یاء المتكلم ولاالی** غیرها پس اعراب به یې حرکاتو سره لکه **جاءنی اخ الـخ فینبغی ای یجب ان تكون مضـافة** پس واجبه شوه چې دادی مضاف وي ولکن الی غیر یاء المتکلم ته **لانها اذا كانت مضافة الی یاء المتكلم** یعنې داځکه چې که چرې دامضاف وي یامتکلم ته **فحالها كحال سائر الاسماء المضافة** حال به یې په شان دباقي اسماء مضافه الی یاء المتکلم وي یعنې معرب به وي په اعراب تقدیري سره په احوالو ثلثو کښې لکه **هذا اخي رایت اخي مررت باخي وقس علیه البواقي ولم یکتف فی هذا الـخ** غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدره حاصل یې دادی چې لکه څنګه چې مصنف قید دموحدة او مکبرة صراحة ذکر نه کړ او اکتفاء یې وکړه په مثالو

نو نو پکاره ده چې قید د مضا فةً یې هم نه وی ذکر کړی او اکتفاء یې په مثال کړی وي ځکه چې ابوک الخ لکه څنګه چې موحده مکبره دی نو دغه شان مضاف هم دی .

فاجاب الشارح بقوله ولم یکتف فی هذا الشرط بالمثال او مصنف اکتفاء ونه کړه شرط کښې په مثال **لئلا یتوهم اشتراط اضافتها بکونها الی الکاف** دپاره ددې چې توهم ونه شي د اشتراط داضافت ددې اسماء کاف یعنې ضمیرته دپاره ددې اعراب کذا یې یعنې داتوهم څوک ونه وکړي چې ګنی شرط ددې اسماء سته داعراب دپاره به داوي چې مضاف به وي کاف ضمیرته خامخا او منشاء دتوهم داده چې په مثال کښې دا اسماء مضاف دی کاف ته حالانکه امر کذالک نه دی ځکه چې دا اسماء معرب دی په اعراب کذا یې سره برابره خبره ده چې اضافت یې ضمیر د مخاطب ته شوی وي کما مر یا ضمیر د غائب ته .لکه **جاءني اخوزید رایت اخازید مررت باخی زید**.

دعاوي ثلثه: **قوله وانما جُعِلَ اعرابُ الخ** پوهه شه چې غرض د شارح په دې مقام کښې اثبات د دعاوي ثلثو دی ،اوله دعوی ګرزول د بعض احادُ یعنې مفردا معرب بالحروف دوئمه دعوی انتخاب د شپږو اسماء دپاره داعراب بالحروف درئمه دعوی انتخاب ددې اسماء سته مذکوره .

دعوی اوله او دهغې اثبات: په ضمن د سوال او جواب کښې سوال اسماء سته مکبره مفردات دی او اصل په مفرداتو کښې اعراب بالحرکة دی نو پکاره ده چې دا معرب بالحرکات وي نو دا ولی معرب شو په حروفو سره **فاجاب الشارح بقوله وانما جعل اعراب هذه الاسماء بالحروف** دا دعوی ده یعنې خبره داده چې وګرزولی شۀ اعراب ددی اسماء په حروفو سره **لانهم لما جعلوا اعرابَ المثنی وجمعِ المذکر السالم بالحروف** دا یې دلیل دی یعنې داځکه چې هر کله چې نحاةُ وګرزو اعراب د تثنیي او جمع مذکری سالمي په حروف سره او اعراب د مفرداتو په حرکاتو سره **ارادوا ان یجعلوا اعرابُ بعضِ الآحادِ ایضا کذالك** نو دوی اراده وکړه چې وګرزی اعراب د بعضی مفرداتو هم دغه شان یعنې بالحروف **لئلا یکونَ بینهما وبین الاحاد وحشة ومنافرةٌ تامةٌ** دپاره ددې چې نه شي په مابین د تثنیی جمعې او مفرداتو کښې وحشت او منافرت تامه بلکې د دوی په مابین کښې انس پیدا شي او خارجې دلیل ددې دپاره دادی چې اعراب بالحروف اګرچې فرعه د اعراب بالحرکات ده لیکن حروف اقوی دی د حرکاتو نه ځکه چې هر واحد ددې حروفو په شان د حرکتینو دی یعنې واو په شان د ضمتینو دی او الف په شان د فتحتینو دی او یا په شان

دکسرتینوده نونحاة مکروه وګڼله چې تثنیه اوجمع چې فرعي دمفرددی مُستبِد یعنې مستقل وګرزی په اعراب اقوي نوپه دې وجه بعض احادلره یې اعراب بالحروف ورکه.

دعوی ثانیه اودهغې اثبات: په ضمن دسوال اوجواب کښې سوال چې هرکله منظوروونحاة ته اعراب دبعض احادوپه حروفوسره نوشپږ اسماء یې ولې ددې دپاره منتخب کړل **فاجاب الشارح بقوله انما اختاروا هذه الاسماء الستة** دادعوی ده یعنې خبره داده چې نحاة غوره کړل شپږ اسماء نه زیات اونه کم **لان اعراب کل من المثنی والمجموع** دایې دلیل دی یعنې ځکه چې اعراب دهرواحد دمثنی اوجمع درې درې دي نوکل حالات اعربیه شپږشو **فجعلوا فی مقابله کل اعراب اسما** پس وګرزودوی په مقابله دهرحالت اعرابي کښې یویواسم نواسماء هم شپږشو.

دعوی ثالثه اودهغې اثبات: په ضمن دسوال اوجواب کښې (سوال) خاص داشپږ اسماء یې ولې غوره کړل، اسماء خونورهم ډیردی.

فاجاب الشارح بقوله وانما اختارُوا هذه الاسماء الستة دادعوی ده اوخبره داده چې نحاةُ غوره کړل دااسماء سته **لِمشَابهتِهَا المثنی والمجموعَ** دایې دلیل اول دی یعنې دوجې دمشابهت ددی اسماء نه دمثنی اومجموع سره فی کون معانیهامنبئة عن تعدد دایې وجه دمشابهة ده په کون دمعانیوددې اسماء کښې مشعرپه تعددباندې، مطلب دادی چې دااسماء مشابه دی دمثنی اودجمع سره په معنی کښې اوداځکه چې لکه څنګه مثنی اوجمع دلالت کوي په تعددنودغه شان دااسماء هم دی ځکه چې اخ وئیلی شي من له الاخ ته اب ویلی شي من له الابن ته اوهن شي منکرته وایې نودادلالت کوي په منکرباندې اودغه شان فم هم مشعردی په لسان دهان اوانسان باندې **ولوجودِ حرفٍ صالحٍ للاعرابِ فی اواخرهِا حین الاعرابِ سماعًا** دادلیل ثاني دی دپاره ددې دعوی، نووایې چې دوجې دوجودحرف صالح للاعراب نه په آخرددې اسماء سته کښې په وخت داجراء داعراب کښې من حیث السمع ځکه چې اخ په اصل کښې اخوو اواب په اصل کښې ابو وو هکذانو په اخرددوی کښې حرف صالح للاعراب موجودوونوځکه یې دامختاره کړل **بخلاف سائرالاسماء المحذوفةِ الاَعْجَازِ** دادفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې حرف صالح للاعراب په اخیرداسماء محذوفة الاعجازکښې هم موجوددی لکه دم په اصل کښې دموو، وغیره نوهغه یې ولې مختاره نه کړل نوشارح جواب وکه چې په خلاف دباقي اسماء محذوفة الاعجازنه یعنې هغه اسماء چې حرف اخیریې خلاف قیاس حذف شوی وي

لکه یداودم **فانه لم یسمع فیها من العرب** ځکه چې نه دی مسموع دعربو نه **اعادة الحروف المحذوفة عند الاعراب** اعادة دحروف محذوفه په وخت دااجراء دعراب کښې په دوئ باندې اوپه اسماء سته مکبره کښې اعاده ددې حروف محذوفه مسموع ده دعربو نه په دې وجه یې داخاص اسماء مختاره کړل اونوراسماء یې غوره نه کړل .

هرکله چې فارغ شه مصنف دبیان دهغه مواضعونه چې معرب ووپه اعراب بالحروف حقیقي سره نوشروع یې وکړه په هغه مواضعو کښې چې معرب دی په اعراب بالحروف حکمي سره فقال **المثنی**.

سوال: مثنی به خالي نه وي یابه ترې مرادلفظ دمثنی وي یاماصدق علیه دمثنی که مرادلفظ دمثنی وي نوحکم کول په ده په بالالف رفعاوالیاء نصباو جرا سره غلط دی ځکه چې اعراب دلفظ مثنی داسې نه دی بلکې تقدیری دی په شان دعصاوغیره ځکه چې لفظ دمثنی اسم مقصوردی اوکه مراد ماصدق علیه دمثنی وي نوبیاپرې عطف دکلا اواثنان اثنتان لغوه اومستدرک دی ځکه چې کلااواثنان وغیره هم ماصدق علیه دمثنی دی یعنې مثنی پرې صادقه ده ځکه چې داالفاظ هم دلالت کوي په اثنینیت باندې .

جواب: مراد ماصدق علیه دمثنی دی اوماصدق علیه دلفظ مثنی هغه لفظ ته وایې چې دلالت کوي په اثنینت اومفردمن لفظه ورله موجودوي نوعطف دکلاوغیره صحیح شه ځکه چې المثنی کلاوغیره ته نه دی شامل ځکه چې ددوی دپاره مفردمن لفظه نشته **وما یُلْحَقُ به وهو کلاَوکلتَا** دا بیان دحال دکلااوکلتادی یعنې داعین تثنیه نه ده بلکې ملحق بالتثنیه دی.

سوال کلااوکلتاولی ملحقات دتثنیې دی اوعین تثنیه نه ده ؟

جواب: ددې دپاره دوه دلائل دی **دلیل اول** دادی چې دې ته ضمیرد مفردراجع کیږي لکه **کلاالرجلین جاء اوکلتاالجنتین اتت اکلها** نوضمیرداتت واحدمؤنث دی اوراجع دی کلتاته .

دلیل ثاني: دادی چې عین تثنیه هغې ته وایې چې دلالت کوي په اثنینیت اومفردمن لفظه ورله موجودوي لکه رجلان اوکلاکلتااگر چې دلالت کوي په اثنینیت خو مفرد من لفظه نهٔ لري **وکذالکتَا** په دې کښې اشاره ده عطف تلقین ته دپاره دتکمیل دمقام .

قاعده دکلا اوکلتا: پوهه شه چې کلاپه اصل کښې کلوو واوبدل شه په الف عند سیبویه اوکلتا مؤنث دکلادی تایې بدله ده دواو نه اوالف یې دپاره د تانیث دی اوقاعده یې داده چې

کلا او کلتا د اضافت نه نهٔ منفک کیږي نو مضاف الیه د کلا کلتا به لامحاله تثنیه وي لکه کلاالرجین یا به ضمیر د تثنیی وي لکه کلاهما، مفرد ته یې اضافت بیخي نه کیږي، البته مفرد متعدد ته یې اضافت کیدی شي لکه کلا زید وعمرو **ولم یذکرهٔ** په دې کښې اشاره ده اعتراض ته چې هر کله اعراب کذایي د کلتا هم وو نو ذکر کول یې ضروری وو نو شارح وایې چې ذکریې نهٔ که اکتفاء بالاصل ځکه چې کلتا فرعه د کلا ده او دا ځکه چې کلتا مؤنث د کلا دی، او مؤنث فرعه د مذکر ده او ذکر د اصل کافي وي **مضافًا ای حال کون کلا الخ**. غرض د شارح بیان د وجې د نَصب د مضافا دی ځکه چې نصب د پاره طرق کثیره دی **فکان سائلا یسئل انه من ای جهة منصوب فاجاب الشارح بانه منصوب علی الحالیة من قوله کلا وکلتا** دا یې ذو الحال دی.

سوال: حالیت د مضافة د کلا نه غیر صحیح دی، ځکه چې حال واقع کیږي د فاعل او د مفعول نه او کلا مبتدا ده ؟

جواب: حالیت د مبتدا نه صحیح دی په نزد د ابن مالک نحوی یا دا چې کلا فاعل د پاره د فعل مقدر دی چې یعرب دی یعنې **یعرب کلا حال کونه مضافا الخ** اوبل غرض د شارح په دې تفسیر کښې دفع د اعتراض مقدر ده، چا به وی چې هر کله مضافة قید شه د پاره د کلا نو دا به قید د پاره د مثنی هم وي ځکه چې مثنی او کلا معطوف او معطوف علیه دی او کوم شی چې قید وي د پاره د معطوف نو هغه قید د پاره د معطوف علیه هم وي نو بیا په دې لازم شهٔ تقید د اعراب د مثنی په قید د اضافة حالانکه امر کذالک نه دی ځکه چې اعراب د مثنی مطلق دی د قید د اضافة نه نو شارح جواب وکه چې قید د اضافة فقط د پاره د کلا او کلتا دی **وانما قید بذالک** د دې عبارت د وه مقصد دی یو بیان د فائدی د قید د مضافة د پاره د کلا او بل بیان د دلیل دی د پاره د اعطاء د اعراب بالحروف کلا ته خلاصه یې دا ده چې کلا ذو شبهین دی یعنې مفرد دی په اعتبار د لفظ سره د وجې د ارجاع د ضمیر د مفرد نه ده ته او تثنیه ده په اعتبار د معنی سره د وجې د وقوع د ده نه تاکید د پاره تثنیی لکه جاءني الرجلان کلاهما نو لفظ یې تقاضا کوي د اعراب بالحرکة لکونه مفرداً او معنی یې تقاضا کوي د اعراب بالحروف لکونه مثنیً او په مضاف الیه د دې کښې هم احتمالین دی یو دا چې مضاف الیه یې اسم ظاهر وي لکه کلا الرجلین او بل دا چې مضاف الیه یې ضمیر وي لکه کلاهما نو رعایت د شبهینو په کښې اولی وګرزیده پس چې کله مضاف وي اسم ظاهر ته نو رعایت به یې کولی شي د لفظ، نو معرب به وي

بالحرکةاوچې کله یې مضاف الیه ضمیروي نو رعایت به یې کولی شي دمعنی نومعرب به وي بالحروف والتفصیل فی الشرح نوشارح وایې چې خبره داده چې مصنف مقید کۀ کلالره په قید داضافةلان کِلاَباعتبارلفظه مفرد ځکه چې کلاپه اعتبار دلفظ سره مفرددی . وباعتبارمعناه مثنی اوپه اعتبار دمعنی سره تثنیه ده فلفظه یقتضی الاعراب بالحرکات پس لفظ یې تقاضا داعراب بالحرکات کوي ومعناه یقتضی الاعراب بالحروف اومعنی یې تقاضاداعراب بالحروف فَرُوعِی فیه کِلاَالاعتبارین پس رعایت وکړی شۀ په ده کښې ددواړو اعتبارینو فاذااُضیفَ الی المُظهرالذی هوالاصل داتفصیل داعتبارینودی سره دبیان د وجوهاتونه پس هرکله چې اضافة وکړی شي دکلااسم ظاهرته هغه اسم ظاهرچې اصل دی ، په دې کښې اشاره ده وجې داعراب بالحرکة ته اواسم ظاهرځکه اصل دی چې محتاجه نه دی مرجع ته په خلاف دضمیرنه چې هغه محتاجه وي مرجع ته اوعدم احتیاج اصل دی داحتیاج نه رُوعِی جانب لفظهِ الذی هوالاصل نورعایت وکړی شه دجانب دلفظ دکلا ، چې هغه هم اصل دی نو په دې وخت کښې وګرزیده ، کلامعرب په اعراب بالحرکات چې اصل دی یعنې اصل اصل ته ورکړی شو هرکله چې متوهم توهم وکه چې هرکله کلاته ورکړی شۀ اعراب اصلي چې بالحرکة دی نوګنې اعراب به یې لفظي وي ځکه چې اعراب لفظي اصل دی فدفع الشارح هذاالوهم بقوله لکن تکون حرکاتهُ تقدیریةً یعنې اعراب دکلاپه دغه وخت کښې تقدیری دی لان آخره الف دایې دلیل دی یعنې اعراب یې تقدیری ځکه دی چې په آخردکلاکښې الف دی اوپه الف باندې اعراب لفظي نه شي جاری کیدی تَسْقط.

بالتقاءالساکنین اوهغه الف سا قطیږي په وجه دالتقاء دساکنینوچې یوالف دی اوبل لام .

فائده : پوهه شه چې فاضل سمرقندی وایې چې ددې عبارت یعنې تسقط الخ دپاره څه دخل نیشته په کون داعراب تقدیری کښې دپاره دکلا ،ځکه چې کون دالف په اخرکښې کافي دی دپاره داعراب تقدیری برابره خبره ده چې ملفوظ وي اوکه محذوف نو دا عبارت دفع دسوال ده ګویاچاتپوس وکۀ چې هغه الف دآخردکلانه ولې ساقط شۀ نوشارح جواب وکه بقوله بالتقاء الساکنین نحوجاءنی کلاالرجلین الخ واذااُضیفَ الی المضمرالذی هوالفرعُ اوهرکله چې اضافت یې وشي ضمیرته چې فرعه ده رُوعِی جانبُ معناهُ الذی هوالفرع الخ نوکیږي به رعایت دجانب

دمعنی دکلاچې هغه فرعه ده ،چې معنی یې معنی دتثنیی ده اومعرب کولی به شي په حروفو سره چې هغه هم فرعه ده یعنې فرعه فرعی ته ورکولی شوه **فلذلك قيد كونَ اعرابِهِ بالحروفِ** دا نتیجه ددلیل مذکورده فلا یلزم الاستدراک پس په دې وجه مقید کۀ مصنف کون داعراب دکلا په حروفو کون دده سره مضاف مضمرته **واثنان وكذا اثنتان** غرض دشارح دتقدیر کذا نه اشاره ده دیته چې عطف داثنتان په اثنان عطف ذمشبه دی په مشبه به باندې .

سوال: اثنتان مؤنث دی داثنان نو مصنف دلته ولی اکتفاء ونه کړه په اصل باندې ؟

جواب: ذکردشی اصل وي په مقام دبیان کښې .پس دذکرکولو داثنتان دپاره نکتې ته حاجت نشته لان النكتة للفارای عن الاصل لا للقارای علی الاصل **فان هذه الالفاظ** دادلیل دالحاق داثنان اثنتان دی په مثنی پورې نو وایې چې بی شکه داالفاظ اګرچې مفردات دی یعنې دتثنیي الفاظ نه دی ځکه چې تعریف دتثنیي پرې نه دی صادق **لكن صورتها صورة التثنية** لیکن صورة یې صورة دتثنیي دی چې په اخر کښې یې الف نون زاغلی دی **ومعناها معنى التثنية** او معنی یې معنی دتثنیي ده چې دلالت دی په اثنینیت باندې پس ملحق شو په مثنی پورې **بالالف رفعًا والياء المفتوح ما قبلها جرا كما سيجي** داخبر دی دپاره دالمثنی الخ یعنې مثنی اوملحقات دمثنی به په الف سره وي په حالت رفعي کښې او په یاماقبل مفتوح سره به وي په حالت نصبي اوجری کښې په قید دالمفتوح کښې اشاره ده فرق ته په مابین دتثنیي اوجمع کښې اودرفعانصباجر افائده بیان شویده **فتذكر جمع المذكر السالمُ** دامبتداده اوبالواو والیاء یې خبر دی دابل موضع دی داعراب بالحرف حکمي وسیاتې پوهه شه چې السالم په رفعي سره صفت دی دپاره دجمع اوصفتیت دالسالم معرف باللام دپاره دجمع صحیح دی ځکه چې جمع مضافه ده معرفه ده باللام ته اومضاف کسب کوي تعریف لره دمعرفی نه **والمرادُ به** دا تعین دماهو المراد دی دجمع نه اودفع دسوال ده حاصل یې دادی چې جمع المذکر به خالي نه وي یابه ترې مراد جمع مذکرحقیقي وي نو اعراب کذائی به شامل شي مسلمون وغیره ته لیکن شامل به نه شي ارضون اوسنون وغیره ته ، ځکه چې جمع مذکره حقیقي دیته وایې چې مفردمذکروي حقیقة .اوارضون جمع دارضة ده اوسنون جمع دسنة ده اودامؤنث دی اوکه مراد جمع مذکرمجازي وي نوا عراب مذکوربه شامل شي ارضون سنون ته لیکن خارج به شی ددې نه مسلمون وغیره اوکه دواړه مرادوی نولازم به شي جمع بین الحقیقة

والمجاز فاجاب الشارح بقوله والمراد به ما سُمي به اصطلاحًا يعني مراد جمع مذكر اصطلاحي ده شامله د ه حقيقي او مجازی دواړو ته په طريقي دعموم مجاز سره وهو الجمعُ بالواو والنون او دا هغه ده چې جمع وي په واو نون سره برابره خبره ده چې مفرد يې مذکروي او که مؤنث فيدخلُ فيه الخ داپرې تفريع ده پس داخل شو په دې کښې مثل دارضون او سنون دهغه الفاظونه چې واحد دهغې مذکرنه وي ليکن جمع شوی وي په واو اونون سره وما الحِقَ به دابيان دحال داُولو او دعشرون وغيره دی چې داملحقات دجمعې دی او عين جمع نه ده نو وايې او هغه چې ملحق دی په جمع مذکرپورې وهو اُولُو جمع ذو هغه اُلو دی چې جمع دذُو ده په معنی دصاحب سره نو سوال وارد شه چې بيا داُلو عين جمع وګرزی چې مفرد يې موجود دې نو شارح جواب وکه بقوله لا عن لفظه يعني ذو يې بې شکه مفرد دې حو من لفظه نه دی وعشرون واخواتها ای نظائرها دا دفع داعتراض مقدرده چې نسبت داخوات عشرون ته نه دی صحيح ځکه چې اطلاق داخواتُ په ذوی الروحو کيږي او ثلثون اربعون وغيره ذوی الروح نه دی نو شارح وايې چې مراد داخواتُ نه نظائر او امثال دی وليس عشرونَ جمع عشرة دا دفع د اعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې نه منو دا خبره چې عشرون او ثلثون دمحلقاتونه دی بلکې عشرون جمع دعشرة ده او ثلثون جمع دثلثه ده

فاجاب الشارح بقوله وليس عشرون جمع عشرة ولا ثلثون جمعُ ثلثةٍ والا تصحُ اطلاقُ عشرين على ثلثين لانه ثلاثةُ مقادير العشرة اونه ده عشرون جمع دعشرة اونه ثلثون جمع دثلاثة ده ورنه صحيح به شي اطلاق دعشرون په ثلاثون يعني ديرشو (۳۰) باندې ځکه چې دادرې مقاديرد عشرون دی مطلب دادی چې اقل افراد دجمع درې دي نوبنا په دې به اطلاق دعشرون لامحاله کيږي په دريو عشرو باندې او ددريو عشرونه ثلثون جوړيږي واطلاقُ ثلثين علَى التسعةِ او لازم به شي اطلاق دثلثون په تسعه باندې لانها ثلثةُ مقادير الثلاثةِ ځکه چې تسعه درې مقاديرد ثلثه دی يعني اقل افراد دجمع درې دي نو که چرې ثلثون جمع دثلثة شي نو لامحاله به دثلاثه نه درې ثلاثی مرادوي او درې ثلاثې تسعه دی او دغه شان باقې عقود ثمانيه هم دی وايضا هذه الالفاظ تدل علی معانٍ معينةٍ دا جواب ثاني دی داعتراض مذکورنه نو وايې چې داالفاظ يعني عشرون وغيره دلالت کوي په معينو معنو باندې چې شل او ديرش وغيره دي ولا تعين في الجموع حالانکه

تعین په جموعو کښی نه وي لکه رجال او مسلمو ن نو ځکه دا جموع حقیقي نه شو **بالواو رفعاً الخ** داخبردی دپاره دجمع المذکر.

وجهُ اعرابِ المثنَي والجمعِ مع ملحقاتهما بالحروف: **قوله وانما جُعلَ اعرابُ المثنی** غرض دشارح ددي عبارت نه اقامت دبرهان دی دپاره داعراب دمثنی اوجمع اوملحقاتو ددې په حروفو سره اووجه دترتیب مذکورده نووایې چې خبره داده بلکه نه ده چې وګرزولی شئ اعراب دمثنی سره دمحلقاتو دمثنی اودجمع سره دملحقاتو ددې په حروفو سره **لانهما فرعان للواحد** ځکه چې مثنیٰ اوجمع دواړه فرعي دواحددی اواعراب بالحرف هم فرعه ده داعراب بالحرکة **وفی اخرهما حرفٌ صالح للاعراب** داددفع دسوال ده چې مؤنث سالمه خوهم فرعه دواحدده نوهغه دی هم معرب بالحروف شي نوشارح وايې په جواب کښی چې په اخر دمثنی اوجمع مذکری سالمې کښی حرف صالح داعراب موجوددی چې هغه علامت دتثنیی (الف نون یا ،نون اودجمع (واونون یانون) دی **فناسبَ اَنْ یُجْعَلَ ذالك الحرفُ اعرابَهما لیکون اعرابُهما فرعاً لاِعرابهِ** پس مناسبه شوه چې وګرزولی شي دغه حرف ،اعراب ددوئ دپاره ددې چې شي اعراب دمثنی اوجمع فرعه داعراب دمفردددوي **کما انهما فرعانِ لهُ لان الاعرابَ بالحروفِ فرع للاعراب بالحرکاتِ** لکه څنګه چې دادواړه فرعی دواحددی ځکه چې اعراب بالحروف فرعه داعراب بالحرکاة ده.

بیان دتوزیع اوتقسیم دحروفو اعرابیو ثلثو یعنیٰ واو الف یا په مثني اوجمع مذکری سالمی باندې اوشارح یې تفصیل بیان کړیدې په دې عبارت کښی **ولما جُعِلَ اعرابُهما الخ** نوغرض دشارح بیان دنکتې دی اودفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې هرکله اعراب د مثنی اوجمع مذکرو ګرځیده بالحروف نو څه وجه ده چې تثنیي ته الف ورکړی شو په حالت رفعي کښی اویاپه حالت نصبي اوجری کښی ،اوجمع مذکری ته ورکړی شه واوپه حالت رفعي کښی اویاپه حالت نصبي اوجري کښی **فاجاب الشارح ولما جعل اعرابهما بالحروف** اوهرکله چې وګرزولی شو اعراب دمثنی اوجمع په حروفو سره **وکان حُروفُ الاعراب ثلثة** اوحروف اعرابیه وودرې یعنې د(و الف یا **واعرابُهما ستةٌ** اوحالات اعرابیه ددواړوشپږ **ثلثةٌ للمثنی وثلثةٌ للمجموع** درې دپاره دتثنیي اودرې دپاره دجمع یعنې حالت رفعي نصبي جری **فلو جُعِلَ اعرابُ کل واحدٍ منهما بتلك**

الحروف الثلثة پس که چرې وګرزولی شي اعراب دهرواحد دمثني اوجمع په دغه حروفوثلثوسره يعني که وګرزولی شي واوعلامه درفع ددواړاوالف علامه دنصب اوياعلامه دجر لوقع الالتباس نوخامخابه واقع شي التباس په مابين دمثنی اوجمع کښی وهذا باطل ولوخص المثنی بها، اوکه چرې خاص کړی شي مثنې په دغې حروفو اعرابيو سره بقي المجموع بلااعراب نوپاتې به شي جمع بغيرداعراب نه لوخص المجموع بهابقي المثنی بلااعراب اوکه چرې خاص کړی شي جمع په دغې حروفوپورې نومثنی به بغيرداعراب نه پاتې شي وهذا لايجوزايضاً ځکه اعراب تقاضادهرواحدده هرکله چې دا ټول صورتونه ممنوع شونوشارح وايې فوزعب عليها پس تقسيم کړی شودغه حروف اعرابي په دواړو بأن جعلواالالف علامة الرفع في المثنی دابيان دتوزيع اووجه دترتيب کذايې ده يعني په دې شان سره چې وګرزونحاةُ الف لره علامه درفعي په مثنی کښی لانه الضميرُالمرفوعُ للتثنية في الفعل نحويضربان وضربادايې دليل اووجه دمناسبت ده يعني داځکه چې الف ضميرمدفوع دتثنيي دی په فعل کښی لکه يضربان اوضربانوالف په دې کښی علامه درفع اوضميردفاعل دی نو مناسبه شوه اعطاء دالف تثنيي ته په حالت رفعي کښی والواوَعلامةَ الرفعِ في المجموع الواوعطف دی په الالف باندې نومنصوب دی اووېې ګرزو واو لره علامه درفع په جمع کښی لانه الضميرُالمرفوعُ للجمع في الفعل دايې دليل اووجه دمناسبت ده يعني ځکه چې واوضميردفاعل دی نومناسبه شوه اعطاء دواوجمع ته په حالت رفعي وجعلوااعرابهمابالياءِحالَ الجرِعلی الاصل اووګرزو نحاةُ اعراب ددواړوپه ياسره په حالة جری کښی بنابراصل يعني اصل داده چې وګرزی اعراب ددواړوپه ياسره په حالة نصبی اوجری کښی وفرقوابينهمادادفع دسوال ده چې هرکله اعراب ددواړوپه ياسره وګرزيده شو التباس په مابين ددواړوکښی پس شارح جواب وکۀ چې فرق وکۀ نحاةُ په مابين ددواړوکښی بأن فتحواماقبلَ الياءِفي التثنية لخفةِالفتحة وكثرةِالتثنيةِ په دی شان سره چې دوی فتحه ورکړه ماقبل دياته په تثنيه کښی دوجې دخفة دفتحې اوکثرت دتثنيي نه يعني تثنيه کثيره ده په نسبت سره جمع ته اوکثرة تقاضاکوي دتخفيف اوفتحه اخف الحرکات ده نوځکه دی ته ورکړی شوه.

سوال: تثنيه ولی کثيره ده دجمع نه ؟

جواب وجه داده چې جمع موقوفه ده په افرادو ثلثو او په شروطو کثیرو کما بین فی موضعه او تثنیه موقوفه ده په فردینو او مشروط نه ده په شروطو او چې کوم شی مشروط نه وي نو هغه اکثرُوجوداً وي دهغه نه چې مشروط په شرطووي **وکسرُوهُفی الجمع لثقل الکسرة وقلة الجمع** اومکسوریې وګرزوماقبل دیالره په جمع کښې دجې دثقل دکسرې اودقلة دجمع نه جمع قلیل الوجود ده کما مراو کسره ثقیله ده او قلیل تحمل دثقیل کولی شی **وحَمَلواالنصبَ علی الجرِلا علی الرفعِ** دادفع دسوال ده چې حالت نصبي يې ولې محمول کۀ په حالت جری باندې او په حالت رفعي يې محمول نه که نوشارح وایې چې محمول یې که حالت نصبي په حالت جرې نه په حالت رفعي **لمناسبة النصب بالجر** دوجې دمناسبت دنصب نه دجر سره **لوقوعِ کلٍ منهما فضلةً فی الکلام** وایې وجه دمناسبت ده یعنې دوجې دوقوع دهر واحد دنصب او دجر نه فضله په کلام کښې ځکه چې نصب فضله بالذات دی او جر فضله بالواسطه دی دامعنی چې مجرور دجار هم مفعول به وي خو په واسطې دباسره لکه مررت بزیدٍ

سوال : هر کله چې حاصل شه فرق په مابین دتثنیې او جمع کښې په حرکت دماقبل الیاء سره نو څه حاجت وو فرق آخر ته چې هغه کسره دنون ده په تثنیه کښې او فتحه دنون ده په جمع کښې؟

جواب : داځکه چې په بعض مواضعو کښې نه حاصلیږي فرق په حرکت دماقبل الیاء سره لکه مصطفین مثنی ومجموعًا پس که چرې نون دمصطفین مکسور وونو تثنیه به وي او که مفتوح وونو جمع به وي فافهم یادا چې نون دتثنیې ته کسره ورکړی شوه ځکه چې که فتحه ورکړی شي نو لازم به شي توالی داربعه فتحاتو په حالت رفعي کښې یو فتحه دالف نه مخکښې ده اودوه فتحې دالف نه جوړیږي او بله فتحه دنون ده نو ځکه نون مکسور شۀ او حالت جری ارنصبي قیاس شو په رفعي باندې او نون دجمعي مفتوح شۀ ځکه چې نه لازمیږي توالی داربعه فتحاتو **ولما فرغ من تقسیم الاعراب الی الحرکة والحرف وبیان مواضعهما المختلفة** غرض دشارح ددې عبارت نه تذکیر دماسبق دی او تمهید دی ما اتیه ته نو وایې چې هر کله فارغ شو مصنف رحمه الله دتقسیم داعراب نه حرکة او حرف ته او بیان دمواضعو مختلفو ددواړو نه داتذکیر دماسبق دی **شرَع فی بیان مواضع الاعراب اللفظي والتقدیري** نو اراده دشروع یې وکړه په بیان داعراب لفظي او تقدیري کښې داتمهید دی ماآتیه ته **اَلذین اُشیرَ الخ** دا دفع داعتراض ده

حاصل يې دادی چې بيان داعراب لفظي اوتقديری فرعه دتقسيم داعراب ده نو پكار ده چې اول يې تقسيم كړی وي د اعراب لفظي اوتقديری چې اشاره شوی ده دتقسيم داعراب دی دواړوته په ماسبق كښی خلاصه داچې تقسيم اګرچې صراحة نه دی شوی ليكن معلوميږي ضمنًا په بيان دحكم دمعرب كښی **حيث قال وحكمه ان يختلف آخره باختلاف العوامل لفظا اوتقديرا وهذا كاف** **ولما كان التقديري اقل** داوجه دتقديم داعراب تقديری ده اودفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې اعراب لفظي اصل دی دتقديری نه په يوځو وجوهاتو سره يو دا چه اعراب لفظي محتاجه نه دی تقدير ته اوعدم احتياج اصل دی بل داچې اعراب علامه ده دمعنی مقتضی للاعراب اواصل په علامه كښی ظهوردی اوظا هرنه دی مګراعراب لفظي ،پس هركله چې اعراب لفظي اصل شئ نودې مقدم كول پكارو نومصنف اعراب تقديری ولې مقدم كئ نوشارح جواب وكه چې اعراب تقديري ډيرقليل دی ځكه چې دی په دوه ځايونو كښی را ځي فقط يوپه هغه موضع كښی چې اعراب لفظي متعذروي اوبل په هغه موضع كښی چې اعراب لفظي پكښی ثقيل وي اوهغه شي چې اقل وي نوهغه اسهل وي اوچې كوم شي اسهل وي نوهغه اقرب الی الحفظ وي **أشار إليه أولاً** نواشاره وكړه مصنف هغې ته اولاً بناپه عادت دمصنفينو **ثم بين أن اللفظي فيما عداه** اوبيايې بيان وكه ددې چې اعراب لفظي ماسوا داعراب تقديری نه دی **التقدير أي تقدير الاعراب** په دې تفسيركښی اشاره ده ديته چې الف په التقديركښی يا عوض دی دمضاف اليه نه ياعهدی دی اوغرض په دی كښی رددې په شارح هندي باندې هغه وايې چې التقديرصفت دی دپاره دموصوف مقدر نوتقدير دعبارت دادی چې الاعراب التقديری نوشارح ملاجامي ردو كه په هغه بقوله المذكوروجه درد يې داده چې په تقديردشارح كښی ارتكاب دقلة الحذف دی چې هغه مضاف اليه دی فقط اوپه تقديردشارح هندې كښی كثرة الحذف دی چې هغه حذف دموصوف اويانسبتي دی اوقلة الحذف اولی دی دكثرة الحذف نه **فيما تعذر أي الاسم** غرض دشارح تعين دماهوامراددې دلفظ مانه اودفع داعتراض ده حاصل يې دادی چې لفظ ماعام دی شامل دی اسم اوفعل دواړوته نوپكارده چې مقدرشي اعراب په رمي اويدعو كښی هم دو جې دتعذرنه حالانكه دامبنيات دی نونه دی صحيح په دې كښی تقديرالاعراب خلاصه دجواب يې داده چې مراددلفظ مانه اسم دی نونه دی شامل رمي اويدعو وغيره ته ځكه چې دا افعال دی.

المعرب دادفع داعتراض ده حاصل يې دادی چې اسماء اشارات اوضمائرهم اسماء دی

او اعراب په کښی متعذر دی په ظاهره نو پکار ده چې د دوی اعراب هم تقدیري وګرزي والامر لیس کذالک خلاصه د جواب داده چې مراد د اسم نه اسم معرب دی ،او اسماء مذکوره د قبیلي د مبنیاتو نه دی **الذی تعذرَالاعرابُ فیهِ** دا دفع د اعتراض مقدر ده حاصل یې دا دی چې ضمیر د تعذر به خالي نه وي یا به راجع وي کلمې د ماته چې عبارت دی د اسم نه او یا به راجع وي اعراب ته او یو هم صحیح نه دی ماته ارجاع د ضمیر ځکه نه ده صحیح چې معنی به دا شي چې تقدیرد اعراب په هغه اسم کښی دی چې دا اسم متعذر وي او دا معنی فاسده ده ځکه چې اسم متعذر نه وي بلکې متعذر اعراب وي او اعراب ته ځکه نه شي راجع کیدی چې لازمیږي خلوه د صلی د عائد د موصول نه یعنې تعذر صله ده د پاره د لفظ ما نو پکار ده چې ضمیر د تعذر لفظ ماته راجع شي حاصل د جواب دا دی چې ضمیر د تعذر راجع دی اعراب ته او عائد د موصول محذوف دی چې فیه دی نو معنی هم صحیح شوه او عائد هم راجع شۀ موصول ته او عائد کله مذکور وي او کله محذوف وي **ای إمْتَنَعَ ظهورُهٗ** غرض د شارح د دې عبارت نه تعین د ماهو المراد دې د تعذر نه ځکه چې د تعذر دوه معنی دی یو امتناع یعنې مالا یمکن الوصول الیه اصلاً ، او بل په معنی د ثقل یعنې **مالا یمکن الوصول الیه الا بمشقةٍ** پس شارح تعین وکه چې مراد معنی اوله ده یعنې الامتناع او بل په دې کښی بیان د محل د امتناع دی چې لفظ دی او بل اشاره ده فرق ته په مابین د تعذر او استثقال کښی نو دفع شه په دې سره هغه وهم چې چا به کوو چې ګڼې تعذر او استثقال په شي واحد کی وي نو لازم شو استدراک او وجه د دفعې یې داده چې په دې دواړو کښی فرق دی **فلا یلزم الاستدراك** نو مراد د تعذر الاعراب دا شۀ چې ممتنع وي ظهور د ده په لفظ کښی **وذالكِ إذَا لَمْ** دا بیان د تعذر الاعراب دی نو پوهه شه چې تعذر د اعراب به د دوه وجونه وي ، یو دا چې په آخیر د اسم کښی الف مقصوره راغلی وي او بل اضافت د اسم یاء متکلم ته شوی وي ،نو شارح وایې چې تعذر د اعراب په هغه وخت کښی وي **اذا لم یَکن الحرفُ الّذی هو محل لِلاعرابِ قابلاً للحرکةِ الاعرابیةِ** چې نه وي هغه حرف چې محل د اعراب دی قابل د پاره د حرکة اعرابی **کمافی الاسم المعرب بالحرکة الذی فی آخرہ الفٌ مقصورةٌ سواءٌ کانت موجودةً فی اللفظ کالعصَا بلام التعریف ومحذوفة بالتقاء الساکنین کعصا بالتنوین** دا بیان د مفهوم کلي د عصا دی مطلب دا دی چې دا تعذر د اعراب مختص نه دی په عصا پورې فقط بلکې متعذر به وي اعراب په هغه اسم کښی چې معرب په حرکة سره وي او په آخر کښی یې الف مقصوره

راغلی وي و بیابرابره خبره چې هغه الف موجودوي په لفظ کښې لکه العصامعرف باللام یامحذوف وي په وجه دالتقاء دساکنینولکه عصاپه تنوین سره بدون اللام ،پوهه شه عصاپه اصل کښې عصوو ،واو متحرک ماقبل مفتوح بدل شۀ په الف اوبیاهغه الف حذف شه دوجې دالتقاء دساکنینونه په مابین دالف اوتنوین کښې اوتنوین ملحق شه په ماقبل پورې **فصارعصًافان الالف المقصورة في الصورتين غيرقابلة للحركة** داتطبیق دمثال دی دممثل سره نووایې چې بې شکه الف مقصوره په دې دواړوصوتونوکښې قابل نه دی دپاره دحرکت یعنې حرکت پرې ممکن نه دی ځکه چې الف همیشه ساکن وي نوپه حرکت سره ترې همزه جوړیږي نوځکه یې اعراب تقدیری وګرزیده **وكمافي الاسم المعرب بالحركة المضاف الى ياء المتكلم نحوغلامي** دابیان دمفهوم کلي دغلامي دی نووایې چې تعذرداعراب لکه ، په هغه اسم کښې چې معرب بالحرکة وي اومضاف وي یاء متکلم ته لکه غلامي **فانه لمااشتغل ماقبل ياء المتكلم بالكسرة للمناسبة** داتطبیق دمثال دی مع الممثل اوتمهیددی صعف دقول البعض ته نووایې ، چې بې شکه شان دادی چې هرکله چې مشغوله شه ماقبل دیاء متکلم یعنې میم دغلامي په کسرې سره دوجې دمناسبت دیا نه **قبل دخول العامل** داظرف دی دپلره داشتغل مطلب دادی چې اضافت الی الیاء مقدم دی په دخول دعامل .کماهوالظاهرنودیادمتکلم په وجه میم دغلامي مکسور وګرزیده **إمتنع أن يدخل عليه حركة اخرى بعددخوله موافقة لهااومخالفة** داجواب دلمادی پس ممتنعه شوه داخبره چې داخل شي بل حرکة په ماقبل دیاء متکلم پس ددخول دکسری نه برابره خبره چې هغه حرکت موافق وي دکسری سره یامخالف لکه ضمه اوفتحه ځکه چې اشتمال دیو حرف په حرکتینومتفقینویامخلقینومحال دی بداهة **فماذهب اليه بعض** دامبتداده اوغیرمرضي یې خبردی اوغرض دشارح ددې نه رددې په بعض نحاةُ باندې بعض نحاة وایې چې اعراب دمثل دغلامي په حالة جری کښې لفظي دی یعنې کسره دمیم یعنې دماقبل دیاء متکلم مشترکه ده په مابین داقتضاء دعامل اویاء متکلم دواړو کښې خودامذهب مردو ددې وجه دردیې داده چې که اعراب دغلامي مثلاً په حالة جري کښې لفظي شي نوپه دې کښې درې صورتونه دي اوټول باطل دي ،یوصورت دادی چې دغه یوه کسره به ددواړودوجې نه وایې یعنې دعامل جاره اودیاء متکلم نولازم به شي تواردد علتینو(عامل اویاء متکلم، په معلول واحدباندې چې کسره ده **وهذاباطل** دوهم صورت دادی چې بله

کسره راوړی شي په میم باندې مثلا دوچې دعامل نه نولازم به شي اجتماع دحرکتینو په حرف واحد باندې او دا هم باطله ده دریم صورت دادی چې دغه کسره حذف کړی شي اوبله کسره راوړی شي اعرابي نولازم به شي وجود دمسبب بغیر دسبب نه سبب یاء متکلم ده او مسبب کسره دمیم ده مثلاً نویاموجوده ده او اثراومسبب کسره بې نشته وهذا باطل ایضانوشارح وایې چې پس هغه چې ذهاب کړی دی هغې ته بعضو **مِنْ اَن اعراب مثل هذا الاسم فی حالة الجر لفظي** چې اعراب دمثل ددې اسم یعنې غلامي په حالت جرې کښې لفظي دی غیر مرضیَ نودا پسندیده خبره نه ده پوهه شه چې په غیرمرضی کښې اشاره ده دې خبرې ته چې د قول ددې بعضو دپاره وجه شته اګرچې مرضي نه ده هغه داده چې بې شکه یاء تقاضادکسرې دماقبل کوي خوبرابره خبره ده چې دغه کسره اعرابي وي اوکه بنایې نوجائزه ده چې کسره اولی یعنې کسره بنایې دی زائله کړی شي اوکسره اعرابي دی راوړی شي دوچې دعامل جاره نه دپاره داعطاء دحق مستحق ته اودپاره داجتناب دخلاف الاصل نه چې تقدیرداعراب دی لیکن داوجه پسندیده ځکه نه ده چې لازمیږي زوال دمسبب (یعنې اثر) چې کسره ده سره دبقاء دسبب نه چې یاده **مطلقا ای فی الاحوال الثلث** په دې کښې اشاره ده وجې دنصب دمطلقاً ته یعنې دامنصوب دی بناظرفیت چابه توهم کوو چې مطلقابه قید دپاره دعلامې وي فقط نوشارح یې دفع وکړه په دې قول سره یعنی **کونَ الاعراب تقدیریاً فی هذین النوعین من الاسم المعرب انما هو فی جمع الاحوال غیرُمختصٍ ببعضها** یعنې کون داعراب تقدیری په دې دواړونوعو داسم معرب کښې چې عصااوغلامي دی خامخابه تقدیری وي په تماموا حوالو کښې یعنې مختص نه دی په بعض احوالو پورې **اَواستُثقِلَ** دابیان دموضع ثاني دتقدیرالاعراب دی **عطفٌ علی تعذر** غرض دشارح ددې نه تعین دمعطوف علیه دی دپاره داستثقل یعنې دعطف دی په تعذر **ای تقدیرُالاعراب فیماتعذّرداعمل** دی په قاعده مشهوره هغه داچې کوم عبارت په جانب دمعطوف علیه کښې مصرح وي نوهغه په جانب دمعطوف کښې مقدروي نووایې چې اعراب به تقدیری وي په هغه اسم کښې چې اعراب لفظي په کښې متعذروي اوپه هغه اسم کښې **استثقِلَ ظهورُالاعرَاب فی لفظِه** چې ثقیل وي ظهورداعراب په لفظ دهغه کښې **وذالك اِذاکان محلُ الاعرَاب قابلاً للحرکةِ الاعرابیةِ** دابیان دمفهوم کلي دی دپاره داستثقال داعراب قابل خووي دحرکت اعرابي **ولکن یکونُ ظهورُهُ فی اللفظِ ثقیلاً**

علی اللسان لیکن ظهور داعرب یې په لفظ کښې ثقیل وي په لسان باندې **کما فی الاسم الذی فی اخرہ یاءٌ مکسورٌ ما قبلہا** دا بیان دمفهوم کلي دقاض دی یعنې لکه په هغه اسم کښې چې وي په اخر دهغې کښې یاء داسې یاء چې مکسور وي ماقبل دهغې نه **سواءٌ کانت محذوفةً بالتقاء الساکنین کقاضٍ** برابره خبره ده چې دغه یامحذوفه وي دوجې دالتقاء دساکنینو نه په مابین دیا او تنوین کښې **اوغیرَ محذوفةٍ کالقاضی** اویانه وي حذف دوجې دعدم علة الحذف نه لکه القاضي معرف باللام **رفعًا وجرًّا ای فی حالتَی الرفع والجر** په دې کښې اشاره ده وجې دنصب درفعا او جرًأته یعنې دامنصوب دی بنابرظرفیت **لافی حالة النصب** په دې کښې اشاره ده چې رفعا الخ قید احترازی دی .نو په دې سره احتر ازرا غی دحالت نصبي نه یعنې اعراب دقاض تقدیري نه دی په حالت نصبي کښې **لاستثقال الضمة والکسرة علی الیاء** دا دلیل دتقدیر الاعراب دی په حالتینو کښې نو وایې چې اعراب دقاض په حالت رفعي او جری کښې ځکه تقدیري دی چې ضمه او کسره په یا باندې ثقیل دی هغه یا چې ماقبل تری مکسوروي **دون الفتحة** دا دلیل دپاره داعراب لفظي دی په حالت نصبي دقاض ،یعنې فتحه په یا باندې ثقیله نه ده نو ځکه لفظي ده **ونحو مُسْلِمِیَّ** دامثال ثاني دی دپاره دتقدیر الاعراب للاستثقال او مراد د مسلمي نه هغه جمع مذکره سالمه ده چې مضافه وي یاء متکلم ته **عطفٌ علی کقاضٍ**.

غرض دشارح تعین دمعطوف علیه دی دپاره دنحو مسلمي یعنې دامعطوف دی په کقاض اودفع داعتراض ده اوردې په شارح هندی حاصل داعتراض دادی چې ونحو مسلمي په ظاهره عطف دی په قاض باندې مدخول دکاف تمثیلی دی نونحو مسلمي به هم مدخول دکاف وي بنا په قانون دعطف نو تقدیر به داشي وکنحو مسلميٌ نو بنا په دې به لغوه شي ذکر دنحو پس دکاف نه ځکه چې مفاد دواړو واحد دی چې تمثیل دی.

فاجاب الشارح بقوله عطف علی کقاض چې نحو مسلمي عطف دی په مجموعه دکقاض نه په مدخول دکاف چې قاض دی .نودې درج نه شۀ تحت الکاف نولغویت لازم نه شو او په دې کښې ردهم راغی په شارح هندی ځکه چې هغه جواب کړیدی ددې اعتراض نه په دې شان سره چې نحو مسلمي عطف دی په قاض باندې .نو تقدیر داشه چې وکنحو مسلمي لیکن استدراک

هم نه لازمیږي ځکه چې مفاد دکاف اشتراک دمسلمي دی قاض سره په تقدیرالاعراب کښی دوجې داستثقال نه او مفاد دنحو کلیة او عموم دمسلمي دی .یعني هره جمع مذکره سالمه چې مضافه وي یاء متکلم ته نوا عراب به یې تقدیری وي په حالت رفعي کښی فقط ،پس هرکله چې مفاد دنحو غیر شئ دمفاد دکاف نه نو استدراک لازم نه شو خودامذهب مردوددې اووجه دردیې داده چې مفاد دنحو عموم اوکلیة دمسلمي نه شي کیدی ځکه چې داعموم دلفظ دمسلمي نه بذات خود معلومیږي ځکه چې دامثال دی او مقصود په مثال سره خصوصیت دمذکورنه وي بلکې مرادمثال مذکوروي سره دخپلواخواتونه ،نوپه دې وجه عطف دنحو مسلمي په قاض نه خالي کیږي داستدراک نه یعنی تقدیرالاعراب لِلاِسْتِثقال په دې عبارت کښی اشاره ده دفع دسوالونوده .

سوال اول دادی چې بنادمتونو په ایجاز او اختصار وي نو پکار داوه چې مصنف لفظ د نحو ته وی ذکر کړی او عطف دمسلمي یې کړی وی په قاض باندې دوهم سوال دادی چې څه وجه ده چې مصنف ذکر کړه دوه مثالونه دپاره دتعذراودواړه داعراب بالحرف خلاصه دجواب دسوال اول داده چې بی شکه بنادمتونو په ایجازاواختصاروي خوهله چې په طول کښی فائده نه وي اودلته په طول کښی یعنې په ذکر دنحو کښی فائده شته چې تنبیه ورکول دي په تبائن نوعی دمسلمي اوقاض مطلب دادی چې دوجې داستثقال نه داعراب تقدیری دوه نوعې دي یو تقدیری بالحرکة اوبل تقدیري بالحرف نوقاض داولي نوعي مثال دی اومسلمي دنوعي ثاني اوخلاصه دجواب ثاني داده چې هرکله اعراب تقدیري للتعذرمختص وو په نوعه واحده پورې چې اعراب بالحرکة دی نوځکه یې دواړه مثالونه دیوي نوعی ذکرکړل او اعراب تقدیری لـلا ستثقال مختص نه وو په نوعه واحده پورې نوځکه یې مثالین ذکر کړل دپاره دنوعینونوشارح وایې چې تقدیرداعراب دوجې داستثقال نه **قدیکون فی الاعراب بالحرکة** کله په اعراب بالحرکة کښی **وقدیکون فی الاعراب بالحرفِ نحومسلمی** اوکله په اعراب بالحروف کښی وي لکه مسلمی **بخلاف تقدیرالاعراب للتعذر** برخلاف تقدیرالاعراب للتعذرنه **فانه مختصٌ بالاعراب بالحرکةِ** ځکه چې دامختص دی په اعراب بالحرکة پورې فقط **رفعًا یعنی تقدیرالاعراب فی نحومسلمیّ انماهوفی حالةِالرفعِ فقط** په دې کښی اشاره ده دوه خبروته یو دیته چې رفعامنصوب دی بنابرحالیت اوبل دیته چې رفعًاقید احترازی دی نووایې چې تقدیرداعراب په مثل دمسلمی کښی په حالت رفعي کښی فقط نه په حالت نصبي اوجری

کښې **نحو جاءني مسلمي** دا مثال دا عراب تقديري دی په حالت رفعي کښې **فـان اصلهٗ مسلمُوي بسقوط النون بالاضافة** دا يې دليل دی ،يعنې دا په اصل کښې مسلمون وو ، چې هر کله يې اضافت وشو ياء متکلم ته نو نون د جمع ساقط شو د اضافة په وجه نو جوړ شه ترې مسلمو ی **فـاجتمع الـواوُ والياءُ** پس جمع شو واو او يا **والسـابقُ منهما ساكنٌ** او اول د دواړو يعنې واو ساکن دی **فـانقلبتِ الواوياءَ** پس بدله شو واو په ياء سره **واُدْغِمتِ الياءُ في الياءِ** او مدغمه شوه ياء په ياء کښې نو جوړ شو ترې **مسلمُي وكُسِرَ ماقبل الياءِ** او کسره ورکړی شوه ماقبل ديا ته د دې د پاره چې واو واپس رانه شي او دا ځکه چې يا پس د ضمې نه بد ليږي په واو سره و **فلم يبقَ علامةُ الرفع التي هي الواوُ في اللفظ** ، پس پاتې نه شوه علامه د رفعي چې واو دی په لفظ کښې ځکه چې په ابدال او قلب سره شي ، د حقيقت خپل نه خارجيږي **فصار الاعرابُ في حالةِ الرفع تقديرياً** پس وګرزيده اعراب په حالة رفعي کښې تقديري **بخلاف حالَتي النصب والجر** په خلاف حالت نصبي او جری نه يعنې په دې حالت کښې يې اعراب لفظي دی دليل يې دا قول د شارح دی **فـان الادغام لايُخرج الياءَعن حقيقتها** تفصيل يې دا دی چې د دې تحقيق اجراء کيږي په رايت مسلمی او مررت بمسلمی کښې په دې شان سره چې دا په اصل کښې مسلمين وو کله يې چې اضافت وشهٔ ياء متکلم ته نو حذف شهٔ نون فصار مسلميی پس جمع شوی دوه يا ګانې او اول ترينه ساکنه وه نو په ثانيه کښې مدغمه شوه و پس په دې کښې ادغام شوی دی فقط نه ابدال نو ادغام نه خارجوي شي لره د حقيقت خپل نه نو يا يې خارجه نه کړه د خپل حقيقت نه **فـان الياءَالمُدْغمةَ ايضًاياءً** ځکه چې يا مدغمه هم ياده نو حاصل دا چې علامه د نصب باقي پاتې ده تاهنوز .نو ځکه يې اعراب لفظي وګرزيده **وقَديكون الاعراب بالحروفِ تقديريافي الاحوال الثلث** غرض د شارح په دې عبارت کښې بيان د يو مسئلې دی حاصل يې دا دی چې اعراب بالحروف هم په احوال ثلثو کښې مقدر کيدی شي لکه په شان د اعراب بالحرکات نو شارح وايې چې کله کله اعراب بالحروف هم تقديری وي په احوال ثلثو کښې **في مثل جاءني ابوالقوم الخ** مراد مثل د جاءني ابو القوم نه اسماء سته دی چې مضاف وي هغه اسم ته چې په اول د هغې کښې همزه وصلی را غلی وي يا دا چې مراد دې نه هغه اسماء دی چې حروف اعرابيه يې مده وي او ملاقی وي د ساکن سره **فـانه**

لما سقط حروفُ الاعراب عن اللفظ بالتقاء الساكنين دا يې دليل دتقدير دى يعنې هركله چې حروف اعرابيه (واو ، الف ، يا ،) ساقط شو دوجې دالتقاء ساكنينونه .چې حرف اعرابى اولام دى په القوم كښې مثلاً لم يبقَ الاعرابُ لفظاً فصار تقديرياً دا جواب دلمادى نو پاتې نه شۀ حرف الاعراب په لفظ كښې ځكه چې اعتبارلفظ لره دى نه كتابت لره ،نو تقديري وګرزيده .

سوال: هر كله چې مسئله داوه نو مصنف ولې ذكر نه كړه؟

جواب : ځكه چې داحالت قليل دى او قليل قاعده كليه نه شي ګرزيدى يادا چې مولانا عبد الغفور وايې چې مصنف هغه اعراب تقديري بيانوي چې په اعتبار دذات سره وي نه په اعتبار دعارض سره او په مثال مذكور كښې اعراب بې شكه تقديري دى ليكن په اعتبار دعارض سره چې التقاء دساكنينو ده ،نو ځكه يې ذكرنه كه .

هركله چې فارغ شو مصنف دمواضعو داعراب تقديرى نه نو شروع يې وكړه په بيان د مواضعو د اعراب لفظي كښى فقال وَاللفظي وقال الشارح أي الاعرابُ المُتَلَفظُ بِه ددې تفسيرنه دشارح دوه غرضونه دي يو تقدير دموصوف دپاره داللفظي ځكه چې اللفظي اسم منسوب دى يعنې په اخر كښې يې يانسبي راغلى ده .او اسم منسوب په حكم دصفت كښې وى او هر صفت تقاضا دموصوف كوي دوهم غرض تعين دمعنى مرادى دى داللفظي نه يعنې مرادترې معنى لغوى نه ده بلكه معنى اصطلاحي مراده ده او تعين دمعنى مرادى دپاره ددفع داعتراض مقدر دى .

حاصل يې دادى چې لكه څنګه چې اعراب لفظي دى په ماعدا دمذكور كښى نو دغه شان په مذكور يعنې عصاً وغلامي كښى هم دى ځكه چې اعراب لفظي عام دى ځكه حقيقي وي كه حكمي نو په عصا او غلامي كښى كه اعراب لفظي حقيقة نشته نو اعراب لفظي حكماً خو شته دوجې داجراء د احكام لفظيونه په دوى باندې پس ضمه فتحه كسره مفروضه په دې مذكور كښى هم دلالت كوي په فاعليت مفعوليت او اضافت لكه څنګه چې اعراب لفظي حقيقي دلالت كوي په فاعليت مفعولية او اضافة باندې حاصل دجواب يې دادى چې دلفظ اطلاق بې شكه كيږي په حقيقي او حكمي دواړو خو كله چې مبني للمفعول نه وي او كله چې مبني للمفعول وي نو بياترې مرادلفظ حقيقي وي فقط او په دې اصطلاح دنحاة قائمه ده فيما عَدَاهُ يعنى فيما عَدا مَا ذُكِرَ دا تعين دمرجع دى او دفع داعتراض مقدر ده چې ضمير دماعداه مفرد دې او راجع دى ماقبل ته چې تعذر او استثقال دى نو مطابقت را نه غى په مابين دراجع او مرجع كښى فى

الافرادوالتثنية خلاصه يې داده چې ضميرراجع دى دواړوته خو په اعتباردمذكورسره دى يعنى اعراب لفظي به په ماسوا دمذكوركښى وي **مماتعذرفيه الاعراب اواستثقل** دابيان دماذكردى يعنې دهغه اسماء نه چې متعذروي اعراب دهغې ياثقيل **وبولماذكرفى تفصيل المعرب المنصرف وغيرالمنصرف** غرض دشارح ددې عبارت نه تذكيردماسبق دى اوتمهيددى ماآتيه ته نوتذكيردماسبق داقول دشارح دى **ولماذكرفى تفصيل المعرب المنصرف وغير المنصرف** يعنې هركله چې ذكرشوپه تفصيل دمعرب كښى منصرف اوغيرمنصرف پس هركله چې منصرف غيرمنصرف ذكرشواجمالاً په ماسبق كښى نوتفصيل يې په آينده متن كښى اشتغال په لايعني كښى نه شو **وكان غيرالمنصرف الخ** دادفع دسوال ده حاصل يې دادى چې هركله مصنف ذكركووتعريف دمنصرف اودغيرمنصرف نو پكارده چې تعريف دمنصرف يې كړى وي نوڅه وجه ده چې مصنف تعريف دغيرمنصرف وكه فدفع بقوله **وكان غيرالمنصرف اقل من المنصرف** او وغيرمنصرف اقل دمنصرف نه اوداځكه چې غيرمنصرف مشروط دى په شرائطو وكل ماهذاشانه فهواقل وجوداً اوعادت دمصنفينو دادى چې دوى ترجيح وركوي اقل ته دوجې داسهليت نه **وبمعرفته يعرف المنصرف** دادفع داعتراض ده چې تعريف دمنصرف يې په اول كښى ذكرنه كه نوپكارده چې په اخركښى يې ذكركړى وي نو شارح جواب وكړ چې په معرفت دغيرمنصرف سره پيژندده شي منصرف فاذاعلم غيرالمنصرف بانه مافيه علتان اوواحدة يقوم مقامهاعلم ان المنصرف مالا يكون كذالك **على قياس الاعراب اللفظى والتقديري** په شان داعراب لفظي اوتقديرى يعنې لكه څنګه چې داعراب تقديري دمعرفت په وجه لفظي وپيژندده شئ نو دغه شان دغيرمنصرف په وجه منصرف وپيژندده شه **عرف غير المنصرف** داجزا دلماده يعنې هركله چې ذكردمنصرف اوغيرمنصرف وشه په ماسبق كښى اوغيرمنصرف اقل وو نوتعريف وكه مصنف دغيرمنصرف **واكتفى بتعريفه** او اكتفاء يې وكړه په تعريف دغيرمنصرف **فقال غيرالمنصرف** پوهه شه چې دامبتداده اومافيه علتان يې خبردى .

سوال: ابتداائيت دغيرالمنصرف غيرصحيح دى ځكه چې مبتدامعرفه وي اوغيردوجې دتوغل نه په ابهام كښى په اضافت الى المعرفې سره هم نه معرفه كيږي؟

جواب: مسلمه ده ستاداخبره چې غیرُ دوجې دتوغل نه په ابهام کښې په اضافت سره هم نه معرفه کیږي خوداهله چې دمضاف الیه دپاره اضدادکثیره وي په خلاف دهغې نه چې دمضاف الیه دپاره یې ضدواحدوي لکه علیک بالحرکة غیر السکون نو دسکون ضدواحد دی چې حرکة دی نودغه شان په مانحن فیه کښې هم مضاف الیه دغیرمنصرف د ی.اوددې ضدواحددی چې غیر منصرف دی نوغیرُ داضافت دوجې نه معرفه شوه ځکه چې معلومه شوه چې دغیرمنصرف نه مرادهغه دی چې منصرف نه وي یعنې غیرمنصرف یاابتدائیت دغیرمنصرف بنادی په معنې علمی دده باندې چې مافیه علتان دی نه په معنی ترکیبی پس ددینه پوهه شه چې مولانا عبدالرحمن وایې چې منصرف ماخوذدی صرف نه اوصرف ویلی کیږي فضل اوزیادة ته.اودې هم مشتمل وي په زیادة چې تنو ین دی په خلاف دغیرمنصرف نه چې په هغې تنوین نه شي راتلی نومشتمل په زیادت نه شه نوځکه هغې ته غیرمنصرف وای

اي اسم داتعین د ما هو المراددی دمانه چې ماصو فه ده مو صوله نه دی ځکه چې داخبردی اواصل په خبرکښې تنکیر دی اوبل غرض دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې لفظ مابه خالي نه وي یابه ترې مرادغیرمنصرف وي اویامطلق اسم که اول وي نولازمیږي اخذالمحدود فی الحد .اوکه ثاني وي نوتعریف دغیرمنصرف صادق شه په حضار طمار علمین لکوکبین باندې ځکه چې داهم اسماء دی اومشتمل وي په علتینو چې علمیت اوتانیث معنوي دی حالانکه دیته غیرمنصرف نه ویلی کیږي شارح جواب وکه چې مراد دلفظ مانه اسم معرب دی نه مطلق اسم نو حضار طمار خارج شوځکه چې دادقبیلي دمبنیاتونه دی فیه علتان تؤثران.

غرض دشارح دقید دتؤثران نه دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې تعریف دغیرمنصرف مانع نه شه ددخول دغیر نه داخل شه په کښې قائمة دوجې دوجود دتانیث اووصفیت نه سره ددې چې داغیرمنصرف نه دی خلاصه دجواب یې داده چې مراددعلتینونه علتین مؤثرتین دی نه مطلق علتان. اوتانیث دقائمة سبب مؤثرنه دی ځکه چې شرط دپاره دتانیث علمیت دی اوقائمة علم نه دی باجتماعهما دادفع داعتراض ده چې لازم شوتوارد د علتینو په معلول واحد باندې وذالا یجوز. خلاصه دجواب یې داده چې مؤثرپه منع صرف کښې مجموعه دعلتینوده. نه هرواحد نوعلت په حقیقت کښې واحدوګرزیده چې مجموعه من حیث المجموعه دعلتینوده فلایلزم المحظور واستجماع شرائطهما فیه داددفع داعتراض مقدرده چې تعریف دغیرمنصرف مانع نه شه ددخول دغیرنه داخل شوه په کښې نوح اوهند .دوجې

دوجودد علتینونه چې علمیت اوعجمه ده په نوح کښې اوعلمیت اوتانیث دی په هند کښې خلاصه دجواب یې داده چې غیرمنصرف دیته وایې چې په کښې سببان مؤثران موجودوي سره داجتماع دجمیعوشرائطو د تاثیرنه نو په نوح اوهند کښې شرط دتاثیرنیشته چې هغه تحرک الاوسط دی نوځکه داغیرمنصرف نه دی اَثَرًا امفعول مطلق دی دپاره د تؤثران مِنْ عِلَلٍ تِسعٍ غرض دشارح دتقدیردعلل نه اشاره ده موصوف نه دپاره دتسع سوال شارح غوره کړ ترکیب توصیفی نوترکیب اضافي یې ولې غور نه کړ په دې شان سره چې مضاف یې مقدرکړی وي ویلی یې وي چې من تسع علل جواب دپاره دمو افقت دمابعدسره چې علة واحدة دی یعنې داهم مرکب توصیفی دی کماقال اَوعِلَّةٍ وَاحدةٍ منهما ای من تلك التسع داتعین دمرجع دی .یعنې غیرمنصرف هغه هم دی چې په کښې علة واحده راغلی وي دعلل تسعه نه تقومُ هٰذه العلةُ الواحدةُ مقامهُما ای قامَها تین العلتین داتعین دمرجع دی چې قائمیږي داعلة واحده په مقام ددغې علتینو بِاَنْ تُؤثر وحدها تاثیرَهما دابیان دقیام دی اودفع د اعتراضینو ده اعتراض اول دادی چې اقامة د واحدپه مقام داثنینوغیرمتصوردی ځکه چې ظاهره ده چې مفردنه شي قائمیدی په مقام د متعدد او اعتراض ثانی دادی چې نسبت دقیام علت ته غیر صحیح دی مکه چې قیام عبارت دی داستوا ءنه اواستوانه متصورکیږي خوپه ذوی الروحو کښې اوعلة ذی روح نه دی خلاصه ددفع یې داده چې مراددقیام دعلت واحده نه په مقام دعلتینودادی چې اثروکړی داعلة واحده په شان دتاثیردعلتینودوچې دقوت ددغه علة واحده نه یعنې قیام په خپلې معنې سره نه دی مرادفلایرد هرکله چې معرفت دغیرمنصرف بناوو په معرفت داسبابودمنع صرف نو په دې وجه مصنف بیان داسباب تسعه کوي نووایې چې وهی ای العلل التسع داتعین دمرجع دی.

مجموعُ مافی هذین البَیْتَیْن من الامور التسعة داد فع داعتراض ده حاصل یې دادی چې هي ضمیرمبتداده . اوراجع دی علل تسعه ته اوعدل یې خبردی نولازم شه حمل دخاص په عام باندې وماهذا الاکذب خلاصه ددفع یې داده چې خبردهي مجموعه دمافی البیتین ده په دې شان سره چې عطف مقدم دی په ربط باندې نومعنی داچې علل تسعه عدل وصف ثانیث.الخ دی فلایلزم حمل الخاص علی العام لکه شارح وایې لاکل واحدٍ حتی یُقالَ لایصحُ الحکمُ علی العِلَلِ التسعِ بکل واحدٍ من هذه الامور اوخبریې هرواحدواحدنه دی تردې چې ویلی شي چې نه دی صحیح حکم

کول په علل تسعه په هرواحد ددې امورو مذکوروسره **وذالكَ المجموعُ شعر** اوشاعرددې انباری دی اولنی بیت یې دادی .

مَوانــــعُ الصرفِ تســـع کلمَّا اجتمَعـــتْ
ثِنتـــانِ منهَا فَمـــاللصرفِ تَصْـــويب
عَـــدلٌ ووصـــف وتانيـــثٌ ومعرفـــةٌ
وعُجمـــةٌ ثـــم جمـــعٌ ثـــم تركيـــب

والعَدولُ الخ دادفع داعتراضینوده حاصل داول دادی چې څه وجه ده چې مصنف عدول وکړ دواوعاطفه نه ثم ته حالانکه اصل په عطف کښې واودی اومختصرهم دی اوحاصل دثاني دادی چې ثم راځي دپاره تراخي نوذکردثم خبرداری په دې ورکوي سببيت دجمع مؤخردی دعجمې وغیره نه ،اودغه شان سببيت دترکیب مؤخردی دجمع وغیره نه مع ان الامرلیس کذالک **فدفع الشارح بقوله والعدولُ فی عطف هاتین العتین من الواوالی ثُمّ لمجردِالمُحَافَظةِعلی الوَزْن** چې عدول په عطف ددې دووعلتو نو کښې دواونه ثم ته دپاره دمجرد محافظة دوزن شعری دی بغیردلحاظ دتراخي نه پس معلومه شوه چې دا عدول دلفظ مختصرنه چې واودی ثم ته دیونکتی ماتحت دی **والنونُ زائدةً من قَلبِهـا الفٍ ووزنُ الفعلِ وَهذا القولُ تقريبٌ فقولُهُ زائدة**

غرض دشارح ددې عبارت نه تحقیق نحوي عربي دی په بیان داعراب اووجې داعراب سره نو وابې چې پس داقول دمصنف چې زائدةً د ی منصوب دی بنابرحالیت کماقال الشارح **عَلی اَنّهُ حالٌ** بناپه دې چې دی حال واقع شویدی دالنون نه اوبل غرض په کښې رددې په شارح هندي باندې نوتحقیق دشارح هندي دادی چې زائدة مرفوع دی بنابرصفتیت دپاره دالنون ، سوال په شارح هندي واردشه چې بناپه دې خومطابقت رانه غی په مابین دموصوف اوصفت کښې فی التعریف والتنکیر نوجواب ترې دادی چې الف لام په النون کښې زائد ه دی یاعهدذهني دی ،نوتوصیف یې په نکرې سره صحیح شه.

سوال: النون مذکردی اوزائدة مؤنث دی نومطابقت نشته په دواړوکښې فی التذکیر والتانیث ؟

جواب: النون مؤول دی په تاويل دکلمة سره ، نوتوصيف دمذکربالمؤ نث لازم نه شه .

ردعلي الهندی: هرکله چې داتوجيه پسنديده نه وه په نزددشارح ملاجامي نوردېې وکه په هغه بقوله منصوب الخ وجه دريې داده چې لازميږي په توجيه دشارح هندي کښې تکلف په دفع دقيل وقال کثيرسره کمامرمنا إذالمعنی وَتَمنعُ النونُ دادفع دسوال مقدر ده چې حاليت دزائدة دالنون نه غيرصحيح دی ځکه چې الحال مابيين هيئة الفاعل اوالمفعول به اوالنون يوهم نه دی خلاصه دجواب داده چې النون فاعل دی دپاره دفعل مقدرځکه چې معنی ددې داده چې وتَمنعُ النونُ الصرفَ حالَ كونِهَا زائدةً يعنې منع کوی نون انصراف داسم لره په حال دکون دنون کښې چې وي زائد اوقرينه په دې فعل مقدرداقول دشا عردې چې وموانع الصرف الخ، چې مذکوردی په بيت سابق کښې.

اختلاف په الف کښي: پوهه شه چې په ترکيب دالف کښې اختلاف دی په مابين دشارح هندي اوشارح ملاجا مي کښې پس داعبارت چې وقوله الف «فاعل الظرف» دی قول دشارح هندي دی ،نو غرض دشارح ملاجامي دنقل کولودقول دشارح هندي نه رددې په هغه باندې بقوله ولايخفى الخ پس دهغې نه به بيان دخپل مذهب وکړې فانتظر نوپه دې عبارت مذکوره کښې اشاره ده ظهوردقول مردودته. شارح هندي په الف کښې دوه توجيه بيان کړيدي .نوتو جيه اوله داده چې الف فاعل دی دپاره دظرف أعني من قبلِهَا چې من قبلهادی بناپه دې داجمله فعليه ده اوتوجيه ثاني شارح بيان کړيدی بقوله أومبتدخبرهُ الظرف المتقدم يعنې الف مبتداده اوخبريې ظرف متقدم دی چې من قبل دی بناپه دې داجمله اسميه ده په هرتقديرسره معنی بې داشوه چې بل سبب دا سبابودمنع صرف نه نون زائده دی چې قبل دهغې نه الف وي قوله ولايخفى دارددې په شارح هندې نووايې چې ولايَخفى انه لايفهمُ من هذا التوجيهِ اوخفى دنه وي داخبره چې نه معلوميږي دجنس ددې توجيه نه ،زيادةُ الالفِ معَ انها ايضًا زائدةً زيادت دالف حالانکه دی هم زائددی بلکه ددې نه معلوميږي فقط قبليت دالف دنون زائده نه وهذا يعبرعنها بالالف والنون الزائدتين داتائيددی دپاره دکون الالف زائداً. يعنې په دې وجه چې زيادت دالف هم معتبردی نوتعبيرکولی شي ددواړو نه په الف نون زائدتين سره .

سوال: توجيهين په الف کښې دوه دی نو دا قول د شارح چې من هذا التوجيه يعنې په لفظ

مفرد سره خطا دی ؟

جواب: دتوجيه نه مراد جنس توجيه ده .نو شامله شوه دواړو ته **ولوجعل الالف فاعلا لقوله زائدة** غرض دشارح ددې عبارت نه اصلاح دعبارت دشارح هندې ده نو وايي چې كه چرې گرزولی وي شارح هندې الف لره فاعل دپاره ددې قول دمصنف چې زائدة دی **والظرف متعلقا بالزيادة** وگرزولی يې وي ظرف يعنې من قبلهالره متعلق په زيادة پوې. نو حاصل دمعنی به داوو چې نون به زائدوي اوهم به مخكښې وي دنون نه پس معلوم به شي ددې نه امرين چې يوزيادة دالف دی اوبل قبلية دالف دی دنون نه كمابينهما الشارح **بقوله وأريد بزيادة الالف قبل النون اشتراكهما في وصف الزيادة** اواراده كړی شي په زيادة دالف سره قبل النون ،اشتراک ددواړوپه وصف دزيادة كښې **وتقدم الالف عليهما في هذا الوصف** دا عطف دی په اشتراک ،يعنې اراده كړی شي تقدم دالف په نون باندې په وصف دزيادة كښې **فهم زيادتهما جميعا** داجواب دلوجعل دی يعنې كه شارح هندې داسې كاركړی وي نو معلوم شوی به وو زيادة ددواړو **وهذا كما اذا قلت الخ** دااثبات ددغه ارادی دامرينو دی په محاوری عربي سره دپاره درفع داستبعاد ، نووايي چې داخبره داسې ده چې ته اووايې **جاء زيد راكبا من قبله اخوه** يعنې راغی زيد په داسې حال كښې چې مخكښې دهغه نه وروردهغه نوپه دې مثال كښې اخوه فاعل دی دپاره دراكبا اوظرف يعنې من قبله متعلق دی په راكبا پورې **فانه يدل على اشتراكهما في وصف الركوب** پس دامثال دلالت كوي په اشتراک ددواړوپه وصف دركو ب كښې دايوامرشو **وتقدم اخيه عليه في هذا الوصف** اودلالت كوي په تقدم داخ په زيدباندې په وصف دركوب كښې دا بل امرشو فافهم **وقوله وهذا القول تقريب** پوهه شه چې دشارح دددې عبارت نه يوڅواغراض دی يوتعين دمشاراليه دی دوهذا القول. دوئم تنبيه ده په جوازدتوجيهاتوثلثوپه هذا القول تقريب كښې دريم رددې په بعض نحاة چې وايې چې اسباب دمنع صرف دوه دی يا يوولس دی وسياتي اوڅلورم دفع داعتراض مقدر ده . حاصل يې دادی چې اطلاق دتقريب كيږي په مجازنومعنی داشوه چې اسباب تسعه دمنع صرف مجازی دی حقيقي نه دی. اودامعنی غلطه ده ځكه چې دااسباب دمنع صرف مبني برحقيقت دی خلاصه دجواب يې داده چې تقريب په معنی دمجازسره نه دی بلكه په دې كښې درې

توجیهات دی .

توجیه اول :یعنی اَن ذکرَ العِلَلِ داتعین دمشارالیه دهذا دی بصُورَةِ النظمِ تقریبٌ لهَا اِلَی الحِفْظِ یعني ذکردعلل تسعه په صورة دنظم سره قریب کوونکې دی دی اسبابولره یادولوته لان حِفظَ النظمِ اَسهَلُ ځکه چې حفظ دنظم اسان وي په نسبة سره نثرته کماهو المشاهد .

توجیه ثاني داعبارت دشارح دی اوالقولُ بان کل واحدٍ من الامورِ التسعةِ علةٌ قولٌ تَقْرِیبی لاتحقیقی .مطلب داچې قول کول په دې چې هرواحددعلل تسعه نه علة دی نوداقول مجازی دی حقیقي نه دی اِذالعلةُ فی الحقیقةِ اثنانِ منهُمَا لاواحدٌ ځکه چې علة دمنع صرف په حقیقت کښې دوه دي نه یونوهرواحدته ځان ځان ته علة وئیل مجازی وګرزیده .

توجیه ثالثه :وردعلی البعض داقول دشارح دی اوالقولُ بانهاتسعٌ تقریبٌ لهَا الی الصواب یامطلب داچې قول کښې په دې چې اسباب دمنع صرف تسعه دي نزدی کونکی دی دی لره صواب اوحق ته لان فی عددِهَا خلافًا ځکه چې په عدد اسبابودمنع صرف کښې اختلاف دی په مابین نحاةُ کښې نوپه دې کښې درې مذ اهب دي لکه شارح وایي فقال بعضُهم انهاتسعٌ داتفصیل د مذاهبو دی پس بعضوویلي دي چې داتسعه دی وقال بعضُهم اثنان اوبعضُ ویلی دي چې دادوه دي یوحکایت یعني وزن فعل. اوبل ترکیب .

حکایت څه ته وایي : پوهه شه چې مراددحکایت نه نقل دی دیووزن دفعلیت نه اسمیت ته . اودی ته حکایت ځکه وایي چې منع دکسرې اودتنوین په دې کښې په دې طریقې دحکایت سره ده دفعل نه. یعني لکه څنګه چې کسره اوتنوین نه داخلیږي په فعل باندې قبل النقل الی الاسم ،نودغه شان پرې نه داخلیږي بعدالنقل الی الاسم اومرادترکیب نه ترکیب دعلتینودی نودی شامل دی باقي تماتواسبابوته وقال بعضُهم احدَ عشرَ اوبعضُ ویلی دي چې یو ولس دي نهه دغه مذکوراولسم هغه الف دي چې مشابه وي دالف تانیث سره اوداهغه الف دی چې نه وي دپاره دتانیث . اوزیات شوی وي په ا خرداسم کښې برابر ، خبره ده که دپاره دالحاق وي لکه ار طی چې ملحق دی په جعفرپورې.هغه ونې ته وایې چې د هغې په اوبو سره دباغت ورکولی شي څرمنوته اوکه دپاره دالحاق وي لکه قبعثری شترفربه ته وایې. اویوولسم مراعاة دوصف اصلي دی بعدالتنکیر.لکه احمرچې وګرزی علم

دپاره درجل ا وبیانکره کړی شي نوپس دتنکیرنه هم غیرمنصرف دی دوجې دوصفیت

اصلي اووزن فعل نه **لکن القول بانها تقریب لها الی الصواب من المذاهب الثلثة**

داتصریح ده په معنی دقول تقریب اوپه دې کښې اشاره ده ترجیح دمذهب اول ته اوتردید

ته په نورویعنې قول کول په دې چې اسباب دمنع صرف نهه دی نزدی کونکی دی دی لره

هغه ته چې حق دی دمذاهب ثلثه نه ردپه مذهب ثاني دادی چې سبب دمنع صرف دی وګرزی

فقط ځکه چې وزن هم بغیرد سبب آخرنه مؤثرنه دی . نودې هم په ترکیب کښې داخل شو

اوردپه مذهب ثالث دادی چې الف مشابه للتانیث داخل دی په الف تانیث کښې اومراعاة

دوصف اصلي داخل دی په وصف اصلي کښې نودامستقل اسباب نه شونوراجحه داشوه

چې اسباب دمنع صرف تسعه دی **ثم انه ذکر امثلة العلل المذکورة** دادفع داعتراض مقدرده

چې مقصودپه ذکردمثال سره توضیح دممثل وي اود احاصلیږي په مثال

واحد سره.نو اشتغال په امثلو کثیروکښې اشتغال دی په لایعنی کښې خلاصه دجواب یې

داده چې تعدددمثالونو بنادی په تعدد دممثل له باندې نووایې چې بیا ذکر کړی دی مصنف

امثله دعلل مذکوره **علی ترتیب ذکرها في البیتین** موافق دترتیب دذکرددې سره په

بیتینو کښې **عملاً علی ترتیب اللف والنشرالمرتب فقال عمر مثال للعدل** داتعین

دممثل دی وقس علیه الاخر **وفي ایراد زینب مثالاً للمعرفة بعد طلحة الخ** دادفع داعتراض

مقدرده چې ذکردزینب پس دطلحة نه لغوه اوبی فائدی دی دوجې دحصول دمقصود نه په

طلحة سره په دې شان سره چې طلحة مثال دپاره دمعرفی هم کیدی شي خلاصه دجواب یې

داده چې په دې کښې اشاره ده ا عتباردقسمینو دتانیث ته چې یو لفظي دی اوبل تانیث

معنوي نوزینب مثال دتانیث معنوي دی اوطلحة دتانیث لفظي **ومعدیکرب مثال للترکیب**

دانو م دصحابې دی مرکب دی دمعدې اودکرب نه معدی صیغه دا سم مفعول ده لکه مرمي

او کرب صیغه دماضي ده معنی لغوی یې زمکه اړول ده .

هرکله چې فارغ شۀ مصنف دتعریف دغیرمنصرف اود اسبابو دمنع صرف نه اجمالا نوشروع

یې وکړه په حکم دغیرمنصرف کښې فقال **وحکمه ای حکم غیرالمنصرف** داتعین دمرجع دی

والاثرالمرتب علیه غرض دشارح تعین دماهوالمراددې دحکم نه ځکه چې دحکم دپاره معاني

کثیره دی نوشارح وایې چې مراددحکم نه اثردی نوسوال واردشۀ چې بیااضافت دحکم

بمعني الاثرغيرمنصرف ته نه دی صحيح ځکه چې اثرمذکوريعني لاکسرة ولاتنوين اثردغيرمنصرف نه دی بلکه اثردعلتينودی فاقع الشارح بقوله المرتب عليه يعني نسبت داثرغيرمنصرف ته دوجې دادنی مناسبت نه دی په دې شان سره چې غيرمنصرف محل داثرمذکوردی من حيثُ اشتمالِهِ على علتين الخ دادفع داعتراض مقدرده .حاصل يې دادی چې حکم غيرمنصرف منقوض دی په احمدپه جاء ني احمد کښی ځکه چې احمدغيرمنصرف دی حالانکه حکم يې رفع ده په مثال مذکورکښی. اودغه حکم مذکورمنقوض دی په احمدپه رايت احمدکښی ځکه چې دی غيرمنصرف دی حالانکه حکم يې نصب دی په مثال مذکورکښی خلاصه دجواب يې داده چې حکم مذکوردغير منصرف مقيددی په دې حيثية سره چې دی به مشتمل وي په علتينواويايه يوداسې علة چې قائم مقام د علتينو وي نورفع داحمدپه جاء ني احمد کښی من حيث انه فاعل ده. اونصب يې په رايت احمد کښی من حيث انه مفعول ده لامن حيث انه غيرمنصرف أنْ لاکسرةَفِيهِ په دې کښی اشاره ده ديته چې خبرلامقدردی چې فيه وذالكَ الخ غرض دشارح ددې عبارت نه اثبات دمتن دی په برهان تفصيلي سره. نوپه وذالک کښی اشاره دهٔ دعوی ته . اولان لكل يې دليل دی .

سوال :و ذالک ته مدعي وئيل غير صحيح دی ځکه چې دعوی مرکبه وي. او ذالک اسم اشاره د مفرد ده ؟

جواب :ذالک مبتداده اوخبريې مقدردی ای وذالک ثابت اوداحکم مذکورد غيرمنصرف ثابت دی. لان لكل علةفرعية ځکه چې دهرعلة دپاره فرعية ثابت دی فـاذاوَقَعَ فـي الاسم علتانِ حصَل له فرعيتـانِ پس هرکله چې په اسم کښی وا قع شو علتين نوحاصلی شوی په کښی دوی فرعې فيشبَهَ الفعلَ پس مشابه شۀ غيرمنصرف دفعل سره نوغيرمنصرف مشبه شوه اوفعل يې مشبه به شوه مِن حيث ان له فرعيتين بالنسبة الى الاسمِ دايې وجه دتشبيه ده يعني په دې شان سره چې فعل لره هم دوه فرعې دي په نسبت سره اسم ته احديهما افتقارُه الى الفاعلِ يوه فرعه احتياج دفعل دی فاعل ته يعني فعل محتاج دی فاعل ته او فاعل محتاج اليه دی اومحتاج فرعه دمحتاج اليه وي وأُخريهُما اشتقاقُهُ من المصدرِ اوبله فرعه اشتقاق دفعل دی دمصدرنه يعني.فعل مشتق دی دمصدرنه او مشتق فرعه د مشتق منه وي فمُنِعَ منهُ الاعرابُ المختص بالاسمِ فاء تفريعيه

ده پس منع کړی شۀ دغیرمنصرف نه هغه اعراب چې مختص دی په اسم پورې، **وهو الجرُ والتنوينُ الذي هو علامةُ التمكن** چې هغه جراوتنوین دی هغه تنوین چې علامه دتمکن ده دد ینه دامعلومه شوه چې ممنوع په غیرمنصرف تنوین تمکن دی نه بل قسم دتنوین.

مشابهت دغیرمنصرف دفعل سره :.پوهه شه چې مشابهت داسم د فعل سره په دری قسمه دی .یواعلی یعنې مشابهت په تمامه معنی کښی. لکه اسماء افعال دریم متوسط اودامشابهت دی په ترکیب دحروفو اوپه جزدمعنی کښی لکه اسم فاعل چې دی مشابه دی دفعل مضارع سره په عدددحروفو اومعنی حدثی کښی درئم ادنی اودامشابهت دی په وجه بعیده کښی داسم دفعل سره لکه فرعیت. اودفعل دوه خاصې دي یوعمل اوبله بنا.پس حکم دمشابهت اعلی اعطاء دفعل ده اسم ته بناء اوعمل دواړه. نوپه دې وجه اسماء افعال مبني هم دی اوعوامل هم . اوحکم دمشابهت متوسط اعطاء دعمل ده اسم ته نه بناء نوپه دې وجه اسم فاعل عامل دی خومبني نه دی. اوحکم دمشابهت ادنې نزع دعلامی داعراب ده داسم نه فقط نۀ عمل اونۀ بناء نوپه دې وجه غیر منصرف نه عامل دی اونه مبنی بلکه خالی دی د هغه اعراب نه چې خالی دی دهغې نه فعل یعنې کسره اوتنوین **وهذا هو المراد وانما قلنا لكل علةٍ فرعيةٌ** داتفصیل دبرهان مذکوردی په ترتیب داسبابو سره نووایې چې مونږ ه اووی چې دهرعلة دپاره دثابت دی فرعیة **لان العدلَ فرعُ المعدولِ عنه** ځکه چې عدل فرع دمعدول عنه ده **والوصف فرعُ الموصوفِ** اوو صف فرعه دموصوف ده دوجې دعدم تحقیق دوصف نه بدون الموصوف **وَالتانيثَ فرعُ التذكير** اوتانیث فرعه دتذکیرده په خلقت اومرتبه کښی اوبله دا چې **لانك تقول قائمٌ ثم تقول قائمةٌ** نوقائمة مزیددی اوقائم مجرددی دتانه. اومزیدفرعه دمجردده **والتعريفَ فرع التنكير** اوتعریف فرعه دتنکیرده **لانك تقول رجلٌ ثم الرجل** ځکه چې ته اولاً رجل وایې په تنکیرسره خوکله چې غرض ستا حاصل نه شي په تنکیرسره نوبیاوایې چې الرجل په تعریف سره نومعلومه شوه چې اعتبارالتعریف فرعه ده داعتبار التنکیر **والعجمةَ في كلام العرب فرع العربية** اوعجمة په کلام عربي کښی فرعه ده دعربیة **اذالاصلُ في كل كلامٍ ان لايخالطهٗ لسانٌ آخر** ځکه چې اصل په هرکلام کښی داده چې مخلوط دنۀ وي دده سره بله ژبه. اودلته خوعجمه مخلوطه شوه دعربی سره نوځکه دافرعه شوه والجمعَ فرعُ

الواحداوجمع فرع دواحدده ځکه چې داموقوف ده په واحدباندې. اوموقوف فرعه دموقوف عليه وي **والتركيبَ فرعُ الافراد** په دليل مذكورسره **والالف والنون الزائدتين فرعُ مازيدتاعليه** داعطف دی په العدل باندې په ان العدل كښې ،نومنصوب دی) اودغه شان دغه اسباب سابقه هم په دې وجه منصوب دی اوالف نون زائدتين فرعه ده دهغه اسم چې پرې زيادت شوی دی ددوئ په نزددكوفيانواوپه نزد دبصريانو الف نون زائدتين فرعه ده الفينودتانيث دی .وسياتی هذا **ووزنَ الفعل فرعُ وزن الاسم** دا هم منصوب دی او وزن فعل فرعه داسم ده ،اوددې دپاره دوه وجې دی يوه وجه يې داده چې اسم اصل دی په نسبت سره فعل ته ،نووزن داسم هم اصل دی دوزن دفعل نه بله وجه شارح بيان كړيده بقوله **ولانَ الاصلَ في كل نوعٍ ان لايكون فيه الوزنُ المختص بنوعٍ آخرَ** يعنې اصل په هره نوعه يعنې داسم اوفعل كښې داده چې نه دی وي په دې كښې داسې وزن چې مختص وي په نوعې آخرى پورې **فاذاوجدفيه هذاالوزنُ كان فرعاًلوزنه الاصلي** پس هركله چې موجودشئ په دې نوعه كښې هغه وزن يعنې دبلې نوعې نووی به داوزن فرعه دوزن اصلي خپل هغه وزن چې په خپله نوعه كښې موجوددی .

هغه اسباب چې د هغې په وجه غيرمنصرف په حكم دمنصرف كښې گرزی اوداپنځه دی.

(۱) ضرورة شعری(۲)تناسب(۳)تنكير(۴)الف لام(۵)اضافت نومصنف بعض بيان كړيدی په دې قول سره چې ويجوزالخ اوبعض په وجميع الباب الخ سره وسياتي انشاء الله وقال الشارح **أي أيمتنعُ سواءً كان ضرورياًاوغيرضروري** غرض دشارح ددې تفسيرنه دفع داعتراض مقدرده ، حاصل يې دادی چې مصنف وايې چې يجوزصرفه للضروة اوللتناسب ،نوظاهره داده چې جوازپه معنی دامكان خاص سره دی ،اوپه امكان خاص كښې مساواة دطرفينووي ،نودتناسب دوجې نه خوبی شكه چې انصراف اوعدم انصرف دواړه مساى دی ليكن دضرورة شعري دوجی نه دغيرمنصرف نه منصرف جوړول واجب اوضروری دی يعنې بله څه چاره نيشته كماسياتي نودضرورة شعری دوجې نه به غيرمنصرف باندې حكم كول په يجوزصرفه سره خطاء دی نوشارح جواب وكړ چې مراددجوازنه عدم امتناع ده نومطلب داچې دضرورة شعری اودتناسب په وجه دغيرمنصرف نه منصرف جوړول ممتنع نه دی بيابرابره خبره ده چې منصرف كول يې واجب اوضروری وي لكه په ضرورة شعري كښې يا واجب اوضروری هم نه

وي بلکه انصراف اوعدم انصرف يې دواړه برابروي لکه په صورة دتناسب کښې **صَرفَه اي جَعْلُهُ فِي حُکمِ المنصرِفِ** غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدرده حاصل يې دادی چې غيرمنصرف عندالمنصف هغه دی چې په کښې دوه علتونه وي نودضرورة اوتناسب په وجه خوزوال دعلتينونه راځي کماهوالظاهرنوځنګه به صحيح شي اطلاق دمنصرف په غيرمنصرف باندې فاجاب بقوله اي جعله فی حکم المنصرف شارح دوه جوابونه ذکرکړيدی جواب اول دادی چې صرف په معنی اصطلاحي سره دی يعنې ماليس فيه علتان ،خومرادصرفُه نه صرف حقيقةً نه دی مرادبلکه مرادګرزول دغير منصرف دی په حکم دمنصرف کښې **بِادخَالِ الکسرةِ والتنوين فِيه** په ادخال دکسری اوتنوين سره **لاجَعلُهُ منصرفاً حقيقةً** اونه دی مرادګرزول دغيرمنصرف منصرف حقيقة **فَانَ غيرَالمنصرف عندالمصنف مافيه علتانِ اوواحدةٌ تقوم مقامَهما** ځکه چې غيرمنصرف په نزددمصنف هغه دی چې په هغې کښې دوه علتونه يايوقائم مقام ددووراغلی وي او عندالمصنف يې ځکه اوويې چې په نزد د نورو غير منصرف هغې ته وايې چې کسره اوتنوين پرې نه داخليږي **وبِادخَالِ الکسرةِ والتنوينِ لايلزم خلوالاسم عنهما** اوپه ادخال دکسری اوتنوين سره نه لازميږي خالي کيدل داسم غيرمنصرف دعلتينونه البته دغه علتين کالعدم وګرزيدل بناپه قانون دعبدالغفورچې فان مالايترتب عليه غاية فهوفی حکم العدم نو غايه اواثردعلتينوعدم دکسری اودتنوين ووخوکله چې کسره اوتنوين داخل شو په غيرمنصرف دوجې دضرورة وغيره نه نودغه علتين کاالعدم شو **وقيلَ المرادبالصرفِ معناه اللغوی لاالاصطلاحی** داجواب ثاني دی يعنې ويلي شوی دي چې مرادد صرف نه په صرفه کښې معنی لغوی ده يعنې تغيرنه معنی اصطلاحي چې مافيه علتان مطلب يې داشئ چې جائزدی متغيرکول اوبدلول دغيرمنصرف دوجې دضرورة اوتناسب نه **والضميرُفِي صرفِهِ الخ** دادفع داعتراض ده حاصل يې دادی چې هرکله صرف په معنی لغوي سره شونومعنی يې داشوه چې جائزدی تغيردغيرمنصرف نواعتراض سابقه دفع نه شئ ځکه چې غيرمنصرف په خپل حال اوس هم مشتمل دی په علتينوفاجاب بقوله **والضميرفِي صرفه راجعٌ الی حکمِهِ** يعنې ضميردصرفه راجع دی حکم دغيرمنصرف ته ،پس معنی داشوه چې يجوزتغيرحکمه بادخال الکسرة والتنوين خوداجواب ضعيف دی لکه چې اشاره کړيده دېته مصنف په قيل صيغی دضعيف سره ځکه چې مداردې توجيه په معنی

لغوي دی اومعنی لغوي مترو کـه وي پـه علوموکښی لان المتکلم یتکلم باصطلاحه لِلضرورة دامفعول له دی دپاره دویجوز ای لضرورة وزن الشعر پـه دې کښی اشاره ده دیتـه چې الف لام عوض دی دمضاف الیه نه.

الضروت علي قسمین :پوهه شه چې ضرورة پـه دوه قسمه دی یوضرورة دی دوزن شعري اودا عبارت دی دمو افقت دنصف اخیردبیت نه دنصف اول ددغې بیت سره یابالعکس ، دوئم ضرورة درعایة دقافیي دی اداعبارت دی دموافقت دحرف اخیردیوبیت نه دحرف اخیردبل بیت سره پـه حرکت کښی فاجاب الشارح الی لاول بقوله ای ضرورة وزن الشعر والی الثانی بقوله اورعایة القافیة .

انکسار اوانزحاف :پس ددینه پوهه شه چې ضرورة شعري پـه دوه قسمه دی یـوا نکسار اوبل انزحاف مرادپه انکسارسره هغه تغیردی چې نه وي دهغې پـه مثل پـه اصولو دیوبحر کښی دبحورونه اوانزحاف درشعرافتادن حرفی میان دوحرف پس یکے بدیگرلے نزدیک شود یعنې غورزول دحرف دي دمنځ ددوو حرفونو نه اوبیانزدی کیدل دیوحرف دی بل تـه فانه اذاوقع غیرُالمنصرفِ فی الشعر دادلیل دمتن دی یعنې دضرورة شعري اودرعایة دقافیي پـه وجه غیرمنصرف پـه حکم دمنصرف کښی گرزول ضروري دی.ځکه چې کله واقع شي غیرمنصرف پـه شعر کښی فکثیرمًا یقعُ من منعِ صَرفِهِ انکسارٌ یُخرجُهُ عن الوزن پس ډیرکرته واقع کیږي پـه وجه دمنع صرف انکسارهغه انکسارچې خارجوي شعرلره دوزن خپل نـه اَوانزحافٌ یُخرجُهُ عن السّلاسَةِ یاواقع کیږي انزخاف چې خارجوي شعرلره دسلاسة اوروانی نـه اما الاول هرچې دی انکسار فکقوله شعر،پوهه شه چې داشعرد سیدالکونین نبي کریمﷺ دلخت جگرسیدة نساء اهل الجنة حضرت فاطمه رضی الله عنهاپـه غم فراق دخپل والدمحترم حضرت سیدنا ومولانامحمد ﷺکښی وئیلی دی اولنې بیت یې دادی.

کله چې حضرت فاطمي دپیغمبردقبرمبارک نه خاوره راواغستـه اوبوی یې کړه نوویې ژړل اووویل .

مَـاذَاعلَـی مَـن شَـمّ تُربـةَ احمـدَ

اَنْ لاَیشُـمَ مَـدَی الزمـان غَوالیـا

حاصل دمعنی یې دادی چې چابوي نه کړه خاوره دقبرداحمد نونشته ضرورت هغه تـه چې

بوینه کړي تول عمرقیمتی عطرغوالی جمع دغالیة ده خوشبویې ته وایي

صُبتْ عَلَى مَصَائِبٌ لَوْانَهَا

صُبَّتْ عَلَى الايام صِرْنَ لياليا

نازل شو په ماباندې داسې مصیبتونه که چرې دانازل شوی وي په ورځو.نو)دډیرغم دوجې به هغه په شپوبدلې شوی وی

په دې شعرکښې مصائب غیرمنصرف دی ځکه چې داصیغه دمنتهی الجموع ده لیکن وګرزولی شه په حکم دمنصرف کښې په ادخال دتنو ین سره دوجې دضرورة شعري نه ځکه چې دمنع صرف ددې نه لازمیږي انکسارپه وزن کښې **واماالثانی** اوهرچې دی ثاني یعنې انزحاف **فکقوله** لکه داقول دامام شافعي رحمه الله په مدحه دامام ابوحنیفة رحمه الله کښې.

اَعِدْ ذِکْرَنُعْمَانٍ لَنَااَنَّ ذِکْرَهُ

هُوَالمِسْكُ مَاکَرَّرْتَهُ یَتَضَوَّعُ

أعدٰامردی دباب افعال نه ای اعادیعیداعادة یعنې بیابیاکوه ذکر دنعمان بن ثابت رحمه الله ځکه چې ذکردهغه په شان دمسکٔ دی ،هرڅومره یې چې مکررکوی نوخوشبویې به یې خوریږي یتضوع ماخوذدی دضاع یضوع نه اوداجوف واوي دی په شان دقال یقول .ای تحرک فانتشرت رائحته مطلب دادی چې لکه څنګه دمشکٔ خوشبویې په حرکت سره خوریږي نودغه شان دامام صاحب رحمه الله دمناقبوپه بیانولوسره مسائل فقهیه دهغه خوریږي دایې وجه دتشبیه ده **فانه لوفُتِحَ نونُ نعمانَ من غیرتنوین** دایې دلیل دی یعنې نعمان غیرمنصرف دی دوجې دعلمیت اوالف نون زائدتین نه ،اومضاف الیه دی دپاره دذکر.پس که چرې فتحه ورکړی شي نون دنعمان ته بغیردتنوین نه اوویلی شي نعمان بالفتح **یَستقیمُ الوزن** نووزن دشعرخوصحیح دی **ولکن یقع فیه زحاف یُخرِجُهُ عن السلاسة** خوواقع کیږي په دې کښې زحاف په وجه دعدم تنوین چې خارجوي دی شعرلره دسلاسة (روانئی) نه **کمایُحکم به سلامةُ الطبع** دادفع دسوال ده **کان سائلایقول ان الزحاف کیف یخرج الوزن عن السلاسة فاجاب بقوله کمایحکم الخ** یعنې حکم کوي په دې سلامة الطبع یعنې داوجدانی امردی ددې اظهارپه لسان نه شي کیدی **فان قلت الاحترازُعن الزحافِ لیسَ بضروری** دااعتراض

وارددې په زحاف باندې که چرې ته اووايې په اعتراض کښې چې احترازدزحاف نه ضروري نه دی ځکه چې زحاف نه خارجوي شعرلره دوزن نه **فكيف يشمله قوله للضرورة** پس داقول دمصنف چې للضرورة دی به څنګه شامل شي ده ته پس ذکرکول ددې شعراعدذکرالخ دی بې محله دی **قلنا الاحتراز عن بعض الزحافات اذا امكن الاحتراز عنه ضروري عند الشعراء** خلاصه دجواب داده چې زحاف په دوه قسمه دی ،یوهغه چې ممکن وي احترازدهغې نه اوبل هغه چې ممکن نه وي احترازدهغه نه پس مراددرحاف نه دی بلکه هغه چې ممکن وي احترازدهغې نه نووايې شارح چې احترازدبعض زحافاتونه چې ممکن وي احترازدهغه نه ضروی اولازم دی په نوددشعراء **واما الضرورة الواقعة لرعاية القافية فكما في قوله شعر** اوهر چې دی هغه ضرورة چې دا قع وي دوجې درعاية دقافيې نه پس داقول دشاعردی .

سلامٌ على خيرِ الانام وسيدِ

حبيبِ اللهِ العلمين محمدِ

نازله دوی سلامتيا دهرافة اونقصان اودهرعيب نه په غوره دمخلوقاتو اوسردار دمخلوقاتو حبيب بدل دی دخيرنه اومحمدېې عطف بيان دی معنی داچې محبوب داله العلمين حضرت محمددی .

بشيرٍ نذيرٍ هاشميٍ مكرمٍ

عَطوفٍ رؤفٍ من يسمى باحمدِ

زيرې ورکونکې دی مؤمنانوته دمغفرة اودرحمة اويرونکی دی کافرانولره دخلودفي النارنه اوعاصيانولره دعذاب اوسخط الهی نه منسوب دی قبيله هاشم ته ،مکرم دی عندالله اوداهل سموات اواهل ارض په نزدېيرمهربانه اورحم کونکی ده په مونږه باندې داهغه مبارک شخصيت دی چې مسمی دی په احمدباندې پس احمدغيرمنصرف دی دوجې دعلميت اووزن فعل نه **فانه لوقال باحمدَ بالفتح** داتطبيق دمثال دی دممثل سره يعنې که چرې اووئيلی شي ا حمدپه فتحې ددال سره **لايخل بالوزن** نوخلل نه واقع کيږي په وزن دشعرکښې لامن حيث الانکسارولامن حيث الانزحاف **ولكنه يخل بالقافية** ليکن خلل واقع کيږي په قافيه کښې **فان حرف الروي في سائر الابيات الدال المكسورة** پوهه شه چې روي ماخوذدی درواء بکسرالراء نه اوداعبارت دی دحرف اصلي اخيری دبيت نه نووايې چې حرف روي په اخرد

ټولو ابیات کښی دال مکسوره دی نو که دال داحمدته کسره ورنه کړی شي نوقافیه به خرابه شي نوددې ضرورة دوجې نه غیرمنصرف په حکم دمنصرف کښی وګرزولی شو **اولتناسُب** دابیان دسبب ثاني دی دپاره دصرف دغیرمنصرف **ويجوزصرفُ غيرمنصرف**دا تعین دمعطوف علیه دی یعنې معطوف علیه یې للضرورة دی اواشاره ده عمل ته په قاعده مشهوره باندې یعنې کوم عبارت چې په جانب دمعطوف علیه کښی مصرح وي نوهغه به په جانب دمعطوف کښی مقدروي نوشارح وایې چې جائزدی صرف دغیرمنصرف **ليحصُلَ التناسبُ بينه وبين المنصرف** پوهه شه چې للتناسب مفعول له دی دپاره دیجوزصرفه اومفعول له په دوه قسمه دی یوهغه چې باعث وي په فعل مذکوراوحاصل نه وي سابقًابلکه حاصلیږي په فعل مذکورسره . لکه ضربته تادیباً. نوتادیباباعث دی په ضرب خوحاصلیږي پس دضرب نه دوهم قسم هغه دی چې با عث وي په فعل مذکوراومو جودوي پخوادفعل مذکورنه لکه قعدت عن الحرب جبناً نوجبنًامفعول له دی باعث دی په قعوداو حاصل دی پخوادقعودنه نوغرض دشارح ددې قول نه چې لیحصل التناسب دی تعین دنوعې دمفعول له دی یعنې دا له قبیلې دضربتهٗ تادیباً نه دی لکه چې للضرورة د قبیلې دقعدت عن الحرب جبناً نه وو فافهم مطلب داچې جائز دی انصرف دغیرمنصرف دپاره دحصول دتناسب په مابین دده اودمنصرف کښی **لان رعايةَ التناسب بين الكلمات امر مُهِم عندهم**په دې کښی اشاره د ه فرق ته په مابین دضرورة اوتناسب کښی نووایې چې داځکه چې رعایت دتناسب په مابین دکلماتو کښی مهمه خبره ده اګر چې حدضرورة ته نه رسي **مثل سلاسلاً واغلالاً** تشریح دالفاظُ داده چې سلاسل جمع دسلسلة ده اوسلسلة هغه زنځیردې چې تیارکړی شویدی دپاره د دوزخیانو داسی ځنځیردی چې که چیری څلویښت کاله پری رفتار وکړی شی نوانتهاء ته به یې رسیدل ونه شي اواغلال جمع دغل ده هغې بیړی ته ویلی شي چې دو سپنې نه جوړه ده اولاس ددوزخیانو په پرې تړلی شي. اللهم احفظنا منه آمین برحمتك یاارحم الراحمین **حيث صرف سلاسلاً لتناسب المنصرف الذي يَلِيهِ اعني أغلالاً** داتطبیق دمثال دی دمثل سره یعنې سلاسل غیرمنصرف دی دوجې دمنتهی الجموع نه لیکن وګرزولی شو منصرف دپاره دمناسبة د هغه منصرف سره چې متصل دی دده سره چې اغلالاً دی هرکله چې سوال واردشه په مصنف چې مقصودبالمثال انصراف دسلاسلاً دی نوذکرکولو داغلالاً ته څه حاجت وونوشارح جواب و که په دې قول سره **فقوله**

سلاسلاً واغلالاً مثال لمجموع غیرالمنصرف الذی صُرِف والمنصرف الذی صُرف غیرُالمنصرف لتناسبه یعني ممثل مجموعه دغیرمنصرف اودمنصرف ده نومقصود بالمثال دواړه دي. نو شارح وایي چې پس داقول دمصنف چې سلاسلاً واغلالاً دی مثال دی دپاره دمجموعې دهغه غیرمنصرف چې منصرف ګرزیدلی دی اودهغه منصرف چې دهغې دمتناسبت دوجې نه غیرمنصرف په حکم دمنصرف کښې ګرزولی دی **ومَایقومُ مقامهما** داتوضیح دهغه محمل ده چې واقع دی په تعریف دغیرمنصرف کښې په دې قول کښې چې اوواحدة یقوم الخ **وقال الشارح ای العلةُ الواحدةُ** غرض دشارح تعین دماهو المراددې دلفظ مانه. یعني ماموصو له ده موصوفه نه ده ځکه چې داموضع دمبتدادی اواصل په دې کښې تعریف دی بیا موصول مقتضي دمعتمد علیه وي. نوشارح ځکه العلةُ اُووی چې الواحدة دپاره دتعین. نووایي چې هغه علة واحدة چې قائمیږي په مقام دعلتینو دعلل تسعه نه **علتان** دادفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادې چې مایقوم مقامهما مبتداده اولجمع یې خبر دی نولازم شۀ حمل دخاص په عام **وذالایجوزفاجاب بقوله علتان** یعنې عطف مقدم دی په ربط با ندې نو خبرمجموعه دعلتینو ده فلا یرد **مکررتان قامت کلُ واحدةٍ منهما مقامَ العلتین لتکرارهما** په دې کښې اشاره ده اقامة دهرواحد دعلتینو مذکورینوته په مقام دعلتینوو سیجی **احدهما الجمعُ** په تقدیرداحدهما کښې اشاره ده اعراب دالجمع ته یعنې دامرفرع دی بنابرخبریت اومراددجمع نه جمعیة الجمع دی ځکه چې اسباب دمنع صرف دقبیلې داوصافونه دی **البالغُ الی صیغةِ منتهی الجموعِ** غرض دشارح ددې عبارت نه دفع دسوال مقدرده . چې مرادبه دجمع نه مطلق جمع وي. نوپکارده چې رجال اومسلمون هم غیرمنصرف وګرزی د وجې دجمعیت نه فدفعه بقوله البالغ الخ یعنې مراد مطلق جمع نه ده بلکه هغه جمع ده چې رسیدلی وي داسې صیغې ته چې نهایت ته رسیدلی وي جموع دهغې په دی شان سره چې دوباره نه جمع کیږي په جمع تکسیری سره .

اسباب د منع صرف به قوی وي: پوهه شه چې په اسبابو دمنع صرف سره خارجولی شي اسم داصل خپل نه چې انصراف دی خلاف الاصل ته چې عدم انصراف دی نو په دې وجه په اسبابودمنع صرف کښې قوة پکاردی پس په قوة دمنتهی الجموع کښې دري اقوال دي. پس

قول اول شارح ذکر کړیدی بقوله **فانه قد تکرر فیه الجمعیة** یعنې مکرر شویدی په دې کښې جمعیة نو مضبوط اوقوي ګرزیدلی دی ځکه چې اذاتکررتقرر **حقیقةً** داد فع دسوال ده چې داخبره دمنقوضه ده په مساجداومصابیح باندې ځکه چې داصیغې دمنتهي الجموع دی حالا نکه تکراردجمعیة په کښې مفقوددی خلاصه دجواب یې داده چې تکرارعام دی که حقیقة وي لکه اکالب چې جمع داکلب ده اواکلب جمع دکلب ده او اساور جمع داسورة ده اوداجمع دسوار ده **اوحکمًا** اوکه تکرار حکمي وي **کالجموع المُوافِقة لها فی عددالحروف والحرکات والسکنات** لکه هغه جموع چې موافق وي دجموع حقیقیه سره په عدددحروفوحرکاتو سکناتو کښې لکه مساجدچې جمع دمسجدده او مصابیح چې جمع دمصباح ده نوپه دې کښې ګویا تکرارحکمي دی. قول ثاني دادی چې جمعیة په صیغة دمنتهي الجموع کښې رسیدلی وي انتهاء ته په دې شان سره چې نه جمع کیږي ثانیاپه جمع تکسیری سره نوبنا په دې محفوظه شوه تغیراوتکسیرنه نوحاصل شه په کښې قوة قول ثالث دادی چې داهغه جمع ده چې نه وي ددې د پاره نظیرپه احادوکښې نودامشابه نه ده دمفرداتوسره اوکومه جمع چې مشابه نه وي دمفرداتوسره نو هغه قوي وي په جمعیة کښې.

وثانیتهما التانیث دوهم سبب چې قائم مقام دعلتینودی تانیث دی غرض دشارح په التانیث سره دفع دسوال ده چې اسباب دمنع صرف دقبیلی داوصافونه دی اوالفین د تانیث خودلالت کوي په ذواتو باندې فاجاب بقوله التانیث نو تانیث به قائم مقام دسببینووی فدفع بقوله **لکن لامطلقًا بل بعضُ اقسامه** یعنې مطلق تانیث نه بلکه بعض اقسام دده **وهوالفا التانیث المقصورةُ والممدودةُ** دابدل دی دالفا التانیث نه **ای کل واحدٍ منهما** دادفع دتوهم ده چابه تو هم کوو چې هغه سبب ثاني چې قائم مقام دسببینووی هغه به مجموعه دالفینو دتانیث وي والامرلیس **کذالك فدفع بقوله ای کل واحد منها** یعنې هرواحدددې دواړونه مستقل سبب دی **لانهما لازمتان للکلمة** دادلیل دې دپاره دقیام دالفینومقام السببین اواشاره ده فرق ته په مابین دالفینو اوتاء التانیث کښې نو وایې چې دادواړه الفین لازم دی دکلمې سره **وضعًا** په اعتباردا صل وضعي سره **لاتُفارقانِهَا** داتفسیردی دلازمتان یعنې نه جدا کیږي داد کلمې نه **اصلاًای لافی الوضع ولافی الاستعمال** پوهه شه چې قیددوضع دعبارت مذکوره نه معلوم

شۀ او قید د استعمال معلومیږي دآئنده عبارت دشارح نه **فلا یقال فی حبلی حُبلَ ولا فی حمراء حمرَ** پس نه ویلی کیږي په حبلی کښې حبل. یعنې په قطع د الف سره اونه ویلی کیږي په حمراء کښې حمرپه حذف دهمزې سره ،**فیجعل لزومهُما للکلمة بمنزلة تأنیث آخر الخ** فاتفریعیه ده پس وګرزولی شو لزوم ددوی دکلمې سره په منزلة دتانیث آخر.پس په دې کښې تانیث مکرروګرزیده بخلاف التاء یعنې تاء تانیث قائم مقام دسببینونه ده **فـانها لیست لازمـةً للکلمة بحسب الوضع** ځکه چې دالازمه نه ده دکلمې سره په ا عتبارداصل وضعې سره **فـانهـا وُضِعَتْ فـارقةً بین المذکروالمؤنث** ځکه چې داوضعه شوی ده دپاره دفرق په مابین دمذکراومؤنث کښې مطلب ددې دادی چې نفس صیغه دقائم مثلاً ددواړودپاره استعمالیږي نو فرق یې په تاسره وشۀ نو چې کله مجردوی دتانه نوهغه به دپاره دمذکروي اوکه سره دتانه وي نو هغه به دپاره دمؤنث وي. نومعلومه شوه چې تاعارضه ده صیغی ته پس دوضعې نه **فلوعُرِضَ اللزومُ الخ** دادفع دسوال مقدرده حاصل یې دادی چې تاء التانیث هم کله لازم دکلمې سره ګرزی له وجې داحاطې دعلمیة نه نوپکارده چې دادهم قائم مقام دسببینووګرزی. خلاصه ددفع یې داده چې دالزوم عارض دی تاء ته نو قو ة په کښې نیشته. نوشارح وایې چې **فلوعرض اللزوم بعـارِضٍ کاالعلمیـة مـثلاً لَـمْ یَقوقُـوة اللزومِ الوضعِی** یعنې که چرې لزوم ورته عارض شي دوجې دعارض نه لکه علمیـة پرې احاطه وکی (نوپه دې کښې داسې قوة نه پیداکیږي لکه څنګه چې په لزوم اصلي کښـې وي. ځکـه چې عارض کالمعدوم وي .

هرکله چې فـارغ شۀ مصنف دبیان اجمالي داسباب تسعهؤ نه نوشروع یې وکړه په بیان تفصیلی ددی کښی فقال **فـالعدلُ** فاءتفصیلیه ده.

سوال: عدل یې ولې مقدم که په باقي اسبابو؟

جواب :ځکه چې عدل مشروط بالشروط نه دی په خلاف دباقې اسبابونه نوعدل په منزله دمطلق دی اوباقي اسباب په منزله د مقیددی اومطلق مقدم وي په مقیدپوهه شه چې دعدل په لغة کښی پنځه معنی دی یوپه معنی دمیلان سره چې په صله کښـی یې الی راشي لکه ویلی کیږي عدل الیه ای مال دوهم په معنی داعراض سره چې کله یې صله عن راشي لکه عدل فلان عنه ای اعرض عنه درئم په معنی دبُعدسره کله یې صله بین راشي. لکه عدل الامیربین کذا وکذا پنځم په معنی دتغیرسره چې کله یې صله فی راشي لکه **فلان عدل**

فی مال زید یعني تصرف یې په کښې وکړ او مرادترینه په دې مقام کښې معنی اخیره ده او تعریف اصطلاحي یې مصنف ذکرکړیدی په دې قول سره **خروجه عن صیغته الخ** یعني خارجول داسم دی دصغیې اصلي خپلې نه خلاف قیاس سره دبقاء دمادی نه **وقال الشارح مصدراً** دا جواب دسوال مقدردی ،حاصل یې دادی چې عدل په وزن دفعل داوزانو دصفة مشبه نه دی نوحمل دخروج پرې صحیح نه دی ځکه چې خروج مصدردی صرف وصف دی اوصفة مشبه ذات مع الوصف دی خلاصه دجواب یې داده چې وزن دفعل مشترک دی په مابین دمصدراوصفة مشبه کښې. نومرادترینه ههنا مصدر دی نوحمل دخروج پرې صحیح شو.

سوال: هرکله چې فعل وزن مشترک شۀ نو څه قرینه ده په ارادی دیوی معنی چې مصدریت دی.

جواب : قرینه په دې داده چې اسباب دمنع صرف دقبیلې داوصافو نه دی نوعدل به هله وصف شي چې مصدروګرزی **مبنی للمفعول** دادفع داعتراض مقدرده چې بیاهم حمل دخروج په عدل نه دی صحیح. ځکه چې عدل مصدردفعل متعدي دی په معنی داخراج سره .اواخراج صفة دمتکلم دی اوخروج مصدردفعل لازمې دی اودا صفت داسم دی نوبناپه دې لازمیږي حمل دیومتبائن په بل متبائن باندې خلاصه دجواب یې داده چې منم داخبره چې مصدرمتعدي صفة دمتکلم وي خوکله چې مبني للفاعل وي اوچې کله مبنې للمفعول وي لکه دلته نوبیاصفة داسم وي نوعدل په معنی دمعد ول سره شۀ اومعدول هم صفة داسم دی فلاتبائن **ای کون الاسم معدولاً غرض** دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض مقدرده .چې هرکله عدل مبني للمفعول ، په معنې دمعدول سره شۀ نولازم شو دوه نقصانه . یوحمل دصرف وصف چې خروج دی . په ذات مع الوصف چې معدول دی ځکه چې اسم مفعول ذات مع الوصف وي . اوبل داچې شمیرل دعدل داسبابو دمنع صرف نه صحیح نۀ شو. ځکه چې اسباب دمنع دقبیلې داوصافو نه دئ .اومعدول ذات مع الوصف دی . خلاصه دجواب یې داده چې مراد معدول نه کون الاسم معدولاً دی او کون وصف دی .نوحمل هم صحیح شۀ اوشمیرل یې هم صحیح شو داسبابو دمنع صرف نه **ای خروج الاسم** داتعین دمرجع دی اودفع دسوال ده چې ضمیردخروجه به خالي نه وي یابه راجع وي عدل ته یاخروج ته .اودواړه صحیح نه دی اول ځکه

نه دی صحیح چې لازمیږي اخذ المحدو دفی الحد اوثاني ځکه نه دی صحیح چې معنی به داشي ای خروج الخروج نولازمیږي خروج دشي نفس خپل نه **وهذا محال** جواب په اختیاردشق ثالث سره دی یعنې ضمیرراجع دی اسم ته نه عدل ته اونه خروج ته . اوقرینه پرې بحث داسم دی . فلایلزم الاضمارقبل الذکر **ای کونهٔ مخرجًا** په دې تفسیرکښې اشاره ده دوونکتوته یوداچې خروج لازمي په معنی داخراج سره دی اواخراج په معنی دمخرج سره دی .نومتعدي وګرزیده دونمه نکته داده چې خروج په دوه قسمه دی یو خروج بنفسه دی اوبل خروج فی ضمن الاخراج دی وهذاهو المراد اوغرض په دې کښې دفع داعتراض ده حاصل یې دادی چې تفسیردعدل په خروج سره غیرصحیح دی . ځکه چې عدل مصدر متعدي دی .اوخروج لازمي دی نوصحیح نه دی حمل د خروج عدل باندې حالانکه ضروري دی صحة دحمل په مابین دمعرف اومعرف کښې خاصه دجواب یې داده چې عدل مصدرمبني للمفعول دی اومرادترې حاصل بالمصدردی یعنې کون الاسم اودمقولې دکیف نه دی په خلاف دنفس مصدرنه چې هغه دمقولې دفعل نه دی یعنې تاثیرنوهرکله چې مراددعدل حاصل بالمصدرشۀ . نو مراددخروج نه هم حاصل بالمصدرشۀ یعنې کونه مخرجاده پاره ددې چې صحیح شي حمل په دې شان سره چې ویلی شي چې کیفیة دعدل کیفیة دخروج داسم دی دصیغې اصلي خپلې نه بلې صیغې ته ،اوپه دې هم تنبیه راغله چې خروج په معنی داخراج ،اوا خراج په معنی دمخرج سره دی **ای عن صورتهٖ** داتعین دماهوالمراددی دصیغې نه اوغرض په دې کښې دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې اخراج داسم دصیغې نه غلط دی ځکه چې اسم عبارت دی دمادې اوصورة دواړونه اوصیغه هم عبارت دی ددواړونه عندالصراف نوبناپه دې لازمیږي خروج دکل دکل نه وهذا باطل. خلاصه دجواب ئې داده چه مراد د صیغې نه صیغه نحوی ده چې هغه صورت دی فقط فلایلزم المحذور.

سوال :بنا په دې لازم شۀ خروج دکل یعنې داسم دجزء یعنې دصورة نه وهذا محال اوداځکه لازمیږي چې خروج فرعه ددخول ده اودخول دکل په جزء کښې محال دی ؟

جواب : عبارت په خذف دمضاف سره دی ای خروج مادة الاسم عن صورته الاصلیة .

سوال : بیاخولازم شۀ خروج دجزء دجزء آخرنه فکیف یصح هذا .ځکه چې خروج فرعه ددخول ده اوجزپه جزکښې نه داخلیږي ؟

جواب : خروج دجزء دجزء اخرنه صحیح دی هغه وخت چې کله احدالجزئین مشتمل وي په اخر

لکه دلته ځکه چې ماده مشتمله ده په صورت باندې نو خروج يې صحيح شو. **التي يقتضي الاصل** پوهه شه چې په الاصلية کښې ياء نسبتي ده نو غرض د شارح په دې عبارت کښې تعين دماهو المراد دی ځکه چې داصل د پاره معاني کثيره دي يعنې دليل راجح قاعده وغيره کما بين في الاصول نو شارح تعين وکړ چې مراد ترې قاعده ده او بل غرض بيان دمناسبت دی په مابين دمنسوب يعنې صورت او منسوب اليه يعنې اصل کښې نو وايې چې عدل خروج دما دی داسم دی دصورة خپل نه **التي يقتضي الاصل والقاعدة ان يكون الاسم عليها** داسې صورة چې تقاضا کوي اصل او قاعده ددې خبرې چې وي دی دغه اسم معدول په دغه صورت خپل باندې پس صورة مقتضي او اصل يې مقتضي اسم مفعول دی مقتضي اسم فاعل ته فتفكر.

سوال. داتعريف دعدل صادق نه دی په عدل تقديری باندې ځکه چې دعدل تقديری دپاره څه اصل او قاعده نه وي؟

جواب: ممکنه ده چې داتعريف دعدل تحقيقي وي فقط. يا داچې اصل عام دی په معنی دقاعدې او اوليه او سابقية دواړو سره. پس تعريف دعدل داشو چې خروج داسم دی د هغه صيغې خپلې نه چې منسوب وي اصل ته نو که اصل په معنی دقاعدې سره شي نو دا تعريف دعدل تقديری دی، نو په عدل تقديری کښې خروج داسم وي دصيغې اولی سابقې نه.

تنبيه: پوهه شه چې په تعريف دعدل څلور اعتراضات وارد شوي دي او مصنف ابن حاجب دهغې نه جوابونه کړيدي. په امالي کافيه کښې نو شارح هغه ذکر کوي دو لايخفی نه تر وقال بعض الشارحين پورې نو وايې **ولايخفى الخ** دا دفع داعتراض مقدر ده حاصل يې دادی چې تعريف دعدل مانع نه دی ددخول دغير نه داخل شو په کښې مشتقات ځکه چې مشتقات هم خارج شوي دي د صيغې اصلي نه چې مصدر دی سره ددې چې مشتقاتو ته معدول نه ويلی کيږي نو پکار ده چې ضارب وغيره غير منصرف شي دوجې دعدل او وصف نه **فاجاب بقوله ولايخفى ان صيغة المصدر ليست صيغة المشتقات** او خفي نه ده دا خبره چې صيغه دمصدر بعينه صيغه دمشتقاتو نه ده ځکه چې صيغه د ضرب صيغه دضارب او مضروب نه ده کماهو الظاهر **فباضافة الصيغة الى ضمير الاسم خرجت المشتقات كلها** پس په اضافة دصيغې سره ضمير داسم ته خارج شو تول مشتقات خلاصه دا چې صيغه دمعدول به بعينه صيغه دمعدول عنه وي خو خروج به يې ترې راغلی وي.

سوال: څنګه چې صیغه دمصدر مغائره وي دصیغې دمعدول نه لکه عامر مثلا مغائر دی دعمر نه لفظا؟
جواب: مغائرت په مابین دمصدر او مشتق کې تام دی په دی شان سره چه لکه څنګه لفظ د مصدر غیر دی دلفظ دمشتقې نه نو دغه شان معنی دمصدر هم مغائره ده دمعنی مشتقې نه په خلاف د عدل نه ځکه چې مغائرة په مابین دمعدول او معدول عنه کښې صرف په اعتبار دلفظ سره وي او معنی ددواړو واحد وي . لکه معنی دثُلثٰ بعینه معنی دثلاثة ثلاثة ده یعنې درې درې.

فرق په مابین دعدل او اشتقاق کښې: دتحقیق سابق نه معلومه شوه چې په عدل کښې مغائرت په مابین دمعدول او معدول عنه کښې وي خو په لفظ کښې فقط نه په معنی کښې او په اشتقاق کښې مغائرت په مابین دمشتق او مشتق منه کښې په لفظ او معنی دواړو کښې وي

وان المتبادَرالخ دا هم دفع داعتراض مقدرده حاصل یې دادی چې تعریف دعدل مانع نه شئ ددخول دغیرنه داخل شو په کښې اسماء محذوفة الاعجاز ای الاواخر یعنې هغه اسماء چې اخر دهغوی حذف شوی وي لکه دم اوید وغیره چې په اصل کښې دمو اوید ی وو نودم اوید مخرج دی داصل خپل نه چې دَمَوٌ اویَدَیٌ دی او معنی اصلي یې هم باقي ده فدفع بقوله وان المتبادر داعطف دی په ان صیغة المصدر باندې فالتقدیرولایخفٰی ان المتبادَرمن خروجهٖ عن صیغته الاصلیةِ ان تکونَ المادةُ باقیةً او خفی دی نه وي دا خبره چې متبادر دخروج داسم دصغیې اصلي نه دادی چې وي دی مادة دحروفو باقي والتغیرُانمـا وقَع فی الصورةِ فقط اوتغیر به واقع شوی وی په صورة کښې فقط نه په ماده کښې او قرینه په دې داده چې مراد دصیغې نه صورة دی نه ماده خلاصه دا چې عدل خروج داسم دی دصیغې نه سره دبقاء دمادی نه فلاینتقِضُ بمـاحذفُ عنه بعضُ الحروفِ الـخ دا تفریع ده په ماسبق پس نه ماتیږي تعریف دعدل په هغه اسماءُ چې حذف شوی وي دهغې نه بعض حروف لکه اسماء محذوفة الاعجاز جمع دعجزده یعنې آخر.لکه یدځکه چې په دې کښې ماده اصلي باقي نه ده پاتې شوی اودغه شان تعریف منقوض نه شئ په اسماء محذوف الاوائل باندې لکه عدة چې په اصل کښې وعدوو او حذف شئ او تاء عوضي یې په اخر کښې راوړی شوه . اودغه شان تعریف منقوض نه شه په اسماء محذوفة الاوساط باندې ،لکه مقول چې په اصل کښې مَقْوُوْلٌ وو اودمعروف علال په وجه یې واودوسط نه حذف شئ ، اودا ځکه چې داهم بې شکه مخرج دی داصل خپل نه. لیکن ماده اصلي یې باقي پاتې نه ده فافهم وان خروجه الـخ دادفع داعتراض ثالث ده چې

تعریف دعدل مانع نه شۀ ددخول دغیرنه داخل شوپه کښی مغیرات صرفیه لکه مرمی وغیره ځکه چې دامخرج دی دصیغي اصلي خپلې نه چې مَرْمُوْیٌ دی نوپکارده چې مرمی غیرمنصرف شي دوجی دعدل اودوصف نه ، **معان الامرلیس کذالك فاجاب بقوله وان خروجه عن صیغته الاصلیة یستلزم دخوله فی صیغةٍ أُخری** دا عطف دی په ان صیغة المصدرباندې پس معنی داشوۀ چې خفی دی نه وي داخبره چې خروج داسم معدول دصیغې اصلي نه مستلزم دی دخول لره په صیغه اخری کښی **ای مغائرةٍللاولی** داتفسیرداخری دی دپاره دتنبیه په دې خبره چې اخری په معنی تفصیلي یعنې اَشَدّتَاَخُراً سره نه دی بلکه نقل شویدی معنی دمغائرت ته یعنې داسې صیغه چې مغائره وي دصیغي اولی نه اودلالت په دې مغائرت لفظ دخروج کوي لیکن هرکله چې نفس مغائرت نه ووکافی دپاره ددفع داعتراض مذکورځکه چې نفس مغائرت خوپه مرمی کښی اومرموي کښی هم شته لکه چې ظاهره ده نوشارح اضافه که د غی جواب ته داعبارت خپل چې **ولایَبْعدالخ** یعنې مطلق مغائرت ناکافي دی بلکه مراددمغائرت دصیغې اخری دصیغې اولی نه په دې شان سره دی چې صیغه اولی به تحت داصل اودقاعدی وي او صیغه اخری به تحت دقاعدی اواصل نه نه وي لکه ثلث چې معدول دی دثلاثة ثلاثة نه نو صیغه اولی یعنې ثلاثة ثلاثة تحت دقاعدي ده هغه داچې کله معنی مکرره وي نولفظ به هم مکرروی لیکن ثُلث موافق دقاعدې سره نه دی ځکه چې معنٰی خوې مکرزده لیکن لفظ یې مکررنه دی اوداسې قسم مغائرت په مغیرات صرفیو کښی نشته ځکه چې مرموی مثلا (صیغه اولی) هم موافق ده قاعدی سره ځکه چې اسم مفعول دمجردنه په وزن دمفعول راځي او خروج دمرمی (صیغه اخری) هم موافق دی دقاعدی سره کمابُین فی الصرف نوتعریف دعدل پرې صادق نه شۀ فافهم نو شارح وایې چې **ولایبعدان یعتبرمغائرتها لهافی کونهاغیرَ داخلةٍ تحت اصلٍ وقاعدةٍ** اوبعیده نه ده چې معتبرشي مغائرت دصیغي اخری داولی نه په کون دصیغي اخری (معدول) کښی چې داخله به نه وي لاندې داصل اودقاعدی نه **کماکانت الاُولٰی داخلةً تحتهُ** لکه چې صیغه اولی (معدول عنه) به داخله وي لاندې دقاعدی نه **فخرجت عنه المغیرات القیاسیة** داتصریح بالجواب ده پس خارج شودتعریف دعدل نه مغیرات قیاسیه صرفیه **واماالمغیرات الشاذة** دادفع داعتراض رابع ده چې تعریف دعدل مانع نه شه ددخول دغیرنه داخل شوپه کښی مغیرات شاذه یعنې جموع شا ذه یعنې هغه جموع چې جمعیة یې

خلاف القیاس وي لکه اقوُس او انُیب ځکه چې دامخرج دی داقو اس او انیاب نه چې دا جمع دقوس اوناب ده نوصورة اولی یعنې اقواس او انیاب تحت اصلٍ وقاعدةِ دی ځکه چې قاعده داده چې اجوف واوی او یایي په وزن دفعل (بفتح الفاء) جمع کیږي په وزن دافعال سره نوبناپه دې یې جمع اقواس او انیاب راځي اوبیاخروج یې اقوس او انیب ته خلاف قاعده دی ،نوپکاره ده چې داهم اسماء معدوله وګرزي.

فاجاب بقوله واماالمغیرات الشاذة الخ او هرچې مغیرات شاذه دی **فلانسلم انهامخرجة من الصیغه الاصلیة** پس نه منو داخبره چې دامخرج دی د صیغ اصلیه نه **فان الظاهران مثل اقوُس وانُیب من الجموع الشاذة لیست مخرجةً عماهوالقیاس فیهااعنی اقواساً وانیاباً** دادلیل دلانسلم دی یعنې بیشکه ظاهره داده چې مثل داقوس انیب (یعنې جموع شاذه) نه دی خارج شوی دهغه جمعونه چې هغه موافق دی دقیاس سره چې اقواس او انیاب دی **بل انماجُمِعَ القوسُ والنابُ ابتداءً علی اقوُس وانُیب علی خلاف القیاس** بلکه جمع شویدی قوس اوناب ابتداءً په اقوس انُیب باندې خلاف قیاس **من غیران یعتبرجمعهمااولاًعلی اقواس وانیاب واخراج اقوس وانیب** بغیرداعتبار دجمع کیدو دې نه اول په اقواس انیاب سره اوبغیر داعتبار داخراج داقوس او انیب داقواس او انیاب نه اوقرینه په دې تسمیه ددوی ده په جموع شاذه سره نوکه چرې دااو ا لاً جمع شوی وي په اقواس او انیاب اوبیایې اخراج شوی وي اقوس انیب ته نوبه وی مسمی په جموع شاذه سره **وقال بعض الشارحین الخ** پوهه شه چې غرض دشارح دنقل دقول بعض الشارحین نه اعتراض دی په مصنف اوداعتراض بنادی په یوه مقدمه ،نوداقول دشارح قدجوزبعضهم ترفیمکن پورې مقدمه ده اودفیمکن نه تر واعلم پورې اعتراض دی مقدمه داده چې تعریف بالاعم جائزدی عندالقدماء کله چې مقصود دتعریف نه تمیزدمعرف وي دبعض ماعدانه لکه تعریف دانسان په حیوان سره چې حاصلیږي په دې سره تمیزدبعض ماعدانه چې اشجاراحجاروغیره دي اګر چې امتیازنه راځي په دې سره دباقي حیواناتونه اوهم دامطلب دی ددې عبارت دشارح چې **قدجوزبعضهم** دبعض نه مراد قدماء مناطقه دی **فیمکن ان یقال المقصودهٰهناتمیزالعدل عن سائرالعلل لاعن کل ماعداه.** **(هذاشروع فی الاعتراض)** پس ممکنه ده چې ویلی شي چې مقصدپه دې مقام کښې دتعریف دعدل نه تمیزدعدل دی دباقي اسبابونه نه دکل ماعد انه یعنې امتیازدعدل دکل

ما سوا نه مقصود نه دی **فحیث حصل بتعریفه هذا التمیز الخ** پس هر کله چې حاصل شۀ په تعریف مذکور دعدل سره دا امتیاز نو باک نیشته په کون ددې تعریف کښې چې خروجه الخ دی اعم دعدل نه ځکه چې په دې تعریف سره مقصد حاصل شۀ چې هغه امتیاز دعدل دی دنورو اسبابو نه

فحینئذ لاحاجة فی تصحیح هذا التعریف الی ارتکاب تلك التکلفات دا تصریح ده په اعتراض باندې پس نیشته دی حاجت په دغه وخت کښې دپاره دتصحیح ددې تعریف ارتکاب ددغه تکلفاتو ته مراد دتکلفاتو نه هغه قیودات دي چې هغه مصنف ذکر کړی دی په امالیو دکافیې کښې دپاره ددفع ددې اعتراضاتو مذکورو ،اوهغه شارح دلته را نقل کړیدی.
حاصل دکلام دادی چې داتعریف دعدل تعریف بالاعم دی دپاره دامتیاز دبعض ماعد انه چې باقي اسباب دی اودا امتیاز حاصل شۀ په تعریف مذکور .پس اخراج دمشتقاتو اومغیراتو صرفیو وغیره ضروری نه دی . نومصنف لره دغې قیوداتو ذکر کولو اوشارح لره دهغې را نقل کولو ته څه حاجت وو نوددې اعتراض نه جواب دا دی چې مقصود په دې مقام کښې امتیاز دعدل دبعض ماعدانه نه دی بلکه دمشتقاتو اومغیراتو صرفیه وغیره نه هم امتیاز مقصود دی په دې وجه لابدی شوه ددغې قیوداتو نه ،اوقرینه پرې داده چې که چرې مقصد امتیاز دبعض ماعد ایعنې باقي اسبابو نه وي فقط ،نو مصنف به اکتفاء کړی وي په خروج باندې فقط دوهم جواب دادی چې مقصود په دې مقام کښې تمیز دعدل دباقي اسبابو نه دی .بلکه مقصد تمیز دغیر منصرف دی دمنصرف نه تر دې چې معلوم شي چې ثلاث وغیره غیر منصرف دی اومشتقات اومغیرات صرفیه وغیره منصرف دی اودا امتیاز به هله حاصل شي چې دغه قیودات معتبر کړی شي په تعریف دعدل کښې.

اختلاف په عدل تحقیقي اوتقدیری کښې : پوهه شه چې عدل په دوه قسمه دی یو عدل تحقیقي اوبل عدل تقدیري نو په دې کښې دوه مذهبه دي یو دمحققینو اوبل دمشهورینو پس مشهورین وایې چې عدل تحقیقي عبارت دی دخروج تحقیقي داصل محقق نه اوعدل تقدیري عبارت دی دخروج تقدیري داصل مقدر نه او محققین وایې چې عدل تحقیقي عبارت دی دخروج اعتباری تقدیري اوفرضي داصل محقق نه اوعدل تقدیری عبارت دی دخروج تقدیري داصل مقدر نه پس دارومدار دمذهب دمشهورینو په دې دی چې علم په عدل داسماء معدوله مقدم دی په منع صرف یعنې اولاً نحاة خبردار شو په عدل نو وایې ګرزول دغې اسماء لره

غیرمنصرف دوجې دعدل اودِسبب اخرنه اودارومداردمذهب دمحققینو په دې دی چې علم په منع صرف مقدم دی په اعتباردعدل یعنې اولاً دوئ ومونډل بعض اسماء غیر منصرف اونه وو په هغې کښې مگر یوسبب اویوسبب نه کافي کیده دپاره دمنع صرف نودوی محتاجه شو اعتباردبل سبب ته اوصالح نهٔ وو دپاره داعتباراوفرض مگرعدل . پس معتبرکه دوئ عدل لره په دغه اسماء کښې .

محل الاختلاف : حاصل دادی چې اختلاف ددوی په عدل تحققي کښې دی فقط ځکه چې عدل تقدیری دټولو په نزدخروج فرضي اعتباری دی داصل یعنې معدول عنه فرضی او تقدیری نه و سیاتی .

اول دلیل د مشهورینو دادی چې تحقیقاً اوتقدیراً صفتان دی دپاره دخروج ای خروجاً تحقیقاً اوخروجاً تقدیراً اوصفتیة ددې به دپاره دخروج هله صحیح شي چې خروج په اول کښې تحقیقي شي اوپه ثاني کښې تقدیري شي دوهم دلیل یې دادی چې عدل تقدیرې خوفرضي اواعتباری دی اتفاقاً ،نوکه چرې عدل تحقیقي هم فرضي اواعتباری وگرزی نوتقسیم به صحیح نه شي ځکه چې دواړه شئ واحدو گرزیده.

دلیل دمحققینودادی چې عدل داسبابو اعتباریوضروریونه دی یعنې ده لره اعتبارو رکولی شي دوجې دضرورت نه بناپه دې چې علم په منع صرف مقدم دی په عدل ځکه چې نظراولی دنحاتوپه اعراب اوبناوي نو چې کله ومونډلی شوثُلث اومثلث غیرمنصرف یعنې کسره اوتنوین پرې نه جارې کیدل اونه وو په دې کښې مگریوسبب نودوی محتاجه شو اعتباردبل سبب ته دپاره دمحافظت دتعریف دغیرمنصرف نوعدل پکښې معتبرشهٔ دوجې دضرورت نه نوکه چرې خروج په عدل تحققي کښې تحقیقي وگرزی اعتباری اوفرضي نه شي نووبه نه گرزی عدل داسباب ضروریه نه اولازم به شي مخالفت دنظراولی دنحاة نه نومعلومه شوه چې عدل امراعتباري دې جواب ددلیل دمشهورینونه دادی چې توصیف دخروج په تحقیقااوتقدیراسره توصیف بحال متعلقه دی لکه په شان دجاء نی رجل حسن غلامه پس معنی به داشي چې داسې خروج چې اصل یې محقق وي یامقدر نوتحقیقا اوتقدیرا په حقیقت کې صفات دپاره دمتعلق دخروج دې چې هغه اصل یعنې معدول عنه دې ددوهم دلیل نه ځواب دادی چې داتقسیم په اعتباردمعدول عنه سره دې پس که چرې معدول عنه محقق وویعنې ثابت ووپه دلیل سره ماسوادمنع صرف نه نوداعدل تحقیقې دې اوکه معدول عنه مقدراومفروض وي نوداعدل

تقدیرې دې قال الشارح العلامه واعلم انا نعلم الخ غرض د شارح ددې عبارت نه ترمتن آتی پورې بیان د دغه اختلاف دې چې اوس ذکرشو او اشاره ده ترجیح د مذهب د محققینو ته او رددې په مشهورینو شارح وایې چې پوهه شه چې مونږ ته معلومه ده یقینا انهم لما وجدوا ثلث ومثلث واخر وجمع غیرمنصرف چې هرکله چې ومونده نحاة دا الفاظ غیرمنصرف یعنې کسره اوتنوین پرې نه جارې کیدل او مراد د غیرمنصرف نه غیرمنصرف حقیقةً نه دی چې مافیه علتان گنی نوبیا به اعتبار دعدل ته ضرورت درپیش نه شي ولم یجدوا فیها سببا ظاهراً غیرالوصفیة او ونه مونده دوی په دې کښې سبب مگر وصف (یاعلمیت په عُمَرزُفَر کښې احتاجوا الی اعتبار سبب اخر نو دوی محتاجه شو اعتبار د سبب آخرته ولم یصلح للاعتبار الا العدل او صالح نه وو دپاره د اعتبار مگر عدل فاعتبرو فیها پس معتبر که دوی عدل لره په ثلث وغیره کښې یعنې علم په منع صرف ددې اسماء مقدم دی په عدل لانهم دا اشاره ده ظهور د قول مردود ته نو شارح وایې لانهم تنبهوا للعدل فیما عدا عمرمن هذه الامثلة دا سې نه ده چې دوی گنی اول خبر شو په عدل په ماسوا د عمر ددې مثالونو کښې فجعلوه غیرمنصرف للعدل وسبب آخر او گنی ویې گرزو ماسوا د عمر لره غیرمنصرف دوجې د عدل او د سبب آخرنه یعنې علم په عدل مقدم نه دی په منع صرف کمازعم المشهور. اوماعدا د عمر یې ځکه اووې چې دا اختلاف په عدل تحقیقي کښې دی، او عمر مثال د عدل تقدیرې دی کما بین.

بیان د شرطینو دپاره د اعتبار د عدل : قال الشارح. ولکن لابد فی اعتبار العدل من امرین او لابدی ده په اعتبار د عدل کښې د امرینو نه احدهما وجودُ الاصل للاسم المعدول یو دهغې نه وجود د اصل یعنې معدول عنه دی دپاره د اسم معدول وثانیهما اعتبارُ اِخراجه عن ذالك الاصل او دوهم اعتبار د اخراج د اسم معدول دی د دغه اصل نه اذلا یتحقق الفرعیة بدون اعتبار ذالك الاخراج دا یې دلیل دی یعنې ځکه چې نه ظاهرېږي وجود د فرعیةٌ بدون اعتبار ذالک الاخراج دایې دلیل دی یعنې ځکه چې نه ظاهرېږي وجود د فرعیة بغیر د اعتبار د دغه اخراج نه ففی بعض تلك الامثلة یوجد دلیل غیرُ منع الصرف علی وجود الاصل المعدول عنه پس په بعض دغه مثالونو کښې موجودېږي دلیل په وجود د اصل معدول عنه

ماسوا دمنع صرف نه او د اُثلث او مثلث او اُخراو جُمع دی **فوجودُه محقق بلاشك** پس وجود داصل معدول عنه محقق دی بی شکه نو داعدل تحقیقي شۀ نو په دې کښې اصل خو محقق دی لیکن خروج یې اعتباری دی خلاصه داچې دلیل موجود وی په وجود داصل باندې ماسوا منع صرف نه نو دادلالت کوي په دې چې اصل او معدول عنه یې محقق دی نه داچې گڼی خروج محقق دی **فافهم وفی بعضها لادلیل غیرَمنع الصرف** او په بعض مثالونو کښې لکه عمر دلیل نشته په وجود داصل ماسوا دمنع صرف نه **فیُفرَضُ له اصل لیتحقق العدلُ باخراجه عن ذالك الاصل** پس فرض به کړی شي دپاره دده اصل دپاره ددې چې متحقق شي عدل په سبب داخراج دده یعنې عمر مثلاً ددغه اصل نه چې عامر دی نو داعدل تقدیری شو پس په ده کښې اصل هم مقدر .مفروض دی او خروج هم **فانقسامُ العدل الی التحقیقی والتقدیری** دا تمهید دی متن اتی ته پس تقسیم دعدل تحقیقی او تقدیری ته **انما هو باعتبار کون ذالك الاصل محققًا اومقدرًا** نه دی مگر په اعتبار دکون ددغه اصل سره دی چې محقق دی یا مقدر **واما اعتبارُ اخراج المعدول عن ذالك الاصل لیتحقق العدلُ** او هرچې دی اعتبار داخراج داسم معدول ددغه اصل نه دپاره دتحقق دعدل پس نشته دلیل په دې مگر منع صرف نو معلومه شوه چې علم دمنع صرف مقدم دی په اعتبار دعدل او دا هم معلومه شوه چې عدل اعتباری شی دی دوجې دمجبوری نه دپاره دمحافظت دتعریف دغیر منصرف اختیار شوی دی فافهم **فعلی هذا**.

پس **مَاذکَرمنَ التقسیمِ قوله تحقیقًا معناه خروجا کائنا عن اصل محقق** غرض دشارح ددې عبارت نه اشاره ده دیته چې تحقیقًا مصدر مبنی للمفعول دی او تنبیه ده په دې چې تحقیقاً صفة بحال متعلقه دی دپاره د خروج او دفع داعتراض مقدر ده حاصل یې دادی چې داتحقیقا به خالی نه وي یا به منصوب وي بنابر مفعول به یا بنابر مفعول مطلق و الکل باطل اول خو ځکه باطل دی چې خروج لازمی دی او دلازمی نه مفعول به نه شي راتلی او ثاني ځکه باطل دی چې مفعول فیه یا ظرف زمان وي او یا مکان او تحقیق یو هم نه دی او ثالث ځکه باطل دی چې خروج مشتمل نه دی په معنی دتحقیق خلاصه دجواب داده چې تحقیقا منصوب دی بنابر مفعول مطلق دپاره دخروج په اعتبار دموصوف مقدر سره .معنی داچې داسې خروج چې کائن او ثابت وي د اصل محقق نه داسې اصل محقق چې دلالت کوي په هغې دلیل ماسوا دمنع صرف نه معلومه شوه چې تحقیقا په معنی دمحقق سره دی او په حقیقت کښې داصفت دی دپاره اصل **کثلث ومثلث** دامثال

دی دپاره خروج تحقیقي په حذف دمضاف سره فالتقدیر ای ذالک الخروج کخروج ثلث ومثلث **والدلیلُ علی اصلهما** داتطبیق دمثال دی مع الممثل اوبیان ددلیل دی په اصل دثلث ومثلث ماسوا دمنع صرف نه اودلیل دمنع صرف دخارج نه دی بیان یې دادی چې هرکله وموندلی شۀ ثلث اومثلث په کلام دعربو کښې غیرمنصرف اونه وو په دې کښې مګریو سبب چې وصف دی اویو سبب نه کافی کیده دپاره دمنع صرف نودوی محتاجه شوا اعتبار دبل سبب ته او صالح نه وو دپاره داعتبار مګر عدل نوعدل یې په کښې معتبر که اودا یې اُوویل چې دامعدول دی دثلثة ثلثة نه اودا چونکه عدل تحقیقي دی اوعدل تحقیقي دیته وایې چې دلیل موجودوي په اصل باندې ماسوا دمنع صرف نه و تنبیه الشارح بقوله **والدلیلُ علی اصلهما ان فی معناهما تکراراً دون لفظهما** اودلیل په اصل دثلث اومثلث دادی چې په معنی ددې کښې تکرار دی نه په لفظ کښې ځکه چې معنی یې ده درې درې **والاصل انه اذا کان المعنی مکرراً یکون اللفظ ایضاً مکرراً** اوقانون دادی چې کله معنی مکرره وي نولفظ به هم مکرروي **کما فی جاءنی القوم ثلثةً ثلثةً** دامنصوب دی بنابرحالت یعنې راغی قوم په دې حالت کښې چې درې درې وو **فعلم ان اصلهما لفظٌ مکررٌ وهو ثلثة ثلثة** داتفریع ده په ماسبق .پس معلومه شوه چې اصل ددې دواړو لفظ مکرر دی چې هغه ثلثة ثلثة دی.

سوال : داضابطه دمنقوضه ده په تثنیه اوجمع ځکه چې معنی یې مکرره ده سره ددې چې لفظ یې مکررنه دی ؟

جواب : تکرار دمعنی دیته وایې چې لحاظ وکړی شي دمعنې مرتین اوپه تنثیه اوجمع کښې تکثر دافرادودی اواراده دافرادکثیره ده دفعة واحدة **وکذا الحال فی اُحادَ ومَوْحَدَ وثُناءَ ومَثْنٰی الی رُباعَ ومَرْبَعَ بلاخلافٍ** داتکمیل دمقام دی یعنې دغه شان حال دی په احادوموحدثناء ومثنی کښې تررباع ومربع پورې بغیردخلاف نه یعنې په دې کښې هم تکرار معنوي دی **اتفاقاً وفیما وراءها الی عُشَارَ ومَعْشَرَ خلافٌ** اوپه ماسوا ددې کښې یعنې **خُماس ومَخْمَس سُداس ومسدس سُباع ومَسْبَعَ وثُمانَ ومَثْمَنَ وتُساعَ ومَتْسَعَ وعُشارَ ومَعْشَرَ** کښې اختلاف دی .بعض وایې چې په دی کښې تکرار معنوي نیشته ځکه چې دامسموع نه دی دعربونه اوبعض وایې چې شته ځکه چې داقیاس دی په دغه نوروالفاظو **والصواب مجیئها** ترجیح دماهوالراجح، خوحقه خبره

داده چې تکرار معنوي په کښې شته **علی سبیل القیاس والسبب فی منع صرف ثلث ومثلث واخواتهما العدل والوصف.**
غرض د شارح تعین د سبب دیګر دی په ثلث او مثلث کښې ماسوا د عدل نه ،نو وایي چې سبب د منع صرف په ثلث او مثلث او اخواتو د دې کښې چې اُحاد و موحد و غیره دي عدل او وصف دی **لان الوصفیة العرضیة** دا دفع د سوال ده حاصل یې دا دی چې عدل خو مسلم دی لیکن د وصف د پاره تاثیر نشته ځکه چې دا وصف عارضي دی ځکه چې ثلاثة ثلاثة وضعه دی د پاره د عدد نو په دې کښې وصفیة اصلي نشته شارح جواب وکه چې بحث په منع صرف د ثلث او مثلث کښې دی نه په ثلاثة ثلاثة کښې پس وصفیه عرضي کوم چې په ثلاثة ثلاثة کښې وو وګرځیده اصلي په ثُلث کښې ځکه چې معنی د دې هغه ذات دی چې موصوف وي په ثلاثة بنا په دې چې عدل وضع ثاني ده نو ګویا چې ثلث او مثلث وضعه دی د پاره د هغه ذات چې موصوف وي په وصف د ثلاثه سره **لاعتبارها فیها اوضعًا له** دوجې دا عتبار د وصفیة نه په هغه شي کښې چې وضعه شوی دی ثلث او مثلث د پاره د هغه شي یعنې دا وصفیت یې معتبر شۀ په وضعه کښې دوجې د عدل نه **واُخر** دا مثال ثاني دی د پاره د عدل تحقیقي **جمع اُخری** دا بیان د دلیل دی په وجود د اصل ماسوا د منع صرف نه او دلیل د منع صرف یې دا دی چې هر کله و موندلی شو اُخر په کلام د عربو کښې غیر منصرف او نه وو په دې کښې مګر یو سبب او یو سبب نه وو کافي د پاره د منع صرف نو دوی محتاجه شو اعتبار د سبب دیګر ته **ولم یصلح للاعتبار الا العدل فاعتبروا فیه العدل التحقیقی** او دلیل د اصل یې بیان کړی دی بقوله **جمع اخر مؤنث آخر واخر اسم التفضیل** چې اُخر جمع د اخری ده او اخری مؤنث د اخر دی او آخر اسم تفضیل دی **لان معناه اشد تأخرًا** دا دفع د سوال ده چې نه منو دا خبره چې اخر اسم تفضیل دی ځکه چې اسم تفضیل دلالت کوي په زیادت او دا په معنی د غیر سره دی او غیر اسم تفضیل نه دی ، جواب یې دا د ی چې معنی د اخر په اصل کښې اشد تاخر اُده بیا نقل شۀ معنی د غیرُته ، خو د غه غیر په د جنس د مذکور نه وي .لکه جا نې زید غیر عمرو او مناسبت په مابین د او منقول عنه یعنې معنی د غیر او د اسم تفضیل کښې دا دی چې ته او وایې چې زید اضرب من عمرو نو دا دلالت کوي په زیادت د معنی د ضاربیت په زید کښې او د غه شان دلالت کوي په نفی د زیادت د ضاربیت د عمرو نه.

وقیاس اسم التفضیل ان یستعمل باللام او الاضافة او کلمة مِنْ او قانون دا د ی چې اسم

تفصیل استعمالیږي په یو د طرقو ثلاثو سره چې الف لام دی لکه الافضل اضافة دی لکه افضل القوم اومن سره لکه الله اکبرمن کل شی دپاره ددې چې مفضل اومفضل علیه معلوم شي **وحیث لم یُستعملُ بواحدٍ منها عُلم انه معدولٌ من احدِها** اوهرکله چې اخر نه وو مستعمل په یو ددغه طرقو سره نومعلومه شوه چې دا معدول دی ددغې طرقونه نو په دې کښې قولین دي لکه ذکر کړیدی شارح بقوله **فقال بعضهم انه معدولٌ عما فیه اللام ای عن الآخر** پس بعضُ ویلی دي چې دامعدول دی دهغه نه چې الف لاء وي پکښې یعنې د الاخرُنه **وقال بعضهم هومعدولٌ عما ذکر فیه مِنْ ای عن اخرٍمِنْ** اوبعض وایي چې دامعدول دی دهغه نه چې مستعمل وي په من سره یعنې اخرمن **وانما لم یذهب الی تقدیر الاضافةِ** دادفع دسوال ده چې داسم تفضیل داستعمال خودرې طریقې دی چې یو په کښې اضافة هم دی نو شارح هغه ولې ذکر نه کړه نوشارح جواب وکه چې تقدیر د اضافة ته چاذهاب نه دی کړی نوځکه یې ذکر نه که **لانها توجب التنوین اوالبناءَ اواضافةً اخری مثلها** دا یې دلیل دی یعنې داځکه چې تقدیر د اضافة واجبوي امورثلثو لره کله یې چې قطع داضافة نه وشي تنوین لره لکه حینئذ ای حین اذا کان کذا یابناعلی الضمة لکه بعدُ چې په اصل کښې بعد کل شی وو یا اضافة ثاني لره په مثل داضافة اول لکه یاتیم تیم عدی چې په اصل کښې یاتیم عدی وو نو اضافة اولی قطع شو اوپه مثل دهغې یې اضافة ثاني وشو نوجوړشو ترې یاتیم یتم عدی .

ولیس فی اُخَرَشئٌ من ذالك فتعین ان یکون معدولاً عن احدالاخرین اوپه اُخرکښې یوشی هم ددغه امورونه وو پس معلومه شوه چې اُخرمعدول دی دیو دهغه دوه طرقونه **وجُمع** دامثال ثالث دی دپاره دعدل تحقیقي دلیل دمنع صرف یې دخارج نه دی کمامرَغیرمرة اوهرچې دي دلیل په وجود داصل ماسوا دمنع صرف نه نو هغه داقول دشارح دی **جمعُ جمعاءَ مؤنث اجمعَ** یعنې جُمعُ جمع دجمعاءُ ده او جمعاء مؤنث داجمع دی **وکذالك کُتع وبُتع وبُصع** داتکمیل دمقام دی یعنې لکه څنګه چې جمع غیرمنصرف دی دغه شان اتباع ددې هم دی چې کُتع وغیره دی پس جمعاء په وزن دفعلاء شو او اجمع په وزن دافعل شو **وقیاس فعلاءَ افعل ان کانت صفةً ان تُجمع علی فُعلٍ** دادلیل دی په وجود داصل نو وایي چې قانون په وزن دفعلاء مؤنث دافعل کښې دادی چې که چرې دافعلاء صفتی وي نوجمع کیږي په وزن دفُعل لکه حمراء چې جمع یې

حُمراخي **وان كانت اسما ان تجمع على فعالي اوفعلاوات كصحراء اوصحراوات** اوكه اسمي وي نوجمع كيږي به په وزن دجمع تكسيرد فعالي يافعلاوات جمع سالم سره لكه صحراء چه فعلاء اسمي دى جمع شويدي په صحارى اوصحاورات سره **فاصلها اما جُمع اوجُماعى اوجمعاوات** فاتفريعيه ده يعنې هركله چې قاعده داشوه نوپس اصل دجمعاء به ياجُمع وي كه صفتي شي ياجماعى اوجمعاوات كه اسمي شي اوبيادديې نه خارج شويدى **فاذااعتُبراخراجُها عن واحدةٍمنها تحققا العدلُ** پس هركله چې معتبرشو اخراج دجمعاء ديوددې نه نومتحقق شو په كښې عدل **فاحدالسببين فيها العدل التحقيقي والاخرالصفةُالاصليةُ** پس يوسبب په كښې عدل تحقيقي دى اوبل وصف اصلي **وان صارتُ بالغلبةِفي باب التاكيداسمًا** دادفع دسوال ده چې جمع خووصف نه دى بلكه داخود الفاظو دتاكيدنه دى په معنى دكل سره نواسم دى خلاصه دجواب يې داده چې جمع په اصل كښې وصف نه دى ليكن دغلبى داسميت په وجه اسم ګرزيدلى دى اوغلبه داسمية وصفية اصلي ته ضرورنه شي رسولى وسياتى انشاءالله تعالى .

سوال :منع صرف دفعلاء وصفى مسلم دى دوجې دوصفية اوعدل نه ليكن كه فعلاء اسمى شي نومنع صرف يې نه دى صحيح دوجې دعدم وصفية نه فافهم ؟

جواب : فعلاء اسمي محمول دى په فعلا وصفي باندې وجه يې داده چې فعلاء وزن په حقيقة كښې وضع دى دپاره دصفتية اواسمي ګرزى دوجې دعارض نه اوعارض لره اعتبارنه وي **وفي اجمع** دادفع توهم ده چې كيدى شي چې په اجمع كښې به هم عدل وي اوپه دې كښې وزن فعل هم دى نوعدل اووزن فعل جمع شوحالانكه دانه شي جمع كيدى فدفع بقوله **وفي اجمع واخواتِه احدًا لسببين وزن الفعلِ والاخرالصفةالاصليةُ** اوپه اجمع اواخواتودې كښې چې اكتع ابتع ابصع دى يوسبب وزن فعل دى اوبل وصف اصلي يعنې عدل په كښې نشته فلايرد **وعلى ماذكرنا** دادفع دسوال ده چې لكه څنګه په جمع كښې دليل موجوددى په اصل باندې ماسوا دمنع صرف نه نودغه شان په اقوس اوانيب كښې هم دليل موجوددى په وجوددااصل باندې چې اقواس اوانياب دى اودليل يې قاعده داجوف ده يعنې اجوف چې په وزن دفعل وي نوجمع كيږي په افعال سره لكه اقوالي وغيره نودادې دليل وګرزى په وجود دااصل اوودى وئيلى شي چې دامعدول دى داقواس اوانياب نه .

فاجاب الشارح بقوله وعلى ماذكرنا لايردُ الجموعُ الشاذةُ او بناپه هغه چې مونږ ذکر کړيدی نه وارديږي سوال په جموع شاذه لکه انيب او اقواس (چې ګنی په دې کښی دی هم عدل تحقيقي موجود شي) ځکه چې داعتبار دعدل دپاره دوه خبرې ضروري دي يو وجود داصل يعني معدول عنه ، او بل اعتبار داخراج داصل نه نو په جموع شاذه کښی اګرچې امر اول خو موجود دی يعنې اصل چې اقواس او انياب دی ليکن امر ثاني نشته چې اعتبار داخراج ددوی دی دهغوی نه ځکه چې باعث نشته چې هغه وجدان داسم دی غير منصرف په خلاف دجُمع نه چې هلته باعث موجود دی چې هغه موندل ددې دی غير منصرف په کلام عربي کښی فافهم شارح وايې فانه لَمْ يعتبر اخراجُهما عما هو القياس فيهما كالانياب والاقواس پس نه دی معتبر شوی اخراج ددوی دهغه نه چې قياس په دې کښی چې جمع ده په وزن دافعال لکه انياب او اقواس كيف لواعتُبرَ جمعُها اولاً على انياب واقواس فلاشذوذ في الجمعية کيف دپاره داستفهام انکاری دی يعنې څنګه به معتبر کړی شي اعتبار دجمعية ددې اول په انياب او اقواس سره ولی که داسې وي نو بيابه په دې کښی شذوذ نه وي يعنې دابه جموعې شاذه نه وی ،حالانکه ديته جموع شاذه وايې اعتراض وارد شه چې اطلاق دجموعې شاذه دی په دې ددې وجې وي چې دامخالف دی دقاعدې دعدل نه فاجاب بقوله ولاقاعدةَ للاسم المُخرَج داسم مخرج يعنې اسم معدول دپاره هډو قاعده نشته ليلزمَ من مخالفتها الشذوذُ حتی که لازم شي دمخالفت دهغې نه شذوذ په دې کښی او داځکه چې عدل خروج غير قياسې دی فمِن اَينَ يَحكُم فيها بالشذوذ پس څنګه به حکم وکړی شي په شذوذ ددی.

الفرق بين الشاذ والمعدول: ومن هذا تبينَ الفرق بين الشاذِ والمعدولِ من اجليه

دی او په هذا سره اشاره ده تقرير سابق ته نو وايې چې په وجه ددې تقرير خه واضح شو فرق په مابين دشاذ او دمعدول کښی چې شاذ هغې ته ويلی شي چې غير مخرج وي دصيغې اصلي نه او عدل مخرج وي دصيغي اصلي نه اوتقديراً اي خروجاً كائناً به دې کښی اشاره ده بيان دوجې دنصب دتقديراً ته چې منصوب دی بنا بر مفعول مطلق دپاره دخروج په اعتبار دموصوف مقدر سره عن اصلٍ مقدرٍ په دې کښی اشاره ده ديته چې تقديراً صفة دخروج صفة بحال متعلقه دی چې اصل دی مفروضٍ داتعين دمعنی مرادی دی دمقدر نه ځکه چې دمقدر دپاره

دوه معنی دي يو په معنې دمحذوف سره او بل په معنی دمفروض سره نو شارح يې تعين وکه چې مرادترې مفروض دی **يکون الداعي الى تقديره وفرضه منعُ الصرف لاغيرُ** داصفة کاشفه دی دپاره دمفروض يعني داسې مفروض چې وي داعي دتقديرا ودفرض دده منع صرف فقط نه بل څه شی لکه په عدل تحقيقي کښې **كعمر** داخبردی دپاره دمبتدامقدری ای **يكون ذلك الخروج كخروج عمروكذلك زفرَ** داتکميل دمقام دی په طريقې دعطف تلقين سره او په کذالک کښې اشاره ده ديته چې دادواړه عليحده مثالونه دي **فانهمالماوُجِدَاغيرَمنصرفين** داتطبيق دمثال دی دممثل سره په ذکر کولو ددليل دمنع صرف نو وايې چې هرکله چې وموندلی شۀ عمراوزفرغيرمنصرف يعنې نه جارې کيدل په دوې باندې کسره اوتنوين **ولم يوجدفيهماسبب ظاهرٌالاالعلمية** اونه وو په دې کښې سبب ظاهرمگرعلمية اويوسبب نه وو کافې دپاره دمنع صرف **قُدِرفيهماان اصلهماعامروزافر** نومقدرکړی شوه په دې دواړو کښې داخبره چې اصل يې عامراوزافردی عدلامنهماالی عمروزفر معدول شوی دی عمرزفردعامراوزافرنه عمروزفرته

قوله **ومثل باب قطامِ الخ** دامثال ثاني دی دپاره دعدل تقديري عطف دی په عمر.

سوال: هرکله چې باب قطام عطف شۀ په عمرنوتقديرد عبارت داشۀ چې کعمر وکباب قطام نولازم شۀ لغويت دلفظ دمثل ځکه چې مفاددکاف اومثل واحددی؟

جواب: په زيادة دمثل کښې اشاره ده تباين نوعې دعمراوقطام ته په دې شان سره چې اعتبار دعدل په عمر کښې دپاره دمنع صرف دی او په قطام کښې دپاره دحمل على النظائردی کماسيجی.

سوال: مفاد دلفظ دمثل اودباب هم واحددی يعنې عموم نوذکردمثل بيالغوه شو؟

جواب: په دواړو کښې فرق دی يعنې لفظ دمثل دپاره دتباين نوعې دی اولفظ دباب دپاره دعموم مضاف اليه دی چې قطام دی ځکه چې اعتبار دعدل فقط په قطام کښې نه دی بلکه په نورو الفاظو کښې هم دی لکه غلاب وغيره **المعدولةِعن قاطمةٍ** قطام چې معدول دی دقاطمة نه اوقاطمه هغه ښځې ته وايې چې چق لگوي په وخت دجنگ کښې.

سوال: دايې معدول دقاطمة بالتاء نه ولی وگرزوه؟

جواب: دوجې دتانيث نه ځکه چې قطام صفة دپاره مؤنث دی **واراديهاكل ماهوعلى وزن**

فَعَالِ دابيان دمفهوم كلي دى دباب قطام دپاره ددفع دسوال چې باب مضاف دى قطام ته نومضاف اليه به ګنې خارج وي ځكه چې مقصود مضاف وي نو بناپه دې قطام معلوم نه شو خلاصه ددفع داده چې مرادپه باب قطام سره هرهغه لفظ دى چې په وزن دفعال وي پس داشامل دى قطام اوغلاب وغيره ټولوته علماًللاعيان المؤنثة دادفع داعتراض مقدرده چې وزن دفعال خوصادق دى په اسمِ فعل بمعنى الامربانديې هم لكه نزال وتراک اوپه فعال صفتي باندې هم لكه فساق په معنى دفاسقةاوپه فعال مصدرى هم لكه فجاربمعنى الفجور. نوپه دې كښى به هم عدول وي والامرليس كذالک .ځكه چې دادمبنياتونه د ى اوبحث ځمونږپه معرباتوكښى دى . فدفع بقوله علماالخ يعنې مراد دفعال نه هغه وزن دى چې علم وي دپاره دذوات مؤنثه نوباقې ټول خارج شو . په عبارت كښى تقديردى اى لعين من الاعيان المؤنثة من غيرذوات الراء يعنې مرادپه باب قطام سره فعال علمي دى خوچې غيرذوات الراء وي يعنې چې په اخيركښى يې راء نه وي راغلى لكه قطام اوغلاب وغيره اوداتقيددپاره داحترازدى دذوات الراء نه لكه حضارطمارځكه چې دا مبني دى بالاتفاق بين بنى تميم وغيرهم اوكلام دبنوتميم په منع صرف كښى دى اودااحكامودمعرب نه دى في لغةبني تميم تقديردلفظ دلغةدپاره ددفع داعتراض دى چې ظرفيت دبنى تميم نه دى صحيح دپاره دماقبل ځكه چې ظرف يازمان وي يامكان اودايوهم نه د ى خلاصه ددفع يې داده چې په عبارت كښى لغة مقدردى اوداصفت دى دپاره دباب قطام نوداظرفيت مجازى دى يعنې ظرفيت دصفت دپاره دموصوف .لكه زيدفى الكرم وفى العلم وغيرفـانهم اعتبروالعـدلَ دادفع داعتراض مقدرده چې اعتباردعدل په يولفظ كښى دوجې دضرورت نه كيږي ،يعنې چې كله بل سبب نه وي اوپه قطام كښى سببين موجوددى چې علمية اوثانيث دى نوحاجت اعتباردعدل ته نيشته .

فاجاب الشارح بقوله فانهم اعتبروالعدلَ في الباب حملاًلهُ على ذوات الرّاءِفي الاعلام المؤنثةمثل حضاروطمار يعنې نحاة معتبركړيدى عدل لره په باب قطام كښى دپاره دحمل په ذوات الراء چې په اخركښى يې راء وى په اعلام مؤنثه كښى لكه حضارچې نوم دستورى دى اودامؤنث سماعي دى اوطمارجايې بلندته وايې اوپه بعض نسخوكښى وبارهم راغلى دى .دانوم دزمكې دى په يمن كښى فـانهمـا مبنيتـان داجواب داستفساردى چابه وي چې اعتباردعدل په باب قطام كښى خو دپاره دحمل دى په ذوات الراء باندې نوپه ذوات الراء كښى

دځــه دپــاره دي فاجــاب بقولــه فانهمامبنیتــان یعنــې حضــارا وطمارمبنی دی **ولــیس فیهماالاسبــاب العلمیةُوالتــانیــثُ** اونشته په دې کښې مګردوه سببه چې یوعلمیـة دی اوبل تانیث **والسببان لایوجبان البناءَ** اودادوه سببونه چې علمیـة اوتانیث دی نه واجبوي بنالره مراددسببینُ نه مطلق سببین نه دی بلکه دامعهودسببین مراددی **فاعتبروافیهاالعدل** پس معتبرکه دوی په دې کښې عدل **لتحصل سبب البناءِ** دپاره دتکمیـل دسبب دبناچې عدل اووزن دی خلاصه دکلام داده چې حضار اوطمار اوباقي اعلام مؤنثه ذوات الراء ثقیل تقاضادتحفیف کـوي نومناسب شـوه ددې سـره بناځکـه چې بنااخفـه ده اوبناځکـه اخفـه ده چـې پـه بناکښـې تغیراوتبدیل نه وي بلکه یوه طریقه وي پکښې اوپه معرب کښې تغیراوتبدیل وي یعنې مخلتفی طریقي وي پکښې اوسلوک په طریقه واحده اسان وي دتلونه په مختلفوطرقو(لارو اودبنادپاره دوه سببونه دی یوعدل اوبل وزن دفعال اوپه دې کښې خووزن شته لیکن عدل په کښې نه وو نو عدل یې پکښې مقررکه دپاره دبنا **فلمااعتبروافیهاالعدل لتحصیل سبب البناءِ**

پس هرکله چې یې معتبرکه عدل په دې کښې دپاره دتحصیل د سبب دبناء **اعتبروافیماعداهما مماجعلوهٗ معرباًغیرمنصرف ایضاً** نومعتبریې که عدل په ماسوادد ذوات الراء کښې دهغه اسماءُ نه چې ګرزولی یې دی معرب غیرمنصرف **حملاًعلی نظائره** دپاره دحمل دباب قطام په نظائرودي **مع عدم الاحتیاج الیه لتحقق السببین لمنع الصرف العلمیةِوالتانیثِ** سره دعدم احتیاج نه عدل ته دوجې دتحقق دسببین نه دپاره دمنع صرف چې علمیة اوتانیث دی **فاعتبارُ العدل فیه انماهوللحمل علی نظائره لالتحصیل سبب منع الصرف** پس اعتباردعدل په دې کښې دپاره دحمل دی په نظائروددې نه دپاره د تحصیل دسبب دمنع صرف **ولهذایقال ذکرُ باب قطام ههنالیس فی محله** داتائید دی دپاره دانماهوللحمل علی نظائره یعنې په دې وجه ویلی کیږي چې ذکردباب قطام دلته په خپل محل کښې نه دی **لان الکلامُ فیماقُدرَفیه العدلُ لتحصیل سبب منع الصرفِ** ځکه چې بحث په دې مقام کښې په هغه اسم کښې دی چې مقدرشوی وي په هغې کښې عدل دپاره د تحصیل دسبب دمنع صرف اوظاهره ده چې

تقدیر دعدل په باب قطام کښې د پاره دحمل علی نظائره دی **وانما قال فی تمیم لان الحجازیین یبنونه فلا یکون مما نحن فیه** دا اشاره ده دیته چې قید دبنی تمیم احترازدی دحجازینو نه ځکه چې حجازین مبنی ګنړي باب قطام لره . نو بیا دا مانحن فیه نه دی **والمراد من بنی تمیم اکثرهم فان الاقلین منهم لم یجعلوا ذوات الراء مبنیة بل جعلوها غیر منصرف** اومراد اکثر بنوتمیم دی ځکه چې لږبنوتمیم نه ګرزوي ذوات الراء لره مبنی بلکې ګرزوي یې غیرمنصرف یعنی معرب **فلا حاجة الی اعتبار العدل فیها لتحصیل سبب البناء وحمل ما عدا علیها** پس حاجت نیشته اعتبار دعدل ته په دې کښې دپاره دتحصیل دسبب دبنا ځکه چې دا معرب دی عندهم اودپاره دحمل دماعدا دې په دې باندې **الوصف** بل سبب دا سبابو دمنع صرف نه وصف دی **وهو کون الاسم دالا الخ** غرض دشارح ددینه تعریف دوصف دی دپاره دتعین دماهو المراد اوبل تقسیم دوصف دی قسمینو ته چې یو وصف اصلي دی اوبل عارضي اوتعین دسبب معتبر کوي چې هغه وصف اصلي دی اوبل غرض یې دفع دسوال مقدرده چې شمیرل دوصف دا سبابو دمنع صرف نه نه دی صحیح ځکه چې اسباب دمنع صرف دقبیلي دا وصافونه دی اووصف دلالت کوي په ذات لکه چې دا دتعریف دوصف نه معلومیږي **فدفع بقوله وهو کون الاسم دالا الخ** اوکون مصدردی وصف دی یعنې وصف کون دا سم دی دلالت کونکی په هغه ذات مبهم سره دبعض صفاتو یانه که اول وي نو دیته صفة وایې اوکه ثاني وي نو دیته اسم ذات وایې اوپه قید دابهام سره خارج شو هغه اسم چې دلالت په ذات معین کوي اومراد دصفاتو نه معانی مصدریه دی یعنې قائم بالشئ.

سوال: دا تعریف دوصف منقوض دی په رحمن اورحیم ځکه چې دا اوصاف دی حالانکه دلالت په ذات معین کوي ؟

جواب: په تعریف کښې قید داصل وضع مقدردی نورحمن اورحیم هم په اعتبار داصل وضع سره دلالت په ذات مبهم کوي یعنې ذات من له الرحمة لیکن بیا اسمیت غالب شۀ په وصفیت باندې.

نوځکه ترې اوس مراد ذات معین دی چې الله پاک دی **سواء کانت هذه الدلالة بحسب الوضع مثل احمر** دا اشاره ده تقسیم دوصف ته چې یو وصف اصلي دی اوبل عارضي دوچې داستعمال نه نووایې چې برابره خبره ده چې داوصف په اعتبار داصل وضع سره وي لکه احمر **فانه موضوع**

لـذاتٍ مـا اَخـذَت مـع بعـضِ صـفـاتها وهي الحمـرة دا تطبيـق دمثـال دی مع الممثـل څکه چې احمر موضوع دی دپاره ديوذات دذواتونه ماخوذدی سره دبعض صفاتونه چې حمرة دی **اوبحسب الاستعمـال** اويابه دادلالت په اعتبار داستعمال سره وی **مثل اربع في مـررت بنسـوة اربـع فـانه موضوع لمرتبة معينة من مراتب العـدد** دا تطبيـق دمثـال دی مـع الممثـل يعنې اربع موضـوع دی دپاره دمرتبې معيني دمراتبو دعددنه چې هغه مـافوق الثلاثـة اوماتحت الخمسـة دی فلا وصفية فيـه بحسب الوضـع پـس نيشـتـه وصـفيت پـه دې کنبـی پـه اعتبار داصـل وضـعې سـره **بـل قد تعرضه الوصفية** کمافی المثال المذکوربلکې کله کله عارضـيږي دی تـه وصـفيت لکـه پـه مثـال مذکورکنبـی **فـانه لمـا اُجري فيه النسوة التي هي من قبيل المعـدودات لا الاعـداد** دا دليـل دی دپاره دوصفية عارضي داربع نوواېي چې هرکله چې اربع جاری کړی شو اجراء استعماليږي په هغه ځای کنبی چې يوشی صفت وي دپاره ديوشي اوياترې حال وي دلتـه مراداول دی يعنې چې اربع صفة واقع شو دپاره دنسـوة هسـې نسـوة چې دقبيلې دمعدوداتونه دی نه داعدادونه **علـم اَن معنـاه مررت بنسـوة موصـوف بالاربعيـة** معلومـه شوه چې معنی دده داده چې مامرورؤکـه پـه داسې ښځوښځو چې موصـوف وي په وصف داربعية سره **وهذا المعنی وصفی عُرضَ لـهٌ فـی الاستعمـال لا اصلـی بحسب الوضع** دا تعين دوصف معتبردی په اسبابو دمنع صرف کنبـی اودوه دعوی دی سره ددليلينونه يوه ايجابي اوبله سلبی .

پس دا قول دشارح **والمعتـبر فـی سببيه منع الصرف** اودامعنی وصـفی ده عارضـه ده اربع تـه پـه اعتبار داستعمال سره اصلي نه ده په اعتبار داصـل وضـع سـره **والمعتـبر فـی سـببية منع الصرف هوالوصف الاصلي** دادعوی ايجابی ده يعنې معتبرپه سببية دمنع صرف کنبـی وصـف اصـلي دی لاصـالته دايې دليـل دی يعنـې دوجې داصـالت اوقـوة دده نـه **لاالعرضـی** دادعـوی سـلبی ده اومعتبرنه دی وصف عارضي **لعرضـيته** دوجې دعرضـية دده نـه يعنـې دې پـه معرض دزوال کنبـی دی اوضعيف دی اوسبب رافع دپاره داصل چې صرف دی نه وي مگرهغـه چې راسـخ اومضبوط وي اوراسخ اومضبوط نه وي مگروصف اصلي وضعي **فلذلك** فاتفريعيه ده پس پـه دې وجـه چې معتبرپـه سببيت دمنع صرف کنبـی وصـفية اصـلي دی **ووقـال المصنف وشرطـه ای شرط الوصف**

داتعین دمرجع دی **في سببية منع الصرف** دادفع دسوال مقدر ده چابه وی چې وصفية اصلي به شرط وي دپاره دوجود دوصف حالانکه په اربع کښی وصفية موجود دی او سره ددې چې اصلي نه دی ، خلاصه ددفع داده چې شرط مذکور دپاره دسببية دده دی په منع صرف کښی یعنې داشرط دی دپاره دتاثیرنه دپاره دوجود **ان یکون** چې وي دی **وصفاً في الاصل** په وصفاً کښی اشاره ده متعلق دفی الاصل ته او تنبیه ده په دې چې داظرف مستقر دی **الذي هوالوضعُ** داتعین دمعنی مرادی دی ځکه چې داصل دپاره ډیری معنیی دی قاعده، دلیل، راجح وغیره نوشارح تعین وکه چې دلته په معنی دوضعی سره دی او بل غرض دشارح ددې نه دفع دسوال ده حاصل یې دادی چې وي مطابق دقانون سره وي نو بیاداشرط خو په وصف عارضي کښی هم موجوددی چې اربع دی په مثال مذکورکښی ځکه چې داهم مطابق دقانون سره دی هغه داچې کله یوعدد جاري شي په معدودباندې نومراد عدد نه به نفس عدد نه وي بلکه مراددینه به هغه ذات وي چې متصف وي په صفة ددغې عدد سره خلاصه داده چې اصل په معنی دوضع سره دی نه په معنی دقانون سره لکه شارح وايي **الذي هوالوضع بان یکون وضعه علی الوصفية لاان تعرضه الوصفيةُ بعدالوضع في الاستعمال** یعنې په دې شان سره چې وضع یې په وصفية شوی وي دانه چې عارض شوی وي ورته وصف په استعمال کښی کمافی اربع **سواءٌ بقي علی الوصفية الاصلية اوزالت عنهُ** داتمهید دی عبارت آتیه ته یعنې برابره خبره ده چې باقي وي دغه وصف په وصفية خپل اوکه زائله شوی وي **فلاتضرهُ** فاتفریعیه ده یعنې هرکله چې معتبروصف اصلي شئ نوضررنه شي رسولی دی ته غلبه داسمیت په وصفیت باندې **بان تخرجه عن سببية منع الصرف**.

دادفع داعتراض ده چې نه منودا خبره چې وصف اصلي لره ضررنه ورکوي غلبه داسمية ،بلکه ضررورته رسوي چې هغه نقل دی دعموم نه خصوص ته لکه اسود پخوادغلبي داسمية نه عام وو یعنې مطلق ذات من له السواداو چې کله وگرزیده نوم دپاره دحية سواداء نو خاص وگرزیده وماهذاالاضررخلاصه دجواب داده: چې مراددضررنه دادی چې خارج یې کړی دسببية دمنع صرف نه یعنې مراددضررنه ضررمطلق نه دی بلکه ضررخاص دی چې اخراج دی دسببية دمنع صرف نه .

اي غلبة الاسمية على الوصفية په دې کښې اشاره ده چې الف لام په الغلبة کښې عوض دی دمضاف الیه نه ومعنی الغلبة اختصاصه ببعض افراده بحیث لایحتاج فی الدلالة علیه الی قرینة دا معنی دغلبی دا اسمیت ده په وصفیت نو وایې چې معنی دغلبی خاص کیدل دا اسم صفتي دی په بعض انو اعوخپلو پورې په دې شان سره چې نه وي محتاجه دا اسم صفتي په دلالت کښې په دې انو اعو قریني خارجې ته کما ان اسود کان موضوعا لکل ما فیه سواد دا توضیح بالمثال ده یعنې لکه څنګه چې اسود موضوع وو دپاره هر هغه شی چې په هغې کښې سوادوي ثم کثر استعماله فی الحیة السوداء او بیا زیات شۀ استعمال دده په حیة سوداء کښې عند العرب بحیث لایحتاج فی الفهم عنه الی قرینة په دې شان سره چې محتاجه نه دی جنس دحیه سوداء په فهم کښې دا اسود نه قرینې خارجې ته فذلك مولانا عبدالغفور وایي الفاء للنتیجة واللام للتعلیل نو غرض دده دفع دسوال مقدر ده چې فاء هم تعلیلیه ده اولام هم نو احدهما مستدرک دی حاصل دجواب یې دادی چې فا دپاره د نتیجی ده اولام دپاره د تعلیل مفاد یې جدا جدا شه فلا استدراك. نتیجه مرتب وی په ماقبل. اولام تعلیل دیته وائی چه مدخول ئی علة وی دپاره د حکم نو مدخول دلام اسم اشاره ده نو مشار الیه دده چه وصفیت اصلیة عدم مضرة د غلبی د اسمیة دی علة دی دپاره د حکم چه صرف اربع، وامتنع اسود وغیره دی فافهم المذکور دا تعین دمشار الیه دی اودفع دسوال ده چې په ذالک سره اشاره کولی شي مفرد مذکرته او په ماسبق کښې ذکرشوی دی امرین یو اصالة دوصفیة اوبل عدم مضرة الغلبه نو مطابقت رانه غی په اشاره اومشار الیه کښې نو شارح جواب وکه چې اشاره امرینو ته په تاویل دمذکور سره ده اومذکور مفرد مذکر دی اوشارح دهغې مذکور بیان وکه بقوله من اشتراط اصالة الوصفیة الخ یعنې په وجه دامرینو مذکورینو صُرِفَ منصرف دی اربع په دې قول دعربو کښې چې مررت بِنسوة اربع دی لعدم اصالة الوصفیة دا یې دلیل دانصراف دی فی قولهم مررت الخ شارح فی قولهم اضافه که دپاره داصلاح دمتن ځکه چې ماتن فی جاره داخله کړیده په جمله حالانکه حرف دا خلیږي په اسم وامتنع من الصرف دا دفع دسوال ده چې دمتن نه معلومه شوه چې اسود اوارقم ممتنع دی یعنې وجود یې نیشته حالانکه دا خو دواړه موجود دی په خارج کښې فدفع بقوله من الصرف یعنې ممتنع دی دوی دصرف نه نه دوجود نه یعنې غیر منصرف دی اودانه چې موجود نه دی لان

کل واحد منهما موجود مستعمل **لعدم مضر الغلبة** دا یې دلیل د منع صرف دی یعني داغیر منصرف دي دوجې دعدم مضرة دغلبی نه **حیث صار اسمین للحیة** په دې شان سره چې گرزیدلی دی دادو اړه علمین دپاره دجنس خپل په دې معنی سره دفع شو سوال چې اسود او ارقم خو هسې هم اسمین دی نو مونږ وویل چې مرادتري علمین دی اول دتور مار نوم دی او ثاني دبرک **ما روادهم** داعطف دی په ارقم فالتقدیر وامتنع ادهم **حیث صار اسمًا للقید** په دې شان سره چې دی گرزیدلی دی اسم یعني علم جنس دپاره دقید (بیړی) دوسپنې **لما فیه من الدهمة اعني السواد** او جه تسمیه ده یعني بیړی ته ادهم ځکه وایې چې په دې کښې هم دهمة دی یعني سواد **فان هذه الاسماء** دا برهان تفصیلی دی دپاره دمنع صرف د اسود ارقم او ادهم نو وایې چې بی شکه دا اسماء **وان خرجت عن الوصفیة لغلبة الاسمیة** اګر چې خارج شوی دی دوصفیت نه دوجې دغلبی د اسمیة نه **لکنها بحسب اصل الوضع اوصاف لم یهجر استعمالها في معانیها الاصلیة ایضًا بالکلیة** لیکن دا اسماء په اعتبار داصل وضع سره داسې اوصاف دي چې نه دی متروک استعمال ددوی په معاني اصلیه کښې بالکلیه ځکه چې اسود وغیره پس دغلبې نه هم په معنی اصلي کښې استعمالیږي لکه عندی اسود من الرجال یالکه حمار اسود **فالمانع من الصرف** دا بیان دسببینو دی دپاره دمنع صرف په دې اسماء کښې بعد الغلبة نو وایې چې پس مانع دصرف نه په دې اسماء کښې وصف اصلي دی او وزن فعل دی **واما عند استعمالها في معانیها الاصلیة فلا اشکال في منع صرفها لوزن الفعل والوصف في الاصل والحال** او هر چې دې په وخت داستعمال ددې کښې په معانی اصلیه کښې پس نشته اشکال په منع صرف ددې کښې دوجې دوزن فعل او وصفیت اصلي او حالی نه یعني وصف په دې کښې حینئذ هم اصلي دی او هم فی الحال.

وضعف منع افعی: غرض دابن حاجب په دې عبارت کښې ردې په بعض نحاةٌ. مطلب دا دی چې په افعی اجدل او اخیل کښې اختلاف دی بعض نحاة وایې چې داغیر منصرف دی وسیاتي دلیله فی الشرح او په نزد دابن حاجب منصرف دی پس ردو که مصنف په دوی باندې بقوله وضعف منع افعی الخ.

سوال: مصنف نسبت دضعف وکه منع صرف دافعی وغیره ته او ضعف دلالت کوي په

جواز د منع صرف د دې اسماء سره دضعف نه حالانکه داخو په نزد د مصنف منصرف دی قطعًا

جواب په عبارت کښې تقدیر دی **ای وضعف منع من منع افعی الخ** یعنې ضعیفه ده منع صرف دهغه چاچې افعی وغیره یې دصرف نه منع گرزولی دی نو منع صرف یې مسند دی غیرته نه مصنف ته نو وایې چې ضعیف دی منع صرف دافعي وغیره په داسې حال کښې چې اسم دی دپاره دمار **علی زعم وصفیته** دادلیل دمنع صرف دی دافعي یعنې افعي غیرمنصرف دی عندهذا القائل بناء په زعم دوصفیة دافعي **لتوهم اشتقاقه من الفَعْوَةِ التی هی الخُبث** دوجې دتوهم داشتقاق دافعي .دفعوة نه چې وایې خبث ته او داوصف دی او بل په کښې وزن فعل دی **وکذلك منعُ اَجْدَلَ للصقر** دیته اشاره ده چې داعطف دی په واقعې باندې نو درج دی لاندې دمنع نه یعنې ضعیف دی منع صرف داجدل **لتوهم اشْتِقَاقِه من الجدل بمعنی القوة** دایې دلیل دمنع صرف دی یعنې دوجې دتوهم داشتقاق داجدل نه چې قوة ته وایې **واَخیلُ للطائر** اودغه شان ضعیف د ی منع صرف دأخْیَلُ چې اسم دې دپاره دطائرچې رنگ یې سوربیزن سپین وي او په صراح کښې یې لیکلی دی چې داهغه مارغه دی چې خلق پرې بدفالي نیسي **ای لطائرذي خَیْلانٍ** یعنې اَخیلُ دهغه مارغه نوم دی چې خاوند دتورو داغونو وي **علی زعم وَصْفِیَتِهِ** دایې دلیل دمنع صرف دی بناپه زعم دوصفیته دده **لتوهم اشتقاقه من الخال** دوجې دتوهم داشتقاق دده دخال نه اوخال نقط سیاه راگویند که براندام باشد **ووجه ضعفِ منعِ الصرف فی هذه الاسماء عدمُ الجزمِ بکونها اوصافًا اصلیةً** دارددې په دې مذهب باندې نو وایې چې دامذهب ضعیف دی او وجه دضعف یې داده چې جزم نشته په کون ددې اسماء چې دااوصاف اصلیه دی **فانها لم یُقصدْ بها المعانی الوصفیةُ مطلقًا لافی الاصل ولافی الحال** ځکه چې نه قصد کیږي په دې سره معاني وصفیه مطلقا یعنې نه په اصل کښې او نه فی الحال ځکه چې مراد په دې الفاظ سره نه وي مگر دغه انواع مخصوصه بغیر د ملاحظې دخبث او قوة وغیره نه **مع ان الاصلَ فی الاسم الصرفُ** دادفع دسوال ده چې لکه څنگه جزم نشته په کون ددې اسماء اوصاف اصلیه نو دغه شان قطع نشته په عدم کون ددې اوصاف اصلیه نو صرف یې ولې راجح وگرزیده خلاصه دجواب یې داده چې صرف یې ځکه راجح شو چې اسماء دی او اصل په اسماء کښې انصراف دی.

التانيثُ بل سبب داسبابو دمنع صرف نه تانيث دى **اللفظي** غرض دشارح ددې تقيدنه دفع دسوال ده حاصل يې دادى چې مقابله د المعنوي دالتانيث بالتاء سره غلطه ده ،ځکه چې تانيث معنوي هم په تاسره وي خوتايې مقدره وي فدفعه بقوله اللفظي يعنې مراد دتانيث نه تانيث لفظي دى نومقابله يې دمعنوي سره صحيح شوه **الحاصل** دااشاره ده تقديردمتعلق ته دپاره دتنبيه په دې چې بالتاء ظرف مستقردى پوهه شه چې تاء تانيث هغه تازائده ده چې راغلى وي په آخرداسم کښې اوماقبل ترې مفتوح وي اوپه حالت دوقف کښې بدليږي په هاء سره لکه طلحة امرءة **لابالالفِ** په دې کښې اشاره ده ديته چې بالتاء قيد احتراز راغى په دې سره دالف نه **فانه لاشرطَ له** ځکه چې دتانيث حاصله بالالف څه شرط نشته ځکه چې هغه لازم وي دکلمې سره وضعًا اوتانيث حاصله بالتاءعارضي دى نولابدى ده دپاره ددې دشرط دتاثيرنه

کماقال شرطه في سببية منع الصرف دادفع دسوال ده چابه وى چې علمبت به شرط دپاره د وجود د تانيث وي نوداشرط منقوض دى په امرءة ځکه چې تانيث په کښې موجوددى بدون دعلميت نه شارح جواب وکړ چې علميت شرط دپاره دتاثيردى نه دپاره دوجود **فلانقض اي علميةُ الاسم المؤنثِ** دااشاره ده ديته چې الف لام عوض دى دمضاف اليه نه **ليصيرَ التأنيث لازمًا** دابيان دفائدى داشتراط دعلمية دى دپاره دتانيث خلاصه يې داده چې تانيث په معرض دزوال کښې دى اواسباب دمنع صرف قوي وي نو علمية يې ورله شرط که اوددې اشتراط دپاره شارح دوه دليله ذکرکړي دي اول په دې قول سره **ولان الاعلامَ محفوظةٌ عن التصرف** چې اعلام محفوظ دى دتغيراوتبديل نه دوجې داهتمام شان داعلامونه چابه وى چې داخبره منقوضه ده په ترخيم المنادى لکه ياحارُ چې داعلم دى اوتغيرپه کښې شويدى **فاجاب بقوله بقدرالامکان** يعنې څومره چې ممکنه وي اوپه منادى مرخمه کښې ممکن نه دى حفاظت دتغيرنه ځکه چې مقصود په منادى کښې فراغ دمتکلم دى په سرعة سره مقصودى خبرې ته نومناسب دى ددې سره تخفيف اوتخفيف نه حاصليږي مګرپه ترخيم سره يادا چې منادى کثيرالاستعمال ده نومناسب دى ددې سره تخفيف پس ددې نه پوهه شه چې مرادد اعلام نه اعلام عربي دى نه عجمي ځکه چې په عجمي اعلاموکښې دوى تغيرکوي لکه جبرائيل مکائيل وغيره کښې جبريل اوجبرال او ميکال وغيره وايې **ولان العلمية وضعٌ ثانٍ** دادليل ثاني دى دپاره دلزوم

التانيث لاجل العلمية نو وايي چې علمية وضعه ثاني ده **وكل حرفٍ وضعت الكلمة عليه لاينفك عن الكلمة** او هغه حرف چې وضعه دكلمي دهغه سره وشي نو هغه نه جدا كيږي دكلمي نه ځكه چې دا حرف ګويا داخل شو په موضوع له كښې نو ځكه نه منفک كيږي **والتانيث المعنوي** په تقدير دالتانيث كښې اشاره ده تعين دموصوف ته دپاره د المعنوي . ځكه چې المعنوي منسوب دى اودى په حكم دصفة كښې وي **اي كالتانيث اللفظي بالتاء** داتعين دمشاراليه دكذالک دى **في اشتراط العلمية** دادفع دسوال ده چې تشبيه دتانيث معنوي دتانيث لفظي سره صحيح نه ده ځكه چې په تانيث لفظي كښې تاملفوظه وي اوپه معنوي كښې مقدره وي خلاصه دجواب يې داده چې داتشبيه په تماموامورو كښې نه ده بلكه په اشتراط دعلمية كښې ده فقط په مؤنث معنوي كښې **الاان فيهما فرقا** دادفع داعتراض مقدرده چې هركله تانيث لفظي اومعنوي واحدوګرزيدل نو پكارده چې مصنف التانيث بغيرد تقيد نه بالتاء ويلى وي تر دې چې حاصل شوى به وومقصد سره دايجاز او اختصار نه نو شارح جواب وكه په قول مذكور سره چې پكار خود اسې وه ليكن په مابين ددواړو كښې فرق دى **فانها في التانيث اللفظي بالتاء شرط لوجوب منع الصرف** ځكه چې علمية په تانيث لفظي كښې شرط دى دپاره دوجوب دمنع صرف **وفي المعنوي شرط الجواز** اوپه تانيث معنوي كښې شرط الجوازدى نو په دې وجه يې دغه شان عبارت ونه وى **ولابد في وجوبه من شرط اخر** اولابدى ده په وجوب دمنع صرف دمؤنث معنوي كښې دشرط آخرنه كمااشاراليه بقوله لكه اشاره كړيده مصنف ديته بقوله **وشرط تحتم تأثيره اي شرط وجوب تأثير التانيث المعنوي في منع الصرف** په وجوب كښې اشاره تفسير د غير مشهور ته په مشهور سره اوبل ديته اشاره ده چې مزيد (تحتم باب تفعيل) په معنى دمجرد يعني حتم سره دى اوبل تعين دماهو المراد دى ځكه چې حتم په معنى ديقين سره هم راځي .

دتانيث درې قسمه :خلاصه دا چې تانيث درې قسمه دى يو اقوي دا هغه تانيث دى چې حاصل وي په الفينو دتانيث سره ددې احتياج نشته سبب آخرته دوچې دكمال قوة نه دوهم قوي داهغه دې چې حاصل وي په تاتانيثى سره نو داچونكه لازم للكلمة نه دى خو علامة ظاهرى په كښې شته نو ددې دپاره علمية شرط شو دريم تانيث ضعيف دامؤنث معنوي دى نو ددې دپاره چونكه عرمة ظاهرى نشته نو ددې محتاجه دى په سببية كښې شيئينو ته چې يو علمية دى اوبل

احد الامور الثلاثة دی **کمابینهابقوله احدُالامورالثلاثةِ** په دې کښې اشاره ده دیته چې کلمه داوپه متن کښې دپاره دتشکیک اوتریدنه ده بلکه دانفصال حقیقي ده. یعنې دتانیث معنوي دتاثیردپاره وجود داحد الامورالثلثه لازمي دی نونه به مؤنث معنوي خالي وي داحد الامورالثلثة نه اونه به په کښې داتمام امورجمع وي لکه هذاالعدد امازوج واما فرد **اَلزِیادَةُ علی الثلاثةِ** داامر اول دی اوخبرد مبتدا محذوفي دی ای احدها الزیادة الخ یابدل بعض دی داحد الامورنه **ای زیادةُ حروف الکلمة** دادفع دوهم ده چابه وی چې مرادبه دزیادت نه زیادت دحرکاتو وي په ثلثوباندې نوپکاردی چې زنیب دغیرمنصرف شي ځکه چې حرکات يې زيات دی دثلثونه خلاصه ددفع یې داده چې مرادزیادت دحروفو دی نه دحرکاتو **اوتحركِ الحرفِ الاوسطِ** په الحرف کښې اشاره ده تقدیردموصوف ته دپاره دالاوسط یعنې که چرې زیادة علی الثلاثة نه وي بلکه درې حروف وي نووسط به یې متحرک وي اودا حرکت داوسط به قائم مقام دحرف رابع وي په ثقل اوقوة کښې لکه سقر **اَوالعجمةُ** داامرثالث دی مطلب داچې که چرې اولنی دواړه شرطونه مفقود وونوبیاشرط وجوبی دتاثیردتانیث معنوي عجمه ده لکه ماه وجور.

وانمااشتُرِطَ فی وجوبِ تاثیرِالتانیثِ المعنویِ احدُالامورالثلثة دادلیل داشتراط مذکوردی یعنې احد الامور المذکورة ځکه شرط کړی شو **لیخرُجَ الکلمةُ بثقلِ احدِالامورالثلثة** دپاره ددې چې خارجه شي هغه کلمه چې غیرمنصرفه ده په ثقل دیوددې امورو سره **عن الخفةِ التی من شانهاان تُعارِضَ احدَالسببین** دهغه خفة نه چې شان دهغې معارضه ده د ثقل داحد السببین سره **فَتُزاحِمَ تاثیرَهُ** پس مزاجمة به وکړی داخفة دتاثیرداحد السببین سره خلاصه دکلام داشوه چې اسباب دمنع صرف ثقیل وي او ثقل تقاضاکوي دتخفیف دااسم غیر منصرف په حذف دتنوین اوجرسره پس که چرې داامورثلثه موجودنه شي نو دغه کلمه به ثلاثي ساکن الاوسط عربي وي اوثلاثي ساکن الاوسط خفیف دی درباعي اومتحرک الاوسط نه اودغه شان لفظ عربي هم خفیف دی د عجمي نه نو په دې کښې به تخفیف پیداشي نو دابه معارض وګرزي دثقل احد السببین سره نو تاثیرته به يې نقصان ورسی اوپه دې احد الامور الثلثة ثقل دسببینو برقرارپاتې شي نوځکه داشرط کړی شو **وَثِقلُ الاولینِ ظاهرٌ** یعنې ثقل دزائد علی الثلثة اومتحرک الاوسط خوظاهر دی **لان الزائدةعلی الثلاثة ثقیلة بالنسبة الی الثلاثة وکذاالحرکة**

ثقلية بألنسة لابة الى السكون وكذالعجمةُ او دغه شان عجمه هم ثقيله ده لان لسان العجم ثقيل على العرب ځکه چې لسان عجمي ثقيل دی په عربو باندې . داځکه چې لسان دهرقوم خفيف وي په هغوی باندې او هغه چې اغستی يې وي دغيرنه هغه ثقيل وي فهينئذ يجوزصرفه داتفريع ده په شرط وجوبې دتانيث معنوي .نووايې چې دهند انصراف جائزدی (ضميرراجع دی هندته اوتذکيريې په اعتبار دلفظ يااسم دی نظراًالی انتفاءِشرط الخ دايې علة دصرف دی ،يعنې دوجې دنظرنه انتفاء دشرط وجوبې دتانيث معنوي نه چې هغه احد الامور الثلثة دی ويجوزُ عدمُ صرفهِ او جائزده چې غيرمنصرف شي دوجې دوجود دنفس سببينونه چې علمية اوتانيث دی په دې کښی اشاره ده چې جوازپه معنې دامکان خاص سره دی يعنې انصراف اوعدم انصراف يې دواړه جائزدی وزينبُ وسقرُ علماً الطبقةٍ من طبقاتِ النارِ په دې کښی اشاره ده تانيث معنوي ته او داتفريع ده په وجود دشرط وجوبې وماهُ وجُورُ علمين لبلدتين په دې کښی اشاره ده تانيث معنوي ته يعنې تانيث په دې کښی په اعتبار دبلدی سره دی ممتنع صرفها دادفع داعتراض ده چې زينب وسقروماه وجور مبتدا ده اوممتنع يې خبردی نوددې نه دامعلومه شوه چې گني داموجودنه دی حالانکه دوی موجودمستعمل دی نوحکم په امتناع سره لګول صحيح نه دی خلاصه ددفع داده چې ممتنع دوی نه دی بلکه صرف يې ممتنع دی اومطابقت په مابين دمبتدا اوخبرکښی ههنانه دی ضروری په تذکيراوتانيث کښی . ځکه چې خبريعنې ممتنع حامل دضميرمبتدا نه دی نوشرط دمطابقت مفقوددی فافهم .

امازينب فللعلمية الخ داتشريح د اسبابو دمنع صرف ده په دې امثالوکښی نووايې چې هرچې دې منع صرف دزنيب پس دوجې دعلمية اوتانيث معنوي نه سره دشرط وجوبې دتاثيردی وهو الزيادةُ على الثلاثة چې هغه زيادة دی په ثلثه باندې واماسقرُ الخ اوهرچې دی منع صرف دسقرُنودادوجې دعلمية اوتانيث معنوي نه دی سره دشرط وحوبې دتاثيرده نه چې هغه تحرک الاوسط دی واماماهُ وجورُ الخ اوهرچې دی منع صرف دماه وجورنودادوجې دعلمية اوتانيث معنوي نه سره دشرط وجوبې دتاثير نه چې عجمه ده فان سُمي به الخ فاعاطفه ده معطوف عليه يې مقدردی . تقديردعبارت به داشي هذااذا سمی به مؤنث وان سمی به مذکرالخ ، يعنې داحکم مذکورپه هغه وخت کښی دی چې دامؤنث معنوي نوم وي دپاره دمؤنث اوکه چرې نوم

شي دپاره دمذکرفشرطه الخ وسیاتي اودسمې نه مرادعلم شخص دی **بالمؤنث المعنوي** داتعین دمرجع دی **مذکرفشرطه في سببیة منع الصرف** په دې تقید کښې اشاره ده دیته چې زیادة علی الثلثة شرط دپاره دوجود ددې مؤنث معنوي نه دی بلکه شرط التاثیردی فلایردالاعتراض المشهور **لان الحرف الرابع في حکم التانیث الخ** دادلیل دمتن دی نوواېي چې زیادة علی الثلثة ځکه شرط شئ چې حرف زائدعلی الثلثة یعني حرف رابع او خامس وغیره قائم مقام دتانیث دی وجه یې داده چې موضع دحرف تانیث هم بعددحرف ثالث نه وي **فقدمٌ وهومؤنث معنوي سماعي باعتبار معناه الجنسي** قدم مبتداده اومنصرف یې خبردی اوداتفریع ده په عدم داشتراط مذکورنوواېي قدم مونث سماعي دی په اعتبارد معنی جنسي سره چې الة المشی ده اودیته ضمیردمؤنث راجع .کیږي **اذاسمي به رجل منصرف لان التانیث الاصلي زال بالعلمیة الخ** داېي دلیل دانصرف دی یعنې قدم په دې وخت کښې ځکه منصرف دی چې تانیث اصلي یې زائله شو دعلمیة للمذکرپه وجه اوقائم مقام یې شته نه اوصرف علمیة وحدهاکافی نه دی دپاره دمنع صرف خلاصه داچې تانیث دقدم بالکلیه فوت شوهم لفظاهم حکمًاهم معنًا .هرچې دی لفظاً نودوچې دخلوی دقدم دعلامت دتانیث نه اوهرچې دی حکمًانودوچې دعدم دحرف رابع نه اوهرچې دی معنًادوچې دکون دده نه اسم دپاره دمذکر **وعقربٌ** مبتداده اوممتنع یې خبردی داتفریع ده په وجودداشتراط مذکورنوواېي چې عقرب مونث سماعي دی په اعتباردمعنی جنسي سره چې دی یوموذی دی دموذیاتونه یایوداېه ددواب نه په هغه وخت کښې چې مسمی کړی شي په دې سره مذکر **ممتنع صرفهـا** نوداغیر منصرف دی تحقیق دصرفهاذکرشویدی سابقًافتذکر **لانه وان زال التانیث الخ** داېي دلیل دی یعنې عقرب ځکه غیرمنصرف دی چې تانیث یې اګرچې زائله شویدی په علمیة للمذکرسره لیکن داچونکه زائدعلی الثلثة دی نوحرف رابع یې قائم مقام تانیث دی **بدلیل انه اذاصُغرقدّ مظهرالتاء المقدرة** اوحرف رابع یې قائم مقام دتانیث ولې دی نوځکه چې کله قدم مصغرکړی شي نوظاهربږي تاء مقدره لکه چې قاعده دتصغیرددې مقتضي ده او قاعده دتصغیرداده چې که چرې تاظاهره شي په تصغیرکښې نولازمه به شي اجتماع دفرعینو .یودا چې تصغیرفرعه ده معتبره ده اوبله داچې تامقدره فرعه دتاظاهری ده پس وئیلی کیږي قدیمة په وخت

دتصغیرکښی **بخلاف عقربَ فأنه اذاصُغر الخ** په خلاف دعقرب نه ځکه چې دی مصغرشي نوویلی کیږي عقیرب بغیرداظهاردتانه ځکه چې حرف رابع قائم مقام دتانیث دی نوکه تاهم ظاهره شي نولازم به شي اجتماع دنائب اودمنوب .پس نتیجه داشوه چې عقرب غیرمنصرف دی اګرچې دی نوم وي دپاره دمذکر دوجې دعلمیة اوتانیث حکمي نه **اَلمعرفةُ** بل سبب داسبابو دمنع صرف نه معرفه ده وقال الشارح **ای التعریف** په دې کښی غرض دفع دسوال ده چې شمیرل دمعرفې داسبابو دمنع صرف نه نه دی صحیح ځکه چې اسباب دمنع صرف دقبیلې داوصافونه دی اومعرفة دلالت کوي په ذات نوشارح وایې چې مرادترې تعریف دی دقبیلې دذکردمحل اوارادی دحال نه ځکه چې معرفه هغه اسم ته ویلې شي چې په هغې کښی تعریف وي نودامصدر دی وصف دی والیه اشارالشارح بقوله **لان سببَ منع الصرف الخ شرطهُا ای شرط تأثیرهافی منع الصرف** دادفع دسوال ده چابه وي علمیة به شرط دپاره دجوددمعرفې وي حالانکه تعریف په غیراعلاموکښی هم موجودیږي لکه الرجل خلاصه دجواب داده چې علمیة شرط دتاثیردمعرفې دی په منع صرف کښی اوشرط الوجودنه دی **ان تکونَ علمیةً ای کونهُاهذاالنوعَ** غرض دشارح ددې عبارت نه تعین دیادی په علمیة کښی اودفع دسوال مقدرده چې یاپه علمیة کښی مصدریه ده اویامصدریه ګرزوي ملحق به خپل خبردپاره دکون مقدرسره داسم مقدرنه پس معنی دعلمیة کونهاشوه اوان تکون هم په معنی دکون سره دی دوجې دان مصدریه نه پس معنی دعبارت داشوه ای کونهاکونها علماًنولازم شۀ تکراردکون وهذا شنیع پس شارح ددې نه دوه جوابونه ذکرکړیدی یوپه دې قول سره ای کونهاهذا النوع من جنس التعریف یعنې شرط دتاثیردمعرفی کون دمعرفې دی دانوع یعنې علم دجنس التعریف نه **علی ان یکون الیاءمصدریةً** بناپه دې چې یادعلمیة مصدریه شي خلاصه داچې مصدری ده خوعلمیة مؤول دی په هذ االنوع سره چې تکرارلازم نه شي یعنې تعریف جنس دی اودپاره ددې انواع سته دی چې یوه نوعه یې علم دی نومعنی داشوه چې جنس دتعریف به اثرکوي په منع صرف کښی کله چې داتعریف عین نوع علمي وي **اومنسوبةً الی العلم** داجواب ثاني دی نووایې چې علمیة په معنی دمنسوبة الی العلم سره دی **بأن تکون حاصلةً فی ضمنه** په دې شان سره چې وي دامعرفة حاصله په ضمن دعلم کښی ځکه چې جنس موجودیږی په ضمن دانواعو کښی لکه چې کلمه موجودیږي په ضمن دانواعو خپلو کښی **علی ان یکونَ الیاءُ**

للنسبة بناپه دې چې یادعلمیة نسبتی شي نو تکرارنه لازمیږي
وانما جُعلت مشروط بالعلمیة دادلیل داشتراط مذکوردمعرفی دی نووایې چې خبره داده چې وګرزولې شوه معرفه په سببیة دمنع صرف کښې مشروط په علمیة سره نه په باقې معارفوسره چې مضمرات مبهمات اومعرفه بالاضافة ده لان تعریفَ المضمرات والمبهمات الخ ځکه چې تعریف د مضمراتو مطلقا اوداسماء اشاراتو اوموصولاتو نه موجودیږي مګرپه مبنیا توکښې . یعنې هرواحد ددې نه مبني دی اومنع صرف داحکامو دمعرباتو نه دی اوپه مابین دمبني اومعرب کښې منافات دی نوممکنه نه ده چې تعریف ددې اشیاء شرط وګرزی دپاره دمعرفې والتعریفَ باللام اوالاضافة یجعل الخ اوتعریف باللام اوبالاضافة ګرزوی غیرمنصرف لره عین منصرف یاپه حکم دمنصرف کښې علی اختلاف القولین کماسیجی فلایتصور کونهُ الخ پس نه شي متصورکیدی کون دهرواحد ددی سبب دپاره دمنع صرف ځکه چې کوم شی سبب وي دپاره دزوال دیوشي هغه سبب نه شي ګرزیدی دپاره دجوددهغه شي فلم یبقَ الاالتعریفُ العلمی پس باقي پاتې نه شۀ دانواعودمعارفونه دپاره دشرطیة دمعرفې مګرتعریف علمي یعنې علمیة ځکه چې په دې کښې څه مانع نشته نوځکه یې دامعتبرکه وانما جُعِلَ المعرفةُ سبباً الخ داجواب دسوال مقدردی چې معرفه یې سبب وګرزوه اوعلمیة یې دهغې دپاره شرط که نوعکس به یې کړی وو په شان د صاحب الکشاف یعنې علمیة به یې سبب ګرزولی ووابتداءً نواستغنابه راغلی وه داشتراط نه اوحاصل به ووقصرمسافة نوشارح وایې په جواب کښې چې بی‌شکه معرفه یې سبب وګرزوه اوعلمیة شرط اوعلمیة یې سبب ونه وګرزوه کما فعله البعض لکه داکاربعض یعنې جارالله زمخشری کړیدی لان فرعیةَ التعریف للتنکیراظهرُ من فرعیة العلمیة له یعنې هرسبب فرعه ده دبل شي نوفرعیة دتعریف دپاره دتنکیربلاواسطه دی اوفرعیة دعلمیة دپاره دتنکیرپه واسطې دتعریف سره دی. یعنې په دې اعتبارچې علمیة نوعه دتعریف ده اوفرعیة بلاواسطه اظهروي نوځکه یې معرفه سبب وګرزوه.

اَلعجمةُ: بل سبب داسبابودمنع صرف نه عجمه ده عجمه په لغة لکنة ته وایې وفی الاصطلاح مابینه الشارح.

وهی کونُ اللفظ الخ داجواب دسوال مقدردی هغه داچې شمیرل دعجمې داسبابودمنع

صرف نه غیر صحیح دی ځکه چې اسباب دقبیلې داوصافو نه دی او عجمه ذات دی
لانها کلمة وضعها غیر العرب **فاجاب بقوله وهي كون اللفظ مما وضعه غيرُ العرب** يعنې
مراد دعجمې نه کون اللفظ دی او کون مصدر دی وصف دی فصح عدها من الاسباب نو وایې
چې عجمه کون دلفظ دی برابره خبره ده که منصرف وي او که غیر منصرف دهغه الفاظُ نه چې
وضعه کړې وي هغې لره غیرعربو نه.

سوال: داتعریف دعجمې منقوض دی په صابون او تنور ځکه چې داوضع کړیدی غیرعربو حالا
نکه بیاهم دا الفاظ عربیه دی؟

جواب: په تعریف دعجمې کښې قید دفقط مراد دی یعنې عجمه هغې ته وایې چې وضعه کړې
وي هغې لره غیر دعربو فقط او صابون او تنور وغیره عربو هم وضعه کړیدی نو داالفاظ مشترکه
دی.

ولتأثيرها في منع الصرف شرطان دادفع دسوال ده چې ګرزول دعلمیة به شرط دپاره
دوجود دعجمې وي نو دا شرط منقوض دی په لجام باندې ځکه چې لجام عجمه ده حالانکه علم نه
دی خلاصه دجواب یې داده چې علمیة شرط دپاره دتاثیر دعجمې دی نه دپاره دوجود او په
شرطان کښې اشاره ده دیته چې عطف مقدم دی په ربط **شرطها الاولُ ان تكون علمية** شرط
اول یې چې علم به وي په لغة عجمې کښې **اي منسوبة الى العلم** داتعین دیاد علمیة دی چې
نسبتی ده او دفع دسوال ده چې یا به مصدری وي په معنې دکون سره او تکون هم دال دی په کون
نو لازم شو تکرار دکون نو شارح جواب وکه چې یانسبتی ده یعنې مصدری نه ده فلا تکرار.

سوال: په بحث دمعرفې کښې په یاد علمیة کښې احتمالین وو یو مصدری او بل نسبتې او دلته
یې فقط احتمال دیا نسبتې ذکر کړ نو داولې؟

جواب: دلته یا مصدری اراده کول خطا دی ځکه چې بیا معنی داشي چې کونها هذا النوع من
جنس العجمة حالانکه عجمه جنس نه دی دپاره دنوع علمې بلکه علم دی عجمې او غیرعجمې
دواړو ته شامل دی او معرفه جنس وُو دپاره دنوع علمې نو هلته دغه احتمال صحیح وو **في اللغة
العجمية** په تقدیر داللغة کښې اشاره ده دیته چې ظریفت دعجمیة دپاره دماقبل اعتباری دی یعنې
لغة دقبیلې دصفاتو نه دي نو داظرفیت دصفت دپاره دماقبل اعتباری دی یعنې لغة دقبیلې
دصفاتو نه دی نو داظرفیت دعجمیة دپاره دموصوف دی لکه زید فی العلم والکرم او ظرفیت

حقیقي نه دی نو سوال نه واردیږي چې ظرف خو یا زمان وي یا مکان او عجمیة خو یو هم نه دی
بأن تکون متحققة الخ دا بیان دمناسبت دی په مابین دمنسوب او منسوب الیه کښي
علم حقیقي او حکمي : حقیقة کابراهیم او حکما دا تعمیم دی په علمیة کښي او دفع دسوال ده چې
دا اشتراط مذکور منقوض دی په قالون ځکه چې دا غیر منصرف دی حالانکه علم نه دی په لغة
عجمي کښي بلکه اسم جنس دی په معنی دجید سره خلاصه دجواب دا ده چې علمیة عام دی
حقیقي وي لکه ابراهیم او که حکمي وي او علم حکمي دیته وایي چې نقل کړی وي اسم عجمي
لره عربو خپل زبان ته بغیر دتصرف او تبدیل نه پخوا دنقل نه ګرزولی یې وي هغې لره علم په
عربي کښي وهذا معنی قوله بأن ینقله العرب الخ لکه قالون ځکه چې دا په لغة عجمي کښي اسم
جنس وو په معنی دجید سره په لغة رومي کښي او مسمی کړی شو په دې سره یو راوي درواة
دقراءة نه چې عیسی تلمیذ دنافع دی امام القراءة دی لجودة قراءته دا یې مناسبت دی او دا نقل
عربو بغیر دتصرف نه کړیدی په قالون کښي فکانه کان علما في العجمیة، پس ګویا لکه چې
قالون علم وو په لغة عجمي کښي ځکه چې عدم تصرف دلالت کوي په علمیة دده ځکه چې
محفوظ دتغیر او تبدیل نه اعلام دی فقط بقدر الامکان وانما جعلت شرطا لئلا یتصرف
فیها العرب مثل تصرفاتهم في کلامهم دا دلیل داشتراط دعلمیة دی دپاره دعجمي نو وایې
چې وګرزولی شئ علمیة شرط دپاره دتاثیر دعجمې دپاره ددې چې تصرف ونه کړي عرب په دې
کښي په شان دتصرفاتو خپلو په الفاظ خپلو کښي حذف، زیادة، قلب وغیره فتضعف فیه العجمة
الخ دا تفریع ده په منفي یعنې که تصرف پکښي وکړی شي نو ضعیفه به شي په کښي عجمه پس
صالحه به نه شي عجمه دپاره دسببیة دمنع صرف دوجې دانتفاء دشرط نه چې علمیة دی حقیقة
یا حکما فعلی هذا الوسمی بمثل لجام الخ دا تفریع ده په انتفاء دشرط مذکور پس بنا په دی که
چرې مسمی کړی شي په مثل دلجام باندې یو سړی نو دی به غیر منصرف نه وي ځکه چې دی علم
نه دی په لغة عجمي کښي نه حقیقة کما هو الظاهر او نه علم حکمي دی ځکه چې عربو په کښي
تصرف کړیدی قبل النقل تردی چې ګاف یې ورله بدل کړیدی په جیم باندې وشرطها الثاني
احد الامرین په دې کښي تنبیه ده په دې چې او دپاره دتنویع او تقسیم دی نه دپاره دتشکیک
،یعنې تحرک دحرف اوسط یا زیادة په حروف ثلثو باندې په علی ثلثة احرف کښي اشاره ده دیته

چې الف لام د الثلاثة عهدی دی یا عوض دی د مضاف الیه نه **لئلا یعارض الخ** د ادلیل د اشتراط مذکوردی مطلب یې دا دچې احد الامرین ځکه شرط شوچې معارضه ونه کړي خفة چې ثلاثي ساکن الاوسط دی د احد السببین سره چې عجمه او علمیة دی **فنوح منصرف الخ** دا تفریع ده په نظرسره شرط ثاني ته عدماً چې احد الامرین دی پس انصراف دنوح دوجې د انتفاء د شرط ثاني نه دی یعنې نه خوزائد علی الثلاثة دی او نه ثلاثي متحرک الاوسط دی **وهذا اختیار المصنف** پوهه شه چې په نوح کښې اختلاف دی د جار الله زمخشري او د مصنف او سیبویه زمخشري وایې چې نوح په شان د هند دی یعنې یجوز صرفهُ وترکه او ده غجمه قیاس کړی ده په تانیث معنوي نو ځنګه چې اعتبارورکولی شي تانیث معنوي ته سره دسکون الاوسط نه نو دغه شان به اعتبار ورکولی شي عجمې ته سره دسکون الاوسط نه او مصنف او سیبویه ذهاب کړیدی انصراف دنوح ته او عدم اعتبار دعجمی ته دسکون الاوسط سره والیه اشار الشارح بقوله وهذا اختیار المصنف الخ ځکه چې عجمه سبب ضعیفه دی **لانه امرٌ معنوي** یعنې ددې دپاره علامه ظاهری نشته ضمیر د لانه راجع دی عجمې ته او تذکیر یې په تاویل د سبب سره دی پس جائزنه دی اعتبار دعجمې سره دسکون الاوسط نه.

واما التانیث الخ دا بیان دفرق دی په مابین دعجمې او تانیث کښی ،نو وایې چې هرچې تانیث دی نو هغې دپاره علامة مقدره شته چې ظاهریږي په بعض تصرفاتو کښی چې تصغیر او ارجاع الضمیر وغیره دی پس د تانیث دپاره یو نوعه قوة ثابت دی یعنی تانیث معنوي اقوی دی دعجمې نه پس جائزه شوه چې معتبرشي تانیث معنوي سره دسکون الاوسط نه او وګرزی غیرمنصرف او داهم جائزه ده چې معتبرنه کړی شي او وګرزولی شي منصرف خلاصه دا ده چې قیاس کول د زمخشري عجمې لره په تانیث باندې قیاس مع الفارق دی **فان قلت قد اعتُبِرَتِ العجمةُ في ماهَ وجورَ مع سکون الاوسط الخ** دا اعتراض دی په مصنف باندې ،نو خلاصه یې دا ده چې که چرې ته ووایې چې معتبرشویده عجمه په ماه وجور کښی سره دسکون الاوسط نه په ماسبق یعنې تانیث معنوي کښی حتی چې ګرزیدلی دی دواړه غیرمنصرف نودلته یعنې په نوح کښی ولی معتبرنه شوه تردې چې نوح غیرمنصرف ګرزیدلی وی **قلنا اعتبارُها فیماسبَق الخ** یعنې اعتبار دعجمې په ماسبق یعنې تانیث معنوي کښی دپاره دتقویة دیو سبب دسببینُ اخرینو وچې تانیث معنوي دی ، په دې عبارت کښی لفظ د احد مقدردی **لئلا یقاوِمَ سکونُ الخ** دپاره ددې

چې مقابله ونه کړي سکون داوسط دثقل داحد السببین سره او داځکه چې سکون الاوسط خفیف دی نوخلل په واقع شي په تاثیر دسبب آخر کښې **فلایلزم من اعتبارها لتقویة سبب اخر الخ** دا نتجیه دکلام ده پس نه لازمیږي داعتبار دعجمې نه دپاره دتقویة دسبب دیګر اعتبار ددې بالاستقلال په دې مقام کښې حتی یرد الاعتراض **وشتر وهو اسم حصن بدیار بکر** داتفریع ده په وجود دشرط ثاني نو وایې چې شتر چې نوم دقلعه دی په دیا ربکر کلي کښې **وابراهیم ممتنع صرفهما** یعنې شتر او ابراهیم غیر منصرف دی دصرفها تحقیق مر غیر مرة **فتذکر لوجود الشرط الثاني فیهما** دا یې دلیل دمنع صرف دی پس په شتر کښې تحرک دحرف اوسط دی او په ابراهیم کښې زیادة علی الثلاثه دی.

وانما خص التفریع دادفع داعتراض مقدر ده چې دعجمې دپاره شرطین دی یو علمیة او بل احد الامرین نو څه وجه ده چې مصنف تفریع وکړه په شرط ثاني نه په اول بله داچې نوح تفریع ده په عدم شرط ثاني او شتر او ابراهیم په وجود دشرط ثاني او وجودی اشرف وي نو پکار ده چې شتر او ابراهیم یې مقدم کړی وی په نوح نو شارح جواب وکه چې مصنف مختص کړه تفریع په شرط ثاني پورې **لان غرضه التنبیه علی ما هو الحق عنده الخ** دپاره دتنبیه په ما هو الحق عند المصنف چې هغه انصراف دمثل دنوح دی حتمًا یعنې جواز دوجهینو په کښې نشته **وهذا قدم انصرافه الخ** دا دوئم سوال جواب دی یعنې هرکله چې داتفریع مقصود وي وګرزیده نو ځکه یې مقدمه کړه سره ددې چې داتفریع ده په انتفاء دشرط ثاني او حالا نکه لائق مقام سره تقدیم دهغه دی چې متفرع دی په وجود دشرط ثاني ،لکه چې خفي نه ده وجه ددې چې وجودی اشرف وی دعدمي نه.

واعلم أن اسماء الانبیاء ممتنعة عن الصرف الاستة غرض دشارح ددې واعلم نه بیان دفایدی عامې مشهوری دی چې اکثرو کتابونو دنحوی ذکر کړیده او هغه بیان دانصراف او عدم انصراف داسماء دپیغمبرانو دی نو وایې چې پوهه شه چې اسماء دپیغمبرانو ټول غیر منصرف دی ماسوا دشپږو نه چې محمد صالح ﷺ شعیب ﷺ او هود ﷺ دی چې **لکونها عربیة** دا یې دلیل دانصراف دی او نوح ﷺ او هود ﷺ هم منصرف دی **لخفتهما** دوجې دخفة نه یعنې اګرچې په دې کښې عجمه او علمیة شته لیکن ساکن الاوسط دی **وقیل ان هودا کنوح الخ** دا بیان داختلاف

دی په لفظ دهود کښې مشهوره داده چې دالفظ عربي دی او بعض وایې چې دې عجمې دی په شان دنوح نوشارح وایې چې بعض وئیلی دی چې هود په شان دنوح دی یعنې دالفظ عجمې دی خو ساکن الاوسط دی نو ځکه منصرف دی **لان سیبویه قرنهٔ معه** دادلیل دقیل دی یعنې داځکه چې سیبویه په مقارن گرزولی دی هود لره دنوح سره **ویؤیدهٔ ما یقال** ممکنه ده چې داتتمه دکلام دقیل وي .او دا هم احتمال لري چې کلام دشارح وي دپاره دتائید دسیبویه نو وایې چې تائید کوي دقول دسیبویه هغه چې ویلی شي چې بې شکه عرب اولاد داسماعیل ﷺ نه دی او څوک چې دهغه نه قبل دی هغه عربي نه دی او هود ﷺ پخوادی داسماعیل ﷺ نه لکه چې په کتابونو دتاریخ کښې یې لیکلی دی .پس هود په شان دنوح وگرزیده پوهه شه چې ددې اختلاف څه ثمره نیشته ځکه چې بهر حال هود منصرف دی .

قطعه .

گرهمی خواهی که دانی نام هرپیغمبری
تاکدام است ای برادر نزد نحوی منصرف
صالح وهود محمد با شعیب ونوح ولوط
منصرف دان این همه د یگرهمه
لاینصرف

لکن دا خبره منقوضه ده په شیث وعزیز ځکه چې دا هم منصرف دی کمایدل علیه النصوص لیکن ممکنه ده چې دابیان دی په طور دقاعدې کلي نه وي بلکه اکثریه دی وی.

الجمعُ دامبتدا اوله ده .اوشرطه مبتدا ثاني ده صیغه یې خبردې متبدا ثاني سره دخبر نه جمله خبریه خبر دمبتدا اولی دی ،دابل سبب دی داسبابو دمنع صرف نه اومراد دجمع نه جمعیة دجمع دی ځکه چې اسباب دمنع صرف دقبیلې داوصافو نه دی **وهوالسبب قائم مقامَ السببین** په دې کښې اشاره ده دیته چې الف لام په الجمع کښې عهدې دی معهود په دې سره هغه سبب دی چې قائم مقام دسببینو دی اوداذکرشویدی په مایقوم مقامهما الخ کښې سابقًا **ای شرط قیامه مقامَ السببین** دادفع دسوال ده چې کیدی شي چې صیغه دمنتهي الجموع به شرط وي دپاره دوجود دجمع نو داخبرې منقوضه ده په رجال ځکه چې داجمع ده امنتهی الجموع نه ده خلاصه ددفع یې داده چې منتهي الجموع شرط الوجود نه دی بلکه داشرط دقیام دجمع دی په مقام

دسبینو

تحقیق لغوي دلفظ دمنتهي الجموع اوتشریح لفظي اومعنوي دصیغې دمنتهي الجموع

پوهه شه چې منتهي مصدرمیمي دی په معنی دانتهاء سره او اضافت یې جموع ته اضافت دمصدردی الی الفاعل اومراد دجموع نه جموع مکسره دی یعنې هغه صیغه چې جموع مکسره په کښې انتهاء ته رسیدلی وي.

سوال: جموع جمع ده او اقل افراد دجمعې درې دی نو مطلب دا چې منتهي الجموع به هغې ته وایې چې درې ځله جمع شوې وي دې اودوه ځله جمع شوی وي حالانکه اساور او اناعیم صیغې دمنتهي الجموع دی اودوه ځله جمع شوېدی ؟

جواب: مراد دجمعې نه مافوق الواحد دې فلااشکال اوشارح یې تشریح لفظي اومعنوي بیان کړېده بقوله **وهي الصیغة التي کان اولها مفتوحا الخ** دایې تشریح لفظي ده یعنې منتهي الجموع هغه صیغه ده چې حرف اول اوثاني یې مفتوح وي اوحرف ثالث یې الف دجمع وي اوپس دالف دجمع نه دوه حرفونه وي یابه مشددوی لکه دواب اوصواف یابه غیرمدغم وي که غیرمدغم وي نوحرف اول به مکسوروي لکه اساور اومساجد یابه پس دالف دجمع نه درې حرفونه وي اول به مکسوروي او اوسط به ساکن وي لکه اناعیم ومصابیح **وهي الصیغة التي لاتجمع جمع التکسیر الخ** دا تشریح معنوي ده فلایلزم التکرار یعنې دا هغه جمع ده چې نه جمع کیږي په جمع تکسیری سره مرة أخری **ولهذا سُمیت صیغة منتهي الجموع** دابیان دوجې تسمیي دصیغې دمنتهي الجموع دی **لانها جُمعت في بعض الصور الخ** دا تعلیل دانتهاء دی یعنې دا ځکه چې جمع شوېده په بعض صورتونو کښې مرتین په جمع تکسیری سره پس نهایت ته ورسیده ، هغه تکسیرچې مغیرکونکې دی صیغې لره په دې شان سره چې پس ددینه بیانه جمع کیږي نوجمعیة پوره شو اومضبوط شۀ اوقائم شۀ په مقام دسبینو **فاما جمع السلامة الخ** په دې کښې اشاره ده امرینو ته یو بیان دفائدی ددې قول دی چې لاتجمع جمع التکسیر اوبل دفع دسوال ده چې تسمیه ددې جمع په صیغې دمنتهي الجموع سره صحیح نه ده ځکه چې دا تسمیه تقاضاکوي دانتهاء دجمعیة حالانکه نیشته په دې کښې انتهاء دجمعیة ځکه چې داجمع کیږي په جمع سالمې سره لکه چې جمع شویدی ایامن په ایامنین اوصواحب په صواحبات فدفع بقوله فاما جمع السلامة الخ یعنې جمع کیدل دمنتهي الجموع په جمع سالمي مذکري یامؤنثي سره ممنوع نه دی **فانه لایُغیر الصیغة**

الخ ځکه چې دانه ده مغير کونکی صيغې لره نو نه واقع کيږي فتور په جمعية کښې پس جائزه ده چې جمع شي په جمع سالمې سره لکه چې جمع شويدی ايامن چې جمع د ايمن دی (اسم موضع دی چې وادی ايمن په کښی واقع ده) په ايامنين سره او صواحب جمع د صاحبة جمع شويدی په صواحبات سره.

وانما اشترطت لتکون صيغته الخ دا وجه د اشتراط مذکور ده يعنې خبره داده چې شرط کړی شوه صيغه د منتهي الجموع د پاره ددې چې صيغه د جمع محفوظه وګرزی د قبول د تغير او تبديل نه ځکه چې تاته معلومه شوه چې مغيره جمع تکسيره ده نه جمع سالمه پس قابله شوه دا جمع چې سبب مؤثر وګرزی بغير هاء با د پاره د ملابسة ده تقدير داشه چې شرط صيغه منتهي الجموع ملابس بغير هاء يا دا صفة دی د پاره د صيغة ای صيغة منتهي الجموع الملابسة بغير هاء منقلبة مجرور دی بنا بر صفتية د پاره د هاء عن تاء التانيث حالة الوقف دا دفع د هغه سوال ده چې شارح ذکر کړيدی په مابعد کښی چې بنا په دې د فواره منصرف شي ځکه چې دا سره د هاء نه ده او پکار ده چې فرازنة غير منصرف شي ځکه چې دا بغير د هاء نه دی. حالانکه امر بالعکس دی فدفع بقوله منقلبة الخ يعنې مراد د هانه هغه هاده چې بدل راغلی وي د تاء التانيث نه په حالت الوقف کښی او المراد بها تاء التانيث الخ دا جواب ثاني دی چې مراد په ها سره تاء التانيث ده مجازا په اعتبار د مايؤل اليه سره په حالة الوقف کښی يعنې دا تا تانيثې يو ساعت پس په ها سره بدليده نو مصنف ترې تعبير في الحال وکه په ها سره فرق په مابين د جوابينو کښی دادی چې جواب اول مبني بر حقيقت دی يعنې د هانه مراد هاده حقيقةً او جواب ثاني بنا دی په مجاز يعنې ذکر د ها دی او مراد ترې تاده مجازاً باعتبار المرجع فلا يرد نحو فوارة جمع فارهة الخ دا تصريح بالاعتراض ده يعنې هر کله چې امر کذلک شۀ نو نه وارديږي اعتراض په فواره چې جمع د فارهة ده نه د فاره ځکه چې وزن د فاعل صفتي نه جمع کيږي په وزن د فواعل مولانا عبد الغفور وايي چې الفاره الحاذق يعنې فاره ويلی کيږي ماهر او زيرک ته وانما اشترط کونها غير بغير هاء الخ دا وجه د اشتراط مذکور ده نو وايي چې شرط کړی شوه صيغه د منتهي الجموع چې متلبس به وي بغير هاء ځکه چې که چرې صيغه د منتهي الجموع سره د هانه وي نو شي به په وزن د مفرد اتو لکه فرازنة ځکه چې فرازنة په وزن د کراهية او طواعية دی په معنی د کراهة او طاعة پس هر کله چې دا په وزن د مفرداتو شي نو داخل به شي په قوة د جمعية ددې کښی فتور او ضعف نو قائم مقام د سببينو به

ونه ګرځي **فلاحاجة الی اخراج نحو مدائنی الخ** دا جواب دی د سوال مقدر نه بیان یې دادی چې مدائني په ظاهره صیغه د منتهي الجموع ده اوبغیر دهانه هم ده حالانکه بیا هم منصرف دی نو په مصنف لازمه وه چې ددې دا خراج د پاره یې قید لګولي وو فاجاب بقوله ولاحاجة الخ یعني حا جت نیشته اخراج د نحو مدائنی ته ځکه چې اخراج فرع د دخول ده او دا داخل نه دی په منتهی الجموع کښې بلکه جمع نه ده **فانه مفرد محض الخ** یعني دا مفرد محض دی نه جمع فی الحال ده اونه فی المال بلکه مدائني منسوب دی مدائن ته دا نوم دبلد دی لکه انصاری چې منسوب دی انصارته .

وانما الجمع مدائن الخ دا تخطیه د معترض ده یعني جمع چې ده نو هغه لفظ د مدائن دی چې جمع د مدینة ده واین لفظ دیګر است **بخلاف فرازنة الخ** دا بیان دفرق دی په مابین د مدائنی او دفرازنة کښې په دې شان سره چې اول لفظ مفرد دی اوثاني جمع ده فرزین ده یادفرزان په کسری دفا سره نو اخراج د اول (مدائنی) ته حاجة نه وو ځکه چې دا داخل نه دی اوثاني (فرازنه) خارجول پکاروو نو ځکه یې دثاني دا خراج دپاره قید ولګوونه دپاره د اول **فعُلم مما سبق الخ** دا تمهید دی متن آتی ته او جواب د سوال مقدر دې ،بیان یې دادی چې اماپه واما فرازنة کښې به خالي نه وي یابه استینافیه وي یا تفصیلیه اول نه شي کیدی ځکه چې داپه مصدر کښې را ځي او دا خو وسط دکلام دی او تفصیله سابقًا اجمال غواړي او اجمال نشته خلاصه د دفع یې داده چې اماتفصیلیه ده او اجمال اګرچې صراحةً نیشته خو ضمناً شته لکه وایې چې پس معلومه شوه د ماسبق یعني داشتراط د جمع نه .

ان صیغة منتهی الجموع علی قسمین چې منتهي الجموع په دوه قسمه ده یوه هغه ده چې بغیر د ها نه وي او بله هغه ده چې سره دهانه وي پس هغه چې بغیر دهانه وي نو ممتنع دی صرف دهغې یعنې غیر منصرف به وي دوجې د دجود د شرط د تاثیر د جمعیة نه **کمساجد مثال لما بعد الفه الخ** په دې کښې اشاره ده دیته چې تعدد امثلو بنادی په تعدد د ممثل له باندې **ومصابیح مثال لما بعد ثلثةُ احرف الخ** ددې هم دغه غرض دی وهذا اوضح .

واما فرازنة وامثالها الخ فمنصرف او هرچې دی فرازنة او امثال ددې هغه چې صیغه د منتهي الجموع وي سره د هانه لکه صیاقلة نو دا منصرف دی دوجې د فوات د شرط د تاثیر د جمعیة نه چې هغه کون د جمعې دی بدون د هانه او فرازنة وغیره سره د هانه دی نو ځکه منصرف شو که څوک

او وايې چې وامافرازنة مبتداده او منصرف يې خبر دی نو ددې په مابين کښې مطابقت ضروري دی ځکه چې خبر مشتقي دی، حالانکه مطابقت نيشته في التذکير والتانيث ددې نه دوه جوابونه دي اول دا چې په دې عبارت کښې لفظ دنحو مقدر دی **فالتقدير واما نحو فرازنة الخ** پس نحو مضاف دی او فرازنة مضاف اليه دی، او مقصود په مرکب اضافي کښې جزء اول وي او هغه نحو دی مذکر دی دوهم جواب دا دی چې سوال په هله وارد وی که مراد د منصرف نه معنی اشتقاقي وي خو دا نه ده مراد بلکه مراد معنی علمي ده يعنې منصرف علم دی د پاره د مافيه علتان نو مطابقت لازمي نه دی ځکه چې دا حکما جامد و ګرزيده **وحضاجر علما للضبع** حضاجر مبتدا ده او غير منصرف يې خبر دی دا جمله مستانفه ده واقع ده په جواب د سوال د سائل کښې کما يبينه الشارح حضاجر ګوړ کښې ته وايې.

سوال: علماً منصوب دی بنابر حاليت د حضاجر نه ليکن دا صحيح نه ده ځکه چې حال يا د فاعل نه واقع کيږي يا د مفعول نه او حضاجر مبتدا ده؟

جواب اول دا دې چې دا حاليت بنا دی په مذهب د ابن مالک نحوی باندې او حال د هغه په نزد د مبتدا نه واقع کيدی شي دوهم جواب دا دی چې دا حال دی د ضمير مستتر د منصرف نه چې مذکور دی په غير منصرف کښې او مضاف اليه دی د پاره د غير او هغه ضمير فاعل دی د پاره د منصرف او راجع دی حضاجر ته.

سوال: بنا په دې لازم شۀ تقديم د معمول د مضاف اليه چې حال دی يعنې علماً په مضاف چې غير دی کما هو الظاهر و هذا لا يجوز ځکه چې تقديم د خود مضاف اليه په مضاف اليه په مضاف جائز نه دی نو د معمول د مضاف اليه په مضاف بالطريق الاولی ممنوع دی؟

جواب. مضاف يعنې غير په معنی د لا سره دی نو ګويا اضافت متحقق نه شو نو محظور لازم نه شه

هذا جواب سوال مقدر الخ بيان د سوال دا دی چې حضاجر علم دی د جنس د ضبع، يعنې جمع نه ده ځکه چې اطلاق يې په واحد او کثير تولو باندې کيږي په شان د اُسامه چې علم دی د جنس اسد، پس نشته دی په دې کښې جمعية ځکه چې په مابين د جمعية او علمية کښې منافاة دی ځکه چې جمعية تقاضا کوي د اطلاق په جماعة غير معينه لکه رجال او علمية تقاضا کوي د اطلاق په معين و بينهما منافاة او بيا هم دا غير منصرف دی **وصيغةُ منتهی الجموع الخ** دا جواب د سوال دی چې حضاجر اګرچې جمع نه ده ليکن په وزن د منتهي الجموع خو دی نو شارح جواب وکه چې صيغه د منتهي الجموع خو سبب مستقل د منع صرف نه دی بلکه شرط دی د پاره د جمعية.

الفرق بین علم الجنس واسم الجنس پوهه شه چې علم جنس هغه دی چې وضع شوی وي دپاره دیو ماهیت کلي داسې ماهیت چې صادق وي په افرادو په دې حیثیت چې داماهیة معینه ممتازه دی دنورو ماهیاتو نه په ذهن دواضع کښې لکه اسامه چې دی موضوع دی دپاره دحیوان مفترس په لحاظ دامتیازسره دنورو ماهیاتو نه او اسم جنس هغه دی چې وضع وي دپاره دماهیت کلي بغیر داعتبار دتعین او امتیاز دنورو ماهیاتو نه په ذهن دواضع کښې لکه اسد چې وضع دی دپاره دحیوان مفترس بغیر داعتبارد امتیازدنورو ماهیاتو نه نو فرق په مابین دعلم جنس او اسم جنس کښې اعتباري اولحاظي دی په اول کښې لحاظ دامتیاز دی دماهیات اُخری نه او په ثاني کښې دالحاظ او اعتبار نه نیشته اولحاظ دامتیاز او دعدم امتیاز معلو میږي د ترتیب داحکامو نه نو په علم جنس باندې مرتب کیږي احکام دمعارفو او په اسم جنس باندې مرتب کیږي احکام دنکراتو **وتقریرالجواب ان حضاجرَحال کونه الخ** **اوبیان** دجواب دادی چې حضاجر په دې حال کښې چې علم دی دپاره دضبُع غیرمنصرف دی خو دجمعیة حالِي په وجه نه ، ځکه چې دافی الحال جمع نه ده بلکه علم جنس دی نو عدم انصراف ددې دجمعیة اصلي په وجه دی **لانه منقول عن الجمع** ځکه چې حضاجر منقول دی دجمع نه یعنې داعلم منقول دی **فانه کان فی الاصل جمع حِضَجْر** په کسرې دحاء او فتحې دضاد او سکون دجیم په وزن دقمطر په معنې دعظیم البطن سره برابره خبره ده چې انسان وي اوکه غیرانسان **سمی به الضبع مبالغةً** داوجه تسمیه ده یعنې مسمی کړی شۀ په دې سره ضبع مبالغةً دوجې دعظم البطن نه په دې شان سره چې کله ذکرشي حضاجر نو ذهن تبادرنه کوي مګر ضبع ته **کانَ کل فردٍ منها جماعةً الخ** دابیان دمناسب دی په مابین دمنقول او منقول الیه کښې ګویا چې هر فرد دضبع یو جماعت دی دجنس دعظیم البطن نه **فالمعتبرالخ** داتفریع ده یعنې نتیجه دکلام داشوه چې معتبر په منع صرف دحضاجر کښې جمعیة اصلي دی.

فان قلت داسوال دی په دې تفریع مذکوره باندې نو وایې چې حاجت نیشته په منع صرف دحضاجر کښې اعتبار دجمعیة اصلي ته ځکه چې په دې کښې دوه سببه نور موجود دی چې یو علمیة دی او بل تانیث او داځکه چې ضبع مؤنث دضبعان دی ،مقصد دادی چې دی جواب مذکورته ضرورت نشته ؟

قلنا علمیته غیرمؤثرة الخ مونږ وایو په جواب کښې چې بې شکه په دې کښې علمیة موجود دی لیکن هغه مؤثرنه دی ځکه که علمیة یې مؤثروې نودې به بعد التنکیر منصرف وو بنا په قانون دومافیه علمیة مؤثرة اذانکرصُرف حالانکه حضاجر بعد التنکیر هم غیرمنصرف دی دوجې دعود دجمعیة اصلي نه والتأنیثُ غیرُمسلّمٍ اوتانیث یې نه منو ځکه چې دې علم دجنس ضبع دی برابره خبره ده که مذکروی اوکه مؤنث نوپه دې وجه اعتبار دجمعیة اصلي ته حاجت درپیش دی وانما اکتفی المصنف الخ دادفع دسوال ده چې هرکله اعتبار جمعیة اصلي لره وونو پکار داده چې مصنف پرې تصریح کړې وې په بیان دشرط کښې اوویلې وی چې الجمع شرطه ان یکون فی الاصل لکه په وصف کښې چې یې ویلی وو چې شرطه ان یکون فی الاصل فاجاب بقوله وانما اکتفی الخ یعنې اکتفاو کړه مصنف په تنبیه کښې په اعتبار دجمعیة اصلي په دې قول سره چې لانه منقول عن الجمع اووېې نه ویل چې الجمع شرطه ان یکون فی الاصل لکه په وصف کښې یې چې ویلی وو لئلایُتوهم ان الجمعیة کالوصف الخ دپاره ددې چې توهم ونه کړې شي چې جمعیة هم لکه دوصف په دوه قسمه دی کله اصلي وي معتبر وي په سببیة دمنع صرف کښې اوکله عارضي وي نه وي معتبراو امرکذالک نه دی یعنې داتقسیم په جمع کښې نشته اذلایتصور العروضُ فی الجمعیة الخ ځکه چې عروض په جمع کښې متصورنه دی ،یعنې جمع چرته عارضي نه وي که سبب دمنع صرف وي اوکه نه. ځکه چې دالفاظو واضعینو دجمعي دپاره لفظ دجمعي وضع کړې دی اومثنی لره لفظ دمثنی اوواحدلره لفظ دواحد داسې نه چې ګنی اول لفظ مفردوو اوبیاورته جمع عارضه شوه وسَرَاوِیلُ الخ دامبتداده او اذالم یصرف یې خبردی

سوال: سراویل نکره ده نولازم شۀ نکارت دمبتدا؟

جواب: سراویل ههنانوم دی دهغه لفظ چې وقع فی الترکیب دی نوګویاداعلم وګرزیده نو ابتداء ئیت یې صحیح شو جواب سوال مقدردابیان دحال دکلام دمصنف دی ، چې داعبارت جواب دسوال دی تقدیره ان یقال قدتَفَصَّیتَ الخ تفصی (رهایې یافتن) دابل سوال دی په قاعدی دجمع ،نووایې چې تاخوځان خلاص که دهغه اشکال نه چې واردووپه قاعدی دجمع په لفظ دحضاجر،په ګرزولودجمع سره عام ددینه چې جمعیة یې باقي وي فی الحال لکه اساوروااناعیم یایې جمعیة ،اصلي وي لکه حضاجر فما تقول فی سراویل الخ ځکه چې دا خواسم جنس دی

اطلاق یې کیږي په واحد او په کثیر، جمعیة په کښې نه فی الحال شته ګنې اطلاق به یې په واحد نه کیده اونه فی الاصل ځکه چې دا مفرد محض دی په اصل وضع کښې صرف وزن یې دمنتهي الجموع دی او بیا هم غیر منصرف دی نو معلومه شوه چې صرف وزن دمنتهي الجموع بغیر د جمعیة نه کافي دی و المقدر خلافه کما مر **فاجاب بانه قد اختلف فی صرفه ومنعه منه الخ** حاصل یې دادی چې په دې کښې دوه مذهبه دي یو د سیبویه او ابو علی او د اکثیر الاستعمال دی دوی وایې چې سراویل غیر منصرف دی بل مذهب دمبرد دې دده په نزد منصرف دی نو په مذهب دده خو اشکال اصلا وارد نه دی کما سیاتي اشکال واردې په مذهب اول باندې فقط ،نو مصنف ددې دپارې توجیهین بیان کړیدی یو داچې سراویل اسم عجمي دی محمول دی په هم وزن خپلو چې اناعیم وغیره دی نو ځکه غیر منصرف دی دوهمه توجیه داده چې دا اسم عربي دی خو جمع ده دسروالة تقدیراً وفرضاً نو جمعیة په کښې حاصل شۀ اګرچې فرضي دی نو ځکه غیر منصرف شۀ هذا حاصل مابینه المصنف بقوله **اذا لم یصرف** یعنې که چرې سراویل غیر منصرف شي **وهو الاکثر** دا جمله معترضه ده دپاره دبیان ددې چې عدم انصراف یې کثیر الا ستعمال دی د انصراف نه نو بیا سوال واردې په ده په قاعده دجمع کما قلت ایها المعترض یعنې سوال مسلم دی **فقد قیل الخ** دا اوله توجیه ده پس ویلی شوي دي دپاره دځان دخلاصولو ددې نه چې **انه اسم اعجمي الخ** په اسم کښې اشاره ده تقدیر د موصوف ته یعنې دا اسم اعجمي دی ،. یعنې وضعه کړی دی دې لره عجمو خو بیا نقل کړی دی عربو خپل ژبان ته سره دترمیم نه .ځکه چې دا په اصل کښې سرابیل وو نو عربو باپه یا بدله کړه نه جمع ده فی الحال او نه فی الاصل **حمل فی منع الصرف الخ** لیکن محمول شویدی په منع صرف کښې **علی موازنه ای علی ما یوازنه الخ** دا تشریح دصیغې دموازن ده چې دا بضم المیم صیغه د اسم فاعل ده دباب مفاعلی نه او بفتح المیم نه دی ځکه چې هغه جمع دمیزان ده نو سراویل محمول دی په هم وزنو خپلو چې جموع عربیه دی لکه اناعیم او مصابیح او دا ځکه چې سراویل په حکم ددې اوزانو کښې دی په اعتبار د وزن سره **فهو وان لم یکن الخ** پس سراویل اګرچې د قبیلې دجمع نه نه دی حقیقةً خو د قبیلې دجمع نه دی حکماً **فالجمعیةُ علی هذا التقدیر الخ** دا تصریح ده په جواب باندې یعنې جمعیة په دې تقدیر عام دی که حقیقة وي او که حکما ، او سراویل جمع حکمي ده **فبناءُ هذا الجواب الخ** غرض دشارح ددې عبارت نه ردد ی په هغه شارحینو چې ویلی یې دي چې

اسباب دمنع صرف لس دي نهه هغه دی چې ذکرشواولسم حمل علی الموازن اواستنباط یې کړیدی دقول دسیبویه نه نوشارح وایې چې بناددې جواب په تعمیم دجمعي ده نه په زیادة دسبب آخرپه اسباب تسعه چې ګڼي هغه حمل علی الموازن دی اوداځکه چې سیبویه قول په منع صرف دسراویل کړیدی نه په سبب آخراوبعض شارحینوترې فهم دسبب آخروکه اوداصحیح نه ده **وقیل هواسم عربي الخ** داتوجیه ثاني ده اوقائل یې مبرددې نوویلی شویدي چې سراویل اسم عربي دی وضع کړیدی عربوځکه چې لفظ عجمي سرابیل (بالباء) دی جمع تحقیقانه ده ځکه چې اسم جنس دی **لکنه جمع سِروَالةٍ تقدیراً اوفرضاً** لیکن جمع دسروالة ده تقدیرا فرضاعطف تفسیردی دپاره دتقدیراوتعین دماهوالمراددې ځکه چې دتقدیردوه معني دي یوانداز ه اوبله فرض **فانه لما وُجِدَ غیرمنصرف الخ** دایې دلیل دجمع دی تقدیرایعنې هرکله چې وموندلی شو سراویل په کلام دعربو کښی غیرمنصرف په دې شان سره چې نه جارې کیده په ده باندې کسره اوتنوین

ومن قاعدتهم ان هذا الوزن الخ اوقاعده دنحاةُ داده چې داوزن بغیردجمعیة نه نه منع کوي صرف لره نوداقاعده دنحاة مخالفه شوه داستعمال دعربو نه **قُدِّرَ حفظاً لهذه القاعدة الخ** پوهه شه چې په دې عبارت کښی تقدیم تاخیردی یعنې قُدِرَانَهُ جَمْعُ سِرَوَالَةٌ دعوی ده او حفظا لهذه القاعدة یې دلیل دی پس فرض کړی شو ه داخبره چې سراویل جمع دسروالة ده دپاره د حفاظت ددې قاعدې دنحاةپس ګویاچې مسمی کړی شوه هره ټکره دسراویل سرواله اوبیاجمع کړی شوسروالة په سراویل نوداجمع فرضي شوه و **واذاصُرِفَ فلااشکال الخ** دامذهب ثاني دی نووایې چې که چرې سراویل منصرف شي دوجې دعدم تحقق دجمعیة ددې نه حقیقة او حال دادې چې اصل په اسماء کښی انصراف دی یعنې دخول دکسری اودتنوین ،پس نیشته اشکال مذکور **بالنقض به علی قاعدة الجمع الخ** دادفع دسوال ده چې لا دپاره دنفی دجنس ده نو نفی دجنس اشکال نه ده صحیح ، ځکه چې په دې تقدیرهم اشکال واردېږي هغه داچې هر کله سراویل وګرزیده مفردمنصرف نووګرزیده مصابیح اواناعیم هم وزن دده لکه چې فرازنة هم وزن دکراهیة اوطواعیة وونوپه جمعیة ده دوی کښی فتوراوضعف راغی ځکه چې په شان دمفراتو وګرزیده نوپکارده چې اناعیم اومصابیح دمنصرف شي نونفی دجنس اشکال نه ده صحیح نوشارح جواب وکه چې مرادجنس اشکال نه دی بلکه اشکال خاص مراددی چې هغه نقض کول دی په سراویل سره په قاعده دجمع باندې نودااشکال نه دی واردترې چې حاجت پیښ شي ځان خلاصولو ته

اوجواب داشکال وارده نه دادی چې سراویل خودی اعجمي اواعجمي دخیل دی په کلام عربي کښې نوموازنة ددې لره اعتبارنشته اوکه عربي شي نوداوزن دمفرد قلیل اونادردی پس دوجې دنُدرت نه نه شي کیدی قیاس دنوزوالفاظوپه ده باندې **ونحوجَوارٍ** دامبتداده او .حکمه حکم قاضٍ یې خبردی مطلب دادی چې مثل دجوارٍ په حالت رفعي اوجري کښې په شان دقاضٍ دی یعنې اعراب یې تقدیری دی دوجې دثقل دضمي اوکسری نه په یا باندې ،اوپه حالت نصبي کښې یې اعراب لفظي دی ځکه چې فتحه خفیفه ده **ای کل جمع منقوص علی فواعل الخ** دابیان دمفهوم کلي د جوارٍ ددی چې شامل شی جوارٍ اومثل دجوارٍ ټولو ته یعنی مراد دجوارنه هرهغه جمع ده چې منقوصه وي اوکائنه وي په وزن دفواعل برابره خبره چې یایې وي لکه جواری چې جمع دجاریة ده اوکه واوی وي لکه دواعی چې جمع دداعیة ده په اصل کښې داعوة وو واومتحرک ماقبل مکسوربدل شو په یاسره .

ای حکمهُ حکمُ قاضٍ داجواب دسوال مقدردی چې تشبیه دجواردقاض سره نه ده صحیح ځکه چې جوارجمع ده اوقاض مفرددې خلاصه دجواب یې داده چې داتشبیه په حکم کښې ده نه په تماموامورو کښې **بحسب الصورة** دادفع دسوال ده چې تشبیه دجواردقاض سره په حکم کښې هم نه ده صحیح ځکه چې حکم دقاض انصراف دی اتفاقاً اوحکم دجوارانصراف دی اختلافاً خلاصه دجواب یې داده چې حکم د جوارٍ په شان دقاضٍ په اعتباردصورة سره دی لافی الصرف ومنعه عن الصرف **فی حذف الیاء عنه** دا دفع دسوال ده چې داتشبیه بحسب الصورة هم نه ده صحیح ځکه چې صورت دجوارقبل الاعلال صورت دفواعل دی اوصورت دقاض قبل الاعلال وزن دفاعل دی خلاصه دجواب یې دادی چې داتشبیه په حذف الیاء اوادخال دتنوین کښې ده په جوار، بعدحذف الیاء **ولافی حالة النصب الخ** دابیان دفائدی دتقیید دی په رفعاوجراسره یعنې داقید احترازی دی په دی سره احتراز راغی دحالت نصبي نه **فلااشکال فی حالة النصب الخ** پس اختلاف نشته په جواری کښې په حالت نصبي کښې ځکه چې اسم یعنې جواری غیرمنصرف دی په حالت نصبي کښې دوجې دجمعیة ددې نه سره دشرط نه چې منتهي الجموع ده **بخلاف حالتی الرفع الخ** په خلاف دحالت رفعي اوجرې دجوارنه ځکه چې ددې په انصرف اوعدم انصرف کښې اختلاف شویدی تردې ځایه دا اجمال ووددی اختلاف اوتفصیل یې داقول دشارح دی **فذهب بعضهم الخ** پوهه شه چې په دې کښې مذاهب ثلثه دی

اول دا چې منصرف دی مطلقاً یعنې قبل الاعلال اوبعد الاعلال او دا مذهب د زجاج دی دوهم دا چې غیر منصرف دی مطلقًا یعنې قبل الاعلال او بعد الاعلال او دا مختاره د کسایې او عیسی بن عمرو دی دریم دا چې منصرف دی قبل الاعلال او غیر منصرف دی بعد الاعلال او دا مذهب دې د سیبویه او د خلیل لکه شارح وایې چې ذهاب کړیدی بعض چې زجاج دی الی ان الاسم منصرف الخ و دیته چې دا اسم یعنې مثل د جوار منصرف دی او تنوین په دې کښې تنوین صرف دی عوضې نه دی.

لان الاعلال المتعلق بجوهر الکلمة الخ دا یې دلیل دا نصراف دی پوهه شه چې دارومدار د دې مذهب په تقدیم د اعلال دی په منع صرف د کلمې حاصل یې دا دی چې اعلال او منع صرف هر دواړه متعلق کیږي په کلمې پورې لیکن اعلال متعلق کیږي په جوهر یعنی ذات د کلمې پورې او منع صرف حالة عارضه دی کلمې ته پس د تمام د کلمې نه نو په اعلال سره متغیر کیږي ذات د کلمې او په منع صرف متغیر کیږي وصف د کلمې نو ذات مقدم دی په حال او وصف نو ما یتعلق بالذات یعنې اعلال هم مقدم دی په وصف عارضه کلمې ته نو اعلال متعلق شه په جوار پورې په حالة دانصراف کې لانه اصل فی الاسماء نو اعلال بنا شه په اصل پس ضمه ثقیله وه نو ساقطه شوه التقاد ساکنینو راغله په مابین دیا او تنوین کې نو حذف شوه یا نو پاتی شه جوار نو وګرزیده په شان د سلام او کلام یعنې مفرد نو صیغة د منتهي الجموع ختمه شوه نو جوار منصرف شو بعد الاعلال ایضا لکه څنګه چې قبل الاعلال منصرف وو وهذا حاصل ما بینه الشارح بقوله لان الاعلال المتعلق بجوهر الکلمة الخ چې بیشکه اعلال چې متعلق دی په جرهر د کلمې پورې مقدم دی په منع صرف هغه منع صرف چې دا حوالو د کلمې نه دی چې عارضیږي کلمې ته پس د تمام د کلمې نه فاصل جوار فی قولك جاءتنی جوار جواري بالضم والتنوین الخ پس اصل د جوار په حالت رفعي کښې جواری وو په ضمې او تنوین سره بناءً الخ دا دفع د سوال ده چې لکه څنګه اعلال مقدم دی په منع صرف نو دغه شان به مقدم وي په صرف باندې هم څکه چې صرف هم دا حوالو د کلمې نه دی عارضیږي کلمې ته پس د تمام نه.

فکیف یصح الحکم علی کون الاسم منصرفًا خلاصه د جواب یې دا ده چې ملاحظه د صرف مقدمه ده په اعلال څکه چې اصل په اسم معرب کښې انصراف دی پس هر کله چې اصل په اسماء کښې انصراف وو نو صرف هم متعلق کیږي په ذات د کلمې پورې فُبنی الاعلال الخ پس اعلال بنا شو

په ماهو الاصل باندې چې صرف دی **ثم اُسقِطَتِ الضمةُ للثقل الخ** دا بیان داعلال دی یعنې بیا ساقطه شوه ضمه دوجې دثقل نه په یا او بیا ساقطه شوه دوجې دالتقاء دساکنینو نه په مابین دیا او تنوین کښې او تنوین ملحق شو په ماقبل پورې **فصار جوارٍ علی وزن سلامٍ و کلامٍ** یعنې په وزن دمفرادتو **فلم یبق علی صیغةِ منتهی الجموع کما هو الظاهر فهو بعد الاعلال ایضاً منصرفٌ** دا تتمه ددلیل ده او تنوین په دې کښې تنوین صرف دی لکه څنګه پخوا د اعلال نه منصرف وو **وذهب بعضهم الخ** دا بیان دمذهب ثاني دی نو وایې چې ذهاب کړیدی بعض چې سیبویه او خلیل دی **الی انه بعدَ الاعلال الخ** چې دی بعد الاعلال مقدم دی په منع صرف **لان فیه الجمعة مع صیغةِ منتهی الجموع الخ** دا یې دلیل دمنع صرف دی نو وایې چې دا ځکه چې په مثل دجوار کښې جمعیة دی سره دمنتهي الجموع نه ځکه چې هغه یا چې محذوفه ده لفظًا نه ده نسیاً منسیاً بلکه په منزله دمقدر ده **والمقدرُ کالملفوظِ** نو ګویا چې یا محذوفه ده بعد الاعلال ،حاصل دکلام دادی چې محذوف په دوه قسمه دی یو هغه چې ساقط وي دلفظ او نیت دواړو نه دیته نسیًا منسیًا وایې لکه ید دم بل هغه چې ساقط وي ددواړو نه خو په حین داعلال کښې او کله چې اعلال زائله شي نو هغه محذوف معاد کیږي موضع خپل ته لکه قاضٍ اوداع پس دانوع ثاني کالمقدر ده و المقدر کالمحذوف **وهذا لایجری الاعرابُ علی الراءِ الخ** دا تائید دی دالمقدر کالملفوظ او په دې وجه چې محذوف ثابت دی تقدیرا نو نه جاری کیږي اعراب په را دجوار لکه چې جارې کیږي په دال دید او میم ددم **والتنوینُ فیه الخ** دا دفع دسوال ده چې هر کله مثل دجوار غیر منصرف شۀ بعد الاعلال نو تنوین پرې ولې نه جارې کیږي خلاصه ددفع یې داده چې دا تنوین عوضي دی **فانه لمّا سقط الخ** ځکه چې هر کله ساقط شو تنوین الصرف **عُوِّضَ عن الیاءِ المحذوفةِ الخ** نو په عوض کښې راوړی شو دا تنوین د یا محذوفه نه لکه دا منقوله ده دسیبویه او دخلیل نه یا په عوض دحرکة دیا محذوفه کښې لکه دا منقوله ده دمبرد نه **وعلی هذا القیاس الخ** تر دې ځایه پورې بیان دحالة رفعي دجوار وو او هر چې دی حالة جري فاشار الیه الشارح العلام بقوله المذکور، یعنې قیاس دی په باندې حالة جرې دجوار بغیر دفرق نه ، یعنې ددواړو حالتونو بیان یو شان دی فتفکر **وفی لغةِ بعض العرب الخ** دا بیان دمذهب ثالث دی او دا قلیل دی مختاره کړیدی لره کسایې وغیره نو وایې چې په بعض دلغات دعربو کښې **اثبات**

الیاءِفی حالۃِالجر لکه څنګه چې په حالة نصبي کښې دې بلاتنوین بناپه دې چې دی غیرمنصرف دی **وبناءُھذہِاللغۃ الخ** او بناددې لغة په تقدیم دمنع صرف ده په اعلال باندې څکه چې انصراف اوعدم انصراف مقصوددی په دې مقام کښې نومقدم کړی شو په اعلال باندې دوجې داهتمام شان نه **فانہ حینئذٍ تکونُ الخ** څکه شان دادی چې په دغه وخت کښې چې کله منع صرف مقدم شو په اعلال نووی به یامفتوحه په حالت جرې دجوارِ کښې څکه چې جردغیرمنصرف نصب وي **والفتحۃ خفیفۃٌ الخ** اوفتحه خفیفه ده پس واقع نه شو اعلال په حالة جری دجوارکښې **وامافی حالۃِالرفع فاصل جوارِالخ** اوهرچې دی جوارپه حالة رفعي کښې نواصل یې جواری دی په ضمي سره بغیردتنوین نه .دوجې دعدم انصراف نه **حُذِفتِ الضمۃُ الخ** حذف کړی شوه ضمه دوجې دثقل نه په باندې اوپه عوض دضمي کښې راوړی شو تنوین پس ساقطه شوه یادوجې دالتقاءدساکنینونه چې یااوتنوین دی پس وګرزیده جِوار **وعلی ھذہِ اللغۃِ الخ** دابیا ن دفرق دی په مابین دمذاهب ثلثه کښې نوواېې چې بناپه دې لغة چې منع صرف مقدم دی په اعلال اعلال نشته مګرپه حالت واحدة کښې چې حالت رفعی دی **بخلاف اللغۃالمشھورۃ الخ** په خلاف دلغة مشهوره هغه نه چې اعلال مقدم دی په منع صرف څکه چې په هغې کښې اعلال په دوو حالتونوکښې دی چې حالة رفعي اوجرې دی کماعرفت.

اَلترکیبُ بل سبب داسبابودمنع صرف نه ترکیب دی هرکله چې دترکیب اطلاق کیده په معانیوکثیرونودپاره درفع دابهام اوتعین دما هوالمرادشارح وویل **ھوصیرورۃالکلمتین اواکثرَالخ** چې ترکیب عبارت دی دګرزولودکلمتینو یااکثردکلمتینونه کلمه واحده پوهه شه چې مرا د ددې ترکیب نه هغه ترکیب دی چې موجودیږي په اسماء کښې نه مطلق ترکیب چې دافعالواواسماء اوحروفونه وي پس تعریف مذکورصحیح دی .

سوال : شمیرل دترکیب داسبابودمنع صرف نه نه دی صحیح څکه چې ترکیب صفة دمرکب دی اومنع صرف صفة داسم دی اواسم قسم دکلمي دی اوماخوذ په تعریف کښې قید دافرادددې نواسم هم مفردشو وهمامتباننان نویومتبائن به دبل متبائن څنګه صفة وګرځی ؟

جواب :په تعریف دترکیب کښې یوقیدمقدردی نوتقدیرداشو بسبب العلمیة یعنې په سبب دعلمیة سره کلمتین یااکثرکلمه واحده وګرځي نوپه علمیة سره دی وګرزیده مفرد .

سوال هر کله چې دی مفرد و ګرزیده نو اطلاق؟

جواب اطلاق د مرکب پرې په اعتبار د ماکان سره دی مجازاً مِنْ غَیرِحرفیَّةِ جزءٍ دا دفع د سوال ده چې تعریف مذکور صادق دی په النجم او بصری په حالت د علمیة کښې نو پکار ده چې دا غیر منصرف شي د و جې د تحقق د ترکیب او علمیة نه و الامر لیس کذالک خلاصه د جواب یې داده چې ترکیب صرورة د کلمتینو یا اکثر دی کلمه واحد خو په دې شرط چې یو جزء به یې حرف نه وي فلایرِدالنجم وَبصری ځکه چې یو جزء په النجم کښې حرف دی چې الف لام دی او په بصری کښې هم یو جزء حرف دی چې یا ده لِیَامنَ مِن الزوال دا دلیل د اشتراط مذکور دی یعنې علمیة شرط دی د پاره د تاثیر د ترکیب ځکه چې محفوظ شي ترکیب د زوال نه او دا ځکه چې ترکیب په معرض د زوال کښې دی د و جې د عارضیة نه یا یې علمیة ځکه شرط که چې حاصل شي سبب اخر فیحصل لہ قوة الخ دا پرې تفریع ده یعنې حاصل به شي قوة د پاره د ترکیب په وجه د علمیة نو مؤثر به شي ترکیب په منع صرف کښې په وجې د دغه قوة سره وان لایکون باضافةٍ پوهه شه چې هر کله ترکیب په شپږ قسمه و و او نه وو معتبر په اسبابو د منع صرف کښې مګر یو چې ترکیب امتزا جي دی نو مصنف متوجه شهٔ نفی د نورو ته فقال وان لایکون الخ یعنې نه به وي دا ترکیب متلبس په اضافة سره لان الاضافة تخرج الخ دا دلیل د متن دی یعنې دا ځکه چې اضافة خارجوي هغه مضاف لره چې وي غیر منصرف انصراف ته یعنې منصرف ترې جوړوي یا یې په حکم د منصرف کښې ګرزوي ، چې اد خال د کسری او تنو ین دی علی اختلاف القولین نو اول مذهب د زمخشري دی او دوهم د مصنف فکیف تؤثرُ پس څنګه به اثرو کړی اضافة فی المضافِ په هغه اسم کښې چې مضاف وي الیه منصرف ته مَا یُضَادهُ د هغه شي چې ضد د منصرف دی اعني منعَ الصرفِ خو مراد په ضد د منع صرف سره غیر منصرف دی نو په دې وجه اضافة سبب نه شي ګرزیدی د پاره د منع صرف.

مولانا عبد الغفور وایي چې دیو شي په طبیعت کښې اقتضاء د یو امر وي نو جائز نه ده چې دی اقتضاء د د اسې یو امرو کړی چې هغه ضد د هغه وي خصوصاً په یوه ماده کښې نو مرکب اضافي هم ماده واحده ده حکماً ولا اسنادَ بل شرط دا دی چې نه دی وي دغه مرکب چې سبب د منع صرف دی مرکب اسنادی لان الاعلامَ المشتملة علی الاسنادِ من قبیل المبنیاتِ دا یې دلیل دی یعنې

مرکب اسنادی چې کله علم وګرزی سبب دمنع صرف نه شي کیدی ځکه چې اعلام چې مشتمل وي په اسنادنو هغه دقبیلی دمبنیاتونه دی نویاخومبني حقیقي دی وهذا عند جماعة منهم المصنف اویامبني حکمي دی اوکلام ځمونږ په معرباتوکښې دی **بینهما منافاة نحوتابط شراً** دالقب دی دثابت بن جابرسهمی اودی مسمی دی په دې نوم ځکه چې ده نیولی وه توره په ابط کښې دپاره دشرنوتپوس وکړې شو چې این هونوجواب ورکړی شئ انه قدتابط شراً نوپه دې نوم مشهور شو **فانها باقیة فی حالة العلمیة الخ** دادلیل دی دپاره ددې چې اعلام مشتمله په اسناددقبیلی دمبنیاتونه دی نووایې چې داځکه چې دااعلام باقې دی په حالت دعلمیة کښې په هغه حال چې وو په دغه حال پخوادعلمیة نه **فان التسمیة بها انما هی الخ** ځکه چې تسمیه په دې اعلام مشتمله علی الاسناددوجې ددلالت ددې نه ده په نااشناقصه باندې **فلوتطرق الیها التغیر یمکن ان الخ** پس که چرې عارض شي دی اعلاموته تغیرپه حرکاتووغیره سره نوممکنه ده چې فوت شي دغه دلالت په قصه غریبه **واذاکانت من قبیل المبنیات الخ** دانتیجه ددلیل ده نوهرکله چې شودغه اعلام مذکوره دقبیلې دمبنیاتونه **فکیف تؤثرالخ** نوځنګه به متصورشي په دی اعلامُ کښې منع صرف هغه چې داحکامُ دمعرباتونه دی **فان قلت کان علی المصنف الخ** خلاصه دااعتراض داده چې اشتراط مذکورناقص دی ځکه چې مرکب صوتی اومرکب تعدادی وغیره هم خارجول پکارووکه وایې چې لازمه وه په مصنف چې په بیان دشرائطودترکیب کښې ویلی یې وی چې نه دی وي جزء ثاني دمرکب صوت اونه دی وي جزء ثاني متضمن دپاره دحرف اودایې ویلی وي دپاره ددې چې خارج شوی وي مثل دخمسة عشرستة عشر(مرکبات بنائیه) ځکه چې داهم اسباب دمنع صرف نه دی نوددې اخراج هم ضروری وو **قلنا کانه اکتفی فی ذالك بما ذکره فیما بعد الخ** شاید چې اکتفاء کړی وي مصنف په هغه سره چې ذکرکړیدی یې هغې لره په مابعد کښې ،یعنې په بحث دمبنیاتوکښې چې دادواړه ترکیبونه دمبنیاتونه دی نوپه ادنې تامل سره معلومیږي چې دا اسباب دمنع صرف نه شي کیدی نودلته یې ذکرنه کړه . اوهرچې هغه مرکبات دي چې مشتمل دی په اسنادنودهغې دبنا ذکریې چرته نه دی کړی نوپه دې وجه مصنف محتاجه شه اخراج دهغې ته .

سوال: مرکب توصیفی لره هم خارجول پکارووو؟

جواب : مرکب تو صیفی په حکم داضافي کښې دی په دې خبره کښې چې لکه ځنګه مضاف

اليه قيدوي دپاره دمضاف نودغه شان صفة هم قيدوي دپاره دموصوف ،نواخراج دمركب اضافي ګويا اخراج دمركب توصيفي دی نتيجه داشوه چې معتبرپه اسباب دمنع صرف كښې مركب امتزاجي دی لكه **بعلبك فانه علم لبلدة الخ** داتطبيق دمثال دی دممثل سره نو وايې چې دا نوم دكلي دی په شام كښې (علم مرتجل دی علم مرتجل ديته وايې چې نقل شوی وي دمعنی اولی نه اومشهورشوی وي په معنې ثاني كښې بغيردمناسبة نه لكه جعفر) بعلبک مركب دی دبعل نه چې نوم بُت دی اوبک بفتح الباء وتشديد الكاف نوم دصاحب ددې بلدی دی دواړه كلمي يوځايې شوی اويو اسم ترې جوړشواو نه دی قصدشوی په مابين ددې كښې نسبة اضافي اواسنادی وغيره ،نوبعلبک غيرمنصرف دی دوجې دعلمية اوتركيب نه .

الالفُ والنونُ بل سبب دا اسبابو دمنع صرف نه الف نون زائدتين دی **المعدُودتان الخ** په دې كښې اشاره ده ديته چې الف لام عهدي دی يعنې هغه الف نون چې معدوددې په اسبابو دمنع صرف كښې .

تسميه الف نون: په تسميه دالف نون كښې اختلاف دی په مابين دكوفيانواوبصريانو كښې وبينه الشارح بقوله **سميان مزيدتين الخ** مسمی كولی شي داالف نون په مزيدتين سره په نزددكوفيانو **لانهما من الحروفِ الخ** دايې وجه تسميه ده يعنې داځكه چې داحروف زوائددی اوحروف زائده لس دی چې مجموعه يې سالتمونيهاياليوم تنساه ده **وتسميان مُضارعتين الخ** داتكميل دمقام دی په ذكردمذهب دبصرينوسره اومسمی كولی شي په الف نون مضارعتين سره عند البصرين **لمُضارعتهما الخ** دايې وجه تسميه ده يعنې دوجې دمشابهة ددې نه د الفينودتانيث سره **في منع دخول الخ** داوجه د تشبيه ده يعنې دامشابهة يې په منع ددخول دتاء التانيث كښې دی ،يعنې لكه څنګه چې دخول دتاء متحركه په الفينو ممنوع دی دوجې داجتماع دآلتينودتانيث نه نو دغه شان ممنوع دی په الف نون ځكه چې لازميږي اجتماع دزائدتينو په اخرداسم كښې.

الاختلاف في سببية الالف والنون: **قال الشارح وللنحاة خلاف الخ** اودنحاةُ اختلاف دی په دې خبره كښې چې سببية ددې الف نون دپاره دمنع صرف په څه وجه دې نو په دې كښې دوه كښې مذهبه دي يودكوفيا نو اوبل دبصريانو لكه شارح وايې **اما لكونهما مزيدتين الخ** ياپه و

جه چې دا زائد دی او فرعي دی د پاره د مازید تا علیه **واما المشابهتهما الخ** دا مذهب د بصریانو دی یعني سببیة د دې دوجې د مشابهة د دوی نه دی د الفینو د تانیث سره او هغه سبب وونو دی هم سبب وګرزیده

ترجیح ما هو الراجح: والراجح هو القول الثاني الخ یعني قول د بصریانو وجه د ترجیح یې داده چې زیادت د الف نون په ندمان کښې هم شته لیکن بیا هم منصرف دی نو معلومه شوه چې سببیة یې د زیادت په وجه نه دی پس د دینه پوهه شه چې الف نون کله په اسم جامد کښې وي او کله په اسم صفتي کښې نو د اول د پاره شرط د تاثیر علمیة دی او د ثاني په شرط کښې ا ختلاف دی ،لکه

مصنف وایي **ثم ان کان تافي اسم یعني به ما یقابل الصفة** غرض د شارح د دې عبارت نه تعین د ماهو المراد دی د اسم نه ځکه چې اسم کله مقابل د فعل حرف وي او کله یې اطلاق په علم باندې کیږي او کله مقابل د صفة وي نو شارح تعین وکه چې مراد د اسم نه هغه دی چې مقابل د صفة وي یعنې اسم جامد نو سوال هم دفع شئ چې عطف د اوصفة په اسم نه دی صحیح ځکه چې عطف تقاضا د مغائرت کوي او صفة هم اسم وي وجه د دفع یې داده چې اسم په دې مقام کښې مقابل د صفة دی.

فان الاسم المقابل للفعل الخ دا ضابطه ده د پاره د اسم او صفة نو وایي چې بې شکه اسم مقابل د فعل او حرف یعنې مادل علی معنی فی نفسه الخ به خالي نه وي **اما ان لا یدل علی ذات ما لوحظ معها الخ** یا به دلالت نه کوي په داسې یو ذات چې ملحوظ وي د هغې سره یو صفة د صفاتو نه لکه رجل او فرس **او یدل الخ** یا به کوي لکه احمر یعنې ذات من له الحمرة ضارب ذات من له الضاربیة مضروبیة یعنې ذات من له المضروبیة .پس اول ته اسم وایې او ثاني ته صفة **فالمراد الخ** دا تصریح ده په تعین د ماهو المراد چې مراد د اسم نه دا معنی ده یعنې چې مقابل د صفة وي قرینه پرې قاعده د نور الانوار ده چې کله عام ذکر شي په مقابله د خاص کښې نو مراد به د عام نه ما سوا د خاص وي نو اسم عام دی او صفة خاص دی نو مراد به د اسم نه ما سوا د خاص یعنې د صفة نه وي چې اسم جامد دی **فافهم فشرطه ای شرط الالف والنون** دا تعین د مرجع دی **في منعهما الخ** دا اشاره ده دیته چې دا شرط د پاره د تاثیر دی نه د وجود د الف نون ، ځکه چې الف نون په سکران وغیره کښې هم موجود دی حالانکه علمیة نشته چا به سوال کوو چې ضمیر د شرطه راجع دی الف نون ته . نو مطابقة را نه غی په مابین د راجع او مرجع کښې فی الافراد و التثنیة نو شارح

ددې نه دوه جوابو نه ذکر کړیدي او ل په دې قول سره **وافرادُالضميرباعتبارالخ** خلاصه يې داده چې په الف نون کې دوه اعتباره دی يو اعتبار د ذات دی او په دی اعتبار سره داتشنیه ده او بل اعتبار د سببية او په دې اعتبار سره دی واحد دی نو افراد دضمیر په اعتبار ثاني سره دی **اوشرط ذلك الاسم الخ**

داجواب ثاني دی مطلب دادی چې ضمیر راجع دی هغه اسم ته چې مشتمل وي په الف نون **تحقيقًاللزوم** دادليل دی دپاره دشرط مذکور. پوهه شه چې په الف نون کښی قولین وو کمامر نو علة دشرط مذکور بنادی په هر واحد دقولينولکه شارح وايې چې علمية شرط شۀ دپاره دالف نون دپاره د تحقيق او تثبيت دلزوم دزيادة دالف نون او داځکه چې داپه معرض دزوال کښی وي نوپس دعلمية نه په وګرزی محفوظ داتغیر او دزوال نه دادليل مرتب دی په قول دکوفيانو او **ليمتنِعَ دخولُ التاءِالخ**، دامرتب دی په قول دبصريانو يعني علمية شرط شۀ دپاره ددې چې ممتنع شي دخول دتا تانيثي په دغه اسم پس مؤکد به شي مشابهت په مابين دالف نون او الفينو دتانيث کښی **كعِمرَانَ** پوهه شه چې هغه اسم چې مشتمل وي په الف نون عام دی که بکسر الفاء وي لکه عمران او که بفتح الفاء وي لکه شعبان او که بضم الفاء وي لکه سُفيان او که په فتحي دفا او عين دواړو سره وي لکه رمضان **اوكانتافي صفةٍ** غرض په زيا دة کانتا کښ تعين دمعطوف علیه دی چې ا سم دی او عمل دی په قاعد ه مشهوره باندې فتفكرنو که الف نون په صفة يعنې مشتقی کښی وي نو په شرط دتاثیر کښی يې اختلاف دی څوک وايې چې مؤنث دی يې په وزن دفعلانة نه وي داشرط عدمي دی ، او څوک وايې چې مؤنث دی په وزن دفعلي وي داشرط وجودی دی .

هذاحاصل ماقاله المصنف بقوله فانتفاءُفعلانةٍ وقال الشارح ای **ان كان الالف والنونُ في صفةٍ الخ** وداتعين دمرجع دضمیرد کانتا دی **فشرطهُ انتفاءُ الخ** دادفع دسوال د ه چې فانتفاء الخ جزاد ه اوجز انه وي مګرجمله .اودامرکب اضافي دی جمله نه ده .خلاصه دجواب يې دادی چې په عبارت کښی تقديردی دفشرطه يعني مبتدامقدره ده او انتفاء الخ يې خبردی نو جمله شوه يعنی **امتناعَ دخول التاءِالخ** دادفع دسوال مقدرده چې پکارده چې عريان دې غيرمنصرف شي ځکه چې صفة دی او مؤنث يې په وزن دفعلانة بفتح الفاء نه دی بلکه مؤنث يې عريانة دي يعنې بضم الفاء خلاصه دجواب يې داده چې انتقاء دفعلانة بفتح الفاء نه ده

مقصود بلکه مقصود امتناع د دخول د تاتانیثي ده په ده باندې که بفتح الفاء وي او که بضم الفاء د پاره ددې چې باقي پاتې شي مشابهة د الف نون د الفینو د تانیث سره په خپل حال **ولذا انصرف عُریانٌ الخ** د اتائید د ماقبل دی یعنې په دې وجه چې مقصود انتفاء د دخول د تاتانیثي ده منصرف دی عریانٌ سره ددې چې صفة دی او مشتمل دی په الف نون که چرې مؤنث یې په وزن د فعلي وي نو مفتوح الفاء به وي لکه عطشان سکران چې مؤنث یې عطشی او سکری دی او مضموم الفاء به وي غالبا که چرې مؤنث یې په وزن د فعلانة (بضم الفاء) لکه عریان چې مؤنث یې عریانة دی او مفتوح الفاء هم راتلی شي لکه ندمان خو مکسور الفاء نه دی راغلی **وقیل شرطه وجودُ فَعلی الخ** په تقدیر د شرطه کښې مقصد اصلاح د متن ده په دې شان سره چې وجودُ فعلي مقوله د قول ده او مقوله د قول نه وي مګر جمله ،نو شارح مقدر کړ شرطه د پاره ددې چې جملة ترې جوړه شي **لانه متی کان مؤنثه فَعلی الخ** دا دلیل د شرط مذکور دی نو وایې چې هر کله چې مؤنث دده په وزن د فعلي وي نو نه به یې وي مؤنث په وزن د فعلانة ځکه چې د شي واحد د پاره دوه تانیثه نه وي پس باقي به پاتې شي مشابهة د الف نون د الفینو د تانیث سره په خپل حال.

الفرق بین الشرطین: پوهه شه چې فرق په مابین د شرطینو کښې دا دی چې شرط اول یعنې انتفاء د فعلانة شرط مقصود لذاته دی او شرط ثاني یعنې وجود فعلي ،مقصود لذاته نه دی بلکه مقصود دی نه انتفاء د فعلانة ده او مقصود لذاته اولی وي نو ځکه یې هغه مقدم که په ده باندې، **ومِنْ ثَمَّ** دا تفریع ده په شرطینو مذکورینو ای **ومن اجل المُخالفةِ الخ** من اجلیه دی او المخالفة مشار الیه دی چې مفهوم دی د کلام سابق نه **اختلف فی رحمن** یعنې اختلاف د مثالونو مرتب دی په اختلاف د شرط التاثیر د الف نون **فی انه منصرف الخ** دا صورت د اختلاف دی ، یعنې اختلاف په وجود د رحمن کښې نه دی ځکه چې رحمن بالاتفاق د الله پاک صفة دی بلکه دا اختلاف په انصراف او عدم انصراف کښې دی **فانه لیس له الخ** دا تفصیل د اختلاف مذکور دی نو وایې چې بې شکه شان دا دی چې نشته د پاره د رحمن مؤنث نه رحمي او نه رحمانة ځکه چې دا صفة خاص د الله پاک دی اطلاق یې په غیر الله نه کیږي نه په مذکر او نه په مؤنث **فعلی مذهب مَنْ الخ** دا تفریع ده په ماسبق، پس بنا په مذهب د هغه چا چې شرط کړی یې دی

انتفاء دفعلانة نو رحمن غیر منصرف دی دوجې دوجود دشرط نه چې انتفاء دفعلانة یعنې رحمانة ده **وعلی مذهب من شرط الخ** او په مذهب دهغه چاچې شرط کړی یې دی وجود دفعلي رحمن منصرف دی دوجې دانتفاء دشرط التاثیر نه چې وجود دفعلي دی ځکه چې وجود درحمي مفقود دی دپاره درحمن **دونَ سکرانَ** داحال دی درحمن نه ای من اجل الاختلاف فی الشرط اختلف فی رحمن متجاوزا عن سکران وندمان اودغه اختلاف یو اړخ ته دی دسکران اوندمان نه **فانه لاخلافَ الخ** مطلب دادی چې منع صرف دسکران اتفاقي دی دوجې ددوجود شرط نه علی المذهبین ، ځکه چې مؤنث یې سکری دی نو وجود دفعلي متحقق شئ اومؤنث یې سکرانة نه دی نو انتفاء دفعلانه هم راغله اوندمان منصرف دی **اتفاقًا لانتفاء الشرطین الخ** دوجې دانتفاء دشرط د تاثیر نه بالاتفاق .ځکه چې مؤنث یې ندمانة نه دی نو انتفاء دفعلانة متحق نه شوه اومؤ نث یې ندمې نه دی نو وجود دندمي هم رانه غی وبانتفاء الشرط ینتفی المشروط **هذا اذا کان ندمانٌ بمعنی الندیم الخ** مقصد په دې عبارت کښې بیان داحتمالینو دی په ندمان کښې اوتعین دمحل اختلافی دی نوندمان یوپه معنی دندیم یعنې مصاحب سره دی اوبل په معنی دنادم یعنې پشیمان سره ازباب ضرب لکه شارح وایې چې کون دانصراف دندمان اتفاقًا په هغه وخت کښې دی چې په معنی دندیم سره وي اوکه چرې په معنې دنادم سره وي نوبیا غیرمنصرف دی اتفاقًا ،ځکه چې مؤنث یې په دغه تقدیر ندمي دی نه ندمانة ،پس شرط دتاثیر علی المذهبین موجود شو .

ندمان منصرف که بود از
ندامانة
تانیث اوبتابود ومعنیش ندیم

وزنُ الفعل بل سبب داسبابو دمنع صرف نه وزن فعل دی **وقال الشارح وهو کونُ الاسم علی وزن الخ** دادفع داعتراض ده چې شمیرل دوزن فعل داسبابو دمنع صرف نه غیر صحیح دی ځکه چې اسباب اوصاف دی اووزن فعل عبارت دی داسم نه اوداذات دی ،خلاصه دجواب داده چې مراددوزن فعل نه کون داسم دی په داسې وزن چې شمیرلی شي داوزانو دفعل نه اوکون معنی مصدری ده وصف دی نو شمیرل یې صحیح شو **وهذا القدرُ لایکفی الخ** داتمهید دی ضرورة دشرط آتی ته اوداځکه چې اوزان دفعل خو کثیر دی نوګنی هریو وزن فعل به مؤثروي نوبیا خو پکاره ده چې

یعمل دهم غیر منصرف شي مع ان الامرلیس کذلک نوځکه شارح وایي چې داقدریعني وجود دوزن کافي نه ده په سببیة دمنع صرف کښې **بل شرطه فیها احد الامرین** یودا چې داوزن به مختص وي په فعل پورې او په اسم کښې به نه وي مګر بعد النقل او یادا چې په اول کښې دی یې یو حرف وي د حروفو دمضارعة نه وسیاتي په احد الامرین کښې اشاره ده دیته چې او دپاره دتخییر دی نه دپاره دتشکیک **اما ان یختص في اللغة العربیة الخ** دا امراول دی یعني مختص به وي داوزن په لغة عربي کښې په فعل پورې او فائده فی اللغة العربیة به عنقریب راشي **بمعنی انه لایوجد الخ** بابیانیه ده نو دابیان د اختصاص دوزن دی په فعل پورې او دفع داعتراض ده چې وزن فعل به خالي نه وي یابه موجود وي په اسم کښې یانه که وي نو بیا اختصاص یې په فعل پورې مخالف دی دتعریف دخاصې نه او که نه وي نو سبب به څنګه وګرزی دپاره دمنع صرف دا سم خلاصه دجواب یې داده چې معنی داختصاص داده چې داوزن به نه موجودیږي په اسم عربي کښې مګر بعد دنقل نه یعني نه به موجودیږي په اسم کښې مګر منقول دفعل نه **کشمر علی صیغة الماضي المعلوم الخ** داتحقیق صرفي دشمر دی چې دا صیغه دماضي معلوم ده ماخوذ ده دتشمیر باب تفعیل نه په معنی د دامن پیچدن سره لمن راغو نډول دپاره دمنډې **فانه نقل من هذه الصیغة الخ** داتطبیق دمثال دی مع الممثل پس بې شکه دی نقل شو دصیغې دفعلیه نه او نوم وګرزولی شۀ دپاره دفرس سریع السیر چې دافرس دحجاج وو نو داموجود دی په اسم کښې مګر بعد النقل نو غیر منصرف شۀ دوجې دوزن فعل او علمیة نه ،**وکذلک بذّر لماء الخ** دا اضافه فی الافادة ده په ذکر دنورو مثالونو نو وایې چې دغه شان بَذّرَهم صیغه دماضي معلوم ده دتبذیرنه بمعنی الاسراف او بیا نقل شوه فعلیة نه وګرزولی شو نوم دپاره دماء کثیرو چې ماء زمزم دی دوجې دکثرة نه او عثرهم ماضي معلوم ده دتعثیرنه ای لغزیدن بیا نقل شوه دفعلیة نه وګرزولی شو نوم دپاره داو چت ځاي او خضم هم ماضي معلومه ده دتخضیم نه ویلی کیږي په ډکه خوله خوراک ته ای بهمه دندان خوردن دا ټول افعال دی نقل شویدی د فعلیة نه اسمیة ته نو غیر منصرف دی دوجې دوزن فعل او علمیة نه **واما نحو بقم اسما الصبغ الخ** دابیان دفائدی دقید دلغة عربي دی او دفع دسوال ده چې بقم او شلم اوزان دفعل دی او موجود شوی دی په اسم کښې ابتداءً بغیر دنقل نه نو اختصاص مذکور مخدوش شو نو شارح جواب وکه چې هرچې دی مثل دبقم چې نوم دی دمعروف رنګ یعني عندم د الغة ترکي دی او شلم نوم دځای دی په شام کښې او وئیلی شویدی چې دا نوم دبیت

المقدس دی په لغة عبراني کښې پس هر واحد ددې نه اسم عجمي دی منقول دی دعربي نه پس دانقصان نه رسی دغی اختصاص ته خلاصه داچې اختصاص دوزن په فعل پورې ضروري دی په اسماء عربيو کښې نه په اسماء عجميو کښې نو دااسماء عجميه بغير داختصاص مذکورنه غیر منصرف دی دوجې دعلمية او وزن فعل نه **مثل ضُرِبَ** په تقدير دمثل کښې اشاره ده دیته چې داعطف دی په شمرباندې

سوال ذوه مثالونه ولې ذکر کړل؟

جواب یو مثال دهغه وزن فعل دی چې دمزیدونه وي او بل دمجردونه **علی البناء للمفعول** داتشریح صرفي دضُرب ده یعني دماضي مجهول ده وسیاتي فائدته **اذا جُعِلَ علما الخ** په دې کښې اشاره دیته چې دامثال دوزن فرضي دی په خلاف ددغه نورو مثالونو نه چې دغه واقعي اسماء وو **وانما قیدنا الخ** دابیان دفائدی دتقید دضرب دی په بناء للمفعول .نو وایې چې مونږه مقید کۀ ضرب په بناللمفعول ځکه چې مبني للفاعل یعنې صیغه دمعروف مختص نه ده په فعل پورې دوجې دوجود ددې وزن نه په اسم کښې لکه فرس او حجر **ولم یَذهبْ الی منع صرفه الخ** اوذهاب نه دی کړی منع صرف ددې ته هیچا مګر بعض نحاة چې هغه یونس اوعیسی دی **أو یکونُ** دابیان دامر ثاني دی **غیر مختص** په دې کښې اشاره ده دیته چې دامقابل دامان یختص، یعنې یا به داوزن مختص نه وي په فعل پورې **ولکن یکون فی اوله ای فی اول وزن الفعل الخ** غرض دشارح بیان د احتمالینو دی په مرجع کښې احتمال اول دادی چې ضمیرراجع دی وزن فعل ته او دامذکوردی صراحة اومراددون نه موزون دی ،ځکه چې زیادت په وزن کښې نه کیږي بلکه په موزون کښې کیږي او احتمال ثاني داقول دی **اواول ما کان علی وزن الفعل** یعنې هغه اسم چې وي په وزن فعل اودااحتمال په نظرسره نفس الامراوواقعي ته دی یعنې په واقعه کښې زیادت په هغه اسم کښې وي چې په وزن دفعل وي **زیادة ای زیادةُ حرفٍ الخ** غرض دشارح ددې نه بیان داحتمالینو دی په لفظ دزیادة کښې یو داچې تنوین عوض دی دمضاف الیه نه لکه داذکرشو او بل داچې مصدر (زیادة) مبني للفاعل دی په معنی دزائد سره اوصفة دی دپاره دموصوف مقدروبینه بقوله **او حرفٍ زائدٍ من حروف أتینَ** دابیان دحرف زائد دی **غیر قابل ای حالَ کون الخ** په دې کښې اشاره ده دیته چې غیر منصوب دی بنا

برحالیت او په ذوالحال کښی دوه احتماله دي چې شارح ذکر کړیدی للتاء یعنې مؤنث به یې په تاء سره نه وي بلکه مؤنث به یې بالالف راځي لانه یخرج الوزن بهذه التاء الخ دا دلیل د متن دی یعنې شان دادی چې خارجیږي داوزن په دې تاسره داوزانو فعل نه دوجې دا ختصاص د تانه په اسم پورې ، بنا په دې به خارج شي دسببیة دمنع صرف نه ولوقال غیرقابل للتاء قیاسًا وبالاعتبار الذي الخ

غرض دشارح ددې عبارت نه اشاره ده اعتراض ده په مصنف باندې ،نووایې چې که چرې مصنف وئیلی وي چې وزن فعل به قابل دتاقیاسي نه وي اودی به قابل دپاره د تانه وي په هغه اعتبارسره چې دی غیرمنصرف دی په وجه دهغې یعنې که چرې اضافه یې ددې قیدونو ، یعنې تاقیاسي او اعتبارمذکورکړی وی لم یرد علیه اربع الخ نو اعتراض به نه وي واردشوی په اربع سره په مصنف اذا سُمي په هغه وخت کښی چې مسمی شي په ده سره رجل .اوداځکه چې اربع په دې وخت کښی غیرمنصرف دی دوجې دوزن فعل اوعلمیة نه حالانکه قابل دپاره دتادی ،لکه وئیلی کیږي ، اربعة نوکه مصنف تاقیاس ویلی وي نوبیابه سوال نه واردیده ځکه چې اسماء عدد ثلثة نه ترعشرپورې استعمالیږي خلاف قیاس ځکه چې لحوق دتاپه اربع پورې دپاره دتذکیردی لکه اربعة رجال او اربع نسوة ولااسود اوسوال به نه وي وارد په اسود سره په مصنف اواوس سوال وارددی چې اسود غیر منصرف دی دوجې دوزن فعل اوعلمیة نه دپاره دحیة سوداء حالانکه قابل دپاره دتادی لکه وئیلی کیږي اسودة ،نوکه چرې شرط یې داعتبارمذکوریې لکولی وي نوسوال به نه وي وارد ځکه چې راتلل دتاپه اسودةٌ کښی للحیة الانثی لیس باعتبار الوصف الاصلي الذي امتنع من الصرف لاجله په هغه اعتباردوصف اصلي هغه سره نه دی چې دی دهغې په وجه ممتنع دی دصرف نه بل باعتبار غلبة الخ بلکه لحوق دتاپه اسودپورې په اعتباردغلبې داسمیة سره دی چې عارض دی اسودته خلاصه داچې په کوم اعتبارسره اسودغیرمنصرف دی نوپه هغه اعتبارسره دی قابل دتانه دی چې هغه وصفیة اصلي دی اوپه کوم اعتبارسره چې دی قابل دتادی نوپه هغه اعتبارسره دی قابل دتانه دی چې هغه وصفیة اصلي دی اوپه کوم اعتبار سره چې دی قابل دتادی نوپه هغه اعتبارسره دی غیرمنصرف نه دی نوپه دې وجه داعتبار مذکور قیدلګول پکاروو ومن ثمّ داتفریع ده په وجودشرط مذکورچې عدم قبول التاء دی من اجلیه دی اوثم اشاره

ده مشار الیه شارح بیان کړیدی بقوله **ای ومن اجل اشتراط الخ امتنع احمرعن الصرف الخ** یعنې غیرمنصرف دی احمر دوچې دجود دزیادة مذکوره نه ، سره دعدم قبول دتانه ، ځکه چې مؤنث یې حمراء دی **انصرف یعمل** داتفریع ده په انتفاء دشرط مذکور **لقبوله التاء الخ** دایې دلیل دی داقبلوي تاء لره ځکه چې مؤنث یې یعملة دی وئیلی کیږي هغه ناقې ته چې قوي وي په عمل او سیر کښې.

اسباب دانصراف پس دمنع صرف دکلمی نه: هرکله چې مصنف فارغ شه داسبابو دمنع صرف او شرائطو دهغې نه تفصیلاً ،نوشروع یې وکړه په اسبابو دصرف کښې پوهه شه چې هغه امور چې په هغې سره غیرمنصرف په حکم دمنصرف کښې ګرزی ، پنځه دي (۱) ضرورة شعری (۲) تناسب (۳) تنکیر (۴) اضافة (۵) الف لام ، پس اول دوه سببه بیان شویدی سابقًا اودرئم یعنې تنکیریې بیان کړیدی بقوله **ومافیه علمیةٌ مؤثرةٌ** یعنې هغه اسم غیرمنصرف چې په هغې کښې یو سبب علمیة وي نو چې هغه کله نکره کړی شي نو منصرف کیږي به **ای کل اسم غیر منصرف تکون فیه علمیة مؤثرة الخ** غرض دشارح تنبیه ده په دې چې ماموصوفه په معنی دغیرمنصرف ده او په اضافي دکل کښې اشاره ده دیته چې دایو قاعده ده دقواعدو دفن نه اوقواعد دفن کلي وي او په تکون کښې اشاره ده تعین دمتعلق دفیه ته اودا ځکه چې جارمجرور متعلق کیږي په فعل شبه فعل پورې اولفظ مایوهم نه دی **بالسببیة المحضة الخ** په دې کښې مقصد دادی چې مراد دعلمیة نه عام دی که سبب محض وي په یو کلمه کښې یعنې شرط نه وي دپاره دبل سبب یاسبب وي سره دشرطیة نه دپاره دسبب دیکر **واحترز بذلك عما جامع الخ** په دې کښې تنبیه ده چې مؤثرة قید احترازی دی نو احترازیې وکهٔ په دې سره دهغه علمیة نه چې جمع کیږي دالفینو دتانیث اوصیغې دمنتهی الجموع سره **فان کل واحد منهما کاف الخ** ځکه چې هرواحد ددینه کافي دی دپاره دمنع صرف اوتاثیرنیشته په دې کښې دپاره دعلمیة اودا ځکه چې داقائم مقام دسببینو دی **اذا نکر** یعنې چې کله دغه غیرمنصرف نکره کړی شي نو ګرزی به منصرف پوهه شه چې دتنکیر دپاره دوه صورتونه دي چې بیان کړیدی هغې لره شارح بقوله **بان یؤول العلم بواحد الخ** داوجه اوله ده یعنې چې تعبیرو کړی شي دعلم نه په یو فرد سره دهغه جماعة نه چې مسمی دی په دغه علم جماعة په معنی لغوي سره دی یعنې مافوق الواحد مطلب

داچې مسمی کړی شي هرفرد دغې جماعة نه په دغه علم سره لکه هذا زید ورایت زیدا خر **فانه اُرِیْدَبِهِ المسمی بزید** دابیان دصحة دارادی دمسمی بالعلم دی ځکه چې زید په هذا زید کښې معرفه ده اوپه رایت زیدا کښې نکره ده اوپه آخر کښې اشاره ده نکارت دزید ته پس په رایت زیدا کښې مراد دزید نه مسمی بزید دی هرڅوک چې وي اودانکره ده **اوبجعل عبارةً عن الوصف المشتهر صاحبه به الخ**

داوجه ثاني ده دپاره دتنکیر یعنې یاوګرزولی شي علم عبارت دهغه وصف نه چې مشهوردی صاحب ددغه علم په دغې وصف سره یعنې په دې سره تعبیروکړی شي دوصف مشهورددغې مسمی نه لکه داقول داهل حق چې دهرفرعون دپاره موسی وي ای لکل مبطل محق پس وصف مشهوردفرعون مبطل ووا وصف مشهوردموسی ﷺ محق وو نو مراددفرعون اوموسی ﷺ نه په دې مقوله کښې ذات ددوی نه دی بلکه مرادوصف مشهورددوی دی نوفرعون غیرمنصرف دی دوجې دعلمیة اوعجمې نه اوبعد التنکیر منصرف وګرزیده کسره اوتنوین پرې جاري شو **صُرِفَ** داجزاء ده لقوله اذانکر **لماتبین** دادلیل دانصراف دی **ای ظهر حین بین الخ** دادفع داعتراض ده چې داعبارت **من انهالاتجامع الخ** خومذکورنه دی سابقًانوځنګه به صحیح شي دادعوی دلماتبین خلاصه ددفع یې داده چې دا خبره ظاهره شوه په هغه وخت کښې چې بیان کړل مصنف اسباب دمنع صرف اوشرائط دهغې په ماسبق کښې یعنې داخبره ظاهره شویده دماسبق نه التزامًا **من انها ای العلمیة** داتعین دمرجع دی **لاتجامع مؤثرة الاما ای السببُ الذی الخ** چې نه جمع کیږي (علمیة) مؤثرمګردهغه سبب سره چې داعلمیة شرط وي دپاره دهغې **وذالك فی التانیث الخ** پوهه شه چې په اسباب تسعه دمنع صرف کښې علمیة نه جمع کیږي دوصف اودجمعیة سره کمامرنوپاتې شو شپږ اسباب نوددووسببونو سره جمع کیږي علمیة په حیثیة دسبب محض سره چې عدل اووزن فعل دی اودڅلوروسره جمع کیږي په حیثیة دشرطیة لکه ذکرکړیدی شارح هغې له بقوله **وذلك فی التانیث بالتاء لفظًا اومعنی والعجمة والترکیب والالف والنون المزیدتین** ځکه چې هرواحد ددې اسبابونه مشروط بالعلمیة دی **کمامرفتذکر الاالعدل ووزن الفعل** مګرشرط نه دی علمیة په عدل اووزن فعل کښې **استثناءٌ ممابقی من الاستثناء الاول الخ** داجواب دسوال مقدردی حاصل یې دادی چې لازمه شئ تعدد

داستثناء دشي واحدنه چې علمية دی بغيردحرف عاطف نه وذالا يجوزځکه چې لازميږي فاصله په مابين دمستثنى منه اومستثنى ثاني کنبی په مستثنى اولى سره.

حاصل دجواب يې دادی چې مستثنى منه په دې مقام کنبی امران دی يومطلق اوبل مقيدپس استثناء اوله دمطلق نه ده اوثاني دمقيدنه ده معنى داستثناء اولى داده چې علمية نه جمع کيږي بحيثية مؤثرديوسبب سره مګردهغه سره چې دچادپاره شرط نه دی. مګردعدل اووزن فعل سره اودامعنى داستناء ثاني شوه فلايلزم المحظورنووايې چې دااستثناء ده دماباقی داستثناء اولى نه داستثناء ثاني شوه فلايلزم المحظور نووايې چې دااستثناء ده دماباقي داستثناء اولى نه اي لاتجامعُ غيرَماهي شرطٌ فيه الخ يعنې نه جمع کيږي علمية دهغه سبب سره چې دچادپاره دی شرط نه دی مګر د عدل اووزن فعل سره ځکه چې دی جمع کيږي بحيثية مؤثرد دې دواړوسره لکه په عمراواحمدکنبی اوشرط ورله نه دی لکه ثلث اواحمرپس که چرې علمية شرط وي دپاره دعدل نوثلث به منصرف وي دوجې دانتفاء دعلمية نه اوکه شرط وی دپاره دوزن فعل نواحمربه منصرف وي دوجې دانتفاء دعلمية نه والامرليس کذلک وهمااي العدلُ ووزن الفعلُ داتعين دمرجع دی اوغرض دمصنف ددې عبارت نه دفع دسوال ده چې ناشي دی دکلام سابق نه چې هرکله دامعلومه شوه چې علمية جمع کيدی شي دعدل اووزن فعل سره بغيردشرطية نه نوبعدالتنکيردی دغه کلمه منصرفه ونهٔ ګرزی دوجې دبقاء دعدل اووزن فعل نه اوپه ازالی دعلمية سره يې ازاله نه ده راغلی ځکه چې علمية ورله شرط نه دی پس بناپه دې حکم مذکورکلي ونه ګرزيده خلاصه ددفع يې داده چې دادواړه متضادين دی نونه شي جمع کيدی په کلمه واحده کنبی حتی يرد لان الاسماءَ المعدولةَ بالاستقراءِ الخ دايې دليل دی يعنې ددوی په مابين کنبی تضاددی ځکه چې اسماء معدوله په استقراء اوتلاش سره مختصر دی په داسې اوزانومخصوصوکنبی چې نشته دی يو يووزن دهغې نه په شان دوزن فعل نه، هغه وزن فعل چې معتبردی په منع صرف کنبی ددې مطلب دادی چې اوزان دعدل شپږدی لکه راغلی دی په قول دشاعرکنبی.

اوزان عدل رابتمامي توشش شمر
مفعل فعل مثالهما مثلث وعمر

فعل است همچو امس فعال است چون
ثلاث

دیگر فعـــال دان تو قطـــام فعـــل ســـحر

او اوزان معتبره دفعل ، یو شمر دی معلوما کان او مجهولا. بل ضرب دی (مجهول) او بل هغه چې په اول کښې یې یو حرف د حروف اتین راغلی وي او غیر للتاء وي نو ظاهره ده چې د عدل او وزن فعل په اوزانو کښې منافاة دی **فلا یکون ای لا یوجد** دا تنبیه ده په دې چې یکون تامه دی په معنی دیو جد سره **معهاشی من الامرین الخ** دا دفع د سوال ده چې ضمیر د لا یکون به خالي نه وي یا به راجع وي مطلق سبب ته نو معنی به داشی چې نه به موجود یږي مطلق سبب د علمیة سره وهذا کذب ،او یا به راجع وي عدل او وزن فعل ته نو معنی خو صحیح ده . ،لیکن مطابقت نه راځي په مابین د راجع او مرجع کښې ، او یا به راجع وي احدهما یعنې عدل یا وزن فعل ته ،نو بنا په دې لازمیږي استثناء د شي د نفس خپل نه ځکه چې معنی به داشي چې نه به وي احدهما د علمیة سره مګر وي به ور سره احدهما وهذا باطل خلاصه د دفع یې داده چې ضمیر یو ته هم نه دی راجع بلکه راجع دی یو شی ته چې دائر دی په مابین د مجموعې د دې سببینو یعنې عدل او وزن فعل او د احدهما کښې ،پس معنی داشوه چې نه به موجود یږي د علمیة سره یو شی د دغې سببینو یا د احدهما نه مګر جمع کیږي به ور سره احدهما نو مستثنی منه په حقیقة کښې یو شی دائر وګرزیده فلا یرد **فاذا نکر** په دې عبارت کښې ابن حاجب بیانوي تفصیل د وجې د انصراف بعد التنکیر **غیر المنصرف الذی الخ** دا تعین د مرجع دی مطلب یې دادی چې هر کله نکره کړی شي هغه غیر منصرف چې یو سبب یې علمیة **و بقی بلا سبب** نو باقې به پاتې شي دغه **غیر منصرف** بغیر د سبب نه نو ځکه به ګرزی منصرف **ای لم یبق فیه سبب من حیث هو** سبب دا جواب د سوال مقدر دی چې بنا په ماقال د مصنف لازم شو انکار د واقعي نه ځکه چې نکارت سره خو ذات د اسبابو نه منتفی کیږي فاجاب بقوله المذکور یعنې په دې کښې بعد التنکیر سبب من حیث السبب یعنې سبب مؤثره پاتې نه شو اګر چې ذات د سبب پاتې دی خو مؤثر نه دی **فیما هی شرط فیه الخ** په هغه کلمه کښې چې علمیة شرط وو په هغې کښې چې دا هغه اسباب اربعه دی چې ذکر شو **لانه قد انتفی الخ** ځکه چې منتفی شو په تنکیر سره یو سبب چې علمیة دی یعنې دی زائله شو بذات خود او دغه شان منتفی شهٔ هغه سبب چې مشروط بالعلمیة وو ځکه چې په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځي **من حیث وصف سببیته** یعنې دا سبب منتفی شو په اعتبار د وصف د سببیة

سره اګرچې ذات يې باقي دی ليکن سببية يې ختم شو **فلايبقى فيه الخ** دا نتيجه د دليل ده او **على سبب واحد** دا عطف دی په بلاسبب ای بقی علی سبب واحد يعني په دغه غيرمنصرف کښې بعد التنکير يو سبب پاتې شو **فيما هي ليست بشرط فيه الخ** په هغه اسبابو کښې چې نه دی علمية شرط په هغې کښې يعني عدل او وزن فعل حاصل دا شه چې په صورة اولی کښې غيرمنصرف وګرزيده منصرف دوجي دانتفاء دسببينو مؤترينونه او په صورة ثانيه کښې ځکه چې منصرف شو چې يو سبب کافي نه دی دپاره دعدم انصراف هذا پوهه شه چې هذا يامفعول دی دپاره دفعل مقدر ای خذهذا يافاعلم هذا يافاعل دی دپاره دفعل محذوف ای مضی هذا مقصد په کښې بيان دا هتمام مضمون سابق دی.

وقد قيل على قوله الخ غرض دشارح دنقل دقول دقيل نه اعتراض دی په مصنف او جواب دی ددينه په دوو طريقو سره دا اعتراض وارددې په وهما متضادان نو وايې چې اصمت په کسری دهمزی او عين کلمې سره نوم دی دپاره دمفازی دا وزان دفعل نه دی سره دوجود دعدل **نه فأنه امر من صَمَتَ يَصمُتُ الخ** دا يې دليل دعدل دی يعني اصمت امر دی دباب **نصرنه وقياسه ان يجىء الخ** او قانون دامر کذا يې دادی چې راځي په ضمتينو يعني ضمی دهمزی او عين دواړو سره **فلما جاء بكسرتين الخ.**

پس هر کله چې راغی دا امر په کسرتينو سره نو معلومه شوه چې دی معدول دی دأُصمُت (بضمتين) نه حاصل دادی چې اجتماع راغله په مابين دوزن فعل او عدل کښې فکيف يصح قوله وهما متضادان والجواب **ان هذا امر غير محقق الخ** دا جواب اول دی يعني کون داصمت بکسرتين معدول دأُصمت بضمتين نه امر غيرثابت دی **لجواز وروده الخ** ځکه چې جائزه ده چې اصمت دی بکسرتين راغلی وي اګر چې مشهورنه دی **فالاوزان التي الخ** دا تصريح بالجواب دی پس هغه اوزان چې په هغې کښې عدل متحقق شوی دی تحقيقي يا تقديري نه دی جمع شوی دوزن فعل سره **وايضا قد عرفت فيما تقدم الخ.** دا جواب ثاني دی خلاصه يې داه چې دپاره داعتبار دعدل تحقيقي لابدې ده دا مرينونه ،يو اقتضاء دمنع صرف عدل لره او بل اعتبار دخروج دصيغې ددغه اصل نه او دلته امر اول منتفي دی ځکه چې سببين هسې هم موجود دي په اصمت کښې ماسوا دعدل نه چې هغه علمية او تانيث دی په اعتبار دمفازی سره **فلا حاجة الى**

اعتبار العدل هذا حاصل ماقاله الشارح بقوله وایضاً قد عرفت فیما تقدم ای فی بحث العدل فتفکر فیه ثم انه اشار الی استثناء مثل احمر علماً اذا نُکّر الخ غرض دشارح ددینه بیان دحالت دعبارت آتیه دی یعنې دوخالف سیبویه یعنې دا استثناء ده دهغه قاعدي کلي نه چې بیان شویده بقوله ومافیه علمیة مؤثرة الخ نو وایې چې بیا مصنف اشاره وکړه ددې قاعدي کلې نه استثناء دمثل داحمر ته په داسې حال کښې چې علم وي اونکره شي بنا په قول دسیبویه .سوال دلته خو ادوات داستثناء نشته نو دلته استثناو یل خطا دی جواب دا په منزله داستثناء ده اوداديته وایې چې حکم کلي ذکرشي اوبیا دهغې نه بعض افراد خارج کړی شي بغیرد ذکرد ادواتو داستثناء نه نو وایې ،چې خلاف کړی دی سیبویه داخفش نه المشهور هو ابوالحسن الخ اخفش چونکه ددریو کسانو نوم دی یو استاد د سیبویه چې دهغه کنیة ابوالخطاب ده اودوئم یې تلمیذ دی چې ابوالحسن سعیدبن سعده دی درئم یې معاصر دی چې هغه ابوالحسن علی بن سلیمان دی .اومشهور په دی نوم شاګرد ده دی نو شارح یې تعین وکۀ بقوله المذکور ولما کان قول التلمیذ الخ دادفع دسوال ده چې هرکله مراد داخفش نه شاګرد سیبویه شو اوفاعل دخالف سیبویه دی نو لازم شۀ نسبة دمخالفة استاذ ته اوداخو بی ادبی دا استاد ده نو شارح جواب وکه چې قول دشاګرد زیات ظاهر وو دقول داستاد نه اومو افق وو دهغه قاعدې سره چې ذکرکړیده هغې لره مصنف سابقاً جعله اصلاً واسند المخالفة الی الاستاذ الخ داجواب دلمادی نو وېې ګرزوو قول دشاګرد لره اصل اومخالفة یې منسوب کۀ استاذ ته اګر چې داکار خه نه دی تنبیهاً علی ذالك داعلة دی دپاره دنسبة دمخالفة استاد ته یعنې ددې دپاره چې تنبیه حاصله شي په حقانیة دقول دشاګرد فی انصرافه داتعین دمحل دنزاع دی اودفع دسوال ده چابه ویل چې په مثل داحمر کښې خو اختلاف نیشته ټول وایې چې په دې کښې وصف دی ،خلاصه ددفع یې داده چې دا اختلاف په انصراف داحمر کښې دی والمراد بمثل احمر ماکان الخ غرض دشارح تعین دماهو المراد دې دمثل داحمر نه اودفع دسوال ده چې مراد به دمثل داحمر نه هغه وي چې په وزن دافعل وي فقط ،نوبنا په دې خارج شو ددې نه سکران حالانکه داهم اختلافي دی اودا خل شو په کښې اجمع تاکیدی اواسم تفصیل چې مجرد وي دمن نه حالانکه هرواحد ددینه منصرف دی بعد التنکیر بالاتفاق نوپکار ده چې سکران داخل وي په دې مسئله اختلافی کښې او اجمع او افعل التفصیل خارج وي خلاصه ددفع یې داده چې مراد په مثل

داحمرسره هغه وصف دی چې معنی دوصفیة په کښی ظاهروي قبل العلمیة پس داخل شه په دې کښی سکران او امثاله دده چې عطشان ریان وغیره دی اوخارج شه ترې افعل التاکیدلکه اجمع ځکه چې منصرف دی عند التنکیرپه اتفاق دسیبویه اوداخفش **لضُعفِ معنی الوصفیةِ فیهِ الخ** دوجی دضعف دمعنی وصفي نه په ده کښی قبل العلمیة ځکه چې اجمع په معنی دکل سره دی حاصل داچې اجمع کله مستعمل شي په معنی وصفي کښی نوغیرمنصرف دی دوجې دوصف اووزن فعل نه اوچې کله وګرزولی شي علم نوبیاهم غیرمنصرف دی دوجی دعلمیة اووزن فعل نه اوچې کله نکره شي نوبیا منصرف دی اتفاقًاځکه چې معنی وصفي یې ضعیفه ده نودهغې اعتبارنه شي کیدی بعد التنکیر، **کذالك افعلُ التفضیلِ المجرُدعن من التفضیلیةِ الخ** اودغه شان خارجیږي افعل تفضیلی چې خالي وي دمن تفضیلیه نه ځکه چې دی هم منصرف دی اتفاقابعد التنکیر ،دوجې دضعف دمعنی وصفي نه په ده کښی قبل العلمیة حتی صاراسمًاتردې چې دی ګرزیدلی دی اسم یعنې په حکم داسم کښی دی **وان کان معَهُ من فلاَینصرفُ بلاَخلافٍ** اوکه چرې افعل التفضیل مستعمل وو په من سره پس انصراف دده بعد التنکیر، بلاخلافه نه د بلکه اختلاف دی په کښی په مابین داستاداوشاګردکښی په شان داحمر **لظهورمعنی الوصفیةِفیه الخ** دوجې دظهوردمعنی وصفي نه په دې کښی قبل العلمیة په سبب دمن تفضیلی سره نوسیبویه وصفیة ددې لره اعتبارو رکوي بعدالتنکیراوغیرمنصرف یې ګرزوی اواخفش ورله اعتبارنه ورکوي نوهغه ورته منصرف وایې (هذامن افادةشیخی مدظله العالی) .

فتامل فیه ولاتصغ الی ماقال بعض المحشین اعتبـاراًللصفةِ الاصلیةِ پوهه شه چې اعتباراً مفعول له دې دپاره دخالف الخ ،.اوشرائط دنصب یې هم موجود دی شرائط دنصب دمفعول له درې دی یوداچې مفعول له به مصدروي دوئم داچې فاعل دمفعول له اودفعل معلل به واحدوي درئم داچې مفعول له به مقارن فی الوجودوی دفعل معلل سره نووایې چې خبره داده چې مخالفة وکه سیبویه داخفش نه **لاجـلِ اعتبـارِالوصـفیةِالاصـلیةِ** دوجې داعتباردسیبویه وصفیة اصلي لره بعدالتنکیر **فـانـه لمـازالـتِ العلمیـةُ بالتنکیرِالخ** ځکه چې هرکله زائله شۀ علمیة په سبب دتنکیرسره نومانع پاتې نه شۀ داعتباردوصفیة اصلي نه په مثل داحمرعلمًاکښی نومعتبرېږي که وصفیة اوغیرمنصرف یې وګرزوودوجې دصفة اصلي اودبل سبب نه لکه وزن فعل په احمرکښی اوالف نون زائدتین شوپه سکران کښی **فـان قلت**

كما انـه لامـا نـع الـخ دا اعتـراض دى پـه سـيبويه بانـدې چـې لكـه څنګـه چـې مـانع نشـتـه داعتبار دوصفية اصلي نه بعد التنكير نو دغه شان باعث او مقتضي هم نشته داعتبار وصفية اصلي نو ولې يې معتبر كه حالا نكه منع صرف خلاف الاصل دى، نو ذهاب يې خلاف الاصل ته ولې وكه قيل الباعث على اعتبارها امتناع اسود وارقم الخ ددې جواب مطلب دادى چې باعث موجود دې چې هغه قياس داحمر دى په اسود او ارقم باندې ،په دې شان سره چې زائله شويدى په دې دواړو كښې وصفية په غلبې داسمية سره او بيا هم په كښې وصف معتبر شويدى تردې چې غير منصرف دى نو په احمر كښې هم معتبر شه ليكن دا جواب ضعيف دى نو څكه شارح مصدر كه په قيل سره او ضعيف څكه دى چې سوال پرې وارديږي هغه سوال شارح ذكر كړيدى بقوله وفيه بحث يعني په دې جواب كښې بحث دى هغه دا چې قياس داحمر بعد التنكير په اسود او ارقم باندې قياس مع الفارق دى څكه چې وصفية زائله شويدى په مثل داحمر كښې بالكليه په خلاف داسود او ارقم نه په حالة دعلمية كښې دغلبې داسمية په وجه څكه چې په دوى كښې شائبه او رائحة دوصفية موجوده ده لان الاسود اسم للحية السوداء الخ څكه چې اسود علم جنس دى دتورمارنو په دى كښې معنى لغوى وصفي ملحوظه ده چې سوادى او ارقم علم جنس دى دبرګ مارنو په دې كښې هم رائحه دمعنى لغوى وصفي موجوده ده . په خلاف داحمر نه چې هغه علم شخص ګرزيدلى دى او په علم شخص كښې معنى لغوى ملحوظه نه وي څكه چې علم شخص دپاره دتعارف وي فقط بغير دملاحظى دمعنى اصلي لغوي نه فلايلزم من اعتبار الوصفية فيهما الخ دا تصريح بالرد ده على سيبويه يعني نه لازميږي د اعتبار دوصفية نه په اسود ، ارقمُ كښې اعتبار د وصفية په احمر كى څكه چى په احمر كى وصفية بالكليه زائله شويدى واما الاخفش فذهب الى انه منصرف الخ دا بيان دمذهب ثاني يعني داخفش دى په مثل داحمر كښې .پس ده ذهاب كړيدى ديته چې مثل داحمر منصرف دى فان الوصفية قد زالت الخ دا يې دليل دى يعنې وصفية داحمر نه زائله شه په علمية سره ،څكه چې علمية او وصف نه جمع كيږي بيا يې علمية زائله شۀ په تنكير سره او قانون دادى چې والزائل لايعتبر من غير ضرورة پس خلاصه دا شو چې فلم يبق فيه الاسبب واحد چې هغه وزن فعل دى په احمر كښې او الف نون زائدتين دى لكه په سكران كښې اوس راجح مذهب داستاد دى كه دشاګردنو ملا جامي رحمه الله وايي وهذا القول اظهر يعني

قول دشاګرد راجح دی وجه یې داده چې وصفیة په احمر کښې معدوم ګرزیدلی دی بالکلیه والمعدوم بالکلیة لایؤثر **ولما اعتبر سیبویه** دا تمهید دی متن آتی ته چې ولایلزمه الخ دی اومقصد دمصنف په متن اتی کښې بیان دجواب دی داعتراض نه چې وارددې په سیبویه معتبر که وصف اصلي لره بعد التنکیر نوپکارده چې په حالة دعلمیة کښې یې هم معتبر کړی ځکه چې اعتبار عمل دمعتبر (بکسر الباء دی نوبناپه دې پکارده چې په باب دحاتم کښې هم وصف معتبر کړی په حالة دعلمیة کښې اوغیر منصرف دی یې وګرزی دوجې دوصف اصلي اوعلمیة نه حالانکه حاتم منصرف دی عنده **ایضا فاجاب عنه المصنف بقوله ولایلزمه ای سیبویه الخ**.

خلاصه دجواب یې داده چې دا الزام په سیبویه نه شي کیدی ځکه چې لازمیږي په دې تقدیر اعتبار دمتضادینُ چې وصف اوعلمیة دی په حکم واحد کښې چې عدم انصراف دی وهذا لایجوز او غرض دشارح په ای سیبویه کښې تعین دمرجع دی اوباب حاتم (په وزن دعالم) فاعل دی دلایلزمه **ای کل علم کان في الاصل وصفا مع بقاء العلمیة الخ** دابیان دمفهوم کلي دی دپاره دباب حاتم ځکه چې لفظ دحاتم بخصوصه نه دی مراد بلکه هرهغه لفظ چې په اصل کښې وصف وي که په وزن دفاعل وي لکه حاتم یادمفعول وي لکه محمد یاصفة مشبه وي لکه حسن کریم اوبیاعلم ګرزیدلی وي ،. اوعلمیة یې باقي وي اوسبب اخر په کښې نه وي ماسواد علمیة نه **بان اعتبر فیه ایضا الوصفیة الاصلیة الخ** دامتعلق دی په لایلزمه پورې یعني نه ده لازمه په سیبویه داخبره چې په باب دحاتم کښې هم وصفیة اصلي معتبر کړی اوحکم وکړی په منع صرف دحاتم دوجې دعلمیة اووصف اصلي نه **لما یلزم** داعلة دی دپاره دنفی اعنی قوله لایلزم مطلب یې دادی چې الزام مذکور په سیبویه ځکه نه دی صحیح چې لازمیږي دالزام مذکورنه په تقدیر دمنع صرف دحاتم **اعتبار المتضادین** چې وصفیة اوعلمیة دی دلیل دتضاد یې دادی چې **فان العلم للخصوص والوصف للعموم** یعني علم شخص دلالت په خصوص کوي . اووصف په عموم وبینهما تضاد **في حکم واحد وهو منع صرف لفظ واحد**.

دادفع داعتراض ده چې نه منو چې اعتبار دمتضادینو په حکم واحد کښې ممنوع دی ولې ته نه ګوری چې په ثلث اومثلث کښې وصف دی اوپه عمروزفر کښې علمیة دی اوحکم یې واحد دی چې منع صرف دی نوشارح قید دفی لفظ واحد ذکرکه دپاره د دفع ددې سوال یعني

اعتبار دمتضادينو ممنوع دی په لفظ واحد کښی مثلاباب حاتم او امثله مذکوره لفظ واحد نه دی بلکه الفاظ عليحده دی **بخلاف ما اذا اعتبرت الوصفية الاصلية الخ** دا بيان دفرق دی په مابين دباب حاتم او اسود وغيره کښی يعني په حاتم کښی بل سبب نشته سوا دعلمية نه او دعلمية سره يې اعتبار دوصفية کيدی نه شي نو ځکه دی منصرف دی په خلاف داسود او ارقم نه چې داغير منصرف دی په دې وجه چې دلته بل سبب موجود دی ماسوا دعلمية نه چې هغه وزن فعل دی نو داعتبار دوصفية دپاره په دې کښی مانع نشته دوجې دعدم منافاة نه په مابين دوزن فعل او دوصف کښی نو ځکه داغير منصرف شو.

فان قلت التضاد انما هو بين الوصفية المحققة الخ دا اعتراض دی په جواب دمصنف باندې چې تضاد خو په مابين دوصفية محققه او علمية محققه کښی دی نه په مابين دوصفية زائله او علمية محققه کښی **فلو اعتبرت الوصفية الاصلية الخ** پس که چرې معتبر کړی شي په منع صرف دمثل دحاتم کښی وصفية اصليه زائله او علمية محققه موجوده نو نه لازميږي اجتماع دمتضادينو حقيقةً ځکه چې احد المتضادين مفروض دی او ضد آخريې موجود متحقق دی.

قلنا تقدير احد الضدين بعد زواله الخ مونږ وايو په جواب کښی چې فرض کول داحد الضدين پس دزوال دده نه دضد آخر سره په حکم واحد کښی چې فرض کول داحد الضدين پس دزوال دده نه دضد اخر سره په حکم واحد کښی چې منع صرف دلفظ واحد دی اګرچې داکار اجتماع دنقيضينو حقيقةً نه ده ځکه چې داحد المتضادين مفروض دی او ضد آخر موجود متحقق دی **لكنه شبيه به** ليکن په دې کښی شبه داجتماع المتضادين ده **فاعتبارهما غير مستحسن** پس اعتبار دداسې متضادينو چې يو مفروض وي او بل موجود په يو ځای اګرچې محال نه ده ليکن خه هم نه ده په کلام دبلغاء کښی پس لازمه ده چې ددې نه هم اجتناب وکړی شي لکه څنګه چې اجتناب کيږي داجتماع دمتضادينو نه حقيقةً.

بيان المؤثرين في الصرف: هرکله چې مصنف فارغ شۀ دبيان دبعض اسماء غير منصرف نه چې ومافيه علمية الخ دی او دبيان دمؤثر واحد فی الصرف نه چې تنکير دی نو شروع يې وکړه په بيان دجميع اسماء غير منصرفه کښی او په بيان دمؤثرينو فی الصرف کښی چې تعريف او اضافة دی فقال **وجميع الباب اي باب غير المنصرف** په دې کښی اشاره ده ديته چې الف لام عهدي دی ياعوض دی دمضاف اليه نه مطلب دادی چې تمام باب دغير منصرف په دخول دلام او اضافة سره

په حکم د منصرف کښې ګرزي **اي دخول لام التعريف** دادفع د سوال ده چې باسببیه ده نو مدخول
دباء يعني لام به سبب وي او سببية دلام غيرصحيح دی ځکه چې اسباب دقبيلي داوصافونه وي
اولام ذات دی خلاصه دجواب يې داده چې عبارت په حذف دمضاف سره دی چې دخول دی
اودخول مصدردی وصف دی نو سببية يې صحيح شو اوشارح په دې تنبيه قائمه کړه چې
مراددلام نه لام تعريفي دی نه لام تاکيدی اونه لام جاره وغيره **اوالاضافة اي اضافته الى غيره**
دادفع داعتراض ده چې داضابطه منقوضه ده په غلام احمدباندې ځکه چې دلته
احمد غيرمنصرف دی او اضافة دغلام ورته شويدی اوبياهم منصرف نه دی ګرزيدلی خلاصه
دجواب يې داده چې مراددااضافة نه اضافة دغيرمنصرف دی بل شی ته يعني چې غيرمنصرف
مضاف شي بل شي ته نو منصرف کيږي به **ينجر اي يصير مجروراً** دادفع دسوال ده حاصل يې دادی
چې په عبارت دمصنف کښې اجتماع دمتضادينو ده هغه داچې په غيرمنصرف باندې جرممنوع
دی کماهوحکمه اوددې عبارت نه معلومه شوه غيرمنصرف په لام او اضافة سره مجرورګرزی
نودمنع دجر اودجرپه مابين کښې تدافع ده ، خلاصه ددفع داده چې ينجرمتضمن دی صيرورة لره
اوصيرورة وايي انتقال ته ديو حالة نه بل حالة ته نو معنی داچې منتقل کيږي به غيرمنصرف په
سبب ددخول دلام او اضافة سره دحالت دمنع دکسری نه حالة ددخول دکسری ته نو تعارض ختم
شو. **اي بصورة الکسرة**
دادفع داعتراض ده چې په کلام دمصنف کښې تناقض دی هغه داچې دينجرنه معلوميږي چې
غيرمنصرف کذا يې معرب دی ځکه چې جردالقابودمعرب نه دی اودبالکسر(بدون التاء نه) يې
بنامعلوميږي .ځکه چې کسر(بدون التاء) دالقابو دمبني نه دی .خلاصه ددفع يې داده چې
مراددکسری نه صورة دکسرې دی مجازاً اوصورت دکسری حالة اعرابي جرې دی ځکه چې
جرهم شکل دکسری دی کمالايخفی **لفظاً اوتقديراً** داتعميم دی په کسره کښې لفظاًوي لکه
مررت بالاحمدوباحمدکم ،اوکه تقديراً وي لکه **مررت بالحبلی وبحبلاکم وانما لم يکتف بقوله**
ينجر الخ دادفع دسوال ده چې بنادمتونو په ايجازاواختصارده نوکه مصنف اکتفاء په ينجرکړی
وي فقط نو مقصدبه سره داختصارنه حاصل شوی وونوشارح وايي چې مصنف اکتفاء ونه کړه په
ينجر ان الانجرار الخ ځکه چې جرکله په شکل اوصورة دفتحی راځي لکه په غيرمنصرف کښې
کمامرنوکه ينجريې ويلی وي بغيردبالکسرنه نوپته به نه لګيده چې جربالفتح مراددی اوکه

بالکسره حالانکه مرادثاني دی نه اول نو ځکه یې ینجربالکسرذکرکه یعنې اختصارمُخل ووهنا نوځکه یې طویل عبارت ذکرکه **ولابأن یقول ینکسِرُ** داهم دفع دسوال ده چې په ینجراکتفاء صحیح نه وه نوینکسربه یې ویلی وو نوشارح جواب وکه چې ینکسرویل هم صحیح نه دی **لان الکسرة یُطلق علی الحرکاتِ الخ** ځکه چې دکسری اطلاق په حرکاتوبنائیوباندې هم کیږي اومرادځمونږ حرکت اعرابي دی پوهه شه چې په دې مقام کښې دوه نسخې دي په یوه نسخه کښې بالکسربدون التاء راغلی دی اوپه بله کښې مع التاء راغلی دی اصل نسخه ثاني ده اوقرینه پرې داقول دشارح دی چې ایضاً ځکه چې دایضانه دامعلومیږي چې کسره مشترکه ده په مابین دحرکات بنائیه، اعرابیه دواړوکښې اومشترک بینهماکسرة مع التاء ده ځکه چې کسربدون التاء مختص دی په حرکت بنایي پورې فافهم.

اختلاف مسئله مذاهب ثلثه وترجیح ماهوالراجح : **وللنحاةِ خلافٌ فی الخ** غرض دشارح په دې مقام کښې بیان دمذاهبو ثلثو دی په غیرمنصرف کذای کښې یعنې هغه غیر منصرف چې دالف لام اواضافة په وجه مجروربا لکسره گرزیدلی وي خلاصه یې داده چې په انصراف اوعدم انصراف داسم مذکورکښې اختلاف دی اګرچې دخول دکسری پرې اتفاقي دی نو په دې کښې درې مذاهب دی یوداچې اسم مذکورمنصرف دی مطلقًا دوهم داچې غیرمنصرف دی مطلقًا دریم داچې که چرې علتین په کښې باقي وونوغیرمنصرف به وي والافلا اوشارح یې تفصیل ذکرکړیدی بقوله **فمنهم من ذهبَ الخ** بعض نحاة ذهاب کړیدی دیته چې دا اسم مذکورمنصرف دی مطلقًا برابرخبره ده چې علتین په کښې باقي وي اوکه نه **لان عدمَ انصرافه انما کان الخ** دایې دلیل دی نووایي چې داځکه چې عدم انصراف دده دوجې دمشابهة نه وودفعل سره کمابین سابقًا **فلما ضَعُفَتْ هذه المشابهةُ الخ.**

پس هرکله چې دامشابهة ضعیف شو په دخول دالف لام اواضافة چې داخواص معظمه مکبره داسم دی **قَوِیَتْ جهةُ الاسمیةِ الخ** نوقوي شو په دې کښې جهة داسمیة نوراجع شۀ دغه اسم غیرمنصرف اصل خپل ته چې صرف دی نومنصرف شو **فدخله الکسرةُ الخ** پس کسره پرې داخله شوه نه تنوین ځکه چې تنوین نه جمع کیږي دالف لام اواضافة سره دوجی دمنافاة نه په مابین دلام اوتنوین کښې ،ځکه چې لام دپاره دتعریف دی اوتنوین دپاره دتنکیروبینهمامنافاة اودغه شان تنوین انفصال راولی اواضافة تقاضادااتصال کوي وبینهامنافاة **ومنهم من ذهبَ الی انه**

غیرُمنصرفٍ د امذهب ثاني دی یعنې اسم مذکورغیرمنصرف دی مطلقاً برابره خبره چې علتین په کښې باقې وي او که نه والممنوعُ من غیرالمنصرفِ بالاصالة هوالتنوین دا دفع د اعتراض ده چې هر کله دا غیرمنصرف شو نو پکار ده چې کسره پرې ممنوع شي نو شارح جواب وکړ چې ممنوع بالذات د غیرمنصرف نه تنوین دی ځکه چې غیرمنصرف مشابه دی دفعل سره او ممنوع په فعل تنوین دی حقیقةً او حکمًا دواړه او کسره په فعل اګرچې حقیقةً نه داخلیږي خو حکمًا پرې داخلیدی شي لکه لم یکن الذین کفروا ومن یطع الله والرسول دوجې دوصل دکلماتو نه وسقوطُ الکسرالخ او سقوط دکسرې دغیرمصنف نه په دې وجه ده چې دا تابع دتنوین ده او دا ځکه چې دکسرې او تنوین په مابین کښې اشتراک دی په اختصاص کښې په اسم پورې وحیث ضَعُفَ الخ او هر کله چې ضعف شۀ مشابهة دده دفعل سره په وجه دالف لام او اضافة نو اثرونه که دغه مشابهة مګر په سقوط دتنوین کښې ددغه اسم نه دون تابعِهِ الذی هوالکسرُ او په سقوط دتابع کښې یې اثرونه که چې کسرة ده پس کسره خپل اصلي حال ته چې عدم ممنوعیة دی واپس شوه نو کسره را تلل صحیح شو وسقَطَ التنوینُ الخ او باقي پاتې شۀ سقوط دتنوین ‹ یعنې تنوین سقاط شۀ › ځکه چې دا اسم مذکورغیرمنصرف دی ومنهم من ذهب الی ان العلتین ان کانتا باقیتین الخ دا دریم مذهب دی یعنې که چرې علتین باقې وو سره دالف لام او اضافة نه یعنې جائزه وه اجتماع دعلتینو سره دالف لام او اضافة نه لکه احمرمساجد وغیره نو دا اسم به غیرمنصرف دی وان زالتا معًا الخ او که چرې زائله شوی وو دواړه یا یو دالف لام او اضافة په وجه نو بیا به دغه اسم منصرف ګرزی کسره به پرې دا خلیږي لیکن تنوین پرې نه شي داخلیدی دوجې دمانع نه چې الف لام او اضافة دی .

ضابطه دزوال دعلتینو او دعلامه زوال :ویبانُ ذلکَ ان العلمیةَ تزولُ باللامِ والاضافةِ

الخ او بیان دزوال او عدم زوال دعلتینو دا دی چې علمیة زائله کیږي په الف لام او اضافة سره ځکه چې لام التعریف وضعه شویدی دپاره دتعریف دمدخول نو لامحاله به یې مدخول نکره وي لئلا یلزم تحصیل الحاصل او دغه شان د اضافة نه مراد ههنا اضافة معنوي دی او شرط د اضافة معنوي تجرید دمضاف دی دتعریف نه نو خامخا به مضاف په اضافة معنوي کښې نکره وي فافهم فان کانت العلمیةُ شرطاً لسببٍ آخرالخ پوهه شه چې په دې کښې درې صورتو نه دي اول

صورة دادی چې که چرې علمية شرط وودپاره دسبب دیگر **کما فی الاربعة المذکورة فیما سبق زال التأمعًا** نو دواړه به زائله کیږي دلام التعريف او اضافة په وجه لکه ابراهیم طلحة زینب بعلبک اوعمران **وان لم تکن شرطًا الخ** داصورة ثاني دی او که چرې علمية شرط نه وودپاره دسبب دیگربلکه سبب محضه وو فقط لکه په احمد کښې چې علميه مؤثردی فقط **زالت احدیهما** نو احد العلتين به زائل کیږي دالف لام او اضافة په وجه نو دا اسم مذکوربه په دې صورتونو کښې منصرف گرزی او کسره به پرې داخليږي دون التنوين لمانع هو اللام او الاضافة **وان لم تکن هناك علمية الخ** دا دریم صورت دی او که چرې په دغه اسم غیرمنصرف کښې علمية نه وو بلکه غير منصرف وو دنورو علتونو په وجه سوی العلمية لکه احمر یا دیوسبب په وجه چې قائم مقام دسببینووی لکه حمراء اولام پرې داخل شه یا یې اضافة وشه **بقیت العلتان علی حالهما** نو باقي به وي دغه سببین (یاهغه یوسبب چې قائم مقام دسببینودی په خپل حال باندې نو دغه اسم به غیرمنصرف وي تنوین به پرې ممنوع وي خو کسره پرې داخلیدی شي وجه یې ذکرشوه سابقًا **وهذا القول انسب بما عرف به المصنف غیرالمنصرف** دا بیان دترجیح دماهو الراجح دی عندالشارح نو وایې چې داقول ثالث زیات مناسب دی دهغه سره چې مصنف پرې تعریف کړیدی دغیرمنصرف **وهوقوله ما فیه علتان من تسع اوواحدة تقوم مقامهما**.

پس که په یو اسم کښې علتین موجود وو نو غیر منصرف به وي والافلا. ددې تحقیق نه پس دا سوال واردیږي چې دانصراف دغیرمنصرف دپاره نحاةُ لام او اضافة ولې منتخب کړل حالانکه خواص دا اسم خونورهم کثیردی (جواب) په دې وجه چې دادواړه مؤثردی **فی اللفظ والمعنی کلیهما** نو تاثیرلفظي دلام اسقاط دتنوین دی د مدخول خپل نه ، او په اضافة سره هم تنوین او قائم مقام دتنوین یعنې نون تثنیه اونون جمع ساقطیږي او مضاف الیه مجرور گرزی او تاثیرمعنوي یې دادی چې په هرواحد ددې دواړوسره نکره معرفه گرزی نو ځکه یې دادواړه غوره کړل.

اَلْمَرْفُوْعَاتُ

هرکله چې فارغ شو مصنف دتشریح دکلمې اوکلام نه اودنوروضروی مباحثونه نوشروع یې وکړه په مقصود اصلي دنحوی کښې فقال المرفوعات.

سوال: مرفوعات یې ولې مقدم کړل په منصوباتو اومجروراتو؟

جواب: ددې دپاره دوه وجې دي یوداچې مرفوع عمده فی الکلام دی دوئم داچې علامه دمرفوع چې رفع ده اقوی العلامات ده.

الوجوه الاربعة فی المرفوعات: پوهه شه چې په لفظ دالمرفوعات کښې په اعتباردا عراب اوبناسره څلوروجې دي یوداچې مبني بالسکون دی په شان دمفرداتولکه زیدعمروغیره دوهم داچې معرب دی مرفوع دی بناخبریة دپاره مبتدامحذوفې ای هذه المرفوعات. دریم داچې مرفوع دی بنابرابتدائیة اوخبریې محذوف دی ای المرعات هذه څلورم داچې دامبتداده اوهوما اشتمل الخ یې خبردی.

جمع المرفوع لاالمرفوعة په دې عبارت کښې دوه احتماله دي یودا چې داتحقیق دي دلفظ دالمرفوعات اودوهم داچې دفع دسوال ده حاصل یې دادی چې ارجاع دضمیردهوچې مذکوردی په مابعدکښې) نه مرفوعات ته صحیح ده اونه واحددمرفوعات ته اول ته خوځکه نه ده صحیح چې المرفوعات جمع ده اوضمیرمفرددی اوثاني ته ځکه نه ده صحیح چې مرفوعات جمع مؤنث سالمه ده نوواحدبه یې هم مؤنث وي یعنې مرفوعة ،نوبهرحال مطابقة نه را ځي په مابین دراجع اومرجع کښې خلاصه دجواب یې داده چې ضمیررا جع دی واحددمرفوعات ته خوواحدیې مرفوع دی نه مرفوعة فحصلت المطابقة لان موصوفه الاسم الخ دا دلیل دې دپاره ددې دعوی چې جمع المرفوع نووایې چې دا ځکه چې موصوف دمرفوع اسم دی یعنې مرفوع صفة دی دپاره داسم اواسم مذکرغیرذی عقل دی. مطلب داچې مرفوعات صفة واقع کیږي دپاره داسماء المرفوعات اواسماء جمع داسم ده اواسم مذکردی نو معلومه شوه چې مرفوعات جمع دمرفوع (مذکر) ده چې مطابقة راشي بین الموصوف والصفة وتجمع هذا الجمع الخ دادفع داعتراض ده چې کله داجمع دمرفوع شوه نو په الف تاسره څنګه جمع شویده ځکه چې په الف تاسره خومفردمؤنث جمع کیږي خلاصه دجواب یې داده چې صفة دمفردمذکرغیر ذی عقل جمع کولې شي په دې جمع سره کثیراشائعاً دوجې دقیاس دعدیم العقل نه په ناقص العقل باندې

چې مؤنث دی او مرفوع هم صفة د مذکر غیر ذی عقل دی نو جمعیة یې په الف تاسره صحیح شو **كالصافنات للذكور من الخيل** دا بیان د نظائرو دی دپاره د قاعدې مذکوری صافنات جمع ده د صافن او دا هغه فرس ته ویلی شي چې په دریو خپو او دیوې خپې په سُوکه ولاړ وی نو دا مذکر غیر ذی عقل دی او جمع شویدی په الف تاسره **وجمال سبحلات اي ضخمات** دا بل نظیر دی سبحلات جمع ده د سبحل په وزن د قمطر په معنی د **السمين الطويل الغليظ**.

پس دا هم مذکر غیر ذی عقل دی او جمع شویدی په الف تاسره **وكالايام الخاليات** یعنې تیرې شوی ورځې نو الخالیات جمع د خالي ده او دا مفرد مذکر دی خو صفة د غیر ذی عقل دی نو جمع شویدی په الف تاسره . پس د دینه ذکر کړیدی مصنف تعریف د مرفوع بقوله **هو الخ** یعنې مرفوع هغه اسم دی چې مشتمل وي په علامې د فاعلیة چې ضمه ده په مفرد اتو کښی او واو دی په جمع مذکر سالمه کښی او الف دی په تثنیه کښی وسیاتی.

المرفوع الدال عليه المرفوعات دا تعین د مرجع دی او دفع د اعتراض ده چې هو ضمیر به خالي نه وي یا به راجع وي مرفوعات ته یا مرفوع ته او دواړه غلط دی اول خو ځکه چې مطابقة نشته په مابین د راجع او مرجع کښی فی الافراد والجمعیة او ثاني ځکه نه دی صحیح چې لازمیږي اضمار قبل الذکر نو شارح جواب وکړ په اختیار د شق ثاني یعنې ضمیر راجع دی مرفوع ته او اضمار قبل الذکر نه لازمیږي ، ځکه چې مرفوع اګر چې صراحة نه دی مذکور لیکن مذکور دلالة دی دوجې د دلالة د المرفوعات نه په ده باندې ځکه چې جمع دلالت کوي په مفرد خپل **لان التعريف انما يكون للماهية الخ** دا دفع د اعتراض ده چې ضمیرې مرجع ضمني ته راجع کوونو هې یې ولې ذکر نه کړ په ځای د هو چې صحیح الارجاع وي مرفوعات ته یا شارح ضمیر د هو ولی راجع نه کړ مرفو عات ته په تاویل د مذکور سره یا په اعتبار د خبر سره چې ما اشتمل دی خلاصه د جواب یې داده چې مرفوعات جمع ده او ملحوظ په جمع کښی افراد وی او تعریف نه کیږي مګر د پاره د ماهیة دون الافراد ،او دا ځکه چې تعریف کیږي په جنس او فصل یا په خاصي سره او دا ټول کلیات دی او فرد من حیث الفرد د پاره کلي نه وي بلکه د دې د پاره تشخصات وي چې په هغې سره امتیاز د بعض افراد و د بعض اخر نه کیږي.

سوال : لکه څنګه چې مرفوعات دلالت کوي په افراد و نو د غه شان مرفوع هم دلالة کوي په فرد ؟

جواب: د مرفوع اطلاق لکه څنګه چې په فرد کیږي نو د غه شان یې اطلاق په طبیعة او جنس

يعني ماهية باندې هم كيږي وهذا هو المراد ههنا **ما اشتمل اي اسمٌ الخ** غرض د شارح د دينه تعين دلفظ مادې چې ما موصوفه ده اوبل غرض يې دفع د سوال ده چې تعريف د مرفوع مانع نه شو دد خول دغيرنه داخل شو په كښې حروف الاواخرلكه دال د زيد په جائني زيد كښې مثلاً ځكه چې دا هم مشتمل دى په علامة دفاعل خلاصه دجواب داده چې ما موصوفه ده په معنى د اسم سره په قرينې دبحث دمرفوعاتو اودال دزيد مثلا اسم نه دى فلايرد **اي علامةٌ** داتعين دمعنى مرادى دى دعلم نه ځكه چې دعلم دپاره معانى كثيره دى ماوضع لشئ معين ته هم وايې او اطلاق يې په جبل هم كيږي لكه **وله الجوار المنشئت في البحر كالاعلام** او علامى ته هم وايې اوكله چې يو لفظ محتمل دمعاني متعدده وي نو تعين دما هو المرد لازمي وي نو شارح تعين وكړ چې مرادترې علامه ده **كونُ الاسم فاعلاً** په دې كښې اشاره ده تعين دياد فاعلية ته چې مصدريه ده او عمل دى په قاعده مشهوره باندې ،هغه دا چې يا مصدريه ګرزوى مُلحَقُ بِهِ خپل خبر دپاره دكون مقدر سره د اسم نه **وهي الضمةُ الخ** دابيان دعلاماتو دفاعلية دى نو علامه دفاعلية كله في الحركات وي چې ضمه ده اوكله في الحروف وي چې هغه واو او الف دى **والمراد باشتمال الاسم عليها الخ** غرض د شارح د دينه تعين دنوعې داشتمال دى ځكه چې داشتمال دپاره انواع اربعه دى يو اشتمال دكل دى په جزء دوهم اشتمال دموصوف دى په صفة دريم اشتمال دظرف دى په مظروف څلورم اشتمال دذوالحال دى په حال نو شارح وويل چې مراد داشتمال داسم نه په علامى دفاعلية دادى چې اسم به موصوف وي په دې علامې سره يعني مراد داشتمال نه ههنا اشتمال دموصوف دى په صفة خو مراد موصوف نه كالموصوف دى اودصفة نه كالصفة دى نه عين موصوف او نه عين صفة ځكه چې حمل دصفة په موصوف صحيح وي لكه رجل عالم اوحمل دعلامي په اسم صحيح نه دى يعني دانه شي ويلى كيدى چې الاسم علامة نو ځكه مونږ كالموصوف او كالصفة اووى نو اوس مطلب دا شو چې لكه څنګه صفة روستووي دموصوف نه نو دغه شان علامه درفع هم رستووي داسم نه فافهم **لفظاً اوتقديراً اومحلاً** دا تعميم دى په رفع كښې دپاره دفع دتوهم تخصيص په رفع لفظي پورې نورفع عامه ده كه لفظي وي لكه زيد في جائني زيدا اوكه تقديري وي كه موسى في جائني موسى اوكه محلي وي لكه هؤلاء في جائني هؤلاء پوهه شه چې شارح رضى اوهندې انكار كړى دى درفع محلي نه دوى وايې چې رفع محلي موجود ديږي په مبنياتو كښې ،لكه مثال مذكور اوبحث څمونږ په معرباتو كښې دى نو شارح

ملا جامي په دوی باندې ردته اشاره وکړه بقوله اومحلاًاوتصريح بالردېې وکړه بقوله **ولاشك ان الاسمَ موصوف بأرافع المحلي الخ** او شک نشته په دې کښې چې اسم موصوف دی په رفع محلي باندې **اذمعنى الرفعِ المحلي الخ** ځکه چې معنی درفع محلي داده چې دا اسم په داسې محل کښې واقع دی چې فرض کړه که چرې په دغه محل کښې معرب واقع وي نو مر فوع به وولفظا یاتقدیرا نوظاهره ده چې هؤلاء په جائني هؤلاء کښې په داسې محل کښې دی چې که دغلته زید واقع وي مثلا نو مرفوع به وولفظا یاموسی وي نو مرفوع به ووتقدیراً **فكيف يُختص الرفعُ بما عداالرفعِ المحلي الخ** دا وجه درده په شارحينو مذکورينو باندې یعنې څنګه به مختص شي رفع په ماسوا درفع محلي پورې **وهويبحث مثلاًعن احوال الفاعل الخ** حالانکه مصنف بحث کوي په مابعد کښې داحوالودفاعل نه چې ضمير متصل وي مثلاً لکه تادضربت چې ضمير متصل د فاعل دی او ضمير دقبيلي دمبنياتو نه دی او بحث کول دا حوالودفاعل ضمير متصل نه فرعه ده داعتقاد دکونه فاعلاً نو چې کله فاعلية دضمير تسليم شو او فاعل خووي مرفوع او رفع لفظي او تقديري په مبني راتلی نه شي نو خامخا به مرفوع محلاوي فافهم.

پوهه شه چې هغه اسماء چې مرفوع دی په لغة عربي کښې ثمانيه دی (۱)**فاعل** (۲)**مفعول مالم يسم فاعله يعني نائب فاعل** (۳)**مبتدا**(۴)**خبر**.(۵)**خبران واخواتها. يعني خبر دحروف مشبه بالفعل**(۶)**اسم كان واخواتها. يعني اسم دافعال ناقصه**(۷)**خبرلاالتي النفي الجنس** (۸) **اسم ماولاالمشبهتين بليس** ليکن مصنف په کافيه کښې اووه ذکرکړيدی او اسم دافعال ناقصه يې مستقل نه دی ذکرکړی بلکه داخل کړی يې دی په فاعل کښې او شاهد په دې تعريف دافعال ناقصه دی په بحث الفعل کښې چې هغه دادی الافعال الناقصة ماوضع لتقرير الفاعل على صفةٍ نو داسم دافعال ناقصه نه يې تعبير کړيدی په فاعل سره ځکه چې دی په حقيقة کښې دی فاعل اصطلاحًا: **فمنه الفاعلُ الفاءللعطف فهذامن قبيل التقسيم على التعريف اي من المرفوع اومما اشتمل على عَلَمِ الفاعلية** غرض دشارح په دې عبارت کښې بيان داحتمالينو دی په تعين دمرجع کښې نو يو احتمال دادی چې ضمير راجع دی مرفوع ته يعنې معرف (بالفتح) ته او بل احتمال دادی چې راجع دی تعريف ته چې مما اشتمل الخ دی.

بيان الحسنين والقبحين في كلاالاحتمالين: پوهه شه چې په هر واحد داحتمالينو مذکورينو کښې دوه دوه حُسنه اودوه دوه قبحي دي حسن اول په احتمال اول کښې ارجاع

دضـمیر ده ماهو المقصـود ته چـې معـرف (بـالفتح) دی لانـه هو القصود او حسـن ثـاني عـدم انتشار دضمائرو دی. ځکه چې ضمیر دهو هم راجع دی مرفوع ته او ضمیر دمنه هم راجع شئ مرفوع ته او قبحه اوله په دې احتمال کښې بعد د مرجع دی او قبح ثاني په کښې داده چې مرجع ضمني ده او حسن اول پـه احتمـال ثـاني کښـې قـرب د مرجع دی او حسـن ثاني دادی چې مرجع صـریحې ده قبحـه اولـه یې انتشار دضـمائرو دی یعنې ضمیر دهو راجع دی مرفـوع تـه او ضمیر دمنه راجع شو تعریـف تـه او قـبح ثـاني یـې ارجـاع دضـمیر دی غیر مقصـود تـه چـې تعریـف دی لان التعریـف غیر مقصـود بل المقصـود هو **المعـرف وانما قـدمـهٗ** دابیـان دو چې دتقـدیم دفاعـل دی پـه بـاقې مرفوعاتو باندې نو وایې چې خبره داده چې مقدم یې که فاعـل **لانه اصلُ المرفوعـاتِ عنـد الجمهور** یعنې دوچې د اصالة نه او د اصالة دپاره یې وجهین دی وجه اولـه یې دادی چې **لانـه جـزءُ الجملـةِ الفعليةِ الخ** ځکـه چې دی جزد جملې فعلې دی غالبًا او جمله فعلیـه اصل ده په جملو کښـې او غالباً قید مو ځکه ولګو چې فاعل کله جزء دجملې اسمیې هم وي لکه زید قائم ابوه نو ابو ه فاعـل دی او جـزء دجملـې اسـمیې دی او جملـه فعلیـه ولـې اصـل ده نـو ددې دپـاره دوه وجـې دی یـو داچې مقصود په جمله کښې ارتباط وي او جمله فعلیه **اَشَدُّ اِرْتِبَاطاً** ده دغیر سره ځکـه چې جمله فعلیـه مصدره وي په فعل او فعل مقتضي دارتباط دی دفاعـل سره پـه خلاف دا سم نـه چې دی مسـتقل بذاته غیر مقتضي للارتباط دی دوئمه وجه داده چې مقصود اصلي دجملې نه اخبـار وي یا انشـاء او فعل پـه اعتبـار د ذات سره وضـع دی دپاره ددې پـه خلاف دا سم نه ځکـه چې انشائـیة پـه اسم کښې په اعتبار د ادوات خارجیو سره دی **ولان عـاملَهٗ اقوی الخ** دا وجه ثاني ده دپـاره د اصالة دفاعـل یعنې فاعل اصل دی ځکه چې عامل یې اقـوی دی دعامـل دمبتدا نـه او دا ځکه چې عامـل دده لفظي دی او عامل دمبتدا معنوي دی او قوة دمؤثر دلالت کوي په قوة داثر.

اختلافی مسئله: اصل پـه مرفاعاتو کښـې څـه دی نو پـه دې کښـې اختـلاف دی جمهـور نحـاة وایـې چې اصل په مرفوعاتو کښې فاعل دی او جار الله زمخشري وایې چې مبتدا اصـل المرفوعـات ده دهریو دپـاره وجهـین دی نو مـذهب دجمهور و نحـاةُ ذکر شـو او مـذهب دجـار الله ذکر کړیـدی شـارح بقولـه. **وقيل اصلُ المرفوعـاتِ المبتدأ** چې اصل پـه مرفوعاتو کښـې مبتـدا ده **لانـه باقٍ علـى مـا هو الاصل الخ** دا یې وجه اوله د اصالة ده. نو وایې چې دا ځکه چې مبتـدا باقې ده پـه هغـه حالـة چې اصل دی په مبتدا کښـې **وهو التقدمُ** چې هغه تقدم دی خو اذا لم یمنع مـانع عـن التقدم وسیاتی

بخلاف الفاعل ځکه چې په ده کښې لحاظ نه دی شوی ددې اصالة بلکه دی واجب التاخیر دی دفعل خپل نه ځکه چې که چرې فاعل مقدم شي په فعل نو لازم به شي التباس دده دمبتدا سره **ولانه یُحکمُ علیه بکل حکمٍ الخ** داوجه ثاني ده دپاره داصالة دمبتدا یعنې داځکه چې حکم کولی شي په مبتدا باندې په هرحکم سره جامدوي اوکه مشتقي مثال دحکم جامدلکه زید حیوان. هذاحجرو غیره اومثال دمشتق لکه زیدقائم **فکان اَقوی** نو مبتدا اقوی شوه په خلاف دفاعل نه ځکه چې حکم نه شي کیدی په ده مګرپه مشتقي سره پوهه شه چې مذهب دقیل ضعیف دی نوجواب ددلیل اول نه دادی چې ماقال دجمهورومفیددی دپاره دقوة درفع دفاعل اوماقال دزمخشري مفیددي دپاره دقوة دذات دمبتدا اوذات غیرمقصوددی ههنااوجواب دثاني نه دادی چې په فعل باندې هم حکم په هر واحد دمشتقي اوجامد سره کیدی شي مثال دمشتقي خوواضح دی اومثال دجامدلکه نِعْمَ الرجلُ نونعم منسوب دی فاعل ته یعنې دا حکم ثابت دی دپاره دفاعل اوظاهره ده چې نعم فعل جامددی وذکر المصنف بعدهذا تعریف الفاعل بقوله **وهواي الفاعل** داتعین دمرجع دی یعنې فاعل هغه اسم دی چې اسنادشوی وي ده ته دفعل شبه فعل په طریقي دقیام سره په ده پورې اومقدم وي دغه فعل شبه فعل په ده باندې **اي اسمٌ** داتنبیه ده په دې چې ماموصوفه ده موصوله نه ده ومثل هذامرغیرمرة **حقیقةاوحکماغرض** په دې تعمیم کښې دفع دسوال ده چې تعریف دفاعل منقوض دی په اعجبنی ان ضربت زیداً دی خلاصه دجواب یې داده چې اسم عام دی که حقیقة وي اوکه حکمًانوان ضربت اسم حقیقي نه دی خو اسم حکمي دی ځکه چې دا مؤول دی په تاویل دمصدر ،فا المعنی اعجبنی ضربک زیداً **لیدخُلَ فیه مثل الخ** دابیان دفائدی دتعمیم مذکوردی **اُسنَدَالیهِ الفعلُ**.

سوال: فعل به خالي نه وي یابه ترې مرادمعنی لغوي وي یعنې حدث یااصطلاحي چې نسبة حدث اوزمانه ده که مراد اول وي نوذکر دشبه فعل لغوه دی ځکه چې شبه فعل هم فعل لغوي دی نوفعل ورته شامل دی اوکه مراد ثاني وي نودانه ده صحیح ځکه چې اسناد فاعل ته نه کیګی مګر د فعل لغوی ځکه چې مراد داسناددفعل الی الفاعل نه صدوردفعل دی دفاعل نه اوصدورنه راځي مګردفعل لغوي یعنې حدث.

جواب: مراددفعل نه فعل اصطلاحي دی صورةً اولغوی دی معنًی چې هرکله مرادفعل اصطلاحی صورةً شه نوذکردشبه فعل ضروری وګرزیده اوچې کله مرادفعل لغوي شه معنًی نو

اسنادالی الفاعل هم صحیح شو **بالاصالۃِلابالتبعیۃِالخ** دادفع داعتراض ده چې تعریف دفاعل مانع نه شو ددخول دغیرنه داخل شه پکښې عمروپه قام زیدوعمروکښې لانه ممااسنداليه الفعل بواسطة زيدمع انه لايقال له فاعل بل معطوف خلاصه دجواب يې داده چې مراد داسنادنه اسنادبالاصالة دی نه بالتبع اودلته اسنادعمر وته بالتبع دی **ليَخرُجَ عن الحدالخ** دابیان د فائدی تقید داسناددی په بالاصالة سره **وكذالمرادفي جميعِ حدودِالمرفوعاتِ الخ** داتکمیل دمقام دی چابه وي چې په کلام دماتن کښې اسنادذکرشویدی مطلق اوشارح مقيدكه په بالاصالة سره فماالقرينة عليه.

فاجاب بقوله بقرينةذكرالتوابع بعدَها یعنې قرینه پرې داده چې توابع ذکرشویدی په مابعدکښې مستقلاً نوکه ههنامطلق اسنادمرادشي نوشامل به شي توابعوته هم ذکردتوابعوبه لغوه شي په مابعدکښې **اي مايشبهُه في العمل** داتفسیردشبه فعل دی یعنې شبه فعل هغې ته وایې چې مشابه وي دفعل سره په عمل کښې پوهه شه چې اودپاره دتنویع دی نه دپاره دتشکیک ،نوپه دې کښې اشاره تقسیم دفاعل ته چې فاعل په دوه قسمه دی یوهغه چې اسناددفعل ورته شو ی وي دو هم هغه دی چې اسناد دشبه فعل ورته شو ی وي **وانماقال الخ** دابیان دفائدي ددې قول دمصنف دی چې اوشبهه نوهرواحدددې مذکورو څیزونونه شبه فعل دی ،اوکه متعلق دظرف فعل وونو داخل دی په نوعه اوله کښې اوکه متعلق يې شبه فعل وونوپه نوعه ثاني کښې داخل دی **وقُدِّمَ** واو حالیه دی اوداجمله حالیه ماضویه ده په تقدیر دقد سره **اي وقدقُدِمَ الخ** اومصنف قدذکرنه که صراحة دپاره ددې چې تکراردنقش دقدرانه شي **اي الفعل اوشبهه** داتعین دمرجع دضمیردقُدم دی یعنې ضمیر دواړو ته راجع دی په تاویل دکلمې داوسره ، یعنې احدالامرین ،نومطابقة حاصل شو **فلايردواحترزبه عن نحوزيدفي زيدضرب الخ** شارح وایې چې قید دقُدم احترازی دی نوپه دې سره احترازراغی دزیدضرب نه یعنې زیدفاعل نه دی په دې مثال کښې **لانه مماأُسنِدَاليه الفعلُ الخ**

دادفع دسوال ده چې اخراج دزید ضرب په دې قیدسره اخراج دمخرج دی ځکه چې دی خارج شویدی په اسنداليه الفعل سره په دې وجه چې زیدته اسناددضرب نه دی شوی بلکې ضمیرته یې شوی دی نوشارح وایې چې زیدپه مثال مذکورکښې دقبیلې داسنداليه الفعل نه ، دی

نو اخراج يې صحيح دى **لان الاسناد الى ضميرشى الخ** دا يې دليل دى يعني اسناد زيد ته شوى دى ځکه چې اسناد ضمير ديوشي ته اسناد وى بعينه هغه شي ته ځکه چې ضمير عبارت دعين مرجع نه وي خوبا وجود دى زيد ته په مثال مذکور کښې فاعل نه شي ويلى ځکه چې فعل په ده مقدم نه دى او تقديم دفعل ، شرط دى دپاره د فاعل **والمراد تقديمه عليه وجوبًا الخ** دا دفع دسوال ده چې تعريف دفعل مانع نه شۀ داخله شوه په کښې هغه مبتدا چې خبر پرې مقدم شوى وي لکه کريم من يکرمک ځکه چې من مبتداده او تعريف دفاعل پرې صادق دى ځکه چې اسناد دشبه فعل ورته شويدى چې کريم دى او مقدم پرې هم دى خلاصه دجواب يې داده چې مراد دتقديم دفعل او شبه فعل نه په تعريف دفاعل کښې تقديم وجوبي دى ﴿بناپه دې چې تقديم مطلق دى او شى چې ذکرشي نوصرف يې فرد کامل ته کيږي ،او تقديم دخبر په مبتدا باندې واجب نه دى نو لهذا تعريف دفاعل په مثال مذکور باندې منقوض نه شو.

فان قلت قد يجب تقديمه الخ دا اعتراض دى په جواب مذکور باندې يعني کله کله واجب وي تقديم دخبر په مبتدا په هغه وخت کښې چې مبتدا نکره وي او خبر يې ظرف وي لکه فى الدار رجل نو په دې مثال کښې دى رجل فاعل وګرزى دوجې دتقديم وجوبي دشبه فعل نه چې ظرف دى مع انه مبتداً **قلت المراد تقديمه وجوب نوعه الخ** يعني مراد دتقديم دجوبي نه تقديم وجوبي نوعي دى مطلب دادى چې نوعه دفعل ،شبه فعل﴾ يعني تمام افراد دفعل شبه فعل چې مسند الې الفاعل وي﴾ به مقدم وي وجوبًا په فاعل او دا خبره په خبر نه ده صادقه ځکه چې **وليس نوع الخبر مما يجب تقديمه الخ** او نوعه دخبر﴿ يعني تمام افراد دخبر واجب التقديم نه دى په مبتدا باندې بلکه بعض افراد يې واجب التقديم وي لکه چې ذکرشو **اي اسناداً** غرض دشارح بيان دا عراب محلي دجار مجرور يعني على جهة قيامه دى نو وايي چې دامنصوب دى بنا بر مفعول مطلق دپاره داسند چابه وي چې دامفعول مطلق نه شي کيدى دپاره داسند ځکه چې مفعول مطلق ديته وايي چې فعل مذکور مشتمل وي په ده باندې من قبيل اشتمال الکل على الجز او اسند مشتمل په اسناددى نه په دې جار مجرو شارح جواب وکۀ چې اسنادا الخ يعني کون ددې جار مجرور مفعول مطلق دپاره داسند په اعتبار دموصوف مقدر سره دى اى **اسند اسناداً واقعاً** دا تقدير د متعلق دى دپاره ددې جاز مجرور.

سوال: جار مجرور که په اسند مذکور پورې متعلق شي نو تقدير ته حاجت به رانه شي ؟

جواب تعلق يې په اسند مذكورپورې نه دى صحيح ځكه چې په صله داسناد كښى على نه راځي بلكې الى يابارا ځي يقال اسند اليه وبه **على طريقةِ قيامِ الفعل الخ** داتعين دماهو المراد دى دجهة نه ځكه چې دجهة دپاره معانى متعدده دى كله يې اطلاق په منتهي داشارة حسى كيږي اوكله يې اطلاق كيږي په جهات منطقيوباندې جهات ستة ته هم ويلى كيږي او اطلاق يې په امتداداتوثلثه يعنې طول عرض اوعمق هم كيږي اوطرز طريقي ته هم ويلى شي نوشارح تعين وكړ چې مرادترې طرزاوطريقه ده **فطريقُ قيامهِ بهِ ان يكون على صيغةِ المعلومِ الخ** پس طريقه دقيام دفعل شبه فعل په فاعل پورې داده چې دابه صيغه دمعلوم وي ياهغه چې په حكم دمعلوم كښى وي لكه اسم فاعل صفة مشبه پو هه شه چې دامذكور علامه دقيام ده اوقيام عبارت دى دثبوت دموجودنه دپاره ديوشي اواتصاف ددغه شي په ده باندې اودډينه تعبيركولى شي په صيغې معلوم سره**واحترزبهذاالقيدِعن مفعولِ مالم يسم فاعلهُ الخ** دابيان دفائدى دقيددعلى جهة قيامه دى ،نووايې چې احترازيې وكړ په دې على جهة الخ سره دنائب فاعل نه لكه زيدپه ضُرب زيد كښى اوداځكه چې اسناد دضرب زيدته على جهة القيام نه دى بلكه على جهة الوقوع دى چابه وي چې احترازدنائب فاعل نه دى صحيح ځكه چې شيخ عبدالقاهرصاحب المفصل اواكثروبصريانودى داخل كړيدى په فاعل كښى نواخراج يې په قيد مذكورسره خطاء دى **فلاحاجةالى هذاالقيد**نوشارح ددينه جواب ذكر كړيدى بقوله **والاحتياجُ الى هذاالقيدِالخ** يعنې قيددعلى جهة قيامه ته احتياج دهغه چاپه مذهب باندې بنادى چې نائب فاعل يې په فاعل كښى نه دى داخل كړى لكه مصنف ابن حاجب ، اودهغه چاپه مذهب چې داخل كړى يې دى په فاعل كښى لكه صاحب المفصل وغيره نوبياداى قيدته ضرورت نيشته ، بلكه واجبه ده چې په دې قيد باندې مقيد نه كړى شي دپاره ددې نائب فاعل په تعريف دفاعل كښى داخل پاتې شي **والاصلُ الخ** دابيان داحوالو دفاعل دى من التقديم والتاخير، نووايې چې اصل په فاعل كښى دادى چې متصل به وي دفعل سره هركله چې داحكم په مبهم ومعلومه نه ده چې داحكم دفاعل دى كه دمفعول اوحكم په مبهم باندې نه شي كيدى نو شارح اووي چې.**في الفاعلِ** اوقرينه په دې باندې بحث دفاعل دى **اى ماينبغى ان يكونَ الفاعلُ عليه** داتعين دمعنى مرادى دى داصل نه ځكه چې داصل دپاره معانى متعدده دى په لغة كښى ماييتنى عليه الغيرته وايې اوپه عرف كښى يې اطلاق كيږي قاعده، دليل، راجح

یعني اولی ماینبغی او استصحاب الحال نو شارح تعین وکه چې مرادترې راجح دی یعني اولی ما یبنغی **ان لم یمنع مانع** دادفع داعتراض ده چې دا اصل منقوض دی په ضربک زیدباندې چې دلته اتصال دفاعل (یعني دزید) اولی نه دی دفعل سره بلکه ممتنع دی خلاصه دجواب یې داده چې اصل اتصال دفاعل دی په فعل پورې خوکه چرې مانع نه وو موجود اودلته مانع موجود دی چې هغه اتصال دضمیردمفعول دی په فعل پورې نوفاعل مؤ خرکړی شۀ دپاره ددې چې انفصال دضمیردمفعول را نه شي حاصل دادی چې طبیعة دفاعل تقاضادقرب کوي فعل ته لیکن کله کله دا اقتضاء زائله کیږي دعارض په وجه لکه چې طبیعة دماء تقاضاکوي د برودت خو کله ترې برودت زائله کیږي دمانع په وجه چې ناردی یاشمس.

المسندُ الیه داتفسیر دالفعل دی خومراد دالمسند الیه نه معنی لغوی ده یعني المسند صیغة داسم مفعول ده اوضمیر دالیه راجع دی فاعل ته نو مرادترې مسند الی الفاعل دی (یعني هغه شی چې اسنادیې شوی وي فاعل ته) بنا په دې داعبارت شبه فعل ته هم شامل شو فلایردپوهه شه چې ایلاء مقدم متصل اومؤخر متصل دواړو ته ویلی شي نوکومه ترې مراده ده ههنا **فاجاب بقوله ای یکون بعدہ من غیران یتقدم الخ** یعني مراد دایلاء نه اتصال مؤخر دی مطلب دا چې اصل داده چې فاعل به متصل وي دفعل سره بغیردتقدم دیوشي دمعمولاتو دفعل نه په ده باندې سوال: دا اصل منقوض دی په کفی بالله شهیدا باندې ځکه چې لفظ الله فاعل دی دپاره دکفی حالانکه متصل بالفعل نه دی بلکه فاصله راغلی ده په مابین دفاعل اودفعل کښي په حرف باسره جواب فاصله په مابین دفاعل اودفعل کښي په معمولاتو دفعل سره ممنوع ده او با د معمولاتو د فعل څخه نه ده ځکه چې مراد د معمولاتو دفعل نه مفعول به، ظرف وغیره دی **لانه کالجزء من الفعل الخ** دادلیل دمتن دی یعني اصل مذکورثابت دی ځکه چې فاعل کَالجُزدی دفعل نه دوجې دشدت احتیاج دفعل نه فاعل ته اودا ځکه چې نسبة الی الفاعل جزء دی دمفهوم دفعل نه نوفعل محتاجه دی فاعل ته په تصوراوتحقق دواړو کښي په شان داحتیاج دکل جزء ته اودا احتیاج احتیاج شدید دی **ویدُل علی ذلك الخ** دادلیل دجزئیت دفاعل دی دفعل نه نو وایي چې دلالت کوي په کون دفاعل کاالجزء دفعل نه اسکان دلام کلمی په ضَرَبْت کښي یعني **فیما اذا اتصل بالفعل ضمیر الفاعل لانه لدفع توالي اربع حرکات فیماهو بمنزلة کلمة واحدة** یعني نحویان اوصرفیان وایي چې که لام کلمه چې باده مثلاً ساکنه نه شي نولازم به شي توالی داربعه

حرکاتو په هغه مرکب کښی چې په شان دکلمې واحدی وهذا ممنوع ددې نه دامعلومه شوه چې فاعل کالجزْ دفعل دی ځکه چې مجموعه دضَربْت یې په شان دکلمې واحدی وګرزو **فلذالك** فاتفریعیه ده اولام تعلیلي دی نو اجتماع دالتینو دتعلیل لازمه نه شوه.

الاصل الذی یقتضی تقدم الفاعل الخ داتعین دمشار الیه دی نو وایې چې په وجه ددغه اصل چې تقاضاکوي دتقدیم دفاعل په باقي معمولا تو دفعل **جاز ضرب غلامه زید** جائزدی دا ترکیب او مراد دینه هرهغه ترکیب دی چې په هغې کښی اتصال دضمیر دفاعل شوی وي په مفعول مقدم پورې نو داترکیب جائز دی **لتقدم مرجع الضمیر الخ** دوجې دتقدم دمرجع دضمیر نه چې زید دی رتبةً یعنې زید فاعل دی او مرتبه دفاعل مقدمه ده په مفعول باندې نو ارجاع دضمیر فاعل مؤخر فی الذکر ته اضمار قبل الذکر دی خو لفظاً فقط نه رتبةً او دا جائز دی **وامتنع ضرب غلامه زیداً** مراد دې ترکیب نه هرهغه ترکیب دی چې متصل شوي وي ضمیر دمفعول متاخر په فاعل متقدم پورې **لتاخر مرجع الضمیر وهو زید الخ** دایې وجه دامتناع ده یعنې داترکیب ممنوع دی دوجې دتاخر دمرجع دضمیر نه چې زید دی هم لفظاً اورتبةً ځکه چې مرجع مفعول به ده اورتبه دمفعول به متاخره ده نو اضمار قبل الذکر لازم شو هم لفظاً اورتبة او دا ممنوع دی **خلافاً للاخفش وابن جنی** اتصال دضمیر دمفعول متاخر په فاعل متقدم پورې څنګه دی نو پوهه شه چې په دې کښی اختلاف دی په مابین دجمهورونحاةُ او اخفش او ابن جنی کښی نو په نزدد جمهورو ممنوع دی او په نزد دا خفش او ابن جنی جائزدی دوجې ، دشدة اقتضا ء دفعل متعدي نه دپاره دمفعول په شان دفاعل ، یعنې په نزد ددوی درجه دفاعل اومفعول واحده په اقتضاء دفعل کښی او اتصال دضمیر دهر واحد په بل پورې جائزدی او دلیل ددواړو په دې مسئله کښی داقول دشاعر دی **جزی ربُه عنی عدي بن حاتم جزاءَ الکلاب العاویاتِ وقد فَعَل** ربُه فاعل دی دپاره دجزی او عدي بن حاتم یې مفعول به ده او ضمیر دربه راجع دی ده ته نو دلته ضمیر دمفعول متاخر متصل شوید‌ی په فاعل متقدم پورې نو ددینه معلومه شوه چې دا جائزدی ځکه چې په کلام فصیح یعنې شعر کښی واقع دی مقصود دشاعر بددعا ده عدی بن حاتم ته نو وایې چې بدله دې ورکړی رب دعدی بن حاتم عدی بن حاتم ته په شان دغپیدونکو سپو او داکار الله وکهٔ وقد فعل یې ذکر کړیدی تَفَاوُلاً یعنې ګویا چې دادعا الله پاک قبوله کړه چونکه دا مذهب ضعیف دی نو شارح ددې دلیل نه په دوه طریقو سره جواب کړیدی اول په دې قول سره چې **واُجیبَ عنه بان**

هذا الضرورة الشعر الخ یعني دا اتصال د ضمیر د مفعول متاخر په فاعل متقدم پورې دوجې دضرورة شعري نه دی او **والضروریات تبیح المحظورات والمراد عدم جوازه الخ** او مراد دعدم جواز نه عدم جواز دی په نثر کښې **وبأنه لانسلم ان الضمیر الخ** دا جواب ثاني دی یعنې نه منو دا خبره چې ضمیر راجع دی عدی ته ،بلکه مصدر ته راجع دی هغه مصدر چې په هغه باندې فعل دلالت کوي چې جزی دی نو تقدیر دعبارت دا شو چې **جزی رب الجزاء ای صاحب الجزاء وهو الله تعالی وبالجملة لایصح التمسك به**.

مواضع وجوب تقدم الفاعل علي المفعول: او دا خلور دي علی حسب بیان المصنف نو وایې **واذا انتفی الاعراب الخ** دا اول موضع دی یعنې په هغه وخت کښې چې کله اعراب لفظي منتفی وي او قرینه هم نه وي په فاعلیة دفاعل او مفعولیة دمفعول نو تقدیم دفاعل به واجب وي **الدال علی فاعلیة الفاعل الخ** دا صفة کاشفه دی دپاره الاعراب بالوضع .دا متعلق دی په الدال پورې ځکه چې مراد دلالت وضعي دی فقط **لفظا** دا منصوب دی بنا بر تمیز د نسبة دفعل نه فاعل ته ای انتفی الاعراب فیهما لفظا **ای فی الفاعل المتقدم ذکره صریحا الخ** دا دفع د سوال ده چې ضمیر د فیهما راجع دی فاعل او مفعول ته نو فاعل خو مذکور دی سابقاً خو مفعول نه دی ذکر شوی نو ده ته ضمیر راجع کول اضمار قبل الذکر دی خلاصه د دفع یې داده چې فاعل خو مخکښې ذکر شوی دی هم صراحةً او هم په ضمن دمثالونو کښې او مفعول هم مخکښې مذکور دی په ضمن دمثالونو کښې فلایلزم الاضمار قبل الذکر **والقرینة ای الامر الدال علیهما**.
غرض دملا جامي رحمه الله په دې عبارت کښې دفع داعتراض ده چې ذکر د قرینې مُغنی دی ذکر د اعراب لره ځکه چې اعراب هم قرینه ده په فاعلیة دفاعل او مفعولیة دمفعول نو پکار داده چې په ذکر د قرینې بې اکتفاء کړې وي خلاصه د جواب یې داده چې په قرینه او اعراب کښې فرق دی نو اعراب امر دال دی په فاعلیة او مفعولیة خو بالوضع او قرینه امر دال دی علیهما خو لا بالوضع نو دا امرین متغائرین شونو ذکر د احدهما مغني نه دی آخر لره **اذ لایعهد ان یطلق علی ماوضع الخ**.ځکه چې معلومه نه ده داچې اطلاق وشي په هغه شي چې وضع شوی وي دپاره دیو شي **انه قرینة علیه** چې ګڼې دا قرینه ده په هغه شي مطلب ، دادی چې یو شي دچا دپاره وضع وي نو هغې ته قرینه نه وایې نو رفع نصب جر وضعه دی دپاره فاعلیة ، مفعولیة

او اضافة ،نو په عرف کښی په دې اطلاق دقرينې نه کيږي **فلا يرد عليه ان ذکر الاعراب مستغنی عنه الخ** دا تصريح بالاعتراض ده نو وايي چې هر کله چې په قرينه او اعراب کښی فرق شه نو نه وارديږي اعتراض مذکور فافهم پس ددينه شارح تقسيم دقرينې وکړ بقوله **وهی اما لفظية الخ** يعنې قرينه په دوه قسمه ده يوه لفظي او بله معنوي قرينه لفظي لکه ضربت موسی حبلی قرينه په دې کښی اتصال دتاء تانيث دی په فعل پورې ځکه چې تاء تانيث دلالت کوي په تانيث دفاعل نو دا قرينه ده په دې چې حبلی فاعل دی او موسی مفعول به ده او قرينه معنوي لکه **اکل الکمثری يحيی** کمثری امرود يا ناشپاتې ته وايي نو قرينه معنوي دا ده چې يحيی فاعل دی ځکه چې دی آکل دی او کمثری ماکول دی په دې مثالونو کښی قرينې په فاعلية دفاعل او مفعولية دمفعول موجود دی نو تقديم دفاعل واجب نه دی ځکه چې التباس نه لازميږي په مابين دفاعل او مفعول کښی **اوکان الفاعل مضمراً متصلاً الخ** دا موضع ثاني دی دتقديم وجوبي دفاعل ،نو وايي چې که چيرې فاعل ضمير متصل بالفعل وو **بارزاً کضربت زيداً او مستکناً الخ** دا تعميم دی په ضمير کښی دپاره ددفع دتوهم يعني چا به توهم کوو چې ګني مراد به دضمير نه ضمير بارزوی فقط ځکه چې اتصال په ظاهره نه را ځي مګر په ضمير بارز کښی خلاصه ددفع يې دا ده چې مراد د متصل نه غير مستقل فی التلفظ دی نو که ضمير بارزوی لکه تا دضربت زيداً او که مستتروي لکه هو په زيد ضرب غلام کښی **بشرط ان يکون المفعول الخ** دا دفع داعتراض ده چې دا اصل منقوض دی په زيداً ضربت باندې ځکه چې فاعل ضمير متصل بالفعل دی او بيا هم مقدم نه دی په مفعول خلاصه دجواب يې دا ده چې تقديم دفاعل په دې موضع کښی مشروط دی په يو شرط هغه دا چې مفعول به متاخروي دفعل نه نو که متاخر نه وو بلکه متقدم وو په فعل لکه مثال مذکور، نو بيا پرې تقديم دفاعل واجب نه دی. **اووقع مفعوله الخ** دا موضع ثالث دی **ای مفعول الفاعل** دا تعين دمرجع دی اضافة دمفعول فاعل ته دوجې دادنی مناسبة نه دی ځکه چې فاعل او مفعول دواړه متعلقات دفعل دی يعنې دواړه معمولين دفعل دی **بعد الا** يعنې موضع ثالث دا دی چې مفعول واقع شوی وي بعد الانه ،نو تقديم دفاعل به پرې واجب وي **بشرط توسطها بينهما** دا دفع داعتراض ده چې دا اصل منقوض دی په ماضرب الا عمراً زيد باندې ځکه چې مفعول يعنې عمراً دلته پس دالا نه واقع دی او بيا هم فاعل پرې مقدم نه دی خلاصه دجواب يې دا ده چې تقديم دفاعل په دې موضع کښی هم مشروط دی په يو شرط هغه دا چې الا به په وسط ددواړو کښی

وي لکه ماضرب زيد الاعمراً او په ماده دنقض کښې الا په دا پرمقدم دی فلا يرد **في صورتي التقديم والتاخير** سوال په وخت دتوسط دالا کښې خو فقط تقديم دفاعل دی تاخير يې ممتنع دی ،نو تقديم او تاخير دواړه ذکر کول صحيح نه دی جواب مراد د تقديم نه تقديم واجبه دی او تاخير نه تاخير ممتنعه دی نو معنی داچې په صورة دتقديم واجبه دفاعل او تاخير ممتنعه دفاعل کښې فصح المعنى **اويعد معناها** موضع رابع دی .يعنې مفعول دفاعل چې واقع وي پس دمعنى دالا نه چې انماده ځکه چې انما په معنی دمااو دالاسره ده يعنې مفيد دپاره دحصر دی لکه انماضرب **زيد عمرواً وجب تقديمه** داجواب داذا دی **اي تقديم الفاعل على المفعول** داتعين دمرجع دی **في جمع هذه الصور** دابيان اجمالي دی اوتفصيل يې داقول دشارح دی **امافي صورة انتفاء الاعراب فيهما الخ**

دادليل دصورة اولى دی يعنې هرچې دی وجوب دتقديم دفاعل په صورة دانتفاء داعراب او قرينې دفاعلية او مفعولية کښې **فللتحرز عن الالتباس** دپاره داحتراز دالتباس نه يعنې په دې صورة کښې که چرې فاعل واجب التقديم ونه ګرځي نو پته به نه لګي چې فاعل څوک دی او مفعول څوک دی **وامافي صورة كون الفاعل ضميراًالخ** دادليل صورة ثانيه دی يعنې هرچې دی تقديم دوجوب دفاعل په صورة دکون دفاعل کښې ضمير متصل **فلمنافاة الاتصال الانفصال** دوجې دمنافاة نه په مابين داتصال او انفصال کښې ،کوم عبارت چې شارح ذکر که نو دادليل دی ، دپاره ديوبل دليل. نو مطلب يې دادی چې **انما وجب تقديم الفاعل على المفعول في هذه الصورة فلفوات المقصود.وهو الاتصال اى اتصال ضمير الفاعل بالفعل وانما فات الاتصال فلمنافاة الاتصال الانفصال**. حاصل داچې لازم به شي خلاف المفروض ځکه چې مفروض اتصال دضمير دفاعل دی دفعل سره.

وامافي صورة وقوع المفعول بعد الاالخ داليل دصورة ثالثه دی او هرچې دی تقديم دفاعل په صورة دوقوع دمفعول کښې پس دالاً نه ليکن په شرط دتوسط دالاسره په مابين دفاعل او مفعول کښې په صورة واجبه دتقديم دفاعل او صورة ممتنعه دتاخير دفاعل کښې نو دادپاره ددې چې منقلب نه شي حصر مطلوب **فان المفهوم الخ** دابيان دحصر مطلوب دی ،نو وايې چې مفهوم دماضرب زيد الاعمراً نه انحصار دضاربية دزيد دی په عمرو کښې يعنې ضاربية

دزید منحصر دی په عمرو کښې او بل څوک نه متجاوز نه دی سره د جواز ددې نه چې عمرو دې مضروب د شخص آخر هم وي دا معنی ددې مثال ده په صورة د تقدیم د فاعل کښې او معنی یې په صورة د تاخیر د فاعل کښې شارح بیانه کړیده بقوله **والمفهوم من قوله ما ضرب عمراً الا زید الخ** او مفهوم ددې قول نه یعنې چې مفعول مقدم شي په فاعل انحصار د مضروبیة د عمرو دی په زید کښې یعنې مضروبیة د عمرو منحصر دی په زید کښې یعنې دی د بل چا مضروب نه دی او جائزه ده چې زید ضارب د شخص آخر هم وي ظاهره ده چې دا معنی د مخکښې معنی بالعکس ده **فلو انقلب احدهما الخ** پس که چرې بدل شي یو صورت په بل صورت نو حصر مطلوب به بدل شي او خلاف مقصود به لازم شي . نو ځکه تقدیم د فاعل واجب وګرزیده **وانما قلنا بشرط توسطها الخ** دا بیان د فائدې د تقید دی په شرط د توسط د الا سره بینهما نو وایې چې مونږه بشرط توسطها اُووی **لانه لو قدم المفعول علی الفاعل مع الا الخ** ځکه چې که چرې مفعول مقدم شي په فاعل سره دالانه یعنې الا یې په وسط کښې واقع نه وه لکه ماضرب الا عمراً زید نو بیا حصر مطلوب نه بدلیږي چې انحصار د ضاربیة دزید دی په عمرو کښې ځکه چې **فالظاهر ان معناه انحصار ضاربیة زید فی عمرو** ځکه چې قانون دادی چې حصر په هغه شي کښې وي چې کوم متصل وي دالا سره او متصل دالا سره خو مفعول دی نو ددینه انحصار د ضاربیة دزید په عمرو کښې معلوم شو وهذا هو المطلوب **فلا ینقلب الحصر المطلوب** نو تقدیم فاعل واجب نه شه **لکن لم یستحسنه بعضهم الخ**.

دا دفع د توهم ده چابه وي چې ترکیب مذکور جائز دی نو مستحسن به هم وه ،فدفعه بقوله **لکن الخ** یعنې مستحسن نه دی ګڼړلی دی لره بعضو نحاة **لانه من قبیل قصر الصفة الخ** ځکه چې دا د قبیلې دانحصار د صفة (ضرب) نه دی مخکښې د تمامیدو د صفة نه .ځکه چې ضاربیة دزید دی او تکمیل د صفة په موصوف سره کیږي اودلته زید تا هنوز نه دی ذکر او انحصار د صفة یې راغی په عمرو کښې او بله داچې لازمه شوه استثناء د شیئینو په یو ې الی سره بغیر د حرف عاطف نه او داهم نه ده صحیح **وانما قلنا الظاهر ان معناه کذا الخ** دا بیان د فائدې ددې قول دی چې فالظاهر بناء علی قانونه چې کله الظاهر ذکر شي معرف باللام نو په دې کښې اشاره وي احتمال غیر ظاهر ته نو شارح هغه احتمال غیر ظاهر بیانوي نو وایې چې مونږه اُووی چې ظاهره داده چې معنی ددې مثال هغه ده چې ذکر شوه ځکه چې احتمال لري چې معنی ددې مثال په 1

صورة دتقديم دمفعول كښې سره دالانه داوي چې ماضرب احداً احد ألاعمروا زيد يعنې نه دى وهلې هيچاهيڅ يوكس لره مگروهلې دى عمرولره زيد . ، پس دامفيد گرزى دپاره دانحصار دصفة دهرواحد چې ضاربية دزيددى اومضروبية دعمرودى په بل كښې خودا هم خلاف المقصوددى ځكه چې مقصود دانحصاردصفة داحدهما دى چې ضاربية دزيددى په عمرو كښې فقط **واماوجوبُ تقديمه عليه في صورةوقوع المفعول الخ** دادليل دصورة رابعه كښې يعنې هرچې دى وجوب دتقديم دفاعل په مفعول باندې په صورة دقوع دمفعول كښې پس دمعنى دالانه چې انماده . ځكه چې حصرپه دې مقام دانماكښې په جزء اخيركښې وي پس مقصدپه انماضرب زيدعمراً كښې انحصاردضاربية دزيددى په عمروكښې .يعنې زيدنه دى وهلې مگرعمرولره نوكه چرې مؤخركړى شي فاعل ويقال انماضرب عمراً زيدنومعنې به بدله شي ځكه چې بيابه حصرراشي دمضروبية دعمروپه زيدكښې وهذا خلاف المقصود .

مواضع وجوب تاخير الفاعل:پس ددې نه مصنف هغه مواضع بيان كړيدي چې په هغې كښې تاخير د فاعل واجب وي دمفعول نه او داهم څلوردي كماقال **واذاتصّل به الخ** داموضع اول دى **اى بالفاعل** داتعين دمرجع دى **ضميرُمفعولٍ** يعنې كله چې متصل شي په فاعل پورې ضمير دمفعول نوتاخيردفاعل به واجب وي وسياتي وجهه .لكه ضرب زيدا غلامُه پس غلامه فاعل دى اوضميرمتصل په ده پورې راجع دى مفعول متقدم ته چې زيداً اووقعَ داموضع ثاني دى **اى الفاعل** داتعين دمرجع دى **بعدالا** يا واقع شي فاعل بعدد الانه **المتوسطةِ بينهما** دادفع دسوال ده چې داضابطه منقوضه ده په ماضرب الازيدعمراً باندې ځكه چې فاعل واقع دى پس دالانه اوبيايې هم تاخيرواجب نه دى خلاصه دجواب يې داده چې مراددالانه هغه ده چې متوسطه وي په مابين دفاعل اومفعول كښې په صورة ممتنعه دتقديم الفاعل اوصورة واجبه دتاخيرالفاعل كښې لكه ماضرب عمر االازيد **اووقعَ الفاعل بعدمعناها** داموضع ثالث دى ، يعنې ياداچې فاعل واقع شي پس دمعنى دالانه . چې انماده .**اى انماضرب عمراًزيدواتصل مفعولَه به** داموضع رابع دى يعنې يامتصل شي مفعو ل دفاعل په فعل پورې **بان يكون المفعولَ ضميرًالخ** دابيان داتصال دمفعول دى په فعل پورې مطلب داچې مفعول ضمير متصل بالفعل وي **وهواى الفاعلُ** داتعين دمرجع دى **غيرُضميرمتصلٍ** به اوحال دادى چې فاعل ضميرمتصل بالفعل نه وي .ځكه چې كه فاعل هم ضميرمتصل وي لكه ضربتُك نوبياتقديم

دفعل واجب دی **وجب تاخیره** دا جواب دا ذا دی ای تاخیر الفاعل عن المفعول دا تعین
د مرجعین دی د ضمیرینو. چې یو ضمیر مستتر دی په وجب کښې او بل ضمیر بارز دی په تاخیره
کښې **فی جمیع هذه الصور** دا بیان اجمالي وو او بیان تفصیلي یې مع الدلائل دا دی **اما فی صورة**
اتصال ضمیر المفعول به الخ دا دلیل د صورة اولی دی یعنې په دې صورة کښې تاخیر د فاعل (
او تقدیم د مفعول) ځکه واجب دی. چې ضمیر راجع دی مفعول ته. نو که مفعول هم مؤخر شي لازم
نه شي اضمار قبل الذکر لفظاً او رتبةً لفظاً خو ظاهره ده او مرتبه د مفعول هم مؤخره ده د فاعل نه
وهذا لایجوز **واما فی صورة وقوعه بعد الا او معناها الخ** دا دلیل د صورة ثانیه او ثالثه دی. یعنې
هر چې دی تاخیر د فاعل په دې دواړو صورتونو کښې نو د پاره د دې چې منقلب نه شي
حصر مطلوب ځکه چې مطلوب په دواړو کښې انحصار مضروبیة د عمرو دی په زید کښې کما
بین سابقاً **واما فی صورة کون المفعول ضمیراً متصلاً الخ** دا دلیل د صورة رابعه دی او هر چې دی
تاخیر د فاعل په دې صورت کښې نو د وجې د منافاة د اتصال نه د انفصال سره او د انفصال راځي
په توسط د فاعل سره (چې هغه ضمیر متصل نه دی) په مابین د مفعول (یعنې ضمیر متصل)
او فعل کښې او د اخلاف مفروض ده **بخلاف ما اذا کان الفاعل**.
ایضاً ضمیراً متصلاً الخ. د دې عبارت فائده بیان شویده په ضمن د سوال او جواب کښې انفاً فتذکر.

حذف د عامل رافعه د فاعل نه: پوهه شه چې حذف د عامل رافعه د فاعل نه په دوه قسمه دی
یو جوازی او بل وجوبې د حذف جوازی د پاره، قیام د قرینې کافي دی او د حذف وجوبې د پاره قرینې
سره قائم مقام د عامل رافعه هم ضروري دی نو مصنف وایې **وقد یحذف الفعل** دا بیان د حذف
جوازی دی **الرافع للفاعل** دا دفع د سوالینو ده یو دا چې مبحث د فاعل تقاضا کوي د بحث
د احوالو د فاعل او حذف د فعل خو د احوالو د فعل نه دی نو لازم شه خروج د بحث نه دوهم دا چې د فاعل
نه لکه څنګه چې فعل حذف کیږي دغه شان ترې شبه فعل هم حذف کیږي نو لازم شه قصور په متن
کښې حاصل د دفع یې دا دی چې مراد د فعل نه عامل رافعه للفاعل دی من قبیل ذکر الخاص و ارادة
العام او عامل رافعه د متعلقاتو د فاعل نه دی او بحث د متعلقاتو د شي نه بحث وي د هغې شي نه
فلا یلزم الخروج عن البحث او دغه شان شبه فعل ته هم شامل دی فلا یلزم القصور البته ذکر د فعل یې
د وجې د اصالة نه کړیدی **لقیام قرینة** پوهه شه چې لام د پاره د وقت دی یا لفظ د وقت مقدر دی په
عبارت کښې فالتقدیر لوقت قیام قرینه او لام اجلیه نه دی ورنه حذف به واجب وګرزی په وخت

دقرينې کښې ځکه چې تخلف دمعلول دعلة نه جائزنه دی . **دالة علی تعین المحذوف** . دادفع دسوال ده چې رفع دفاعل دی قرينه وګرزی په حذف دعامل رافعه ځکه دفع اثر دی او دهر اثر دپاره لابدی وی د مؤثر نه نو کله چې مؤثر يعنی عامل رافعه ملفوظ نه وونو خامخابه محذوف وي حاصل ددفع دادی چې مرادنفس قرينه نه ده بلکه قرينه چې دلالة کوي په تعين دمحذوف والرفع ليس بهذه المثابة، **جوازًحذفًا جائزاً** ، په دې کښې اشاره ده وچې دنصب دجوازاً ته ، يعنې دی منصوب دی بنابرمفعول مطلق په اعتباردموصوف سره چې حذفًادی اوشارح دجوازاً تفسيرپه جائزاسره وکه دپاره دفع اعتراض چې جوازاصفة دی دپاره دحذفا ،اوصفة واجب الحمل وي په موصوف اودلته حمل نه دی صحيح فدفع بقوله جائزاً اوداځکه چې حذف الفعل يوحکم دی دا حکمامودفعل نه اوتوصيف په احکامونه کيږي مګرپه اعتباردمستقاتوسره لکه ويلی کيږي چې هذاالحکم جائزوهذاالحکم واجب ومستحب وهکذا او داقول دفقهاء چې هذاالحکم فرض په معنی دمفروض سره دی حلاصه داشوه چې مصدر مبني للفاعل دی **فصح الحمل ای فیما کان جواباًالخ** دابيان دمفعهوم کلي دی دپاره دمثل دزيد ، دپاره ددفع توهم د تخصيص په زيدپورې محقق دادفع دسوال ده چې مقصوددمثال نه توضيح دممثل وي اودا حاصليږي په مثال واحدسره نومصنف دوه مثالونه ولې ذکرکړل . حاصل ددفع يې دادی چې تعدد مثال مبنی دی په تعدد دممثل باندې ، يعنې کله فاعل واقع وي په جواب دسوال محقق کښی اوکله په جواب دسوال مقدرکښی **فالمثال الاول للاول والثانی للثانی لمن قال مَنْ قَامَ** يعنې چې وويلی شي چې زيدپه جواب دهغه چاکښی چې ووايې چې من قام په داسې حال کښی چې سوال کوونکې وي دهغه ذات په باره کښی چې قائم وي په هغه پورې قيام .پس جائزه ده چې ته اووايې په جواب دهغه کښی زيدپه حذف دقام سره اوقرينه يې سوال دسائل دی ځکه چې مذکورفی السوال کالمعادفی الجواب وي **ای قام زید** دابيان دعامل دی **وانماقدرالفعل دون الخبرالخ** دادفع داعتراض ده چې جائزه ده چې زيدمبتدا شي اوخبريې محذوف وي ای زيدقام نودادی دباب دحذف الخبرنه وي نه دباب دحذف العامل نه خلاصه دجواب يې داده چې فعل مقدرکړی شئ اوخبرمقدرنه کړی شئ ځکه چې په تقديردخبرسره لازميږي حذف دجملې ځکه چې قام په زيدقام کښی جمله ده اوپه تقديردفعل سره لازميږي حذف داحدالجزئين د جملې يعنې په دې تقديرکښی تقليل دحذف دی ،والتقليل فی الحذف اولی من تقضيره **وکذايحذف الفعل جوازاً** په دې کښی اشاره ده تعين دمعطوف عليه ته

اوعمل ته په قاعده مشهوره دعطف اودا حذف جوازی مثال ثاني دی نوحذف کولی شي عامل رافعه دفاعل نه جوازاً په هغه ځای کښی چې واقع وي په جواب دسوال مقدر کښی **نحو قول الشاعر في مرثية يزيد بن نهشل** مرثیه بیانول دصفا تو دیو سړي دی پس دموت دهغه نه اومرثیه کونکی ضرار بن نهشل دی دیز یدبن نهشل رور **ليُبكَ علی البناء للمفعول** دا تحقق صرفی دی دپاره دتعین دصیغې چې لیُبک صیغه دامرغائب مجهول ده نه ده معلوم اوفائده یې شارح بیانوي په مابعد کښی **يزيدُ مرفوع علی انه مفعول مالم يسم فاعله** په دې کښی اشاره ده اعراب دیزید ته چې رفع ده اووجې درفعې ته چې دانائب فاعل دی دپاره دلیُبک **ضَارِعٌ ای عاجزٌ ذليلٌ** داتعین دماهو المراد دی دضارع ځکه چې ضارع په معنی دمشابه هم راځي لکنه غیرمراد ههنا **وهو فاعل الفعل المحذوف** په دې کښی اشاره ده وجې درفعې دضارع ته **ای يبكيه ضَارِعٌ** دابیان دعامل محذوف دی اوقرینه پرې سوال مقدردی کان سائلا یسئل من یبکیه فاجاب ضارع ای یبکیه ضارع **واما علی رواية ليبك يزيدَ الخ** دابیان دهغې فائدې موعود دی نووایې چې په روایة دلیبک یعنې په صیغې دمعلومی اونصب دیزید سره بنابرمفعولیة دامثال دمانحن فیه نه نه دی ځکه چې فعل په دې صورت کښی مذکوردی **لخصومة متعلق بضارع** په دې کښی اشاره دیته چې داظرف لغوه دی متعلق دی په ضارع پورې ضارع یې عامل دی اګرچې اعتمادیې نه کړی په یو داشیاء سته لیکن دظرف دپاره ادنی رائحه دفعل کافی ده **ای يبكيه الخ** دابیان دحاصل المعنی دی دبیت مذکوریعنې ژړادې وکړی په یزیدباندې هغه څوک چې ذلیل اوعاجز دی دمقابلې ددشمنانونه **لانه كان ظهيرًا الخ** داعلة دبکاء دی یعنې ځکه چې یزید مدد ګاروودپاره دعاجزانو اوذلیلو خلقو واخرالبیت **وَمُخْتَبِطٌ مما تُطِيحُ الطوايح** داعطف دی په ضارع باندې ای لیبک مختبط الخ **والمختبط الخ** دا توضیح دمشکلو الفاظوده نومختبط اسم فاعل دی ویلی شي هغه چاته چې بلاواسطه سوال کولی شي او اطاحة باب افعال دی اهلاک ته وایې اوتطیح مضارع ده دباب افعال اوالطو ائح جمع دمطیحة ده خلاف قیاس دایې ځکه اووی چې طوائح په وزن دفواعل دی اوپه دی وزن باندې دفاعل مؤنث دمجردُ جمع راځي نه دمزیدلکه ناصرة او نواصر اومطیحة خوپه وزن دمفعلة من باب المزید دی نوجمعیة یې په وزن دفواعل صحیح نه دی نوشارح اووی چې دا جمعیة خلاف قیاس دی اونظیریې لواقح دی چې جمع دملقحة ده خلاف قیاس لواقح د﴿ربیع﴾ یعنې دپسرلې

خوږوهو اګانو ته وايې او مما متعلق دی په مختبط پورې او ما مصدریه ده **ويُكِيهـا ايضـا الخ** دا بيان دحاصل المعنى دى يعنې ژړادی وکړی په يزيد باندې هغه څوک چې سوال به يې کولو بالذات په وجه د اهلاک دمهلکاتو نه مال دده لره اوذرائعو دتحصيل دمال لره چې زراعة بقرو غيره دی **لانـه كـان مُعطى السائلين الخ** دا يې علة دی.

وقد يحذف لفعل الرافع الخ دا تعين دمعطوف عليه دی دپاره دوجوبًا او اشاره ده عمل ته په قاعده مشهوره عطف **اي حذفًا واجبًا** په دې کښې اشاره ده ديته چې وجوبا منصوب دی بيابر مفعول مطلق دپاره ديحذف په اعتبار دموصوف مقدر سره چې حذفًا **في مثل قوله تعالى** دا دفع دسوال ده چې مثل مضاف دی او **وان احدمن المشركين الخ** يې مضاف اليه دی حالانکه مضاف اليه مفرد وی.

او دا جمله ده جواب يې دادی چې مضاف اليه مقدر دی چې قوله تعالى او دا مفرد دی **اي في كل موضع الخ** دا بيان دمفهوم کلي دوان احد الخ دی دپاره ددفع دتوهم دتخصيص په دې اية کريمه پورې نو وايې چې مراد په مثل ددې قول دالله پاک سره هر هغه موضع دی چې فعل په کښې حذف شوی وي او بيا يې تفسير شوي وي دپاره درفع دهغه ابهام چې ناشي وي دحذف نه نو په دا سې موضع کښې حذف دفعل واجب دی **فـانه لوذكرَ المفسر الخ** ځکه چې که مفسر بالفتح يعنې فعل محذوف ذکر شي نو مفسر (بالکسر) به مفسر پاتې نه شي بلکه بې فائدی به وګرزی او لازم به شي جمع په مابين دمفسر او دمفسر کښې **بخلاف المفسر الذي فيه ابهـام بدون حذفه الخ**.

دا دفع داعتراض ده چې بيا په دی صحيح نه شه دا قول چې **جـائنی رجـل ای زيد** ځکه چې دلته هم جمع دمفسر او دمفسر په مابين کښې راغلی ده.

خلاصه دجواب يې داده چې ابهام په دوه قسمه دی يو هغه چې دحذف په وجه وي او بل هغه چې دبلې وجې نه وي لکه نکارت مثلاً نو په اول صورة کښې جمع دمفسر او مُفسر جائزه نه ده او په صورت ثاني کښې جائز ده وجه يې داده چې په اول صورة کښې مفسر او مفسر شي واحد وي نو که دواړه ذکر شي نو لازم به شي لغوية او په صورة ثاني کښې دواړه لفظ واحد نه وي نو لغوية نه لازميږي **فتقدير الاية الخ** دا تشريح دمثال مذکور ده **فـاحَدٌ فيهـا فـاعلُ فعلٍ محذوفٍ الخ** دا تطبيق دمثال دی مع الممثل ، يعنې احد په دی اية کښې فاعل دفعل محذوف وجوبًا دی چې هغه استجارک (اول) دی تفسيريې شويدی په استجارک (ثانی) سره **وانمـا وَجَبَ حذفُه الخ** دا بيان دسد مسد دعامل محذوف دی او قرينه

يې دخول دان شرطيه دی په اهم ځکه چې ان شرطيه فعل غواړي اودلته داخل دی په اسم نومعلومه شوه چې فعل مقدر دی **ولايجوزان يكون احدٌالخ**

دادفع داعتراض ده چې ممكنه ده چې احد مرفوع وي بنابر ابتدائيت نه بنابر فاعلية نو مثال صحيح نه شئ خلاصه دجواب يې داده چې دانه شي كيدی ځكه چې دخول دحرف شرط په اسم باندې ممتنع دی ، بلكه دحرف شرط دپاره لابدی ده دفعل نه نو فعل مقدر دی او احد يې فاعل دی يعنې مبتدا نه ده **وقديُحذَفـان اي الفعلُ والفـاعلُ** او كله حذف كولی شي فعل او فاعل دواړه **معًـادون الفـاعلِ وحدهٗ** يعنې حذف يواځې دفاعل نه دی صحيح .ځكه چې نسبة الی الفاعل جزء دی دمفهوم دفعل نه اونسبة قائم وي په طرفينو پورې ،نو كه فاعل وحده حذف شي نو نسبة به بغير دطرفينو نه راشي حالانكه دامحاله ده البته كه دواړه حذف شي معًا يا فعل وحده حذف شي نو بيا دانقصان نه لازميږي ځكه چې پدې دواړو صورتونو كښې نسبة هم حذف .كيږي **في مثل نَعَمْ جوابًالمن قـال أقـام زيدٌ**اي نعم قام زيد **فَحذِفَتِ الجملةُ الـخ** پس جمله حذف شوه اونعم ذكر شئ په ځای دهغې اودا حذف جائزدی دقرينې په وجه او قرينه پرې سوال دسائل دی ځكه چې مذكور في السوال كالمعادفي الجواب وي او واجب نه دی **لعدَمِ قيـامِ مـايُؤدي موداهٗفي مقـامِه** دوجې عدم قيام دمؤَدی دقام زيد نه په مقام دقام زيد ځكه چې قائم مقام دقام زيد نعم دی او نعم مفيد دهغه فائدی نه دی دكومې دپاره چې جمله مفيده وي چې هغه نسبة تام دی ،نو په دې وجه سد مسد موجود نه شئ نو حذف مذكور واجب ونه ګرزيده **كالمُفسِرِ**(باكسر) چې دی قائم مقام دمفسر(بالفتح) دی **فيلـزمُ في الكلامِ استدراكٌ** تردې چې كه حذف نه شي نو په كلام كښې به استدراک لازم شي يعنې دانقصان دلته نشته نو ځكه حذف واجب ونه ګرزيده **وانمـاقدرتِ الجملةُالفعليةُالخ** دادفع داعتراض ده چې نحاةُ جمله فعليه ولې مقدره كړه خلاصه دجواب يې داده چې جمله فعليه مقدره شوه يعنې قام زيد او جمله اسميه يعنې زيد م قام مقدره نه شوه په دی وجه چې په سوال كښې جمله فعليه ذكرده نو په جواب كښې هم جمله فعليه ذكرشوه دپاره ددې چې مطابقة راشي په مابين دسوال او جواب كښې او مطابقة مطلوب دی نو ترک يې مناسب نه دی.

بحث التنازع

هرکله چې فارغ شۀ مصنف دبحث دهغه فاعل نه چې غیرمتناع فیه وونوشروع یې وکړه په هغه فاعل کښې چې په هغې کښې دفعلینوتنازع وي **فقال وَاِذاتنازَعَ الفعلان**

سوال :بحث شروع دفاعل دی اوتنازع صفة دفعلینودی نولازم شۀ خروج دبحث نه ؟

جواب :فاعل په دوه قسمه دی . یوهغه چې تنازع پکښې نه وي اوبل هغه چې تنازع پکښې وي نوچې کله مصنف داول نه فارغ شۀ نوپه ثاني کښې شروع وکړه بناپه دې تنازع داحوالودفاعل نه شوه فلایلزم الخروج .

سوال :بحث دتنازع دفعلینو فی الفاعل خوصحیح شۀ نوتنازع دفعلینو فی المفعول یې ولې ذکرکړه ؟

جواب :طرداً للباب **بل العاملان** دادفع دسوال ده چې تنازع لکه څنګه چې په فعلینوکښې متحقق کیږي نودغه شان په شبه فعلینوکښې هم لکه زیدمُعطٍ ومُکرِمٌ عمراً پس هرواحددمعطٍ اومکرم نه شبه فعل دی اوتنازع یې کړیده په عمراً کښې اولکه بکرکریم وشریفٌ ابوه نوهر واحددکریم اوشریف نه شبه فعل دی اوتنازع یې کړیده په ابوه کښې نوم لازم شۀ قصورفی المتن خلاصه دجواب یې داده چې مراددفعلینونه عاملین دي نوبل دپاره دتفسیردی یعنې ای العاملان یادپاره داعراض دی د خصوص نه عموم ته ،**اذاالتنازعُ یجری الخ**. دابیان د فائدی دتفسیر دی په بل العاملان سره چابه وی چې هرکله مراد عاملین وونو مصنف فِعْلانِ ولی ذکرکړه ، **فاجاب الشارح بقوله،وَاقْتَصرَعلی الفعل الخ** یعنې فِعلانِ یې دوجې دقوة اواصالة فی العمل نه ذکرکړیدی لانه وضع للعمل .

وانماقال اَلفعلان الخ.دادفع داعتراض ده چې تنازع لکه څنګه په فعلینوکښې متحقق کیږي نودغه شان په زیاتو کښې هم راځي لکه کماصلیتَ وسلمتَ وبارکتٌ ورحِمتَ علی ابراهیمَ

هر واحد ددې افعالو نه تقاضا کوي ددې چې ابراهیم دې ځما د پاره مفعول به واقع شي نو صیغه دتثنیي ذکر کول صحیح نه دی خلاصه دجواب یې داه چې ذکر دفعلان د تثنیي د پاره دحصر نه دی بلکه دا تصریح ده په عدد اقل دمتنازعینو یعني کم ازکم دوه به وي **ظاهراً** پوهه شه چې ظاهراً منصوب دی بیابر مفعولیت دپاره دتنازع که څوک و وایي چې تنازع باب دتفاعل دی او تفاعل لازمي دی نو ظاهراً ته مفعول ویل غلط دي جواب دادی چې دا هغه باب تفعل دی چې نقل دی دباب مفاعلی نه هغه مفاعله چې متعدي وي مفعولینو ته او قانون دادی چې کله تفاعل منقل شي دداسې مفاعلې نه نو مفعول اول به فاعل گرزی دپاره دتفاعل او مفعول ثاني په خپل حال پاتې کیږي او دا ځکه چې په باب تفاعل کښی دواړه متشارکین معرب وي په اعراب درفع سره مثال یې لکه جَاذبتهُ الثوبَ دی نو جاذب باب مفاعله ده ضمیر دغائب یې مفعول اول دې او الثوب یې مفعول ثانی دی چې کله نقل شی باب تفاعل ته نو مفعول اول به فاعل وگرزي او مفعول ثاني به په خپل حال پاتې شي نو ویلی کیږي تَجَاذَبْنَا ثوبًا . نو دغه شان گویا لکه چې تنازع په اصل کښی نَازَعَ فِعلٌ فَعلاً اسمًا ظاهراً نو چې کله نقل شۀ تفاعل ته نو مفعول اول اصل فاعل وگرزیده او ظاهراً په خپل حال منصوب پاتې شۀ فافهم **اي اسمًا ظاهراً** دا تقدیر دموصوف دی دپاره دظاهراً او مقصد پکښی تنبیه ده په دې چې مراد دظاهر نه مقابل دمضمر دی نه دخفی **اي بعد الفعلین** دا تعین دمرجع دی **اذا المقدمُ علیهمَا او المتوسطُ بینهُما الخ**

دابیان دفائدی دتقید دبعد همادی یعني اسم ظاهر متنازع فیه به واقع وي بعد الفعلین ځکه چې هغه اسم ظاهر چې مقدم وي په فعلینو یا په وسط دفعلینو کښی وي نو هغه به معمول دفعل اول وي ځکه چې مستحق دعمل په دغه اسم کښی فعل اول دی ځکه چې فعل اول طالب دی او اسم ظاهر مطلوب دی او مزاحم دفعل اول مفقود دی نو په دغه اسم ظاهر کښی گنجائش دتنازع نشته ومعنی تنازعهما الخ غرض دشارح ددې عبارت نه دفع داعتراض ده چې نسبة دتنازع فعلینو ته نه دی صحیح .ځکه چې تنازع متحقق کیږي په ذوی الروح کښی او فعلین ذوی الروح نه دی خلاصه دجواب یې داده چې مراد دتنازع نه توجه ده نو سوال وراد شۀ چې توجه ماخوذه ده دمواجهي نه او مواجهه روبرو کیدلو ته وایي او دا هم خاصه دذوی الارواحو ده ، فدفع بقوله **بحسب المعنی** یعنې مراد توجه بحسب المعنی ده او توجه بحسب المعنی معارضه ده او معارضه په فعلینو کښی هم را تلی شي **ویصح ان یکون هو معمو قوعه الخ** او صحیح وي دا چې دغه اسم ظاهر باجودیکه چې واقع دی په دغه موضع کښی گرزیدی شي معمول دپاره دهر

واحد دفعلينو په طريقي دبدلية سره دپاره ددې چې نزاع متحقق شي نه په طريقي داجتماع سره ځکه چې بيا به لازم شي توارد دمؤثرينو په اثر واحد باندې وهذا محال **فحينئذٍ لا يتصور تنازعهما في الضمير المتصل الخ** په دې اشاره کښې ده ديته چې دا قول دمصنف چې ظاهر ادی قيد احترازی دی په دې سره احتراز راغی دضميرنه نو په ضمير کښې تنازع نه متحقق کيږي برابره خبره چې ضمير متصل وي او که منفصل تفصيل يې شارح بيان کړيدی بقوله **لان المتصل الواقع بعدهما الخ** يعني هغه ضمير متصل چې واقع وي بعدهما خامخا به متصل وي په فعل ثاني پورې اودا په دې کښې چې متصل بالفعل الثاني وي نو دی معمول دفعل اول نه شي کيدی .ځکه چې که چرې دی معمول دفعل اول وګرزی نو لازم به شي انفصال د ضمير متصل دخپل عامل نه چې فعل ثاني دی وهذا محال **واما الضميرُ المنفصلُ الواقع الخ** او هر چې دی ضمير منفصل چې واقع وي بعدهما لکه ماضرب واکرم **الا انا ففيه تنازع الخ** پس په دې کښې تنازع شته ليکن ممکن نه ده قطع دتنازع په هغه طريقي سره چې کومه طريقه دقطعې ده په نزد دنحاة چې هغه اضمار دفاعل دی په فعل اول کښې په نزد دبصريانو او اضمار دفاعل دی په فعل ثاني کښې په نزد دکوفيانو اودا طريقه نامکنه ده **لانه لايمكن اضمارُه مع الا الخ** دا تفصيلي دليل دی دپاره دماقبل ،نو خلاصه يې دا ده چې دا اضمار دپاره په دې صورت کښې دوه طريقي دي يو اضمار سره د الانه او بل بغير د الانه او دواړه نه دی صحيح اضمار سره د الانه ځکه نا ممکن دی چې الا حرف دی او اضمار يعني استتار دحرف په فعل کښې ممکن نه دی او اضمار د انا بغير د الانه هم نه دی صحيح لفساد المعنی **لانه يفيدُ نفي الفعل عن الفاعل الخ** ځکه چې اضمار د انا بغير د الانه مفيد دی دپاره دنفي دفعل دفاعل نه ځکه چې معنی يې په دې تقدير داده چې نه دی وهلی ما . حالانکه مقصود اثبات دضرب دی متکلم لره په طريقي دنفي او اثبات سره اودا به هله وشي چې ضمير د انا سره د الانه مستتر شي.

ومراد المصنف بالتنازع الخ دا تتمه ددليل ده يعنې په ضمير منفصل کښې خو بې شکه تنازع متصوره ده ليکن مراد دمصنف په تنازع سره په دې مقام کښې هغه ده چې دقطعي طريقه يې اضمار دفاعل وي او په ضمير منفصل کښې اضمار يعنې استتار کيدی نه شي **فلهذا اختصهُ الخ** پس په دې وجه يې تنازع مختص کړه په اسم ظاهر پورې **واما التنازعُ الواقع في الضمير المنفصل الخ** پوهه شه چې دا جمله مستانفه ده واقع ده په جواب دسوال دسائل کښې کان قائلا يقول چې که چرې تنازع واقع شوه په ضمير منفصل کښې نو دهغې دقطعي دپاره څه طريقه شته که نه .

فاجاب بقوله واما التنازع الخ یعنې هغه تنازع چې واقع وي په ضمیر منفصل کښې نو په هغې کښې درې مذاهب دی دیو دکسائی اوبل دفراء اوبل داکثرو. تفصیل یې دادی چې په نزد دکسائي به قطع کولی شي په حذف سره نوویلی کیږي به ماضرب الاانا واکرم الاانا ځکه حذف ضمیر سره دالانه جائزدی اومذهب دفراء دادی چې دواړه فعلین به عمل کوي معًا. نولازمیږي په دې تقدیر توارد دعلتینو مستقلتینو په معمول واحد باندې لیکن داجائزدی عند الضرورة. اوداکثرونحاة په نزد قطع ددې ممکنه نه ده ځکه چې طریقه یې اضماردی عندهم وهو ممتنع کماعرفت (سوال) په ماضرب واکرام الاانا کښې تنازع محتققه ده اوداکثرو په نزد یې قطع ناممکنه ده نو ددې ترکیب څه حکم دی. جواب دامثال دوی محمول کړیدی په مذهب کی یې دوجې دضرورت نه.

دتنازع صورتونه: پوهه شه چې دتنازع درې صورتونه دی ظاهراً اوپه حقیقة کښې څلوردی دوه متوافقین اودوه متخالفین یو دتنازع دفعلینو ده په فاعلیة داسم ظاهرکښې دوهم تنازع دفعلینو ده په مفعولیة داسم ظاهرکښې دادواړه ،متوافقین دی دریم تنازع ده په فاعلیة اومفعولیة داسم ظاهرکښې نوبیاددې دوه صورتونه دی یو داچې فعل اول تقاضادفاعلیة داسم ظاهرکوي اوفعل ثاني دمفعولیة اوبل عکس ددې دادواړه متخالفین دی والیه اشاره المصنف بقوله فقد یکونان فاتفصیلیه ده دا تفصیل دی دتنازع مذکوره اجمالاسابقابقوله واذاتنازع الفعلان الخ اوفیختار البصریون یې جزاء ده ای تنازع الفعلان الخ داتعین دمرجع دی تنازعُ مصدرمدلول دتنازع (فعل ماضی) دی نواضمارقبل الذکرلازم نه شۀ بلکه دادقبیلې داعدلواهواقرب للتقوي نه دی فی الفاعلیة عام دی که حقیقةً وي اوحکمًانودامفعول مالم یسم فاعله ته هم شامل دی بأنَ یقتضی کلُ منهما الخ. یعنې تنازع فی الفاعلیة هغه ده چې هریوفعل تقاضاکوي دفاعلیة داسم ظاهرنوبناپه دې دادواړه فعلین متفق فی اقتضاء الفاعلیة دی مثل ضربنی اواکرمنی زیدنوضربني وایې چې زیددی ځمافاعل شي اواکرمني وایې چې ځمادی شي وقدیکون تنازعُهما فی المفعولیة داصورت ثانیه دی بأن یقتضی کلُ منهما الخ دایې بیان دی یعنې چې هرواحد دفعلینو تقاضاکوي دمفعولیة داسم ظاهر وقدیکون تنازعُهما فی الفاعلیة الخ داصورت ثالثه دی چې حامل د،دووصورتونودی وذلك یکونُ علی وجهین.

دادفع داعتراض ده چې ذکرد مختلفین په مابعد کښې لغوه دی ځکه چې اختلاف دفعلینو معلوم

شۀ ددې قول دمصنف نه چې فی الفاعلیة والمفعولیة دی خلاصه ددفع یې داده چې په دې صورة ثالثه کښې وجهین دی یوه دا تفاق ده او بله دا ختلاف او مراد خمونږ وجه ثاني ده نو دپاره دتعین دمراد خپل یې قید دمختلفین ذکر کړیدی وبینه الشارح بقوله **وذلك یکون الخ** نو وایې چې دا قسم مشتمل دی په دوه وجهو **احدهما ان یقتضی کل منهما الخ** نو وایې چې هر واحد دفعلینو تقاضا وکړی دفاعلیة دیو اسم ظاهر او دمفعولیة دبل اسم ظاهر. **فیکونان متفقین الخ** پس دا دواړه فعلین متفق فی الاقتضاء دی لکه ضرب واهان زید عمراً هر واحد دفعلینو تقاضا کوي دفاعلیة دزید او دمفعولیة دعمرو چابه وی چې حصر دتنازع په صورو ثلثو کښې باطل شۀ دوجې دوجود دقسم رابع نه فاجاب بقوله **ولیس هذا قسماً ثالثاً الخ** یعنې حصر باطل نه دی ځکه چې دا قسم ثالث دتنازع نه دی بلکه دا اجتماع دقسمینو اولینو دی **وثانیهما ان یقتضی الخ** او دوهمه وجه داده چې احد الفعلین تقاضا وکړی دفاعلیة دا اسم ظاهر. او فعل اخر تقاضا وکړي دمفعولیة ددغه اسم ظاهر بعینه او شک نیشته په اختلاف دا قتضاء دفعلینو کښې په دې صورت کښې او دا هغه قسم ثالث دی چې مقابل دا ولنو صورتونو دی فقوله **ومختلفین لتخصیص هذه الصورة الخ** پس دا قول دمصنف چې مختلفین دي دپاره دتخصیص ددې قسم ثالث دی ارادةً یعنې **قد یکون تنازع الفعلین الخ** غرض دشارح تنبیه ده په دې چې مختلفین منصوب دی بنابر حالیة نو حال عامل او ذوالحال غواړي نو شارح دهغې تعین وکۀ چې ذوالحال ، فعلین ، دی او عامل یې تنازع دی چې مستفاد دې دضمیر دقد یکون نه چې راجع دی تنازعُ ته چې مدلول دتنازع دی **وذلك لایتصور الخ** او دا قسم نه متصور کیږي خو په هغه وخت کښې چې اسم ظاهر متنازع فیه واحد وي چابه وې چې مصنف دقسم ثالث دپاره مثال ولې ذکر نه کۀ فاجاب بقوله **وانما لم یورد مثالاً للقسم الثالث الخ** یعنې مصنف ددې دپاره مستقل مثال ځکه ذکر نه کۀ چې اخذ یې دمثالینو سابقینو نه اسان دی په دې شان سره چې یو فعل دیو مثال نه اخذ کړی شي او بل دبل دمثال نه نو دا به قسم ثالث وګرزي **وذلك یتصور علی وجوه الخ** دا جواب ثاني دی ددغه سوال نه چې دقسم ثالث دپاره مثالونه متعدد دی تردې چې شپاړس ته رسي ۸ .عند البصرین او اته ۸ . عند الکوفیین نو دټولو په ذکر کولو سره تطویل لازمیده او دبعض په ذکر کولو سره ترجیح بلا مرجح لازمیده نو ځکه یې ترک کۀ البته شارح دبصریانو دمذهب مطابق څلور مثالونه ذکر کړیدي صراحةً او څلور ضمناً دوی عمل

فعل ثاني ته ورکوي هغه دادی ضربني وضربتُ زیداً الخ او دا اخذیږ په دې طریقي سره کړيدی چې یو فعل یې دیو مثال نه اغستی دی او بل دبل مثال نه او رافع یې مقدم کړیدی په ناصب باندي او اسم ظاهر منصوب دی بنا په مذهب دبصریانو چې دوئ عمل فعل ثاني ته ورکوي وغیرذلك ممایکون الاسمُ الظاهرُ مرفوعًا په دې کښی اشاره ده څلورو نورو مثالونو ته یعنې هم دغه مثالونه دي خو ناصب په پکښی مقدم وي لکه ضربت وضربني زید وغیره او اسم ظاهر مرفوعه دی بنا په مذهب دبصریانو او دامثالونه په نزد دکوفیانو هم کیدی شي په دې شان سره چې عمل ورکړی شي فعل اول ته نو په کومو مثالونو کښی چې اسم ظاهر منصوب وو هغه به مرفوع وي او په کومو کښی چې مرفوع وو نو هغه به منصوب وي مختاره مذهب دبصریانو دی نو ځکه شارح د، دوی دمذهب مطابق مثالونه ذکر کړل.

تفصیل المذاهب: پوهه شه چې په صورت دتنازع دفعلینو کښی دهریو فعل عمل کول په اسم ظاهر کښی جائزدی په اتفاق دبصریانو او کوفیانو، خلاف ثابت دی فراء لره په هغه صورت کښی چې فعل اول تقاضا دفاعل کوي نو په دې صورت کښی دی عمل دثاني ممتنع ګنړی او وایې چې عمل دفعل اول واجب دی وسیاتی) البته په اختیار او غوره والی کښی اختلاف دی، په مابین دبصریانو او دکوفیانو کښی. نو بصریان وایې چې عمل دفعل ثاني غوره دی سره دجواز دعمل دفعل اول نه کوفیان وایې چې عمل دفعل اول غوره دی سره دجواز دعمل دفعل ثاني نه کمابینه المصنف بقوله فیختارُ النحاةُ البصریون الخ تقدیر دالنحاة اشاره ده موصوف ته لِقُربِهِ الخ دا دلیل د اختیار دی یعنې غوره عمل دفعل ثاني دی ځکه چې دې قریب دی اسم ظاهر ته یعنې فعل ثاني اقرب دی نو دی اقدر دی په اخذ دمعمول دوهم دلیل یې داده چې په دې تقدیر فاصله نه راځي په مابین دعامل او معمول کښی او دا خبره غوره ده دریم دلیل کثرة استعمال دعمل دفعل ثاني دی.

ویختارُ النحاةُ الکوفیون الاول الخ. یعنې ددوی په نزد غوره عمل دفعل اول دی سره دجواز دعمل دفعل ثاني نه لِسَبْقِهِ دایې دلیل اول دی یعنې فعل اول مقدم دی او تقدیم سبب دترجیح دی وللاحترازعن الاضمارقبلَ الذکر دایې دلیل ثاني دی یعنې که عمل فعل ثاني ته ورکړی شي نو په فعل اول کښی به خامخا ضمیر راجع کولی شي اسم ظاهر بعد هما ته نو لازمیږي اضمار قبل الذکر وهذا لایجوز پس ددې نه مصنف بیان کړیدی تفصیل دقطع دتنازع علی

المذهبین نو وایې چې **فـإن اعملتَ الفعلَ الثـانی الخ وبدءبه الـخ** غرض د شارح بیان د وجې دتقدیم د مذهب دبصریانو دی نو وایې چې مصنف شروع وکړه په مذهب دبصریانو ځکه چې دامذهب مختاره دی او کثیرالاستعمال دی .

اضمرتَ الفاعلَ فی الفعل الاول الخ نو ضمیر دفاعل به ومنې په فعل اول کښې که چرې تقاضایې دفاعل کوله تفصیل یې دادی چې هرکله چې عمل ورکړی فعل ثاني ته بنا په مذهب دبصریانو نو فعل اول به خالي نه وي یا به تقاضا دفاعل کوي یا د مفعول که تقاضا دفاعل کوي نو په دې صورت کښې دپاره دقطع تنازع درې طریقې دي ۱ حذف ۲ ذکر دفاعل ۳ اضمار دفاعل په فعل اول کښې لیکن حذف نه شي کولی ځکه چې لازمیږي حذف دفاعل بغیر دسد مسد نه او ذکر هم نه شي کولی ځکه چې لازمیږي تکرار دفاعل وهذا شنیع نو متعین شۀ اضمار چا به وي چې بنا په دې لازم شۀ اضمار قبل الذکر ځکه چې ضمیر دفاعل راجع دی اسم ظاهر بعد هما ته نو شارح جواب وکۀ بقوله **لجواز الاضمار الخ** .یعنې دا اضمار قبل الذکر دی په عمده کښې په شرط دتفسیر سره په مابعد کښې او دا جائز دی او اضمار قبل الذکر پنځه ځایه جائز دی لکه شاعر وایې اضمار چې قبل الذکر شي پنځه ځایه روا دی .پنځم هغه ظاهر دی چې بدل وي د ضمیر نه **وللزوم التکرار الخ** او دوجې دلزم دتکرار دفاعل نه په ذکر سره او حذف دفاعل هم ممتنع دی نو اضمار متعین شۀ **علی وفق الاسم الظاهر الخ** او دا متعلق دی په اضمرت پورې یعنې دغه ضمیر دفاعل به موافق وي دهغه اسم ظاهر سره چې بعد هما واقع دی **ای علی موافقته** دا بیان دحاصل المعنی دی او دفع دسوال ده چې موافقت دضمیر د اسم ظاهر سره غیر مسلم دی ، ځکه چې ضمیر معرفه وي او اسم ظاهر کله معرفه وي او کله نکره ،خلاصه دجواب یې داده چې مراد موافقت دداړو دی په افراد تثنیه او جمعیة وغیره کښې نه په تعریف او تنکیر کښې او موافقت ولې ضروری دی نو وایې چې **لانه مرجع الضمیر الخ** یعنې دا ځکه چې اسم ظاهر بعد هما مرجع ددغه ضمیر ده او واجبه ده چې ضمیر به موافق وي د مرجع سره په تثنیه جمعیة وغیره کښې **دونَ الحذفِ** حذف دفاعل نه دی صحیح .

سوال : عدم جواز دحذف خو معلوم شوی دی د ماسبق نه نو بیا یې ذکر ته یې څه ضرورت وو ؟

جواب :دپاره ددې چې خلاف دکسایې پرې مرتب شي ځکه چې دی قائل دی په حذف دفاعل کما سیاتی **لانه لایجوز حذف الفاعل الخ** دا یې دلیل دی یعنې حذف دفاعل جائز نه د ی مګر چې

سد مسد موجود شي خلافاً للكسائي فانه لايضمر الفاعل بل يحذفه الخ ځکه چې دی اضمار د فاعل نه کوي بلکه حذف کوي يې دپاره د احتراز د اضمار قبل الذکر نه . او ثمره د اختلاف يې شارح بيان کړيده بقوله ويظهر اثر الخلاف في نحو ضربني واكرمني الزيدان الخ او ظاهريږي ثمره د اختلاف په مابين د بصريانو او کسائی کی په دے مثال کی پوهه شه چې مثال مذکور د قطع د تنازع دی پس الزيدان فاعل دی دپاره د فعل ثاني چې اکرمنی دی او په فعل اول کی ضمير د فاعل ومنلی شه چې راجع دی اسم ظاهر ته دا په نزد د بصريانو او کسايې په نزد الزيدان فاعل دی دپاره د فعل ثاني او په فعل اول کښې اضمار نه دی صحيح ځکه چې فعل مفرد دی او اسم ظاهر تثنيه ده نو فاعل د فعل اول نه حذف شۀ فالتقدير ضربني الزيدان واكرمني الزايدان وجاز الخ دا جمله معترضه ده ذکر شويدی بطور تمهيد دپاره د قول د فراءنو وايې چې د جمهورو په نزد جائز دی اعمال د فعل ثاني په اسم ظاهر کښې سره د دې چې فعل اول تقاضا د فاعل کوي .

خلافاً للفراء خلاف ثابت دی فراء لره په دې صورة کښې په دې کښې فراء نه دوه روايتونه منقول دي يو دا دی چې فانه لايجوز اعمال الفعل الثاني الخ چې دې جائز نه ګڼړي اعمال د فعل ثاني په وخت د اقتضاء د فعل اول کښې فاعل لره لانه يلزم على تقدير اعماله الخ. ځکه چې په دې تقدير لازميږي احد المحظورين يا اضمار قبل الذکر لکه دا مذهب د جمهورو دی يا حذف د فاعل لکه چې دا مذهب د کسايې دی وكلاهما محظوران بل يجب عنده اعمال الفعل الاول نو دده په نزد اعمال د فعل اول واجب دی .نو د معمول د فعل ثاني به څه کيږي نو شارح وايې فان اقتضى الثاني الفاعل الخ يعنې فعل ثاني به خالي نه وي يا به فاعل غواړي يا مفعول که فاعل غواړي نو ضمير د فاعل به پکښې ومُني او که مفعول غواړي نو بيا پکښې دوه طريقي جائز دی يا به يې حذف کړي ځکه چې حذف د فضله جائز دی او يا به يې مضمر کړي او اضمار قبل الذکر نه لازميږي ځکه چې مرجع مقدمه ده رتبةً حينئذ تقول ضربني واكرماني الزيدان پس الزيدان فاعل دی دپاره د فعل اول .او ثاني دپاره مفعول ضمير مقرر شۀ چې راجع دی الزيدان ته او الزيدان چونکه فاعل د اول ګرزيدلی دی نو مرتبه يې د فعل ثاني نه مقدمه ده نو محظور لازم نه شي وقيل روي عنه تشريك الرافعين الخ دا دوهم قول دی چې مروی دی د فراء نه او په دې کښې دوه صورتونه دي يو تشريک د رافعين مطلب دا چې که چرې دواړه فعلين تقاضا د فاعلية کوي

نو دا دواړه به عمل کوي په دغه اسم ظاهر کښی خو دا قول ضعیف دی ځکه چې په دې کښی لازمیږي توارد دعلیتنو مستقلینو په معمول واحد باندې.

او اضمارُهٗ بعد الظاهر کما فی صورة تأخیر الناصب یا اضمار دفاعل دی دپاره دفعل اول پس دا اسم ظاهر نه لکه په صورة دتاخیر دناصب کښی هم مطلب یې دادی چې که چرې دواړه فعلین فاعل غواړی نو فراء په دې صورت کښی عمل ثاني ته ورکوي او د اول دپاره ضمیر دا اسم ظاهر نه پس مني لکه ضربني واکرمني زید هو نو زید فاعل دی دپاره دثاني او هو فاعل دی دپاره د اول. راجع دی زید ته لکه په هغه وخت کښی چې فعل اول فاعل غواړي او ثاني تقاضا دمفعول کوي نو په دې وخت کښی هم فراء فعل ثاني ته عمل ورکوي یعنې اسم ظاهر مفعول ګرځي دپاره دفعل ثاني او دفعل اول دپاره دا اسم ظاهر متنازع فیه نه پس ضمیر دفاعل مقرروي لکه ضربني واکرمت زیداً هو دا مثال دتاخیر دناصب دی نو فراء عمل فعل ثاني ته ورکړي دی او زید ایې ورله مفعول ګرزولی دی او فعل اول دپاره یې فاعل ضمیر منفصل ذکر کړیدی چې راجع دی اسم ظاهر متقدم ته نو اضمار قبل الذکر نه دی لازم **وروایةُ المتن غیرُ مشهورةٍ** دا دفع دسوال ده چې پکار ده چې دا روایت یې ذکر کړی وي په متن کښی نو جواب دادی چې روایة دمتن غیر مشهوررو ، او دا مشهوررو نو غیر مشهور یې ذکر کړ دپاره ددې چې هغه هم مشهور شي **وحذفت المفعول تحرزاً عن التکرار**.

دا دوهم صورت دی یعنې که چرې فعل اول تقاضا دمفعول کوي نو خالي به نه وي یا به دا فعلین دافعال قلوبو نه وي یا نه که نه وي نو د قطع دتنازع دپاره درې طریقې دی اضمار، اظهار، حذف، اضمار نه شي کولی ځکه چې اضمار قبل الذکر فی الفضله لازمیږي او اظهار هم نه شي کولی ځکه چې لازمیږي تکرار نو حذف متعین شو او حذف دفضله جائز دی نو وایې چې حذف به کړی مفعول دپاره داحتراز د تکرار نه که چرې ذکر کړی شي او دپاره داجتناب داضمار قبل الذکر نه که چرې مضمر شي

ان استغنی عنه دا په هغه وخت کښی که استغناء کیدی شوه دمفعول نه یعنې فعلین دافعال قلوبو نه وي **والا ای وان لم یُستغنَ عنه** یعنې استغناء نه شوه کیدی دمفعول نه په دې شان سره چې فعلین دا فعال قلوبو نه وي **اظهرتَ المفعول** نو مفعول به ذکر کړي **نحو حسبني منطلقاً وحسبتُ زیداً منطلقاً** دا صورت هم دقطع دتنازع دی نو صورة دتنازع دادی چې حسبنی ·

فعل اول، دا تقاضا کوي چې منطلقاً (ثاني) دځما مفعول ثاني شي او حسبت (فعل ثاني) تقاضا کوي چې منطلقاً دځما مفعول ثاني شي نو عمل و کړی شئ په مذهب د بصریانو، نو منطلقاً و ګرزولی شئ مفعول ثاني دپاره دفعل ثاني او فعلین چونکه دافعال قلوبو نه دی نو ذکر کړی شئ منطلقا دپاره دفعل اول فصار حسبني منطلقا وحسبت الخ **لانه لایجوز حذف احد مفعولی الخ**. دا يې دلیل دی نو وايي چې جائز نه دی حذف دیو دمفعولینو دباب حسبت ځکه چې مفعولین دافعال قلوب په حقیقة کښي کلمه واحده وي نو لازم به شي حذف دبعض اجزاء دکلمې وهذا لایجوز او اضمار دمفعول هم جائز نه دی دپاره ددې چې اضمار قبل الذکر دفضله لازم نه شي فتعین الاظهار. پس ددینه شروع وکړه مصنف په مذهب دکوفیانو کښي فقال **وان اعملت الفعل الاول الخ** یعني که چرې تا عمل وکړ په مذهب دکوفیانو او عمل دی ورکړ فعل اول ته نو فعل ثاني به خالي نه وي یا به تقاضا کوي دفاعل یا د مفعول، که اول وي نو دپاره دقطع دتنازع درې طریقې دي حذف دفاعل ذکر، اضما، حذف نه شي کولئ ځکه چې حذف دفاعل بغیر دسد مسد نه ممنوع دی او ذکر هم نه شي کولی چې لازمیږي تکرار وهذا شنیع، فتعین الاضمار لکه ضربني واکرمني زید **اذا جعلت زیدا الخ** دا تطبیق د مثال دے مع الممثل. یعني په هغه وخت کښي چې زید لره فاعل وګرزی دپاره دضربني او ضمیر راجع کړے په اکرمني کي زید ته او دا ارجاع صحیح ده: لتقدمه رتبة ځکه چې اسم ظاهر فاعل وګرزي دپاره دضربني. او ضمیر راجع کړی په اکرمني زید ته او دا ارجاع صحیح ده **لتقدمه رتبةً** ځکه چې اسم ظاهر فاعل وګرزیده دپاره دفعل اول **والاصل فی الفاعل ان یلیَ الفعل فلا محذور فیه الخ** نه حذف دفاعل او نه اضمار قبل الذکر لفظا ورتبة بلکه لفظا لازمیږی خو دا جائز دے.

واضمرت المفعول الخ دا بل صورت دے یعني که چرے فعل ثاني تقاضا کوله دمفعول نو خالي به نه وي یا به فعلین دافعال قلوبو نه وي یا نه که نه وي نو دپاره دقطع دتنازع درے طریقے دي ذکر خو نه شے کولی چې تکرار لازمیږي نو حذف او اضمار متعین شه خو حذف دمفعول جائز دی او اضمار يې غوره دے. نو ځکه شارح وایې چې علی المذهب المختار **لئلا یتوهم ان مفعول الفعل الثاني الخ** دا دلیل دوجے مختارے دے یعني حذف دمفعول مختاره ځکه نه دے چې توهم ونه کړی شے ددے چې مفعول محذوف دفعل ثاني ګنی مغائر دے دا اسم مذکور نه نو ملفوظ به مطابق دمقصود دمتکلم سره نه شي ځکه چې مقصود دمتکلم بیان دمکارم اخلاق

دے په دے شان سره چې څه اکرام کونکی یم دهغه چاچه هغه ضارب څما دے. کما تقول ضربني واکرمته زید. نوزید فاعل دے دپاره دفعل اول او مفعول دثانی ضمیردے چې راجع دے زیدته. خو مرتبه دزید مقدمه ده دفعل ثانی نه نو اضمار قبل الذکر لفظا راغے رتبة نه دے او دا جائز دے

الاان يمنع مانع الخ. داستثناء ده دمدلول دکلام سابق نه. یعني اضمار دفاعل به کوی علی المختار اویابه حذف کوے بناءعلی **الغیرالمختار فی جمیع الاوقات** مګر په هغه وخت کښې چې مانع داضمار اودحذف موجود نه وی اوکه مانع موجود وی لکه چې فعلین دافعال قلوبو نه وي

فتظهرالمفعول الخ نو بیابه مفعول ذکر کوی **فانه اذا امتنع الخ** دايې دلیل دی څکه چې هرکله منع شه اضمار اوحذف نو لاره نیشته مګر اظهار دمفعول طرفته **نحو حسبني**

وحسبتهما منطلقین الزیدان منطلقا دامثال دقطع دتنازع دی **حیث اعمل الخ** داتطبیق دمثال دے مع الممثل. ترجمه یې داده چې عمل ورکړے شه حسبني ته پس وګرزولے شه الزیدان فاعل دپاره دده او منطلقا یې مفعول شه اودحسبتهما دپاره مفعول اول ضمیر دتثنے دے. او مفعول ثانی ئے ظاهر کړے شه چې منطلقین دے. اودا اظهار دوجې دمانع نه دی. هغه داچې اضمار نه شي کیدی. څکه چې که اضمار کوي نویابه ضمیر دمفرد منې یادتثني. نو که ضمیر دمفرد منې اوداسې وایې چې حسبتهما ایاه الخ نو مخالفت راځی دمفعول ثانی داول نه حالانکه په دواړو مفعولینو کښې موافقت لازمی دی اوکه ضمیر دتثنیي منې اووایې چې **حسبتهما ایاهما الخ** نو مخالفت راځي دمرجع نه څکه چې مرجع یې مطلقادی اودامفرد دی، نو اظهار دمفعول ثاني متعین شهٔ. **ولایخفی انه لایتصورالخ** دادفع داعتراض ده چې په مثال مذکور کښې نزاع دفعلینو نشته څکه چې دواړه فعلین نه دي متوجه امرواحدته وجه یې داده چې فعل اول حسبني، تقاضا دمفعول ثاني مفرد کوي. څکه چې مفعول اول مفرد دی اوفعل ثاني حسبتهما، تقاضا دمفعول ثاني تثنیي کوي څکه مفعول اول یې تثنیه ده نوشارح وایې چې تنازع متصور نه ده په دې صورت مذکوره کښې په لفظ دمنطلقا کښې **الا اذا لاحظت المفعول الثاني الخ** مګر په هغه وخت کښې چې کله ته ملحوظ کړې مفعول ثاني چې منطلقا دی داسې اسم چې دلالت کونکی دی په داسې ذات چې موصوف دی په وصف دانطلاق سره بغیر دملاحظي دتثنیت اوافراد نه یعني منطلقاً ملحوظ دی په مرتبه دعموم کښې تخصیص دافراد او اثنینیت پکښې نشته پس بنا په دی منطلقا مفعول ثانی دفعل اول هم کیدی شي اګر چې مفعول اول مفرد دی او دفعل

ثاني هم کیدی شي اګرچه مفعول اول یې تثنیه ده **والاف الظاهرُ الخ** دا تصریح بالا عتراض ده وهو واضح فتفکرفیه پوهه شه. چې کوفیانو لپاره د اختیار دعمل دفعل اول استدلال کړیدی په قول امرئ القیس چې ولو انما اسعی الخ دی نو مصنف هغه قول نقل کوي او جواب ترې کوي اوشارح ملاجامي بطور تمهید دهغې تفصیل بیان کړیدی په دې قول سره **ولما استدل الکوفیون الخ** نو غرض د شارح ددې نه بیان دحال دمتن اتی دی چې ائنده متن جواب دی دقول دامری القیس نه او قول دده دا شعردی.

ولوانما اَسْعٰی لاَدْنٰی مَعِیشَةٍ
کَفَانِی وَلَمْ اطلُبْ قلیلٌ من المالِ

مقصد دشاعر توصیف دلوړهمت دخپل ځان دی نو وایې چې که چرې ماکوشش کولی دادنی معیشة دپاره نو کافي به وو ځماد پاره قلیل مال ځکه چې قلیل مال دګزران دپاره کافي دی اوما به نۀ طلب کوله لو یه بزرګی لیکن ځما مقصد پائداره بزرګي او مالداری ده او ځما غوندې خلق یې مو ندلی شي.

حیث قالوا قد توجه الخ دا یې طریقه د استدلال ده ترجمه دعبارت داده چې کوفیان وایې چې فعلین یعني کفانی اولم اطلب متوجه شویدی یو اسم ظاهر ته چې **قلیلٌ من المال** دی پس فعل اول یې تقاضا د رفع کوي بنابر فاعلیة او فعل ثاني یې نصب غواړي بنابر مفعولیة او امرؤ القیس چې افصح الشعراء دی عمل یې ورکړیدی فعل اول ته یعني قلیل یې مرفوع ګرزولی دی بنابر فاعلیة دپاره دکفانی نو که چرې اعمال دفعل اول غوره نه وي نو نه به یې مختاره کوو **اذلاقائل بتساوي الاعمالین** دادفع دسوال ده چې دقول دامرؤالقیس نه اَولویت دعمل دفعل اول نه معلومیږي ځکه چې جائزه ده چې عمل ددواړو مساوي وی او شاعر عمل فعل اول ته ورکړی وي نو جواب یې دادی چې اولویة دعمل دفعل اول ځکه معلومیږي چې څوک په مساواة دعمل دفعلینو نه دی قائل په قرینې د اختلاف په مابین دبصریانو او کوفیانو ګښی

فاجاب المصنف الخ جواب وکړ مصنف دطرف دبصریانو نه **وقال وقول امری القیس کفانی الخ** چې دا قول دامری القیس دباب دتنازع نه نه دی **لفسادِ المعنی الخ** یعني دوجې د فساد دمعنی نه په تقدیر دتوجه دهر واحد دکفانی اولم اطلب نه قلیل من المال ته **لاستلزامه**

عدم السعی لادنی معیشة الخ دا دلیل د فساد المعنی دی خلاصه دا چې لازمیږي په دې تقدیر اجتماع د متنافینو چې هغه استلزام د عدمِ سعی دی دادنی معیشة او انتفاء د کفایة د قلیل مال ده وثبوت طلبه الخ دا عطف دی په عدم السعی یعنې دوچې دا ستلزام د دې تنازع نه ثبوت د طلب مال لره او دا منافی دی د هر واحد د عدم السعی لادنی معیشةٍ او انتفاء د کفایت سره.

وذلك لان لو الخ غرض د شارح د دې عبارت نه بیان د استلز ام د اجتماع د متنافیینو دی او د ابنادی په قانون د کلمې، د لو حاصل یې دادی چې کلمه د لو گرزئ مدخولِ مثبت خپل منفی برابره خبره ده چې دا مدخول مثبت شرط وي او که جزاء وي یا معطوف وي په احمد هما او گرزوی مدخول منفي خپل مثبت پس د دینه پوهه شه چې اسعی شرط دی او مدخول مثبت د لو دی نو دا به منفي گرزی مطلب دا چې که ما کوشش کولی د پاره د ادنی معیشة یعنې نه کوم او کفانی قلیل من المال. جزاده او مثبته ده نو دا به هم په معنی د منفی سره وي مطلب دا چې کافي به وو څما د پاره قلیل مال یعنې نه دی کافي اولم اطلب مطلب دا چې که چرې ما نه طلب کولی یعنې طلب کوم نو اوس که چرې لم اطلب هم متو جه شي قلیل من المال ته نو مطلب به دا شي چې څه طلب کوم لرِ مال او د ماقبل نه معلومیږي چې کافي نه دی څما د پاره لږ مال او دا نه دی مگر منافات نو معلومه شوه چې دا قول د باب د تنازع نه نه دی بلکې قلیل من المال فاعل دی د پاره د کفانی او د لم اطلب د پاره مفعول محذوف دی تقدیر د عبارت دا دی چې ولو لم اطلب العزو المجد کما یدل علیه البیت المتاخرا عنی قوله شعر ولکنما اَسْعٰی لِمَجْدٍ مُؤَثَّلٍ وقد یُدْرِكُ الْمَجْدُ المؤثَّلَ اَمثالی یعنې څه کوشش کوم د پاره د پائیداری بزرگی او مالداری او څما غوندی خلق پائدار اره بزرگی مومي نو د دې نه معلومیږي چې مطلوب د ده مجد مؤثل دی وحینئذ یستقیم المعنی الخ او په دې وخت کښې معنی صحیح ده یعنې څه سعی نه کوم د معمولی ژوند د پاره او نه کافی کیږي څما د پاره لږ مال نو څه طلب کوم پائید اره بزوگی او د هغې د پاره کوشش کوم مفعولُ مـا لَمْ یُسم فاعلیه ای مفعولُ فعلٍ اوشبهِ فعلٍ په دې کښې اشاره ده دیته چې لفظ ما عبارت دی د فعل، شبه فعل نه او مراد ترې فقط فعل نه دی

لَمْ یُذْکَر فاعله دا تفسیر د لم یسمَ فاعله دی او دفع د سوال ده چې په عبارت مصنف کښې

تعارض دی ځکه چې **لم یسم فاعله** دلالت کوي په عدم وجود دفاعل او **کل مفعول حذف فاعله الخ** دلالت کوي په وجود دفاعل ځکه چې حذف دشي تقاضا کوي دوجود دهغه شي بله داچې بغیر دفاعل نه مفعول متصور کیدی هم نه شي خلاصه دجواب یې داده چې دلم یسم نه مرادلم یذکردی من قبیل ذکر الملزوم وارادة اللازم **وانما لم یفصله عن الفاعل الخ** دادفع دسوال ده چې مفعول مالم یسمّ فاعله دمرفوعاتو مستقل قسم دی نوپکار ده چې مستقلاً یې ذکر کړی وي په عنوان د **ومنه مفعول مالم یسم فاعله**.

خلاصه دجواب یې داده چې مفعول مالم یسم یې جدا ذکر نه کۀ لکه څنګه چې یې مبتدا، خبر جدا ذکر کړیدی په عنوان دومنها المتبدا سره **لشدة اتصاله بالفاعل** دوجې دشدة اتصال دده نه فاعل سره تردې چې دی قائمیږي په مقام دفاعل اوشریک دی دفاعل سره په احکام کثیرو کښې **حتی سماه بعض النحاة فاعلاً** تردې چې بعض نحاة یعنې علامه زمخشری ده لره مسمی کړیدی په فاعل **کل مفعول حذف فاعلهُ** دایې تعریف دی کل مفعول موصوف دی اوحذف فاعله یې صفت دی **ای فاعل ذالک المفعول** داتعیّن دمرجع دی دضمیردفاعله **وانما اُضیف الی المفعول الخ** دادفع دسوال ده چې اضافت دمفعول ضمیردفاعل ته نه دی صحیح .ځکه چې فاعل خود فعل وي نو اضافة یې فعل ته کیږي.

خلاصه جواب داده چې دا اضافة د ادنی مناسبة په وجه دی هغه داچې دا فاعل .فاعل دهغه فعل دی چې متعلق دی په مفعول مالم یسم فاعله پورې فافهم و **واقیم هو**.

سوال: ذکر دهو لغوه دی ځکه چې په اُقیم کښې ضمیر مستتر شته اوراجع دی مفعول ته ؟

جواب: داتاکید دی دپاره دضمیر مستتر داُقیم اوفائده په کښې داده چې څوک داتوهم ونه کړي چې ګنې مقامه به نائب فاعل وي دپاره داُقیم ورنه لازم به شي خلوه دجملې دعائد دموصوف نه اوداځکه چې اقیم الخ صفة ثاني دی دپاره دمفعول **فی اسناد الفعل اوشبهه الیه** دادفع دسوال ده چې اقامة دمفعول به په مقام دفاعل نه شي کیدی ځکه چې دفاعل نه صدور دفعل کیږي اودمفعول نه صدور دفعل نه کیږي بلکې واقع کیږي پرې خلاصه دجواب یې داده چې مراد داقامة دمفعول نه په مقام دفاعل باندې په صدور دفعل کښې نه دی بلکې په اسناد دفعل اوشبه فعل کښې دی مفعول ته **فی حذف فاعله الخ** یعنې شرط دمفعول مالم

یسم فاعله په حذف دفاعل اوپه اقامة دده کښې په مقام دفاعل (تغیردی دصیغې دفعل معلوم نه مجهول ته) **اذاکان عامله فعلاً**

دادفع دسوال ده چې شرط مذکورمختص دی په فعل پورې نوشامل نه شه **مفعول مالم یسم** دشبه فعل ته نوشارح جواب وکړ چې شرطِ مذکورپه هغه وخت کښې دی چې کله یې عامل فعل وي اوپه شبهِ فعل کښې به تغیرکیږي داسم فاعل نه اسم مفعول ته **اَن تُغیرَالخ** داتفسیردشرط مذکوردی.

سوال: وجه دتغیرڅه ده ؟

جواب: اسناددفعل مفعول ته غریب اوناآشنادي نودده دپاره وزن غریب مناسب دی دپاره ددې چې وزن غریب دلالت وکړي په غرابت دمعنی باندې اووزن غریب فِعُل په کسری دفااوضمی دعین سره هم دی جواب فُعِل بضم الفاء وکسرالعین ثقیل دی لکه هبوط داعلی نه اسفل ته او فِعُل بکسرالفاء وضم العین اثقل دی لکه صعود داسفل نه اعلی ته نوچه کله مقصدحاصل شه په ثقیل سره نواثقل ته حاجت پاتې نه شه **ای الی الماضی المجهول** ددې تفسیرفائده عنقریب شارح بیانوي **اویفعل** داعطف دی په فُعِل اومرادترې مضارع مجهوله ده **فیتناول مثل اُفتعِلَ الخ** دابیان دفائدی ددغې تفسیرینودی اودفع دسوال ده چې شرط مذکوردمزیدوافعالِ مجهوله ته نه دی شامل نوشارح جواب وکه چې دفعل اویُفعل نه مخصوصې صیغې نه دی مراد بلکې مرادترې ماضي مجهوله اومضارع مجهوله ده برابره خبره ده که دمجردونه وي اوکه دمزیدونه نوذکردفُعِل اویُفعل بطورتمثیل دی نه دپاره دحصرواختصاص ددینه دامعلومه شوه چې نائب فاعل به دهغه فعل دپاره راځي چې دکوم نه فعل مجهول راتلی شي یعنې فعل متعدي اودفعل لازمي نه نه شي راتلی هان که متعدي شه نوبیله خبره ده والله اعلم پوهه شه چې هر کله مفاعیل کثیرووا وهرواحدنه شه قائمیدی په مقام دفاعل نومصنف دهغې تفصیل کوي بقوله **ولایقع الخ** خلاصه یې داده چې څلورمفاعیل نائب فاعل نه شي جوړیدی مفعول ثاني دباب علمت ۲ مفعول ثالث دباب ا علمتُ ۳ مفعول له بلالام ۴ مفعول معه **لانه مسندٌالی المفعول الاول الخ**.

دادلیل دعام وقوع دی یعنې ځکه چې مفعول ثاني دعلمتُ مسندوی مفعول اول ته په اسنادتام سره .نواوس که چرې اسناد وکړی شی ده ته او دی نائب فاعل وګرولی شی (نودی به شی

مسند الیه) او اسناد دفعل هم نه وی مګر تام نو لازم به شی کون د مفعول ثانی هم مسند او هم مسند الیه په اسناد تام سره وهذا باطل ځکه چی مسند محتاجه وی او مسند الیه محتاج الیه وي نولازم به شي کو ن دشي واحدهم محتاج اوهم محتاج الیه اوداباطل دی **بخلاف اعجبنی الخ** دادفع داعتراض ده چې کون دشي واحد مسند اومسند الیه جائزدی لکه اعجبنی ضربُ زیدٍ عمراً نو اسناد داعجبني شوی دی ضرب ته (نوضرب مسند الیه شه) اودی مسند شه اوهم مسند الیه خلاصه ددفع یې داده چې احدُالاسنادین په دې مثال کښې چې هغه اسناد دمصدر یعنې دضرب دی زید ته غیرتام دی یعنې ناقص دی اوممنوع هغه دی چې دواړه اسناده تام وي **ولاالمفعول الثالثُ من مفاعیل باب اعلمت** لکه اعلمت زیداً عمراً فاضلاً (پوهه م که زیدلره په دې عمرولوی مرتبی والادی) نومفعول ثالث ددې باب نائب فاعل نه شي واقع کیدی.

اِذْحکمُه حکم المفعول الثانی الخ دایې دلیل دی یعنې ځکه چې حکم دمفعول ثالث دباب اعلمت په شان دحکم دمفعول ثاني دباب علمت دی یعنې دی هم مسندوی مفعول ثاني ته په اسنادتام سره نو که دی نائب فاعل وګرزی نولازم به شي کون دشي واحد مسند اومسند الیه معا وهذا باطل **والمفعول له** داعطف دی په المفعول الثاني باندې **ای لایقع موقع الفاعل المفعولُ له بلالام** غرض .دشارح ددې تقیدنه اشاره ده دیته چې دمفعول له دوه صورتونه دي .یوبغیرد لام تعلیل نه لکه ضربت زیداتادیبًا اودوئم سره دلام تعلیل نه لکه ضربته للتادیب .نوقسم ثاني نائب فاعل واقع کیدی شي او اول نه شي واقع کیدی نو شارح وایې چې:**بلالام** **.لان النصبَ فیه مشعرٌالخ** ځکه چې نصب ددې مفعول له مشعردی په علتیة دده دپاره دفعل اوداځکه چې لام تعلیلی نشته نوعلامه دعلتیت یې نصب دی فقط **فلواُسنِدَالیه لفاتَ النصبُ الخ** پس که چرې دامفعول له نائب فاعل شي اوفعل ده ته مسندشي نونصب به فوت شي ځکه چې بیابه دی مرفوع ګرزی اوچې کله نصب فوت شي نو اشعار اوخبرداري به فوت شي په علتیت دده باندې **بخلاف ما اذاکان مع اللام** په خلاف دهغه مفعول له نه چې سره دلام نه وي ، .ځکه چې مشعرپه علتیت چې لام دی موجوددی په زمانه دنائب فاعل کښی هم ، فلاضیر.لکه ضُرِبَ للتا دیب پس للتادیب نائب فاعل دی دپاره دضَرب **والمفعول معه کذالك**

اي كل من المفعول له والمفعول معه الخ په دې کښې اشاره ده دیته چې د اقول د مصنف چې کذالک دی خبر دی دپاره دالمفعول لهٗ ومعهٗ دواړو

اوبل غرض تعین دمشار الیه دکذالک دی په دې قول سره چې **اي كالمفعول الثاني والثالث الخ** یعني هر واحد دمفعول لهٗ او مفعول معه نه په شان دمفعول ثاني اومفعول ثالث دباب علمت او اعلمت دی په دې خبره کښې چې نه واقع کیږي دادواړه په ځای دفاعل.

واما المفعول معه فلانه الخ دمفعول لهٗ وجه خو ذکرشوه اوهرچې دی مفعول معه نو دد دې دوه صورتونه دي یو مع الواو دی اوبل بدون الواو تفصیل یې دا قول دشارح دی چې **لايجوز اقامته الخ** یعني جائزنه د ی اقامة دمفعول معه په مقام دفاعل سره دواونه . ځکه چې اصل داده چې داواو عاطفه دی او .واو عاطفه دلیل دانفصال دی حالا نکه فاعل کالجزدی دفعل نه یعني شدید الاتصال دی اونائب فاعل په حکم دفاعل کښې د ی، **ولا بدون الواو الخ** اونه بغیر دواونه قائمیدی شي ځکه چې پته به ونه لګی په دغه وخت کښې چې ګني دامفعول معه ده **واذا وجد المفعول به.** په دې عبارت کښې مصنف مسئله داستحقاق دمفعول بِه لقیامه مقام الفاعل حین اجتماع المفاعیل بیان کړیدی نو وایې چې کله موجودشي مفعو ل به په کلام عربي کښې سره د هغه مفاعیلونه چې وقوع دهغوی په ځای دفاعل جائزه وي **تَعَيَّن اي المفعول به** دا تعین دمرجع دی **له اي لوقوعه موقع الفاعل** . پس متعین دی مفعول دپاره دوقوع په ځای دفاعل **لشدة شبهه بالفاعل الخ** دوجی دشدة مشابهة دمفعول بِه نه دفاعل سره په توقف دتصوراوو جودکلاهما د فعل کښې په فاعل اومفعول دواړو باندې یعني لکه څنګه چې تصوراووجوددیوفعل بنادی په فاعل نودغه شان دیوفعل (متعدی) تصوراووجود بغیر د مفعول نه هم نه شي کیدی ځکه چې حال بغیردمحل نه شي متصورکیدی **فان الضرب مثلاً** داتوضیح ددې ضابطې ده په ضمن دمثال کښې .یعني ضرب مثلاً لکه څنګه چې ممکن نه د ی تصوردضرب بغیر دضارب نه نودغه شان ممکن نه د ی تصورده بغیر دمضروب (مفعول) نه په خلاف دنورومفاعیلو(مفعول فیه مفعول مطلق وغیره) نه ځکه چې هغه دغه شان نه د ی، چې وجوددفعل بی شکه موقوف دی په دوی باندې لیکن تصوریې پرې نه دی موقوف **وفائدة وصف الضرب بالشدة الخ** داوجه دتقیید دضرب ده په

وصف يعني شدة سره نو وايي چې فائده دوصف دضرب په شدة سره تنبيه ده په دې خبره چې مصدرنه قائميږي په مقام دفاعل بغير دقيد مخصصه نه اذلافائدةفيه الخ ځکه چې په دې تيام کښی څه فائده نشته دوجې ددلالت دفعل نه په دغه مصدريعنې فعل هسې هم دلالت په مصدر کوي لاشتمال الفعل على المصدراوفاعل خومحل دفائدې وي اودی دفائدی نه خالي دی نوقيد مخصصه يې ځکه ذکرکه شبيهٌ بالمفاعيل الخ.

دادفع دسوال ده چې بحث په مفاعيلوکښی دی اوفی دار ه جارمجروردی نوخروج دبحث نه لازم شه شارح جواب وکه چې جارمجرورمشابه دی مفاعيلوسره فی کونه فضلةً وفی انه منعول بواسطة الجارفلايرد اي جميعُ ماسوي المفعول دااشاره ده ديته چې الف لام په الجميع کښ عهدي دی والاولُ من باب أعطيتُ الخ مسئله داده چې مفعول اول دباب اعطيت اولی بالقيام ږی مقام الفا عل دمفعولِ ثاني نه اي الفعلُ المتعدي الخ دابيان دمفهوم کلي دباب اعطيت دی يعنې مرادترې هرهغه فعل دی چې متعدي وي مفعولينو ته اومفعول ثاني يې غيروي دمفعول اول نه يعنې حمل دثاني صحيح نه وي په اول لکه اعطيت زيدادرهماً نوبناپه دې داقاعده شامله شوه کسوت زيداثوبًاوغيره ته اولی دا خبردی دپاره د والاول بأن يقامَ مقامَ الفاعل دابيان داولَوية دی لان فيه معنی الفاعلية الخ دادليل داولوية دی يعنې مفعول اول ځکه اولی دی چې په ده کښی معنی دفاعلية ده اوپه مفعول ثاني کښی نشته لانه عَاطٍ الخ.

دادليل ددليل دی يعنې په ده کښی معنی دفاعلية ولی ده ؟ ځکه چې دی عاطی دی يعنې آخذدی نوعا طی ورکونکی ته هم وايي او آخذ ته هم فيکون من قبيل ذکرالملزوم وارادة اللازم ځکه چې داعطاء سره ا خذلازم دی نودې مشابه شه دفاعل سره نحو أعطِي زيد درهماً داپه اصل کښی اعطيت زيدادرهمًاو بيافاعل حذف شه اومفعول اول په ځای دهغه قائم مقام وګرزيده مع جوازاعطی درهم زيداً يعنې داهم جائزه ده چې مفعول ثاني نائب فاعل وګرزی ليکن اول اولی دی وذالك عندالامن من اللبس الخ اوداا اولويت دمفعول اول په وخت دامن کښی دی دالتباس نه اوامن دالتباس نه به هله وي چې مفعول اول صالح داخذيت وي او ثاني نه لکه اعطيت زيدا درهمًا واماعندعَدمِه الخ او په وخت دعدم امن کښی دالتباس

نه واجب دی اقامة دمفعول اول په مقام دفاعل او اقامة دمفعول ثاني ممنوع دی او دا په هغه وخت کښی چې هر واحد صلا حیة دا خذیت لري لکه أعطی زید عمراً چې په اصل کښی اعطیت زیدا عمراً و نو په هر واحد دزید او د عمرو کښی صلا حیة دا خذیت شته نو التباس به راشي پته به نه لګي چې آخذ څوک دی او ماخوذ څوک دی نو ددفع د التباس دپاره واجبه ده چې مفعول اول به نائب فاعل ګرزی ومنها المبتدا والخبر وفي بعض النسخ ومنه په دې کښی اشاره ده تعدد دنسخو د کافیې ته یو نسخه په تانیث دضمیر سره ده یعنې منها چې دا ضمیر را جع دی مرفوعاتو ته او بله په تذکیر دضمیر سره ده یعنې ومنه چې دا ضمیر راجع دی مرفوع ته یعنې من جملةِ المرفوعات دا حاصل المعنی د اولی نسخې دی .

اومن جملةِ المرفوع دا حاصل المعنی دنسخي ثاني دی من تبعیضه دی پوهه شه چې نسخه اولی یعنې ضمیر د مؤنث بنادی په طول عهد ، یعنې وخت ډیر تیر شه ، او طول عهد مورث دغفلت وي نو ضمیر د مؤ نث یې رواړه دپاره ددې چې راجع شي مرجع صریحي ته چې المرفوعات دی او نسخه ثاني یعنې تذکیر دضمیر دپاره د موافقت دی دلاحق د سابق سره چې فمنه الفاعل دی جمعهما في فصل واحد دا دفع دسوال ده چې مبتدا او خبر یې په یو فصل کښی ولی جمع کړل حالانکه هر واحد مستقل قسم دی دمرفوعاتو ددې دپاره دوه توجیهین دي توجیه اوله دا قول دشارح دی للتلازم الواقع الخ یعنې دواړه یې جمع کړل دوجې دتلازم نه په مابین ددواړو کښی على ما هو الاصل فیهما چې هغه ذکر دی یعنې اصل داده چې کله احدهما ذکر شي نو بل به هم ذکر کیږي او هرچې دی حذف نو هغه خلاف الاصل دی نو په حذف کښی یې تلازم نشته واشتراکهما في العامل المعنوي دا توجیه ثاني ده یعنې عامل ددواړو معنوي دی چې ابتداء ده .

فالمبتدا: فاء تفصیله ده پس مبتدا یو اسم دی برابره خبره ده چې لفظي وي او که تقدیري چې خالي وي دعوامل لفظیو نه او مسند الیه وي لفظاً او تقدیراً الخ .

دا دفع دسوال ده چې تعریف دمبتدا منقوض دی په وان تصوموا خیر لکم باندې ځکه چې ان تصو موا مبتدا ده حالانکه اسم نه دی خلاصه ددفع یې داده چې اسم عام دی که لفظي وي یعنې بلا تاویله لکه زید قائم او که تقدیري یعنې تاویلي وي لکه ان تصوموا په تاویل دان

مصدریه سره اسم دی په معنی دصیامُکم سره اومضاف الیه یعني کُم) خارج دی **اي الذي لم یوجد فیه عامل لفظي الخ** په دې تفسیرکښی اشاره ده دیته چې الف لام په المجرد کښی په معنی دالذی سره دی بناءً علی القاعدة المشهوراودفع دسوال ده چې مجردماخوذدی دتجریدنه اوتجرید خالي کولو ته وایې نوتجریدیوشي دشي نه فرع دوجود دهغه شی ده نومطلب داشه چې مبتدا به دیته وایې چې مخکښی به په کښی عوامل لفظیه موجودوی اوبیابه یې ترې تجریدراغلی وي حالانکه خبره داسې نه ده خلاصه دجواب یې داده چې مراددتجریدنه عدم وجدان دی اوداتقاضا دوجودنه کوي اوبل دیته اشاره ده چې جمعیة دالعوامل په وجه دالف لام باطل شۀ نوسوال نه واردیږي چې کَني مبتدابه هغه اسم وي چې کم ازکم درې عوامل پکښی نه وي راغلي اوکه یودوه په کښی راغلي وي نوخیردی **اصلاً** دا تاکیددی دعامل لفظي او اشاره ده تعمیم ته یعنې که داعوامل نواسخ وي اوکه غیر نواسخ هغه عوامل دی چې رفع منسوخ کوي دمبتدااودخبرنه لکه افعال قلوب افعال ناقصه وغیره **واحترزبه الخ** په هر تعریف کښی لابدی وي دجنس اودفصل نه نوجنس په دې تعریف کښی الاسم دی ،شامل دی ټولواسماء ته اوالمجرد فصل اول دی نوپه دې سره احتراز راغی دهغه اسم نه چې په هغې کښی عامل لفظي را غلی وي لکه اسم دان اودکان وغیره **وکانه اَرادَ بالعامل اللفظي الخ** دادفع دسوال ده چې تعریف دمبتدا جامع لافراده نه دی خارج شه ترې بحسبک درهم ځکه چې بحسبک مبتداده په اتفاق دعلماء سره اوعامل لفظي پکښی موجوددی چې باده خلاصه دجواب یې داده چې شایدچې مراددعامل لفظي نه هغه وي چې مؤثروي په معنی کښی (تعدیة وغیره) لکه څنګه چې مؤثرفی اللفظ وي اوداځکه چې ظاهره داده چې مؤثر لفظًا مؤثرمعنی هم وي اوبادبحسبک اګر چې مؤثره ده په لفظ کښی خومؤثره فی المعنی نه ده ځکه چې زائده ده اومتعلق یې نشته نوددا سې قسمه عامل نه خلو ه دمبتدا ضروري نه ده **مسنداالیه** دا فصل ثاني دی واحترزبه الخ په دې سره احترازراغی دخبرنه اودقسم ثاني دمبتدانه ځکه چې دادواړه نه وي مګرمسندپوهه شه چې مبتداپه دوه قسمه ده یوقسم اول دمبتدا (اوداذکرشوه) اوبل قسم ثاني دمبتدا اود هغې بیان مصنف کوي بقوله**اَوالصفةُ الخ** اوددې قسم دپاره درې شرطونه دي ۱ مشتقي به وي یابه په حکم دمشتقي کښی وي ۲ واقع به وي پس دحرف نفي یاد حرف استفهام نه ۳ رافع به داسم ظاهروی پس ددینه پوهه شه چې قسم ثاني دمبتدا ثابت دی دوجې دضرورت نه یعنې

وموندلی شه داصفة په کلام عربي کښی مرفوع .اورافع یې نه وونودوی حکم وکه چې دامبتداده حالانکه مبتدامسندالیه وي اوداصفة وي .مسندنوشرائط مذکوریږ سماعي

دی **سواءکانت مشتقةالخ** داتعمیم دی په صفة کښی اودفع دسوال ده چې ظاهره داده چې مراد به دصفة نه مشتقي وي فقط نوخارج شه ترې اقریشی انت نوقریشي قسم ثاني دمبتدادی حالانکه مشتقي نه دی نوشارح جواب وکه چې صفة عام دی که مشتقي وي لکه ضارب وغیره اوکه جارمجریٰ مشتقي وي لکه قریشی ځکه چې معنی دده رجل منسوب الی القریش نوداپه حکم دمشتقي کښی دی **الواقعه بعدحرف النفي الخ**

سوال : دپاره دتحقق دقسم ثاني دمبتداءیې وقوع بعدحرف النفی اوالاستفام ولې شرط وګرزوو؟

جواب : قسم ثاني دمبتدا په حقیقة کښی صفة وي اومسندوي اومابعدیې فاعل وي قائم مقام دخبروي نوصفة مذکوره لامحاله عامل وي په مابعدکښی اوصفة دضعف العمل په وجه عمل نه شي کولی بغیرداعتمادنه په یوداشیاء سته چې مبتدا، موصوف، موصول، ذوالحال، حرف نفي او حرف استفهام دی .

سوال :دااشیاء خوسته دی نوپه دې دوو باندې اعتمادولی مخصوص شه ؟

جواب :په نورو باندې اعتمادمُخل دی ځکه چې که چرې داصفة اعتماد په مبتداوکړی نوداصفة به یې خبرګرزی اوکه اعتمادپه ذوالحال وکړي نودی به یې حال ګرزی اوکه اعتمادپه موصول وکړي نودې به یې صله ګرزی اوکه اعتمادپه موصوف وکړي نودی به یې صفة ګرزی نوقسم ثاني به حاصل نه شي اوداخلل په حرف نفي اواستفهام کښی نشته پوهه شه چې مراددحرف نفي اوالف الاستفهام نه کلمات النفي والاستفهام دی نوداشامل دی ماولاوهل ماومن وغیره ټولوته البتة حرف النفي یې ذکرکړیدی دوجې دشهرت اودشیوع نه اوالف استفهام یې ذکرکړیدی دوجې داصالة نه .

مذاهب په قسم ثاني دمبتدا کښی :پوهه شه چې په قسم ثاني دمبتداکښی درې مذهب دی یود جمهورو دوهم داخفش نومذهب دجمهورومصنف ذکرکه په متن کښی **وعن سیبویه جوازالابتداءالخ** اومذهب دسیبویه دادی چې ابتدائیت دصفة (یعنې دقسم ثاني دمتبدا) بغیر داعتمادنه په استفهام اونفی باندې صحیح دی خوسره دقباحت نه **والاخفش یری ذلك**

حَسَنًا يعنې دده په نزد ابتدائيت دقسم ثاني بغيرداعتمادنه په استفهام اونفى باندې صحيح دى اوحسن هم دى وعليه قول الشاعر اوبنادى په هرواحد ددې مذهبينوباندې داشعر خوپه مذهب اول جائزدى مع القباحت اوپه ثاني جائزدى مع الحسن فَخَيْرٌنَحْنُ عِندَالنَّاسِ مِنكُمْ يعنې غوره مونږه يوستاسونه په نزد د خلقوپس خيراسم تفضيل په حكم دصفة كښى قسم ثاني دمبتدا دى ولوجُعِلَ خيرخبراًالخ دادفع داعتراض ده چې استدلال په دې شعر باندې صحيح نه دى ځكه چې جائزه ده چې خير،خبرمقدم وي اونحنُ مبتدا مؤخره وي نوشارح جواب وكه چې دانه شي كيدى ځكه چې كه چرې خير،خبروګرزولى شي دپاره دنحنُ اونحن مبتدامؤخر ه شي نوفاصله به را شي په مابين داسم تفضيل كښى چې خير،دى اودمعمول دهغه كښى چې منكم دى په اجنبي سره چې نحن مبتداده او اجنبي هغې ته وايې چې دمعمولاتو دعامل نه نه وي او فاصله په اجنبي سره جائزه نه ده ځكه چې اسم تفضيل ضعيف العمل دى نوپه متصل كښى عمل كولى شي اوپه منفصل كښى نه شى كولى بخلاف مالوكان فاعلاًالخ په خلاف دهغه صورت نه چې نحن فاعل شي دپاره دخيراو خيرقسم ثاني دمبتدا شي نوبيافصل په اجنبي سره نه لازميږي ځكه چې فاعل كالجزء وي دعامل خپل نه نواجنبي نه دى پوهه شه: چې راجح مذهب دمتن دى نوجواب داستدلال ددې مذهبونونه دادى چې ابتدائيت دصفة بغيرداعتمادمذكو رنه محمول دى په ضرورة شعري باندې ويجوزفي الشعرمالايجوزفي غيرة نو په نثركښى ددې جوازنشته رافعة لظاهر دابل شرط دى دپاره دقسم ثاني دمبتدا او رافعةً حال دى دضمير دالواقعة نه چې راجع دى صفة ته يعنې په حال دكون ددغې صفة كښى چې رافع به وي دپاره داسم ظاهر اومايجري مجراهُ الخ. دادفع داعتراض ده چې تعريف دقسم ثاني جامع لافراده نه دى خارج شه ترې أَرَاغِبٌ په دې قول دالله پاک كښى چې أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ الِهَتِى ځكه چې راغب صفة دى واقع دى پس داستفهام نه قسم ثاني دمبتدادى حالانكه رافع داسم ضميردى خلاصه ددفع يې داده چې ظاهرعام دى كه اسم ظاهروي اوكه جارمجرى داسم ظا هروى اوجارمجرې اسم ظاهر،ضميرمنفصل دى لكه انت (سوال) ولى؟ جواب لكه څنګه چې اسم ظاهرمحتاجه نه وي غيرته نودغه شان ضميرمنفصل هم محتاجه نه وي غيرته لئلايخرج عنه الخ دافائده ده دقيد دمايجرى مجراه ،وَاحْتَرَزَبه الخ په دې قيد سره يې احترازوكه دمثل دأقائمان الزايدان

نه‌لان **أقائمان رافع الخ** ځکه چې اقائمان اګرچې صفة واقعه بعد الاستفهام دی خو رافع دضمیر دی چې راجع دی الزیدان ته، او وجه داده چې که چرې دی رافع للظاهر وي نو بیا به تثنیه نه وي بنا په دې قانون چې کله نسبة دفعل، شبه فعل اسم ظاهر ته وشي نو وُحدا بدأ.

ثلثُ صورٍ پوهه شه چې په دې مقام دقسم ثاني کښې درې صورتو نه دي نو یو مصنف بیان کړیدی بقوله **فان طابقت الخ** او بیا شارح ټول ذکر کړیدی تتمیمًا **الصفةُ الواقعةُ بعدَ حرفِ النفي الخ** دا تعین دمرجع دی او په دې کښې اشاره ده دیته چې ضمیر مطلق صفة ته نه دی راجع ځکه چې قائمٌ په زید کښې مطابق دمفرد سره دی خو جواز دو جهینُ پکښې نشته بلکې خبریت یې تعین دی دپاره دزید ځکه چې دی د نفي او استفهام نه پس نه دی واقع **مذکورا بعدها** مطلب د دې صورتْ دادی چې کله دغه صفة مذکوره مطابق وي د اسم مفرد سره هغه اسم چې مذکور وي پس ددغې صفة نه نو په دې کښې جواز دوجهینو دی یعنې جائزه ده چې دا صفة قسم ثاني دمبتدا شي او مابعدورله فاعل قائم مقام دخبر شي او دا هم جائزه ده چه صفة خبر مقدم شي او مابعدورله مبتدا مؤخره شي او په مذکوراً بعدها سره احتراز راغی دهغه مفرد نه چې مقدم وي په صفة لکه زید قائم نو په دې کښې جواز دوجهینُ نشته بلکې زید مبتدا ده حتمًا او قائم یې خبر دی **واحترز به عما اذا طابقت مثنی الخ** یعنې مفرداً قید احترازی دی نو په دې سره احتراز راغی دهغه صفة نه چې مثنی وي او مطابق وي د اسم ظاهر مثنی سره لکه اقائمان الزیدان یا صفة مطابق شي دهغه اسم سره چې جمع وي لکه اقائمون الزیدون نو په دې کښې جواز دوجهینُ نشته **فانها خبرٌ لیس الا** ضمیر دلیس راجع دی صفة ته او خبر یې مقدر دی **فالتقدیر لیس تلك الصفة الاخبراً** یعنې نه به وي دغه صفة مګر خبر فقط. او تذکیر دضمیر دلیس باعتبار دخبر سره دی او دا ځکه چې صفة په دې مثالونو کښې رافع للظاهر نه دی نو دا صفة قسم ثاني دمبتدا نه دی بلکې خبر دی او الزیدان او الزیدون یې مبتدا مؤخره ده **جاز الامران** دا جزا دفان طابقت ده **کون الصفةِ مبتدأ الخ**.

دا بیان دجواز دوجهینو دی وهذا واضح **فهنا ثلثُ صورد** اتکمیل دمقام دی نو وایې چې په دې مقام کښې درې صورتونه دي **احدیها اقائمان الزیدان الخ** یعنې مطابقت دصفة او اسم په تثنیت او جمعیة کښې نو په دې ترکیبونو کښې متعینه ده داچې صفة به خبر مقدم وي او اسم ظاهر مثني او جمع به مبتدا مؤخره وي او دا نه شي کیدی چې قائمان مثلاً قسم ثاني

دمبتدا شي الزيدان يې فاعل شي چې بيا به لازم شي تعدد فاعل دچې يوضميردی او بل اسم ظاهر **وثانيتها الخ** او دوهم صورت هغه دی چې صفة مفردوي او اسم ظاهر تثنيه يا جمع وي لکه اقائم الزيدون ، اقائم الزيدان **ويتعين حينئذ الخ** او په دې وخت کښې دامتعينه ده وجوبًا چې صفة به قسم ثاني دمبتدا وي او اسم ظاهر به يې فاعل قائم مقام دخبروي **وثالثها الخ** او دريم صورت دمطابقة دصفة دی داسم سره په افراد کښې دا هغه صورت دی چې مذکورفی المتن دی **ويجوزفيه الامران کما عرفت فتذکر**.

والخبرُهوالمجردُ اي هوالاسمُ دا اشاره ده تقديردموصوف ته دپاره دالمجرد او دفع دسوال ده چې تعريف دخبرمنقوض دی په يضرب په يضرب زيد کښې .ځکه چې يضرب مجرددی دعوامل لفظيونه او مسند دی زيدته نوپکار ده چې خبرشي اوزيددی متبدا شي او دادی جمله اسميه وګرزی **معان الامرليس کذالك** خلاصه دجواب يې داده چې مراددمجردنه اسم مجردعن العوامل الفظيه دی اويضرب فعل دی **لان الکلامَفي مرفوعاتِ الاسم** دا يې قرينه ده **فلايَصْدِقُ الخ** دا تصريح بالاعتراض ده **المسندُبه** .پوهه شه چې په دې کښې احتمالات ثلثه دي لکه شارح وايې **اي مايوقعُ به الاسنادُ** دا احتمال اول دی او په دې کښې ديته اشاره ده چې بهِ متعلق دی په ايقاع پورې په هرتعريف کښې لابدی وي دجنس اودفصل نه **نوالاسم المجرد** جنس دی او **المسندبهِ فصل اول** دی نوپه دې سره يې احترازوکه دقسم اول دمبتدانه **لانه مسنداليه لابهِ المغائرللصفةِ الخ** دا فصل ثاني دی يعنې خبرهغه اسم دی چې مغائربه وي دصفة مذکوره فی تعريف المبتدانه نوپه دې سره احترازراغی دقسم ثاني دمبتدانه اګرچې قسم ثاني هم په حقيقة کښې مسندوي **ولك اَنْ تقول المرادُ الخ** دا بيان د احتمال ثاني دی په المسندبهِ کښې نووايې چې جائزده چې ته اووايې چې مرادپه المسندبه سره المسند به الی المبتدا دی يعنې جارمجرورپکښې مقدردی **اوتجعل البَاءَفي بهِ بمعني الی الخ** دا احتمال ثالث دی يا وګرزی بادبهِ په معنی دالی سره مجازاً او ضمير مجروررا جع کړی مبتدا ته پس معنی دا شوه چې **المسندالی المبتدا وعلی التقديرين يخرج بهِ القسم الثانی الخ** بنا په دې تقديرينو خارجه شوه قسم ثاني دمبتدا دتعريف دخبرنه **ويکون قولهُ المغائرُالخ** دا دفع دسوال ده چې هرکله امرکذلک شه نوبيا المغائرالخ لغوه شه نوشارح جواب وکه چې المغائرالخ

تاکید دی دپاره دا خراج دقسم ثاني سوال **ماالفائدة فی هذاالتاکید** جواب اصل په قیود اتوکښې تصریح وي او اخراج دقسم ثاني په المسندٗ سره حاصل شه خوضمنًا ،نو مصنف پرې تصریح وکړه عملاً بالاصالة.

المذاهب فی عامل المبتداوالخبر: **واعلم ان العامل فی المبتدءاوالخبرالخ** غرض دشارح په دې مقام کښې بیان دمذهبودی په عامل دمبتدا اوخبرکښې نوپه دې کښې درې مذاهب دي یو مذهب دبصریانودوئم دزمخشري اوجزولي دریم دکسایي فراء رضی اونورونحاةُ لکه شارح وایي چې پوهه شه چې عامل په مبتدااوخبرکښې ابتداده یعنې عامل یې معنوي دی **اي تجريدُالاسم الخ** دادفع دسوال ده چې دابتدانه به یالفظ دابتدامرادوي یامعنی دابتداء که اول وي نوبیاخوبې عامل لفظي وګرزیده واوکه معنی دابتدامرادوي نومعنی دابتداخوپه مبتداکښې ده نه په خبرکښې خلاصه دجواب یې داده چې مرادترې تجرید دې دعامل لفظي نه اوتجرید په دواړوکښې موجوددی **لیُسنَدالی شی الخ** دادفع د سوال ده چې تجرید خوپه اسماء معدوده کښې هم موجوددې لکه زید عمر وبکرنوددوی عامل دی هم معنوي شي نوشارح جواب وکه چې مراد دتجریدنه دادی چې خالي به وي دااسم دعامل لفظي نه دپاره ددې چې مسندشي دی یوشي ته لکه قسم ثاني دمبتدا یامسندشي ده ته یوشي لکه قسم اول دمبتدا خلاصه داچې تجرید په دوه قسمه دی یودپاره داسنادکما ذکراوبل دپاره دعَد د اوشمیر نو مراد خمونږ ههنا قسم اول دی نه ثاني فلایرد **فمعنی الابتداءالخ** پس مذهب دبصریانودادی چې معنی دابتدا عامل دی په مبتدا او خبر دواړوکښې اورافع لهماده باعتبارالمتکلم **واماعندغیرهم فقال بعضهم الابتداعاملُ الخ** پس ویلی دي بعضُ چې زمخشري اوجزولي دی اودسیبویه نه هم دامنقوله ده چې ابتداعامل دی په مبتدا کښې اومبتدا عامل دی په خبرکښې یعنې عامل دمبتدامعنوي دی اودخبرعامل لفظي دی چې مبتداده **وقال الاخرونَ ان کل واحدمن المبتدُاالخ** او نورویعنې کسایي اوفراء رضی وغیره وئیلی دی چې هرواحددمبتدا اوخبر عامل دی په بل کښې **وعلی هذالایکونان** ، یعنې مبتدااوخبر **مجردَین عن العوامل اللفظية** یعنې عامل یې لفظي دی په نزد ددوی.

احوال المبتدا واصلُ المبتدا مقصد دمصنف په دې آئنده عبارت کښې بيان داحوال دمبتدا دی **اي ماينبغي الخ** . دا تعين دماهو المراددی داصل نه ځکه چې داصل دپاره معاني کثيره دی کمامر.نو اصل په معنی داولی ماينبغی يعنې راجح سره دی مطلب داچې هغه حالت چې اصل يعنې راجح او اولی دی په مبتد اکښې نوهغه تقديم دی **اذالم يمنع مانعٌ**.

دا دفع دسوال: چې دااصل منقوض دی په في الداررجل ځکه چې تقديم دمبتدا په دې کښې ممنوع دی خلاصه دجواب يې داده چې تقديم نه وي موجود اوهلهنامانع موجوددې هغه داچې که رجل مقدم شي نولازم به شي ابتدائيت دنکرې محضه نوخبرپرې مقدم شه دپاره ددې چې په دې مبتدا کښې تخصيص پيداشي يعنې نکره مخصصه شي حتی يصح ابتدائية وسياتی.

لفظًا يعنې لارتبةً مطلب داچې تقديم دمبتدا په خبرباندې لفظًا اصل اوراجح دی که مانع نه وي اوهرچې دی تقديم دمبتدا په خبرباندې رتبةً نوهغه خوبهرحال واجب دی **لان المبتدا ذاتٌ والخبرَحالٌ الخ** دايې دليل دی يعنې مبتدا ذات دی اوخبريې يوحال دی دا حوالونه اوذات مقدم وي په احوالو طبعًا نو مقدم شه ذکرا اولفظًا ددې دپاره چې مطابقة دذکراودلفظ راشي دطبعي سره.

سوال :لانسلم چې مبتدا ذات وي او خبر حال وي الاترى چې **الصلوة په الصلوة خيرٌمن النوم** کښې مبتداده اوذات نه دی بلکې عرض دی اوالعلم په العلمُ حَسَنَ کښې مبتداده اوذات نه دی بلکې عرض دی اودغه شان زيدپه هذازيدکښې خبردی اوحال نه دی بلکې ذات دی ؟

جواب :سوال به هله واردوي که چرې ذات په معنی دقائم بنفسه سره وي خوداسې نه ده بلکې په معنی دمعروض سره دی اوشک نشته په دې کښې چې الصلوةُ معروض دی اوخبرية ورته عارض دی دغه شان العلم معروض دی اوحسن ورته عارض دی يامرادذات نه مايعلم ويُخبرعنه دی (يعنې هغه شی چې معلوميدی شي اوخبرورکول ترې صحيح وي) نه په معنی دمايقوم بنفسه سره اوظاهره ده چې صلوة اوعلم دقبيلي دمايعلم ويُخبرعنه نه دی اودغه شان زيد په هذازيدکښې مؤول دی په تاويل دمسمی بزيد سره اومسمی دقبيلی داوصافونه دی دا بنادی په قول دسيد محقق په حواشي دمطول کښې چې ويلی يې دی چې کله اسم جامدخبرواقع شي نوخامخابه مؤول وي په يوحالة داحوالو دمبتد **اومن ثم الخ**

داتفریع ده په اصل مذکوردمبتدا **ای ومن اجل ان الاصل فی المبتدا الخ** په دې کښې دیته اشاره ده چې من اجلیه دی اوبل تعین دمشارالیه دی یعنې په دې وجه چې اصل په مبتدا کښې تقدیم دی **لفظاً اورتبةً** (عبارت په حذف دمعطوف سره دی چې رتبةً دی **والالایصح التفریع الاتی فافهم جاز قولهم فی داره زید** مراد په دې قول سره هر هغه ترکیب دی چې ملحق شوی وي په خبرپورې ضمیر دمبتدا مؤخری **مع کون الضمیر عائداً الی زید الخ** یعنې داترکیب جائزدی سره ددې چې ضمیرراجع دی زیدته چې متاخردی .لیکن دی لفظاً متاخردی خورتبةً مقدم دی ځکه چې متبدا ده اواصل په مبتدا کښې تقدیم دی نو اضمارقبل الذکرلازم شه خولفظاًنه رتبةً وهذا جائز **وامتنع قولهم صاحبها فی الدار** مراددی قول نه هر هغه ترکیب دی چې ملحق شوی وي په مبتدا پورې ضمیراوراجع وي هغه شي ته چې په حیزدخبرکښې وي **لعود الضمیرالی الدار الخ** دایې دلیل دامتناع دی یعنې داترکیب ممتنع دی ځکه چې ضمیرراجع دی دارته چې واقع دی په حیزدخبرکښې اواصل په خبر کښې تاخیردی نولازمیږي ارجاع دضمیرمتاخرته لفظاًورتبةً وهذا لایجوز .

وقد یکون المبتدا نکرةً الخ اوکله کله مبتدا نکره وي اګرچې اصل داده چې معرفه دی وي **لان للمعرفة معنی معیناً الخ** ځکه چې دمعرفې معنی معلومه وي اواهم مطلوب اوکثیرالوقوع په کلام کښې حکم کول وي په امورمعینه باندې نوځکه اصل په مبتدا (محکوم علیه) کښې تعریف دی **ولکنه لایقع نکرةً الخ** دااشاره ده دیته چې اذاتخصصت قیدا حترازی دی په دې احترازراغی دنکرې محضی نه یعنې نکره محضه مبتدانه شي واقع کیدی بلکې چې کله یې تخصیص وشي په یووجې دوجوهوسره نوابتدائیة یې صحیح دی **اذ بالتخصیص الخ** دایې تعلیل دی .یعنې داځکه چې په تخصیص سره قلة دشرکاء راځي نوبناپه دې قریب کیږي نکره معرفې ته ځکه چې په معرفه کښې شرکة دشرکاء بیخې نه وي اوقریب لره حکم دعین شي وي **مثل قوله تعالی ولعبد مؤمن الخ** دایې مثال دی **فان العبد متناول الخ** داتطبیق دمثال دی مع الممثل یعنې عبدنکره ده شامله ده مومن کافردواړوته خو چې کله یې توصیف وشه په مومن سره نوتخصیص په کښې پیداشه مراددتخصیص نه تقلیل دشرکاء دی) نومبتدااوګرزیده اوخبریې خبرشه **ومثل قولك رجل**

في الدارام امراةٌ دا دوهم مثال دی دنکری. مخصّصی فان المتکلم بهذا الکلام الخ دا وجه دتخصیص ده او بیان دمفهوم کلي ددې مثال دی یعني مراد په دې سره هغه کلام دی چې په هغې کښې سوال شوی وي په همزې او ام متصله سره نو وایې چې قول کونکې په دې کلام سره عالم وي په دې چې یوکس خامخا په دارکښې موجود دې فیسال المخاطب الخ نو متکلم دمخاطب نه تپوس دتعین داحدالامرین کوي او داځکه چې قانون دادی چې أم راځي دپاره دتعین دا احدالامرین المعلومین عندالمتکلم پس ګویا لکه چې متکلم اُووی اي من الامرین المعلوم الخ یعنې کوم یوکس کائن او موجود دې په دارکښې دهغې دووکسانو نه چې کون داحدهما في الدار معلوم دی متکلم ته فکل واحد منهما تخصص الخ پس هروا حد درجل او امرءة نه خاص وګرزیدل په صفة دمعلومیة عند المتکلم سره یعنې تخصیص ددواړو په اعتبار دعلم دمتکلم سره دی نو رجل مبتدا شوه . او امرءةٌ پری عطف دی اوفی الدارئی خبر دی سوال: دادلیل منقوض دی په أرجل فی الدار. بغیر د ذکر د امرأة نه ځکه چې په دې کښې دغه تخصیص مذکورنیشته نو پکارده چې ابتدائیة درجل صحیح نه شي مع انه صحیح کماقال عبدالغفور جواب داقول مختصر دی دارجل فی الدارام امراءة نه اوحکم دمختصر من الکلام او دمطول واحدوي ومثل قولك وما احدٌ خیرٌ منك دا دریم مثال دی دنکرې مخصصی نو احد په دې مثال کښې نکره مخصصه ده او ابتدائیة یې صحیح دی فان النکرةَ فیها وَقَعَتْ في حیّز النفي الخ دا یې وجه دتخصیص ده نو وایې چې احد په دې جمله کښې واقع دی په سیاق دنفی کښې فافادت عمومَ الافرادِ الخ پس ثابت که دی نکرې عموم او شمول لره افرادو خپلو ته فتعینتْ پس متعینه شوه دغه نکره چابه وي چې لازم شه خروج دبحث نه ځکه چې بحث ځمونږ په تخصیص دنکرې کښې دی نه په تعین دنکرې کښې نوشارح جواب وکه بقوله و تخصّصتْ یعنې مراد دتعین نه تخصیص دی سوال : مثال مطابق نه دی دممثل سره ځکه چې غایة مافی الباب نکره مفید دپاره د عموم شوه او دعموم او دتخصیص په مابین کښې منافاة دی ځکه چې تخصیص دپاره دوه معنی دي یو تقلیل دشرکاء دوهم رفع داشتباء نو مراد ههنا معنی ثاني ده او منافی دعموم سره معنی اوله ده حاصل داچې تخصیص په وما احد کښې په اعتبار درفع داشتباه سره حاصل شویدی په دې شان سره چې په احد خیرمنک کښې (قبل دخول النفی) احتمالات کثیره وو ځکه چې معنی

ددې داده چې یو کس ستانه غوره دی نو اوس پته نه لګي چې هغه یو کس زید دی که عمرو که بل څوک نو اشتباه پیدا شو ه خو چې کله پرې نفي داخله شوه نو معنی دا شوه چې هیڅوک ستانه غوره نشته نو دغه احتمالات ټول ختم شو نو اشتبا ه رفع شوه او تخصیص حاصل شه اوهم دا مطلب دی ددې قول دشارح چې **فانه لاتعدد فی جمیع الافراد** تعدد یعنې اشتباه نشته په نفی دجمعیو افرادو کښې **بل هو امرٌ واحدٌ** بلکې مجموعه دافراد و چې منفي شوه امرواحد دی **وکذا کل نکرة فی الاثبات قُصد بها العموم الخ** په دې عبارت کښې احتمالین دي یو دا چې دا مستقله مسئله ده دجانب دشارح نه پس کاف تشبیهي دی او ذا اسم اشاره ده **فالتقدیر کما ان النکرة اذا وقعت فی حیز النکرة تعم جمیع الافراد فتقع مبتدا کذالك کل نکرة وقعت فی الاثبات** نو دغه شان هغه نکره چې واقعه شي په اثبات کښې او قصد شوي وي په هغې سره عموم نو اشتباه یې رفع شوه نو ابتدائیة یې صحیح شه دوهم دا چې دا دفع داعتراض ده چې ددې عبارت نه دامعلومه شوه چې تخصیص به حاصلیږي په هغه نکره کښې چې واقع وي په حیزدنفي کښې اونه به حاصلیږي په هغه نکره کښې چې په اثبات کښې واقع شي نو بیا دې ابتدائیت دتمرةً صحیح نه شي په تمرة خیرمن جرادة کښې حالانکه داترکیب صحیح دی **فدفع بقوله وکذا کل نکرة الخ**.

خلاصه دجواب یې دادی چې نکره چې په حیزدنفي کښې واقع شي نو ابتدائیة یې صحیح دی برابره خبره ده چې قصد دعموم یې شوي وي او که نه. اونکره چې کله په اثبات کښې واقع شي نو ابتدائیة به یې هله صحیح کیږي چې قصد دعموم یې شوي وي **والافلا، لکه تمرة خیرمن جرادة ای کل فردمن افراد التمرة الخ** دا قول دامیرالمؤمنین حضرت عمررضی الله عنه ، دی کله چې اهل حمصُ په حالت داحرام کښې ملخان قتل کړل نو دکعب الاحبارنه یې تپوس وکه نو هغوی وفرمائیل چې دهرجراد په بدله کښې درهم ورکړی نو حضرت عمر و فرمایل **یااهل حمص تمرةً خیرمن جرادة** یعنې تصدق دمقدار دتمری کافی دی په بدله دهرجراد کښې **ومثل قولهم شرٌاَهر ذاناب**

دا بل مثال دنکرې مخصښې دی نوشرنکره ده خو ابتدائیت یې صحیح دی **لِتَخَصُّصِهٖ** دوجې د تخصص نه **بما یتخصص به الفاعل الخ** په هغه شي سره چې خاص کیږي په هغه سره فاعل چې تقدیم دفعل دی یعنې تخصص دشرٌ فی نفسه نه دی بلکې په اعتبار دتخصیص دفاعل

سره دی چابه وی چې تخصص دفاعل خوپه دتقديم دفعل سره راځی اوههنا خوتقديم دفعل نشته نو شارح جواب وکه بقوله **لِشبهه بِهِ** دوجې دمشابهة د شرنه دفاعل سره **اذ يُستعمل في موضعِ ما اُهرذَنَاَبِ الاشرٌ** دايې وجه دتشبيه ده يعنې داجمله اسميه استعماليږي په موضع دجملي فعلي کښې اوجمله فعليه مفيد دپاره دتخصيص دفاعل وي فکذا هذا وسياتی بيانه.

سوال: دکوم ځای نه معلومه شوه چې دااستعماليږي په ځای دجملي فعلي ؟

جواب: دامعلوميږي ددينه چې عرب ددې جملي نه حصراواختصاص اراده کوي حالانکه ادوات دحصرپکښې نشته نومعلومه شوه چې داجمله اسميه دوی په ځای دجملي فعلي استعمالوي اوس تخصيص دفاعل په څه سره حاصليږي نوشارح وايې چې **وما يَتَخصصُ قبل ذکره الخ** اوهغه شی چې په هغې سره تخصيص دفاعل کيږي قبل دذکرنه هغه صحة دکون دفاعل دی محکوم عليه په هغه فعل سره چې مسندوي ده ته خلاصه داچې تخصيص دفاعل په تقديم الحکم سره دی **فانك قلتَ قَامَ الخ** داتوضيح بالمثال دی يعنې چې ته اُوو ايې چې قام نومعلوميږي ددينه چې هغه شی چې ذکرکولی شي بعدددينه نوهغه به هغه ذات وي چې صحيح وي دا خبره چې حکم وکړی شي په هغه باندې په قيام سره يعنې په هغه کښې صلاحية دقيام موجودوي.

فاذاقلت رجلٌ فهوقوة الخ پس هرکله چې ته اووايې چې رجل نوداقول ستاچې رجل دی په قوة ددې کښې دی چې رجل موصوف بصحةِ الحکم عليه بالقيام ، پس دغه شان خبره په شرکښې هم ده چې کله اووئيلی شه چې مااهرنومعلومه شوه چې بعدددينه به هغه شی ذکرکيږي چې په هغه کښې صلاحية دااِهراريعنې دغپولودسپي وي نوچې کله شرذکرشه نوداپه قوة ددې کښې شه چې شرموصوف بصحةِ الحکم بالاهر ارِعليه نوتخصيص پکښې پيداشه نوابتدايية يې صحيح شه ،اوبعض نحاة وايې چې داپه اصل کښې اهرذاناب شرو پس ضميرمستترداهرفاعل دی اوشرترې بدل دی اوبدل عن الفاعل په حکم دفاعل کښې وي بيامقدم کړی شه شردپاره دافادی دحصراواختصاص نوجوړشه ترې شرا هرذاناب

واعلم اَن المُهرَ للكلب الخ

ددينه دشارح دوه غرضونه دی يوتقسيم دنباحِ کلب دی اوبل تمهيد دی دفع دسوال ته نووايې چې نباحِ کلب يعنې دسپی غپل په دوه قسمه دی يومعتاد اوبل غيرمعتاداونباح

معتاد په دوه قسمه دی کله د مالک د دوست د راتلو په وجه وي نو د اخیر ګڼرلی شي او کله د دشمن د راتلو په وجه وي نو د اشر ګڼرلی شي او غیر معتاد هغه دی چې سپی اوږدی اوږدی جَلئ اوباسې نو د اشر دی فقط نا پوهه خلق په دې تشاؤم کوي یعنې بدفالي پرې نیسي **فعلی الاول یصح القصرُ الخ** پس بنا په اول خو صحیح دی حصر او اختصاص د شر بالنسبة الی الخیر **فمعناہ شرلا خیرٌ** اهرذاناب نو ابتدائیة یې صحیح شۀ **وعلی الثانی لایصح الخ** او بنا په ثاني یعنې نباح غیر معتاد حصر نه دی صحیح ځکه چې په دې تقدیر احتمال نیشته نو سوال وارد یږي چې بنا په دې تقدیر حصر او اختصاص صحیح نه شه نو ابتدائیة د شر دی صحیح نه شي نو شارح جواب وکه بقوله **فیُقدرَ وصفٌ حتی یصح القصرُ الخ** یعنې مقدر به کړی شي وصف په دې تقدیر د پاره د دې چې صحیح شي حصر اختصاص او صفة مقدره عظیم دی پس معنی به دا شي چې شر عظیم لا حقیر اهرذاناب او دا هم کیدی شي چې تنوین د شر د پاره د تعظیم شي **ای شرعظیم الخ** نو بیا تقدیر ته ضرورت نشته **ومثل قولك فی الدار رجل** دا بل مثال دی د پاره د نکرې مخصصي پس رجل نکره مبتدا ده او ابتدائیة یې صحیح دی **لتخصصه بتقدیم الخَبرِ** تخصیص یې د تقدیم د خبر په وجه دی **لانه اذا قیل فی الدار الخ** دا یې دلیل د تخصیص دی ځکه چې کله وویلی شه چې في الدار **عَلم ان ما یذکر الخ** نو معلومه شوه چې هغه شې چې ذکرکولی شي پس دده نه نو هغه به موصوف وي په صحة د استقرار فی الدار سره نو رجلِ مثلاً په حکم د تخصیص بالصفة کښې وګرزیده نو هغه رجل ترې خارج شه چې دغه شان نه وي نو تقلیل د شرکاء پکښې راغی **ومثل قولك سلامٌ علیك** دا بل مثال دی پس سلامٌ نکره ، مبتدا ده او ابتدائیة یې صحیح دی دلیل یې دا قول د شارح دی **لتخصُّصِه بالنسبة اِلی المتکلم الخ** دوجی د تخصص د سلام نه په نسبة سره متکلم ته **اِذْ اَصلُه سَلمتُ سلامًا علیكَ الخ** ځکه چې دا په اصل کښې سلمتُ سلامًا علیک وو یعنې جمله فعلیه وه او دا ځکه چې سلام عرض دی محتاجه دی مَن یَقُومُ به ته او هغه فاعل متکلم ، دې پس حذف شه فعل سره د فاعل نه یعنې سلمتُ د پاره د اختصار او عدول وشه د نصب د سلام نه رفع ته یعنې مبتدا ترې جوړه شوه د پاره د قصد د دوام او استمرار ځکه چې دا جمله دعائیه ده او مناسب د دعا سره دوام او استمرار دی او دوام په جمله اسمیه کښې وي ځکه چې جمله اسمیه مرکبه وي د اسمینو نه او اسم دلالت کوي په ذات او ذات دائمي

اومستمروي اويادا چې جمله اسميه مقترون نه وي په زماني معيني پورې بلكې ټولوزمانوته شامله وي اودامعنى ددوام ده په خلاف دجملي فعليي نه ځكه چې دامركب وي دفعل اواسم نه او فعل دلالت كوي په حدوث اوتجددباندې **فكأنه قال الخ** پس گويا لكه چې متكلم ويلي وي چې سلامي چابڼه وی چې داخوعين معرفه شوه

نوشارح جواب وكه بقوله **سلام من قبلي عليكَ** يعني دانسبة متكلم ته دپاره دتعريف نه دى بلكې دپاره د تخصيص **هذاهوالمشهورُالخ** پوهه شه چې په ابتد ائية دنكرې كښى اختلاف دى يو مذهب دجمهورونحاةُ دى اوبل دبعض محققينونو مشهوره فيمابين جمهورالنحاة داده چې ابتدائية د نكرې محضى صحيح نه دى نوتخصيص دنكرې بوجه ماضرورى دى دپاره دابتدائية اوبعض محققين وايي چې دغې تخصيصا تو ته حاجت نشته بلكې دارومدار دابتدائية دنكرې په فائدى دمخاطب دى ځكه چې غرض دكلام نه افاده دمخاطب ده .پس هركله چې مخاطب ته فائده حاصله شوه نوصحيح شه ابتدا ئية دنكرې برابره خبره چې مخصصه وي اوكه نه ،شارح وايي چې داقول په تخصيص دنكرې سره عندتنكيرالمبتداء مشهورفيمابين النحاة دى اوبعض محققين چې رضى اوابن الديان وغيره دى ،وايي چې مداردصحة الاخبارعن النكرة (يعني نكره مبتدااواقع كول) په افادى دمخاطب دى نه په هغه تخصيصاتو چې دوى ذكركړيدى چې دهغې په توجيهاتو كښى حاجت پيخيږي تكلفات ركيكه واهيه ته ركيک ماخوذدى درکَ يرکَ نه ضعف ته وايي اوواهيه يې عطف تفسيردى چې واهى هم په لغة كښى ضعيف ته وايي (محرم) نوضعف داول مثال دادى چې په ولعبد كښى حاصل شوى دى تخصيص نوعى حالانكه ضرورى تخصيص فردى دى په دوئم كښى ضعف دادى چې تخصيص په ارجل الخ كښى راغلى دى خوپه نسبة سره متكلم ته حالانكه تخصيص بالنسبة الى المخاطب پكاردى اوپه وماحدالخ كښى ضعف دادى چې په دى كښى عدول راغلى دى دتخصيص معروف نه چې قلة دشركاء دى غيرمعروف ته چې رفع داشتباه ده اوپه څلورم يعني شراهرالخ كښى ضعف دادى چې تخصص په ده كښى بذات خودنيشته خوپه مشبه به كښى يې دى اوپه پنځم يعني فى الدارالخ كښى ضعف دادى چې په دې كښى تخصيص راغلى په خلاف الاصل سره چې تقديم الخبر دى اوپه شپږم يعني سلام عليک كښى داتكلف دى چې ددې په حالت دنصب كښى هغه معنى اراده كول دي چې كومه يې په حالت درفع كښى ده اوداتكلف دى **فعلى**

هذا یجوزان یقال کوکب انقض الساعةَ الخ دا تفریع ده په ما قال د بعض المحققین باندې یعنې بنا په دې ما قال د بعض محققن جائز دی دا قول چې کوکبٌ الخ کوکب نکره ده مبتداده بغیر د تخصیص نه انقَض فعل ماضي ده د باب انفعال نه سقوط ته وایې او الساعة منصوب دی بنابر ظریفة معنی یې داده چې ستوری پرتویوته پس ابتدائیة د کوکب صحیح دی دوجې د فائدی نه مخاطب ته هغه علم د مخاطب دی په پویوتو د ستوری اودا ځکه چې دستوری پریوتل هرچاته نه وي معلوم او دغه شان **شمس انکسفت قمرٌ انخسفت** نو ابتدائیة د شمس او قمر صحیح دی بغیر د تخصیص نه دوجې د حصول د فائدی نه چې هغه علم د مخاطب دی په کسوف

د شمس او خسوف د قمر **ولا یجوزان یقال رجلٌ قائم لعدمه** یعنې دا ترکیب جائز نه دی دوجې د عدم فائدی نه مخاطب ته ځکه چې علم د مخاطب په ثبوت د قیام د پاره دیو رجل د رجالُ ددې جملې د سماع نه مخکښې حاصل دی **وهذا القولُ اَقربُ اِلی الصواب** غرض د شارح ددې نه بیان د ترجیح د مذهب د محققینو دی نو وایې چې دا قول اقرب الی الصواب دی دوجې دورود د استعمال نه په مذهب ددوی لکه وجوه یومئذٍ ناظرة او یوم لنا ویومٌ علینا وغیره **ولما کان الخبرُ المعرف الخ** دا تمهید دی متن آتی ته نو وایې چې هر کله هغه خبرچې تعریف یې وشه مختص وو په مفرد پورې **لکونه قسماً الخ** دوجې د کون د خبر نه قسم د اسم او اسم مفرد وی **فلم یکن الجملةُ الخ** نو جمله په دغه خبر کښې داخله نه وه **اَرادَ ن یُشیرَ اِلی ان خبرَ المبتدا الخ** نو مصنف اراده وکړه چې اشاره وکړي عِلم ته په دې چې خبر کله کله جمله هم واقع کیږي.

اصل په خبر کښې افراددي : پوهه شه چې اصل په خبر کښې افراد دې او ددې د پاره دوه وجې دي یو دا چې مفرد اخصر دی دوئم وجه اتفاق د رکنینو د جملې یعنې د مبتدا او خبر دی په افراد کښې خو کله کله خبر جمله هم واقع کیږي خلاف الاصل ځکه چې مقصد د خبر نه بیان د حکم د مبتدا وي او دا لکه څنګه چې په مفرد سره حاصلیږي نو دغه شان په جملې سره هم **ولَمْ یذکر الظرفیةَ الخ** دا دفع د سوال ده چې خبر لکه څنګه چې جمله اسمیه او جمله فعلیه واقع کیږي نو دغه شان جمله ظریفه هم واقع کیږي نو دا یې ولې ذکر نه کړه نو شارح جواب وکړ چې **لانها راجعة الی الفعلیة** او دا ځکه چې متعلق د ظرف نه وي مګر فعل کما سیجئ ځکه یې

جمله ظرفیه مستقلا ذکر نه کړه او جمله شرطیه هم ذکر نه کړه نوځکه چې شرط عند العرب قید دپاره دجز اوی اوجزا یا جمله اسمیه وي یافعلیه نوشرطیه یا په جمله اسمیه کښې داخله ده یا په فعلیه کښې **واذاکان الخبر جملة الخ** په دې عبارت کښې اشاره ده امرینو ته یو بیان ددلیل دی دپاره ددې قول چې فلابد من عائد اوبل بیان ددې چې شرط دفلا بد مقدر دی نووایې چې هرکله خبر جمله واقع شي او جمله مستقله بنفسها غیرمربوطه بغیرهاده حالانکه خبرمربوط وي دمبتدا سره **فلابد** لا دپاره دنفي جنس ده اوبد یې اسم دی ،مبني علی الفتح دی او من عائد یې په محل درفع کښې خبردی پس نشته دی خلاصی په دغه جمله کښې دعائد اورابط نه **یَربِطُهَا بِه** ضمیرمستکن دیربط راجع دی عائد ته . اوضمیربارز یعنې (ها) راجع دی جملې ته ،اوضمیرمجرورد (به) راجع دی عائد ته نو معنی دا چې ربط راولی دعائد ددغی جملې دمبتدا سره .

عائدڅلور قسمه دي : ۱.ضمیر ۲،الف لام ۳، وضع داسم ظاهرپه ځای دضمیر ۴کون دخبر تفسیر دپاره دمتبدا لکه شارح وایې **وذلك العائدُ الخ** دغه عائد به یاضمیروي لکه مثالین مذکورین فی المتن **اوغیره کاللامِ فی نعمَ الرجلُ زید** دا په هغه تقدیرچې زید مبتد امؤخره شي او نعم الرجل جمله فعلیه خبرمقدم شي نوعائد په دې کښې الف لام دی ځکه چې داالف لام عهدي دی اوپه دې کښې اشاره ده زید ته **اووضعُ المظهرِ موضعَ المضمرِ نحو الحاقةُ ما الحاقةُ** پس الحاقة مبتدا ده اوما مبتدا ثاني ده او الحاقة خبردمبتدا ثاني دی مبتدا ثاني سره دخبرنه جمله اسمیة خبردمبتدا اولی دی اوعائد یې وضع دظاهرپه موضع دضمیراودا موضع دضمیردی ځکه چې کله یولفظ ذکرشي په اسم ظاهرسره نوثانیاً ذکرکولی شي په ضمیرسره **فالتقدیر الحاقة ما هي** اودا ضمیرراجع دی مبتدا ته نوارتباط حاصل شه اوضمیرپه ځای اسم ظاهروضع شه دپاره د تعظیم **وقس علیه القارعة ما القارعة اوکون الجملةِ تفسیراً للمبتدا** لکه **قل هوالله احد** هو مبتدا ده او الله احد جمله مفسره یې خبردی اودمفسر اودمفسرپه مابین کښې ارتباط وي **وقد یُحذفُ العائدُ** اصل خو دا ده چې عائد به مذکوروي خو کله کله حذف کولی هم شي **اذاکان ضمیراً** په هغه وخت کښې چې کله داعائد ضمیروي یعنې مطلق عائد به نه حذف کیږي ځکه چې غیر دضمیرته ذهن سقبت نه

کوي نو خلل به واقع شي **لقيام قرينة** يعنې داحذف جائزدی په وخت د قیام دقرینې کښې **نحو البر الكر بستين درهماً الخ** دايې مثالونه دی واضح دی **بقرينة ان بائع البر الخ** يعنې حذف دعائد ههنا په قرینې حالئ سره دی هغه داچې بائع دبُراو دسمنُ نرخ دبل څیزنه کوي **اختلاف په متعلق دظرف کښې** **وماوقع ظرفا اي الخبر الذي الخ** په دې کښې اشاره ده دیته چې ماموصوله ده او عبارت ده د خبرنه **ظرف زمان الخ**.

دادفع دسوال ده چې ظرف به خالي نه وي یابه ترې مراد ظرف حقیقي وي چې زمان او مکان دی یا مجازی چې جار مجرور دی یا دواړه که اول وي نو ظرف مجازی ترې خارجیږي حالانکه دهغه هم داحکم دی او که ثاني وی نو حقیقي ترې خاجیږي او که دواړه مراددوی نو جمع بین الحقیقة والمجاز لازمیږي جواب په اختیار دشق ثالث سره دی یعنې دواړه مراددی خو اشکال نه واردیږي ځکه چې اراده ددواړو په طریقې دعموم مجاز سره ده یعنې مراد دظرف نه محتاج الیٰ المتعلق دی که ظرف حقیقي وي او که مجازی وي پوهه شه چې په دې کښې دوه مذهبه دی یو دبصریانو او بل دکو فیانو **فالاكثر من النحاة الخ** یعنې بصریان قائم دی **على انه اي الخبر الخ** داتعین دمرجع دی یعنې په نزد دوی به متعلق دظرف فعل وي او په نزد کوفیانو **اسم مقدر اي مؤول** دادفع دسوال ده چې مقدر خو محذوف ته وایې حالانکه ظرف خو مذکوروي اودغه شان ددې نه داهم معلومه شوه چې جمله به مقدره وي حالانکه مقدر فقط فعل وي خلاصه دجواب یې داده چې مقدر په معنی دمؤول سره دی مقابل دمذکورنه دی **لانه اذا قدر فيه الفعل الخ** ځکه چې کله فعل مقدر کړی شي په ظرف کښې نو جمله به ترې جوړیږي **بخلاف ما اذا قدر فيه الاسم الخ** په خلاف دهغه نه چې اسم فاعل مقدر کړی شي لکه دامذهب اقل دی چې کوفیان دی نو په دې وخت کښې به ګرځي داظرف مفرد یعنې شبه جمله پس ددینه پوهه شه چې هغه فعل چې متعلق دظرف وي نو هغه به دافعال عامو نه وي او افعال عامه څلوردي لکه وایې.

افعال عموم نزد ارباب عقول کون است ثبوت است وجود است حصول

او فعل خاص هم متعلق واقع کیدی شي چې کله ورته ذهن سبقت کولی شي دقرینې او دمقام وجې نه لکه وئیلی کیږي اَبتدِأ **بسم الله الرحمن الرحيم** دکتاب دشروع کولو په موقع دلیل

داکثرو **وجهُ الاکثرالخ** دلیل داکثرو چې بصریان دی دادی چې **ان الظرف لابدالخ** چې ظرف دپاره لابدی ده دمتعلق نه چې عامل وي په ده کښې یعنې هرمتعلق عامل وي په متعلق کښې **والاصل في العمل الخ** او اصل په عمل کښې فعل دی **فاذاوجبَ التقدیرُ الخ** پس هرکله چې مونږه تقدیر کوو نو تقدیر داصل اولی دی او اصل په عمل کښې فعل ځکه دی چې دی وضع شویدی دپاره دعمل اوبل داچې فعل محتاجه ډیردی تردې چې بغیردفاعل نه شي موجود دی او کوم شی چې محتاجه ډیروي نو هغه مؤثره ډیروي.

دلیل داقل: ووجهُ الاقل الخ دلیل داقل علماءُ چې کوفیان دي دادی چې ظرف واقع کیږي خبرپه جمله کښې او اصل په خبر کښې افراد دی اومفردنه وي مگراسم نومونږه چې تقدیر کوونو تقدیرداصل اولی دی اصل په خبرکښې افرادولی دی نوددې دپاره درې وجې دی یوداچې خبر قسم دمرفوع دی اومرفوع قسم داسم دی او اسم نه وي مگرمفرد دوئم داچې موافقت راشي په ما بین درکنینودکلام کښې چې مبتدا اوخبردی ځکه چې مبتداخونه وي مگرمفردنومناسبه داشوه چې خبرهم مفردوي درئم داچې مفردمحتاجه نه دی عائدته په خلاف دجملې نه اوعدم احتیاج اصل دی.

مواضعُ وجوب تقدیم المبتدا: پوهه شه چې شارح ملاجامي فرمایې چې اصل په مبتداکښې تقدیم دی اوتاخیریې هم جائزدی دخبرنه اگرچې خلاف الاصل دی دوجې دوسعة دلغة عربي نه **لکنه قدیجبُ لِعارضٍ** خوکله تقدیم دمبتداپه خبرواجب وي دوجې دعارض نه اودا څلورمواضع دی کمااشارالیه بقوله **واذاکان المبتدأمشتملاًالخ** اذاشرط دی اووجبَ تقدیمُه یې جزا ده نواول موضع دادی چې کله مبتدااشتمله وي په داسې شي چې دهغې دپاره صدارت دکلام ضروري وي (نوتقدیم به یې واجب وي) **ای علی معنًی وجبَ الخ** لفظِ مَاموصوفه اوموصوله دواړه کیدی شي لیکن شارح ذهاب کړیدی اول ته اوعبارت دی دمعنی نه اوپه وجب کښې اشاره ده متعلق دظرف ته **کالاستفهام** کوم اشیاء چې تقاضادصدارت دکلام کوي هغه استفهام، تمني، ترجي، قسم او ضمیرشان وغیره دی عندالبعض اومشهوره داده چې هغه اشیاء چې تقاضاد صدارت دکلام کوي هغه شپږدي.

کماقال الناظم: شرط وقسم وتعجب واستفهام نفی آمد ولام ابتداء گشت تمام.

شرط لکه مَنْ جاءفهومکرم ضمیرشان لکه هوزید قائم. تعجب لکه مااحسنَ زیداً استفهام

لکه من ابوک نفی لکه مازید بقائم لام ابتدا لکه لَزیدٌ منطلق ،او دا اشیاء تقاضا د صدارت د کلام ځکه کوي چې د اول وخت نه نوعه د کلام معلوم شي **حفظًا لصدارته** دا مفعول لهٗ دی علة دی د پاره د تقدیم یعني ددې د پاره چې صدارت یې محفوظ شي **فان من مبتدا الخ** دا تطبیق د مثال دی مع الممثل **فان معناه أهذا ابوك الخ** دا دفع د سوال ده چې مَن خو نکره محضه ده نو لازم شۀ نکارت د مبتدا سره د تعریف د خبر نه وهذا لایجوز حاصل د دفع یې دا دی چې من اګرچې صورتاً نکره ده خو معنی معرفه ده ځکه چې معنی یې دا ده چې **اهذا ابوك ام ذاك او هذا او ذاك** معرفه ده.

وهذا مذهب سیبویه یعني په دې مسئله کښې اختلاف دی یو مذهب د سیبوی دی او بل د بعض نو مذهب د سیبوی دا دی چې هغه نکره چې متضمنه وي استفهام لره نو ابتدائیة د هغې صحیح دی او سرِ په دی کښی دا دی چې دا معرفه ده مآلاً ځکه چې دا په قوة دا **زید ام خالد الی آخر الاسماء** کښی دی لیکن شمیرل د ټولو اسماء محال دی دوجې د عدم تناهي نو ځکه په طریقي د اجمال سره تپوس وکړی شه په مَن ابوک سره. **وذهب بعض النحاة الخ** او ذهاب کړیدی بعض نحاة یعني غیر د سیبویه نه مراد ترې جمهور دی ،لیکن تعبیر یې ترې کړیدی په بعض سره تنبیها علی ضعفه او ذهاب یې کړیدی دیته چې ابوک مبتدا مؤ خره ده **لکونه معرفةً** او من یې خبر دی چې واجب التقدیم دی په مبتدا باندې **لتضمنه معنی الاستفهام** نو دې مستحق د صدارت د کلام دی او مبتدا اګرزول د هغه چې مستحق د صدارت د کلام وي ،اولی دی د غیر مستحق لصدارة الکلام نه **او کانا ای المبتدا والخبرُ معرفتَین** دا موضع ثاني دی یعني چې مبتدا او خبر دواړه معرفې وي.

متساویَین فی التعریف الخ دا دفع د اعتراض ده چې بنا د متونو په اختصار وي نو مصنف به اکتفا کړی وي په متساویین باندې فقط نو شامل به وو معرفتین یعني مساواة فی التعریف نه هم خلاصه د جواب یې دا ده چې بنا د متونو په اختصار وي خو هله چې مُخِل للمقصود نه وي او دلته مُخل للمقصود دی ځکه چې که چرې مصنف اکتفا کړی وي په متساویین نو توهم به شوی وو چې ګني د تقدیم د مبتدا د پاره به په مابین د مبتدا او خبر کښی مساوات فی التعریف لازم وي حالانکه تقدیم د مبتدا په هغه وخت کښی هم لازم دی چې دواړه نفس معرفې وي

ولاقرینة علی کون الخ دادفع دسوال ده چې داضابطه منقوضه ده په ابوحنیفة ابویوسف باندې ځکه چې ابویوسف مبتدامؤخره ده اوابو حنیفة خبرمقدم دی حالانکه دواړه معرفي دي خلاصه دجواب یې داده چې تقدیم دمبتدا هغه وخت واجب دی چې قرینه نه وي په ابتدائیة دمبتدا اوخبریة دخبراودلته قرینه موجوده ده چې هغه تشبیه دابویوسف ده دابوحنیفه سره اوقانون دادی چې مشبه به مبتدانه واقع کیږي نوابوحنیفة اګرچې مقدم دی لیکن مبتدانه ده ځکه چې دامشبه به ده نحوزید المنطلق داهغه مثال دی چې دواړه معرفه مساوي فی التعریف نه دی ځکه چې متبدا معرفه بالعلمیة ده اوخبر معرفه باللام ده وبینهمافرق

اوکانامتساویین فی اصل التخصیص الخ داموضع ثالث دی یعنې دواړه مساوي وي په اصل تخصیص کښې لافی قدره

دادفع دسوال ده چې مراد به دمساواة نه مساواة په مقدار دتخصیص کښې وي نوبنا په دې تقدیم سره دغلامُ رجلٍ صالح (په رفعې سره) دواجب نه شي په خیرٌ منک ځکه چې تخصیص د غلام بمرتبتین یوپه اضافة سره اوبل په صفة سره اوتخصیص دخیرٌ منک بمرتبة واحدة دی . یعنې صفة سره ځکه چې منکَ صفة دی دپاره خیرخلاصه دجواب چې مراد مساواة فی نفس التخصیص دی لافی مقدارالتخصیص نوپه مثال مذکورکښې هم تقدیم د مبتدا واجب دی په خبر باندې. پوهه شه: چه په صالح کښې احتمالین یو داچې مرفوع شي نوصفة به وي دپاره غلام وهذا هو المراد اوکه مجرورشي نوصفة به وي دپاره درجل. مثل افضلُ منی الفضلُ منك دامبتدااو خبردواړه مساوي فی التخصیص دي په اعتباردمعمول سره قطع نظر دتکلم اودخطاب نه ورنه تخصیص دتکلم زیات دي دخطاب نه رفعًا للاشتباه دامفعول له دی دپاره د مقدرتقدیره یجب تقدیم المبتدا علی الخبرفی هاتین الصورتین رفعًا للاشتباه یعنې چې اشتباه ختمه شي اوبل دوجې دعمل نه په اصل د مبتدا چې اصل په مبتدا کښې تقدیم دی نوکوم چې مقدم وي هغه به مبتدا وي اوکان الخبرُ فعلاً لهُ ای للمبتدا داموضع رابع دی یعنې چې کله خبرفعل وي اومسندوي ضمیردمبتداته نو مبتدابه واجب التقدیم وي سوال: فعل خو مسندوي فاعل ته نه مبتداته، جواب. په عبارت کښې تقدیر دی ای فعلاً مسندالی ضمیرالمبتدا نو هغه ضمیردمبتد ابه فاعل وي دپاره ددې فعل خوتعبیریې دهغه ضمیرنه په لفظ دمبتدا سره کړیدی ځکه چې ضمیرعبارت دعین

مرجع نه وي **احترازعما لايكون فعلاً له الخ** په دې سره احترازراغی د هغه خبرنه چې هغه فعل مسند الی المبتدا نه وي **كما في قولك زيد قام ابوه** زيد مبتدا ده اوقام فعل دی خومسند دی اوبوه ته پس نه دی واجب په دې ترکیب کښې تقديم دمبتد الجوازقام ابوه زيد په تقديم دخبرسره **لعدم الالتباس** ځکه چې التباس نه راځي دمتبدا دفاعل سره وسياتی.

مثل زيد قام دامثال دموضع رابع دی **وجب تقديمه** ای تقديم المبتدا على الخبرداتعين دمرجع دی **اما في الصور الاول** دااثبات دی په برا هينوسره نووايې چې هر چې دی تقديم وجوبي دمبتدا په اولنودريو صورتونو کښې فلماذکرناچې هغه فوت دصدارت دی په صورة اولی کښې اورفع داشتباه ده په صورة ثانيه اوثالثه کښې **واما في الصورة الاخيرة** او هرچې دی تقديم دمبتدا په صورة اخيرکښې **لئلا يلتبس الخ** لپاره ددی چې التباس رانه شي دمبتدا د فاعل سره کله چې فعل مفردوي لکه زيد قائم. **فانه اذا قيل قام زيد الخ** ځکه چې که اوويلی شي قام زيد بتقديم الخبر،نو التباس دمبتدا به راشي دفاعل سره يعنې پته به نه لګي چې زيد مبتدا مؤخرده اوکه فاعل دی لپاره دقام. **اوبالبدل عن الفاعل الخ** يابه التباس راشي دمبتدا دبدل عن الفاعل سره کله چې فعل تثنيه ياجمع وي. **فانه اذا قيل في مثل الخ** يعنې که وويلی شي په مثل دالزيدان قاما تثنيه کښې اوالزيدان قاموا جمع کښې(څه وويلی شي **قاما الزيدان وقاموا الزيدون** يعنې په تقديم الخبر سره. **يحتمل ان يكون الخ** نواحتمال لري چې الزيدان اوالزيدون بدل دي دضمير دفاعل نه په فعل کښې **فالتبس المبتدا به الخ** پس ملتبس به شي مبتدا دبدل سره (على مذهب) **اوبالفاعل على هذا التقدير ايضا** يابه مبتدا ملتبس شي دفاعل سره په تقديردمثنی او مجموع هم **على قول من يجوز الخ** په مذهب هغه چاچې جائزګڼړي **كون الالف والواو حرفا دالا الخ** چې الف په تثنيه کښې او واوپه جمع کښې حروف داله دي په تثنية اوجمعية دفاعل باندې يعنې ضمائرنه دي **كالتاء في ضربت هند** لکه تادضربت هندضمير نه دی بلکې حروف داله دی په تانيث دفاعل چې هند دی تفصيل ددې مسئلی دادی چې هغه فعل دتثنيي اودجمعي چې کله مسند شي اسم ظاهرته نوالحاق دضمير دتثنيي اودجمعي په فعل پورې ممنوع دي دپاره

ددې چې لازم نه شي تعدد دفاعل اودامذهب اصح دی اوبعض نحاة داالحاق جائزګڼړي لکه قاماالزیدان،وقاموالزیدون ووایې چې الف او واوضمائرنه دي بلکې علامات داله دي په تثنیة او جمعیة په شان دعلامې دتانیث دقامت هندو غیره اوبناپه مذهب اول الزیدان اوالزویدون بدل عن الفاعل دي امدم برسرمطلب نوپه صورت دتقدیم دخبر کښې لازمیږي التباس دمبتد ادبدل سره او بناپه مذهب ثاني لازمیږي التباس دفاعل سره نودپاره درفع ددې التباس تقدیم د مبتدا په دی صورت کښی واجب وګرزیده.

مواضع دتقدیم دوجوبي د خبرپه مبتدا : پوهه شه چې اصل په خبرکښې تاخیردی لیکن په بعض مواضعو کښې تقدیم د خبرواجب ګرزي په مبتدا باندې اوداهم څلورمواضع دي لکه مصنف ذکر کړیدي بقوله واذاتضمنَ الخبرُالمفردَالخ داموضع اول دی یعنې کله چې متضمن شي خبرمفردهغه شي لره چې مقتضی دصدارت دکلام وي نوتقدیم به یې واجب وي الذي الخ داعمل دی په قاعده مشهوره چې الف لام داخله په اسم مفعول موصولي وي لیس بجملةٍصورةًالخ په دې کښې اشاره ده دیته چې مفرد مقابل دجملې دی نه دتثنیي جمعي ،مضاف شبه مضاف وغیره اوداسم مفعول یعنې مفردنه یې تعبیرپه فعل مجمول یعنې أُفرديايُفردُ سره ونه که دپاره دقصرمسافت ځکه چې که چرې تعبیریې کړی و ي په فعل سره نود مفرداطلاق په معانی کثیرة کیږي نوشارح به خامخا دتعین دمعنی مرادی دپاره ویل چې الذي لیس بجملة نوطول دمسافة به لازم شوی وو ای معنی وجبَ لهالخ په دې کښې تنبیه ده په دې چې ما ماصوفه ده عبارت دمعنی نه یعنې داسې معنی چې واجب وي دهغې دپاره صدارت دکلام کالاستفهام مثل أینَ زیدمنی الخروج وکیف الحال فزیدمبتداالخ داتطبیق دمثال دی مع الممثل پس زید مبتداده اوأینَ اسم ظرف مبني برفتح متضمن للاستفهام یې خبردی نوداخبرواجب التقدیم دی دپاره دحفاظت دصدارت دده فان قُدرَبفعلٍ الخ دظرف دپاره لابدې وي دمتعلق نه اوپه متعلق کښې یې مذهبین دی نوکه چرې متعلق شي په فعل پورې کماهومذهب البصرین نووی به داخبرجمله حقیقة اومفرددصورةوان قُدرَباسم الفاعلِ الخاوکه چرې داظرف متعلق شي په اسم فاعل پورې کماهومذهب الکوفین نووي به داخبر مفرد حقیقة اوصورة دواړهلماسبق ان اسم الفاعل لایکون جملةواحترزبه الخپوهه شه چې المفردقید احترازي دی نوشارح ددې فائده بیانوي وایي چې احتراز یې وکه

په دې قول سره چې المفرد دې دمثل دزيد اين ابوه نه زيد مبتداده او اين ابوه يې خبردی پس اين اګرچې داسې خبردی چې متضمن دی استفهام لره خو تقديم يې واجب نه دی په مبتدا **اذلاتبطل الخ** ځکه چې نه باطليږي په تاخيردده سره صدارة دده **لتصدره الخ** دوجې دصدارة دده نه په جمله خپله کښې ، يعنې دی تقاضا دصدارة دکلام کوي خو په موضع خپل کښې نه په تمامه دنيا کښې ، **اوكان الخبر بتقديمه مصححاله اى للمبتدا** داموضع ثاني دی مطلب يې دادی چې کله خبر په سبب دتقديم خپل سره مصحح دپاره دمبتدا وي نو ددې خبر تقديم به واجب وي **من حيث انه مبتدا الخ** دادفع دسوال ده چې ددې عبارت نه دامعلومه شوه چې خبربه مصحح دپاره د ذات د مبتدا وی نودا خبره منقوضه ده په رجل فی الدار ځکه چې فی الدار خبر دی او مصحح نه دی دپاره دذات د مبتدا ځکه چې رجل مذکرمن بنی ادم ته وايې اودا پخپله صحيح دی بغيردفی الدارنه خلاصه ددفع يې داده چې مراددمبتدانه ذات دمبتدانه دی بلکې مبتداپه حيثية دمبتدا سره يعنې تقديم دخبربه مصحح دپاره دابتدائية دمبتداوي نه دپاره دذات دمبتدا فافهم **فان في الدار الخ** داتطبيق دمثال دی دممثل سره **اوكان لمتعلقه الخ** داموضع ثالث دی دتقديم دوجوبي دخبرحاصل يې دادی چې په جانب دمبتدا کښې داسې ضميروي چې راجع وي متعلق دخبرته نوددې خبرتقديم هم واجب دی په مبتدا باندې **بكسر اللام** داتشريح لفظي دمتعلق ده چې بكسر اللام دی بفتح اللام نه دی اوداتعين ځکه کوي چې ددواړو په مابين کښې تجنيس خطی دی **اى كان لمتعلق الخبر** دا تعين دمرجع دی **التابع له بتبعية الخ** داوضاحت دمتعلق دی اودفع دسوال ده چې داضابطه منقوضه ده په على الله عبدهٗ متوكل باندې . ځکه چې دلته عبدهٗ مبتداده اومتوكلٌ يې خبردی اومبتدا مشتمله ده په ضميرچې راجع دی متعلق دخبرته په جانب دمبتدا کښې چې على الله دی ځکه چې على الله متعلق دی په متوكل پورې اوسره ددې تقديم ددې خبر(متوكل) واجب نه دی په مبتدا باندې فدفع بقوله التابع الخ . يعنې هغه متعلق چې تابع دخبروي په داسې تبعية سره چې سره دهغې تبعية يې تقديم په خبرممتنع وي ، اوداسې متعلق ته ضمير راجع وي هغه ضميرچې کا ئن وي په جانب دمبتدا کښې نوداسې خبربه واجب التقديم وي اوپه مثال مذکورکښې داسې متعلق نيشته بلکې ددې متعلق يعنې على الله ،تقديم په خبر جائز دی ځکه چې ظرف دی اوپه ظروفو کښې توسع ده **فلايرد نحو على الله**

الخ ضمیر کائن په دې کښې اشاره ده دیته چې فی المبتدا ظرف مستقر دی متعلق دی په مقدر پورې فی جانب المبتدا په تقدیر د جانب کښې تنبیه ده په دې چې دا عبارت مصروف دی د ظاهر نه غیر ظاهر ته او دفع د سوال ده چې مثال مذکور مطابق نه دی ممثل سره، ځکه چې ظاهر د کلام دا دی چې ضمیر به په مبتدا کښې وي او راجع به وي متعلق الخبر ته او په مثال مذکور یعنې علی التمرة مثلها الخ کښې مبتدا مثل «مضاف» دی او ضمیر پکښې نشته بلکې ضمیر د «ها» مضاف الیه دی او مضاف الیه خارج وي د مضاف نه خلاصه د دفع دا ده چې مراد د ضمیر نه هغه ضمیر دی چې په جانب د مبتدا کښې وي نه په عین مبتدا کښې اذلواُخِرَ الخ دا یې دلیل دی یعنې که مؤخر کړی شي خبر د مبتدا نه نو لازم به شي اضمار قبل الذکر لفظًا و معنًی وهذا ممنوع مثل علی التمرة مثلها زُبدا یعنې په کهجوره د هغې هومره کچ دی پخو انو خلقو به کهجوره د کچو سره خوړله نو دا یو مثل مشهور شه فقوله مثلها الخ دا تطبیق د مثال دی مع الممثل یعنې مثلها مبتدا ده او په دې کښې ضمیر دی یعنې ها او راجع دی متعلق خبر ته چې تمرة ده ځکه چې خبر علی التمرة دی والتمرةُ متعلِق بهِ الخ او تمرة متعلق بالخبر ده په شان د تعلق د جزء په کل پورې یعنې علی التمرة الخ کل او مجموعه ده او تمرة یې جزدی نو تعلق د تمرة د علی التمرة سره تعلق د جزدی د کل سره نو که دلته خبر مقدم شي نو لازم به شي اضمار قبل الذکر لفظا کما هو الظاهر او معنی هم ځکه چې رتبه د خبر مؤخره ده د مبتدا نه اوکان خبرا الخ دا موضع رابع دی حاصل یې دا دی چې کله أن مفتوحه سره د اسم او خبر نه مبتدا واقع شي نو تقدیم د خبر به پرې واجب وي اذفی تأخیرهِ الخ دا یې دلیل دی یعنې دا ځکه چې په تاخیر د خبر کښې خوف د التباس د أنّ مفتوحه دی د إنّ مکسوره سره په تلفظ کښې لامکان الذهول الخ دوجې د امکان د غفلت د سامع د اوریدلو د فتحې نه دوجې د خفاء د فتحې نه اوفی الکتابة بل په کتابت کښې ځکه چې په صدر د کلام کښې ان مکسوره راځي نو چې هر کله خبر مقدم شي نو ان به واقع شي په وسط کښې او په وسط کښې خوان مفتوحه راځي نو خوف د التباس به ختم شي.

إن را در چار جا مکسور خوان

ابتدا و بعد قول و قسم دان

چـون درآیـد درخبراولام نیـز
دائماً مکســـــورخوانی اے
عزیـــــــــــــز

اَنّ رادرپنج جامفتوح خوان
بعـدعلم وبعـدظن ودرمیـان

بعدلولابعـدلو تحقیـق دان
تـانیفتی هـیچ جادرشـک آن

مثل عندی انك قـائمٌ پس عندی خبرمقدم دی او انک قائم مبتـدامؤخره ده وجب تقدیمُـه داجزاء داذاتضمن الخبـرده ای تقـدیمُ الخبرعلـی المبتـدأ داتعین دمرجع دی او وجوهـات دهرموضع بیان شویدی په خپل خپل موضع دی فتذکر.

تعـدددخبراودهغې اقســام : وقدیَتعـددالخبرُالـخ او کلـه کلـه خبرمتعـددکیږي بغیـر دتعددمبتدانـه نویابـه دوه وي یازیات اووجه یې داده چې خبریوحـال دی داحوالودمبتدانـه اودشي واحـددپاره احـوال کثیـره هـم راتلـی شي پـه کلمې دقدکښـی اشاره ده تقلیـل تـه اوداتعددپه دوقسـمه دی یوجائزاوبـل واجب پـس جائزهغـه دی چې معنـی دیـو خبرپـوره وي بغیردبل نه لکه زیدعالم عاقل اوواجب هغه دی چې معنی یې بغیردبـل نه پـوره نـه وي لکـه الابلق الاسود الابیض پس معنی دابلق صرف په اسودناتمامه ده نوابیض ورسره ویـل لازمي دی وذالكَ التعددالخ یابه داتعددپه اعتباردلفظ اومعنی دواړوسره وي یُستعمل ذلك علـی وجهَین الـخ اوداااستعمالیږي پـه دوو طریقوسره یوپـه طریقي دعطف سره لکـه زیـدعالم وعـاقـل اوبـل بغیردعطف نـه لکـه زیـدعالم عاقـل وامـا بحسـب اللفـظِ فقـط یابـه داتعددپـه اعتباردلفظ سره وي فقط نحوهذاحلوحَـامِضٌ پـه هذا سره اشـاره ده هغـه شی چې .خوَږلوړئ وی فـانهمـا في الحقیقـة خبرواحـدٌ پس دادواړه پـه حقیقة کښـی خبر واحد دی اوداځکه چې مقصودددینه اثبات دیوکیفیـة متوسطه دی پـه مـابین دحلاوة اوحموضـة (تـرش) کښـی چې هغه مُزدی یعنې خوږلوړی پـه دې وجه حمل داحدهماپه متبدا نـه دی صحیح بلکې مجموعـه بـه پـرې محمولـولی شي پـه دې اخـری کښـی اخـتلاف دی پـه مـابین د جمهـورو او ابـوعلی

فارسي كښې كمابينه الشارح بقوله **وفي هٰذهِ الصورةِ الخ** او په دې صورت د تعدد لفظي كښې فقط ترک العطف اولى دى دوجې د عدم تعدد نه في الحقيقة او دا مذهب د جمهورو دى **ونظرَ بعضُ النحاةِ الخ** او نظر كړيدى بعض نحاةُ يعني ابو علي فارسي صورة د تعدد لفظي ته او عطف يې جائز ګرزولى دى نو دې داسې وايې چې هذا حلو و حامض **ولا يَبعد ان يقال الخ.** دا دفع د سوال ده چې هر كله تعدد لفظي ومعنوي په طريقې د عطف او غير عطف دواړو سره صحيح وونو مصنف مثال د بغير عطف ولى ذكر كه فقط ددې د پاره شارح توجهين بيان كړيدى يو په دې قول سره چې ولا يبعد الخ دى چې مرداد مصنف په تعدد الخبر سره هغه دى چې بغير د عاطف نه وي **لان التعدد بالعاطفِ لاخفاءَ بهِ الخ** ځكه چې تعدد په اعتبار د عطف سره واضح دى خفاء پكښې نشته نه په خبر كښې نه په مبتدا كښې اونه په بل شي كښې لكه فاعل وغيره تعدد خبر كما مر او تعدد مبتدا لكه زيد وبكر قائم او تعدد د فاعل مثلا لكه قام زيد وخالد **وايضا المتعدد بالعطفِ ليس بخبرالخ** دا دوئمه توجيه ده يعني متعدد په حرف عطف سره خبرنه دى **بل هومن توابعه** بلكې دا د توابعو د خبرنه دى نو په دې وجه مصنف په مثال كښې ذكر كړيدى خبر متعدد بدون العاطف **ولو جُعِل التعدد اعم الخ** او فرض كه كه تعدد وګرزولى شي عام او شامل شي عطف او غير عطف دواړو ته كما هو المفهوم من قوله وقد يتعدد الخ ،نو بيا اكتفاء په مثال د غير عطف په وجه د عدم خفاء د تعدد ده په صورة د عطف كښې يعنې په صورة د عطف كښې تعدد واضح وو **فلا حاجة الى التمثيل.**

وقد يتضمن المبتدامعنى الشرط: مسئله دا ده چې كله كله مبتدا متضمنه ګرزي د پاره د معنى د شرط نو دخول د فا جزائيه يې په خبر باندې صحيح وي **وهو سببية الاول للثاني** دا معنى د شرط ده يعنې شرط وئيلى كيږي تعلق د شيئينو ته په دې شان سره چې شي اول سبب وي د پاره د شي ثاني يا د حكم په شي ثاني مثال د اول لكه **ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود** ،او مثال د ثاني لكه **ان كان النهار موجودا فالشمس طالعة** نو وجود النهار خو سبب د پاره د طلوع د شمس نه دى البته سبب د پاره د حكم دى په طلوع د شمس **اوللحكم به**

دا دفع د سوال ده چې دا ضابطه منقوضه ده په دې قول د الله پاک چې **ومابكم من نعمةٍ فمن**

اللهِ ځکه چې **فمن الله** خبردی اوفاپرې داخله شویده حالانکه شي اول چې وصول دنعمة دی بندګانو ته سبب دپاره دثانی نه دی چې صدوردنعمة دی دالله پاک نه بلکې امربالعکس دی یعنې صدورسبب داتصال دی خلاصه دجواب یې داده چې شرط ههناپه معنی عامې سره دی یعنې سببیة داول دپاره دوجوددثاني یاسببیة داول دپاره دحکم په ثاني نوپه ایة کریمه کښې معنی ثاني موجوده ده ځکه چې صدوردنعمة دالله پاک نه امرخفی دی نه معلومیږي مګرپه اتصال سره بندګانو ته نوشي اول یعنې وصول چې دا مفاددومابکم من نعمة دی سبب وګرزیده دپاره دحکم په شي ثاني یعنې صدوردنعمة ده چې دامفاددفمن الله دی **فَیشْبَهُ المتبداالشرطَ الخ** دابیان دوجې دصحة ددخول الفاء فی الخبردی یعنې په دې مسئله کښې مبتدامشابه شوه دشرط سره په سببیة دده کښې دپاره دجزانوخبرمشابه شه دجزاسره فصح دخول الفاء فی الخبر**وَیصِح عدمُ دخولِه فیه الخ** داتنبیه ده په دې چې دصحة نه مراد امکان خاص دی یعنې دخول دفااوعدم دخول دفادواړه مساوي دی ،**نظراًالی مجردتضمُن المتبدااِ الخ**

دادفع دسوال ده چې دلالت په معنیٰ شرطي به یامقصودوي یانه که وي نوبیادخول الفاء فی الخبرواجب دی اوکه نه وي نوبیاعدم دخول دفاواجب دی نو څنګه به صحیح شي داقول دمصنف چې یصح الخ دی ځکه چې صحة ددخول اودعدم دخول په نظرسره مجردتضمن دمبتداته دی معنی شرطیی لره **واماًاذاقصدالدلالةعلی ذلك المعنی فی اللفظ الخ** اوکه چرې قصدکړی شي دلالت په معنی شرطي نوبیادخول دفاواجب دی اوکه چرې قصدنه کړی شي دلالت په معنی شرطي نوبیادخول دفاواجب نه دی بلکې عدم دخول یې واجب دی . هغه مبتد اچې متضمنه وي معنې دشرط لره نودهغې څلورصورتونه دي ۱ ،هغه اسم موصول چې صله یې جمله فعلیه وي ۲ هغه اسم موصول چې صله یې جمله ظرفیه ۳ اسم نکره چې صفت یې جمله فعلیه وي ۴ هغه نکره چې صفت یې جمله ظرفیه وي هذا حاصل ماقاله المصنف بقوله **وذلك المتبداالمتضمنُ الخ** داتعین دمشارالیه دی **ای الذی جُعِلَتْ صلتُهُ الخ** دادفع دسوال ده چې صله دموصول نه وي مګرجمله اوفعل بغیردفاعل نه اودغه شان ظرف بغیردمتعلق نه خوجمله نه وي **فاجاب بقوله الذی جعلت صلته جملةً فعلیةاوظرفیةمؤولةً بجملةٍ بالاتفاق** ، یعنې په اتفاع دبصریانو اوکوفیانو په دې مقام کښې نه په مقام دخبرکښې ،یعنې

هغه ظرف چې واقع شي خبرنو په هغې کښې اختلاف دی کما مر او ظرف ههنا جمله فعلیه وي بالاتفاق . **وانما اشترط ان تکون الخ** او خبره داده چې شرط کړی شوه داخبره چې صله ددې موصول به فعل یا ظرف مؤول بالفعل وي دپاره ددې چې مضبوط شي مشابهة دمتبدا دشرط سره ځکه چې شرط نه وي مګر فعل **وفي حکم الاسم الموصول المذکور الخ**

دادفع دسوال ده چې داضابطه منقوضه شوه په دې قول دالله پاک چې **قُلْ اِنَّ الموتَ الذی تَفِرّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰاقِیْکُمْ** ځکه چې دلته په خبرباندې چې فانه ملاقیکم دی فاداخله شوی ده اوسره ددې چې مبتدا یعني الموت . اسم موصول مذکورنه دی خلاصه دجواب یې داده چې په حکم داسم موصول مذکورکښې هغه اسم هم دی چې موصوف وي په اسم موصول مذکورباندې نو الموت اګرچې پخپله خود غه شان نه دی لیکن موصوف دی په اسم موصول مذکورچې الذی تفرون منه الخ دی نو موصول سره دصلې نه صفت دی دپاره دالموت فلایرد **اَوالنکرةُ الموصوفةُ بهما** یا هغه نکره چې موصوفه وي په فعل یاظرف **ای باحدهما** په دې کښې اشاره ده تقدیر دمضاف ته په عبارت دمتن کښې اوداځکه چې نکره په دواړوسره معاً نه شي موصوف کیدی **وفي حکمها الاسمُ المضاف الیها**.

دادفع دسوال ده چې داضابطه منقوضه ده په غلامُ کلِ رجلٍ یاتینی اوفی الدار فله درهم.ځکه چې غلام نکره ده اوموصوفه نه ده په احدهما اوسره ددې یې په خبرباندې فاداخله شویده چې فله درهم دی خلاصه دجواب یې داده چې په حکم ددې نکري موصوفې کښې هغه اسم هم دی چې مضاف وي نکرې موصوفې ته .پس په مثال مذکورکښې نکره اګرچې پخپله موصوفه نه ده په احدهما باندې بلکې مضاف ده داسې اسم ته چې رجل دی او هغه موصوف دی په احدهما باندې نوفابې په خبرځکه داخله شوی ده **وَاما مثالُ الاسمِ الموصوفِ بالاسمِ الموصولِ المذکورالخ** داتکمیل دمقام دی په ذکر دمثال داسم موصوف الخ سره **واما مثالُ الاسمِ المضافِ الخ** داهم تکمیل دمقام دی په ذکرمثال داسم مضاف الی النکری سره دامثالونه واضح دی او په ادنی تامل سره معلو یږي .

موانع دخول الفاء علي الخبر: پوهه شه چې دحروف مشبه بالفعل نه لیت اولعل بالاتفاق مانع دی ددخول دفاجزائیه نه په خبرباندې اوپه انّ مکسوره کښې اختلاف دی نوسیبوی وایې چې ان هم مانع دی اوجمهوروایې چې مانع نه دی نوماتن وایې **ولَیتَ ولَعلَ**

من الحروف المشبهة بالفعل الخ ترجمه يې داده چې ليت اولعل دحروف مشبه بالفعل نه چې کله داخل شي په مبتدا اهغه مبتدا چې صحيح وودخول دفاجزائيه په خبردهغې مانعان عَنْ دخوله عَليهِ منع کونکې دی دخول دفالره په خبرددغې مبتدا باندې لان صحةَ دخوله عَليهِ الخ دايې دليل دمنع دی يعنې ځکه چې دخول دفاجزائيه چې وونوهغه دوجې دمشابهة دمبتدااوخبرنه وودشرط اودجزاسره کماعُلِمَ اوليت اولعل زائله کوي دغه مشابهة لانهما تُخرِجَان الكلامَ الخ دايې دليل دازالې دی ځکه چې دوی خارجوي کلام لره دخبرية نه انشائية ته اوداځکه چې تمني اوترجې دقبيلې دانشاء نه دی اوشرط اوجزادقبيلې داخبارنه وي ،بلـه داو جـه ده چې فـادا خليـده پـه خبردوجې دتضـمن دمبتدانـه معنـی دشـرط لـره اوداتضمن په دخول دليت اولعل سره باطل شه وجه يې داده چې شرط دلالت کوي په قطعيت دوجوددجزاپه وخت دوجوددشرط کښې اوليت او لعل مغيرکوي کلام لره دقطعية نه طمع اورجاته. وذلك المنعُ انما هو بالاتفاق الخ. غرض دشارح تنبيه د ه په دې چې داقول دماتن چې بالا تفاق دی متعلق دی په مانعان پورې واودامنع ددخول دفاعلی الخبردليت اولعل په وجه اتفاقی مسئله ده .فلايقالُ ليتَ اولعل الذی الخ .داتفريع ده په ماسبق يعنې په دې مثال کښې به فله درهم بالفاء نه شي وئيلی بلکې ، لَهُ درهم به وئيلی شي بدون الفاء .فـان قيل بابُ كانَ وبابُ علمتُ الخ.خلاصه ددې اعتراض داده چې افعال ناقصه اوافعال قلوب هم مانع دی دخول د فا لره په خبرباندې بالاتفاق اوداځکه چې په دخول ددی سره باطليږي صدرات دمبتدا نوبناپه دې يې مشابهة ضعيف ګرزی دشرط سره بهرحال وجه دتخصيص ذکری دليت اولعل ببيان الاتفاق څه ده قيل تخصيصُهما ببيان الاتفاق الخ جواب يې دادی چې تخصيص دليت اولعل په بيان اتفاقې پورې په نسبة سره باقې حروف مشبه بالفعل ته دی لامطلقًانه په نسبة سره مطلق دواخلود مبتدا اوخبرته چابه وی چې دحروف مشبه نه يې دادوه ولې خاص بالذکروګرزل ؟

فاجاب الشارح بقوله ووجه ذلك التخصيص الاهتمامُ الخ يعنې وجه دتخصيص يې اهتمام شان دهغه اختلاف دی چې واقع دی په دې کښی .حاصل دا چې تمام افعال ناقصه اوافعال قلوب مانع ددخول الفاء دی .په خلاف دحروف مشبه نه په دې کښی بعض مانع دی اوبعض

نه دی نو ددې مسئلې دا ظهار دپاره یې دا مختص بالذکر وګرزول **والحق بعضهم** او مُلحق کړیدی بعض نحاةُ اِنَّ مکسوره لره په لیت اولعل پورې په منع کښې ددخول دفانه په خبراو دا بعض څوک دی نو شارح وایې چې **قیل هو سیبویه** یعنې په دې کښې اختلاف دی ماتن او عبد القاهر وایې چې دا سیبوی دی خلاف ترې ثابت دی اخفش لره .اوبعض وایې چې دا مُلحق اخفش دی لیکن ظاهره اولنی خبره ده دلیل یې دادی چې اِن راځي دپاره تحقیق اوشرط راځي دپاره دتردید .اوپه مابین ددواړو کښې منافاة دی نو چې کله اِن داخل شي په مبتدا اوخبرنو مشابهة یې دشرط اوجزا سره ختم شه نو دخول دفا پرې څکه ممنوع وګرزیده **والاصح انها لا تمنع الخ** دارددې په سیبویه یعنې اصح مذهب دادی چې انّ مانع نه دی ددخول الفاء نه **لانها لا تخرج الکلام الخ** دایې دلیل دی یعنې ان نه خارجوي کلام لره دخبریة نه انشائیة ته په خلاف دلیت، لعل نه **یؤیده قوله تعالی اِنّ الذین کفروا وما توا وهم کفار فلن یقبل من احدهم ملأ الارض الخ.**

پس الذین کفروا مبتدا متضمن لمعنی الشرط ده او ان پرې داخل شویدی اوفا یې نه ده منع کړی دخبرنه **فان قیل قد الحق بعضهم الخ** مطلب ددې دسوال دادی چې بعض نحاةُ یعنې امام عبد القاهر رحمه الله اَنَّ مفتوحه اولکن ملحق کړیدی په لیت ولعل پورې یعنې اَن مفتوحه اولکن هم مانع دی عنده **فما وجهُ تخصیص اِن المکسورة الخ** نو وجه دتخصیص دالحاق دا ن مکسوره فقط په لیت لعل پورې څه ده **قیل بعضهم الذی الحق اِن بهما الخ.**

مطلب دجواب یې دادی چې هغه بعض چې اِن یې ملحق کړی په لیت لعل پورې نو هغه سیبویه دی بناپه ماقال دعبد القاهر **فاعتد بقوله الخ** پس ماتن دده قول لره اعتبار وکه اوذکریې که او قول دنورولره یې اعتبار ورنه که نو ذکریې نه که **مع ان کلا القولین لایساعدهما القرانُ الخ** دارددې په دواړو .یعنې دواړه قولین (دسیبویې اودغیر) داسې دی چې قران پاک اوکلام دفصحاءُ ورسره موافق نه دی یعنې اِنّ واَن اولکن مانع نه دی **فمایدل علی منع ان الخ** او هغه آیت چې دلالت کوي په عدم امتناع داَنّ مفتوحه نو هغه داقول دالله پاک دی چې **واعلموا انما غنمتم الخ.**

پس ماصوله په معنی دالذی سره ده اوغنتم یې صله ده موصول سره دصلې نه مبتدا متضمنه

ده معنی د شرط لره **اوفاَن الخ** يې خبردی فاجزائیه پرې داخله ده .نوان مفتوحه چې داخل دی په مبتدا باندې مانع نه دی گرزیدلی دخول دفالره. **وقول الشاعرالخ** .داعطف دی په قولهٗ تعالی باندې .یعنې دلیل په دې خبره چې لکنّ هم مانع نه دی ددخول دفانه داقول دشاعردی **فواللہ مافارقتکم قالیا لکم ولکن مایقضی فسوف یکونُ** واوقسمیه دی.مانافیه ده . قالیاً منصوب دی بنابرحالیت دضمیردفاعل دفارقتکم نه .ماخوذدی دقلی نه بغض اوعداوت ته وایې ماصوله بفعلٍ متضمنه لمعنی الشرط ده یُقضی یې صله ده .موصول سره دصلې نه مبتد اده اوفسوف یکون یې خبردی .نوؤگوره لکنّ مانع نه دی گرزیدلی ددخول دفانه مقصد دشاعر :کله چې دشاعرنه خپلو ملگرو تپوس دمفارقة اودعداوة وکه نوده دپخته ایمان اظهارو که اووې ویل چې څما په خدایې قسم دی چې ستاسو نه مافراق دوجې دبغض اوددشمنی نه دی اختیارکړی بلکې چې څه الله پاک مقررکړی وي نوهغه به کیږي .

حذف دمبتدااودهغې اقسام: پوهه شه چې اصل خوپه مبتدا کښې ذکر دی لیکن کله کله حذف کولی هم شي نوداحذف په دوه قسمه دی .یو جوازی په وخت دقیام دقرینې کښې اوبل وجوبي اودا په دوو ځایونوکښې دی یو په مخصوص بالمدح کښې اوبل هغه صفة چې قطع شوی وي دموصوف مجرورنه کماسیاتی **لفظیة اوعقلیة** داتعمیم دقرینې دی دپاره ددفع دتوهم د اختصاص په قرینې لفظي پورې ای حذفاجائزاً په دې کښې تنبیه ده په دې چې جوازاً منصوب دی بنابرمفعول مطلق دپاره دیحذف په اعتباردموصوف مقدرسره اوداقیداحترازی دی نوځکه شارح اُووی چې لاواجبًا **وقد یجب حذفه الخ** دادفع دسوال ده چې حذف دمبتداکله جائزوي اوکله واجب نوڅه وجه ده چې مصنف حذف جوازی ذکرکړ اودوجوبی نه یې سکوت وکه خلاصه دجواب یې داده چې حذف وجوبي دمبتدا قلیل دی په دووځایونوکښې کیږي .فقط کماذکرا نفا ، نوځکه یې ذکرنه که نووایې حذف دمبتداکله کله واجب وي **اِذاقُطِعَ النعتُ بالرفعِ** په هغه وخت کښې چې قطع کړی شي نعت دمنعوت نه اووگرزولی شي مرفوع بنابرخبریة دپاره دمبتدامحذوفی **نحوالحمدُ للہ اھلِ الحمدِ** نواهل الحمد په حقیقة کښې صفة دپاره دلفظ الله دی اومجروردی .بیادصفتیت نه قطع شه اومرفوع وگرزولی شه بنابرخبریت اومبتدایې محذوفه ده چې هودی **ای هواهل الحمد وانما وجبَ حذفُه الخ** او واجب شه حذف دمبتداپه دې وخت کښې دپاره ددې چې معلومه شي چې

دا په اصل کښې صفة وو **فقُطِع لقصد المدح الخ** پس قطع کړې شه دصفتیة نه دپاره دقصد دزیادت دمدح لوذم سوال قطع دصفة دلالت په زیادة دمدح اوذم ولی کوي جواب ځکه چې قطع دصفة فراردی داصل نه اوفرارعن الاصل تقاضادنکتې کوي نوهغه نکته یې قصد دزیادت دمدح اوذم دی اوقید دزیادت موځکه ولګوو چې په نفس مدح اوذم باندې خوصفة هسې هم دلالت کوي **اوغیرذلك** یاقطع دصفة دپاره دبل غرض وي مثلاترحم لکه **مررت بزیدالمسکینُ ای هوالمسکین فلوظهرالمبتدالمریتبین ذلك** دادلیل د حذف وجوبي دمبتدادی یعنې که چرې ظاهرکړی شي مبتدااوحذف نه شي نوواضح به نه شي مقصد دمدح اوذم وغیره ځکه چې داغرض حاصلیږي په صورة دقطع دصفت کښې اوپه وخت دظهوردمبتداکښې به داخبروي بناءً علی الظاهر **ویجب حذفهُ ایضًاعندمن قال الخ** اودغه شان حذف واجب دی په نزدد هغه چاچې وایې په نعم الرجل زید کښې چې تقدیریې هوزیددی .پوهه شه چې په دې کښې درې مذهبه دی بعض وایې چې نعم فعل دی اوالرجل یې فاعل دی اوزیدمخصوص بالمدح دی اوبعض وایې چې زیدمبتدامؤخره ده اونعم الرجل یې خبرمقدم دی اوبعض وایې چې نعم فعل دی اوالرجل یې فاعل دی اوزیدخبر د مبتدا محذوفې دی چې هودی وهذا هوالمرادههنا **ای المبتداالمحذوف جوازًاالخ** په دې کښې دیته اشاره ده چې کاف تشبیهي دی په معنی دمثل سره اودفع داعتراض ده چې مثال مطابق نه دی دممثل سره ځکه چې ممثل حذف دمبتدادی اوالهلال والله نه دی مګرخبر. خلاصه دجواب یې داده چې مقصودبالمثال الهلال نه دی بلکې مبتدامحذوفه ده په دې مقوله دمستهل کښې چې **الهلال الخ. المُبصِرُللهلال** داتعین دماهوالمراددی .ځکه چې مستهل هغه مولودته هم ویلی کیږي چې په وخت دولادت کښې چغه اوباسی نووایې چې مراد دمستهل نه هغه څوک دی چې سپوږمی وینی اوچغه اُوباسي چې هغه ده **بالقرینةِالحالیةِ** یعنې حذف دمبتدادقرینې حالي په وجه دی چې اجتماع دخلقوده دپاره رؤیة دهلال. چابه وی چې دامثال دقبیلي دحذف الخبرنه شي کیدی په تقدیرد الهلال هذا سره .

فاجاب بقوله ولیس من باب حذفِ الخبرالخ یعنې دانه شي کیدی **لان مقصودَالمُستهِل الخ** ځکه چې مقصوددمستهل متعین کول دیوشي دی په اشاره سره اوبیاحکم کول دی په هغې په هلالیة سره دپاره ددې چې ناظرین ده ته متوجه شي اوهغوی هم دده په شان هلال وینې او

دامقصد به حاصلیږي چې هذا مبتدا شي او الهلال يې خبر شي چابه وی چې قسم را وړلو ته څه حاجت وو **فاجاب بقوله وانما اتی بالقسم الخ** يعنې د دې د پاره دوه جوابونه دی یو دا قول د شارح چې جریًا علی عادة الخ يعنې دا عادت دی مستهلینو د پاره د تاکید اوبل دا چې **ولئلا یُتوهم نصب الهلال الخ** يعنې چې څوک توهم ونه کړی په حالت د وقف کښې په الهلال باندې چې ګڼی دا به منصوب وي بنابر مفعولیة د پاره د فعل محذوف چې رایتُ الهلال دی نو بیا به مثال مطابق نه شي د ممثل سره پوهه شه چې لکه څنګه مبتدا حذف کیږي نو دغه شان خبرهم حذف کیږي نو اوس ماتن هغه ذکر کوي نو حذف د خبرهم په دوه قسمه دی یو جوازی او بل وجوبي لکه وایي

وقد یحذف الخبر جوازا ای حذفا جائزاً د دې فائده بیان شو یده **لقیام قرینة الخ** څکه چې بغیر د قیام د قرینې حذف مخل للمقصود وی **من غیر اقامة شیء مقامه** څکه چې که مقام موجود وی نو بیا به یې حذف واجب وي کما سیاتی **مثل الخبر المحذوف الخ** دا دفع د سوال ده چې مثال مطابق نه دی د ممثل سره څکه چې دا قول د ماتن چې خرجت فاذا السبع دی جمله ده خبر نه دی .بل دا چې اضافة د مثل ورته هم صحیح نه د ی څکه چې مضاف الیه مفرد وي . حاصل د جواب یې دا دی چې مثال خرجت الخ نه دی بلکې خبر محذوف دی په قول مذکور کښې نو اضافة ورته هم صحیح شه .

فان تقدیرهٔ علی المذهب الصحیح الخ دا دلیل د تطبیق دی او احترازدی د قول د بعض نه نو وایي چې تقدیر د دې مثال بنا په مذهب صحیح کما صرح به صاحب اللباب دادی چې **خرجتُ فاذا السبعُ واقفٌ** بنا په د دې چې اذا ظرف زمان دی او ظرف مکان نه د ی کما قال البعض .څکه چې اذا مکانی شي نو معنی به دا شي خرجت ففی مکانی السبع . نو بنا په د دې اذا مکانی خبر مقدم دی د پاره د السبع او دا خو مذکور دی نو بیا دا مثال د مانحن فیه نه دی او چې کله اذا زمانی شي نو بیا دا خبر نه شي کیدی څکه چې حمل د زماني په سبع غیر صحیح دی نو خبر به یې محذوف وي چې واقف دی **ای ففی وقت خروج الخ** دا بیان د حاصل المعنی د مثال مذکور دی .

مواضع د حذف وجوبي د خبر: پوهه شه چې په څلورو مواضعو کښې حذف د خبر واجب

دی لکه شارح وايي چې کله کله خبرحذف کولی شي وجوبا **فيما التزم اي في تركيب الخ** غرض دشارح تنبيه ده په دې چې لفظ ماموصوفه ده په معنی دترکیب سره ده اوپه معنی دخبرسره نه دی ځکه چې بيابه معنی داشي چې حذف کولی شي خبرپه هغه خبرکښی الخ ولايخفى فساده

سوال هرکله چې لفظ ماعبارت شو دترکیب نه نولازمه شوه خلوه دجملې دعائدنه حالانکه دا جمله صفة دی دپاره دما موصوفه اوخلوه دجملې دعائدنه ځکه راغله چې ضميردموضعه اودغيره راجع دی خبرته؟

جواب عائد مقدردی فالتقدير فيماالتزم فيه حاصل دا چې خبربه حذف کولی شي وجوبا په هغه ترکيب کښی چې لازم گرزولی شوی وي شي آخرپه ځای دخبر، نوداشی آخربه قائم مقام دخبروي نوځکه به يې حذف واجب وي **وذلك في اربعة ابواب الخ** دابيان اجمالی دی **اولها المبتدأ الذي بعد لولا** داتفصيل دی يعني اول موضع هغه مبتداده چې واقع وي پس دلولانه **اي لولا زيد موجود الخ** پس موجودخبرواجب الحذف دی دحذف وجوبی دپاره لابدی وي دقريني اود سدمسدنه فاشار الشارح الى الاول بقوله **لأن لولا لامتناع الشي الخ** يعني قرينه په حذف الخبرداده چې لولاراځي دپاره دامتناع دشي ثاني دوجې دوجودشي اول نه لکه **لولا علي هلك عمر اي لولا علي موجود هلك عمر** نوامتناع دهلاکت دعمردوجې دوجوددعلی نه راغله **فيدل على الوجود** پس داقرينه شوه په دې چې لولادلالت کوي په وجوداشار الى الثاني بقوله **وقد التزم في موضع الخبر الخ** يعني لازم گرزولی شويدی په موضع دخبر کښی جواب دلولاچې لکان کذادی پس واجب شه حذف دخبرددې قرينې په وخت کښی اود التزام دقائم مقام دخبرپه وجه اوس خبردلولا کله واجب الحذف دی نوشارح وايي چې **هذا اذا كان الخبر عاما** يعني کله چې خبردافعال عامونه وي چې څلوردي **واما اذا كان خاصا** اوکه فعل خاص دی لکه عيوب اوالوان مثلاً نوبيايې حذف واجب نه دی ځکه چې لولادلالت په فعل خاص نه کوي لکه په دې شعرکښی

ولولا الشعر بالعلماء يزري

لكنت اليوم أشعر من لبيد

يعني كه چرې شعرګويي عيب نه وي دپاره دعلماء متقيانونو زه به زيات شعرويونكې وی دلبيد شاعرنه اوشعرګويې عيب ژنه ده دپاره دعلماء ځكه چې اكثركلام دشعراءُ بی حقيقة خيالات اوناروا خبری وي لكه افتخاربالاباطيل والاكاذيب اوبی عزتي دخلقو. پوهه شه چې الشعرمبتداده اويُزری يې خبردی خوچونكه داخبر فعل خاص دی نوځكه نه دی حذف شوی البته كه په فعل خاص قرينه موجوده وه نوحذف يې جائز دی داشعرمنسوب دی امام شافعي رحمه الله ته اوبعض وايې چې دبل چادی والله اعلم.

مذاهب ثلثه: پوهه شه چې په حذف وجوبې دخبردلولاكبنبی درې مذاهب دي داچې ذكرشودامذهب دبصريانودی،دوهم دكسايې اودريم دفراء نوشارح وايې چې وقال الكسائي الاسمُ الواقع بعدها الخ يعنې دی وايې چې كوم اسم چې واقع وي پس دلولانه هغه به فاعل وي دپاره دفعل مقدراي لولاوجدَزيد اودافعل به محذوف وي وجوبًا.ليكن دامذهب ضعيف دی .ځكه چې حذف وجوبي دفعل په دووصورتونوكښې وي يوپه جواب قسم كښې اوبل هغه چې مفسريې موجودوي اولولاديوقسم نه هم نه دی وقال الفراء لولاهي الرافعةُ الخ دی وايې چې لولااسم فعل دی اودی بذات خودرافع دی دپاره د هغه اسم چې واقع وي پس دلولانه ليكن دامذهب هم ماتن نه دی اغستی ځكه چې كون دلولااسم فعل غيرمعروف دی والله اعلم وثانيهاكل مبتدإكان مصدأصورةً الخ دوهم موضع هغه مبتداده چې مصدروي حقيقةً ياتاويلاً منسوب وي فاعل ته يامفعول ته يادواړو ته اوپس دهغې نه حال وي اوكان اسم تفضيل مضافاالخ. يادامبتدااسم تفضيل وي مضاف دغه مصدرته چې منسوب وي فاعل يامفعول يادواړوته داكل دولس صورتونه دي تفضيل يې دادی چې مبتدابه يامصدروي يااسم تفضيل چې مضاف به وي دغه مصدرته كه مصدروي نوپه دې كښې .شپږصورتونه دي ځكه چې مبتدابه يامصدرصريحي وي ياتاويلی اوپه هرواحدكښې درې درې احتماله دي يعنې يابه منسوب وي فاعل ته يامفعول ته يادواړوته نوداشپږصورتونه شو.١ مبتدامصدرصريحي وي اومنسوب وي فاعل ته ٢ مبتدامصدرصريحي وي منسوب وي مفعول ته ٣ مصدرصريحي وي اومنسوب وي فاعل او مفعول دو اړوته ۴مبتدامصدرتاويلي وي منسوب وي فاعل ته . ۵. مبتدامصدرتاويلي وي منسوب وي مفعول ته ٦ مصدرتاويلي وي منسوب وي فاعل اومفعول دواړوته اوكه

مبتدا اسم تفضیل وي او مضاف وي مصدر مذکورته نوپه دې کښې هم شپږ صورتو نه دي درې دغه اسم تفضیل چې مضاف وي مصدر صریحې مذکورته او درې دغه اسم تفضیل چې مضاف وي مصدر تاویلي مذکورته (۱) اسم تفضیل مضاف مصدر صریحي منسوب الی الفاعل ته (۲) اسم تفضیل مضاف مصدر صریحي منسوب الی المفعول ته . ۳ . اسم تفضیل مضاف مصدر صریحي منسوب الی الفاعل والمفعول کلیهماته . (۴) اسم تفضیل چې مضاف وي مصدر تاویلي منسوب الی الفاعل ته (۵) اسم تفضیل چې مضاف وي مصدر تاویلي منسوب الی المفعول ته (۶) اسم تفضیل چې مضاف وي مصدر تاویلي منسوب الی الفاعل والمفعول کلیهماته .

پوهه شه چې ماتن صرف یو مثال ذکر کړیدی او شارح هم پوره مثالونه نه دی ذکر کړی نوپه دې . وجه بعض مثالونه دپاره دتکمیل دمقام دخارج نه راوړی شویدی ، مثالونه دمصدر صریحي یې ذکر کړیدی بقوله **وذلك مثل ذهابي راجلاً** دا امثال اول دی پس ذهابی مصدر صریحي منسوب الی الفاعل چې یاء متکلم ده مبتدا ده او راجلاً ترې حال دی **وضربُ زيد قائماً** دا وهم مثال دی ضرب مصدر صریحي منسوب دی مفعول ته **اذا كان زيد مفعولاً** او دا یې ځکه اووی چې احتمال لري چې زید دفاعل وي دپاره دضرب ولکن هذا لیس بمراد او قائما ترې حال دی **ومثل ضربي زيدا قائما او قائمين** دا دریم مثال دی پس ضربی مصدر صریحي منسوب دی فاعل او مفعول کلیهما ته چې یاء متکلم ده او زید ادی ، قائما حال دی فاعل یا دمفعول نه او قائمین حال دی ددواړو نه امثله دمصدر تاویلي **وان ضربتُ زيدا قائما** دا امثال دی دغه مبتدا چې مصدر تاویلي وي منسوب وي فاعل او مفعول دواړو ته پس ان ضربت مؤول دی په تاویل دمصدر سره ضمیر متکلم یا دمخاطب یې فاعل دی او زیداً یې مفعول به ده او مثال دمصدر تاویلي منسوب الی الفاعل لکه دا قول چې ان ضربت قائمًا او مثال دمصدر تاویلي منسوب الی المفعول لکه دا قول چې ان ضُربَ زید . چې زید په حقیقة کښې مفعول به ده امثله دا اسم تفضیل مضاف الی ذلک المصدر ددې هم شپږ مثالونه دي **واكثرُشُربي السويقَ ملتوتاً** دا یې مثال اول دی پس اکثر اسم تفضیل مضافه الی المصدر الصریحي دی چې منسوب دی فاعل او مفعول دواړوته . او ملتوتًا . حال دی دسویق نه اي مخلوطا ماخوذ من لت بمعنی خلط او مثال دغه اسم تفضیل چې مضاف وي مصدر صریحي

منسوب الی الفاعل ته فقط لکه داقول اکثرشربی قائمًا اومثال دهغه اسم تفضیل چې منسوب الی المفعول وي فقط لکه اکثرشرب زيدٍ قائمًا زيد مفعول دی **واخطبَ مايكونُ الاميرُقائمًا** دا مثال دهغه اسم تفضيل دی چې مضاف وي مصدرتاويلي ته چې منسوب وي فاعل ته فقط الامير فاعل دی دپاره دمايكون اومايكون مؤول دی په تاويل دمصدرسره .ځکه چې مامصدريه ده اومثال دهغه تفضيل چې مضاف وي مصدرتاويلي منسوبه الی الفاعل والمفعول كليهماته لکه داقول **اكثران ضربت زيدًا قائمًا** اومثال دهغه اسم تفضيل چې منسوب الی المفعول وي لکه داقول اكثران ضُربت زيد چې زيد په حقيقت کښې مفعول به ده په دې هرمثال کښې خبرمحذوف دی وجوبًا.

المذاهب الخمسة في ضربي زيداقائما: پوهه شه چې په مثال دمتن يعنی ضربی زيدا قائما کښې پنځه مذاهب دي يومذهب دبصريانودوئم دامام رضی دريم دکوفيانو. څلورم داخفش. پنځم دابن درستويه اوابن پاشا . بيان يې دادی چې **فذهبُ البصريون الی ان تقديره الخ** دوی ذهاب کړی ديته چې تقديرددې ترکيب ضربی زيدا حاصل اذاكان قائمادی **فَحُذِفَ حاصل كما تُحذَفُ الخ** پس حذف کړی شوحاصل چې داخبردی دپاره دضربی .لکه څنګه چې حذف کولی شي متعلقات دظروفونحوزيدٌ عندکَ ای حاصل عندک **فبقی اذاكان قائمًا** پس باقي پاتې شو **ضربی زيدااذاكان قائما** .**ثم حُذِفَ إذاالخ** بيا حذف شواذاسره دکان نه چې فعل شرط دی اوعامل دی په حال کښې چې قائما دی ، اذا اګرچې ظرفيه دی خوپه دې کښې رائحه دشرط هم شته نوذکردشرط بی محله نه دی **واُقيمَ الحالُ الخ** اوقائم کړی شوحال په مقام دظرف چې اذا دی ځکه چې په حال کښې معنی دظرفية هم شته **فالحالُ القائمُ مقامَ الظرفِ الخ** دابيان دسدمسددی يعني حال چې قائمًا دی قائم دی په مقام دظرف دهغه ظرف چې قائم دی په مقام د خبرچې حاصل دی **فيكون الحال قائمًامقام الخبر** پس حال هم قائم مقام دخبر شو ځکه چې قائم مقام ديوشي قائم وي په مقام دهغه شي باندې نوخبرځکه حذف شو وجوبًا .

سوال :قرينه يې څه ده ؟

جواب : قرينه په حذف دخبرچې حاصل دی اخبارو رکول دي دضرب نه په دې شان سره چې

داضرب مقید دی په قیام سره اوداځکه چې تقید دضرب په قیام سره ممکن نه دی مګرپس دحصول دضرب نه اوحصول ماخذ دحاصل دی نو معلومه شوه چې خبر یې حاصل دی.

قال الرضی دابیان دمذهب ثاني دی رضی اول ردکوي په بصریانو اوبیاخپل مذهب بیانوي نو وایې چې **وفیه تکلفات کثیرة** په دې توجیه کښې ډیر تکلفات دي، یعنې درې دي یودا چې په دې کښې حذف داذاراغی سره دجملې شرطیې نه اوداچرته نه دی ثابت دوهم داچې عدول راغی دکان ناقصه نه کان تامه ته حالانکه ظاهرهمناکان ناقصه دی ځکه چې منصوب موجود دی چې قائما دی اودریم اقامت د حال راغی په مقام دظرف اوددې دپاره چرته نظیر نشته خوجواب دتکلف اول نه دادی چې حذف داذاسره دشرطیې نه ثابت دی لکه داقول چې فهند یجوزصرفه.

اي **اذاکان کذالك فهندالخ** یالکه فادفقط چې دافافصیحیه ده واقع ده په جواب دشرط کښې اوجواب ددوهم تکلف نه دادی چې لکه کان ناقصه دافرادو دکان نه ده نودغه شان کان تامه هم دافرادودکان نه ده اوددریم نه جواب دادی چې اقامة دحال په مقام دظرف باندې صحیح دی ځکه چې مناسبت یې په مابین کښې شته اودا کافي دی اومناسبت یې دادی چې په حال کښې هم معنی دظرفیة پرته وي لکه جاء نی زیدراکبا ای وقت رکوبه **والذی یظهرلی** دامبتداده او، اولی یې خبردی اوپه دې کښې امام رضي خپل مذهب بیانوي (یعنې چې داترکیب په اصل کښې څنګه وو اوبیاترې داڅنګه جوړ شو) نو وایې چې ظاهرېږي ماته دا چې **ان تقدیرة الخ** چې تقدیرددې ترکیب په مثل د **ضربي زیدًا ایلابسه قائمًا** سره **اذااردت الحال عن المفعول** کله چې ته اراده وکړې دحالیت دمفعول نه (نوه ضمیردیلابسه چې راجع دی زیدته ذوالحال دی اوقائماترې حال دی اوتقدیریې په مثل د **ضربي زیدا ایلابسني قائمًا** سره **اذاکانت عن الفاعل** په هغه وخت کښې چې قائماحال وي دفاعل نه، **اولی** نوداتوجیه (چې کومه ماته ظاهرېږي) اولی ده توجیه دبصریانونه **ثم نقول اي في اعلاله** داهم قول درضی دی یعنې بیاحذف کړی شوه مفعول هغه، چې ذوالحال دی یعنې ضمیردیلابسه **فبقي ضربي زیداًیلابس قائمًا** پاتې شو ضربي زیدا یلابس قائما پس دحذف دضمیرنه چابه وی چې ایاحذف دذوالحال جائزدی نوشارح جواب وکه بقوله **ویجوزحذف ذي الحال الخ** یعنې جائزدی سره

دقیام دقریني نه لکه چې ته ووائې مثلاً الذی ضربت قائما زیدا ای ضربته پس ذوالحال چې ضمیردمفعول به دی حذف شویدی اوقرینه یې داده چې صله کله جمله وي نوپه هغې کښې لابدې وي دعائدنه اوعائد خو شته نه نومعلومه شوه چې حذف شویدی ثم حُذف یلابِسُ الخ بیاحذف کړی شو یلابس چې دی خبردې اوعامل دی په حال کښې وقام الحالُ مقامَه اوحال قائم مقام دخبروګرزیده چابه وی چې ددې نظیرشته نوشارح وایې کما تقول راشداً مهدیًا راشدا حال دی اومهدیاحال بعدالحال دی یاصفة کاشفه دی دپاره دراشدا بهرحال عامل یې حذف شویدی چې سِر دی ای سِرْ راشداالخ (یعنی سفربکن درانحالیکه راه راست نموده شده برای تو) اوحال یې قائم مقام ګرزیدلی دی .شارح رضي وایې چې فعلي هذایکونون مُستَرِیحِین الخ بیاپه دې توجیه به بصریان راحت وموومی ددغه تکلفاتونه جواب ددې نه دادی چې دغه تکلفات مدفوع دی کماڑایت ،اوپه مذهب دامام رضي کښې یوتکلف دی چې فوق دی ددغه تکلفاتو نه . هغه داچې لازمیږي په دې کښې حذف دیلابس اودافعل خاص دی حالانکه اصل په حذف دعامل کښې داده چې دافعال عامونه دی وي وقال الکوفیون تقدیرُه الخ دادریم مذهب دی یعنې تقدیریې ضربی زیدا قائماحاصل دی بجعل قائمًا الخ په ګرزولو دقائماسره دمتعلقاتو دمبتدانه اوحاصلً یې خبر دی معنی یې داده چې ضربی زیداً فی وقت القیام حاصل بیاخبر حذف شو دوی استدلال نیولی دی په وجهینویوداچې په دې کښې تقلیل الحذف دی اوقلت دحذف اولی دی بل داچې په دې کښې حال دمتعلقاتو اومعمولاتو دمبتدانه ګرزی نه دخبرنه اومبتدامذکوره ده خبرمحذوف اومعدوم دی والمعدوم لایزاحم الموجود ویلزمُهم حذفُ الخبرالخ دارددې په کوفیانو ، یعنې مذهب ددوی فاسددی په وجهینو سره اوله وجه داده چې لازمیږي په دوی باندې حذف دخبربغیرد سد مسدنه ځکه چې په نزد ددوی حال دمتعلقاتو اومتمماتو دمبتدا نه ګرزیدلی دی وماهومن متمماته لایصلح ان یسد مسدالخبر وتقیید المبتدءِ المقصودِ عمومُه الخ بله وجه داده چې لازمیږي په دې تقدیرتقیداوتخصیص دمبتداحالانکه مقصودعموم دمبتدادی نولازم شوخلاف المقصود بدلیل الاستعمال یعنې عموم یې مقصوددی په دلیل داستعمال سره ځکه چې ضربی اسم جنس دی اومعرف بالاضافة دی اوقانون دادی چې اسم

جنس چې کله معرف باللام یابالاضافة وي اوقرینه دتخصیص نه وي په بعض افرادوپورې نوهغه ظاهروي په استغراق اوعموم کښې لـئلایلـزم الترجیح بلامـرجح **وذهب الاخفش** داخلورم مذهب دی اوذهاب کړیدی اخفش **الی ان الخبرالذي الخ** دیته چې هغه څیزمحذوف چې قائم شویدی حال په مقام دهغه .هغه مصدردی چې مضاف دی ذوالحال ته تقدیرېې دادی چې **ضربي زیداًضربهٔ قائماً** پس ضربه مصدر دی چې مضاف الی صاحب الحال خبردی حذف شویدی دوجی دقائم مقام نه چې قائماً دی پس امام اخفش موافق دی دبصریانوسره په دې کښې چې حال دمتعلقاتودخبرنه دی لیکن مخالف دی ترې په دې کښې چې خبرپه نزددبصریا نودافعال عامونه دی اوپه نزدده دافعال خاصونه دی چې ضربهٔ دی دده دمذهب دپاره هم وجهین دی یوقلة الحذف اوبل داچې په دې تقدیرمحذوف (یعني ضربهٔ) دجنس دمذکورنه ګرزی چې ضربهٔ دی اواصل هم داده چې محذوف دجنس دمذکورنه وي بقدرالامکان اواضافة دمصدرېې ذوالحال ته وکه دپاره ددې چې عامل دحال اوذوالحال واحدوګرزی چې ضرب دی اوذوالحال (ه) ضمیردی اوحال قائمادی .لیکن دامذهب هم ضعیف دی په وجهینوسره یودا چې مصدرضعیف العمل دی سره د حذف نه عمل نه شي کولی بله داچې مصدرپه حین دعمل کښې په معنی دان مع الفعل سره وي اوان موصول حرفي دی تقاضاکوي ددې چې پس دده نه دفعل وي لکه څنګه چې موصول اصطلاحی تقاضاکوي ددې چې بعدده نه دجمله وي نوبناپه دې لازمېږي حذف دموصول سره دحذف دبعض اجزاء دصلي نه چې ذوالحال دی سره دبقاء دبعضې نه چې قائما دی وهذالایجوز **وذهب بعضهم الی ان هذاالمبتدالخ** اوذهاب کړیدی بعض چې ابن درستویه اوابن پاشادی دیته چې داداسې مبتدا ده چې خبرنه لري لکه په شان دقسم ثاني دمبتدا **لکونه بمعنی الفعل** دوجې دکون ددې مبتدانه په معنی دفعل سره **اذالمعنی الخ** ځکه چې معنی يې **ماضربُ زیدًاالاقائماً** ده نوهرکله چې ضربی په معنی دفعل سره شه اوفعل خبرنه غواړي نوددې هم خبرته حاجت نشته اودامذهب هم ضعیف دی په وجهینوسره یوداچې قیاس ددې مبتداپه قسم ثاني دمبتدا قیاس مع الفارق دی ځکه چې ضرب مضاف دی یاء متکلم ته اومضاف سره دمضاف الیه نه مفیددفائدی تامې وي اوبل داچې په دې کښې لازمېږي تاویل دااسم په فعل سره وتاویل نوع **بنوع آخرلایخرج الشی من حقیقته وثالثها کل مبتدا**

اِشتمل خبرُہ علی معنی المقارِنۃِ الخ.
دریم باب دهغه ابوابونه چې حذف دخبرپکښې واجب وي هرهغه مبتداده چې خبريې مشتمل وي په معنی دمقارنة ،يعنې خبربه يې لفظ دمقارنة يامصاحبة ياهغه لفظ چې مفيدوي دمعنی دمقارنة اومصاحبة وعُطِفَ علیه شي الخ او عطف شوی وي په هغه ضمير چې راجع وي مبتداته ، يوشی په واوسره چې په معنی دمع سره وي اوداهغه واودی چې حاصليږي په سبب دده سره په مابين دمعطوف اومعطوف عليه کښې اجتماعية زمانی وذلك مثل كلُ رجلٍ وضَيعَتُهُ ضيعه په اصل کښې جائدادته وايې اومرادترې دلته صنعة اوحرفة دی اودی ته ضيعه ځکه وايې چې که چرې خيال يې ساتی نوصنعة دی اوکه غفلت ترې کوی نوضائع کيږي پس کل رجل مبتداده اوخبريې محذوف دی وجوبًا چې مقرون دی ای کل رجل مقرون اووضيعته عطف دی په ضميرمستتردمقرون ، په واو بمعنی مع سره ای مع ضيعته يعنې هرسړی مقرون دی دخپل کارکسب سره .
سوال :داعطف نه دی صحيح . ځکه چې کله اراده وکړی شي دعطف په ضميرمتصل نواول يې تاکيدکولی شي په ضميرمنفصل سره اودلته تاکيدنشته ؟
جواب : موکدمحذوف دی تقديريې دادی چې كل رجل مقرون هومع ضيعته .
سوال :حذف دموکدخو جائزنه دی لفوات الغرض ای التاکيد؟
جواب :حذف دموگدسره دموگدنه جائزنه دی په شان دحذف دفعل اوفاعل دواړو.نودلته هم موکديعنې مقرون اوموکدچې هودی دواړه حذف دی دا خبرواجب الحذف ولی دی نووايې چې لان الواوالخ دايې قرينې ده يعنې واويې قرينه ده ځکه چې دې په معنی دمع سره دی نودلالت کوي په خبرباندې چې مقرون دی واُقِيمَ المعطوفُ الخ دايې بيان دسدمسددی يعنې کوم شی چې عطف دی په ضميرمستتردمقرون هغه قائم مقام دخبروگرزولی شه وارابعها او څلورم باب دهغه ابوابونه چې حذف دخبر پکښې واجب وي كل مبتدا الخ هر هغه مبتداده چې مقسم به وي يعنې دهغه الفاظونه چې استعماليږي دپاره دقسم اوخبريې لفظ دقسم وي وذلك مثل لعَمْرُكَ لاَفعلن كذااي لعَمرك مبتداده وبقاءَکَ داعطف تفسيردلعمرک دی دپاره دتعين دماهوالمراد چې عمرپه فتحې دعين سره دی مرادترې بقاء ده قَسَمِی دايې خبردی ای مـااُقسمُ بِهِ دادفع دسوال ده چې قسمي خبرنه شي کيدی دپاره دلعمرک .ځکه چې حمل يې نه

دی صحیح وجه یې داده چې قسمي صفة دمتکلم دی اولعمرک صفة دمخاطب دی حالانکه خبراجب الحذف وي خلاصه دجواب یې داده چې مراد ترې مااُقسم به دی یعنې هغه چې څه پرې قسم کوم نوهغه عُمر اوبقاء ستاده نودا هم دمخاطب دی فلامنافاة **فلاشك ان لَعَمرکَ یدل علی القسم المحذوف الخ** دابیان دقرینې دی یعنې لعمرک دلالت کوي په قسم محذوف ځکه چې مقسم به بغیردقسم نه وي **وجواب القسم الخ** دابیان دقائم مقام دی والعمروالعُمریعنی واحدٍ داتشریح لفظې دعمربفتح العین اوعُمربضم العین ده نووایې چې دواړومعنی واحده ده **ولایستعملُ مع اللامِ الخ** دابیان دفرق استعمالی دی بینهما یعنې نه استعمالیږي سره دلام موضوعه للقسم نه مګرمفتوح العین **لان القسمَ موضعُ التَخفیفِ الخ** په دې عبارت کښې احتمالین دی یوداچې علة شي دپاره ددې قول چې ولایستعمل مع اللام الخ مطلب داچې قسم کثیرالاستعمال دی نو دی تقاضادتخفیف کوي اوعُمربالضم ثقیل دی بنفسه نوکه لام پرې داخل شي نولازم به شي ثِقل درثِقل دوهم احتمال دادی چې دادلیل دی دپاره دوجوب دحذف الخبرددې ترکیب یعنې قسم دکثرة استعمال دوجې نه مقتضي دتخفیف دی نوځکه یې خبرواجب الحذف وګرځیده **خبران واخواتها** بل دمرفوعاتونه خبردحروف مشبه بالفعل دی **ای من المرفوعاتِ الخ** داخبرمقدم دی اوخبران الخ یې مبتدامؤخره ده **ای اشباهها** دادفع دسوال ده چې نسبة داخوات اِن وغیره کلمات دی جواب یې دادی چې چې مراداخوات نه اشباه اوامثال دی چې حروف خمسه باقیه دی اواطلاق یې پرې داخوا ت کړیدی دوجې دتقارب اوتماثل نه په مابین ددوی کښې کالاخوات **وهی ان وکان الخ**

دابیان دحروف خمسه باقیه دی پوهه شه چې په عمل ددې حروفوکښې اختلاف دی په مابین دبصریانواوکوفیانوکښې پس مذهب دبصریانو دادی چې داحروف ناصب دی اسم لره اورافع دی خبرلره اوکوفیانووایې چې داحروف عامل دی په اسم کښې دنصب خورافع خبرلره نه دی بلکې خبرنه یې مرفوع وي بالابتداء یعنې الآن **کماکان کذافی الشمه** خوچې هرکله مختاره مذهب عندالماتن دبصریانوونوشارح اُووی وهو یعنې خبرددې حروفو **موفوعٌ بهذهِ الحروفِ لابالابتداءِ** الکه چې دازعم دکوفیانودی **علی المذهب الاصح** دمذهب اصح نه

مرادمذهب دبصريانو دى په دې کښې ردهم راغى په کوفيانو **لانهالماشابهت الفعل المتعدى الخ.**

داېې دليل دى يعنې داحروف مشابه دى دفعل متعدى سره لفظًااومعنى اوفعل متعدى عمل کول درفع اودنصب نودغه شان داحروف هم عمل کوي درفع اودنصب اومشابهت لفظي يې دفعل سره په ثلاثيت اورباعية اوخماسية کښې دى اومشابهة معنوي يې په دې کښې دى چې معنى ددې حروفوبغيرداسمينونه ناتماوي لکه څنګه چې معنى دفعل متعدي بغيردفاعل اودمفعول نه ناتمه وي اوبله داچې معنى ددې حروفوافعال دى څکه چې معن ى دان ، ان تحقق اودمعنى دکان تشبه ده وعلى هذا القياس **هواى خبران الخ** داتعريف دى دخبردان وغيره نوواېې چې خبردان هغه شي دى چې مسندوي شي اخرته پس ددخول ديوددې حروفونه په دواړو يعنې په مبتداوخبر فقوله **المسندُشاملٌ الخ** دابيان دجنس دى فى التعريف وبقوله ، **بعددادُبدخولِ هذه الحروف الخ.**

دادفع دسوال دې چې تعريف دخبردامانع نه شو ددخول دغيرنه داخل شو پکښې يقوم په دې ترکيب کښې چې ان زيدايقوم ابوه څکه چې يقوم مسنددى پس ددخول دان نه حالانکه داخبردانِ نه دى بلکې خبرېې مجموعه يقوم ابوه دى خلاصه دجواب يې داده چې مرادِدخول ددې حروفونه په اسم اوخبرورودې په دواړوو **لايراثِ اثرٍفيهمالفظًااو معنى** دپاره درسولوداثرخپل اسم اوخبرته لفظااومعنى پس اثرلفظي يې دادى چې اسم منصوب وګرزى **لفظالکه ان الله غفوررحيم. ياتقديرالکه ان موسى قائم يامحلالکه انه عليم** اوخبرموفرع وګرزى لفظا کما مر يا تقديرا لکه کان زيدا عيسى يامحلاً لکه مثال دمتن اواثرمعنويْ يې دادى چې مدلول دمسند ثابت کړى دپاره دمسنداليه په طريقي دتحقيق اوتاکيدسره **فلاينتقضُ التعريف الخ** داتصريح بالاعتراض ده **فان يقومُ هٰهنامن حيثُ الخ** څکه چې يقوم په خبردان واخواتهاکښې نه دى دهغه الفاظونه چې داخليږي په هغې باندې انِ په معنى مذکورى سره چې ايراثُ اثرِ الخ دى **بل انمادخل على جملةِيقوم الخ** بلکې ان داخل دى په ټوله جمله ديقوم ابوه يعنې اثردان په تمامه جمله کښې ظاهرشويدى څکه چې يقوم ابوه په محل درفع کښې خبردى دپاره دانِ اومدلو ل يې هم دپاره داسم ثابت شويدى په طريقي دتاکيدسره ددې اشکال نه شارح هندى اوصاحب الغايه هم جوابو نه کړيدى ليکن

هغه مرضي نه دی عند الشارح نوردیرې کوي بقوله **فلایحتاج الی ان یجاب الخ** نو داردې په شارح هندی چې هغه ددې اعتراض نه جواب کړیدی چې مراد مسند نه مسند الی اسماء هذه الحروف دی اویقوم خو مسند دی ابوه ته نه اسماء ددې حروفو ته نو شارح ملاجامي وایي چې دیته حاجت نشته ځکه چې **ویلزم منه استدارک قوله الخ** یعنې لازمیږي ددینه استدارک ددې دقول دماتن چې بعد دخول الخ دی ځکه چې مسند الی اسماء هذه الحروف نه وي مگربعد دخول ددې حروفونه **ولاالی أن یجاب الخ** دا عطف دی په الی ان یجاب نو فلا یحتاج دلاندی درج دی او رددی په صاحب الغایة هغه جواب کړیدی چې مراد مسند نه اسم مسند دی اویقوم اسم نه دی بلکې فعل دی نو شارح وایي چې دیته هم حاجت نشته **فیحتاج الی تأویل الجملة الخ** دا ایې وجه د رد ده یعنې دا جواب ځکه مردو ددې چې بیابه حاجت دَرپیش وي تاویل دجملې ته په اسم سره په هغه ترکیب کښی چې خبریې جمله واقع شوی وي لکه ان زیداً یقوم نو یقوم خبر دانّ دی حالانکه اسم نه دی نو لامحاله به یې تاویل کوي په قائم سره دپاره ددې چې تعریف ورته شامل شي والتاویل خلاف الاصل اوصیرورة نه شي کولی مگر **عند الضرورة ولاضرورة ههنا وامره الخ وقال الشارح ای حکمه الخ** دا تعین دماهو المراد دی دامرنه یعنې ذکر دامر او مراد ترې حکم دی بنا په اصطلاح عامه یا دا چې ذکر دمؤثر او مراد ترې اثر لان الامر مؤثر فی الحکم نو وایي چې حکم دخبر دان په شان د حکم دخبر دمبتدا دی **فی اقسامه** په اقسامو دخبر دمبتدا کښی **من کونه مفرداً الخ** دا بیان دا قسامو دی یعنې لکه څنګه چې خبر دمبتدا مفرد جمله نکره او معرفه را ځي نو دغه شان خبر دان **هو وفی احکامه** او په احکامو کښی **من کونه واحداً الخ** دا یې بیان دی یعنې لکه څنګه چې خبر دمبتدا ، واحد ، متعدد ، مثبت او محذوف راتلی شي نو دغه شان خبر دان هم وفی شرائطه او په شرائطو کښی **من انه اذا کان جملة الخ** دا یې بیان دی یعنې کله چې خبر دان جمله واقع شي نو عائد به غواړي **ولایحذف الا اذا عُلِمَ** او نه به شي حذف کیدی دغه عائد چې کله ضمیر وي مگر په وخت دقیام دقرینې کښی لکه **ان البر الکر بستین درهماً ای منه**.

سوال څه وجه ده چې شارح مفرد او جملې ،نکرې معرفې ته اقسام أو وئیل . او واحد متعدد مثبت وغیره ته یې احکام أو ویل.

جواب خبر مفرد جُدا نوعه ده او جمله جدا دغه شان نکره مستقله نوعه ده او معرفه مستقله

اوانواع نه وي مګراقسام اووحدة اوتعددحذف اواثبات احوال عارضه دي اواحوال نه وي مګراحکام **والمراداَن امرَه الخ** دادفع دسوال ده چې نه منم داخبره چې حکم دخبرداِنّ په شان دحکم دخبردمبتدادی .ځکه چې جائزه ده چې این اومن خبرواقع شي دمبتدالکه این زید اومن ابوک لیکن خبرداِنّ نه واقع کیږي ځکه چې ان دپاره دتحقیق راځي اوپه این اومن کښې شک وي خلاصه دجواب يې داده چې مطلب ددې خبرې دادی چې حکم دخبردان په شان دخبردمبتدادی خوپس ددینه چې صحیح وي کون دیوشي خبرپاره دان بوجودشرائطه وانتفاء موانعه اودلته مانع موجوددی چې منافاة دی په مابین دتحقیق اواستفهام کښې **ولایلزم من ذلك ان کل مایصح الخ** اونه لازمیږي ددینه داچې کنی هرهغه شی چې صحیح وي کون دهغې خبرپاره د مبتدانوصحیح به وي داچې واقع دشي خبرپاره دان **حتی یردَالخ** داتصریح بالاعتراض ده وقدبینته فتامل جواب . يې هم ذکرشو چې مانع موجوددی اوبله داچې این اومن مقتضی دصدرات دکلام دی نوکه په دوی باندې اِن وغیره داخل شي نوصدرات به يې فوت شي **الافی تقدیمه** دااستثناء ده دماسبق نه اوغرض په دې کښې بیان دفرق دی په مابین دخبرداِنّ اودخبردمبتداکښې فی بعض الموادحاصل يې دادی چې **امره کامر المبتدافی جمیع الاحوال الافی حالة تقدیم خبران علی اسمه**.استثناء داثبات نه نفی وي خوپه طریقي داشارې سره نوشارح تصریح وکړه په نفي بقوله **ای لیس امره کامرِ الخ** ځکه چې جائزنه دی تقدیم دخبرداِنّ اوجائزدې تقدیم دخبرپه مبتدا **وذلك لان هذه الحروف فرع الخ** دادلیل داستثناء دی ای وذلک ثابت اودا خبره ثابته ده ځکه چې داحروف فروع دفعل دی په عمل درفع اونصب کښې اوفرعیة يې په دې وجه دی چې عمل ددې حروفودوجې دمشابهت دفعل نه دی کمامر **فاریدَان یکون عملُها الخ** پس اراده وکړی شوه چې عمل ددوی دهم فرعي وي **والعملُ الفرعی للفعل الخ** دفعل دوه عمله دي یوفرعي اوبل اصلي نو عمل فرعي يې دادی چې منصوب يې مقدم وي په **مرفوع والاصلی الخ** اوعمل اصلي يې دادی چې مرفوع مقدم وي په منصوب ، **فلما اُعملَت العمل الفرعی الخ** پس هرکله چې ورکړی شو دی حروفوعمل فرعي نوتصرف به نه شي کیدی په معمولینوددوی

کنبې په تقدیم دثاني یعنې مرفوع سره په اول یعنې منصوب باندې **کما یتصرف فی معمولی الفعل الخ** لکه څنګه چې تصرف کیدی شي په معمولینود فعل کنبې (یعنې داسې به نه شي کولی **لنقصانها عن درجةِ الفعل** داعلة دی دپاره دلم یتصرف یعنې داحروف ناقص دی په عمل کنبې دفعل نه نوکه مرفوع مقدم شي په منصوب په باب ددې حر وفو کنبې نولازم به شي مساواة دفرعی داصل سره وهذا لایجوز **الاان یکون الخبرظرفاً** په دې عبارت کنبې احتمالین دی یوداچې دا استثناء مفرغه ده **فالتقدیر الافی تقدیمه فی کل حال من احوال الخبرالااذاکان ظرفا** یعنې کاخبردان ظرف وي نوبیایې تقدیم په اسم جائزدی یاداچې دا استثناء ده دمعنی الکلام نه مطلب داچې حکم دخبردان مخالفی دحکم دخبردمبتدانه په جوازدتقدیم کنبې **فی الاوقات کلها الافی وقت کونه ظرفاً** مګرپه هغه وخت کنبې چې خبریې ظرف وي نوبیایې حکم مخالف نه دی بلکې په شان د خبردمبتدادی وهذا حاصل قوله **ای لیس امره الخ فان حکمه اذاً حکمه الخ** یعنې کله کله اسم دان وغیره معرفه وي اوکله نکره نوکه معرفه وي اوخبریې ظرف وي تقدیم یې جائزدی اوکه نکره وي نوبیایې تقدیم واجب دی لکه وایې **فی جوازا لتقدیم اذاکان الاسمُ معرفةً** لکه ان لینا ایابهم پس الینا جارمجرور خبردان دی اوایابهم یې اسم دی اودامعرفه بالاضافة ده او داتقدیم دخبرجائزدی **وفی وجوبه اذاکان الاسم نکرةً** داعطف دی په فی جواز. باندې مطلب داچې تقدیم دخبردان په اسم دده باندې واجب دی که نکره وي دپاره دافادی دتخصیص داسم په تقدیم دخبرسره .لکه **ان مِن البیانِ لسحراً** پس من البیان جارمجرورخبرواجب التقدیم دی اولسحراً اسم مؤخر دی یعنې بعض بیانونه داسې وي لکه سحر په اثرکنبې اوپه میلان دقلوبو کنبې .

وان من الشعرِ لحکمة من الشعرخبرواجب التقدیم دی اولحکمةً یې اسم مؤخردی معنی یې داده چې بعض شعرکلام نافع وي اوداهغه شعر دی چې مشتمل وي په مواعظواوامثالواونصحیت.

وذلك لتوسعِهم فی الظروفِ الخ دادلیل دی دجوازاووجوب دتقدیم الخبریعنې دامذکورمن

الجواز والوجوب دوجې دتوسع اوکشادګی دنحاتونه دی په ظروفو کښې داسې توسع چې په بل څه کښې نه شي کيدی اودا ځکه چې دهرحدث دپاره لابدی وي دزمانې اومکان نه نووګرزيده ظروف په شان دمحارمواواقاربواوپه محارموکښې توسع وي په نسبة سره اجانبوته اوجار مجرور محمول دی په ظروفو دوجې دمناسبة نه په دې شان سره چې هرواحد محتاجه دی متعلق ته **خبرُلاالتي الخ**بل د مرفوعاتو نه خبردلايې نفي جنس دی اوپه اسم کښې يې تفضيل دی په بعض اوقاتوکښې منصوب وي وسيجې تفضيله اوخبريې دمرفوعاتونه ځکه دی چې لايې نفي جنس مشابه ده دإن سره په تاکيد کښې خوان دپاره دتاکيد داثبات را ځي اولادپاره دتاکيد دنفي اوخبردإن مرفوع وي و الکائنة دابيان دمتعلق دې دپاره دجارمجروچې لنفی الجنس دی .

سوال :تعلق يې معرف باللام ولې مقدرکه حالانکه تقدير دمنکراولی دی ؟

جواب :پاره دجزالة يعنې شرافة دمعنی (باسولی) مطلب يې دادی چې په دی تقدير به الکائنة صفة ګرزی دپاره دلايې نفي جنس ځکه چې داهم معرفه بالعلمية ده اوکه منکريې مقدرکړی وي نوهغه به حال وودلايې نفي جنس نه اومعنی صفتي اشرفه ده دمعنی حالی نه ځکه چې په معنی حالي کښې دوام نه وي بلکې په وخت دثبوت دعامل کښې وي لکه جاءنی زيدرکباً نووکوب فقط په وخت دمجيئة کښې دی اومعنی صفتی دائمي وي لکه جاءنی زيدرجل عالم نوعلم دده مختص نه دی په وخت دمجيئة پورې فقط بلکې دائمي دی **ای لنفيِ صِفَتِهِ**.

دادفع دسوال ده چې مثال مطابق دممثل سره نه دی .ځکه چې ممثل لايې نفي جنس ده اومذکور فی المثال نفي دظرافة ده اوداصفت دی جنس نه دی خلاصه دجواب يې داده چې په عبارت کښې تقديردی **ای لنفی صفته اذلارجل قائم مثلاًالخ**ځکه چې په لارجل قائم کښې نفی دقيام راغلی درجل نه اوقيام صفة دی نه نفي دذات درجل اودغه شان ظرافة هم صفة دی په لاغلام رجل ظريف کښې .

سوال : بيامصنف نسبة دنفی ، جنس ته ولې وکه ؟

جواب :خبردلايې نفي جنس غالباً دافعال عامونه وي چې وجودوغيرّه دی نولاپه حقيقت کښې دپاره دنفي دجود دجنس غالبًادافعال عامونه وي چې وجودوغيره دی نولاپه حقيقت کښې دپاره دنفي جنس غالبًاافعال عامونه وي چې وجود دجنس بعينه نفي دجنس وي نو

ځکه يې نسبة جنس ته وکه **هوالمسندُالخ** دا يې تعريف دی **هذاشاملٌ الخ** دا بيان دجنس دی في التعريف **بعددخولها** دا يې فصل دی **والمرادبدخولهاماعرفتَ الخ** دا جواب دسوال دی چې تعريف دخبردلا يې نفي جنس منقوض دی په يضرب په **لارجل يضرب ابوه** ځکه چې يضرب هم مسندالی شي اخردی چې ابوه دی اوبعدَ دخولِ لاَهم دی حالانکه خبردلا يضرب نه دی فقط بلکې ټوله جمله يې خبردی خلاصه دجواب يې داده چې مراددخول نه ايراثُ اثردی يعنې دخول دی دپاره درسولو داثر لفظااومعنی اوظاهره ده چې اثردلا ،په مجموعه ديضرب کښې شويدی ومثله قدمرفتذکر **نحولاغلامَ رجلٍ ظريفٌ** لا يې نفي جنس ده غلام رجل منصوب دی اسم دلا دی اوظريف يې خبردی.

وانماعدل الخ دادفع دسوال ده چې ماتن عدول ولی وکه دمثال مشهورنه چې لارجل فی الدارد ی جواب يې دادی چې ماتن عدول وکه ددې مثال نه **لاحتمالِ حذفِ الخبرالخ**.

خلاصه داده چې مثال دِواضح اونص فی المقصودوي اوپه مثال مشهورکښې تصريح په مقصود نيشته ځکه چې په دې کښې يوبل احتمال هم موجوددی هغه داچې کيدی شي چې خبردلا ، محذوف وي ځکه چې حذف دخبرکثيردی په دې باب کښې او فی الداردصفة وي دپاره داسم ، لا ، چې رجل دی ځکه چې اعراب دفی الدارظاهرنه دی **بخلاف ماذکرَه الخ** په خلاف دهغه مثال نه چې ماتن ذکرکړيدی يعنې مثال دمتن واضح دی اونص فی المقصوددی ځکه چې غلام رجل معرب منصوب دی ځکه چې نکره ده مضافه ده اوواقع ده بلافصل **لايجوزُارتفاعُ صفَتِهِ علی ماهوالظاهرُالخ** رفع دصفة يې جائزه نه ده ځکه چې مطابقة لازم دی په مابين دصفة اودموصوف کښې نومعلومه شوه چې ظريف خبردی اوصفة نه دی دپاره درجل اوشارح علی ماهوالظاهراُووی ځکه چې بناپه احتمال غيرظاهررفع دصفة يې هم جائزه ده حملاً علی المحل ، ځکه چې محل داسم دلارفع ده بنابرابتدائيت **فيهااي فی الداراتعين** دمرجع دی خبربعدخبر.

دادفع دسوال ده چې ظاهره داده چې فيهاظرف دی دپاره دظريف اويا ترې حال دی اواصحيح نه ده چې بناپه دې تقديرلازميږي تقيدد ظرافت په دارپوري حالانکه ظرافت يوملکه ده چې کياسة يعنې هوښيارتيا ته وايې اودانه مختلف کيږي په اختلاف دمکان اووقت سره **لان الظرافة اذاوجدت فی احدٍوجدت مطلقاً غيرمقيدٍ** خلاصه دجواب يې داده

چې فیها خبر بعد الخبر دی او ظرف یا حال نه دی دپاره دظریف **لان الظرافة الخ** دا ایې دلیل دی وقد بیناه ، **وانما اتی به الخ** دا دفع دسوال ده چې مقصود دهنا مثال دخبر دلا ،دی **وهو یحصل بواحد فما الحاجة الی الخبرین** ددې نه شارح دوه جوابونه کړیدي یو بقوله **لئلا یلزم الکذب الخ** .
یعنې دپاره ددې چې لازم نه شي کذب په نفي دظرافة دهر غلام ددې رجل کښې فی الدار وي او که غیر فی الدار وی ځکه چې کیدی شي چې بعض غلامان یې ظریف وي **ولیکون مثالا لنوعی خبرها الخ**.دا توجیه ثاني ده یعنې فیها یې ذکر که دپاره ددې چې دامثال وګرزی دپاره دنوعینو دخبر دلا یعنې خبر یې ظرف او غیر ظرف دواړه کیدی شي
ویحذف خبرلا هذه حذفا کثیرا او حذف کولی شي خبر ددې لا یې نفي جنس کثیراً په هذه سره احتراز راغی دخبر دلا مشابه پس نه ځکه چې خبر دهغې کثیراً نه حذف کیږي **اذا کان الخبر عاما الخ** په هغه وخت کښې چې خبر یې دافعال عامونه وي لکه موجوداً او حاصل وغیره **لدلالة النفی علیه** دا یې قرینه ده یعنې دوجې ددلالت دلا یې نفي جنس نه په ده باندې ځکه چې نفي دلالت په منفي کوي لکه **لا اله الا الله ای لا اله موجود الا الله** پس موجود (خبر) حذف شو دوجې دقریني نه چې لا یې نفي جنس ده .

اختلاف پوهه شه چې په خبر دلا یې نفي جنس کښې اختلاف دی په مابین دحجازینو او بنو تمیمو کښې پس حجازین وایې چې خبر دلا یې نفي جنس کثیر الحذف دي که چرې دافعال عامونه وي او مذهب دبنو تمیمو مصنف ذکر کړیدی بقوله **وبنو تمیم لا یثبتونه** او شارح پکښې توجیهین بیان کړیدی بقوله **ای لا یظهرون الخبر فی اللفظ** دا توجیه اوله ده یعنې دوی یې خبر منې خو ظاهر وي یې نه په لفظ کښې **لان الحذف عندهم الخ** ځکه چې حذف دخبر دلا یې نفي جنس په نزد دوی واجب دی **اوالمراد انهم لا یثبتونه اصلاً** دا توجیه ثاني ده یعنې بنو تمیم نه ثابتوي خبر لره قطعاً نه لفظاً او نه تقدیراً چابه وي چې هر کله چې دوی لا یې نفي جنس لره خبر نه مني نو دوی ځه وایې په باره ددې قول دعربو کښې چې لا اهل ولا مالَ ځکه چې دا ترکیبونه مشتمل دي په حکم او خبر یې نشته.

فاجاب بقوله فیقولون معنی قولهم لا اهل الخ یعني لا اسم فعل دی عندهم ، په معنی دانتفی سره او اهل او مال یې په حقیقت کښې فاعل دی نو تقدیر د خبر ته احتیاج نشته.

سوال: اسماء افعال خو محصور دی لکه صاحب دنظم ماة عامل ذکر کړیدی ولا په هغې کښې نشته

جواب صیغې داسماء افعالو معدودی محصوری نه دی اوکومې چې ناظم کړیدی هغه مشهوری دي ځکه

سوال هر کله چې لا په معنی دانتفی سره شو او انتفی اسم فعل لازمي دی نو بیا وجه دنصب دمدخول دلا څه ده ؟

جواب کیدی شي چې ضمیر مبهم دانتفي دی فاعل وي او بعد ددینه داسم منصوب وي بنابر تمیز چابه وی چې بیابنو تمیم په باره دلا رجل قائم کښې څه وایې ځکه چې خبر خو په دې کښې موجود دی **فاجاب بقوله وعلی التقدیرین یحملون ما یُری الخ** .یعنې بناپه دواړو تقدیرینو دوی محمولوي هغه شی چې معلومیږي خبر په صفتیت باندې نه په خبریة لکه لارجل قائم نو قائم صفة دی دپاره درجل اومرفوع دی بناپه دې چې تابع دمحل وي او محل درجل رفع ده بنابر ابتدائیة اودغه شان رفع دظریف په لاغلام رجل ظریف کښې اګرچې اسم په دې مقام کښې معرب دی ، محمول ده په دې چې داصفت دی دغلام په اعتبار دماکان سره چې رفعه ده بنابر ابتدائیة **اسم ما ولا الخ** بل دمرفوعاتو نه اسم دما ولا مشابه بلیس دی او مشابهة دما ولا دلیس سره په څه کښې دی نو شارح وایې **فی معنی الدخول الخ** یعنې مشابهة یې په امرینو کښې دی یو په نفي کښې او بل په دخول کښې په مبتدا او خبر باندې.

وهذا تعملان عمله دا فائده دمشابهة ده .یعنې ددې مشابهة په وجه ما ولا عمل کوي په شان دعمل دلیس چې رفع داسم ده او نصب دخبر دی **هو المسند الیه** دا تعریف داسم دما ولا دی یعنې داهغه دی چې مسند الیه وي پس ددخول دما ولا نه. **هذا شامل الخ** دا بیان دجنس دی او بعد دخولهما یې فصل دی **وبما عرفت من معنی الدخول الخ**

دادفع دسوال ده علی طبق مامر چې تعریف مذکور منقوض دی په ابو ه ، په مازید ابوه قائم کښې ځکه چې ابوه مسند الیه دی دپاره دقائم او بعد خول ماهم دی سره ددې چې اسم دمانه دی خلاصه دجواب یې داده چې مراد دخول نه ورود دې لایرات اثر یعنې دپاره درسولو داثر دده دواړو ته او اثرد

مافقط په ابوه کښې نه دی شوی بلکې په مجموعه دابوه قائم کښې شویدی **وانما أتی بالنکرة بعدلاالخ** دادفع دسوال ده چې مدخول دلانه وي مگر مسندالیه اومسند الیه معرفه وي نوماتن نکره ولې ذکرکړه خلاصه دجواب یې داده چې ماتن په نکری اتیان وکه پس دلانه **لان لالا تعمل الافی النکرة** ځکه چې لاعمل نه کوي مگر په نکره کښې سماعًا اوداځکه چې مشابهة دلا دلیس سره قلیل دی وسیاتي وجهه نو عمل دلامحمول شوپه مورددسماع پورې اودخول دلاپه نکراتو مسموع دی **بخلاف ما**.په خلاف دمانه **فانها تعمل فی النکرة الخ** ځکه چې دا عمل کوي په نکره اومعرفه دواړوکښې .اوداځکه چې مشابهة دمادلیس سره قوي دی اولیس عمل په دواړوکښې کوي.

اختلاف مسئله: په عمل دماولا کښې دوه مذهبه دي یودا هل حجازو اوبل دبنو تمیمونو وایې چې **هذالغة اهل الحجاز**اودا عمل دماولاپه نزدددا هل حجازودی**واما بنو تمیم فلایُثبِتونَ لهما الخ** اوهر چې بنوتمیم دی ، پس دوی نه ثابتوي عمل لره دپاره دماولا **ویقولون الخ** او.وایې چې اسم اوخبربه پس ددخول دماولانه مرفوع وي په عامل معنوي سره چې ابتداده لکه څنګه چې مخکښې ددخول دماولانه وو ددوی دپاره دوه دلیله دي یوداچې شرط په هرعامل کښې دادی چې مختص به وي په نوعه واحده پورې دپاره ددې چې علاقه یې دخپل مدخول سره قوي وي او.ماولامختص نه دی په نوعه واحده پورې بلکې داخلیږي په اسم اوفعل دواړو،.دوئم دلیل یې داقول شاعردی .

ومهفهفِ کالغصن قلت له انتسب فاجاب،المحب حرامُپه رفعي دحرامُ سره که چرې لفظ ماعمل کولی نوحرامُ ته به یې نصب ورکړی وو. **وعلی لغة اهل الحجاز الخ**غرض دشارح ترجیح ورکول دی مذهب داهل حجازوته نووایې چې مذهب داهل حجازوراجع دی ځکه چې په دې لغة وارد شویدی قران پاک نحوماهذبشراً پس هذااسم د.ما.مرفوع محلاً دی اوبشرایې خبر دی منصوب دی بالکه ماهن امهاتهم .پس هن اسم دمامرفوع دی اومهات یې خبرمنصوب بالکسره دی ځکه چې جمع مؤنث سالمه ده اوجواب ددلیل اول دبنوتمیم نه دادی چې اختصاص دماولاثابت دی په نوعه واحده پورې ځکه چې هغه ماولاچې داخلیږي په فعل باندې هغه غیردی دهغه ماولانه چې دا خلیږي په اسم ځکه چې اول قسم دماولانامیږي په جمله اسمیه اودوئم قسم تمامیږي په جمله فعلیه اوددوئم دلیل نه

جواب دادی چې قائل ددې شعر دقبیلي دبنو تمیم نه دی نو دااثبات دمدعي دی **به قول** دداعی سره وهذا باطل **وهواي عمل ليس الخ** داتعین دمرجع دی.في لادرونَ مايعنې داقیدا حترازی دی په دې سره احترازراغی د.مانه **شاذٌقليل** دا تعین دماهو المراددی معنې شاذ په معنی دقلیل سره دی **لنقصان مشابهةِ لا الخ**. دایې وجه ده یعنې دوجې دنقصان دمشابهة دلانه دليس سره ځکه چې لیس راځي دپاره دنفي حالي **فقط عند الجمهور** او لفظ دلاد غه شان نه دی **فانه للنفي مطلقاً** ځکه چې دی دپاره دنفي مطلق راځي يعنې دنفي ماضي حال اواستقبال ټولو اونقصان دمشابهة واجبوي نقصان دعمل لره **بخلافِ ماالخ** په خلاف د مانه ځکه چې دی هم دپاره دنفي حالي راځي په شان دليس **وفَيَقْتَصِرُ عمل لاَعلى موردِالسماع الخ** پس په سبب دنقصان دمشابهة .دلادلیس سره منحصرکړی شو عمل دلا په مورددسماع پورې دعربونه اوهغه نکره ده **نحومَنْ صَدعن نِيْرانِها فاناابن قيس لاَبَرَاحَ** صد .فعل ماضي ده ماخوذده دصدنه په معنی داعراض سره میران جمع دناره ده په اصل کښی نوران وو واو بدل شو په یا ، په قانون دمیران اوضمیرېې را جع دی حرب ته براح وایې زوال ته مقصد دشاعرتوصیف دنفس خپل دی معنی یې داده چې که څوک ا عراض کوي داُوردجنګ نه نو کوي د څه خوی دقیس یم چې معروف بالشجاعة دی نوزوال اواعراض نیشته دی ځمادپاره دجنګ نه اوداځکه چې **ان الولديتبع الاب ومن كان اباه كذالك فابنه كذالك** اوچې مارمارشودر محرم پس براح اسم دلادی اوخبریې محذوف دي چې لی دی **اى لابَرَاحَ لي** پس برا ح اسم دلا دی اونکره ده فافهم **ولايجوزان تكونَ لنفيِ الجنسِ الخ** دادفع دسوال ده چې کیدی شي چې لادپاره دنفي دجنس وي اومشابه دلیس دنه وي .نوبنا په دی شعرمذکورمثبت دپاره دمدعي ونه ګرزیده نوشارح وایې چې داسې نه شي کیدی **لانهااذاكانت لنفي الجنس الخ** ځکه که چرې دادپاره دنفي دجنس وي نوجائزه به نه وه رفلع په مابعدده کښی دکومي پورې چې اسم یې مکررنه وي اوظاهره ده چې په شعر کښی اسم نه دی مکررخلاصه داده چې قانون دادی چې درفع داسم دلایې نفي جنس دپاره شرط تکرارداسم دی سره دلایې دبګرنه اوتکرارهغنانشته نوځکه لایې نفي جنس نه ده **اعلم**.

ان المراد بالمسند والمسند اليه الخ دا دفع د سوال ده چې دا تعريفات يعني د خبر د حروف مشبه بالفعل واو د خبر د لا او د اسم د ما و لا مانع نه دی د دخول د غيرنه ځکه چې داخل شوه په کښې توابع ددوی ځکه چې هغه هم مسند او مسند اليه دی بعد د دخول ددوی نه سره ددې چې هغې نه خبر يا اسم ددوی نه شي ويلی خلاصه د جواب يې داده چې مراد به مسند او مسند اليه سره په دې تعريفاتو کښی هغه دی چې بالاصاله وي نه بالتبع قرينه پرې څه ده ؟نو شارح وايې بقرينة ذکر التوابع فيما الخ . يعني قرينه پرې بحث د توابعو دی مابعد کښی نو که دلته هم توابع مراد شي نو لازم به شي لغويت او استدراک فلا ينقض التعريف بالتوابع دا تصريح بالجواب ده فافهم .

الحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات

تم الجزء الاول من تنوير الجامی بتوفيق الله تعالى وعونه وقت العصر يوم الاثنين (۶) ربيع الثانی ۱۴۲۳ھ م ۱۷ جون ۲۰۰۲ء